نُورُ الْاِیضَاح

مولانا ابُوالفضل علامۃُ الدھر

محمد عبید اللہ الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی

کتبہ ورتبہ بقلمہ

محمد فضل الحق حقانی

مُدرس جامعہ تجوید القرآن کوئٹہ

پروپرائٹر

شمس الحق شمس

مکتبۃُ القراۃ والتجوید

کانسی روڈ شالدرہ نزد مسجد نور کوئٹہ

بسم الله الرحمن الرحيم

نور الایضاح

جلد ③ دریم

تصنیف

علامۃ الدھر فقیہ العصر علامہ ابوالفضل مولانا

محمد عبید اللہ الایوبی

القنیہاری السلیمانخیلی الحنفی مدظلہ العالی

وقد کتبہ بقلمہ

قاری فضل الحق حقانی

فاضل علوم اسلامیہ وقراءات سبعہ وعشرہ

الناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ نزد مسجد نور شالدرہ کوئٹہ

بسم الله الرحمن الرحیم

محترمو لوستونکو!

تاسوته بهتره معلومه ده چې دغه صباد مشکلاتو څخه ډاډه ترونه کې هیڅ یوڅېړم فارغه نه ښکاري اونه هم فارغه وي، ولې چې دا په تجربه موږ اوتاسوته معلومه ده. چې زهوږ اوستاسو په نظر چې خومره فارغه څوك وي خو د پوښتنې وروسته معلومه سي چې هغه د دنیا ډ ژوند په زرګونو مشکلاتو اوکړاوونو سره مخامخ دی، په هرصورت.... دغه صباد مشکلات دومره ډېر دي چې څوك د کتاب وئیلو اویا دوهمې کتنې (نظر ثانی) ته هم چمتو نه ښکاري داځکه لاخو چې څوك به قلم اوکاغذ را اوچتوي اوکتاب به لیکي، اوهغه هم دیني کتاب، اوبیا سې یو دیني کتاب چې د هغه د جوړولو لپاره د ډېرو لویو لویو کتابونو کتنه اووړ ګردانې پ کار وي، اوکه څوك هم په اوسنۍ زمانه کې تکل کوي اوقلم کاغذ را اوچتوي اود یو دیني کتاب مسایل خپل اوکتاب جوړوي، اوپه دې دوړ پُرفتن کې یواځې اویواځې دا ذات غږ اود الله تعالی رضا ئې مطلب وي اوهیڅ دنیوي غرض نه وي نوزه خو وایم چې دا یو د اسې سعادت اونیکبختي ده چې د هغه په باره کې شاعر وائي ؎

این سعادت بزور بازو نیست ؛ تانه بخشد خدائے بخشنده

اوحقیقتاً هم دغه دي چې حضرت علامه استاذ الاساتذه ابوالفضل محمد عبید الله الایوبي الله تعالی دي دده د سر سایه زهوږ د سرو څخه نه لیرې کوي، امین. دکلان سالم اوډېر لې حده مصروفیاتو سره سره د دین ودي خدمت ته ملا تړلې ده، الله تعالی دي ده ته صحت کامله اوښه ژوند ورکړي تر څو د دین محمدي نورهم په ښه توګه وکړي، اود امت د پاره دي الله رهنما اومقتدا وګرځوي، د دي کتاب د ویونکو څخه هیله ده چې د حضرت مصنف اوشارح مدظله اود دي کتاب لیکونکي (کاتب) اوچاپوونکي اداري ته د دعاء خیر وکړي والسلام

شاګرد نیاز ورور قاري فضل الحق حقاني
فاضل علوم اسلامیه
وقراءات متواتره

بسم الله الرحمن الرحیم

والصلوة والسلام علی سید المرسلین قائد الغر المحجلین، سیدنا محمد وعلی آله الطاهرین وصحابته الکاملین وعلی جمیع الانبیاء والمرسلین وعلی عباده الصالحین الی یوم القیامة وآلدین:

اما بعد: باعث پردې وئیلو څه دی. چې د عقائدو بعض کتابونه اود فقه هم بعض د مبتدیانو کتابونه په پښتو وطنی ژبه ترجمه کوی. اوعلاوه پرترجمه، د پیرې کارآمد مسائلو معتمد وکتابونو څخه ر انقل کوی.

جواب: غرض د فقیر خدمت دی د هم وطنانو خصوصاً طبقه د عوامو چې د هغو خو پښتو څخه زده دی. اوپه عربي کتابونه پوهیږی. نود روئیدا غواړی چې د غه عوام مستقیماً د خپل دین اسلامی د عقائدو اوعملی عباداتو سره آشنا کړم. اود روا اونارواو لارچې په قرآن کریم کې اوپه احادیث نبویه وو اوپه مذهب حنیفی بیان سوی دهغو دوی ته پخپله مورنۍ ژبه بیان کړم. اوبل غرض دادی چې زمونږ د مسلمانانو نوکچنیان چونکه صفحه اوکاغذ د ذهن یه د ټولو اسلامی اوغیر اسلامی عقائدو څخه خالی ده. او طبعی ده چې پر ساده تخته هر نقش لیکل کیدای ی. زه غواړم چې د اول الامر څخه د اطفالو د ذهن پر تخته عقائد حقه اسلامیه نقش سې تاچې د آینده د پاره د عقائد باطله ووڅخه کافران وبه محفوظ وی: ان شاء الله:

اود اوهرچا ته معلومه ده چې عمومی کافران په دی کوشان دي چې مسلمانان داسلام د دین څخه وخپل دین ته دعوت کړي. په خوله تبلیغات فاسده ورته کوی اوپه دنیائی چارو کې کهمکونه ورسره کوي اود افغانستان عمومی طبقه چونکه د اقتصادی حالت له کبله ډېر کمزوره دی نو شاید د پیسو په طمع به د کافرانو د غه دعوت وخپل دین ته قبول کړي اوپ بعض افرادو کې داغسې هم پیښه سوېده. نوکه د غو عوامو ته داسلامی دین عقائد اواعمال حقه اوباطله معلوم سې. شاید په دی ګمراه کن تبلیغاتو به د دین څخه نه مرتد کیدای.

اوږه غږیسی دکافرانو پې معاوضه د اسلام نه قبولای،

سوال: کافران ولی یوه ډله وبلی دلته دعوت د خپل دین نه کوی مثلاً نصاری ویهود یانو وبالعکس وعلیٰ هذا القیاس، بلکه ټوله د اسلام په تخریب پسی هلی ځلی کوی

جواب کفار د اسلام حقیقی او کامل په کار نا موخبر دی، اود تاریخ په پاڼو کی دوی ته د ا معلومه ده چی د حقانی اسلام سره هیڅ ابر قدرت مقابله نسی کولای ځکه قرآن کریم چی هم داغسی اعلان کړی دی اووائی: وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ کُنْتُمْ مُؤْمِنِیْنَ ۝ یعنی حقانو ځله کفارو په دی لټه کی دی چی مسلمانان د خپلو مادی ودمرستو د دین څخه مرتد کړی نَعُوْذُ بِاللّٰهِ من ذالک، ولا اقل یا یه آ داسی اعمالو اخته کړی چی د حقیقی اسلام څخه مخالف وی تا چی دوی مصداق د، اِنْ کُنْتُمْ مُؤْمِنِیْنَ، ای حقانو نګړځه. نو د اسلام شان او شوکت اوږ عب په زړو کی د کفارو به کم نه وی، بلکه نیست اونابود به وی، چنانچه مونږ ته په تجربه د اخبره ثابته ده، چی چونکه افغانستان د قدیم څخه یو غریب هیواد وو، نه ئی د کلاشنکوف د جوړولو کارخانی درلودی اونه ئی د توپو، طیارو خولاخه کوی، نو زمونږ د افغانستان بعض پاڼاهانو داوغوښتل چی خپل د وطن نو عمره ځوانان اونجونی، اونا رسیده کوچنیان ویوه داسی پرمخ تللی هیواد ته واستوی، چی هوری د کارخانو جوړولو نړده کړه وکړی، اود پیښ رفته الاتو صنعت زده کړی. هغوو چی د دی غرض د پاره یه شوروی اتحاد ته چی د افغانستان نږدی هیواد وو اود نړی لوی ابر قدرت وو و ټپاکی. او خپل نور سره، او تنکی ځوانان یه هغه هیواد ته واستول، روسانو دا فرصت غنیمت وبالله. نو زمونږ د وطن ځوانانو ته یه معمولی بنوونه د اقتصادی پرمخ تللو شیانو یه کولو. اولوی همت خپل یه ودې ته مبذول کی چی د غو ځوانانو ته یه د دهریت تعلیم ورکړی چی د دوی د خدای څخه منکرسی نود اسلامه اود قرآنه څخه په طریق اولی به منکرسی. هغه شاه د وخت انتظار راوړی چی محصلان د شوروی یه وسله د کارخانو زده کړه راوړی هغوو د وطن ته د دهریت ارمغان راوړی. او د ده د شاهی خاندان په قلع او قمع سره مشغول سوه هغوو چی قصه مختصره په شاهی خاندان باندی غالب سوه چې په نتیجه کی بعض شاهی خاندان وخارج ته فراره سوله، او بعض د کابل په

دارالحکومت کی په شهادت ورسیده. او د شوروی اتحاد هغه خام طمع پرځای ستوه چی د ده د اخبال وو چی د اسیا پر سره چی افغانستان دی قابض به سی، او نوری نړی ته به لاره خلاصه سی، خصوصاً امریکا او نور غربی ممالک. لکن د تقدیر الهی څخه د هری نړۍ خبر چی د افغانستان په قبضی کی به ته خپل اتحاد شوروی د لاسرون کړی،

او ابر قدرت به دی په ذلت او بی عزتی اوغربت بدله سی، د اقصه خو مشهوره ده او سړۍ پایه معلومه ده وخلګو ته چی د دغی واقعی تخمیناً د ۲۲ کاله په افغانستان کی پاتی دی، او څو نور خرابه تر او سرجاری ده، اَللّٰهُمَّ نَصْرًا وَفَتْحًا وَحَلًّا، نو د دی زور ازمایی څخه د روسانو چی د افغانستان په نیولو کی ناکامه پاته سوه بلکه برعکس عاقبت یه د روس خرابی سوه امریکایانو اونور د ده همرایان لکه انګلیس، پرانس وغیره ودی نتیجی ته ورسیدله چی پر افغانانو نور د زور او طاقت د لاری څوک قبضه نه سی کولای. نو یه بله لاره خپله کړه چی افغانان خصوصاً په حاضر وقت کی دیر د، وسله اوبی بسه دی اوپه عین حال کی د اسلام او دین په عقائدو خبر نه دی او خالی الذهن دی. نو د پیسو او ډالرو په بښنه نه لاس پورې کړی،

او ورسره یه تبلیغات د نصرانیت هم شروع کړه چی اوس هم د اسلسله جاری ده. د یوی خوا یه پردوی باندی سیاسی، اقتصادی بندیزونه او لګول، چی سبه د فقر او مسکنت په اورکی کباب سی، د بلی خوا یه د خپلو مزدورانو افغانانو په توسط د د ډالرو تقسیم یه شروع کړی. او تر یو حده پورې د پاڼیسی کی دوی ته ځان کامیاب معلومیږی، لکن اوس هم په افغانستان کی حق شناسه او حق پرسته مسلمانان موجود دی، زما په عقیده به د امریکایانو د غه په کړوړو ډالرو او تبلیغاتو هم ناکام او ناکامه سی، او د امریکایانو د نړۍ مراد چی د ټولی نړۍ د خلګو ستاینه داری ده ورسره برخه نه سی، د او وباعث پردې وښیش چی اسلامی کتابونه که د عقائدو په باره کی وه او که د حلال او حرام په باره کی وه د ده افغان ملت وخلګوته د عربی ژبی څخه د دوی د خپلی مورنی ژبی ته ژباړلی، او افغانانو ته د خطر زنګ ووا هه چی د امریکایانو په مقابل دی تیار سی اوسی، او د دوی د پیښ رو څخه دی نه ببریږی. او د دوی د مزدورانو دی کړه څارنه کوی چی د دوستئ او همکاری په

لباس کی څندی ئیر نه سی، اوهر وخت یه دجیل خانو پـه کنجانو کی واچوی اوکه یوافغان پـه اسلام دنصرانیت پـه دین سړ ملوث سی. نو پـله تحقیق اوثبوت دپی ده ته دارتعداد جزاء ورکړی یعنی د مرگ وکنده تـه دی وَغور ځوی لکه چی دشریعت غراء چی دمرتد پـه بـاره کی د غه جزاوده،،

اوس نوزګرانو وطن والو! خپل اصلی مطلب پر مخ وړم. یعنی شرح دنور الایضاح متابی پـه مورنی ژبه چی شروع یه دباب سجدة التلاوة څخه کیږی. گرانو وطن والو تاسی وفقیرته دصحت اوعافیت پـه دربارکی دربـ العزت دعاکوی. ولی کـه چیری زه دنور الایضاح دشرح څخه پـه توفیق دخدای جل سُلطانه خلاص سوم اراده صمیمه لرم چی دقرآن کریم یوتفسیر هم پـه پښتو مورنی ژبه چی هم به آسانی وی، اوهم به سلیسه وی، اوهم پر تولو عقائدو او عملیاتو حسب الطاقت مشتمل وی. اللهم یا مولای وَفِقنی لما ارضاکَ من تفسیر القرآن الکریم واطل عمری مع الصحة والسلامة والعافیة الی ان أفوز بهذ المرام المقدس انک علی کل شئ قدیر وبا الاجابة جدیر وحسبی الله ونعم الوکیل وصلی الله تعالی علی سیدنا محمد واله وصحبه اجمعین.

تفسیر ابوحنیفی

لیکوال

محمد فضل الحق حقانی

ناشر

مکتبة القراءة والتجوید

کالنسی روډ شالدره کوټه

بَابُ سُجُودِ التِّلَاوَةِ

باب ثابت دی پـه بیان کی د سجده تلاوت **پـوه سـه**: چی اضافه د سجده وَتلاوت تـه اضافه ئ دی د مسَبب یعنی چی سجده دَه وسَبب تـه چی تلاوت دی د بعض ایاتو د قرآن کریم. چی بیان بی وروسته راسی. اِن شَاءَ الله تعالیٰ: پـه عنایه کی وَائی چی مصنف دا سی نـه وَوَیل چی سجود التلاوة والسماع، اوسَره د دی چی سجده پر اوریدونکی هم واجبه دَه، دا د دی سببه چی مختار مذهب دادی چی د سجدی اصلی سبب تلاوت دی فقط اوبل دادی چی تلاوت سبب د سماع دی ایضاً نو ذکر د تلاوت شامل سماع لره هم دی، او سید شارح وائی چی ذکر کی د تلاوت اشاره ودی تـه دده، چی که سړی آیت د سجدی وَلیکی تلفظ یـه نـه پـه وکړی. اویا آیت د سجدی پـه اژگی ووایځ سجده نـه ده پر لازمه، مصنف پـه مراقی کی وائی، چی شرط د سجدهٔ تلاوت، طهارت دی د حدث څخه او د نجاست څخه، او تیمم بیله عذره نـه دی وربـته رَوَا. او د مخامخ وَالی وقبلی تـه هم شرط دی، او ستر د عورت هم غواړی، اورکن د سجده تلاوت ایښول دی د تندی پر محکه (اویا پر تابع د محکی لکه بوریا، یا ستر نجی وَغیره، اود اسجدهٔ که صلاتیه وه واجبه دَه، اداءیـه بالفور پـه لمانځه کی. اوکه خارج الصلوٰة لازمه سوی وَه نو وجوب یـه علی التراخی دی یعنی هروخت چی کوی قضائی نـه دَه، او حکم د سجدهٔ تلاوت وجوب دی پـه دنیا کی او ثواب دی پـه اخرت کی.

مسئله: بعض علماء وائی چی پـه سجده تلاوت کی صرف وضع د تندی پر محکه غواړی که غـه هم یـه دواړی پښی پـوره تـه نیولی وی، اویا پـوره وی کافی ده لکن صحیح داده چی سجدة التلاوت پر رقم د لمانځه د سجدی دَه،،

مسئله: کی پـه لمانځه کی ایت د سجدی ووایـه پـه یوه رکعت کی او سجده یـه تر دوهم رکعت وځنډول یا پـله دیره قرائت پـه دغه رکعت کی وکړه گناه کار دی. او بعض وائی چی دا سجده یـه قضائی نـه دَه، بلکه پـه شرح کی وائی چی وځنډول یـه تر وخت د قرائت د ایت السجده مکروه تحریمی دی اوکه غیر صلاتیه وَه نو وځنډول خو یـه روا دی مگر مکروه تنزیهی دی،

مسئله: که ایت دسجدی چاووایه په لماځ کی دستی رکوع نه ولاړی اوپه رکوع کی نیت دسجدی تلاوت وکړی هغه کفایت کوی که غځم وضع د تندی پر ځمکه دنسته، اویا مریض ووپه اشاره په سجده تلاوت وکړه هم کافی ده، اویا پرداسې آیت دسجدی ووایه او سجده یې هم پرهغه داسې وکړه کافی ده،

سوال: د مصنف عبارت خود رکوع او ایماء او سجده علی الدابه نه شامل دی

جواب: هو لکن مصنف هغه عمومی اور واجی صورت د سجده تلاوت راوړی دی

قال المصنف:

وَسَبَبُهُ التِّلَاوَةُ عَلَى التَّالِي وَالسَّامِعِ فِي الصَّحِيحِ

اوسبب د سجود التلاوة تلاوت د قرآن ایت السجده دی پرویونکی داخو اتفاقی. اوپرسامع (اوریدونکی باندې هم لکن پر صحیح مذهب، اوبعض فقهاء وائی چې سبب د وجوب پرسامع کی سماع ده تلاوت نه دی اودا مختاره د فخر الاسلام ده. لکن کفایه والا وائی چې اصل په سبب والی کی تلاوت دی اوسماع بناء پرتلاوت ده، حتی که چیری کانړه سړی ایت دسجدی ووایه او بچلو غوږو یې نه واوریدی سجده پرلازمه ده، اوکه ایت دسجدی چا ووایه اوبل سړی کونړو وو هغه نه واوریدی پر کانړه سجده نسته،

فائده: سجده تلاوت پرسامع هلته لازمیږی چې ویونکی اهل د تلاوت وی. حتی که چا وَمینانه چې یومرغه دی یولنډ ایت دسجدی ورزده کړی وو، اوبیادی مینا هغه ایت ووایه پرسامع یې سجده تلاوت نسته، اودغه رنګه دلیونی په تلاوت سره پرسامع سجده تلاوت نسته «کفایه». **مسئله**: درادیو څخه که څوک دسجدی ایت واوری سجده دسجدی تیپ کړی وو، اوسړی واوریدی په دی نوفکر وکړی. قال المصنف:

وَهُوَ وَاجِبٌ عَلَى التَّرَاخِي إِنْ لَمْ تَكُنْ فِي الصَّلَاةِ وَكُرِهَ تَأْخِيرُهُ تَنْزِيهًا

اوسجده تلاوت واجبه ده پرتراخی یعنی هروخت چې کوی که چیری دغه سجوده د لماځ

په دوران کی نه وه لازمه سوی اومکروه تنزیهی دی، څنډ ول یې دلیل وجوب یې دادی چې سجده تلاوت دری ځله ده، په بعض ایاتو کی امر صریح په سجده سره موجود دی اوبعض ایتونه متضمن دی منع لره د کفارو د سجودی څخه هغه وخت چې دوی په سجود امر سوله. اوپه بعض ایتو کی دغه سجود حکایت د امتثال د انبیاء علیهم السلام دی په دی سجده کی اوشک نسته چې امتثال الامر د امر الهی، اوعدم منع د سجدی څخه لکه کفارو چې وکړه او امتثال د انبیاء علیهم السلام هریو واجب دی نو سجود تلاوت واجب ده پرمونږ باندې»

سوال: بناء پردغود لائلو باید سجده تلاوت فرض وای واجاب عنه الطحاوی چې دلالت د دغو ایتو پرسجده باندې ظنیت دی. نو ځکه فرض نه سوه بلکه واجب ص۳۹۱

قال المصنف

وَيَجِبُ عَلَى مَنْ تَلَا آيَةً وَلَوْ بِالْفَارِسِيَّةِ

اوسجده تلاوت واجبیږی پرهغه چا چې ایت دسجدی ووائی که څه هم په فارسی ژبه یې ووائی

پوه سه: چې مراد د فارسی څخه غیر عربی ده، حتی چې په پښتو، بلوڅی، وغیره ټولو شامله ده.

فائده: کی د قرآن مبارک عربی تورې دایت السجده ووئیله پرتالی اوسامع دواړو سجده لازمه ده که په معنا پوهیږی اوکه نه، اوکی په فارسی ووایه پرتالی خو سجده لازمه ده اتفاقاً لانه قرآن من حیث المعنی»

اوکه سامع په فارسی نه پوهیدی نو هم سجده پرلازمه ده په نیز د امام اعظم، اوپه نیز د یارانو پر سامع سجده نسته که په معنا نه پوهیدی، اوپه بعض کتابو کی وائی چې حضرت الامام وقول ائمه د یارانو رجوع کړیده» **فائده**: که څه هم مصنف کلمه دین مطلق وئیلی ده لکن یو جز ائف کی وائی چې داطلاق مقید دی په دی چې تالی به اهل د وجوب الصلوة وی یا اداءً یا قضاءً او تالی اهل د وجوب الصلوة نه وو نو دده په تلاوت سره سجده پرده نده لازمه» ولی سجده خو اصلاً جزء دی د اجزاء د لماځ نو سجده تلاوت خو پرهغه چا واجبیږی چې هغه اهل د وجوب الصلوة وی. نو تالی به مسلمان وی پرکافر تالی سجده نسته، اوبل به عاقل پرلیوف چې آیت د سجدی هم ووائی سجده تلاوت نسته، اوبل به بالغوی نو دکشنی په تلاوت سره پرده سجده نسته

اوبل به تالی د حیض او نفاس څخه خلاص وی - کی فرضاً حائض یا نفساء ایت د سجدی ووائی
سجدة التلاوة پر لازمه نده ده فی الحال اونه ورسته تر پاکی، او پر محدث اوجنوب چی
ایت السجدة تلاوت سجده لازمه ده لکونها مکلفاً بالصلوٰة ،،

مسئله: پرسامع د دغوتولو کسانو څخه په استثناء د لیونی سجدة تلاوت لازمه ده،
ب، ع، د، ط، **مسئله**: که مصلی په رکوع کی ایت د سجدی ووایه یا په سجده کی
یا په قومه کی یا د تشهدی په وخت کی پرده سجده تلاوت نسته، ولی چی مصلی په دغو وختو
کی د قرائت څخه ممنوع دی. اود مجنون سړی تصرف حکم نه لری، ط، م، قال المصنف،

وَقِرَاءَةُ حُرُوفِ السَّجْدَةِ مَعَ كَلِمَةٍ قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ مِنْ آيَتِهَا كَالْآيَةِ فِي الصَّحِيحِ

اوقرائت د هغو توری چی پر سجده دلالت کوی سره د یوی کلمی د مخه ترهغه
یا ورسته ترهغه چی د ایت د سجدی وی لکه پوره ایت د سجدی چی ووائی یعنی سجدهٔ تلاوت
پر لازمه ده په صحیح روایت کی. نو مراد د حرف څخه معنای لغوی ده اصطلاحی نده، او د صحیح
مقابل هغه قول د بعض فقهاؤ دی چی سجدهٔ تلاوت پرهغوچا لازمه ده چی اکثره حصه د ایت
السجده ووائی که د مخه ترحرف السجده وی او که ورسته وی او کی ایت د سجدی په مابین کی
وی وهو روایة عن محمد واختاره الزيلعي، مرط، او بعض وائی چی د انتهاء وائی چی شرط دلزوم سجدهٔ
تلاوت د تولو ایت دی، او بعض وائی چی نیمی دا ایت دی سره د کلمی د سجدی او بعض چی
په فقط په تلاوت د کلمی د سجدی سجده لازمیږی، ق ط، قال المصنف،

وَآيَاتُهَا أَرْبَعَ عَشْرَةَ آيَةً فِي الْأَعْرَافِ وَالرَّعْدِ وَالنَّحْلِ

او ایتونه د سجدی په دغو څو لسو سورتو کی دی، پوښه چی په سورة اعراف کی پردی کلمه دی يَسْجُدُونَ

وَالْإِسْرَاءِ وَمَرْيَمَ وَأُولَى الْحَجِّ وَالْفُرْقَانِ وَالنَّمْلِ

او په سورة رعد کی پرغه توری دی الْآصَالِ او په سورة نحل کی پردغه کلمه دی يُؤْمَرُونَ،

او په سورة اسراء کی پردغه توری خُشُوعًا. او په سورة مریم کی پردغه توری وَبُكِيًّا او په
سورة حج کی پردغه ځای يَشَاءُ او په سورة فرقان کی پرغه لفظ نُفُورًا او په سورة نمل کی پردغه
لفظ العظیم، قال المصنف:

وَالسَّجْدَةِ وَصٓ وَحٰمٓ السَّجْدَةِ وَالنَّجْمِ وَانْشَقَّتْ وَاقْرَأْ

او په سورة سجده کی پردغه کلمه يَسْتَكْبِرُونَ او په سورة صٓ کی پردغه کلمه وَحُسْنَ مَآبٍ، او سورة
حٰمٓ السجده کی پردغو توروه لَا يَسْأَمُونَ، او په سورة النجم کی پردغه کلمه وَاعْبُدُوا او په
سورة انشقت کی پردغه ځای لَا يَسْجُدُونَ او په سورة اقرأ کی پردغه کلمه باندی وَاقْتَرِبْ.

اعتذار درویش پوره پوره ایتونه د سجدو ونه کړه نوشته تاچی پرمطالعه کوونکو دے
کتاب څلور سجدی لازمی نه دی. اوده ته به تکلیف وی. ولی چی
گاهی به د مطالعی په وخت به اودس لری اوگاهی بی اودسه لری. اوگاهی به ووائی چی دا سجدی به بیا ورسته
وکړم ولی چی واجب علی التراخی دی، نو په تیریدو وخت به خُندی پاته سی اوگناه کار به سی
کړنه هم عبادت خودی لکن داخطر ورسره ستره. نو تر نوشتی د پوره ایتو د غه تعیین د سجدو
د ځایونو د رویش ته ښه کار معلوم شو.

فائده: مصنف واولی الحج ووئیل. ولی چی امام شافعی وائی چی په سورة حج
کی دوی سجدی دی. اوزمونږ دلیل دادی چی د ابن عباس او د ابن عمر څخه روایت دی چی
سجدهٔ تلاوت په سورة حج کی اوله ده اوده وهمی څخه مراد سجده دلما څخه ده، **فائده**
مصنف په مراقی الفلاح کی او امام طحطاوی په شرح کی د مراقی د پیرلوی تفصیل کړی دی په بارہ کی
د ایا تود سجدی. اوپه بارہ کی د ځایود سجدی په دغو ایتو کی. اوپه اختلاف زمونږ اود امام شافعی
په یوه سجده اود وو سجده کولو د سورة حج چونکه هغه تفصیل د مطالعی څخه د وینکو د دی شرح
لوړوو، نوځکه د رویش صرف نظر وکړی. مَنْ شَاءَ فليرجع الى الكتابين المذكورين، قال المصنف

وَيَجِبُ السُّجُودُ عَلَى مَنْ سَمِعَ

اوواجب ده سجود التلاوة پرهغه چا
چی د اوری ایت د سجدی لکن په
تلاوت عربی.

وَاِنْ لَّمْ يَقْصُدِ السَّمَاعَ اِلَّا الْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ

که څه هم دسامع قصد دا ورپیدو نه وی. نو کې په ترجمه پوهیږی ـــ او که نه. قال المراقی: وهذا مروی عن اکابر الصحابة رضی الله تعالی عنهم حائض او نفساء بسخه چې پردوی باندی نه ددوی په تلاوت سره اونه ددوی په اوریدو سره سجده سته، البته چې بل څوك ددوی څخه سجده تلاوت واوری بلکه کې د جنب څخه واوری او یا د صبی میز څخه واوری او یا په دکافر څخه واوری پر اوریدونکو سجده تلاوت واجب دی.

مُهِمَّه فَائِدَه: ابن امیر حاج او صاحب فتح القدیر وائی. که یو سړی وو خالص په اونی اسلام په راوړی وُو. او په فرائضو او واجباتو د اسلام هیڅ نه وو خبر. او زمانه د خبر تام نه وو پر تیره سوی. نو په څه سجده تلاوت نه په وَیلو د نظم قرانی دایت د سجدی اونه په اوریدو سره دایت مذکوره سجده لازمیږی. تر څه وخت چې دی په پوهیږی چې د غه مقروء یا مسموع ایت سجدی دی ط. فتح، او علم په معنا دایت شرط د وجوب د سجدهٔ تلاوت نه دی، دلیل په دا دی چې پردغه حدیث الاسلام باندی سجده نسته چې تکلیف په هغه شی چې سړی علم نه پرلری محال دی حتی که د غه سړی د مخه تر علم په وجوب سره د سجدی مړسی غاړی نه دی بند پی.

پوښتنه: زمونږ د پیر عوام په دی نه پوهیږی چې فلانی ایت د سجدی دی نو پردوی باندی سجدهٔ تلاوت په وَیلو یا اوریدلو سره سته **جواب:** هو. دانا خبر تیا د دوی د سپاره عذر نه دی. ولی چې پردوی دومره زمانه تیره سویده چې دوی باید په فرائضو او واجباتو نه خبر کړی وای. دا د دوی تقصیر دی عذر نه دی. **مسئله** که فرضاً د پیړی څخه سړی ایت د سجدې او اوری سجده پرې لازمه ده. حاصل د کلام دادی چې سجده تلاوت په وَیلو یا په اوریدلو سره پرهغه چا لازمیږی چې اهل د لمانځه وی اداءً یا قضاءً. ولی قضاءً بخلاف الجنب والکافر. ولی هغه مکلف دی لکن چونکه تلاوت د حائض او نفساء او د جنب او کافر په صحیح ډول دی نو ځکه پر سامع یې سجده واجبه ده،

قال المصنف: **وَالْاِمَامُ وَالْمُقْتَدِیْ بِهٖ**

او د غه رنګ سجده نسته پر امام او مقتدی په ده پسې. په سبب د سماع د ایت السجدة د مقتدی څخه، پر مقتدی د دې سببه چې دی خو د قرائت څخه مجبور وو ولا اعتبار لتصرف المجبور، او پر امام چې نسته ولې چې امام تبع د مقتدی نسی کیدلای. **مسئله:** که د غه ایت د سجدی چې مقتدی ووایه، بل سړی چې پرلمانځه نه وو ولاړ واوریده. او یا پرلمانځه یوازی ولاړ وو او یا د التد بل جماعت هم ولاړ وو، او هغو د غه ایت د سجدی د هغه بل جماعت د مقتدی څخه واوریدی پرهغوتو لو سجده تلاوت سته، ولې چې حجر او منع پردا خاص امام او مقتدی یا نوده چې په د غه معین جماعت کې شامل وي. نو بل چا ته تجاوز نه کوی کذا فی الهدایه والبحر الطحطاوی: قال المصنف:

وَلَوْ سَمِعُوْهَا مِنْ غَيْرِهٖ سَجَدُوْا بَعْدَ الصَّلٰوةِ وَلَوْ سَجَدُوْهَا

او که واوریدی ایت د سجدی امام او مقتدی یا نو د بل چا څخه یعنی چې د دوی سره په جماعت کې نه وو

فِيْهَا لَمْ تُجْزِهِمْ وَلَمْ تَفْسُدْ صَلٰوتُهُمْ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

شامل که منفرد لمونځ کوی او که داغسې ناست وی. نو دوی ته په سجده تلاوت وسوسته تر لمانځه کوی ولی سبب د سجدی چې سماع وه پیدا سوه. او مانع د سجدی کولو چې دوی پرلمانځه وه زائل سو، او که دوی په لمانځه کې سجده تلاوت وکړی هغه کفایت نه کوی. ولی چې د غه سجده په لمانځه کې په سبب د نهی د هغې څخه ناقصه ده، نو بې تر لمانځه ورو سته راګرځوی ناچې پر وجه کامله ادا سی دلیل د نقصان او نهی په دادی چې د غه سجده بیګانه ده. د د غه لمانځه څخه، ولی چې د قرائت څخه د د غه لمانځه نه ده پیدا سوی ـــ ولا یدخل فی الصلوٰة ما هو خارج عنها، او لمونځ د دوی په د غه سجده سره فاسدیږی هم نه، ولې چې نفس سجده د لمانځه د جنس څخه ده، او د اهم ظاهر روایت دی او بعض فقهاوو وه امام محمد ته د اخبره منسوب کړیده چې لمونځ یې فاسدیږی لکن ظاهر روایت د امام اعظم څخه عدم فساد نقل کړی دی. ولی په نهایا تو لو دیوی سجدی تحریمی د لمانځه نه باطلیږی ط.

اللهم اغفر لمولفه ولکاتبه ولجمیع المؤمنین آمین

قال المصنف **وَتَجِبُ بِسَمَاعِ الْفَارِسِيَّةِ إِنْ فَهِمَهَا عَلَى الْمُعْتَمَدِ**

اووا جیبیږی سجدهٔ تلاوت په اوریدو د قراءت فارسی که په فارسی پوهیدی، پر معتمد مذهب چی قول دیارانو دی چی قرائت په فارسی ژبه هغه چا ته چی قادر پر عربی قرائت وی نه دی روا، او په منیزه امام اعظم چی قرائت په فارسی روا بولی وقادر نه پر عربی قرائت نو سجده تلاوت پرده غه فارسی قرائت پراوریدونکی باندی واجبه ده کی څه هم په معنا نه پوهیږی. مگر چی څوك په خبر کړی چی دا ایت سجدی وو،

پوه سه: که څه هم دا اختلاف دامام اعظم اویارانو په قرائت فارسی کی په دیروکتابو کی دفقه شرحی ذکر سوی دی لکن محققین د حنفیانو پردی خبره دی چی امام اعظم وقول ته دیارانو رجوع کړیده، کذا فی الجوهرة وفتح القدیر والطحطاوی وغیرها وعلیه الاعتماد. فارتفع الاختلاف فی السجدة ایضا یعنی چی سجدهٔ تلاوت بیله فهمیده لغت فارسی نسته، والله اعلم ومنه الرشد والتوفیق.

قال المصنف **وَاخْتُلِفَ التَّصْحِيحُ فِي وُجُوبِهَا بِالسَّمَاعِ مِنْ نَائِمٍ أَوْ مَجْنُونٍ**

اواختلاف دی په صحیح والی کی د وجوب سجدهٔ تلاوت په سبب د اوریدو د ویده سړی څخه یا دلیونی څخه یعنی بعض فقهاءٔ وائی چی وجوب په صحیح دی او بعض وائی چی عدم وجوب صحیح دی. چنانچه شیخ الاسلام وائی چی سجدهٔ تلاوت د غوږدوونکسانو په اوریدو سره نه واجبیږی ولی چی په دوی کی تمیز نسته، وفی التتارخانیه «سمع من نائم قیل تجب والصحیح انها لا تجب» وفی الخانیه الصحیح هو الوجوب» د رویش وائی چی احتیاط په دی کی دی چی سجده وکړی

مسئله: په ذهنیو کی وائی که لیونتوب د سړی لنډ وو یعنی یوشبانه روز وو اویا کم او دی په حال کی د جنونه سجدهٔ تلاوت وو وایه هم پر سامع سجده لازمه ده او هم پر لیونی لکن وروسته ترڅو چی پرسد سی، ولی چی د غه لیونی اهل د قضاء دی یعنی قضاء د لیونتوب د حالت پر لازمه ده بخلاف ما جاوز الجنون الیوم واللیلة «

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِوَالِدَيْهِ وَلِكَاتِبِهِ وَلِمَنْ سَعَى فِيهِ وَلِجَمِيعِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قال المصنف **وَلَا تَجِبُ بِسَمَاعِهَا مِنَ الطَّيْرِ وَالصَّدَى**

اونه ده واجب سجدهٔ تلاوت په اوریدو سره د مرغه څخه پر صحیح روایت او بعض فقهاءٔ وائی واجبیږی. وفی فتاوای النجم والذی هو الصحیح لانه سمع کلام الله» او د غه رنگ سجده نه لازمیږی په اوریدو دایت د سجدی تلاوت دا زانگی څخه یعنی یوچاپه غره کی ایت د سجدی ووایه او هغه سړی دا ایت د سجدی نه واوریدی لکن په غره کی ازانگه سوه هغه ازانگه یه واوریدله، وفی الخلاصة که سړی ایت د سجدی د مرغه څخه واوریدی سجده تلاوت نده پرواجبه وهو المختار» او کی ویده سړی څخه واوریدی. صحیح داده چی سجده تلاوت پرسامع لازمه ده او د غه رنگ پر بیده هم لازمه ده که چاورته ووئیله چی تا په خوب کی سجده تلاوت ووایه. وهو الاصح» وفی الهدایه لا یلزمه وهو الصحیح»

مسئله: که مست په شرابو وغیره سره ایت د سجدی ووایه هم پرده سامع یه سجده واجبه ده

مسئله: پرگونگی یا کانړه باندی سجدهٔ تلاوت نسته په لیدلو سره د من سجد»

مسئله: که کاتب ایت د سجدی نوشته کړی او تلفظ یه نه په وکړی سجده پر واجبه نده لعدم التلاوة والسماع» یعنی په گونگی او کاتب، او کانړه، در وسره کی. قال المصنف:

وَلَوْ دَيْ بِرُكُوعٍ أَوْ سُجُودٍ غَيْرِ رُكُوعِ الصَّلٰوةِ وَسُجُودِهَا

اوادا کیږی سجده تلاوت په رکوع سره او سجدی سره چی غیر د رکوع څخه دلمانځه وی او غیر د سجدی څخه دلمانځه وی. یعنی یوسړی ایت د سجدی ووایه او ورو سته یه صرف رکوع وکړه او بیرته راپوته سو او یایه سجده وکړه او یا ولاړ سو د سجدهٔ تلاوت غاړی یه خلاصی سوی په مراقی کی وائی چی سجده کول افضل کار دی. ولی چی په سجده کی هم صورت د سجدی پیدا سو او هم یه معنا یعنی الخضوع او په رکوع کی صرف معناد سجدهٔ تلاوت پیدا سوه یعنی الخضوع او صورت یه نسته، ولا ریب ان اجتماع الصورة والمعنی افضل من محض المعنی» قال المصنف:

وَيُجْزِءُ عَنْهَا رُكُوعُ الصَّلٰوةِ إِنْ نَوَاهَا وَسُجُودُ الصَّلٰوةِ وَإِنْ لَمْ يَنْوِهَا

اوکافی ده د سجدهٔ تلاوت څخه رکوع د لمانځه کی نیت د سجدی په کښی وکی او

سجده دلمانځم کافی ده که څه هم نیت د سجدة التلاوة نه په کښی وکړی **پوه سله:** چې په رکوع کی نیت د سجدة التلاوة هغه وخت په اتفاق کافی دی چې رکوع ته ځی نیت د سجدې تلاوت وکړی. اوکه رکوع ته ولاړ وی بیا یه نیت د سجدې تلاوت وکړی. په هغه کی دوه قوله دی خولك وائی چې کافی دی خولك وائی نه دی، اوکی پس راپورته کیدو د رکوع څخه نیت وکړی هغو په اجماع کافی نه دی، اوپراشتراط د نیت په رکوع کی خو امام محمد سره د دی چې تصریح کړی لکن بیا هم جلابی ده څخه روایت کړی دی چې بیله نیته هم کفایت کوی،

فائده مراد د نیت څخه په دی تولو با حثو کی قصد قلبی دی دخولې نیت به نه کوی مراقی د کفایت د رکوع په بیان کی داوائی چې معنا د تعظیم په رکوع او سجده دواړو کی شریك ده، لکن چونکه صرف معنی تعظیم په رکوع کی موجود دی. او صورة نه وو اوپه سجده کی صورة ومعنا وو، نو ځکه په رکوع کی نیت غواړی او په سجده کی نه غواړی

مسئله: که قوم یعنی مقتدیان د یروه. نوکه امام په سړی لمانځه کی ایت سجدې ووایه نو په رکوع کی دی نیت د سجدهٔ تلاوت وکړی. اوکه په جهری لمانځه کی ایت سجدی وویلو نو دی په سجدهٔ صلاتیه کی نیت د سجدة التلاوت هم وکړی. یعنی رکوع مستقله یا سجده مستقله دی نه کوی تاچی نو مقتدیان لمونځ فاسد نه کا. اویا اشتباه پرانیږی چې امام داخه چم وکړی خصوصًا نهوښ پښتانه عوام چې سجدهٔ تلاوت د لمانځه خوبیخی نه پیژنی.

واقعه یوحاجی حج ته تللی وو د بازگشت په وخت کی زه مبارکی ته ورغلم، نو د حج په سفر په دوران کی ده راته وویل چې په حج کی می داپلا عجبه ولیدل.... ماورته ووئیله خه دی ولیده. حاجی صاحب ووئیل چې زه دکوی پرخوا راتلم د سحار لمونځ می په جده کی په یوه مسجد کی وکاوه. نو امام د سحار لمونځ دری رکعته وکړی. او د میانځ په رکعت کی یوه سجده وکړه دریم رکعت ته راپورته سو، نوده ویل ماخپل لمونځ بیرته راوګرځاوه، ماورته ووئیل د مختار کی دا دی چې که امام په رکوع کی نیت د سجدهٔ تلاوت وکړی یعنی په جهری لمانځه کی

فائده: په

اوکه مقتدی نیت په رکوع کی نه وکړی مقتدی به چې دامام سره یه سلام وګرځاوه سجده تلاوت دی وکړی. اوقعدهٔ اخیره دی بیرته راوګرځوی. ولې چې دامام سره اخیره ناسته په سبب د سجدهٔ تلاوت پوره نه سوله. اوکی قعده نه راوګرځول د مقتدی لمونځ فاسد ښو.

سبحانه ښوونه هغو علماء چې په رکوع او سجده دواړو کی نیت شرط نه بولی هغو دا دلیل وائی چې رکوع او سجده مطلقا د سجدة التلاوت په ځای کی دیږی ولې چې مقصود د سجدة التلاوت څخه تعظیم لامر الله دی. اوهغه په رکوع کی د لمانځه اوپه سجده کی د لمانځه موجود دی کد نیت وکړی اوکه نه. اوهغو چې په دواړو یعنی رکوع اوسجده کی نیت شرط بولی هغو فقهاء وائی چې سجده التلاوت او رکوع اوسجدهٔ د لمانځه دوه جنس مختلف دی نو یو جنس عمل چې د خلاف الجنس عمل په ځای کی دیږی. نیت خواه نخواه غواړی، اوهغه فقهاء نکه مصنف چې د رکوع او سجدی فرق وائی د هغو دلیل هغه دی چې مونږ عنقریب ذکر کړی. قال المصنف:

إذا لم ينقطع فور التلاوة بأكثر من آيتين

دا یعنی نیت د سجدة التلاوت هله صحیح دی که دستی کول د سجدهٔ تلاوت په لاسه تر دوه ایتو نه وو قطع سوی. **پوه سله:** چې فور د سجده تلاوت په یوه ایت ویلو سره یا په دوه ایت ویلو سره پله سجدهٔ تلاوت د ایت خواجماعًا نه قطع کیږی. اوپه څلورایت ویلو سره اتفاقًا قطع کیږی. اوپه درو ایتو کی اختلاف دی. امام خلوزاده وائی چې فورًا په قطع کیږی اوامام حلوانی وائی چې قطع کیږی. قال الامام الطحطاوی چې د امام حلوانی قول اصح دی د جهته د روایت کما قال الحلبی، اوقول د خواهرزاده اصح دی د سببه د درایت. ولې چې احیاطًا پر دغه قول کی دی ولذا اختاره المصنف:

فائده: مصنف په مراقی الفلاح کی تر عنوان د **تنبیه مهم** لاندی یوه دیر اوږد بیان کړی دی چې قدر ضروری د هغه اوږده بیان چې عمومی خلګوته فایده ده. دا دی چې څه وخت چې فور د سجدهٔ تلاوت قطع سی نو سجده تلاوت د سړی په ذمه کی پور ګرځی،

نوه هغه دیاړه به جلاء کوع یا سجده پرته لمانځه کی کوی اوداسی اوبنه بیان یه تردی مخه
پوری رسولی دی فاعرضنا عنه لصعوبته فهمه علی المتعلم بل علی بعض المعلمین

وَلَوْسَمِعَ مِنْ إِمَامٍ فَلَمْ يَأْتَمَّ بِهِ أَوِ ائْتَمَّ بِهِ فِي رَكْعَةٍ

اوکه چیری واوری یوسړی ایت د سجدی د امام څخه نوافتداء یه نه پسی وکړی. اویا یه افتداء پیل کړی

أُخْرَى سَجَدَ خَارِجَ الصَّلٰوةِ فِي الْأَظْهَرِ

کی پسی وکړه داسړی به سجدهٔ تلاوت
دباندی ترلمانځه کوی په أظهر روایت کی، **پوه سه**: چی په اوله مسئله کی چا ایت
د سجدی یه د امام څخه واوریدی اوافتداء یه کړه پسی ونه کړه. چونکه سبب د سجدی چی سماع
ده متحقق سوه نوپس سامع سجدهٔ تلاوت لازمه سوه. چونکه دده دیاړه دا سجده صلاتیه نه ده
نوحکمه یی خارج الصلوٰة کوی، مصنف ددوهمی مسئلی په دلیل کی وائی: صوناً عن الضیاع
دیاړه ددی چی وسائل هی هغه سجدهٔ چی پرده لازمه سوی ده د ضائع والی څخه د خارج
الصلوٰة هم ونه کړی. «الصلوٰة عن الزائد» اولمونځ وسائل سی دزائد شی څخه یعنی کوم چه
لمانځه کی وکړی. قال المصنف:

وَإِنِ ائْتَمَّ قَبْلَ سُجُودِ إِمَامِهِ بِهَا سَجَدَ مَعَهُ

اوکه چیری
دغه سړی چا ایت د سجدی خو یه د امام څخه قبل الاقتداء اوریدلی وو د هغه ترسجدی دلته
دغه ایت لره نومقتدی مذکور دی سجده وکړی سره د امامه. ولی چی سبب چی سماع وو پیدا سو
اوسامع هم فوته، قال المصنف:

فَإِنِ اقْتَدَى بِهِ بَعْدَ سُجُودِهَا فِي رَكْعَتِهَا صَارَ مُدْرِكًا

اوکه اقتداء وکړه دغه سامع دایة السجدة دباندی ترلمانځه یه امام پسی وروسته ترسجدی
لَهَا حُكْمًا فَلَا يَسْجُدُهَا أَصْلًا امام هغه ایت نه سجدی لکن په دغه رکعت کی

نوهغه مقتدی مدرک سودسجدهٔ تلاوت حکماً، یعنی په دی اعتبار چی هغه رکعت د سجدی یه
وینوی گویا سجده یی هم ونیوله نوهغه مقتدی به سجدهٔ تلاوت نه کوی په هیڅ دلیل یعنی نه
په داخل کی دلمانځه ولی چی مخالفت دامام څخه لازمیږی، اوبنه خارج الصلوٰة ولی دا سجدهٔ صلاتیه
ده حکماً دده دیاړه. قال فی المرقی باتفاق الروایات، قال المصنف:

وَلَمْ تُنْقَضِ الصَّلٰوتِيَّةُ خَارِجَهَا

اوقضاء نذر اوپه کیږی د سجده صلاتیه
یعنی چی ایت د سجدی یه په لمانځه
کی وئیلی وی دباندی ترلمانځه» لِأَنَّ الْكَامِلَ لَا تَقْتَضِي بِالنَّاقِصِ» لکن گناه کاردی توبه دی وکاږی
مسئله: که بنځه پرلمانځه ولاړه وه او ایت د سجدی یه ووایه اوبنځه تر سجدی
حیض ورغلی. نوسجده تلاوت څنډی ساقط سوه لکه لمونځ چی څنډی ساقط سو، قال المصنف:

وَلَوْتَلَى خَارِجَ الصَّلٰوةِ فَسَجَدَ لَهَا ثُمَّ أَعَادَ فِيهَا سَجَدَ

اوکه چاولوستی ایت د سجدی دباندی ترلمانځه نوسجده یه دهغه دیاړه وکړه، اوبیا یه هغه ایت

أُخْرَى وَإِنْ لَمْ يَسْجُدْ أَوَّلًا كَفَتْهُ وَاحِدَةٌ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

په لمانځه کی هم ووایه نوبیه لمانځه کی به بله سجده کوی، ولی دا سجده خو صلاتیه ده اوقوی ده
نوتابع دهغی خارجی سجدی چی نسبةً ضعیف ده نه سی کیدلای، اوکی دخارجیه دیاړه سجده
نه وکړه نوبیا سجده یه په لمانځه کی کافی ده. ولی چی صلاتیه قوی ده. د دواړو تلاوتو
څای نسی، په ظاهر روایت کی، اوپه نوادر روایتو کی وائی چی د اول دیاړه دی خارج الصلوٰة سجدهٔ
وکړی، **مسئله**: که یوسړی په لمانځه کی ایت د سجدی ووایه اوسجده یه هم وکړه اوبیا
وروسته، ترلمانځه بیا هغه ایت د سجدی ووایه نوبله سجده به کوی په ظاهر روایت کی، قال
المصنف:

كَمَنْ كَرَّرَهَا فِي مَجْلِسٍ وَاحِدٍ لَا مَجْلِسَيْنِ

لکه څوک چی
یعنی څوواره ووائی یوایت د سجدی په یوه مجلس کی اوبنه په دوه مجلسه کی، مجلس یه مطلق

وواییه اشاره وی ته ده، چې مجلس کې اوښد وی او که لنډه وی، **پیوه سجده**: چې یو
ایت د سجدې چې په یوه مجلس کې هرځواره مکرر سي، یوه سجده یې کافي ده. نو د اسجده
که په ابتدا کې د تلاوت وي او که په مابین کې وي او که په اخیر کې وي، په سبب د تداخل،
او که په دوه مجلس کې یو ایت د سجدې مثلاً دوه واره ووائ. نو دهرې پلاده پاره جلا
جلا سجده غواړي، په حدیث کې راغلې دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به واصحابو
ته یو ایت څوواره مکرر وواییه او سجده یې کوله.

یوسنته: آنحضرت صلی الله علیه وسلم ولې یو ایت د سجدې واصحابو ته
مکرر واییه **جواب**: چې دوی په زده کړې او پیاډیه کې. نو که دهر واره پاره
سجده لازمه سي نو حرج دی او حرج په دین کې نسته، او برخلاف ددې دی چې مجلس بدل سي
او یا ایت د سجدې بدل کړي په هغه کې حرج نسته لعدم الضرورة.

فائده: مصنف په مراقي کې وائ: وهذا تداخل في السبب فتنوب عما قبلها
وبعدها، حاصل دا چې دیوې سجدې کفایت په صورت کې د تکرار تداخل په سبب کې دی
چې ایت د سجدې دی، نه په حکم کې سجدهٔ تلاوت دئ، یعنې دغه دیر واړونه د سجدهٔ تلاوت
ویل چې په حقیقت کې خو دیر دی، لکن سره دهغه لکه یو وار تلاوت دی حکماً لاتحاد الآیة
المتلوة و المجلس نو یوتلاوت سبب دی هغه نورې په تبع دی، ولې خو یو جنس دی. پس
واجب یو حکم دی یعنې یوه سجدهٔ لان اتحاد السبب یستلزم اتحاد المسبب نو وروسته او
دمخه تلاوتونه سره یوځای کیږي او یوه سجده یې په ټولو کې دواړه کیږي. قال المصنف:

وَيَتَبَدَّلُ الْمَجْلِسُ بِالْاِنْتِقَالِ مِنْهُ وَلَوْ مُسْدِيًا

او بدلیږي مجلس په نقل کید و سره دهغه مجلسه څخه که په صحراء یا لار کې وي نو دري گامه
چې نقل سي یعنې په صرف ولاړه یا یوگام یا دوه گامه مجلس نه بدلیږي که څه هم دکنړې
تاروونه دیوه سر څخه بل سر ته وړې یعنې په دې سره هم دکنړې باف مجلس بدلیږي،

کتبه وربه احوج الخلق فضل الحق حقاني مدرس بجامعة مركزيه تجويد القرآن

قال المصنف: **وَبِالْاِنْتِقَالِ مِنْ غُصْنٍ اِلٰى غُصْنٍ** اود اغه رنگه مجلس بدلیږي چې سړی په درخته
کې دیوه بناخه څخه بل بناخ ته پورته کیږي یا دیوه بناخ څخه بل ته راشوه کیږي، قال في المراقي
في ظاهر الدواية، اوبعض فقهاءُ ووائ چې چونکه بیخ د درختې یودی نو په انتقال د بناخ څخه
بناخ تبدل د مجلس نه راځي، بلکه یوه سجده یې کافي ده، قال المصنف:

وَعُوْمٍ فِيْ نَهْرٍ اَوْ حَوْضٍ كَبِيْرٍ فِي الْاَصَحِّ

اوغه رنگه مجلس بدلیږي چې سړی
اوبازی کوی په رود کې. اویا په لوی حوض کې. لوی حوض هغه دی چې لنډ په لس کې وي
اوتردی کم صغیر دی. په صحیح روایت کې، دا راجع قولو مذکورو مسایلو ته دی. ولې چې
په ما سوا د انتقال په نورو مسئلو کې اختلاف سته، قال المصنف:

وَلَا بِسَيْرِ سَفِيْنَةٍ

اونه بدلیږي مجلس د تلاوت او د سماع په تګ د کښتی
یعنې چې سړی په کښتی ناست وی او کښتی روانه وی.
نو هرځواره چې یو ایت د سجدې سړی ووائ یوه سجده یې کافي ده، ولې چې مجلس نه دی

بدل سوی، درویش وائی چی حکم د موټر او تیاری هم دا غږدی. اوبا ډسکل اوموټر گاډی هم دغسی نه دی فتدبر، قال المصنف:

وَلَا بِرَكْعَةٍ وَبِرَكْعَتَيْنِ

اودا غږ، نگه نه بدلیږی دیوه رکعت په کولو سره مثلاً په یوه رکعت کی دوه یا دری واړه یو آیت د سجدی ووایه یوه سجده کافی ده، اوپه دوه رکعته سره هم مجلس نه بدلیږی» یعنی په یوه رکعت کی آیت د سجدی ووائی اوپه دوهم رکعت کی هغه آیت مکرر کړی مجلس نه دی بدل نویسوه سجده کافی ده» لکن دا مذهب دی دابو یوسف او امام محمد وائی چی مجلس بدل سوئو دوی سجدی به کوی» قال المصنف:

وَلِشُرْبَةٍ وَاَكْلِ لُقْمَتَيْنِ وَمَشْيِ خُطْوَتَيْنِ وَلَا بِاتِّكَاءٍ

اونه بدلیږی مجلس د اوبو یې څښلو سره یعنی سړی آیت د سجدی ووایه اوبیا اوبه وڅښلی، اوبیا

وَقُعُودٍ وَقِيَامٍ وَرُكُوبٍ وَنُزُولٍ فِيْ مَحَلِّ تِلَاوَتِهِ

په هغه آیت ووایه مجلس نه دی بدل یوه سجده یې کافی ده، دغه غږ، نگه په خوړلو د دوو گولو وخت هم مجلس نه بدلیږی یعنی سړی د مخه ترخوړلو آیت د سجدی ووایه اوبیا دغې گولی دوه دی وخوړله مجلس نه دی بدل بلکه یوه سجده یې کافی ده اودغه غږ، نگه په دوه گامه تگ سره مجلس نه بدلیږی یعنی سړی آیت د سجدی ووایه اوبیا یې دوه گامه واخلی بیا یې هغه آیت ووایه یوه سجده کافی ده»

اوکه ترډوی گولې بالاوی مجلس بدلیږی نوبیا دوی سجدی غواړی، اودغه غږ، نگه نه بدلیږی مجلس په تکیه کولو سره یعنی سړی ناست وی او آیت د سجدی ووائی اوبیا تکیه وکړی اوبیا هغه آیت د سجدی ووائی مجلس نه دی بدل یوه سجده یې بس ده، اودغه غږ، نگه مجلس نه بدلیږی که په ناست سره اوپه ولاړه سره یعنی سړی ناست وی آیت د سجدی ووائی اوبیا دی ولاړ سی هغه آیت د سجدی اوبیا دی ولاړ وی آیت د سجدی ووائی اوبیا کښینی هغه

هغه آیت تکرار کړی مجلس نه دی بدل اویوه سجده یې کافی ده، اودغه غږ، نگه مجلس نه بدلیږی په سپر یدو سره پرخره یا آس وغیره یعنی سړی کښته آیت د سجدی ووایه اوبیا په هغه ځای کی پرخره باندی سپور سو، اوبیا یې هغه آیت د سجدی ووایه، یوه سجده یې کافی ده، اودغه غږ، نگه مجلس نه بدلیږی په اکښته کیدو دابی څخه یعنی سړی پرخره مثلاً سپور وو او آیت د سجدی یې ووایه. اوپرهغه ځای اکښته سو اوبیا یې آیت د سجدی پرهغه ځای ووایه یوه سجده یې کافی ده. ددی سبب به مصنف وویل و. محل تلاوته» قال المصنف:

وَلَا بِسَيْرِ دَابَّتِهِ مُصَلِّيًا

اونه مکرریږی مجلس په تگ د دابی که آس وی که خر په داسی حال چی دی لمونځ پرې کوی نو آیت د سجدی په هغه لمانځه کی مکرر ووائی» مجلس یودی په سبب د دی چی لمونځ روادی اوسره د دی چی یولمونځ په مختلفو ځایو کی نه دی روا **پوه سه**: چی د مصلیا قید یې د دی د پاره ووایه که د غه سپور سړی پرلمانځه نه وی اود ابه روانه وی او آیت د سجدی مکرر ووائی نو په قدر د تکرار سجدی پرلازمی دی، ولی چی تگ د دابی منسوب وه راکبته دی گویا دی روان دی»

درویش وائی چی په دی سره حکم د بائسکل موټر گاډی نه نبکاره سو او که سړی لمونځ پردابه کاوه د خارجی سړی څخی آیت د سجدی واورېدی، اوبل واړهم واوریدی، مکرری سجدی پرلازمی دی اوترلمانځه وروسته بی اداء کوی» مرط، د. **پوه سه** چی په موټر کی او یا طیاره کی د موټر چلوونکی او طیاری چلوونکی، اوسوار یانو حکم سره جلا دی نګر په طیاره کی په سبب د حرج په یودی» د، قال المصنف:

وَيَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ عَلَى السَّامِعِ بِتَبْدِيلِ مَجْلِسِهِ وَقَدِ اتَّحَدَ

او مکرریږی وجوب د سجدهٔ تلاوت پر اوریدونکی په بدلولو سره د مجلس دده او حال

مَجْلِسُ التَّالِي لَا بِعَكْسِهِ عَلَى الْأَصَحِّ

داوی چی مجلس د تالی یوو ی

متلاوت تالی یوځای ناست وو او ایته دسجدی یه تلاوت کړی اوسامع هم واوریدی، بیا سامع بل ځای ولاړی اوبیرته دتالی مجلس ته راغلی تالی بیا هغه ایت دسجدی ووایه پرسامع دوی سجدی واجب دی، لتبدل مجلسه، اوپرتالی یوه سجده نه لازمیږی لعدم التبدل اوپه عکس کی یعنی چی دتالی مجلس بدل سی اوسامع پرهغه اول ځای ناست وی نوپرتالی کنځم دوی سجدی واجبی سولی. ولی خو مجلس یه بدل کړی. اما پرسامع یوه سجده لازمه ده لعدم تبدیل مجلسه، لکن پرصحیح مذهب، قال ط وعلیه الفتوی، نهر، واختاره صاحب الهدایه وقاضیخان، قال الحلبی وبه نأخذ، اوبعض فقهاءٌ وائی چی په دی صورت پرسامع هم دوی سجدی واجبی دی. قال ط وهوالمختار للاسبیجابی وعلیه الفتوی وهو قول فخرالاسلام، ولی چی مجلس دتالی چی بدل سی نود سامع وجوب پرسامع هم مکرر پریږی ولی اصلی سبب خوتلاوت دی لکه مذهب جمهورو چی دی، والحکم چی سجده داضافت او نسبت په وسبب ته کیږی چی تلاوت دی نه وشرته چی سماع ده، اواصح مذهب دلیل دادی لکه په المنح کی وائی چی صحیح داده سبب دسجدی په حق کی دسامع سماع ده تلاوت نه دی، اوپه ماعن فیه کی خو مجلس دسامع نه دی بدل سوی،

پوه سکه: چی داولی مسئلی حکم انتقالی دی یعنی هغه څوک چی سبب دوجوب پرسامع باندی سماع بولی نوخوظاهره ده چی مجلس دسماع خومتعدد دی، اوپر مذهب جمهورو چی سبب دوجوب دسجدهٔ تلاوت تلاوت بولی هغه وائی چی اتحاد دمجلس دتالی خودتالی په حق کی تعدد المجلس باطل کی نوداتحاد په حق دبل چا چی سامع دی نه تاثیر نه لری،

قال المصنف: **وَكُرِهَ أَنْ يَقْرَأَ السُّورَةَ وَيَدَعَ آيَةَ السَّجْدَةِ لِأَعَكْسِهِ**

اومکروه دی چی یوڅوک نور سورة تلاوت کوی اوترایة السجدة ژبه اړه وی یعنی فی وائی. اوداکراهت په تحریمی دی کما فی النهر، ولی چی په دی کی مشابهت دی دمنع کولو دکفارو خپل ځانونه دسجدی نخه اودامنع خوخوی دمؤمن نه دی، ولی چی داخوکفر دی، نوما یشبه به لکه دغه فعل دمؤمن مکروه تحریمی دی کذا فی البنایة شرح الهدایة. اوعکس یه مکروه نه دی.

ولی چی په دی عمل کی مبادرت دی وسجدې ته پرخلاف دفعل دکفارو، قال المصنف

وَنُدِبَ ضَمُّ اٰيَةٍ اَوْ اَكْثَرَ اِلَيْهَا اومستحب دی چی هغه سړی چی یوازی آیات دسجدی وائی. چی وهر ایت ته دسجدی دی یوایت بل زیادوه ایت نور دی وړ جوت کړی یعنی ورسره ودی وائی، تاچی توهم ددی دفع وشی چی دا ایتونه دسجدی تر نورقران تفضیل لری، سره ددی قال مبارک من حیث انه کلام الله تعالی تول سورتونه اوایتونه یه سره برابر دی که څوک په اعتبار دپرو صفاتو دخدای پاک په بعض سورتو اوایتونو کی تفضیل یوپر بل ستنه، فتح القدیر، قال المصنف

وَنُدِبَ اِخْفَاؤُهَا مِنْ غَيْرِ مُتَاهَبٍ لَهَا اومندوب دی یعنی څوک راویل اوپوتهول دایة السجدة دهغه چا څخه چی هغه اړاسته وی نوی سجدی نه یعنی یا اودسونه نه لری اویا پرتکلیف وی سجده اوداشفقةً دی پردوی.

فَائِدَه: په محیط اوعنایه کی وائی که تالی دقران یوازی وو نودده خوښه ده که قرائت په جهر وائی اوکه قرار اوکه نورحلک سامعین موجود وه. نوکه دوی په خیال دتالی وسجدې ته اماده وه یعنی اودسونه یه درلوده، اوتالی په دې هم پوهیدی چی سجدهٔ تلاوت پردوی تکلیف نه ده نوایته دسجدی دی په جهر ووائی، تاچه تهوله داسې څلی عبادت وکړی. اوکه قاری په خیال تهوله یا بعض بی اودسه په کښی ستنه، اویا پرتهولویا بعضو سجده کول تکلیف دی نودې کرار ووائی ددی سبب چی بل وړ، په گناه کی دنه سجدی کولو واقع نه سی، هذا ما هذب التاتارخانیة والطحطاوی،، **مسئله:** که قاری تاته دځلگو حال نه معلومیدی بیاهم اخفاء سنه کاردی کذا قال الحموی سابرك داوریدو څخه یه قصه ځان په یو کاراخته کړی وو، اودقران تلاوت وه واجبه ده، س، در، ط، قال المصنف

وَنُدِبَ الْقِيَامُ ثُمَّ السُّجُودُ اومندوب ده ولاړه اوبیا سجده کول یعنی که سړی په ناستی ایت دسجدی ووایه نو

مندوبه داده چې ولاړ شي اوبيادي سجده وکړي» د دې روايت عائشه رضي الله عنها کړې دي» هر اوغه رنګ مندوب دي هغه چا ته چې د دا بې شمايت د سجدې تلاوت کې چې راګښته دي بس اوسجده دې پر محله وکړي. او امام طحطاوي وائي که دا چا په ذمه کې د پيړۍ سجدې وي نو هر يوې د پيړۍ ولاړ مندوب دي، قال المصنف:

وَلَا يَرْفَعُ السَّامِعُ رَأْسَهُ مِنْهَا قَبْلَ تَالِيهَا

اوند دې پورته کوي سامع سر خپل د سجدې څخه د هغه تر تالي دايت د سجدې. وفي الشرح اوغه رنګ به سامع تر تالي د هغه سجدې نه نه وي لکن د اهليت مندوبيه ده چې تالي اوسامع پريوه ځاى سجده کوي» مندوبيت سبب دا دى چې تالي اصل دى نو سامع دى دده متابعت وکړي» لکن دا ګمان دى خوك نه کوي چې سامع د تالي مقتدى دى حقيقةً» قال المصنف:

وَلَا يُؤَمَّرُ التَّالِي بِالتَّقَدُّمِ وَالسَّامِعُونَ بِالِاصْطِفَافِ

اوند دې امر کوي چې تالي دايت د سجدې په د هغه وائي سره اوسه معان په صف کيدو سره ولي دا

فَيَسْجُدُونَ كَيْفَ شَاءُوا

خو حقيقت اقتداء نه ده، بلکه دوى دې سجده تلاوت وکړي څنګه چې خوښه وي، که خوك ورو وسته وي که خوك د هغه وى تر تالي، قال المصنف:

وَشَرْطُ لِصِحَّتِهَا شَرَائِطُ الصَّلٰوةِ إِلَّا التَّحْرِيمَةَ

اوشرطونه دى د صحت د سجدې تلاوت دپاره شرطونه د لمانځه: يعنې طهارت د حدث او خبث څخه او ستر العوره او استقبال القبله وغيرها مما مر في باب الصلوة مګر نه تکبير تحريمه چې هغه په سجده تلاوت کې شرط نه دى بلکه سنت دى» قال المصنف:

وَكَيْفِيَّتُهَا أَنْ يَسْجُدَ سَجْدَةً وَاحِدَةً بَيْنَ تَكْبِيرَتَيْنِ هُمَا

او کيفيت د سجده تلاوت دادى چې سجده دى وکړي يوه سجده په مابين کې د دوو تکبيرو يعنې

سُنَّتَانِ بِلَا رَفْعِ يَدٍ وَلَا تَشَهُّدٍ وَلَا تَسْلِيمٍ

يعنې يو تکبير دوضع دپاره اوبل تکبير د رفع دپاره بيله لاس پورته کولو او بيله التحيات او بيله سلام ګرځولو، لعدم ورود الشرع بها،

فَصْلٌ

فصل دى په بيان د سجده شکر کښې،

سُجُودُ الشُّكْرِ مَكْرُوهٌ عِنْدَ الْإِمَامِ لَا يُثَابُ عَلَيْهَا

سجده شکر مکروه ده په نيز د امام اعظم، وفي نسخة عند ابي حنيفه رحمه الله تعالى عليه نه ثواب ورکول کيږي پرهغې باندې کې وکړي اونه ئې پرتړلې د هغې کې وي نه کړه، قال المصنف:

وَقَالَا هِيَ قُرْبَةٌ يُثَابُ عَلَيْهَا وَهَيْئَتُهَا مِثْلُ سُجُودِ التِّلَاوَةِ

اوامام محمد اوامام ابويوسف يعنې په يوه روايت کې وائي چې سجده شکر د ثواب کار دى. اوکيفيت د دې سجده شکر لکه کيفيت د سجده تلاوت دى يعنې وقبلې ته د مخ کولو اوتکبير د وائي اوحمد د خداى او شکر د وائي، او تسبيح د وائي، اوشرطونه هم د سجده تلاوت شرطونه دي،

پوښتنه: چې که څه هم امام طحطاوي د کراهت څخه کراهت تنزيهي اختيار کړى خو بيا هم د حضرت الامام مذهب او توجيه نه ضرورت لري، قدورى وائي او کمال هم وائي چې په نيز د ابي حنيفة اوابي يوسف په يوه روايت کې کمتر رکعت قربت يعنې د ثواب نه دى» مګر هغه ځاى چې په هغه کې نص وارد وي لکه سجده تلاوت» د روښې وائي چې دا روايت خو نسبته مشکل دى» لکن امام محمد د امام اعظم څخه د اسې روايت کوي چې مکروه دى»

بعض فقهاو چې د امام اعظمؒ دمذهب دامې توجیه کړیده چې حضرت الامامؒ مراد دا نه دی چې سجدهٔ شکر مشروع نه ده اوثواب ئې نه کښې بلکه دادی چې دا سجده واجبه نه ده. ولې فتوې دخدائ غیر متناهیه دی» فتکون مباحةً، آه داتوجیه دعبارت څخه دکراهت یا عدم قربت پرې لیرې ده کما لایخفی علی ذی لب» اوبعض فقهاءؒ وائی چې دامام اعظمؒ مذهب دادی چې بوه سجده پوره شکر نه دی بلکه پوره شکر په دوه رکعت لمانځه کې دی لکه چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په وخ کې دفتح دمکې وکړه کذا فی السراج الکبیر»

درویش وائی چې داتوجیه هم دکراهت دلفظ سره چې امام محمدؒ یې روایت کړی دی موافقت نه لري، ولې چې داخو صحیح ده چې یو سجده خوپوره او کامل شکر نه دی بلکه کامل شکر دوه رکعته لمونځ دی، لکن دلفظ دکامل خو داسې معلومیږي چې فی الجمله شکرخو دی نومکروه بیا ولې ده یعنې سجدهٔ شکرفافهم» مصنف په مراقی کې وائی چې اکثر فقهاء پردی رایه دی. چې سجده شکر هیڅ قربت نه دی په نیز د امام اعظمؒ بلکه مکروه ده» بیامراقی وائی چې هغه چې په بعض حدیثونو کې راغلی ده چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې په یوبد مرض مبتلا خوک به ئې ولیدی نکله، شل، پیس، پوهند، وغیره نوسجده دشکر به ئې وکړه چې شکردی چې نه ددی آفت اومرض څخه خدائ جل سلطانه ساتلی یم، هغه حدیث منسوخ دی»

لکن دادعوی دسنخی امام طحطاویؒ رد کړیده» ولې چې اکابرو د صحابهؓ وو لپاره علیه الصلوة والسلام څخه داسجده کړیده. لکه په صحیح روایت سره چې ثابته ده چې سیدنا ابوبکر رضی الله تعالی عنه په وخت دفتح دیمامې اودقتل دمسیلمة الکذاب سجده دشکر وکړه. اوداغه رنګه په صحیح روایت سره ثابته ده چې حضرت عمر رض په وخت دفتح دیرموک چې یوه وادی ده په ناحیه کې دشام ده شکر وکړه. اوچې علی رضی الله تعالی عنه ذی الثدیة کافر قتیل ولیدی. په نهروکی سجده دشکر یه وکړه. اوپه صحیح روایت کې داسې هم راغلی دی چې ابوداؤد یې روایت کړی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم دری واړه یووخت سجده وکړه. اوداسې وفرمائیله: اِنّی سَئَلتُ اَبی وشفعت لامتی فاعطانی ثلث امتی فخررتُ ساجدًا شکرًا یعنی ماخواست وکې دخدائ څخه اوشفاعت مې وکړې دامت دپاره. نوده یوې دریمې شفاعت مې قبول سُو:

نوزه پرسجده پریوتم دشکر دپاره: ثم رفعت رأسی فسألتُ ربی لامتی فاعطانی ثلث امتی فخررت ساجدًا لربی شکرًا: ثم رفعت رأسی فسألتُ ربی لامتی فاعطانی الثلث الاخیر فخررتُ ساجدًا لربی» شیرازی وائی سه

عطائی شفاعت چنا بخشش دهند: کرامت تمامی زدوزخ برهند. اللهم ارزقنا شفاعته نبیک صلی الله علیه وسلم» دیارانوسره دمذهب امام طحطاوی لیکی وعلیه الفتوی» وفی الدر و به یفتی. وفی کتاب ابن امیر الحاج وهو الظاهر. اوخرنګه به ظاهره وی چې په سجده کې دپیر حدیثونه راغلی دی» وفی الدر سجدة الشکر مستحبة به یفتی» کیف وقد جاء فی الحدیث الصحیح چې څروخت چې دابوجهل لعنه الله سر په غزا کې دبدر دعلیه الصلوة والسلام په مخ کې کښیښول سو پنځه واره یې سجده شکر وکړه. اوپه حدیث کې راغلی دی: چې څروخت چې جبرئیل علیه السلام وآنحضرت صلی الله علیه وسلم ته دا زیری راوړی، ان الله تعالی یقول لک من صلی علیک صلیتُ علیه ومن سلم علیک سلمتُ علیه.

نوعلیه السلام سجده شکر وکړه اوپه تاتارخانیه کې وائی چې صاحب الحجة وائی زما په نیز قول دامام اعظمؒ محمول پرایجاب دی، یعنی سجده شکر د پاره دهر نعمت واجبه نه ده. اوقول د امام محمدؒ محمول پرجواز اواستحباب دی، درویش وائی چې داخو په صحیح خبره ده لکن دکراهت توجیه نه پیدا کیږی. نوصحیح توجیه نه پیدا کیږی» نوصحیح توجیه دکراهت که هغه روایت ثابت وی هغه ده چې صاحب الدر کړی ده. چې دکراهت محمل هغه دی لکه بعض عوام چې کوی متصل په لمانځه پسې. ولې چې دبعض جاهلانو داخیال کیږی چې دغه سجده متصله په لمانځه پسې یا سنت یا واجب ده. نوداقانون دی چې هرمباح شئ اوعمل چې ورته توهم تعلق منفی پیدا کړی هغه مکروه دی» داوو محمل دکراهت المروی عن امامنا الاعظمؒ: هدیت الیه بتوفیق الله المستعان وعلیه التکلان» قال المصنف:

فَائِدَةٌ مُهِمَّةٌ لِدَفعِ كُلِّ مُهِمَّةٍ قَالَ الإِمَامُ النَّسَفِيُّ

یعنی دایوه فائده ده مهمه چې باید سړی دې تعلم او تعلیم غم وخوری او دیر غم خوری په وکړی

د پاره د دفع د هری نازلی چې پرې نازله سی. یعنی د غیر برکت به خدای پاک هوجاړه
د سړی څخه دفع کړي هغه داده، چې وئیلی دی امام نسفی په کافی کی که څوك وآئی اینوسه د
سجده تلاوت ته له په یوه مجلس کی. او د هرایت د پاره یعنی په هغه مجلس کی سجده تلاوت
وکړي خدای جل جلاله به کفایت کړي د هغه شی چې دی په غم کی اچولی وو.
یعنی که بلاوه خدائ به ئی څنډی دفع کړي، او که تضییف وو خدای به ئی وریته راجلب کړي.

فائده: چې دا مهمه که د امورو څخه د دنیاوی — او که د اخرت وی
بعض علماء وائی چې ټوله خو لس ایته دی پوره کړي او بیا دی څو لس سجدی وکړي. لکن افضل
داده چې څرنګ یوایت روایته د هغه د پاره دی سجده وکړي. او بیا دی بل ایت وآئی او سجده
دی وکړي وهکذا. ولی چې څنډ قول د سجدهٔ تلاوت تر تلاوت مکروه تنزیهی دی. او د کمال
هغه سوال به هم د دفع سی چې وائی چې د ایت السجدة او سجدی فصل نه دی سنه کار. کذا
قال امام الطحطاوی. د روښ وائی چې دا کار خو ډیر آسانه کار دی لکن شیطان د دی کار څخه
خلك مصروف کړي دی.

ایتوبی بیشکه

ته بیشکه چې وارث الانبیاء دا یقینی ده
د علومو سول خو وریثه زمونږ د نبی ده

انبیاؤ څپل امت ته بیله شکه حق بیان کړ
په پښتو دی دین بیان کړ خوشحالی ده

بلیلان دی مسائل ور څخه نرده کړی
دا سپیده د قبول امت او حقانی ده،

حقانی بقلم خود

باب الجمعة

داباب دی په بیان کی دجمعی:
فی العراقی لفظ الجمعة بسکون المیم، اوقراء القرآن په مضموم وائی یعنی په پینځ دمیم ط. وفی المصباح
پینځ دمیم لغت دی د اهل حجاز ط وائی دالغت مشهوره اوفصیح دی. پردی تقدیر دالفظ په
معنی د مفعول دی،، ولی چې په سکون سره وزن د فعلة بمعنی المفعول» ای الیوم المجموع
فیه الناس» اوپه ژوره میم د بنی تمیم لغت دی نوپه معنی دفاعل دی: ای الیوم الجامع
اوتأیه د مبالغه د پاره ده ځکه تا د علامة اوسکون دمیم په لغت د بنی عقیل»

فائده: قرائة متواتره په قرآن کی پینځ دمیم دی. اوقرائت دسکون اوفتح په دقراءات
شاذه وو څخه دی، **د نقل وړ خبره**: پوه سه: چې فراء اوزجاج او ابوعمرو وائی
چې عرب قدیم د جاهلیت څخه د اسلام تر راتلو پورې د هر څو نومان په دی ډول وه،، د شنبی
ورځ په شیار بلل، او د یکشنبی ورځ اول بلل، او د دوشنبی ورځ په اهون بلل، او سه
شنبی ورځ په جبار بلل، او څهارشنبی ورځ په دبار بلل، او پنجشنبی ورځ په مؤنس بلل،
او جمعی ورځ په عروبة بفتح العین وضم الراء، ثم نقلت الایام الی الاسماء الاسلامیة: ای
الجمعة، و السبت، والاحد، والاثنین، والثلثاء، والاربعاء، والخمیس

د جمعی د ورځی مناسبت: څوك وائی چې ورځ د جمعی چې په دی نامه مسمی سوه: لاجتماع الناس
فیه، اوابن حجر په فتح الباری کی داوجه اصح الاقوال بللی ده یعنی چې خلق د آدم
په دغه ورځ کی جمع سوی دی. اوبعض وائی چې اجتماع د آدم اود حواء په محکمی کی همدغه
ورځ سویده. اوبعض کسان وائی چې په ورځ د جمعی د خدای پاك بندګان اورحمت سره یوځای کوی
اودغی ورځی ته عید المؤمنین هم وائی، اویوم المزید یه هم بولی، لتزاید الخیرات فیه. اوپه
دغه ورځ کی روحان د مړو سره یوځای کیږی، اوقبرو زیارت په دغه ورځ دین منه دی، اوهم په دغه
ورځ کی مړی د عذاب القبر څخه خلاص وی. اوپه حدیث صحیح کی راغلی دی چې که څوك په

ورځ کی دجمعی اوپاپه شپه کی دجمعی مبارکی مړسی دعذاب قبر څخه به خلاص وی،

دعوامو غلطیا: بعض عوام چی قدیم یه د پنجشنبی دوړځی تر زوال وروسته مړسی نوهغه دجمعی شپی ته ځندوی. اودجمعی به وړځ نه تان کیږی اوږدجمعه اوهم دجمعی پهه وړځ اهل الجنت پهه ملاقات درب العزت مشرفه کیږی. اودجمعی پهه وړځ سورۀ کهف پیرثواب لری، اوپهه صحیح حدیث کی راغلی دی، «خیر یوم طلعت فیه الشمس یوم الجمعة، فیه خلق آدم وفیه اهبط، وفیه تیب علیه، وفیه مات، وفیه تقوم الساعة الی اخر الحدیث، یعنی ښه دوړځو چی لمړیه کښی راخیژی وړځ دجمعی ده. پهه وړځ کی آدم علیه السلام پیدا سوی دی، اوهمه پهه دغه وړځ دی مخکی ته راکښته کړه سوی دی اوهم پهه وړځ دجمعی دده توبه قبله سویده. اودجمعی پهه وړځ دی وفات سوی دی. اود جمعی پهه وړځ به دصور شپیلی پوه کول کیږی یعنی لوی قیامت به جوړیږی.» قال المصنف:

صلوة الجمعة فرض عین علی من اجتمع فیه سبعة شرائط

دجمعی لونځ فرض معین دی یعنی پرهرسړی جلاجلا فرض دی چی دبعض پهه کولو سره دنورو غاړه نه خلاصیږی پرهغه چاچی پهه هغه کی جمع ښی اوۀ شرطونه وی، پهه مراقی الفلاح کی والی: بالکتاب والسنة والاجماع» ونوع من المعنی: قال «اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰی ذِکْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَیْعَ: الایة صدق الله العظیم» ترجمه: چی اذان وکړه ښی دپاره دلمانځه دوړځی دجمعی تاسی پهه شوق ځی وذکرته دخدای اوپریږدی خرڅول، ترپایه پورې».

پوه سکه: چی دذکر الله څخه بعض فقهاء لونځ مرادوی، نودایت مذکوره فرضیت دلمانځه دجمعی خودلالت ظاهریدی، اوبعض فقهاء مراد څندی خطبه بولی پرهغه تقدیر هم پهه فرضیت دلمانځه کوی ولی چی خطبه خوشرط دلمانځه ده، اوشرط هلته فرض گرځی چی مشروط خدای جل سلطانه دپاره دتاکید دامردسعی یومباح شی چی بیع ده حرامه گرځوی ده: وهو

لایکون الا الامر واجبا» مرط دره

حدیث: قال علیه الصلوة والسلام: وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی فَرَضَ عَلَیْکُمُ الْجُمُعَةَ الی اَن قَالَ ﷺ فَمَنْ تَرَکَهَا ثَلٰثًا وَنًا بِهَا وَاسْتِخْفَافًا بِحَقِّهَا، وَلَهٗ اِمَامٌ عَادِلٌ اَوْ جَائِرٌ فَلَا جَمَعَ اللّٰهُ شَمْلَهٗ وَلَا بَارَکَ اللّٰهُ لَهٗ فِیْ اَمْرِهٖ، اَلَا فَلَا صَلٰوةَ لَهٗ اَلَا فَلَا زَکٰوةَ لَهٗ اَلَا فَلَا صَوْمَ لَهٗ» الحدیث،

ترجمه: پوهسی پهه دی سره چی خدای پاک فرض کړیده پرتا ښی لمونځ دجمعی نوکه څوک لمونځ دجمعی پریږدی دکهالی دوجهی اوسپکاوی دسببه پهه حق کی دجمعی دلمانځه، اوده لره امام عادل یاظالم وی. نودی خدائ نه جمع کوی دده متفرق احوال اونه دی خدائ برکت اینږدی دده پهه کارکی» خبردار اوسئ» چی دغه سړی لره نه لمونځ ستر، اگاه اوسی چی دغه سړی لره زکوة نشته، اوخبر اوسی چی دغه سړی لره روژه نشته، ولی چی پهه سبب داستخفاف دده پهه جمعه سره کافرسو، اوکافرلره هیڅ عبادت نشته،

اجماع، پهه احادیثو شریفه ووکی راغلی دی چی مسلمانانو اجماع کړیده دوخت څخه دعلیه الصلوة والسلام الی یومنا هذا پرفرضیت دجمعی دلمانځه بی انکاره دهیڅ چا، اوهغه خبره چی ابن کج کړیده دائما عوثخه دامام شافعیؒ چی دَ جمعی لمونځ فرض کفائی دی هغه غلطه ده، نوع من المعنی» هغه معنی داده، چی مونږ امرسوی یوپهه پرلیښولودما پسینی دلمانځه، دپاره دجمعی دلمانځه، والا ټول ترک فرض الا لفرض» ط» قال فی المراقی والجمعة فرض اکد من الظهر» ولی چی ظهر دی پهه سبب پاتیږی.» قال المصنف:

الذکورة والحریة

اول شرط نروالی دی، پهه دی شرط سره ښځی ووتی یعنی پرښځه دجمعی لمونځ فرض نه دی، قال الله تعالی: وَقَرْنَ فِیْ بُیُوْتِکُنَّ. اوبل شرط حروالی دی یعنی ازادوالی پرمړئ باندی لمونځ فرض نه دی دغه واووپهه کنا بوکی وایی چی بادارته دارواده چی مړئ دجمعی دلمانځه څخه اودجماعت دلمانځه څخه اودا ترو دَ لمونځو څخه منع کړی، اختلاف پهه دی کی دی چی که مولی اجازه د جمعی دلمانځه مړئ ته وکړی. آیا پرده جمعی نه لمونځ بیا فرض دی اوکه نه! صحیح داده چی پهه

اجازه دمولی خوپر مَرَنی دجمعی لمونځ نه فرضیږی کړخدهم اداءیه صحیح ده» قال المصنف

وَالْاِقَامَةُ بِمِصْرٍ په بنار کی» په دی قید اوشرط سره هغه څوك وَوتل چې مقیم وی وی خوپه قریه کی، اویا په بنار کی خووی لکن مسافر وی: لقوله علیه الصلوٰة والسلام: الجمعة حق واجب علی کل مسلم فی جماعة الا اربعة مملوك او امرئة، اوصبی، اومریض، وزاد فی روایة البخاری اومسافر، قال علیه الصلوٰة والسلام: لاجمعة ولاتشریق، ولاصلوٰة الفطر ولا الضحیٰ، الافی مصر جامع، اومدینة عظیمة، یعنی دښته دجمعی لمونځ اونه تکبیرونه د تشریق اونه دکشنی اختر لمونځ اونه دلوی اختر لمونځ مگر په مصر جامع کی اویا په لوی بنار کی

پُوه سَلَه: چې داحدیث امام ابویوسفؒ اوامام محمد په مَبسوط کی وَعلیه الصلوٰة والسلام ترمرفوع راوړی دی. اوابن ابی شیبةؒ پرعلیؓ موقوف یعنی دَرولی دی»

لکنه قانون سرود محدثینوؒ سَم په حکم کی چې دعقل لار ورته نه وی. موقوف حدیث لکه مرفوع دی اوکمال وائی چې کافی دی قول دعلیؓ داقتداء دبنار» قال المراقی» اونه ده نقل سوی دصحابه رضی الله تعالیٰ عنهم څخه چې دوی فتح دَوطنود کفارو وکړه. چې دوی په مشغوله سوی ځایونو کی دمنبرو په ایښولو سره یا په آدابو دجمعی دلماځه مگر په بنارونو کی کارکړی وی نه په قریو کی اوکه چیری پوچا دصحابهؓ په یوه قریه کی لمونځ کړی وای. نوهغه به ترمونږ راورسیدلی وای کړهم په خبر واحد سره وای»

پُوه سَلَه: چې مصر جامع اومدینة عظیمة سره یوشی دی نوکلمه «اَوْ» یاشك دراوی دی اویاد تخییر فی العبارة ده **تنبیه:** په تعریف کی دمصر جامع په پخوانی زمانه کی اوپه اوس عصر کی لوی اختلاف اوطویل طویل بحثونه سَته چې دهغو تحقیق په دې مختصر شرح کی دپرګدان دی نوځکه درویش اکتفاء په شرح دنورالایضاح وکړه. اوبعض خبری دمَراقی اود طحطاوی هم راانقل کړی، «کړخوك غواړی چې په تفصیل ځان خبر کړی نو دفتاوا وو کتابونه دی مطالعه کړی، اوددرویش داګمان نه دی چې یوه تعریف دمصر به په اتفاق سره څوك پیدا کړی، لهذا کُلٌّ بِمَا لَدَیْهِمْ فَرِحُوْنَ» یومجرب اومَثل سوی خبره ده»

خصوصاً په عصر حاضر کی، دَخلګو ترمابین تعصبات قومی، مذهبی، علمی، جاهلی جاری ده

قال المصنف

اَوْفِیْمَا هُوَ دَاخِلٌ فِیْ حَدِّ الْاِقَامَةِ فِیْهَا فِی الْاَصَحِّ

اویاسَرې اقامت لرې په داسی محل کی چې هغه داخل وی په حد د اقامت په مصر کی، یعنی داسی یوځای وی دَبنار څخه دباندی چې تردغه ځای سرې تیرسې هغه دبنار څخه مسافر بلل کیږی. اوچې ودغه ځای ته دسفره څخه راسې ځان مقیم په بنار کی بُولي. نودَغه ځای هغه محلی دی چې اطراف دبنار په عرف کی دَخلګو بلل کیږی، چې دهغه په باره کی دامام محمد څخه یوه غلوه روایت راغلی دی» چې هغه خلور سَوه ګزدی په اصح روایت کی وفی النوادر وهو المختار» وفی النهایة عن التمرتاشی انه الاشبه، وفی النهایة وهو الاصح لکن امام طحطاویؒ وائی:

تنبیه چې داتقدیر په غلوه سره چې مصنف مختار کړی اود امام محمد څخه هم یو روایت راغلی دی» اوما ذکر من الائمة یه هم تصحیح کړیده، اویا بعض فقهاؤ یه په امیال سره تقدیر داطرافو دبنار کړی دی چې دجمعی لمونځ پرسرې واجبیږی، اوبعض علماء یه په سماع النداء سره تقدیر کړی دی. اویاپه بدائع کی وائی که دسرې کورونه دبنار څخه لیرې وو چې سحار ده کوره راوتلای وای اودجمعی لمونځ یه په بنار کی کړی وای ماښام ته بیرته کور ته رسیدی بی تکلیف پرهغه سرې دجمعی لمونځ په بنار کی فرض دی، دا قوله لیس بشئ دَیُ کی څه هم فقهاوؤ یه تصحیح کړیده. ولی چې دنص څخه دحدیث اودروایت څخه ډیرمتون دائمه ثلاثه مخالف دی اود درمختار څخه داهل الترجیح دعلماوو دمذهب هم دا قوله تقدیر ونه مخالف دی

سوال: اخیر طحطاویؒ اواهل الترجیح دمذهب تقدیر داطرافو دبنار چې دجمعی لمونځ پرواجب بولي، په څه شی سره کوی!

جواب: داښاء پرعرف دخلګو دی لکه حضرت الامام الاعظمؒ چې په ډیرو مسئلو کی رأی دمُتبلی به مُعتبره وی، قال المصنف

وَالصِّحَّةُ اودغه رنګه شرط دَوجوب دصلوٰة الجمعة جُوړوالی دَبدن دسرې دی. نو په دی شریطة سره مریض دوجوب خلاص دی»

ف ـره: سپین بیری چې ډیر ضعیفه وي په حکم کې د مریض دی، «م» خو مریض جامع مسجد ته بیخي تلای نه شي، اویا تلای خو شي مګر پرې نه یادت د مرض ببیریږي چې

مسئله: که چوپړۍ چې د مریض خدمت په کاوه کړ دی د جمعې لمانځه ته ولاړ سي نو مریض ضائع پاتیدی د هغه ځخه هم د جمعې لمونځ ساقط دی. قال المصنف:

وَالْأَمْنُ مِنْ ظَالِمٍ

اوبل شرط دوجوب د جمعې د لمانځه امن دسړي دی چې د ظالم ځخه پت وي

پوهه سه: چې مصنف چې تعبیر په ظالم وکړی د هغه معنا داده چې سړي خو مظلوم وی. او که سړي یو جنایت وکړی چې سبب د حد وو د پرده لکه زنا چې یې کړی وی، اویا ناحقه یې مړی کړی وی. او دی پت وی پر هغه سړي د جمعې لمونځ فرض دی زجرًا.

مسئله: کوم سړي چې مُفلسه وی یعنی نه دینار لري او نه درهم اوپور ونه پرې باندی وي، او دی بیربیږی چې پوره وړی می بندی کوی پر هغه سړي هم د جمعې لمونځ نسته په حکم کې د مختفي من ظالم دی» م» قال المصنف.

وَسَلَامَةُ الْعَيْنَيْنِ

اوبل شرط یې دوجوب سلامتیا د ستر ګوده نو پرې باندی د جمعې لمونځ واجب نه دی په نیزد امام اعظم ابوحنیفه رح، او په نیزد یارانو رح کې چیرې قاید د رلودی که هغه قاید تبر غایه جامع مسجد ته بیائی او کې په مزدوری بیائی او دی یعنی روند هم مزدوری لري، نو پر هغه راښده هم د جمعې لمونځ فرض دی» قال المصنف:

وَسَلَامَةُ الرِّجْلَيْنِ

اوبل شرط دوجوب د جمعې د لمانځه جوړ والی د پښو دی نو پر شل باندی د جمعې لمونځ واجب نه دی ولې چې دی عاجزه دی د تګ ځخه او د احکمو اتفاقي دی، او ط وائي چې د واړې پښې یې پرې وي پر هغو هم وجوب د لمانځه د جمعې نسته

مسئله: که د سړي یوه پښه فلج وه یا پرې وه اوبل تکلیفه پرې لکه باندی تلای سوای پر هغه هم د جمعې لمونځ واجب دی، ط، په مرا قي کې وائي چې ډیر زور، آور باران چې د سړي اغوستی کالی سپه ور لنده وي. او د غه

ډیر زور آوره واوره اویا چکړه هم عذر دی. او مستحب د جمعې د لمانځه د وجوب دی

سوال: د جمعې د وجوب د پاره خو عقل او بلوغ هم شرط دی. نو مصنف رح هغه ولې نه ذکر کړ

جواب عقل او بلوغ خو خاص په جمعې پوری نه دی بلکه هغه د ډیو مدار د نفس مکلف والی دی» قال المصنف:

وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّتِهَا سِتَّةُ أَشْيَاءَ الْمِصْرُ وَفِنَاؤُهُ

اوشرط دی د دې د صحت د لمانځه د جمعې شپږ شیان، یا ښار اویا اطراف د ښار چې د هغه یې تفصیل تیر سو قال فی المراقی چې صحیح دی د جمعې لمونځ په ډیرو ځایو د ښار او فناء د ښار کې. فی الاصح. قال الامام السرخسی وبه نأخذ وعلیه الفتوی کما فی شرح المجمع للبدر العینی وکذا فی الفتح، او په بدائع کې والی چې ظاهر الروایة دادی چې د جمعې لمونځ په دوه ځایه کې د ښار روا دی. او بالاتر دوه ځایه نه دی روا» قال وعلیه الاعتماد» در ولیش وائي چې قول د بدائع د هغه زمانې د مسلمانانو ډیر والی یعنی چې د عبادت شوق خصوصًا د جمعې د لمانځه محبت د عامو مسلمانانو په زړونو کې وو. او په اوسنی زمانه کې چې ښارونه ډیر غټ سوه او په میلو مسافت یې په بر کې نیولی دی او د ورسره د هغه مسلمانانو د زړونو ځخه د عبادت کولو عشق او محبت هم کم سو.

نو که لمونځ د جمعې فقط یو ځای روا وی. لکه شیخ علامه مقدسي چې په نور الشمعة کې د امام اعظم ځخه داسې روایت کړی دی. لا تجوز صلوة الجمعة الا فی موضع واحد من بلد واحد» او یا امام زاهد عتابي والی او صاحب البدائع هم وائي. چې د جمعې لمونځ په یو ښار کې نه دی روا مګر په دوه ځایه کې. نو دا په سبب د ګناه کاره کید و سی د زړو مسلمانانو نو چې په هغو کې شرائط د وجوب پیدا وی. او دونه منزل د جمعې په لمانځه کښې نه کوی. یعنی هغه یو ځای یا دوه ځایه چې د جمعې لمونځ کیږی. او دا یو لوی حرج دی په دین کې. نو ځکه مصنف رح جواز د تعدد د لمانځه د جمعې په یو ښار کې مطلقًا روا وه بالله. او امام طحطاوی رح هم والی چې اصح داده چې مطلقًا تعداد د ځایو د لمانځه د جمعې روا دی» لاطلاق الدلیل»

فرع. چې تعدد مطلقًا روا سو بیا نو یو ځای والی د ټولو جامع مسجدو په لمانځه کې د جمعې هم ساقط دی.

اوبناء پرقول ضعیف چې وائی تعداد دځایونه دی روا، نوبعض علماء وائی که ځایونه متعدد وه نود هرجامع مسجد خلک به احتیاطاً څلور رکعته لمونځ ورسره سته دجمعې لمانځه په نیت د اخرالظهر علیه به کوي. ولې چې تعدد نه سې روا اوخوځایه دجمعې لمونځ کیږي. نوچې اول ځای دجمعې لمونځ اداء سوهغه صحیح دی نورګرده فاسد دي، اوکې ځایونه په یوه وخت کې سره وکړي دټولو لمونځ فاسد دی، نود دی کیلد دی څلور رکعته په نیت د اخرالظهر اداء کوي.

مصنف علامه په ردکې د دی قول وائی، وَلَيْسَ الاحتياط فِي فعلها بل الاحتياط فی العمل باقوی الدليلين وهوجواز تعدد الجمعة» درويش وائی چې دليل قوی اطلاق دی دحديث لاجمعة وَلا تشريق الا فی مصر» نومصرشرط دکولو دجمعې دی اوهغه حديث مطلق دی نوبناءً عليه که دجمعې لمونځ یوځای وي په بنارکې اوکه مثل ځایه وي مصرځوپيداوي، قال الزاهدي که علانيةً څلور رکعته احتياطي څوک کوي اويا عاموته هم دا تبليغ کوي نود بعض جاهلانو به داخيال سې چې دجمعې لمونځ فرض نه دی، نوبيا به ئې نه کوي. اود بعض جاهلانو به داخيال سې چې ده جمعې په ورځ دوه لمونځه فرض دی.

درويش وائی: چې هغه خبره چې برهان حلبیؒ کړيده چې کول دځلورو رکعتو وهوالاحتياط لان الاختلاف فی جواز التعدد قوی لان الجمعة لا تصلی فی زمان السلفؒ الا فی موضع واحد من المصروکون التعدد صحيحًا للضرورة يعنی کما ذکرنا سابقًا لايمنع شرعية الاحتياط انتهی مع تغيير داخبره داعتبار ورپرې ده. ولې چې په دی احتياط کې دوې لويې مفسده سته چې نوخيريه شر ډيرين دی کما ذکرنا انفًا من ظن العوام» بلکه صحيح خبره هغه ده چې ط د شرح نخبه دمراقی نقل کړيده چې کول دغو څلورو رکعتو احتياطًا بوصف الاشتهار» اويا عاموته په دغه احتياطي څلور رکعته سره فتوی ورکول ممنوع دی اشد المنع، بل ندل علی ذالک والاحتياط للخواص فی بيوتهم الذين يحتاطون فی امور دينهم، الذين يتركون مايريبهم الی تحصيل يقينهم آه الاحمر والمسک الاذفر الامن وفقه الله»

سه بيت: چوبينم دين احمدؐ درغريبی ؛ دلم سوزان ز چشم خون جاری ؛ عبدالرحمن بابا وائی

کله کله خوښادر گوهر پيدا سی ؛ نور هرجهان دتورو کا نرو غردی ؛ وان شئت

مزيد التفصيل فی هذه المسئلة فارجع الی رد المحتار» قال المصنفؒ فی نور الايضاح؛

وَالسُّلطَانُ اَوْ نَائِبُهُ

اوبل شرط دشروطو څخه دصحت دلمانځه باچا دی دمملکت يعنی چې دی پخپله به لمونځ ورکوی. اويا نائب ده باچا يعنی چې ده امر دا اقامت دجمعې ورکړی وی اوعيدين هم پرجمعه قياس دی: قال الحسن البصریؒ: امرنا الی السلطان وذکرمنها الجمعة و العيدين **مسئله** ابن المنذر وائی که سلطان يا نائب نه وو موجود نودی خلک څپل دماپښين لمونځ وکړی **مسئله**: که يو چاپه زوره يو ملک ونيوی بيله بيعته داهل الحل والعقد اوده په رعيت کی حکم دنورو اميرانو کاوه هغوته هم اقامت دجمعې روادی» ط، **مسئله**: که چيری غلبه وکړه کافرانو پرمسلمانانو اوکافران واليان يې مقرر کړه مسلمانان هلته دجمعې لمونځ اوداختروالمونځ کولای سی. اويوقاضی دی وَدَروی په اتفاق ددوی اوپس دوی واجب دی چې والی مسلمان دی دځان دپاره غوره کړي. لکه په هغه وخت کې چې لويه وچه دهند اوپاکستان دانګريزانو په قبضه کې وه نومسلمانانو دځانو دپاره په هر بنار کې قاضيانو تاکلی وه. اود هغوپه امر يې دجمعې اواختروالمونځونه کوله.

مسئله: په هغه ځای کې چې امير المؤمنين ته دخلکو لاس نه رسيږي چې اجازه دجمعې دلمانځه ځندی واخلی هلته دلوی قاضی دهغی ناحيې اجازه هم کافی ده، اوپه پاکستان کې نه دسړي رسيدګی ورئيس جمهورته کيږي اوشرعی قاضيان په حکومت کې هم نسته اومسلمانانو دځانو دپاره قاضی هم نه دی تاکلی نودوی کيدلای سی چې ديوه بنه عالم چې په علومو دينيه ووخبروی اومتقی وی دجمعې دلمانځه اجازه واخلی» در» قال المصنفؒ.

وَوَقْتُ الظُّهْرِ فَلَا تَصِحُّ قَبْلَهُ وَتَبْطُلُ بِخُرُوجِهِ

اوبل شرط دصحت دلمانځه دجمعې وخت دماپښين دی، نونه دی صحيح لمونځ دجمعې دمخه تردخول

دماپښین دوخت اوبا طلیږی د جمعی لمونځ په وَتلوسره دماپښین دوخت، یعنی چې امام شروع
د لمانځه د جمعی وکړه خودَ ماپښین وخت باقی وو لکن په مابین کی د لمانځه دماپښین
وخت ختم سو نود جُمعی لمونځ باطل سو، قال علیه الصلوٰة والسلام اذا مالت الشمس فصل
بالناس الجمعة،

اودلیل د بطلان یه پَسله خروج د وخت قولت د شرط دی، مر او امام مالک وائی چې د جمعی
لمونځ تر غروب الشمس پورې روَادی. ولې چې دماپښین اود مازدیګر وخت دده په نیز
یودی. موږ وایو چې د جمعی لمونځ خِلاف القیاس مشروع سوی دی وَلی چې دَوه رکعته
دماپښین د لمانځه په کښی ساقط دې، نو بَاید بتوله هغه خصوصیات چې په شرع شریفه
کی وارِد دی باید د جمعی په لمانځه کی مراعات سی، اوپه هیڅ حدیث کی نده راغلی
چې آنحضرت صلی الله علیه وَسلم دې د جمعی لمونځ د مخه دماپښین تروخت یاورِوسته
دماپښین تروخت کړی وی. وکذا الخلفاء الراشدین رضی الله تعالی عنهم، هم نه ده مخه اوته
وروسته کړی. وکذا من بعدهم الی یومنا هذا، نوکه چیری وروسته یاد مخه روا وای. نو
یو وَار خو به علیه الصلوٰة والسلام دې پاره دبیان د جواز داعنسی کړی وای. قال الامام الطحاوی
ناقلاً عن الامام الحلبی،

مسئله: که دماپښین وخت تیر سو پَسله دی څخه چې امام په قدر د تشهدی قعده
کړی وه هم په جمعه باطله سوه لفوات الشرط، مثال یې د سحار لمونځ دی چې په طلوع سره د لمر
باطلیږی ولو بعد التشهد **پوښتنه**: د جمعی لمونځ چې په خروج د وَخت باطِل سو
آیا څلور رکعته دی پوره کړی چې د ماپښین لمونځ ځندی جوړیږی **جواب**: لالان الباطل
لایکون مبنیً للصحیح، **سوال** کی سَړی دا د جمعی لمونځ چې باطِل سو څلور یې کی چې
د لمانځه اصل باطِل سو چې فرضیت وو. او وصف یې نه دی باطِل سَوی اوامام محمد وائی چې
اصل او وصف یې دواړه باطِل سوه **جواب**: په نیزد شیخینو نفل کیدای سی ولی چې دوی وائی
اللّٰهُمَّ اغفِر لِمُؤلِفِهِ وَلِکاتِبِهِ وَلِمَن سَعیٰ فیهِ

قال المصنف **وَالخُطبَةُ قَبلَهَا بِقَصدِهَا فِی وَقتِهَا وَحُضُورِ**
اَحَدٍ لِسِمَاعِهَا مِمَّن تَنعَقِدُ بِهِمُ الجُمعَةُ وَلَو وَاحِدًا فِی
الصَّحِیحِ

اوکه څخه په فارسی وی اگر که قادر پرعربی هم وی، اود اخطبه به د مخه تر لمانځه
وی، ولې چې خطبه خو شرط ده اوشرط ترمشروط د مخه وی لزوماً. **پوښته**
چې خطبه د جمعی په ابتداء کی د اسلام وروسته تر لمانځه وه لکه د اختر خطبه اوبا هغه منسوخه
سوه اود مخه تر لمانځه سوه، ط، کذا ذکره المفسرون فی تفسیر قوله تعالی: وَاِذَا رَاَوا تِجَارَةً اَوْ لَهْوًا نِ
اِنْفَضُّوا اِلَیْهَا وَتَرَکُوکَ قَآئِمًا الآیة: فَفی ذالک الیوم من الجمعة کانت الخطبة بعد الصلوٰة و
بعد ذالک نسخت بعد یتها الی قبلیتها، اود اخطبه به په قصد د خطبی وی، که سړی یعنی
امام وتَرل او په قصد د تَرلو یه وویل الحمد لله، د خطبی په ځای کی نه دریږی، اوهغه
خطبه به په وخت کی د جمعی وی یعنی د ماپښین، نو کی د وخت تر د خول د مخه خطبه وَوَیل
د خطبی په ځای کی نه دریږی، ولې چې منقول قدیمًا وحدیثًا داغسی ده، او یو څوک به
هم حاضِر وی داورِید و دې پاره که څه هم هغه سامع کنړوی او یا بیده وی، او یا د پرلیږی
ناست وی،

اود غه حاضِر سړی به هم د هغو کسانو څخه وی چې په دوی سره جمعه کیدای سی، نو حضور
د بنځی یا د کشف کافی نه دی، البته حضور د مریض یا مسافر یا مرَیض کافی دی. که څه هم هغه حاضِر
یوسړی وی پر صحیح روایت یعنی د خطبی دپاره حضور د جماعت شرط نه دی، اوبعض فقهاء
چې کم از کم حضور د دوو کسانو شرط دی. او په درایت کی وائی چې د غه رأیه صحیح ده. او په
منتقی کی هم وائی چې د غه روایت صحیح دی، اوشارح الکنز هم د غه روایت خوښ کړی دی، اود
ائمه ثلثه وو څخه داسی هم روایت راغلی دی چې خطبه صحیح ده که څه هم هیڅ نه وی، او مصنف
په مَراقی کی وائی چې شرط د صحت د خطبی هم دادی چې په مابین کی د خطبی اود لمانځه به خلا

والی نه کوی په خورلګ یا بل عمل چې قاطع د اتصال وی.

مسئله: که خطیب خطبه وویل او بیا د جمعې لمونځ شروع کړی. او په لمانځه کې قضائی لمونځ ور پیاد سوچې واجب الترتیب وو، نو د جمعې لمونځ به پریښنو او قضائی لمونځ به ور اوګرځاوه. او یا د جمعې لمونځ ځندی فاسد سو هغه به بیرته ور اګرځاوه، او یا تر خطبې وروسته دوه رکعته نفل وکړه په دې تولو صورتونو کې خطبه نه باطلیږی او د اعمل قاطع نه بلل کیږی. لکن په بحر او خلاصه، او محیط او سراج، او فتح کې وائی چې اولی را ګرځول د خطبې دی په مذکوره صورتونو کې. قال المصنف:

وَالْإِذْنُ الْعَامُّ

او بل شرط د صحت د لمانځه د جمعې اجازه عامه ده د خلګوته ورتګ د لمانځه نه، او د صاحب الکنز مختار هم دا غه ده. دلیل په دا دی چې د جمعې لمونځ د شعائرو څخه د اسلام دی. او د خواصو څخه د دین نبوی دی نو لازم داده چې اداء به یې په پرطریقه د شهرت او اذن عام وي: قال المراقی: ولم یذکر هذا الشرط فی الهدایة لانه غیر مذکور فی کتب ظاهر الروایة وانما هو روایة النوادر، واللّٰه اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب. قال المصنف:

وَالْجَمَاعَةُ وَهُمْ ثَلٰثَةُ رِجَالٍ غَيْرَ الْإِمَامِ وَلَوْ كَانُوا عَبِيدًا

او بل شرط د صحت د لمانځه د جمعې جماعت دی او هغه کم از کم درې کسه وی غیر د امام څخه که څوک هم جماعت والا مریان وی او یا مسافر وی یا ناجوړیان وی یعنی چې د جمعې لمونځ پرې فرض نه وي

أَوْ مُسَافِرِينَ أَوْ مَرْضٰى

يُوسُسَه

چې پرې د خواتفاق دی چې منفرد سړی خو د جمعې لمونځ نسی کولای لکن په مقدار د جماعت اختلاف ستة د حنیفیا نو په نیز درې کسه په مقدار دی، غیر د امام څخه او د مذهب د امام اعظم او امام محمد دی او د امام ابو یوسف وائی چې دوه کسه ما سوا د امام څخه کافی دی، ولی په دوو کې هم معنی د اجتماع موجوده ده. او طرفین وائی چې جمع صحیح او اصطلاحی درې کسه دی، او د غه رنګه په قرآن شریف

فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ، په واو چې ضمیر د جمع مذکر دی ور اغلی دی، او بل دا چې صیغه مفرد او تثنیه او جمع سره جلا دی نو باید مصداق یې هم سره جلا وي، حتی چې اراده د دوو د صیغه څخه د جمع مجازی دی والحقیقة هو الاصل.

سوال: په میراث کې دوی لونړی یا دوی خوندی مثلاً لکه درې دې **جواب** هوری خو نفس موجود دی نو هغه قرینه د مجازی، ولې چې د غه کسان یعنی مریان مسافر وغیره خو صالح د امامت هم دی په جمعه کې بامثالهم بعد الخطبة من غیرهم، قال المصنف:

وَالشَّرْطُ بَقَاؤُهُمْ مَعَ الْإِمَامِ حَتّٰى يَسْجُدَ وَإِنْ نَفَرُوا بَعْدَ سُجُودِهِ

او شرط ای عند الامام الاعظم پاتې والی دی یعنی په تحریمه کې د امام سره که څوک هم دوی اقتداء په حال کې د رکوع پسې کړی وی تر څو چې سجده کوی یعنی اول سجده. او که مقتدیان چې درې وه او قعده یې اول یا یو څندی ولاړ سی یا دوه پسله سجدې څخه د امام. نو دی پوره کړی امام یوازی د جمعې لمونځ په اتفاق د ائمه ثلاثه و د مذهب **پوسه**: چې بقاء د بنځو او کشنیا نو اعتبار نه لری، هره قال الامام المصنف:

أَتَمَّهَا وَحْدَهُ جُمُعَةً وَإِنْ نَفَرُوا قَبْلَ سُجُودِهِ بَطَلَتْ

پوره دی کړی جمعه یوازی، او که مقتدیان و تبتید ل یعنی کلهم او بقی اثنان، د مخ ترسجودی د امام د جمعې لمونځ په باطل سو. یعنی په نیز د امام اعظم ولی په نیز د امام اعظم جماعت شرط د اداء د جمعې دی. او یارانو والی که تول ولاړه امام دیوازی د جمعې لمونځ وکړی، ولی چې جماعت په نیز د دوی شرط د انعقاد د تحریمې دی فقط، او امام زفر وائی چې جماعت د ابتداء څخه تر انتهاء پورې شرط دی نو په اول صورت کې د ده په نیز هم جمعه باطله سوه

قال المصنف:

وَلَا تَصِحُّ بِامْرَأَةٍ أَوْ صَبِيٍّ مَعَ رَجُلَيْنِ

یعنی نه صحیح کیږی د جمعې لمونځ چې یوه بنځه او کشنی وی سره د دوو کسانو. ولې چې د بنځې حضور

یادکښنی دجمعی په لمانځه کی اعتبار نه لري، نو نصاب دجماعت نه دی پوره. پر مذهب دطرفینو اوپر مذهب دامام ابو یوسف جمعه صحیح ده نصاب برابر دی کما مر، قال

وَجَازَ لِلْعَبْدِ وَالْمَرِيضِ أَنْ يَؤُمَّ فِيهَا

اوروا ده مریض لره چې امامت دجمعی دلمانځه وکړي. مراقی وائی که اذن وو «یا اصالة یا نیابة یا دلالة» قال المصنف:

وَالْمِصْرُ كُلُّ مَوْضِعٍ لَهُ مُفْتٍ وَأَمِيرٌ وَقَاضٍ يُنَفِّذُ الْأَحْكَامَ

وښار په نیز د امام ابوحنیفه هرهغه ښار دی چې مفتی لري چې خلک رجوع وده ته کوی په حوادثو کی اوامیر وی چې مظلوم دظالم نخه خلاصوي اوقاضی وي یعنی دادری سره په ښار کی وي، چې چلوی به احکام ددین» قال المصنف:

وَيُقِيمُ الْحُدُودَ

وَبَلَغَتْ أَبْنِيَتُهُ أَبْنِيَةً مِنًى فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

اوپر پایه کوی برحدود لکه حد الزناء وشرب الخمر وحد القذف وغیرها، په دی قید سره احتراز وسو دحکم نخه اوښتی نخه ولی هغه داکارونه نس کولای. اورسیږی به بناوی دهغه ښار و مقدارته دبناوود مینی یعنی په پخوانی زمانه کی په ظاهر روایت کی. قال قاضیخان و علیه الاعتماد امام طحطاوی وائی: چې مکه مکرمه اومدینه منوره ښارونه دی دجمعی لمونځ پکښی کیږی دزمانی نخه د علیه الصلوٰة والسلام الی یومنا هذا. نوهرځای چې په مثل دیوه ددوی وی یعنی په پخوانی زمانه کی هغه مصر دی، یعنی دابادی په اعتبار سره»

اوبعض فقهاء وائی چې مصر هغه ځای دی چې ټوله خلک یه سره جمع سی په هغه لوی مسجد کی دهغه ځای نه ځائیږی. اوبعض فقهاء وائی چې مصر هغه ځای دی چې هرکسب کار لکه نجار بناء، آهنگر، رنگریز وغیرهم په هغه ځای کی خپل په کسب گذاره کولای سی اوبعضو تصریح داټوله دظاهر الروایة نخه خلاف دی. اودا مذهب دی دامام اعظم ددی تصریح نخه والا گرځیده» اوحسن هم دامام اعظم نخه د روایت نقل کړی دی وبه اخذ ابو یوسف رح

اوهدایه وائی چې هم داغه ظاهر المذهب دی. واختاره الکرخی والقدوری وفی العنایه وعلیه اکثر الفقهاء **فَائِدَه**: په افغانستان یا پاکستان کی چې په بعض لویو قریو کی د جمعی لمونځ کیږی. لکه سنځری، خوشاب، نهر کاږی، وغیره په قندهار کی هغه پل تفسیر دمصر دی چې د هغه تفسیر ملاتړ بعض متاخرینو کړی دی» والله اعلم بالصواب

پُوهَه سَتَه: چې مراد د تنفیذ دا حکامو اود اقامت الحدود نخه صرف قدرت دی پرته د کارو او اقامت بالفعل نه دی شرط کما صرح به فی التحفة عن الامام الاعظم» قال العلامة نوح دفع د ظلم د مظلومینو نخه لیس بشرط فی تحقق المصریة بل الشرط فی تحققها القدرة علی الدفع» اود لیل ددی چې دفعه بالفعل شرط نه ده، دادی چې صحابه وو بلا نکیر د جمعی لمونځ په حجاج بن یوسف پسی کاوه، مع انه اظلم خلق الله کما صرح به اهل التاریخ الاسلامی طحطاوی وائی چې صدر الشریعة چې هغه تعریف مذکور په متن کی ضعیف ګرځولی دی، دلیل یه داوائی چې اوس خو په امورو کی د دین سستی راغلی ده. خصوصاً په اقامت کی د حدودو په امصارو کی امام حلبی داخبره دده ضعیفه بولي.

ولی مراد قدرت دی فقط فعلیت نه دی شرط» اوامام حموی وائی چې بعض رومی مُلایان چې وائی چې په اوس وخت کی د جمعی لمونځ په هیڅ ځای کی روا نه دی، ولی چې شرط د صحت یه فوت دی یعنی مصر، ولی دی وائی چې مصر خو هغه ځای دی. اوهغه ښار دی چې په هغه کی والی وي اوقاضی وي چې چلوی احکام دین اوپر پایه کوی حدود» اوداسی بلد خو په ټوله اسلامی نړۍ کی نسته فلا تصح الجمعة وتعین صلوة الظهر» چې داقول ضلال فی الدین دی» ولی چې مونږ وویل چې شرط د مصریة چې هغه شرط د جمعی دلمانځه دی صرف اومرف قدرت دی پرمذکوره کارو او قدرت خو په ټوله اسلامی مملکتونو کی سته، که څه هم فعلیت په بعض اسلامی نړۍ کی نسته، اوبله خبره داده چې دی سلب کلی ولی کوی. ایا په سعودی عربستان کی حدود او قصاص نه دی جاري، اودغه رنګه په افغانستان کی چې د طالبانو تر قدرت لاندی ښارونه دی په هغوکی په ډکه پیمانه حدود اوقصاص او دفع د ظالمانو نه ده جاري،

پوښتنه: تاشاریح پخپله ۱۲ دوولس کاله په سنځری کی دجمعی لمونځ کاوه اوپه خوشاب کی دی ۵ پنځه کاله دجمعی لمونځ کاوه پرځه بناء دی کاوه اوسره ددی چی ظاهر المذهب همدر معلوم وو! **جواب**: نه مستند قول د صاحب در مختار، چی په ۴۷۴ کی والئ په تعریف کی د مصر: وهوای العصر مالا یسع اکبر مساجده اهله» یعنی هغه ځای دی چی ننی ځایه ولای هغه لوی د مسجدونو هغه ځای خلک چی مکلفین خلک د هغه ځای چی مکلف وی په لمانځه دجمعی یعنی پنځه اوکښنی ناحسابه دی. وعلیه فتوی اکثر الفقهاء. اوپه دغه تعریف د مصر فتوی د پیرو فقهاوو وده مجتبیٰ» لظهور التوانی فی الاحکام. وفی رد المحتار صفحه مذکوره، وقال ابوشجاع هذا احسن ماقیل فیه» داهغه ترټولو ښه تعریف دی چی د مصر په تعریف کی ویل سوی دی، وفی والولوالجیة وهو صحیح بحر» وعلیه مشی فی الوقایة، ومتن المختار وشرحه، وقدمه فی الدر علی القول الآخر وظاهره ترجیحه، وایده صدر الشریعة بقوله لظهور التوانی فی احکام الشرع سیما فی اقامة الحدود فی الامصار»

دروښولو والی: چی زما مقصد صرف دځان دپاره یو مستند پیدا کاوه اوخلکوته می خپل عذر په باره کی دجمعی د لمانځه په دوه ځایه بیانوه، تو، دچا سره په دی باب کی جګړی اوسوال او جواب ته حاضر نه یم چی بیانو یو په بل پسی رسالی جوړوی. اوپه هغو رسالو کی د علماوو دشان سره نامناسبه الفاظ استعمالوی. ولی چی هغه تسلسل بیا پای نه لري بلکه په عمومی توګه په ننی زمانه کی داختلافه ځکه د علماوو و بلله فائده نه پیدا کیږی بیله دی چی امیان پوری خاندی، اود دوی ترمابین د غیبت بلکه د بهتان دروازه خلاصیږی. نوښه حبره داده» عمر دیدی.. جواب نه ورکوم»

حاصل داچی ـ نه مفتی یم نه قاضی یم، نه مُلا یم نه امی یم»

بلکه په طلب د علم کی اخته یم، که محسود یم حاسد نه یم، مشک آنکه خود ببوید، نه آنکه عطار بگوید؛

قلیل عمرنا فی دار دنیا، ومرجعنا الی بیت التراب؛ ولوړځای بولی مکړه؛ چی خاخکی تاته پاتی کیږی غیبت یا بهتان مکړه؛ چی حسنات دی نقل کیږی؛ حسد مکړه؛ چی زړه دی په سوځیږی؛

داستاذانو انکار مه کړه؛ که غږ لوړوی لار سر ببره پرتیږي. که تاویل زه یم ماویل نه یم؛ نه به ته یه نه به زه یم؛ اوکه تاویل ته یه ماویل ته یه؛ هم به ته یه هم به نه یم؛ کبر اولوئ مه کړه سه تکبر عزازیل راخوار کړ؛ بزندان لعنت گرفتار کرد. چی علم دی په اندازه د قدوری او مستخلص وی حوالی و رد المحتار، اوقاضیخان وعالمګیری وغیرها مه کوه. والا کلکزبان اخت مالتک؛ اولوبه حصه د علم لا اُدری ده چی نه پوهیږی په لا اُدری مه شرمیږه اوپه کذبت وشرمیږه» قال المصنف؛

وَاِذَا كَانَ الْقَاضِیُ اَوِ الْاَمِیْرُ مُفْتِیًا اَغْنٰی عَنِ التَّعَدَادِ

یعنی کدقاضی اویا امیر عالم وو اوپه امور شرعیه او احکام دینیه ووښه خبر وو وچی صالح دفتوی ورکولو و نو دی اغناء راولی د تعدد څخه یعنی چی خواه مخواه به په محکمه کی امیر وی، اوبل به مفتی اوبل به قاضی وی. ولی ضرورت وفیصلی ته د احکامودی نه وتعدد ته د اشخاصو» قال

وَجَازَتِ الْجُمُعَةُ بِمِنًی فِی الْمَوْسِمِ لِلْخَلِیْفَةِ اَوْ اَمِیْرِ الْحِجَازِ

اوروادی دجمعی لمونځ په منی کی. چی هغه دیو ځای نوم دی چی پردوه فرسخه د مکی شریفی څخه واقع دی، پرمذهب دامام اعظم اوامام ابویوسف اوامام محمد والئ نه دی روا. ولی منی قریه ده اوشیخان والئ چی منی په موسم کی دحج مصر ګرځی، اود المونځ دجمعی به یا خلیفة الاسلام ورکوی اویا به ئی امیر الحجاز وهوامیر مکه، حاصل داچی امیر الموسم چی د حاجیانو د کاروبار د پاره خلیفه مقرر کړی وی» هغه دجمعی لمونځ به نه ورکوی ولی چی دی دبلی وظیفی دیاره تباګل سوی دی مګر که خلیفة الاسلام اجازه ورته کړی وه. بیا دجمعی لمونځ ورکولای سی»

سوال: چی په موسم الحج کی منی مصر ګرځی اود جمعی لمونځ په کښی کیږی نو دلوی اختر لمونځ ولی نه پکښی اداء کیږی **جواب**: دجهت د عذر د مصروفیت د حاجیانو په دی وخت په مناسکود حج لکه جمرهٔ عقبه ولیښتل اوقربانی حاجیان او تمتع والا حاجیان د شکریه د پسه وغیره حلالول او طواف زیارت کول اوځانونه داحرام خلاصول مشغول دی

نود اختر لمونځ ځندی ساقط دی، «کذا فی الهدایة» او بعض علماء وائی چې په مِنیٰ کی توله کال د جمعی لمونځ کول صحیح دی، ولی چې په فناء کی د مکی شریفی واقع ده، امام طحطاوی وائی چې سره د دووو فرسخو صلی څرنګه مِنیٰ په فناء د مکی کی حساب ول کیږی.

د رولیش وائی: چې د اتوله اختلافات بناء پر ښوانی زمانه دی، اوس چې بناوی د مکی شریفی د بارد مِنیٰ پرځای غزیدلی دی او بیخی لږ فاصله ترمابین پاته ده، او په عین حال کې په مِنیٰ کی اسواق او بازارونه جوړ سوی دی. او شرط هلته همیشه موجوده وی. او یولوی جامع مسجد چې د مسجد خیف په نامه مشهور دی هم جوړ دی نو د دی مالاتو په نظر کی نیولو سره په مِنیٰ کی بلا رخصه د جمعی لمونځ روادی، قال المصنف:

وَصَحَّ الْاِقْتِصَارُ فِی الْخُطْبَةِ عَلٰی نَحْوِ تَحْمِیْدَةٍ اَوْ تَسْبِیْحَةٍ مَعَ الْکَرَاهَةِ

اوصحیح دی کوتاه وائی په خطبه کی پرمثل د الحمد لله وَیَلو یا د سُبْحَانَ اللهِ وَیَلو لکن مکروه دی، «لِتَرْکِ السُّنَّة» او د امذهب دی د امام اعظمؒ، او یاران وائی: لابد من ذکر طویل یسمّٰی خطبةً، او کمه مرتبه مقدار د تشهدی دی تر عَبده ورسوله پورې، چې دغه خطبه مشتمله وی پر حمد او درود او پر دعا د مسلمانانو د خدائی، «فَاسْعَوْا اِلٰی ذِکْرِ اللهِ» بیله فرقه په مابین کی د ذکر طویل چې خطبه یې ښوبی او ذکر قصیر، اوبل دلیل دادی چې امیر المؤمنین عثمان رضی الله تعالیٰ عنه چې خلینه سُو په اوله جمعه کی چې منبر ته وختی اذان وسو اودی ولاړسو او د اقدر چې وَوَیل الحَمْدُ لِلّٰه نو سام پر پریوتی. او ښوبی خبری ځندی ور کی سوی نو ر اکښته سود منبر څخه او لمونځ یې ور کړی. او صحابهؓ ټوله موجود وه او په انکار نه پروکړی. فکان اجماعاً منهم علی جواز الاقتصار فی الخطبة.

سَوال: نو چې مکروه دی نو ولی حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه دا مکروه کار وکړی، **جواب** چې موږ ذکر کړه چې کراهت تنزیهی دی او حضرت عثمان رضه ته عذر د سام پرې وَتلو ور پیښ سُو نو سود عذر کراهت هم پورته سُو، دره

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَسُنَنُ الْخُطْبَةِ ثَمَانِیَةَ عَشَرَ شَیْئًا

اوسنتونه د خطبی اتلس شیان دی

اومراقی یو د اسنت هم نهایت کړی دی چې خطیب پخپل ځای کی دی کښینی د منبر پر استه طرف به وی یا توره لنګوټه به ئی ترلی وی او یا سپینه، ط، او قهستانی وائی چې مکروه دی لمونځ د خطیب د مخه ترخطبی په محراب کی، د رولیش وائی په دی کار دیر خطبا ن مُبتلا دی په افغانستان او پاکستان کی چې ترخطبی مخه سُنت په محراب کی کوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

اَلطَّهَارَةُ

یو پاکی ده د حدث او جنابت څخه په حال کی د خطبی، نو کی په بې او د سیا او یا جنابت وویل مکروه ده او اعاده یې په پسله طهارت څخه مستحب ده،

مسئله: مکروه ولی ده باید نا جائزه وای **جواب** خطبه خونه لمونځ دی اونه جزء د لما نځ دی بلکه ذکر دی. او جنب او محدث خو خود ذکر څخه منع نه دی، **دلیل** په دادی چې د خطیب مخ خو په حال د خطبی کی قبلی ته نه وی، او په لما نځ کی خو استقبال القبلة شرط دی. اوبل دلیل دادی چې خطبه په خبرو سره نه فاسدیږی او لمونځ فاسدیږی،

وَسَتْرُ الْعَوْرَةِ

اوبل سنت پټه والی د عورت دی. ولی چې خطبه په توارث سره د عیدینو اغلی ده **پوښه** چې ستر د عورت خو فی نفسه فرض دی لکن د خطبی په باره کی سُنت دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْجُلُوْسُ عَلَی الْمِنْبَرِ قَبْلَ الشُّرُوْعِ فِی الْخُطْبَةِ

اوبل سنت خطیب به کښینی پر منبر یا ندی د مخه ترشروع په خطبه کی د اناسته بعض وائی چې د د اذان دپاره ده. نود اختر وپه خطبه کی سنت نه ده. ولی چې په مَغو کی اذان نسته، او بعض وائی چې د استراحت دپاره ده نو په اختر و کی هم غواړی: والاول هو الاولی، «عینی علی البخاری»

وَالْاَذَانُ بَیْنَ یَدَیْهِ کَالْاِقَامَةِ ثُمَّ قِیَامُهُ

اوبل سنت اذان دی په حضور کی د خطیب لکه اقامت یعنی ور وسته ترخطبی په تشبیه کی غرض دادی، چې

مؤذن به پیل لیږی د خطیب څخه نه دیږی، اوبل سُنت دُ ولاړه د خطیب یعنی په دواړو خطبوکی **مسئله**: که چیږی خطیب په ناستی یو یا دواړی خطبی وَوَئیلی کاوی خودی لکن بیله عذره مکروه دی، ط، قَالَ المُصنفُ:

وَالسَّيْفُ بِيَسَارِهِ مُتَّكِئًا عَلَيْهِ فِي كُلِّ بَلْدَةٍ فُتِحَتْ

اوبل سنت د خطبی دادی چی د خطیب پَه لاس کی به توره وی او پرهغی بی تکیه کړی وی پرهغه ښارکی چی په زور نیول ورته اسلام قبول کړی وی. **حکمت د توری دادی**، چی دوی ته وَښَیِي چی تاسی په توره سو فتح سوی یاست، او که د اسلام څخه بیرته رجوع وکړی توره زمونږ مسلمانانو په لاس کی ده بیرته بَه یې داغه توره جنګ درسره کوو څو بیرته د اسلام ته رجوع کوی. او بعض فقهاء والی چی په توره کی اشاره وی ته ده چی د اسلام د دین پر مَخ تګ په توره سَره دی.

بِلَا سُنَّةٍ وَبِدُونِهِ فِي بَلْدَةٍ فُتِحَتْ صُلْحًا

پوښتنه چی مدینة الرسول صلی الله علیه وسلم په قرآن فتح سوی دَه، یعنی د مخ ترقدومه علیه الصلوة والسلام اهل المدینه ته تعلیم القرآن کیدَی. او وی په اسلام مشرف سوله او مکه مکرمه دتوری په زور نیول سویده، **درویش وَائی** چی په ټری کی د پیر ښارونه د توری په زور نیول سوی دی چی د ښار یخ دکتابونو مطالعی څخه څرګندیږی لکن پر توره تکیه کول په عمومی اسلامی ټری کی اوس نسته. البته که بعض سلاء او ښارونه به داسی وی چی اوس دی هم خطیب پر توره تکیه کوی امکان لری. نو دی سنت دپاتید وسبب څه دی؟ د درویش په عقیده په تجویز زماد کی لمونځ د جمعی په ښار کی یو یا دوه ځایه کیدی او جمعی لمونځ به هم ولاة المؤمنین ورکاوه، نو د هغوسره به توره ورسره وه په هغو ښارونو کی چی عنوةً به نیولی سوی وه. لکن چونکه په مرور د زمانو نوپه هرلوی ښار کی ترتسل ځایه د پیر لونځ د جمعی اداء کیږی کما مر سابقاً، نو اوس د هر خطیب سره د توری د ځان سره راوړل لوی حرج سُو نو پَه دغه عذره سنت پاتې سوَلان الضرورات تبیح المحظورات، او یا به ئی سبب داوی چی.

د خطاوئ سبب د توری د تکیه چی ښه دی ذکر سو هغه پَه هغو خلګو کی راځ و وچی نوی بَه مسلمان سُو نو اوس چی په سوو بلکه په زرو کلونه پرهغو ځایونیږسوه چی عنوةً به نیول سوی وَه. د توری بښکاره کول په جمعی کی هغه خلګ یه پَه فائده نه پوهیږی اوسَریږ نه خلاصیږی چی د خطیب سره د څه دپاره توره ورسره ده»

فَائِدَه مصنف وائی چی بیله توری به خطبه وائی په هغوښارونو کی چی صلحاً فتح سوی وی خلاصه والاوائی چی تکیه پرغیر د توری مکروه ده لکه لکړه وغیره لانه خلاف السنة آه. لکن ابن امیرحاج داخبره رد کړیده او وائی چی په حدیث صحیح کی چی روایت یه ابوداؤد کړی دی د اسی راغلی دی چی علیه الصلوة والسلام په مدینه منوره کی خطبه وَئیله اوتکیه یه کړی وه پر لکړه وکذا رواه البراء بن عازبؓ عنه صلی الله علیه وسلم، د درویش وائی چی هم داوجه ده چی په تولو جامع مسجدونو کی د افغانستان او پاکستان د خطباء د خطبی لکړی موجودی وی البته چی هم داوس چی لاوډ سپیکر په بعض ځایونو کی په جامع ګانو کی نصب سوه خطیبان نو هغه لکړی پریښودلې بلکه دَلاوډ سپیکر لکړه په لاس کی نَسی» والله اعلم وعلمه اتقن واحکم.

مسئله: امام سرخسیؒ وائی چی د خطبی په وخت دی تهوله خلګ وقبلی ته مخامخ کښینی او د خطیب وخواته دی مخ نه گرځوی لکه شمس الائمة چی وائی ولی چی که دوی لکه خطیب مخ اړولی وی. نو چی خطیب د خطبی څخه فارغه سی او دلما ځر وخت راسی په سبب د دیرازدحام په سَمَولو کی د صفو دپیرلوی حرج راځی» قَالَ المصنفُ:

وَاسْتِقْبَالُ الْقَوْمِ بِوَجْهِهِ وَبَدَائَتُهُ بِحَمْدِ اللهِ وَالثَّنَاءِ

اوبل سنت د خطبی دادی چی خطیب دی مخامخ وخلګوته دیږی (کذا لفعل النبیؐ وقت الخطبة) اوبل سنت د خطبی

عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ وَالشَّهَادَتَانِ وَالصَّلٰوةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دادی چی خطیب دی اعوذ بالله کړی وائی او بیادی شروع د خطبی په حمد سره کوی د خدای پاک اوصفت دوکړی د خدای جل وعلی په هغو صفاتو سره چی دی یه اهل دی او دوئ شهادتین دی وَوائی او درود پر علیه الصلوة والسلام دی ووائی او دادوه هم سنت د خطبی دی،

قال المصنف: **وَالْعِظَةُ وَالتَّذْكِيرُ** اوبل سنت دخطبی عظة او تذکیر دی درویش وائی اگرچه د عظة او تذکیر په عرف کی فرق نشته بلکه دواړه په معنا د نصیحت دی لکن مراقی د عظة څخه زجر د گناهو څخه اوبیر فرماوی خدای پاك د عذابو څخه مراد کړی. اوه تذکیر څخه بلنه د خلگوده د خدای پاك و عبادت ته

قال المصنف: **وَقِرَاءَةُ آيَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ** اوه غر رنگه سنت دی په خطبه کی ویل دیوه ایت د قرآن پاك. ولی چې په حدیث شریف کی راغلی دی چې علیه الصلوة والسلام په خطبه کی د جمعی دا ایت مبارکه ووایه «وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ» **مسئله**: فقهاء وائی چې ترایت د څخه دی اعوذ بالله هم ووائی او بسم الله نه غواړی مگر هغه وخت کی چې پوره سورة ووایه نو بیا دی بسم الله هم ووائی: قال المصنف:

وَالْخُطْبَتَانِ وَالْجُلُوسُ بَيْنَ الْخُطْبَتَيْنِ اوه اغه رنگه سنت دی د دوو خطبو ویل چې د جمعې ورځې تردی اوس پورې د دوو خطبو ویل جاری دی، اوه اغه رنگه سنت دی کښینستل په مابین کی د دوو خطبو لکن بول فقهاء وائی چې داجلسه دی سپکه وی» ظاهر الروایة دادی چې په قدر د درې ایتو قصار و دی کښینی» په قهستانی کی وائی چې تارك د دغی جلسی گناه گار دی ولی داسنت ده. اوه اجلسه په اصل کی د استراحت دپاره وه، چې په حدیث شریف کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به په ابتداء کی یوه خطبه په ولاړی وئیله وروسته چې دی میاشت کلان سالـه سو نو هغه یوه خطبه یې دوی کړی اوپه مابین کی به ئی جلسه خفیفه کوله.

وَفَائِدَه بعض اهل حدیث وائی چې د جمعی په ورځ کی «په قرار د فرموده د علیه الصلوة و السلام چې یو کم ساعت د قبلیدو د دعا سته هغه د غه ساعت دی یعنی مابین الخطبتین» نوسړی د تباۍ چې دامام د جلسی په وخت کی دی یوه مختصره دعا وکړی

قال المصنف: **وَاعَادَةُ الْحَمْدِ وَالثَّنَاءِ وَالصَّلٰوةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ** اوه اگر څوك د حمد او ثناء د رب جل سلطانه، اوبیا د درود پر علیه الصلوة والسلام ویل

فِي ابْتِدَاءِ الْخُطْبَةِ الثَّانِيَةِ په شروع کی د دوهمی خطبی هم سنت دی.

مسئله: په درود وئیلو کی د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم اود علیه الصلوة والسلام دوه اکاګان یعنی حمزه او عباس هم ورضم کړی. درویش وائی چې قدیم توارث د دغو کسانو رض جاری وو لکن ورو سته خطباء وذکر د امام حسن او امام حسین او فاطمة الزهراء رض هم ورسره ضمیمه کړی اوشک نشته چې دا ښه کار دی

قال المصنف: **وَالدُّعَاءُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِالْاِسْتِغْفَارِ لَهُمْ** اود غر رنگه سنت دی چې په دوهمه خطبه کی د عاء کوی د مؤمنین یعنی نرو ته والمؤمنات یعنیښځو ته د بخښنی غوښتنه اود عا کوی. په مراقی کی وائی چې بار په بالاستغفار کی په معنا د منع ده یعنی سړی د استغفار څخه دوی ته، نو معنی داده چې د عا دی ورته کوی مؤمنینو او مؤمناتو ته په ډیرو الی د نعمتو. اوپه دفع د بلاوو او ضررو، اوپه بری پر دښمنانو او نورې ورته دعا گانی سره د طلب د بخښنی د دوی د پاره، قال المصنف:

وَأَنْ يَسْمَعَ الْقَوْمُ الْخُطْبَةَ اوبل سنت دادی چې خطیب دی په قوم خطبه اوری. او په درایة کی وائی کی نه واوری هم کافی ده، اوپه دوهمه خطبه جهر تر اولی کم کوی» مره، قال المصنف:

وَيُخَفِّفُ الْخُطْبَتَيْنِ بِقَدْرِ سُورَةٍ مِنْ طِوَالِ الْمُفَصَّلِ

اولنډی دی وائی مجموع دواړی خطبی په اندازه دیوه سورة د طوال مفصل د سوره تو څخه، ابن مسعود رض وائی چې اوږد والی د لمانځه د جمعی اوکوتاه والی د خطبو د هوښیاری څخه د خطیب ده، اوپه فتح القدیر کی وائی چې هوښیاری اوسنت نبوی د خطیب دادی چې اوږد والی د لمانځه اوکوتاه والی د خطبی دی، لکن فقهاء وائی چې خطیب دی حال ته د سامعانو گوری که په قدر د طوال المفصل ورته تکلیف وه بیادی په قدر د قصار المفصل خطبه وائی د خطیبانو غالب عادت دادی چې خطبوته زوروکړی چې بعض خلگوته خوب ورسی. ولی اکثر د دوی

خوامیان دی اوخطبه عربي ده نودوی په هیڅ نه پوهیږی چی خطیب څه شی وائی. او لمونځ نوپه قصار مفصل سره اداء کړی» قال المصنف:

وَيُكْرَهُ التَّطْوِيلُ وَتَرْكُ شَيْءٍ مِنَ السُّنَنِ

اومکروه دی اوږد دوول دخطبو یعنی تر سورهٔ طوال مفصل هم په ژمی کی ولی زمانه لنډه ده اوهم په دوبی کی ولی چی گرمی ده، اود غه نگه مکروه دی پرلیږول دیوشی دسُنتو یعنی چی بیان یه تیر سو» قال المصنف:

وَيَجِبُ السَّعْيُ لِلْجُمُعَةِ

اوواجب دی یعنی فرض دی تگ دجمعی لمانځه تهپیاده کی پر پیاده تگ قدرت وو **پوه سه** چی د سعی لغوی معنی ده ځغاسته ده لکن مفسرین ټوله وائی چی مراد نفس تگ دی بلکه په احرام اوعزت سره اوپه آیت شریف کی چی «فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ» ترا غلی دی مراد ځندی سعیه ده نږه یعنی په کمال شوق او محبت سره دجمعی لمانځه ته» اومصنف چی لفظ د سعی وایه موافقةً للقرآن الکریم، اونبی علیه الصلوٰة والسلام په عمومی لمونځو کښی د ځغاستی څخه نهی کړی دی: وقال: اذا اقیمت الصلوٰة فلا تأتوها وانتم تسعون و أتوها تمشون وعلیکم السکینة» فما ادرکتم فصلوا وما فاتکم فاتموا» ترجمه: نوهرڅه وخت چی ودریږی لمونځ یعنی جماعت نوتاسی ورځی لمانځه ته چی تاسی ځغلی بلکه لمانځه ته ورځی په عادی تگ سره نوهرڅه لمونځ چی تاسی پیدا مام سره و نسی هغه اداء کړی اوچی درڅخه تیر سوی وی هغه به وروسته پوره کړئ،

پوه سه: چی دجمعی لمانځه ته ورتگ اووروسته ځندی تگ یوشی دی یعنی دواړه دی په عادی تگ سره وی وَهُوَ الاصح **مسئله** په عمومی لمونځو کی چی سړی په اول ساعت کی مسجد ته ولاړ سی هغه ښه کار دی ثم ما یلیها» اودجمعی په لمانځه کی مخصوص دیرا حادیث مبارکه ترا غلی دی» چی یوحدیث هغه دی چی امام مالک په په مؤطاء کی روایت کړی دی سره دترجمی حدیث واوری: مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غسل الجنابة» کدچا وکړی په ورځ دجمعی کی یعنی د لمانځه دپاره کما یدل علیه ما بعده» اوغسل یه لکه دجنابت وو»

یعنی پوره غسل لکه دجنابت څخه چی سړی غسل کوی. ثم راح فی الساعة الاولیٰ فکانما قرب بدنة» اوبیا ولاړی دجمعی لمانځه ته په اول ساعت کی دوینه ثواب خدائ ورکوی لکه اوښ چی خیرات کړی: وَمَنْ رَاحَ فی الساعة الثانیة فکانما قرّب بقرةً» اوکه څوك ولاړی په دوهم ساعت کی نود ومره ثواب یه دی لکه چی غوی خیرات کړی: ومن راح فی الساعة الثالثة فکانما قرب کبشا أقرن» اوکه څوك ولاړسی په دریم ساعت کی گویا ده خیرات کړی پُسه سنګور» وَمَنْ رَاحَ فی الساعة الرابعة فکانما قرّب دجاجة» اوکه څوك ولاړسی په څلورم ساعت کی گویا ده خیرات کړه یوه چرگه، وَمَنْ رَاحَ فی الساعة الخامسة فکانما قرب بیضة» اوکه څوك ولاړسی په پنځم ساعت کی گویا ده خیرات کړه یوه دانه اگی»

اوامام مالک اواکثر ده شاگردان اوامام الحرمین ابوالمعالی عبد الملک اوقاضی حسین وائی چی مراد دغوساعتو څخه ساعات شبانه روزی چی ۲۴ نه دی بلکه مراد څندی لحظات خفیفه دی چی داول څخه دزوال شروع کیږی، ترهغه وخته پوری چی امام دخطبی دپاره پر منبر کښینی **پوه سه** چی دغه ثوابونه دجمعی ترلمانځه بالا خدائ ورکوی اوچی امام پر منبر کښینی نوراشد ثوابونه ختم سی اود لمانځه ثواب یه سته. اوامام طحطاوی دجمهورو فقهاوو مذهب داسی نقل کړی دی چی مراد ساعات شبانه روزی دی چی ۲۴ دی لکن پدی اختلاف دی چی اول دَدغو ساعتود کومه وخته څخه شروع کیږی برهان حلبی وائی چی اول ساعت یه د راختو څخه د لمر شروع کیږی نود سپیدو څخه به سړی په غسل، کالی بدلولو، دخوشبوئ په لګولو وغیره وغیره اخته وی چی څرنګه لمر راوختی دجمعی لمانځه ته اول ساعت دتګ شروع کیږی،

ذَرَوليش وائی: چی دساعاتو د بیان څخه مقصود باعث کول د مسلمانانو دی پر وختی تګ د جمعی ولمانځه ته خصوصًا پرمذهب دجمهورو ولی په دوینه دپر وخت کی یعنی د لمر څخه د جامع مسجد کی سړی هم نفل لمونځ کولای سی اوهم تلاوت د قرآن کریم کولای سی. اوهم تسبیح وتهلیل او تکبیر اوذکر کولای سی وغیرها من العبادات حتی الاعتکاف ان نواه» اوپه صف اول کی ځای پیدا کولای سی، لکن محققین د فقهاوو د مذاهب اربعه وو پر اول

مذهب متفق دی یعنی چی مراد د ساعاتو څخه لحظات خفیفه دی. ولی پر مذهب د جمهورو په عصر حاضر کی به په اسلامی نړی کی خدائ خبر دی چی څومحدود مسلمانان پر دغه مذهب د جمهورو عمل کوی. ونقل الامام الطحطاوی عن الکشاف، چی اول بدعت چی په مسلمانانو کی رونما سوی دی پر لیبنول دپیرو وخت تنګ د جمعی لمانځه ته، قال المصنف:

وَتَرْكُ الْبَيْعِ بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ فِي الْأَصَحِّ

اوداغه رنګه واجب دی پر لیبنول د څرڅولو شی په اول اذان سره په صحیح مذهب کی. اوداغه رنګه حرام دی هرهغه کار چی سړی د جمعی د تنګ څخه باسی په لږه د اذان اول لکه خورلك، خوب، مجلس وغیرهامن الافعال. اومراقی وائی چی مراد ده اذان اول څخه هغه اذان دی چی پسله زواله کیږی. ولی چی عمومی اعلام خو په هغه اذان سره کیږی. نه هغه اذان چی په ښار د منبر چی خطیب پرمنبر کښینی. ولی که سړی وهغه اذان ته انتظار کوی یو څو سنت دیکور الی الجمعه پاتې سو، بلکه شاید د جمعی لمونځ به ځنډی تیر سی کی کور لیږی وو، وهو اختیار لشمس الائمة السرخسی، اوفقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چی مراد د اذان څخه ثانی دی. ولی چی اول اذان په عصر نبوی کی اوپه زمانه کی د خلافت د ابوبکر الصدیق رض اود خلافت د عمر رض هم دغه اذان وو چی اوس ثانی دی، قال فی البحر وهو ضعیف:

فَائِدَه په زمانه کی د علیه الصلوة والسلام اوپه زمانه کی د خلافت د شیخینو چونکه شوق اوذوق د جمعی د لمانځه پیر وو اود مسلمانانو مشاغل هم کم وه نو پسوله مسلمانان به تر اذان ثانی پخپلو کی په مسجد نبوی کی حاضر وه نو اعلام عمومی ته ضرورت نه وو بلکه د حاضرینو خبر ولو ته ضرورت وو وهغه ضرورت په اذان عند المنبر سره پوره کیدی، اوپه خلافت کی د عثمان رض چی خلګ د مدینی منوری پیرسوه او بعض اعراب اوعجم هم په مدینی کی مقیم سوه اود خلګو مشاغل هم د شراء وغیره پیرسوله چی بیله اعلام عمومی خلګ د جمعی د لمانځه په وخت سره نه پوهیدل نو حضرت عثمان رض په حضور کی د صحابه کرامو دغه اذان چی په ټوله د زوال د لمر کیږی د ریاست کی چی پریښولو مقام چی زوراء په تبلله هلته یه دا اذان کیدی.

اودد غه اذان دکولو څخه هیڅ یو صحابی رض انکار ونه کړی فکان اجماعا منهم،

فَائِدَه: په بعض کتابوکی دغه اذان ته اذان ثالث وائی ولی چی مشروعیت کی دریم دی، اول اذان عند المنبر دی، دوهم اقامت دی، اودریم دغه اذان اول دی، اوپه نور الایضاح کی اوپه پیرو نورو کتابوکی ودغه اذان ته اول اذان وویل سوپه اعتبار د وجود په دغه وخ د جمعی کی **فَائِدَه**: مصنف ترك البیع په دغه وخت کی واجب وبالله چی مقابل په مکروه تحریمی دی، اودرولیش وړ ته حرام وواپه هغه په دی سبب چی اطلاق د حرام پر مکروه تحریمی روادی کما وقع فی الهدایه،

مَسْئَلَه: که چا پسله اذان اول څخه بیع وشراء وکړه نوعقد خو یه صحیح دی حتی یجب الثمن ویثبت الملک قبل القبض فی المبیع، مګر سړه دګناه. اودغه بیعه که حرام اصلی وای نوعقد بی فاسد وای ملک په مبیع کی به قبل القبض نه وای اوثمن به هم په نفس عقد لازم نه وای. وهذا هو مذهبنا ومذهب الجمهور **تَنْبِيهٌ**: په نهایه کی وائی که دوه کسه د جمعی د لمانځه ته روان وه اوپر لاری بیله توقف بیع سره وکړه فلا بأس به ده اومصنف پر مراقی کی وائی چی بیع ماشیا هم مکروه ده، اوامام طحطاوی یه وجه دا وائی چی په دی جواز کی تخصیص د اطلاق ده قرآن کریم راځی یعنی فاسعوا الی ذکر الله، اوپه اصولو کی د فقهی وائی چی تخصیص د اطلاق قرآن نسخه ده اونسخه پر رأیه سره نه ده روا، درویش وائی چی دغه حکم د مراقی چی بیع ماشیا هم مکروه ده په مقابل کی د پیرو کتابو د فقه حنفی واقع سویدی، والله اعلم بالصواب، قال المصنف:

وَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ فَلَا صَلٰوةَ وَلَا كَلَامَ وَلَا يُرَدُّ سَلَامًا

اومرکله چی راووزی امام یعنی د جمعی څخه نوهیڅ لمونځ نسته نه نفل اونه د جنازی لمونځ اونه

وَلَا يُشْمِتُ عَاطِسًا حَتّٰى يُفْرِغَ مِنْ صَلٰوتِهِ

سجده تلاوت اونه قضائی لمونځ اونه به سلام اود سلام جواب اونه به ټرونکی ته جواب ورکوی تر څوچی دی د لمانځه فارغ سی

مگر هغه وخت قضائی لمونځ کولای سی که سړی صاحب الترتیب وو او په عین حال کی دده قضائی لمونځ ورپاد سو نو هغه قضائی لمونځ دی وکړی که څرهم وتروی په سبب د دی چی د جمعی لمونځ یې نه صحیح کیږی،

مسئله: که امام په حجره کی ناست وو بلکه په مسجد کی وو نو چی دی ولاړ سی د پاره د منبر د ختو نو څخه مذکوره شیان منع دی، اودا مذهب د امام اعظم رح دی. او ابو یوسف رح او محمد رح وائی چی د مخه تر خطبی شروع کولو خبری پروا نه لری، او چی د منبره رح اکښته سو د الله اکبر رح وئیلو د مخه هم خبری پروا نه لری، او نه به خبری کوی، په حدیث کی راغلی دی که چا خبری او تا ورته وویل چی خبری مه کوه فَقَدْ لَغَوْتَ، یعنی تا هم لغوه کار وکړی یعنی د خطبی په وخت کی دی خبری وکړی بلکه ته چی هغه منع کوی اشاره به ورته کوی یعنی پرخپله لاس کښیږده،

حکایت خلګ وائی چی دری کسه په مسجد کی جلاجلا پر لمانځه ولاړه وه. د یوه سړی د دغو درو څخه لوړ رح اغله. او خپل پلار ته ئی ناری کړه چی بابا خو ولاړ ی، بابا یه ورته ووئیل ته سه زړه پر لمانځه ولاړ یم، هغه بل سړی ورته وویل ملا دی ماته سه په لمانځه کی خبری کوی لمونځ دی فاسد سو. او هغه بل سړی یعنی دریم ورته وویل چی ستا سی خو دواړو لمونځ فاسد سو شکر دی ما خو خبری نه دی کړی، مصنف وائی اونه دی د چا د سلام جواب ورکوی، اونه دی وَنږونکی ته یَرْحَمُكَ اللهُ وائی، ترهغو چی امام د لمانځه څخه فارغ کیږی،

مسئله: که د سړی څخه لمونځونه د پرقضا سوی وه یعنی ترتیب پر واجب نه وو نو د خطیب تر رح اوتو د مخه یو قضائی لمونځ په شروع کړی وو نو بیا خطیب خطبه شروع کړه دی دی هغه قضائی لمونځ پسی پوره کړی هیڅ کراهت نسته،

او کی نفل شروع کړی وه. نو دوه رکعت چی شفع ورته وائی پوره کړی او سلام دی وګرځوی او خطبی ته دی، غوږ ونسی. او که دریم رکعت ته ولاړ سوی وُو. نو چونکه دوهمه شفع هم پیدا لازمه سوه نو هغه دی هم پسی پوره کړی.

مسئله که سړی پرسنتو ولاړ وو او امام خطبه شروع کړه بعض فقهاء وائی چی پر دوه رکعته دی سلام وګرځوی. لکن صحیح هغه خبره ده چی بحر رح اُنِق کی وائی چی سُنت دی

پوره کړی. ولی دغه څلور سره رکعت لکه یو لمونځ دی. او په دریم رکعت کی وائی چی قرئت دی کوتاه کړی، یعنی په قدر د واجب دَپاره دَاوږد و خطبی چی هغه هم واجب دَه، او تسبیح د رکوع او سجود او درود پر علیه الصلوة والسلام په اخیره ناسته کی دی پرېږدی ولی چی د اپتول خوسنت دی او استماع واجبه ده، وقیل لا یترك الصلوة علی النبی صلی الله علیه وسلم

مسئله خبری که دنیوی وی هغه خو اتفاقاً مکروه تحریمی دی او که اخروی وی امام اعظم رح هغه هم مکروه تحریمی بولی

مسئله: صاحب البحر د نهایه څخه نقل کړی دی چی په حال کی د خطبی لکه خبری چی مکروه دی دغه رنګه تلاوت د قرآن کریم او لمونځ او تسبیح، خط نوشته کول وغیره ډالک، چی محل د اوږد و څخه د خطبی وی مکروه دی بلکه واجب ده چی غوږ ونسی که د خطبی په معنا پوهیږی او که نه. ساکت دی کښینی،

پوه سه: چی رامدی رح او خلاصه والا خبره دیره سخته کړیده چی وائی کل ماحرم فی الصلوة حرم حال الخطبة یعنی خورك او چښل او شاوخوا کتل. او یا ژرنګونه جګ ونسی او لاسونه پرې او ګرځوی، الی غیر ذالك،

مسئله: امام طحطاوی د سید شارح څخه داسی نقل کړی دی چی لکه اوږده د خطبی د جمعی سر تر پایه واجب دی داغه رنګه د خطبة النکاح اوږده هم واجب ده

مسئله بعض فقهاء وائی چی د جمعی د خطبی په وخت کی سړی دی پیر لیری کښینی تا چه مدحه د ظالمانو پاد شاهانو چی خطیب یه کوی واندوری، لکن صحیح داده چی افضل داده چی امام ته نږدی کښینی او په صف اول کی دی کښینی او څوك دی نه آزاروی،

مسئله: که امام امر وکړی په درود وئیلو سره یعنی هغه آیت یه ووایه: یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِیمًا نو مقتدیان دی درود ووائی کرار چپ پخپل ځان یه واوری. او په حسامی کی وائی چی تلفظ دی نه کوی بلکه په زړه کی دی درود ووائی. او فتح القدیر د امام ابو یوسف رح سوی. نو دوه فضیلته به پرېځای سی چی استماع د خطبی دی، او امتثال د امر قرآنی دی، وهو الاصح هذا فی الطحطاوی مع زیادة، در

قال المصنف: **وَكُرِهَ لِحَاضِرِ الْخُطْبَةِ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالْعَبَثُ وَالِالْتِفَاتُ وَلَا يُسَلِّمُ الْخَطِيبُ عَلَى الْقَوْمِ إِذَا اسْتَوَى عَلَى الْمِنْبَرِ**

اومکروه دی وهغه چاته چې په خطبه کې حاضر وي خوړل اوچښل اوعبث کارکول اوشا وخوا ګرځېدل اوالتفات اوسلام نه کول خطیب چې پرمنبر کښینی اوخلګوته دی السلام علیکم نه وائی ولی چې دا بدعت دی په خیر القرون کې نه وو، قال المصنف فی المراقی: والمروی من سلامه صلی الله علیه وسلم عند نا غیر مقبول: یعنی چې دعلیه الصلوة والسلام څخه په یوحدیث کې نقل راغلی دی چې علیه الصلوة والسلام چې به پرمنبر کښینستی خلګوته بې سلام وایه هغوحدیث مقبول نه دی، ولی چې بیهقی وائی چې هغرحدیث قوی نه دی» ط، اودغه ډنګه چې حدادی اوبعض مشائخ وائی چې سلام دی خطیب وائی هغوهم په مذهب کې ضعیف دی، «والله اعلم بالصواب

قال المصنف: **وَكُرِهَ الْخُرُوجُ بَعْدَ النِّدَاءِ مَا لَمْ يُصَلِّ** اومکروه دی وتل یعنی دبنارڅخه اوکراهت هم تحریمی دی لکن هغه چاته چې دجمعې لمونځ پرفرض وی اوهغه سړی نه چې دجمعې لمونځ پرفرض نه وی هغه ته هیڅ کراهت نسته. ورپوسته ترازدان یعنی اذان اول اوبعض وائی چې اذان ثانی، ترهغوچې دجمعې لمونځ یې نه وی کړی علی الصحیح کما فی شرح منیة المصلی، ولی چې دغه سړی نه امرده «فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ» شامل سود څخه ترووتو اوکه سړی دڅخه ترزوال دبنار ووزی نوپیا کراهت نسته.

مسئله: کومسافر چې بنار ته داخل سو اوده ۱۵ ورځې دا قامت نیت یې نه وو کړی پرهغه دجمعې لمونځ فرض نه دی که څه هم داقصد یې کړی وی چې زه به دجمعې په ورځ په بنار کې یم، اوکه سړی دبنار دقریو څخه راغلی وی نودی لکه دبنار سړی درسی کړئ. یعنی که دڅخه ترزوال قصد دووتو دبنار څخه وو اووتی نولمونځ دجمعې نسته باندی یعنی غاړی یې نه دی بندی اوکه دقروی نیت خودووتو ووقبل الزوال لکن دی ونه وتی اووخت دجمعې د

لمانځه پورې راغلی یعنی بعد الزوال جمعه پرلازمه ده کذا فی الخلاصة» ط،

اوقاضیخان فقط داخبره کړیده که دقروی نیت دووتو ووقبل الوقت یا بعد الوقت د جمعې لمونځ نه دی پرلازم اوکی دغه ورځ دجمعې دتیریدو په بنار کی وو بیا نوی حکم د اصلی بنار لری» قال المصنف:

وَمَنْ لَا جُمُعَةَ عَلَيْهِ إِنْ أَدَّاهَا جَازَ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ

اوهغه څوک چې پرهغه دجمعې لمونځ فرض نه وی لکه مریض مسافر مریض، نبځه، ړوند، شل، کړیږی دجمعې لمونځ وکړی روادی دفرض الوقت څخه یعنی دماپښین دلمانځه څخه، ولی چې شرع شریفې چې دوی مکلف دجمعې په لمانځه نه وه ګرځولی دپاره د تخفیف د دوی څخه په سبب د دوی دعذر ونوده چې تکلیف وکړی اوسره دعذره دجمعې لمانځه ته راغی نوځکه دماپښین د لمانځه په ځای کی دریږی»

نکته: دفرض الوقت څخه دامعلومیږی چې فرض الوقت دمعذور اوغیر معذور دپاره دماپښین لمونځ دی. لکن غیر معذور مکلف دی چې دا فرض الوقت به دجمعې کې لمانځه ساقطه وی اومعذور اختیار لری که فرض الوقت یعنی دماپښین لمونځ کوی اوکه په جمعه یې ساقط وی، **خیال فاسد** دبعض خلګو داخیال دی چې دجمعې لمونځ بدل دی دماپښین دلمانځه څخه. لکن داخیال غلط دی، ولی چې بدل په اصطلاح دشرع هغه عمل نه وائی چې اصل عمل متعذر سی نوبدل ته تګ کیږی. لکه چې تیمم داوداسه بدل دی دجمعې لمونځ خو اغسی نه دی ولی چې دماپښین لمونځ کول خو متعذر نه دی. اونه ظهر دمعذور بدل دجمعې دلمانځه دی. ولی ظهر خو فرض الوقت دی لکه صحیح خبره دا ده چې جمعې لمونځ فرض مستقل دی په دغه ورځ اما فرض الوقت په ساقطیږی» قال المصنف:

وَمَنْ لَا عُذْرَ لَهُ لَوْ صَلَّى الظُّهْرَ قَبْلَهَا حَرُمَ اوهغه چاته چې عذر مانع دحضور څخه دجمعې نه وی، کې دماپښین لمونځ دڅخه ترجمعې وکړی نودغه کار حرام دی»

یعنی د ماپښین د لمانځه تحریمه خو یه صحیح ده، ولی اصل وقت چې ماپښین دی په حق د لوی
هغه موجود دی لکن چونکه غیر معذور ماموردی په کولو د جمعی د لمانځه نو ځکه ده ظهر
اداء یه حرامه ده» قال المصنف:

فَإِنْ سَعَى إِلَيْهَا وَالْإِمَامُ فِيهَا بَطَلَ ظُهْرُهُ وَإِنْ لَمْ يُدْرِكْهَا

او که دغه غیر معذور چې د ماپښین لمونځ یه هم وکی د جامع مسجد پرخوا روان سو د پاره د جمعې
د لمانځه او حال دا وو چې په دغه وخت کې چې دی روان سو امام د جمعې پر لمانځه ولاړ وو نو
د دی سړی د ماپښین لمونځ باطل سو که څه هم دا امام سره د جمعې لمونځ و نه سی، لکن د بطلان
معنا داده چې وصف د فرضیت یه باطل سو یعنی نفل سو ل»

فائده: مصنف لفظ د سعی وویایه ولی که دغه غیر معذور په جامع مسجد کې
د ماپښین لمونځ پیل وکړی هغه د ماپښین لمونځ یه ترهغونه باطلیږی چې دا امام سره
د جمعې په لمانځه کې داخل نه سی، نوکه دی داغسی ور ته ناست وو د جمعې لمونځ امام وکړی
نو د ده د ماپښین لمونځ خو صحیح سو لکن ګناه کار ږدی. په سبب د عدم د رغبت د لمانځه ته
د جمعې

فائده: مصنف لفظ د إِلَيْهَا ووایه اشاره وکړه ده ته چې که دغه سړی چې
د ماپښین لمونځ یه وکړی په یو بل کار پسې د کوره ووتی ظهریه نه باطلیږی که څه هم د جامع
مسجد څنګه سره نه نیږی، او بعض فقهاء وائی چې د دغه سړی یعنی چې د ماپښین لمونځ یه پیل
وکړی د دوه ګامه په فراغ ځای کې په نیت د جمعې د لمانځه د اخلی ظهریه باطل سو»

مسئله: که د دغه سړی د ورنګ د جمعې د لمانځه د فراغ سره یوځای وو نو ظهریه نه دی باطل
لکه چې د وړ سته نه فراغ د جمعې د لمانځه دی د ده روان وی یعنی ظهریه نه دی باطل، او نه
چې دی د ده روانیدی هنوز امام په لمانځه شروع نه وه کړی هم یه ظهر صحیح سو، او دا قوله
بیان پر مذهب د امام اعظم مبنی وو، او یارانو وائی چې سعی د جمعې ته خو ترماپښین کمه
د ه نو د ماپښین لمونځ نه په باطلیږی او خو د جمعې لمونځ خو ترماپښین تر لمانځه بالاده
نو ځکه په جمعه ظهر باطلیږی، او امام اعظم وائی چې سعی د خواصو لمانځه د جمعې د ه نو حکم د جمعې

د جمعې لری او ظهر په باطلیږی» قال المصنف:

وَكُرِهَ لِلْمَعْذُورِ وَالْمَسْجُونِ أَدَاءُ الظُّهْرِ بِجَمَاعَةٍ فِي الْمِصْرِ يَوْمَهَا

او مکروه ده معذور او سړی لره لکه مریض او مسافر او مریي او داغه رنګه بندی لره چې د ماپښین لمونځ
په جماعت کوي په بنار کې په ورځ د جمعې» بلکه مراقی وائی چې مستحبه داده چې دغه کسان دی انفرادی
لمونځ لاتر جمعې تر لمانځه وځنډوي، ولی چې صحیح مذهب دادی چې مکروه دی منفرداً لمونځ
قبل صلوة الجمعة» قال المصنف:

وَمَنْ أَدْرَكَهَا فِي التَّشَهُّدِ أَوْ سُجُودَ السَّهْوِ أَتَمَّ الْجُمُعَةَ وَاللهُ أَعْلَمُ

او که څوک ورسیدی د جمعې لمانځه ته د التحیات په وخت کې او یا د سجدة سهوه په وخت کې د نو د
جمعې لمونځ دی پسې پوره کړی، او خدای تر هر چا به خبر دی، **سوال:** د سجدة سهوی
څخه خو دا معلومه سوه چې د جمعې په لمانځه کې چې امام سهوه سهی سجده سهوه به کوي، وهو خلاف
المختار د امام طحطاوی د دی سوال په **جواب** کې وائی چې مختار د عدم وجوب د سجدة
السهو فی صلوة الجمعة وکذا فی صلوة العیدین» تا چې خلګ په اضطراب او حیرة او فتنه کې واقع
نه سی، دا د مختار د چې ګرسره سجدة سهوه نه ده روا»

پوښتنه: چې مذکور په متن کې مذهب د دشیخینو او امام محمد وائی که سړی امام
ته د اسی وخت ور سیدی چې د دوهم رکعت رکوع یه ور سره ونیول نو د جمعې لمونځ دی
پوره کړی او که امام سره د دوهم رکعت د رکوع څخه سر اپورته کړی وو- او دی ورشریک سو،
نو د ماپښین لمونځ دی پر بناء کړی- او د اختر لمانځه ته هر وخت چې ور ورسیږی او د امام
سره شریک سی ده اختر لمونځ به پوره کوی» ولی چې د اختر لمونځ خو عوض نه لری چې هغه
پوره کړی» دی»

تتمه په حدیث شریف کې راغلی دی: مَنْ تَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ اتَّخَذَ جِسْرًا إِلَى
جَهَنَّمَ» که چا ګام ارا وه پر غاړو د خلګو نو دی به وګرځول هغې پل د دوزخ ته»

قال الفقیه ابوجعفر الطحاوی: لَا بَأْسَ بِالتَّخَطِّی مَا لَمْ یَخْرُجِ الْاِمَامُ او یُؤْذَنْ اَحَدًا، یعنی گام اړول ترخلکو پرواه نه لری ترهغه وخته چی امام خطبی ته نه وی راوتلی اویا څوك څنډی نه هیر نه سی. حاصل داچی تخطی په دوه شرطه روا ده یوعدم ایذاء دچا ده، ولی چی ذهیره وَل د مسلمان حرام دی اوبل عدم خروج دامام، ولی چی تخطی خوعمل دی، اوپه وخت کی دخطبی هرعمل چی چاره څنډی کیږی حرام دی» بعض صوفیان په دی نیت چی امام ته نږدی ناسته ثواب لری، خلک ازاره وی اود هغو تراوښ و اوغاړوگامونه اړه وی داسخت گناه ده بلکه دسړی ثواب دادی چی هغه ځای دی کښینی چی ځای وی، وعن ابن عمرؓ ده ووییل چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم ووییل چی دجمعی لمانځه ته دری قسمه خلک راځی، یوهغه نفری چی دجمعی لمانځه ته راسی اولغوه کار ونه کوی مثلاً د خطبی په وخت کی خبری کوی یاد خلکو پر غاړو گامونه پوری ته کوی وامثال ذالك»

نوعلیه الصلوة والسلام وائی چی دغه لغوه دده برخه ده دجمعی په لمانځه کی، اوبل داسی سړی دی چی دعا ځانی کوی یعنی پاته راوتلود امام، نوعلیه السلام وائی چی داخود اسی سړی دی چی دخدای عزوجل څخه غوښتنی وکړی. نوهغه دخدائ خوښه ده کی سوال قبلوی و که نه! دریم داسی نفری چی دجمعی لمانځه ته راسی په پته خوله اوانصات سره اود چا ترغاړی گام نه وارړوی اوخوله هم ازارنه کی نود هغو نفرو دپاره داد جمعی لموښځ کفاره دگناهو ده تر بلی جمعی پوری اودری وَرځی هم بالا، ولی چی خدای پاك وائی: مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا.

درویش وائی چی په پوښل صحیح حدیث کی داسی راغلی دی چی دری کسه خدای پاك د عذاب څخه د قبر ساتی، اَلْمُؤَذِّنُ: اذان کوونکی، اوبل شهید سړی، والمتوفی لیلة الجمعة» اوبل هغه سړی چی په شپه دجمعی وفات سی. اوبعض شارحین دحدیثو وائی چی داهغه مؤذن دی چی په تنخواه اذان نه کوی بلکه دپاره دثواب اذان کوی، لکن ظاهردی حدیث عام دی که په تنخواه اذان کوی اوکه دپاره دثواب، البته دپاره دثواب اذان کول دپرښه کار دی اوشهید دلفظ څخه ظاهراً عام مراد دی که په معرکه کی دکفارو شهید سی اوکی ناحقه یوهوك

مړ کی. اومتوفی لیلة الجمعة» کړشم په حدیث مذکور کی شپه راغلی ده لکن په اجماع سره د متوفی یوم الجمعة هم داغه حکم دی»

درویش وائی: چی د مناقشا تو څخه خلاصه خبره داده چی د متوفی لیلة الجمعة اویوم الجمعة تر یوساعت عذاب اوضغطه سته اوبیا قطع کیږی اوتر قیامت نه راګرځی. اللهم اجعلنی منهم بحرمة النبی علیه الصلوٰة والسلام» درویش وائی چی دا یوخو مسئلی په مناسبت د تنظیف دوړو چی دجمعی په ډیر اختصار سره اوپر صحیح وجه خپلو پښتو ورونو ته حسبةً لله ورپاندی کیږی اوتفصیل په شرح کی د امام طحطاوی مطالعه کړی. اوهوری چون وچرا پیدی وی وینی، یوه دهغو څخه پری کول دنوکانودی» په حدیث شریف کی چی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها یه روایت داسی راغلی دی چی حدیث هم مرفوع دی: مَنْ قَلَّمَ اَظْفَارَهٗ یَوْمَ الْجُمُعَةِ اعاذه الله من البلاء الی الجمعة الاخری وزیادة ثلثة ایام» که چاپری کړه نوکان یعنی دلاسو دگوتو او پښو دگوتو په وړځ دجمعی یعنی قبل صلوٰة الجُمُعَة» خدائ به دی وساتی د بلاء څخه تر بلی جمعی پوری اودی ورځی هم بالا، اوامام ثوری پری کول دنوکانو په وړځ د ه شنبی مستحب بولی، اوبعض علماء وائی چی داسبب دغنی دی ه لکن احادیث دوړځی دجمعی دپاره دی، نوقول دثوری معارض دهغو نه سی ګرځیدلای» ط ه

مسئله: دسړی نوکان دگوتو تر سره تیروی مکروه دی. اوعلماء وائی چی د چا چی نوکان ډیر اوږده وی نوره زاق بی تنګ وی، نواول باید سړی یا ښځه په هفته کی په وړځ د جمعی نوکان پری کړی. اوبیا نوه اوړځی فضل ورکړی افضل دی. اوزائد تر څلویښت وړځی پرلیښول گناه ده»

زمانه دښځو پر نقشه په اوسنی زمانه پیښیږی د ښځی نوکان دگوتو دمینه اوږده ساتی چی په قدر دمښکی دچرګ وی، اوهغه نوکان په هغه به هغه راوغنی رنګ چی ده خارجه راځی وهلی وی چی هغه نوکه ته پوښ ورکوی. نودغی ښځی په سبب دد غه رنګه غسل اواودس نه دی صحیح اومیړه یا مور اوپلار یه هم وینی، اوبل پیښیږی ښځی قمیصان دوښه تنګ جوړوی او باریك یه تر سروزنی پوری وی

نوچې داګنبې دکنا ټو نغښته یه ښه پکښې معلومیږی، اومیږو یا مور او پلار یې هم وینی. او پیښی پر توګ په اوسنی زمانه کی دوښه تنګ او ترش وی چې ښځه ز نګونه جګ وینی دکس نغښته یه دور ایه معلومیږی. اومیږو یا مور او پلار یه هم وینی، او پیښینی ښځې دخ دخواغا ښونه د لوړی زامی چې په خبرو کی معلومیږی دسرو زرو پوښونه ورکوی. اومیږو یا مور او پلار یه وینی، خیر داخبرې پای نه لری دا ټوله کارونه دکافرانو ځخه نږده سوی دی آنچه مردم میکنند بوزینه هم ؛ مَثَل دی مَشهور» او ښځې دی زما ځخه نه ناراضه کیږی، ولی په اسلامی دعوت ځه د چا د رضا پروا نسته،

رویش وائی: چې دنوکانو په پری کولو کی قِسم قِسم کیفیتونه په کنا بوکی راغلی دی، لکن هغه کیفیت چې په صحت کی هیڅ شک نسته هغه دادی چې د راسته لاس او د راسته پښی نوکان دی د ځخه تر چپه لاس او چپی پښی پری کوی لما ورد فی الحدیث المتفق علیه یعنی د علیه الصلوٰة والسلام خوښ وو په راسته خواشروع کول په اوداسه اودسر یا نږیری په نږمنځه د کی او په هرښاځان کی، او د لاسونو کان دی تر پښودی د ځخه پری کوی قیاساً علی الوضوء،

مسئله دنوکانو پری کول په چاقو په غچی، په ناخون گیر، ټوله راوادی او هیڅ حج په کښې نسته، البته په غاښونو یه پری کول مکروه دی ط ص ۴۳ ولی د غاښونو په پری کولو کی د فِس اولیونتوب بیره سته **مسئله:** چې سړی جنب وی د ځخه تر غسل نوکان پری کول او یا سر خریل وغیره مکروه دی» لما روی خالد رضه مرفوعاً» چې که څوك یعنی جُنب سړی وَخرڅې د ځخه تر غسل هر ویښته به په وَرځ د قیامت په دربار کی د رب العزت د اسی عرض وکړی: یَارَبِّ سله لِمَ ضیعنی ولم تغسلنی» والظفر قیاس علی الشعر» والحدیث مروی فی شرح شرعة الاسلام عن مجمع الفتاوی»

حکمت: حکمت په پری کولو کی د نوکانو دا دی چې که نوکان د یر غټ وی نو په مابین کی د گوتې اود نوك خیره پیدا سی چې هغه خیره طبعاً بده معلومیږی، او گاهی داخیره دومره کلکه سی چې اوبه نه وږ رسیږی وهغه ځای ته چې پریوَ لدیه فرض دی یعنی د گوتی سر تر نوکه لاندی، نو سړی باید په پریکولو کی د نوکانو ډیر مبالغه وکړی. تر هغه چې د گوتی تاوان نه وی کذا فی فتح الباری»

فائده: د سر خریل هم سنت دی او هم څونړی پر پښول د سنت سره برابر دواړه فعلاً د علیه الصلوٰة والسلام قولاً وفعلاً ثابت دی، امام فقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چې د سر خریل زمونږ د ائمه ثلثه وو په نیز سُنت دی»

رویش وائی چې حلق الرأس مطلقاً سنت گنړل خلاف دی د مامتَ ځخه بلکه اصل مذهب زمونږ د احنافو دادی کما نقله الامام الطحطاوی عن الروضة چې سُنت په ویښتانو کی د سر یا ترك الکل مع التفریق فیما بین الرأس ان قدر علی حفاظة الشعر په غوره لوسره او پریږدل سره او په نږمنځ لوسره» واما حلق الکل ان اراد التنظیف ولم یقدر علی حفاظة الشعر کما مرّ» واما التفریق علی غیر وسط الرأس کما یفعله اتباع الافرنج فمکروه وایضاً خریل د بعضو ویښتانو د سر او پر پښول د بعض مکروه دی» لما فی ابوداؤد والنسائی» عن ابن عمرؓ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم رأی رجلاً حلق بعض رأسه وترك بعضه فقال صلی الله علیه وسلم لاحلقوه او اترکوه کله» او شرح دنقایه وائی چې یوازی د ځخ خریل مکروه دی کله چې د طالبان یا نور چې کوی البته کی سر ټوله خرابه نو ځخ دی هم د سره وخروی، وهذا هو المذهب المنقول فی صحاح کتب المذهب الحنیفی»

د بریتو په باره کی مسئله

پوه سه: چې د بریتو خریل پر چاره په نیږد بعض علماوو مکروه دی بلکه بدعت دی» لکن په دی کی اختلاف دی چې اِحفاء د بریتو مستحب ده» اِحفاء معنا داده چې پر بیخ یه ودږ وی لکن په غچی او یا په مشین د حمامیانو» فقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چې احفاء مستحبه ده» ولی چې په حدیث کی لفظ د احفاء د راغلی دی، او په شرح کی د شرعة الاسلام د امام اعظمؒ په نقل سره وائی چې احفاء وحلق ته نږدی ده. او په خانیه کی واړ چې بریتونه دی د اسی پری کی چې طرف د لوړی شونډی ښکاره سی، او هغه ته نږدی یعنی د خولی د کُنجانو ویښتان دی هم پری کی، او د لوړی خوا دی بعض ویښتان چې بی د رکه ولاړ وی پری کی تا چه بریتونه په ټکه وَرځ وکړی ابن حجر په فتح الباری شرح البخاری کی وائی: هذا اعدل ما وقفت علیه من الاثار» او د غه شروع دی پری کول د ما ټو د بریتو چې په عربی یه سبالة بُولی. ولی چې بریتو په جم کی دی

کما فی فتح الباری» اودلاندی شوندی وی چی ویښتان دی دوی نه قطع کړی چې صرف شونډه
یه ښکاره سی اود دودی خوړلو په وخت کی وینښتان دګولی سره په خوله نه ننوزی
اوزمونږ مشائخ، وائی چی مجاهد ته اجازه ده چی غټ غټ برښتونه ولری لانه اهیب فی
عین العدو یعنی د غټو برښتو هیبت د دشمن په زړه کی ډیر پیدا کیږی»

دَبرِیرِی پَه بَاب کی تحقیق

پُوهَسه: چی دبرِیری پریښول سنت مُؤکد دی، اوبعض علماء وائی چی بڑیره پریښول
واجب دی امام محمد د حضرت الامام اعظمؒ څخه داسی نقل کړی دی»، چی سنت په بڑیره
کی دادی چی دده ترقبضی یعنی موټه بالا دپی پرې کوی هم د طول دخواهمږه، پَسارهٔ دَخوا
تاچی بڑیره یوږ نګه وګرځیده دَتیولو طرفونځخ» قال الامام محمدؒ وبه نأخذ» کذا
فی محیط الامام السرخسیؒ لان الاعتدال محبوبٌ» او بیخی بڑیره اوښده بڑیره یعنی بیخی
اوږدول دخلقت انسانی بَد خوندی ده، اوخلګ پُسخندهم په وهی. بعض وَائی
درغلی لوی بڑیری. بعض به وائی: خونه اوښده بڑیره یه ده لکه ثوابی جارو» وامثال ذالک،
اوطبرانیؒ دعمرؓ څخه روایت دی چی ده ﷺ یودیرلوی بڑیری سَړی ولیدی نوبڑیره یه وَر
قبضه کړه اوبالا بود یه ګنډی پری کی» اوبیا عمرؓ وهغه ته وُویل: یترک احدکم
نفسه حتی یکون کانه سبع من السباع»

مسئله: په خلاصته کی وائی چی امام اعظمؒ مکروه نه ګڼړلی کښل دسپین وینښته د
بڑیری څخه مګر که دتزئین دپاره وه بیا مکروه دی» لکن داهلته مکروه نه دی چی خوهدود
وینښتان وی، اوکه ډیروه بیا یه کښل مکروه دی» لحدیث رواه ابوداؤد: لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ
فانه نور المُسلم یَومَ القیامَةِ» په محیط کی وائی چی وینښتان دحلق دی هم نه خَړبِی،
اودَڑحُو یاد مخ څخه بید، که وینښتان پری کول پروا نه لری **مسئله** دبڑیری
توره ول په هغو، ښکو چی دخارجه راځی اویا په پاکستان کی جوړیږی۔

دَبرِیری تورَولو مسائِل

په هغه ښکو چی دخارجه راځی اویا په پاکستان کی جوړیږی
حکم چی تازه په رنګ کی نوداسی برلیبی لکه دکوټری غاړه
هغه خومکروه دی جدا کما صرح بالفقهاءُ اوپه نکروزو اویا
وُسمه یه رنګولو ښه کار دی، **حَلقُ العَانَة»** یعنی زیر ناف خړبِل **پوښه** چی
سُنت په حلق عانه کی خړبِل دی دسر په چاړه یا دمشین په چاړه، لکن اصل مقصود چې
پاک کول دوغه ځای دی هرمزیل دوبیتا نوچی پاکی په حاصلیږی لکه موی پاک، په اوس زمانه کی
یا نوره په څواز زمانه کی، په حدیث شریف کی لفظ دحلق راغلی دی هغه بڑ ء پراغلب دی. اوزیر
اوښځه په دی حکم کی سره برابر دی. لکن امام نَوَاوِیؒ وائی چی اولی په حلق کی دزیر حلق دی. اوپه
حلق کی دښځی نتف دی یعنی په نوکانو یا په نوسی کښنګ دی، ولی ښځه که دزیر ناف
وینښتان په خړبِلو اموخته کړی نووینښتان ورځ په ورځ پندږیږی اوبد بوټی نریا تیږی
اوزیر چی راپورته سی په نرجګیږی اوجماع یه بَدخونده کیږی.

عانه کوم ځای بُولی: دنرخو پرزکر اوپرښځو اوپر بغلو اولوړتر ځایه
پوری چی وه - اود ښځی داهم پرفرج اوشاوخوا وینښتانو ته وائی. اوتر هغه ځایه چی سړی ته
ممکنه وی دګډی دخواوینښتان دی هم خړبِلی، نوچی په لُنګو
استنجاء وهی. شاید هغه نجاست به پاته سی، په خانیه کی وائی چی پری کړی نوکان یا خړبِلی وینښتان
دسر- اولی داده چی دفن یه کی. اوکی وغورځوی پرواه نه لری. لکن په غسل خانه کی اویا دغولو په
مکان دی نه اچوی، اووینښتان دزیر ناف دی خواه مخواه پټوی، ولی چی دامسئله ده چی هغه
شی چی په انسان پوری وی دپاکانه ورته ناروا وی. نوچی دانسانه جلاموهم کاته ورته
ناروا دی، ترمذی وسید تنا عائشه رضی الله تعالی عنها څخه داسی روایت کړی دی چی علیه
الصلوة والسلام ددی خوشیانو په دفن سره امر کاوه» دوبیتا نو، دهرځای چی وی. اودپری
کړو نوکانو، اوهغه ټکړه چی بنځه یه په وخت کی دحیض استعمالوی، اوغاښونه چی وغیږی
اودکچنی دسنتی پوستکی. اودهغه ټکړه چی دانسانه څخه وینه، اویانور، اووزی په پاکی کړی
اوغالباً دامر به استحبابی وی» والله اعلم بالصواب؛

بَابُ الْعِيدَيْن

یعنی دا باب دی په بیان کی دا حکام مو د اختر و من الصلوٰة وغیرها۔

شِکایَت بعض ناپوهکسان، او حاسدان، وائی چی عبید الله دکتابو په حاشیو کی، او یا په ترجمه سوو کتابو کی د نورو کتابو څخه نقل کوی او عربی کتابونه و پښتو ته اړوی. یعنی دا خبری پرما باندی د تنقید په ډول کوی. زه وایم چی، بناء د دین اسلامی پر نقل ده من لدن النبی صلی الله علیه وسلم الی یومنا هذا» بلکه قرآن کریم په نقل متواتر سره ترمونږه پوری رارسیدلی دی» او عربی کتابونه چی زه پښتونه راانقل کوم یا می نقل کړیدی زما سره د پښتون اولس غم راسره وی، اوزه دا غواړم چی هر سړی او منځه چی پښتو خط ویلای سی په خپل کور کی د دین اسلامی عقائد او احکام زده کړی. او دا ستا غوندی ناپوهانو د پښتنی ضرورت نسی ورته پاته»

او ته دا غواړی چی عوام دی زما احترام کوی او په هر خبره کی زما څخه پښتنه کوی زه به یاد راغ یا راشتیا ورته وایم» نوزه وایم چی زما او ستا فرق ستا ته جاه طلبه یی او مخدومیت تاته خوند درکوی، زه د چا څخه عزت نه غواړم، او د قوم د خدمت سره محبت لرم» وَلِلنَّاسِ فِيمَا يَعْشَقُونَ مَذَاهِبُ» زه غواړم چی د نبو و نخیو تنکی خوانان د اسلام او د اهل سنت والجماعة عقائد و خبر وم، او په مسائلو د مذهب حنیفی یه آگاه کړم چی په اوسنی زمانه کی گمراه کوونکی خلګ په عوض کی د پیسو په جامعه کی پیدی» ته غواړی چی افغانان دی ساده لوحه وی» تاچی په هر دین او مذهب پسی چی راوانیږی راوان دی» کنه وایه چی نور علماء ولی دا کار نه کوی، جواب چی څوک جهلی کیدای سی، یا بی خط نه وی زده او یا به د قوم د خدمت کولو سره محبت نه لری. او یا به دومره تکلیف برځان نسی ولای» ای حاسده ځان پوه کړه چی په دنیا کی هر څو اقوام چی د ی علماء د هغو خدمت کړی دی او دین یه په خپلو مو ټو ژبه ورته بیان کړی دی»

او عوام او خواص د هغو علماو و شکر وائی او دعا ورته کوی، الّا پښتانه چی هغه د غسی علماو و په ځای کی د دعا عیب یه ووائی» او غیبت یه کوی، او دالاهم ورته وائی چی پښتو کتاب دا اعتبار و نه لری د می مطالعه کوی، چی دین ته ستاوان رسوی، ای افسوس ستا پر حال دا پښتو کتابونه خو د عربی کتابو ترجمه ده» نوکه دا پښتو کتابونه دا اعتبار و نه لری نو هغه عربی کتابونه چی دا پښتو کتابونه د هغو مکمله ترجمه ده. ولی دا اعتبار و ړی!

اوستا ترخولو چی راوزی هغه به هم پښتو وی او که به جواهرات وی ـــ بیت ـــ

چشم بد اندیشش کور کنده باد ؛ عیب نماید هنرش در نظر» د رویش، وائی چی جاهله ته فکر وکړه چی د عید لفظی او معنوی تحقیق چی زه ئی د رته وکړم، دا په د رمختار رد محتار، مراقی الفلاح، طحطاوی بحر رائق، او هدایه او په شروحو کی د هغی موجود دی. او بیا د متحد الآل مضمون دی او هم په عربی ژبه دی. نو مصنفین د د غو نامورو کتابو یو تر بل د مخ په زمانه کی وو نو خود متاخر د متقدم څخه نقل کړی دی نو ستا په عقیده خو دا نقل عیب دی او ته ئی عیب نه بولی، او نه هم تر پرده کتابو په سبب د نقل مذکور تنقید کوی. نو زه چی د عربی څخه د پښتو و مو رنی ژبی ته راانقل کوم. ولی عیب بولی، والباعث علی هذا لیس الا الحسد»

د رویش وائی چی اوس نو واوره هغه مضمون متی. الآل د مذکوره کتابو په پښتو باندی

فَائِدَه: د جمعی او عید ینو ترمابین چونکه مناسبت وو چی هغه شرائط د هغو لمونځو دی په ادا بوکی او په شرطو کی مگر خطبه چی د جمعی خطبه د مخه ده او د اختر خطبه ورته وده

فَائِدَه: د جمعی وړځی ته هم عید وائی کما قال علیه الصلوٰة والسلام لکل مؤمن فی کل شهر اربعة اعیاد او خمسة اعیاد» او جمعه یه ترعید د مخه کړه ولی چی د جمعی لمونځ فرض دی.

فَائِدَه: اصل د عید عَوْدٌ دی و او ساکن ماقبل مکسور نو واو یه په یاء سره بدل کړی کما هو القانون الصرفی.

فَائِدَه: په بحر رائق کی وائی چی د دو واختر و لمونځونه په اول کال کی د هجرت نبوی مشروع سوی دی. قال انس چی څه وخت چی علیه الصلوٰة والسلام هجرت وکړی و مدینی ته نو مدینی والو د وخت څخه دوی وړځی ډلودی چی په هغو دوو وړځو کی به دوی خوشالی کولی او ستونه به ئی تیر ول. یعنی د نوروز

په وړځ چې اول د حمل دی. او مهرجان په وړځ چې اوله درجه دی ده، چې دا اصلا د آتش پرستانو
وړځ وی، نو علیه الصلوٰة والسلام و دوی ته وویل چې دا څرنګه دوی وړځ جوړه دی،
انصارو وړته وویل چې دا دوی وړځ مونږ په جاهلیت کې لمانځلی. نو علیه الصلوٰة والسلام
و دوی ته وویل چې خدای پاک دی دوو وړځو په بدل کې تاسی ته دوی وړځ درکړی دی
چې هغه خیر دی ستاسی تر پخوانیو وړځو، یوم الاضحی و یوم الفطر. **فائده**
اختر نه چې عید وائی د دی سببه چې د خدای پاک د نعمتو، اګر ځیده سته پرېنډ ګانو هم دینی او هم
دنیوی، او عید هم، اګر ځید و ته وائی. **فائده**: هره د خوشحالی وړځ عید بولی. کما
قال الشاعر ـه عیدٌ و عیدٍ صرن مجتمعة ؛ وجه الحبیب و یوم العید والجمعة ؛ و قال الآخر
یا لیتنی حبیبی یا الحبینی ؛ ازین دوګریکی بودی چې بودی ؛ و قال الآخر ـه سړی مړ د مان عیدات و نوروز ؛ سړی ژاغ ستا د دیدار یاران ؛

قال المصنف

صلوٰةُ العیدِ واجبةٌ فی الاصحِّ

اختر لمونځ واجب دی یعنی فرض نه دی لکه د جمعې لمونځ او تیمم
په وجوب سره منقول ده د امام اعظم په یوه روایت کې چې هغه یعنی وجوب په اصح دی روایت
او درایت وبه قال الاکثرون. او امام محمد چې په جامع صغیر کې سنت بولی دهغه معنا دا ده
چې ثبوت یې په سنت نبوی سره دی. ولی چې علیه الصلوٰة والسلام همیشه توب پر
کړی وی بیله پریښولو هیڅ وخت، د هغه روایت د وجوب هو المختار، کما فی الخلاصة. او امام
محمد په مبسوط کې هم د غه روایت راوړی دی

فائده: لکه علیه الصلوٰة والسلام چې د اختر و پر لمونځ دوام کړی تر وخت د وفات
د غه رنګه خلفاء راشدینو هم همیشه توب پر کړی دی او ائمه مجتهدینو هم دوام پر کړی دی
وهذا دلیل علی الوجوب من حیث الدرایة. او طحطاوی او فتح وائی چې په اشاره د قرآن کریم
هم دا دوه لمونځونه ثابت دی، قال الله تعالی: وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ، په دی
اشاره دیکچنی اختر و لمانځه ته: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ، په دی کې اشاره ده د لوی اختر و
لمانځه ته. **فائده**: د جامع صغیر عبارت دادی: عید ان اجتمعا فی یوم واحد
فالاول سنة والثانی فریضة ولا یترک واحد منهما. درویش وائی چې دا عبادت لکه

تصریح په وجوب سره د اختر د لمانځه ولی دی وائی وَلَا یُتْرَكُ آه نو که سنت په مشهوره معنا
وای نو ترک د عید ولی ناجائز وو، نو د معلومه سوه چې سُنت په هغه معنا بولی چې د لمانځه
تیره سوه، او یا مراد ده سنت څخه سنت مؤکد دی چې هغه په حکم د واجب ده چې په
ترک یې سړی ګناه کاره کیږی کذا فی البحر. قال المصنف

علی مَن تَجِبُ علیهِ الجُمُعَةُ بِشَرائِطِها

او د اختر لمونځ په هغه
چا واجب دی چې پر
هغه جمعه واجب وی په تولو شرطونو جمعې د لمانځه یعنی هم شرائط د صحت او هم شرائط د وجوب
د اختر د لمانځه هغه د جمعې د لمانځه شرائط دی چې د مخه تیر سوه. قال المصنف

سِوَی الخُطبَةِ فتَصِحُّ بِدُونِها مَعَ الإساءَةِ

ما سوا د خطبې څخه. نو د اختر و لمونځونه صحیح دی بیله خطبې لکن سړی د ګناه ولی چې سنت یې پرېښود
او مصنف و وئیله ما سوا د خطبې څخه ولی چې خطبه د اختر چونکه تر لمانځه وروسته ده نو
شرط د صحت نه ده ولی چې شرط خو تر مشروط د مخه وی، بلکه خطبه د اختر سنت ده. قال

کما لو قُدِّمَتِ الخُطبَةُ علی صلوٰةِ العِیدِ

که چې ګناه کار د ی
چې خطبه د اختر تر لمانځه د اختر د مخه وکړي. **فائده**: ابو موسی الضریر وائی چې د اختر و لمونځ فرض کفائی دی
کما شرح الزاهدی و ملا مسکین و هو روایة من الامام و ایضا وبه قال احمد.
درویش وائی چې په دی روایت کې غټ هم پر خلګو آسانی ده، ولی چې د اختر لمونځ په هر ښار کې
خواه محواه بعض بلکه د پیر خلګ یې کوی نو چې فرض کفائی سو د تولو غاړی خلاصی دی، لکن
د غه روایت خلاف دی د ظاهر الروایة څخه د امام اعظم. قال المصنف

وَنُدِبَ فی الفِطرِ ثَلاثَةَ عَشَرَ شَیئًا اَن یَأکُلَ

او مستحب دی د کشنی اختر په وړځ دیارلس کارونه اول دادی چې خوراک دی وکړي و روسته تر سپیدو

د مخه دسحار تر لمانځه یعنی یوخو ښۍ دی وخوړی لکه، قند، بوره، پلمیت، گوړ، وغیره

قال المصنف: **وَأَنْ يَكُونَ الْمَأْكُولُ تَمْرًا وَأَنْ يَكُونَ وِتْرًا** اویل دامندوبه ده چې خوراکی شئ به څرمانی وي، اویل دامندوبه ده چې تاك دانی دی خوری. **پوه سه**: چې حکمت په دی تلوار کی دادی چې امتثال دامر نبوی ر اسی. اویل داچې په منسوخ سره عمل ر انسی، ولی چې په ابتداء کی داسلام ترعیدگاه دمخه خورلك نرووړ، وا ثُمَّ نسخ، اوکی ترلمانځه دمخه خوړلك ونه کړی نوو عیدگاه ته د تلو په وخت کی خوړلك وکړی ښه ده پرځای کیږی. اوکی بیخی خوړلك ونه کړی. امام حلبی وایی چې کراهت نشته،

پوه سه: چې حکمت دخوابنه شی په خوږ لوکی دادی. چې خوږ شی په اعماقو کی د بدن او په ر گو کی ژر ر حلول کوی. اوستړی چې روژی ضعیفه کړی به وی قوت ورکوی اونږه هم نرمه کوی. اود څرما پخوږ لوکی که موجوده وه متابعت دقول اود فعل د علیه الصلوة و السلام. اویل داچې خدای پاك څرما ودرختی ته شجرهٔ طیبه وئیلی ده، اویل داچې څرما دانسان لکه عمه ده. ولی په روح البیان کی وائی چې یولږ خټه چې د آدم علیه السلام د جوړولو لوخه پاته سوه هغه خټه په څرما ماده وگرځوله، اود تاکې خوږلو حکمت دادی چې انه علیه الصلوة والسلام کان یحب الایثار فی جمیع امورہ، قال المصنف:

وَلْيَغْتَسِلْ وَلْيَسْتَاكْ وَلْيَتَطَيَّبْ وَلْيَلْبَسْ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ

اوغسل دی وکړی اوسواك دهم ووهی اوخوشبوئ دی هم ولگوی اوهغه سبه دخپلو کالو دی وا غوندی، **پوه سه**: چې داغسل دپاره د لمانځه دی په نیزد مصنف کما مر فی العراقی لکن امام سرخسی وائی چې غسل دی وروسته تر سپیدو کوی او ک د مخه وکړی هم کافی دی. او داغسل که لمانځه ترڅنګ اوکه نه څنګ مندوب دی لانه یوم زینة، واجتماع بخلاف الجمعة، ولی جمعه دوړځی غسل پرهغه چا نسته چې لمانځه ته ځی سروڅی وائی چې داخبره صحیح ده وبه قالت الشافعیة، والمالکیة،

د روایش وائی: چې د دی مخه دا معلومه سوه. چې د غسل دوړځی داختر د لمانځه د پاره نه دی بلکه دوړځی د پاره دی. اوپه کتاب الدر کی هم وائی چې غسل داختر دوړځی فقط د وړځی د پاره دی. اوصاحب النهر وائی چې خوشالی ده وړځی داختر عام دی نوپاکی هر قادر ته مندوبه ده، د داختر لمونځ کوی اوکه نه کړه. اوبعض فقهاء وائی چې داغسل سنت دی،

مسواک وهل خوپه ټولو لمونځونو کی مطلوب دی بلکه په ټولو احوالو کی لما یدل علیه الاحادیث النبویة قولاً وفعلاً، اودخوشبوئی وهل په دی سبب مندوب دی چې په حدیث شریف کی ر اغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم خوشبوئی لگول په وړځ داختر، اوږنو کالو نه مراد دادی چې نرته ئی استعمال روا وی. اوامذهب یواځی د نږدو دپاره دی، اوپه حدیث کی ر اغلی دی چې علیه الصلوة والسلام یوه چینه د فنک در لوده چې د جمعې په وړځ او په اختر کی اغوستله، اوپه بل حدیث کی ر اغلی دی چې علیه الصلوة والسلام به ږیره حمراء اغوستله په هر واختر وکی، د حمراء څخه مراد دادی چې سری اونږه غوني لیکی یه د ر لوړی ولی چې د یک لخته سری جامی اغوستل نرته مکروه دی، اوداسی جامی ته چې لیکې لیکې وی کشمیره وائی په پښتو ژبه «لکه د صدرې ټوکر» قال المصنف:

وَلْيُؤَدِّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ إِنْ وَجَبَتْ عَلَيْهِ

اوورکړی سرپایه یعنی ومسکینانو ته که چیری صدقة الفطر پرده واجبه وه. **پوه سه**: چې داهغه وخت فیصل دی وړکولو د سرسائی، ولذا امر النبی صلی الله علیه وسلم بادائها قبل خروج الناس الی الصلوة یعنی داختر لمانځه ته، **فائده**: صدقة الفطر دی د مخ داختر دوړځی هم روا ده چې د روژی په میاشت کی به وی، اود مخ د روژی دمیاشتی اختلاف په کښ دی. اود مخ د عیدگاه ترلمانځه ورکړه یې مستحبه ده. او د وروسته د عیدگاه ترلمانځه **پوه سه** چې د صدقة الفطر مقدار، اوچې پرڅوك واجبه ده. اوچا ته ئی ورکوی په تفصیل سره په باب صدقة الفطر کی په تفصیل سره راسی ان شاء الله تعالی،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما،

قال المصنف: **وَيُظْهِرُ الْبَشَاشَةَ وَكَثْرَةَ الصَّدَقَةِ حَسَبَ طَاقَتِهِ**

اوښکاره کوی دی سړی خوشحالی اوورین تندی یعنی په وخت کی د ملاقات د خلګو. اودیر د ورکوی خیرات یعنی نفلی پرانداز ه د قدرت د ده، **پوه سه** چی په مراقی کی د مستحبانو څخه د ی ورځی ګڼلی په کول شمیرلی دی، ولی د صحابه رضی الله عنهم په احوالو کی راغلی دی چی هغه کسانو چی عموماً یعنی په نورو وختونو کی به ئی ګڼلی نه په ګوته کول داختر په ورځ به ئی په ګوته کول، اوښل د مندو باتو څخه د د غی ورځی په مبارکی راوړی ده چی په عربو کی بی د اسی وئیلہ تقبل الله منا ومنکم» او په پښتو خلګ وائی یوو بل ته مبارك دی سه خدای پاك دی روژی او تراویح قبولی کړه. اوپه مبارکی کی اثر هم موجود دی» کما رواه ابن الحجر الحافظ عن تحفة عيد الاضحى لابي القاسم المستملي بسند حسن، وكان اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنكم» واخرجه الطبراني، بسند قوي وفي الطحطاوي، چی رواج په بلادِ شامیه وو کی اوپه بلادِ مصریه وو کی د اسی ویل د ی یوو بل ته عيدٌ مبارك عليك ونحوه. او د اسی ویناهم جائزه حسن ده بلکه مستحب ده، او د غه رنګه د ی بله سړه روغ برکوی ط ص ۴۳۵ »

او د دی کار و څخه یوازی په اسلامی ټرې کی وهابیان، پنج پیران، سلفیان، او اهل حدیث د نرمانی منکر د ی او د وی وائی چی د اکاروته ټوله بد عت سیئه د ی، او د دوی اتباع چی ایمان وی هغه بد عت هم معنا د کفر بولی» قال المصنف:

وَالتَّبْكِيرُ وَهُوَ سُرْعَةُ الْانْتِبَاهِ وَالِابْتِكَارُ وَهُوَ الْمُسَارَعَةُ

او د غه رنګه مندوب د ی تبکیر او تبکیر معنا وخت سره او ینبیده د ی، او د غه رنګه مندوب د ی ابتکار دابتکار معنا وخت

إِلَى الْمُصَلَّى وَصَلٰوةُ الصُّبْحِ فِي مَسْجِدِ حَيِّهِ

تګ د ی د د سحار لمانځه ته د خپل کلی او قبیلی، او تبکیر به د سپیدو

سره وی یاد مخه» ق **فَائِدَة**: د تبکیر اداکول د عبادت ته د ی په خوشحالی سره کما یدل علیه التجربة. او دا ابتکار و عید ګاه ته یوخولوی فضیلت د ی. او بل به په صف اول کی ځای ونسی، او دا ابتکار و مسجد ته چی اداکول د حق د خپل مسجد د ی نو به صف اول ته هم ورسیږی» قال المصنف:

ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى الْمُصَلَّى مَاشِيًا مُكَبِّرًا سِرًّا وَيَقْطَعُهُ

او بیادی مخ وکی یعنی روان د ی سی و عید ګاه ته پیاده یعنی که پر تکلیف نه وو لکه سپین ږیری او غیره په رسی

إِذَا انْتَهَى إِلَى الْمُصَلَّى وَفِي رِوَايَةٍ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ

حال کی چی تکبیر د ی وائی لکن کراره او تکبیر د ی پریږد ی چی عید ګاه ته ورسیږی. او په یوه روایت کی وائی چی تکبیر د ی هلته قطع کوی چی په لمانځه شروع کیږی. **مسئله**: د عید ګاه د رواج افضل د ی که څه هم په هغه مسجد کی وی چی خلګ په کښی ځانیږی، وهو الصحیح، ط، په حدیثو مبارکه وو کی راغلی د ی چی علیه الصلوٰة والسلام به وقتی و عید ګاه ته چی په مدینه منوره کی یو فراخه ځای وو، چی د ر وازی څخه د مسجد نبوی ترهغه ځایه پورې نږدې نه وه، کما فی العینی علی البخاری» او په حدیث شریف کی راغلی د ی چی علیه الصلوٰة والسلام به په وخت د وختنو و عید ګاه ته د اسی وئیله: **اَللّٰهُمَّ انِّي خَرَجْتُ إِلَيْكَ مَخْرَجَ الْعَبْدِ الذَّلِيلِ**»

مسئله: په فتح القدیر کی وائی سنت دا د ی چی لوی امام د ی ترښاره دباندی چی جبانه په بولی د عید د لمانځه د پاره سره د خلګو و وزی، او یو عالم د ی خلیفه کړی چی ضعفاوو ته په بیمارکی لمونځ ورکړی. ولی چی د اختر لمونځ په دوه ځایه کی اتفاقاً روا د ی. او امام محمد په د ری ځایه کی ه روا بولی. او سپین سری سنګی عید ګاه ته وتلای نه ی. او ځوانانو ته سنګی د منبر او سره وړلو جبانه ته مکروه د ی»، او که په جبانه کی د خښتو وغیره منبر جوړ کړی بعض علماء وائی چی هغه هم مکروه د ی. او امام خواهرزاده وائی چی په اوس زمانه کی ښه کار د ی او امام اعظم څخه روایت د ی چی: لَا بَأْسَ بِهِ، د رو لښی وائی چی زمونږ په زمانه کی بلکه زمونږ

ترزمانی دیره مخه بناء د منبر په عیدگاه کی عمومی رواج دی اوهیڅ څوك انکار نه پری کوی
اوداختر لمونځ خوپه اوسنی زمانه کی په هر جامع کی کیږی د خلگو د سهولت دپاره
لظهور التوانی فی امور الدین» لکن د جبانه عیدگاه لمونځ دیر فضیلت پر لری. اوهم دیر
فیض اوبرکت اوخوښحالی لری لکه چی یو افغانستان کی چی داختر و لمونځونه په عیدگاه کی
کیږی» خصوصًا د قندهار عیدگاه چی امارت اسلامی د طالبانو دیره فراخه اوزیبا جوړه کړیده
اوپه نورو ښارو کی د افغانستان هم ورته عیدگاهی والحمد لله صرف په کوټه کی ملایانو
دا اختراع کړیده. چی په هر جامع مسجد کی د عید لمونځ کوی. دا هم صرف د دی دپاره دی چی
دی یعنی د جامع مسجد ملاصاحب خپله بیانیه اوتقریر اوتبلیغ په خلگو واوری» والی الله
المشتکی من سوء هذا الغرض» قال المصنف:

وَيَرْجِعُ مِنْ طَرِيقٍ آخَرَ وَيُكْرَهُ التَّنَفُّلُ قَبْلَ صَلٰوةِ الْعِيدِ

اوکوټه چی رجوع کوی پر بله لاره دی رجوع وکړی. یعنی لاړ دی بدله کړی. اومکروه دی نفل کول

فِي الْمُصَلّٰى وَالْبَيْتِ وَبَعْدَهَا فِي الْمُصَلّٰى فَقَطْ عَلٰى

اِخْتِيَارِ الْجُمْهُورِ

د مخه تر لمانځه د عیدگاه په عیدگاه کی اوپه کور کی. اوبدله لمانځه د
عیدگاه نفل مکروه دی یوازی په عیدگاه کی که کور نفل وکړی
کراهت نسته پر مختار د جمهورو علماوو. په رجوع کی پر بله لاره اقتداء ده په نبی علیه
الصلوة والسلام پسی چی هغه مبارك داعښی کوکه. اوبدل دادی چی شاهدان بی دیر سو د
عبادت. ولی هغه ځای چی سړی قربت کار په کښی وکړی په ورځ د قیامت د هغه دپاره شاهدی
اداء کوی. په حدیث شریف کی چی ستنی علیه دی راغلی دی چی علیه الصلوة والسلام به
عیدگاه ته وقت اوخلگوته بی د عیدگاه لمونځ ورکاوه. اونه ئی د مخه لمونځ کاوه اونه
ئی وروسته. اوسره دی چی علیه الصلوة والسلام پر نفلی لمونځونو دیر حریص وو لکن
قاضیخان اوصاحب التحفة په مباح بولی. څلور رکعت نفل په عیدگاه کی وروسته

تر لمانځه د عیدگاه، اوصاحب خلاصه څلور رکعته نفل پخله اختر د لمانځه مستحب بولی
وروی فیه حدیث لم یُعلم صحته» لکنه محمول علی التنفل فی البیت» قال المصنف:

وَوَقْتُ صِحَّةِ صَلٰوةِ الْعِيدِ مِنْ اِرْتِفَاعِ الشَّمْسِ قَدْرَ

اووخت د صحیح والی د لمانځه داختر د اپور ته کیدو دی د لمر په قدر د یوی نیزی یا دوو نیزو

رُمْحٍ اَوْ مُحَيِّنِ اِلٰى زَوَالِهَا

یعنی په حس البصر کی بیا تر زوال ده
لمر. ولی چی د آنحضرت صلی الله علیه
وسلم داختر لمونځ په همیشه داغه وخت کی ښه وو، اوتر دغه د مخه کی د عید گاه لمونځ وکړی
هغه داختر لمونځ نه دی بلکه حرام نفل دی» **مسئله**: مستحب ده امام له چی دلوی
اختر لمونځ دی په اول وخت کی د جواز کوی تاچه خلگ داختری وحلالیدو ته فارغ سی، اود
کشنی اختر لمونځ دی لږ ترهغه ځنډ وی. په حدیث شریف کی راغلی دی چی علیه الصلوة
والسلام وعامل ته په نجران چی نوم یه عمرو بن حزم وو داسی نوشته کړه» عَجِّلِ الاضحی
وَاَخِّرِ الْفِطْرَ» قال المصنف

وَكَيْفِيَّةُ صَلَاتِهِمَا اَنْ يَنْوِيَ صَلٰوةَ الْعِيدِ ثُمَّ يُكَبِّرُ لِلتَّحْرِيمَةِ

او کیفیت داختر و د لمانځو دواړو دادی چی نیت دی کوی د لمانځه داختر یا
لوی اختر یا کشنی اختر اوبیادی الله اکبر ووائی دپاره د شروع د لمانځه **پوه سئله**:
چی نیت کړه هم فعل د زړه دی لکن په خوله دی داسی ووائی چی زه نیت دی د لمانځه داختر
لوی یا کشنی دپاره د خدائ او مقتدی دی نیت د متابعت د امام هم کوی نو نیت لکه دنورو
لمونځو، قال المصنف:

ثُمَّ يَقْرَءُ الثَّنَاءَ ثُمَّ يُكَبِّرُ التَّكْبِيرَاتِ الزَّوَائِدَ ثَلَاثًا

اوبیادی ووائی یعنی امام اومقتدیان سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ آه. اوبیادی ووائی امام اومقتدیان
زوائد تکبیرونه دری واره،

فائده: چونکه مشروعیت د سُبحانَكَ اللّٰهُمَّ آه په اول کی دلما نخه دی نو ځکه دی تر زوائدو تکبیرو د مخه وائی. په ظاهر روایت کی. **فائده** دری واړه ویل د تکبیر مذهب دی د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه او ابی موسی اشعری رضی الله عنه وهذیفة بن الیمان رضی الله عنه او عقبة ابن عامر رضی الله عنه او عبد الله بن الزبیر رضی الله عنه او ابی هریرة رضی الله عنه او ابی مسعود الانصاری رضی الله عنه او ابی سعید الخدری رضی الله عنه او براء بن عاذب رضی الله عنه او عبد الله بن عباس رضی الله عنه او الحسن رح او ابن سیرین رح والشوری رح.

مسئله: مصنف په مراقی کی ویلی دی چی په مابین کی د هر دوو تکبیرو دی دری تکبیره قدر امام ساکت وی. فی روایة عن ابی حنیفة رح تاچه اشتباه پر خلقو رانشی چی امام څه لیری ولاړ وی. او په مابین کی د تکبیرو ذکر مسنون نسته. او که سُبحانَ الله او الحمدُ لله، او لا اله الا الله الله اکبر ووائی ډیره ده. لکن مبسوط والا وائی چی دومره تکبیرو اندازه سکوت نه دی لازم. ولی چی اصلی مقصود سکوت څخه دفع د اشتباه ده دا سکوت څخه نود سکوت اندازه په قدر دیرو والی دا زړه حرام ده. اولږ والی ده. نو شاید په سبب د دیرا زړه حرام دی وه. بالاثر درو واړو ته ضرورت وی. او شاید په وخت کی د لږ والی دا زړه حرام دوه واړه کافی وی. قال المصنف:

يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي كُلِّ مِنْهَا ثُمَّ يَتَعَوَّذُ ثُمَّ يُسَمِّ سِرًّا

اولاسونه د پورته کوی یعنی امام او مقتدیان په نیزدې هر تکبیر پیا دی اعوذ بالله آه او بسم الله آه ووائی په پټه سره. امام فقط. **مسئله:** دا رفع سُنت ده. **مسئله:** د مقتدی په داسی امام پسی ولاړ وو چی دهغه په مذهب کی رفع دیدین نه وه مقتدی دی لاسونه پورته کوی او د امام متابعت دی نه کوی. بحر رائق وظهیریة. قال المصنف:

ثُمَّ يَقْرَءُ الْفَاتِحَةَ ثُمَّ سُورَةً وَنَدْبٌ أَنْ تَكُونَ سَبِّحِ

او بیا دی سورة فاتحه الحمد لله ووائی او بیا دی یو سورة ووائی. او مستحب داده چی سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ

الْأَعْلَى ثُمَّ يَرْكَعُ فَإِذَا قَامَ لِلثَّانِيَةِ ابْتَدَأَ

الاعلی سورت ووائی اوبیادی رکوع وکړی د امام سر قوم اوبیا دی قوله سجدی ته ولاړ

بِالْبَسْمَلَةِ ثُمَّ بِالْفَاتِحَةِ ثُمَّ بِالسُّورَةِ وَنَدْبٌ أَنْ تَكُونَ

وروسته چی امام ولاړ سی دوهم رکعت د شروع دی وکړی یعنی امام کړاو په بسم الله سره اوبیا دی الحمد لله ووائی اوبیادی یو سورت ووائی. او مندوب ده چی د دوهم رکعت سورت

سُورَةُ الْغَاشِيَةِ دی، هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ، وی. **فائده:** اعوذ بالله او بسم الله کړاو ویل د امام دپاره دی. ولی چی مقتدی لږ خو قرائت نسته. **پوه سه** چی د دواړو رکعتو قرائت په جهر سره دی که څه هم دوهمی لږ وخ دی. لورود النص المتوالی من عصر النبی صلی الله علیه وسلم والصحابة والتابعین وهلم الی یومنا هذا.

فائده روایت کړی دی امام اعظم ابو حنیفه یرفعه الی النبی صلی الله علیه وسلم چی علیه الصلوٰة والسلام په اختر وکی او په وتر دجمعی کی، سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى او یا په بل رکعت کی هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ، وایه او په بل روایت کی یوازی اختر ونه یاد کړه سویدی. قال المصنف:

ثُمَّ يُكَبِّرُ التَّكْبِيرَاتِ الزَّوَائِدَ وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ فِيهَا كَمَا

فِي الْأُولَى

او بیادی امام او قوم الله اکبر ووائی دری زوائد تکبیرونه. او پورته کوی دې امام او قوم لاسونه وغوږونو ته لکه په اول رکعت کی. قال المصنف:

وَهَذَا أَوْلَى مِنْ تَقْدِيمِ تَكْبِيرَاتِ الزَّوَائِدِ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ

عَلَى الْقِرَاءَةِ

هذا اشاره ده یعنی دغه فعل چی تکبیرونه زوائد دی دری په هر رکعت کی وائی او د اول رکعت تکبیرونه دی د مخه ترقرائت وی.

او د دوهم رکعت تکبیرونه زیاتـه دی ورومسته تر قرائت وی تاچی د دواړو رکعتونو قرائت سره متصل سی یعنی اولی تردی چی زوائد تکبیرونه تردری بالا وائی نکه چی بعض مذاهبو تللی دی. اوتردی هم اولی چی د دوهم رکعت زوائد تکبیرونه ترقرائت دمخه وائی. وجه د اولویت په حدیث د ابن مسعود رضی دی چی دمخه ذکر سو، او دیر صحابه کرامو هم موافقت ورسره کړی وو»

پوهه سه: چی فقه حنفیه په اکثر مسئلو کی بناء پرحدیثو د ابن مسعود رضی ده سبب یه دا دی، چی علیه الصلوٰة والسلام د ابن مسعود رضی په شان کی دا سی فرمائیلی دی «رضیت لامتی ما رضیه ابن ام عبد» یعنی ام عبد کنیت دی د ابن مسعود رضی «یعنی زه راضی یم د امت دپاره په هغه شی یعنی په احکامو د دین چی راضی وی یه هغه سره ابن ام عبد رضی در ولیش وائی چی د دا یو لوی منقبت دی د دده رضی دپاره»

فائده: مصنف لفظ د اولی روایه ددی سبب چی په مراقی کی وائی. چی اختلاف په اولویت کی دی، نه په جواز او عدم جواز کی، په بحر رائق کی وائی چی د تکبیرو په تقدیم کی او د زوائد تکبیرو په د یرو والی کی په اولویت کی اختلاف دی»، والاخلاف فی جواز الکل» هم داسبب دی چی امام محمد چی په مؤطا کی روایات مختلفه ذکر کړی دی، ورومسته یه داویلی دی فما اخذت به حسن»، نوکه چیری په دغو روایاتو کی ناسخ او منسوخ وای نو امام محمد ذالک البحر الزاخر للاحادیث النبویه اعرف به» وای او دریم سبب چی اختلاف چی په اولویت کی دی په جواز کی نه دی، په فقه حنفی کی دا مسئله ده که حنفی سړی په داسی امام پسی اقتداء وکړی چی هغه تردری بالا تکبیرونه ویلی مقتدی دی متابعت کوی ترشپاړس تکبیرونه پوری. ولی چه دا انتهاء یی درجه ده چی په اشاروکی راغلی ده او زائد تر ۱۶ ممنوع بالیقین دی»

مسئله: که دسړی څخه اول رکعت تیر سوی وو نو دی زوائد تکبیرونه دخپل مذهب سره برابر وائی د امام د مذهب متابعت دی نه کوی. ولی چی مسبوق خومنفرد دی، اوکه دسړی څخه دبی اودسیا په سبب اخیرنی لمانځه تیر سوی وو چی لاحق په بولی هغه چی خپل تیر رکعت

او اگر څوی په تکبیرو کی مراعات د امام کوی. ولی چی لاحق خلف الامام دی حکماً،

مسئله: که مسبوق سړی یعنی چی اول رکعت څنده تیر سوی وی. نو چی دی قضاء ده تیر سوی رکعت راوړی. اول دی قرائت شروع کوی. او دخپل مذهب مخالفت وکړی یعنی چی اول رکعت د زوائد تکبیرونه ترقرائت دمخه دپی، ولی که دی یعنی مسبوق تکبیرونه د مخه ووائی نو دی رکعت تکبیرونه دهغه رکعت د تکبیرو سره یوځای کیږی چی د امام سره نیولی وو» لم یقل به احد من الصحابة فیوافق رأی الامام علی ابن ابی طالب» چی دهغه مذهب دادی چی په اول رکعت کی قرائت ترتکبیراتو دمخه دی» هذا حاصل ما فی المراقی والطحطاوی»

مسئله: که سړی ورسیدی امام ته اوهغه پر رکوع وو نو تکبیر افتتاح خوړی په ولاړی ووائی بیا نوکدده غالبه گمان داوو چی امام څرګند رانه پورته کوی نو دی زوائد تکبیرونه په ولاړی ووائی او لاسونه دی پورته کوی. اوکه خیال داوو چی رکوع راڅخه تیریږی نو دامام سره دتی رکوع کی شریک سی، او زوائد تکبیرونه دی په رکوع کی ووائی. لکن لاسونه دی نه پورته کوی. او امام ابو یوسف رحمه الله وائی چی دغه سړی دی تسبیحات تی در رکوع ووائی. ولی چی رکوع څای د تسبیحاتو دی د تکبیرنه دی او تکبیرونه په سبب د عذر څخه دی ساقط دی،

مسئله: که دغه سړی یو تکبیر د زوائدو څخه په رکوع کی ووایه او امام د رکوع څخه سر پورته کی، ده هم دستی سر د سره راپورته کوی، ولی که دی په رکوع معطل سی، د تکبیر دپاره نو خوده متابعة الامام چی فرض وو ده دواجب دپاره پریښو»

مسئله که سړی امام ته ورسیدی او امام سر راپورته کړی وو د رکوع څخه نو دی د پی تکبیرونه زوائد نه ووائی. ولی چه دی خو د رسته د دغه رکعت د قضا سره د زوائدو تکبیر اوپری» کذا فی فتح القدیر» قال المصنف:

ثُمَّ يَخْطُبُ الْإِمَامُ خُطْبَتَيْنِ يُعَلِّمُ فِيهِمَا أَحْكَامَ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

او بیا دی امام دوی خطبی وولی چی ورښیی دی په دواړو کی احکام د صدقة الفطر یعنی د سرائی

درویش وائی چی خطبی خوتبوله په عربی ژبه دی نو داخو هغه کسانو ته فائده کوی چی په عربی ژبه پوهیږی نو د پښتنو په ګټه یوکی به پښتنو ته څرنګ ښوونه وسی د دی احکامو چی الفاظ د خطبی عربی دی او پښتنو غوږ خونبولی وی لکن هیڅ سر یې نه په خلاصیږی چی امام څه وائی. او په مراقی او تبولو کتابونکی وائی چی مشروعیت د خطبو دَ غه تعلیم دپاره دی.

دَرویش وائی:

نوکه د درویش په قول څوک عمل کوی نو داسی دی وکړی: چی حَمد دپاک خدائ دی په عربی ووائی او درود دی پر علیه الصلوٰة والسلام دی هم په عربی ووائی په هره خطبه کی او بعض احکام یَا تبوله دی په اوله خطبه کی ووائی یا بعض احکام په یوه خطبه کی بعض په بله خطبه کی ووائی. نو پردی دوله به تبوله خطبه پرسنت برابره سی، **سَوال**: احکام د صدقة الفطر څوداغه پنځه دی چی تفصیلاً یې پنځل ځای کی راسی ۱ صدقه فطر پرچا واجبه ده. ۲ اوچاته به ئی ورکوی ۳ اومقدار د سر سایه څودئ! ۴ اوکله واجیږی ۵ اوپه څه سبب واجیږی نو پښتنه داده چی په بعض جامع مسجدونو کی چی په اوسنی زمانه کی چی د عیدګاه لمونځ په کښو کیږی د اسی امام ولاړ وی چی خپله پرته غوا احکامو څخه وونه وی خبر نو بَل ته به ئی څرنګ وښیی.

جَواب:

لازمده پرده چی د درویش قدوری پښتو یا داکتاب نورالایضاح پښتو دی وګوری اوزده دی کړی. اوبیادی خلګوته بیان کی. لکن سره د تبولو هغو خبرو، په بحر رائق کی دیره په زړه پوری خبره کړیده. دی وائی چی چونکه علم دین امانت دی پرغاړه د علماوو نو باید چی خطیباه بلکه نه وایم چی د مسجدو امامان یوه هفته د مخه ترکښی اختر اویوه هفته د مخه ترلوی اختر دی په ښوونه د احکامو د صدقة الفطر اوپه احکامو د اضحیه او تکبیرات التشریق په مکره وختو کی په ښوونه لاس پوری کی. ولی چی عوام په یوه واړه احکام دینیه نه سی زده کولای. ولی چی مندوب په صدقة الفطر کی خوا د اختر نه ترخروج د عیدګاه نه ده. نو چی د مخه نه سی خبر او د عیدګاه په خطبه کی خبر سی. نو هغه مندوب څیه دلاسه ورکړی اوبله خبره داده چی تکبیرونه د تشریق د عرفات په ورځ شروع کیږی نو د لوی اختر د عیدګاه

په خطبه کی زده کړه څه فائده لری، او د غه په باب کی د صدقة الفطر به راسی ان شاءَ الله چی علیه الصلوٰة والسلام به دوی وَرځی تر اختر د مخه خلګوته احکام د صدقة الفطر وښوول،

مسئله: د اختر و د دو خطبو په مابین کی هم لکه د جمعی امام جلسه خفیفه کوی.

مسئله: د اختر و په خطبو کی د الله اکبر وائی او په ظاهر الروایة کی عدد معین تکبیرونو د پاره نه دی راغلی، لکن د اسی به هم نه کوی چی اکثر خطبه به تکبیرونه وی. لکن په خطبه کی د لوی اختر د تکبیرونو د پاره وائی ترکچنی اختر ترخطبو. او خطیب دی په هره خطبه شروع په حمد د خدای جل شانه کوی بیا له بسم الله وسیلوه مراقی الفلاح، قَالَ المُصنف:

وَمَنْ فَاتَتْهُ الصَّلوٰةُ مَعَ الإِمَامِ لَا يَقْضِيهَا

هغه څوک چی د ده څخه فوت سی هغه لمونځ چی د وبه د امام سره کاوه یعنی د اختر لمونځ امام اداء کړی او دی نه وروسته ورسیږی بلکه د ده څخه فوت شو. نو د غه سړی به د هغه لمانځه قضاء نه راوړی یعنی یوازی به ئی نه کوی، ولی چی په جماعت د اختر لمونځ کول خپل شرطونه لری، چی بیله امامه نه ترسره کیږی. او یا بیله نائب د امام، نو انفرادی د اختر لمونځ څرنګ جوازلری! نو د غه سړی چی د اختر لمونځ څنګه تیر سو اختیار لری که کوربته یی او که په غیر د عیدګاه کی نفل کوی، او افضل داده چی څلور رکعت نفل دی وکړی چی د څابښت د لمانځه په ځای کی به هم وویل سی، د ابن مسعود څخه روایت دی چی که چاته اختر لمونځ تیر سو نو څلور رکعته نفل دی وکړی. په اول رکعت کی دی سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، ووائی. او په دوهم رکعت کی دی وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا، ووائی او د مابین په ناسته کی التحیات سره د درود ووائی. او دریم رکعت ته چی ولاړسو سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ دی ووائی او تر اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وروسته دی وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى، ووائی او په څلورم رکعت کی دی وَالضُّحَى ووائی، او ابن مسعود د د غه لمانځه په باره کی د علیه الصلوٰة والسلام څخه روایت د وعدا جمیلا او ثواب جزیل کړی دی،

دَرویش وائی: د د غه سی لمانځه په وخت کی د ښه ارتفاع الشمس دیر ثوابونه منقول دی چی اهل تجربه د علماوو او اولیاءُ وائی که څوک د ضیق الرزق څخه بیرین ی نو صلوٰة الضحیٰ په

ترتیب مذکوره دی دلاسه نه باسی. اوکه څوك دعذاب القبر اواهوالو څخه دقیامت بیریږی نودتهجد لمونځ دی همیشه کوی الامن عذر» قال المصنف:

وَتُؤَخَّرُ لِعُذْرٍ إِلَى الْغَدِّ فَقَطْ

اوځنډ وَل کیږی دکشنی اختر لمونځ په سبب دعذر ترصبا پورې نه بالا **پوه سه**: چې یوه عذر وشخه دادی چې په مابنام کې میاشت ونه لیدل سوه اوبیله زواله خلګوشاهدی اداء کړه چې موږ مابنام میاشت ولیدل (رولیش وَلائی): چې هغه عذر چې مَراقی بیان کړی دی. چې خلګود عیدګاه لمونځ وکړی لکن شدید اوریخ وه. وروسته داور معلومه سوه چې دعیدګاه لمونځ تر زوال اداء سُو. داعذر په پخوانی زمانه کې متصور وو لکن په اوسنی زمانه کې داعذر هیڅ صورت نلري. ولې چې دهرسرې سره ساعت لمر په وُرَیځ کې پټ وي. قال المصنف:

وَأَحْكَامُ الضَّحَى كَالْفِطْرِ لَكِنَّهُ يُؤَخِّرُ الْأَكْلَ عَنِ الصَّلٰوةِ وَ

اواحکام دلوی اختر داسی دی لکه دکشنی اختر لکن دافرق دی چې خوړل دی وروسته کوی تر لمانځه

يُكَبِّرُ فِي الطَّرِيقِ جَهْرًا

او تکبیرونه دی وائی په لاره کې په زوره سره

پوه سه: چې ځنډ وَل داکل اوداغه رنګ دشرب وغیره چې منافی وی دروژې نه مستحب دی. لکن دسپیدو څخه تر عیدګاه پورې «پسه مراقی کې وائی کې دځنډ خوړلك وکړی مکروه نه دی، یعنی مکروه تحریمی» په حدیث شریف کې راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام به دلوی اختر په وَرځ خوړلك نه کاوه چې دعیدګاه څخه به راغلی داختری غوښی به ئې خوړلې» اودی حدیث دسببه په بعض کتابونو کې وائی چې داتاخیر الاکل دهغه چا پاره مندوب دی چې هغه اضحیه کوی» قیل هوالمختار» لکن په زاهدی کې وائی چې په اخبارو کې دصحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم داسی راغلی دی چې دوی به کچنی هلکان هم دخوړلك څخه منع کوله. اوحتی چې شیر خوړه

کښیان بې هم درضاع څخه منع کوله په وړځ دلوی اختر دا ځکه پورې «
دروليش وَلائی چې دوغو اخبارو تصحیح چا نه ده کړې والله اعلم **مسئله**: دالمسالك روژه نه ده کما یتوهمه العوام» نوځکه نیت دروژې نه غواړي. اوپرهغه چا دا مسالك جاري دی چې په ښارکې وی یعنی چې هلته دعیدګاه لمونځ کیږی» مصنف وائی چې دلوی اختر په وړځ چې عیدګاه ته ځی الله اکبر دی په زوره وائی لکن دا مستحب دی لفعل النبی صلی الله علیه وسلم ذالك»

مسئله: تکبیر په زوره ویل سُنت دی مګر په دغو وړځو کې مګر ښځه مخامخ والې دد ښځه سره یا دغلو سره هم الله اکبر په زوره ویل مندوب دی» کذا نقل الامام الطحطاوی عن الزاهدی» قال المصنف:

وَيُعْلِمُ الْأُضْحِيَّةَ وَتَكْبِيرَ التَّشْرِيقِ فِي الْخُطْبَةِ

اوور ښیي دی امام دعیدګاه دضحیه احکام اوتکبیرونه دتشریق دا ضحیه احکام چې وروسته به راسی إن شاء الله دادی» چې اضحیه پرچا واجبه ده - اود څه سببه دا واجبیږي. اود اضحیه عمراوسن به څومره وي، اووخت دذبح کلمه دی. اوذابح به څوك وی اوحکم دخوړلك یه څه دی، اوغوښه به څیرا توپ اوغونه به ذخیره کوی **پوه سه**: چې تشریق په لغت کې وچولوته دغوښو وائی په لږه لږه لکه چې عادت دعربو وو په پخوانی زمانه کې یعنی غوښې به ئې ترې ترې کړې اوپر ډبو بې واچولې. نودوی دافعل پر یوولسم دوولسم دیارلسم کاوه. نودادری ایام تشریق بولي. اودا ضحیه دذبح وړځې هم دری دی لسم یوولسم دوولسم نوټولو ځلور وړځې کیږی. نوداختر وړځ یوالنحر بولي یوم التشریق یه نه بولی که څه هم تکبیرونه په کښې ویل کیږی، اوځلرم وړځ فقط یوم التشریق اود اختری ذبح نه ده پکښې روا، اودمابین دوی وړځې هم ایام النحر دی اوهم ایام التشریق دی» ط، م»

اللهم اغفرلمولف، ولکاتبه، ولمن سعیٰ فیه امین

قال المصنف **وتؤخر بعذر إلى ثلثة أيام والتعريف ليس بشئ**

اوځنډول کیږي دلوی اختر لمونځ په سبب د عذر، تردد او ورځو پوری، اومشابهت کول په نورو وطنو کی دهغه کسانو سره چې پرعرفات ولاړ وی هیڅ شی نه دی، یعنی نه واجب دی اوه سنت دی اوینه مستحب بلکه مکروه دی پرصحیح مذهب ولې چې دا اختراع ده په دین کی، «ر اوامام طحطاوی وائی چې دظاهر څخه د روایا تو دا معلومیږی چې مکروه تحریمی دی، ولې چې دوقوف قربت اوثواب په هغه مکان مخصوص پوری اړه لری چې دعرفات ذکر دی نکه طواف چې دبیت الله شریف خاصه ده نو پرنبل ځای نکه یومسجد اویا قبر دیوولی طواف کول حرام دی نکه شیعه گان چې پرقبر دامام رضا کوی، بلکه په کافی کی وائی چې پرنبل ځای سوی د کعبة الله کې څوك طواف وکړی بیره دکفر باندی ستنه» قال المصنف

ويجب تكبير التشريق من بعد فجر عرفة إلى عصر العيد

اووا جب دی تکبیر تشریق پراختیار د اکثرو علماؤ اوبعض فقهاء وائی چې سنت دی اود غږ ژ

مرة فور كل فرض أدى بجماعة مستحبة على إمام

جهر یې هم واجب اوشروع دی د تکبیر وروسته ترلمانځه دعرفات دوړځې کیږی دمازدیگر ترلمانځه پوری مازدیگر دوړځه اتمه یعنی تردغه مازدیگر وروسته بوهم وائی چې مجموع اته لمونځه کیږی پیوار متصل په فرض لمانځه پس، نود

مقيم بمصر وعلى من اقتدى به ولو كان مسافرا أو

جمعی لمونځ هم په کښی داخل دی اونفل اووتر اودجنازی لمونځ اوداختر و لمونځونه خارج دی» چې دغه

رفيقا أو أنثى عند أبي حنيفة رحمه الله

چې دغه فرضی لمونځ په جماعت سره ادا وسی. نومنفرد ووتی پرهغه واجب نه دی. اوداتکبیر واجب دی پرامام چې مقیم وی په نبار کی نو پرمسافر اویا مقیم دقریه باندی ستنه. اوداغږ رنگه واجب دی داتکبیر

پرهغه چا چې اقتداء یې کړی وی په دغه امام پسی، که څوك د مقتدی مسافر وی اویا مرد وی اویا ښځه وی. **فائده**. بعض فقهاءؒ وائی چې تکبیر واجب دی اوجهر یې سنت دی والفتوی علی وجوب کل من التکبیر والجهر **پوه سه**: چې که د دغو ۸ لمونځو کی یو څوك د قضا سوی وو، دهغه ترقضائی کولو وروسته هم تکبیر واجب دی»، مر، اودغه جماعت به هم مستحب وی. په دی سره د بنځو جماعت خارج شو»

فوائد د «مقیم» په قید کی احتراز د مذهب څخه د امام شافعیؒ چې هغه وائی چې تکبیر به درجب نه وی او نه وائی. اوپه قید کی دفور، اشاره ودې ته ده چې څرنگه چې سلام وگرځاوه دستی به تکبیر وائی. نوکه سړی وروسته ترلمانځه په زوره وخندل اویا یې په قصد اودس مات کړی اویا یې خبری وکړی که څوك په سهو سره وی اویا د مسجده ووتی بیا دی تکبیر نه وائی اوجهر په تکبیر سره یوازی د درود پاره دی ښځی به ئی کوار کرار وائی چې آواز د دی عورت دی، یعنی په معنی لغوی چې عورت په لغت کی عیب ته وائی طحطاوی»

تفريع نوهغه چې بعض ملایان وائی چې عورت دا معناده چې اوږی لاس دی غلط خبره ده نعم د ښځی بیگانه چې ځره نه وی خبری کول یې مفضی وفتنی ته گرځی کله کله» نواحتراز کندی لازم دی. اوکه د سړی څخه اول د لمانځه د امام تیر سوی وی، هغه چې لمونځ پوره کړی تکبیر به وائی. **مسئله**: که سړی محرم وو، ترلمانځه وروسته به تلبیه وائی ولې چې تلبیه کلام اجنبی دی» په بحر، البق اوکافی وائی که پرسړی سجده سهوه لازمه سوی وه، نو اول به سجده سهوه کوی ولې چې هغه په تحریمه کی د لمانځه داخله ده اووروسته دی تکبیر تشریق وائی ولې هغه اتصال په لمانځه پوری لازم دی. اووروسته دی تلبیه وائی که سړی محرم وو. نوکه دی سړی اول، تلبیه وویل سجده سهوه او تکبیر څندی ساقط سوه. ولې چې تلبیه خبری دی لمونځ په قطع سو، نوسجده سهوه نه سی کولای. او اتصال د لمانځه هم باطل سو، نو تکبیر هم نسی ویلای. اوکی پس له سلامه تکبیر ووایه سجده سهوه دی وکړی ولې چې په تکبیر سره لمونځ نه قطع کیږی»

وقد كتبه بقلمه جعفر الوري فضل حق حقاني غفرله من تلامذ حضرة الوري مدظله.

قال المصنف **وقالا يجب فور كل فرض على من صلاها ولو**

اویارانو وائی واجبیږی دا تکبیر متصل په هر فرضی لمانځه پسی. پرهرهغه چاچی لمونځ یه وکړی که نهم

منفردا او مسافرا او قرويا الى عصر الخامسة

یوازی لمونځ وکړی، او یا مسافر وی او یا قریه والا وی. بیا تر مازدیګره پورې دپنځمی ورځی دعرفات

من يوم عرفة دورځی څخه چی مجموع یه ۲۳ لمونځه کیږی» قال المصنف

وبه يعمل وعليه الفتوى اوپرمذهب دیارانو عمل کیږی اوفتوی د علماوو هم پرمذهب دیارانو ده. دلیل یه دادی چی عمل پـه هغه عبادت چی پرده واجب نه وی، اولی دی تر ترک دهغه عبادت چی بعض کسان وائی چی پرده واجب دی، یعنی امام اعظم خووائی چی تر ۲ لمونځو وروسته تکبیر پرسر ی واجب نه دی، داسی خونه وائی چی نه بی وائی، اویارانو وائی چی ۲۳ لمونځو پوری تکبیر واجب دی نواحتیاط په قول کی دیارانو دی»

سوال: څرنګه رواده چی پرخلاف دقول د صاحب المذهب څوك فتوی ورکوی **جواب** په حاوی قدسی کی وائی چی دامام اعظم اودیارانو چی اختلاف ړ اسی نواعتبار قوت لره ده دلیل دی. اویا هر قول چی یارانو یه مختار ګړی هغه هم ړ روایت دامام اعظم څخه دی لکن ده رجوع څنډی کړی وی،، ط، در، **مسئله**: کړد امام تکبیر په پوه لمانځه کی هیر سو نو مقتدی بی وجوبا وائی. تاچه د امام به هم وړ پیاد سی،

حكايت امام محمد وائی چی په پوه لمانځه کی دورځو د تشریق امام ابویوسف امامو اوامام اعظم اقتداء لپسی کړی وه. پیـله سلامه دامام ابویوسف تکبیرد تشریق هیرسو. نوامام اعظم فورا تکبیر ووایه» قال المصنف

ولا بأس بالتكبير عقب صلوات العيدين اوپر واخته په تکبیر وئیلوکی د اختر و تر لمونځو وروسته یعنی که

غم دادوه داختر و لمونځونه واجب دی اود واجب لمانځه وروسته تکبیر نه دی واجب لکن کی څوك ووائی پرواه نه لری **فائدة**؟ امام طحطاوی دفتاواظهیریه څخه داسی نقل کړی چی فقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چی زمونږ مشائخو به خلګوته اجازه ورکوله چی تکبیر تشریق په دغو ورځو کی په بازارو کی هم وائی بلکه داختر په لسو ورځو کی» کما فی البحر» اوپه درایه کی وائی چی یوچاد امام اعظم څخه پوښتنه وکړه چی ایا اهل کوفه اودبل ځای خلق په ورځو کی دتشریق په مساجدو کی اوبازارو کی تکبیر وئه وائی... قال نعم» درویش وائی چی زمونږ په گران هیواد کی افغانستان، اودغرنګه په پاکستان کی رواج دتکبیرو په بازارو کی نشته. شاید وجه بی داوی چی دغه روایت په صحیح ثبوت ته نه وی رسیدلی» قال المصنف:

والتكبير أن يقول الله أكبر الله أكبر لا إله إلا الله

اوتکبیر داوی چی ووائی الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله لوی دی الله اکبر الله اکبر الله لوی دی. نشته هیڅ معبود برحق د الله څخه

والله أكبر الله أكبر ولله الحمد ماسوا الله لوی دی الله لوی دی اوخدای لره دی حمد اوثنا وی. په مراقی کی مصنف داسی حدیث ړ انقل کړی دی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم چی دسحار لمونځ دورځی دعرفات په ځای ادا کړی نوبی مخ مبارک واصحابو کرامو ته واوګرځاوه. اوداسی به ئی ویله: خیرما قلناوقالت الانبیاء قبلنا فی یومنا هذا الله اکبر ترپایه پوری **درویش وائی**: چی هغه خبره چی مولوی اعزازعلی دعنایه څخه نقل کړی ده چی د تکبیر د حضرت سیدنا ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام چی څپل زوی حضرت اسمعیل ئیه قربانی کاوه. اودی وائی چی څه وخت چی ابراهیم علیه السلام وذبح ته زوی اماده سواو ستړګی پټی وی. نوجبرئیل علیه السلام اول وار وویل الله اکبر الله اکبر» نوابراهیم علیه السلام چی ولیدی چی دقربانی په ځای جبرئیل علیه السلام راوستی نویه داسی ووئیل لا اله الا الله والله اکبر» نواسمعیل علیه السلام چی پوه سو چی د ذبح خلاص سوی نویه ووئیل

اَللّٰهُ اَکْبَر وَ لِلّٰه الْحَمْد» نږه وایم دغه قصه د مخنی حدیث سره موافقت نه لری. ولی چې حدیث شریف داسی عبارت دی «الانبیاء قبلنا» نو خو دی کلماتو تخصیص په ابراهیم علیه السلام اوده په نړۍ پوری نشته» وَاللّٰهُ اَعْلَم بِالصَّوَاب.

مسئله مړ واۍ چې پرده غو کلماتو داسی کلمات یا لاکول پروانه لری، وَاللّٰهُ اَکْبَر کَبِیْرًا وَالْحَمْد لِلّٰهِ کَثِیْرًا، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُکْرَةً وَاَصِیْلًا، لَا اِلٰه اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ وَصَدَقَ وَعْدَهٗ وَنَصَرَ عَبْدَهٗ وَاَعَزَّ جُنْدَهٗ. وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهٗ، لَا اِلٰه اِلَّا اللّٰه وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِیَّاهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْن، وَلَوْ کَرِهَ الْکَافِرُوْنَ، درویش باګناه عبدالرسول وائی چې خه وخت چې دا نوشته ودی ګمای ته راورسیده. نو دا هغه وخت وو چې د دنیا لوی ستر قدرت یعنی امریکا د ګټې د صدارت په وخت کې یوه وړځ د مخه د جاپان د بندرګاه څخه خپل دریابی بیړۍ یعنې چې د طیارو او د سلاحو څخه ډکه وه د پاره د حملې پرغریب وطن او ملک چې ۲۲ کاله نور جنګ ځپلی وو پرمړ اسامه بن لادن چې عرب الاصل دی او په افغانستان کې دی او د روسانو سره چې پر افغانستان یې قبضه کړې وه د لوی مجاهد په توګه سره وځنډه اخستې وه. راروان کړی وه، او د امریکا سره انګریزانو، پرانسویانو، جاپانیانو، جرمنیانو، او استرلیا، او هندوستان وغیرها من ممالک الکفر» هم موافقه ورسره کړې وه حتی بعض اسلامی هیوادونو لکه پاکستان هم موافقه ورسره کړیده. او امریکایانو ته یې د خپل فضائی طیارو د میدانونو څخه وامریکایانو ته اجازه د حملې پر افغانستان باندې ورکړه».

پوښتنه: پاکستان په وخت کې د بیړغل د روسانو پر افغانستان د افغانستان د خلکو د پرمادی او معنوی مرستې په داخل کې د افغانستان او د مهاجرینو سره چې په پاکستان کې مشته وه هم هر ډول کومک کاوه، او تر اوسه پورې تخمینًا دوه میلیونه د افغانستان خلک مهاجرین په پاکستان کې موجود دی. نو اوس ولې بیا پاکستان او امریکا ته خپل د ملک د میدانونو څخه د افغانستان پر بیچاره خلکو اجازه د فضائی حملو ورکړه.

جواب د اوس وخت فوجی مشر جنرال مشرف خو پخپله بیا نیه کې داسی وویله چې نه محبوره یم بیله اجازې ورکولو بله لار نه لرم، شاید هغه اسباب به ډیر ته معلوم وي

پوښتنه: امریکایانو خو هم په وخت کې د ډیر غل د شوروی پر افغانستان د پرې او ترهر ملک د پرې مرستې د افغانستان سره کولې او قسم قسم سپکې او درنې وسلې یه د افغانستان ته لیږلې. او د پاکستان او د مهاجرینو سره د افغانستان یه هم ترهر ملک د پرې مرستې کولې. نو اوس بیا ولې د افغانستان دښمن سو. او د جنګ او حملو اعلانونه ورته کوي او جنګي طیارې او توپونه او میزائلونه په بحري بیړیو راروان کړي دي؟.

جواب: په هغه وخت کې شوروی اتحاد پرځپل ټوله قوت باقی وو، او امریکا بلکه ټوله غربیان ملکونه ځندی بیریدل، حتی پاکستان هم. چې شوروی افغانستان اشغال کی او تخمینًا یو لک فوج مجهز په جنګي مهماتو سره د افغانستان ته راواستاوه. او جنګي طیارې حاصل دا چې ټوله وسائل د جنګ یه په افغانستان کې سره ګمای کړې. امریکایان بالخصوص او ټوله غربیان بالعموم د بیړۍ سرپې ټبې واخستلې، نو یه د افغانستان خلک د روسانو نوم څخه په ډول د سپرد توري د سخته په کار واچول، هغه ووچې خدای جل سلطانه په توفیق او د افغانستان د سرښندلو باشهامته مسلمانانو په واسطه شوروي یانو بیله ذلته د افغانستان څخه بله چاره ونه لیده. او د افغانستان څخه ناکام او نامراده مخته وړتی. علاوه پر هغه خدای جل سلطانه د روسانو د سرو څخه هغه کبر او لوئی چې دوی به په اتحاد شوروی سره به ئې کاوه د دماغو څخه د دوی یووړه. ولې چې اتحاد شوروی ولړ د پرې وپې کې. او روسان یه الګ ټلګ پرې بنوولې.

نو د اوخت راورسیدی د امریکایانو او غربیانو سره تبه وشکیدل او د راحت ساه یه وکښل تر دی وروسته برای نام مرسته یه په داخل د افغانستان او د مهاجرینو سره کوله. او په سلو کې ۹۵ مرستې په ټپه ودره ولې» وروسته پر افغانستان باندې د خپلو حزبي لیډرانو د لاسه قسم قسم مصائب نازل سوه. چې تفصیل یه هرچا ته معلوم دی وروسته خدای جل سلطانه پر افغانستان د دینوطالبانو په پیره چې حکومت مسلط کړی. چې په دې لږ وخت کې د افغانستان پر ۹۵ فی صده ترخپلې ولکې لاندې راوستل. او طالبانو سمدلاسه د حقیقی شریعت نبوی ﷺ پخپل مملکت کې اعلان وکړی یعنی، قصاص، حد زنا، حد سرقه،

وغیره، او امنیت کامل یه په کامل افغانستان کی پیاده کی، نو امریکا یانو او غربیانو چی
دا کارنامی د طالبانو ولیدی لاس د کومک خو یه بیخی ځندی تول کړ. بلکه پر ضد د
طالبانو د امارت پر پروپیګنډی شروع کړی، او په دی فکر کی سوله چی دا حکومت اسلامی
د مابین یوسی، ولی چی کفارو ته د تاریخ په پاڼو کی دا ثابته ده چی اسلام چی پر خپل
ماهیت او حقیقت باقی هیڅ ابر قدرت ور سره مقابله نسی کولای، او امریکایانو
دیر د الرونه په کار واچوله اود افغانستان وخلګوته ئی توزیع کړه چی تاسی پر ضد د
طالبانو د حکومت اسلامی پروپاګنده او کوشش شروع کړی، د دی شاهد هغه دهماکه لږوړ
وه چی د ملا محمد عمر د پخوانی کور پر سر ډاندی وسوه. او څوکسه په کښی شهیدان
سوه داد هماکه خو مستقیماً امریکایانو نه کړی، بلکه د هغو حلقه ګوشه غلامانو د
الرو په زور وکړه. او د غه رنګه نوری ګډوډی په امارت اسلامی افغانستان کی د امریکائی
د الرو په واسطه سوی دی او هم به کیږی. لکن دا پالیسی د امریکایانو تر اوسه نه دی
کامیابه سوی او ان شاء الله کامیابه به هم نه سی، د الربه مفت تاوانیږی مزدوران
په رڼا کی د واغود امریکا څخه د الرتلاسه کوی. د دی مزدورانو سره د اسلام غم
سته او نه د افغانستان بلکه د دوی کار د د الروسره دی.

بیا په اوس وروځو کی یعنی هفته دوی د مخه پر امریکایانو یوه حیرت انګیزه حمله وسوه
چی د یر خلګ په کښی مړه او یا ژوبل سوله او د یری غټی وډانی د امریکا د لویو دوو بناړو
پر کښی ویرانی سوی چی د رادیو ګانو د لاری او اخبارا تو د لاری. جهانیان د تولو په خبر دی
نو په حقیقت کی خو خدای په خبر دی چی د اسی منظمی حملی په لږ وخت د امریکا پر
لویو بناړو وچا به کړی وی. لکن امریکایان که د دغو حملو عامل پیژنی او که نه! خو دی
حملو یا ړه د اسامه بن لادن چی ستر مجاهد دی. او د شوروی یانو سره د جهاد د وخته
څخه په افغانستان کی د مهاجرت ژوند تیره وی پر اوږو واچاوه. او د امارت اسلامی
افغانستان څخه یې غوښتنه وکړه چی د اسامه بن لادن سره د ملګرو دی و امریکا ته وسپاری
چی دوی به محاکمه کړی، د ولت اسلامی افغانستان د امریکا څخه طلب وکړی چی پر جهانی

سطح دی امریکا د دی ثبوت پیش کړی نو موږ به غوږ په کښی وکړو. خو امریکایان
چی د دی د ثبوت څخه عاجزه سوه. نو د غرور او تکبر څخه یې کار واخستی چی نه موږ سره
ثبوت سته هر و مرو به اسامه بن لادن موږ ته پلاس ر اکوی طالبانو د دی
مطالبه رد کړه. نو باعث سو چی امریکا د جنګ او حملی ته ځان او فوجونه تیار سی کړه، چی
دا اوس هم په حال کی د حرکت دی،

پوښتنه آیا امریکایان به د احمله وکړی او که نه! **جواب**: الله ﷻ
وهو علام الغیوب لکن امریکایان که په سنه غور تاریخ د افغانستان
مطالعه کړی حمله به و نه کړی. ولی چی یو شاعر وائی ؎

د رود مرغ سوی دانه پراز ؛ چو دیګر مرغ بیند اندر بند ؛ پند گیر از مصایب دیګران ؛ تا نګیرند دیګران ز تو پند ؛

غرض د روښانه ده: چی امریکایان دی پند واخلی د درو پیښو څخه د افغانستان یوه
پیښه خو دا نږدی حمله د روسانوده چی پر افغانستان یه وکړه. او څپل تول توان او طاقت
او فوج او سلاح یه په کار واچول خو بیا هم امریکایانو روسان ولیدل چی ناکامه سوه او د
افغانستان څخه پر و تلو مجبور سول او ولاړل.

بله پیښه د انګریزانو وه چی په طاقت تر امریکا یانو دیر بالاوه. او د دوی په سلطنت
کی لمر نه لویدی او په عین حال کی پر لویه وچه د هند د دوی سامراجیت وو. چی یو
سر حد د افغانستان سره یو چمن وو او بل سر حد یه تور خم وو، اول وار چی انګریزانو
پر افغانستان یرغل وکړی. خو یه افغانستان یه فوجونه ننوتل او تر کشکنخود
(میوند) پوری ولاړه. او د هغه ځایه څخه افغانانو په زړه تورو او په لوړو دوی ته
شکست ور کړی. او دیر فوجیان د دوی پرځای یه مردار کړه. بالاخیر مجبور د یه افغانستان
پری سنو او یخ تورې وتل، څوکاله وروسته بیا خیال فاسد د افغانستان د قبضی
کولو په دماغ کی پیدا سو حتی چی پر سپین بولدک یه حمله وکړه چی د دوی فوجی
مشر د انګریزانو ته داوعده ور کړی وه چی په درې ساعته کی د قندهار نیسم. هغوو
چی په سپین بولدک کی د (۱۰۰۰) کسه په شاوخوا کی عسکر د افغانستان موجود وه.

درې ورځې د غوسلو عسکرو ددوی مقاومت وکړی اود بولدلک بیخې کشنی بازار انګیرلم فتح ښکاره کړی په دې وخت کې امان الله خان پاد شاه د افغانستان وو، هغه دعوه د استقلال وکړه. اوانګریزان یې ودې ته مجبور کړه چې د افغانستان استقلال رسمًا وپیژني بلکه ټولې نړۍ د افغانستان استقلال په رسمیت وپیژندی، تردې اوسه پورې،،

اوس نو امریکایان که ددې درو واقعو څخه پند د اخلی خو پر افغانستان دې دحملې فکر سره و باسي. بیرته دې خپل وطن ته ولاړسي، اوکه پند نه اخلی نو دوی دې هم څانونه تجربه کړی چې دوی خپل بد حشر په ستر ګو وویني، دوی یعنی امریکایان والې چې مونږ په نړۍ ټولو کې دهشت ګردی خټه وو، زه وایم چې اول لوی، دهشت ګرد په نړۍ کې تاسی یاست اوتر تاسو ورو سته لوی دهشت ګردان اسرائیل دی چې تاسی یې هم حمایت کوی نوکه تاسې دهشت ګردی خټوی ترټولو لمخ اسرائیل د مابین یوسی اود فلسطین مستقل حکومت په رسمیت وپیژنی، مطلب اوحاصل دادی چې هر مملکت چې امریکا ته لاس پرنامه ولاړ وی هغه دهشت ګرد نه دی، اوچې د امریکا چاپه برداری نه کوی هغه مملکت دهشت ګرد دی.

والله المستعان علی هذه المصائب الواردة علی المسلمین.

د ولیش والې چې د اخوخبری په طور د جُمَل معترضه وو په مناسبت د اخیری تبیهات التشریق ذکر سوی اوس بیرته د شرحې ته د نور الایضاح رجوع کوم، قال المُصنف،

خو د حبر انشیا خبره ده: چې زه فضل الحق حقانی چې د دې کتاب لیکونکی یم اود حضرت ایوبي د شاګرد انو څخه یم. څه وخت چې بیا دا کتاب ماته د لیکلو لپاره راکړل سو، نو هغسې امریکا او اتحادیانو علیهم لعنة الله إلی یوم الدین، پر مظلوم افغانستان باندې حمله وکړه. او د دې جهاني اوعالمي دهشت ګردی مرتکب سو، او دنیا والو ټولو کافرانو دې اوکه ضعیف الایمانه مسلمانانو دې تماشه بینه وښه ناست دی اوخپل سیلونه کوی چې د افغان مجاهدانو لس سره څه کیږی. رب العلمین دې د دې مظلوم اولس ناصر او مددګار سی امین.

باب صلوة الکسوف والخسوف والافزاع

باب ثابت دی په بیان کې د لمانځه د کسوف د لمر او د خسوف د سپوږمی، او د لمانځه د ډیرې درولیش والې: که څه هم اهل لغت کسوف او خسوف په یوه معنی بولي: وهو ذهاب الضوء من کل منهما ای الشمس و القمر کما قال الازهری والجوهری وابن الفارس، او په احادیثو مبارکه وو کې دواړه لفظه په هریوه کې د لمر د تورېدو او د سپوږمی د تورېدو لپاره مستعمل سوی دی. لکن په عرف کې فقه شریفه کسوف په لمر کې مستعملوی او خسوف په سپوږمی کې، او صاحب قاموس والې چې خسوف ذهاب د نور بعض د لمر او سپوږمی ته وائی. او کسوف په لمر کې مستعملیږی او ذهاب د ټولو نورو دی کر د لمر وی اوکه د سپوږمی،

پوه سه چې کسف مصدر متعدی دی باب یه ضَرَبَ یَضْرِبُ دی، کما یقال کَسَفَ اللهُ الشمسَ کسفًا. او کسوف مصدر لازمی دی باب یه جَلَسَ دی. یقال کسفت الشمس کسوفًا وعلی هذا فقس الخسوف، چونکه مقصود دلته بیان د حال د لمر او سپوږمی وو نو ځکه مصنف لفظ د کسوف او خسوف وړایه،

فائده: د کسوف لمونځ سنت دی په نیز د جمهورو علماوو په جماعت مخصوصه سره بیله اذانه او اقامت، او بعض فقهاء والې چې واجب دی کذا فی فتح القدیر

فائده: په بخاری شریف او نورو کتابونو کې د حدیثو راځی چې د اهل جاهلیت د اعقیده وه چې لمر یا سپوږمی چې تورېږی په سبب د مرګ د یوه عظیم شخصیت په عالم کې اویا په سبب د لوی شخصیت د پیدا والی یعنی زېږېدو. لکن آنحضرت صلی الله علیه وسلم د اعقیده رد کړه. او دا سې وفرمایلیله، ان الشمس والقمر لا ینکسفان لموت احدٍ ولا لحیوته لکنهما آیتان من آیات الله یُرِیکُم ذالک فافزعوا الی الصلوٰة او کما قال،

پوه سه: چې افزاع جمع د فزع ده معنا یې ده لکه، زلزله، سخت طوفان، یا دوږۍ لویه تاریکه، نو عطف د افزاع پر کسوف او خسوف عطف د عام دی پر خاص. ولې چې نور د شمس په ظلمت بدل سو اویا کامل نور

دسپونږی په تا ړیکه بدل سی طبعًا د خلګو په زړو کی خوف اوهراس پیدا کیږی: قال
الله تعالی وَمَا نُرْسِلُ بِالْآيَاتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ۞

فائده: هروخت چی پرمسلمانانو یوه واقعه دبیړی راسی یعنی ماسوا دکسوف
اوخسوف څخه لمونځونه کول په انفرادی توګه مستحب دی، کذا قال الامام الطحطاوی
قال المصنف

سُنَّ رَكْعَتَانِ كَهَيْئَةِ النَّفْلِ لِلْكُسُوفِ بِإِمَامٍ

سنت ګنړل سوی دی دوه رکعته (دابیان داقل مرتبی دی اوکه بالاکوی هم ښه دی) اوافضل څلور رکعته دی
اوداوه رکعته به پر ډول د نفلو کوی یعنی په اوقات مکروهه کی بی نه کوی. کذا فی الحولاء

الْجُمُعَةِ أَوْ مَأْمُورِ السُّلْطَانِ بِلَا أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ وَلَا

دپاره دکسوف په امام پسی جمعی اویا هغه څوک چی دسلطان مامور وی. بیله اذانه او اقامته او بیله جهره

جَهْرٍ وَلَا خُطْبَةٍ بَلْ يُنَادِي الصَّلٰوةُ جَامِعَةٌ وَسُنَّ

په قرائت سره لکن په نیز د امام اعظم، اویا ران وائی چی قرائت دی په زوره وائی، اونه به خطبه وائی په اتفاق

تَطْوِيلُهُمَا وَتَطْوِيلُ رُكُوعِهِمَا وَسُجُودِهِمَا

سره زمونږ دائمه وکړی، الصلوة جامعة، اوسنت ګنړل سوی دی اوږد ول د دغو دوو رکعتو په اوږد والی د
قرائت اود هغوی دعاګانو چی خاص په نفلو کی روا وی، اوهمدارنګه اوږد ول د رکوع او
سجود د دغو دوو رکعتو، اوبعض فقهاء وائی چی قرائت دی لنډ وائی تاچی دعاګانو
فارغه سی،

د روښانه وائی: چی اصل مقصود خو اشتغال دوخت دکسوف دی په لمانځه اود عاګانو نه
نوکه لمونځ اوږد کی دعا به کوتاه کوی اوکی لمونځ سپک کړی دعاګانی به پیری وکړی
لکن احادیث نبویه پرتطویل دقرائت دلالت کوی ولذا قال المصنف: وسُنَّ تطويلهما،
لکن په اوسنی زمانه کی چی داکثرو امامانو د جمعی عربی دعاوی نه دی زده، اوکه دامام هم زده

زده وی مقتدیان خوعوام دی هیڅ عربی دعا چی مناسب دکسوف دلره وی هیڅ یه نه
دی زده. نودوی به صرف ساکت ولاړ وی. نو پس مذهب دبعض فقهاو وچی لمونځ
کوتاه وکړی اوباقی وخت په دعاګانوچی امام بی کوی د خلګو په ژبه اوخلګ به امین
پرکوی اوړکوع قلب به په ټولو کی موجود سی چی عمل وکړه سی دیر به ښه وی والله اعلم بالصواب

اختلاف

درویش وائی چی په لمانځه کی دکسوف لوی اختلاف دی. هغه داچی امام مالک
اوامام شافعی اوامام احمد وائی چی دکسوف په لمانځه کی ښه هر رکعت کی دوی دوی رکوع
کوی، اوزمونږ حنیفیانو مذهب دادی چی صلوة الکسوف لکه نورلمونځونه په هر رکعت
کی دی یوه رکوع کوی. زمونږ دلیل هغه حدیث دی چی ابوداؤد یه روایت کړی دی، چی په
زمانه کی د علیه الصلوة والسلام چی د غابنت په وخت کی لمر تندړی وینوی، نوعلیه الصلوة
والسلام دوه رکعت لمونځ پرجماعت وخلګوته چی ښځی هم پکښی وی شروع کړی فاطال
فیها القیام، ثم انصرف، یعنی لمونځ یې پای ته ورسوی په داسی حال کی لمر تندړی
صفاسوی وو، نوعلیه الصلوة والسلام ورووسته داسی وفرمائیله. چی انما هذه الآیات
یعنی داکسوف وغیره، یخوف الله بها عباده، ښیروی خدای پردی سره خپل بندګان،
فاذا رأیتموها فصلوا، نوچی تاسی ووینی دغه قدرت الهی ایات نولمونځونه کوئ،
کاحدث صلوة صلیتموها من المکتوبة، لکه ترټولونوی لمونځ چی تاسی وکړی دفرضی
لمونځونه څخه یعنی دسحار لمونځ، نودسحار په لمانځه کی خویوه رکوع په رکعت کی دی، نو په
صلوة کسوف کی هم لازما یوه رکوع ده په رکعت کی،،

پوښتنه: چی کمال الدین بن الهمام چی دحنیفیانو په مذهب کی داحادیث نبویه
وو په باره کی یولوی مهارت لری په فتح القدیر کی دیرحدیثونه په تائید کی د مذهب
د حنیفیانو راوړی دی، چی دهغوټولو ذکرکول ددی مختصری شرحی د فانونه څخه
خلاف دی. نوده په اخیر کی داسی وئیلی دی، فهذه الاحادیث منها الصحیح ومنها
الحسن یعنی ضعیف. حدیث په کښی نسته اوپه صحیح اوحسن دواړو احتجاج روادی.

په اتفاق د اهل حدیثو او د ائمه اربعه ؒ وو، وقد دارت علی ثلثة امور، یعنی دغه احادیث پردی شی باندی دائر دی یعنی دلالت کوی ۱ داچی علیه الصلوٰة والسلام د کسوف لمونځ دوه رکعت کړی دی ۲ امر په دی سره چی صلوٰة کسوف داسی دی لکه نور دی لمونځ یعنی لکه د سحار دغسی کوی ۳ هغه بیان چی کسوف دایا تو ښخه د قدرت الهی دی، نو کمال ؒ وائی چی د دی حدیث څخه صراحةً دا معلومه سوه چی صلوٰة کسوف دی په یوه ډول کوی، او د سنته کمال ؒ نه ثابته کړیده: وَمَا ذَهَبْنَا إِلَيْهِ رَوَاهُ كِبَارُ الصَّحَابَةِ فَالْأَخْذُ بِالْأَوْلَى لِكَثْرَةِ رُوَاتِهِ وَصِحَّةِ أَحَادِيثِهِ وَمُوَافَقَةِ الْأُصُولِ الْمَعْهُودَةِ لِأَنَّا لَمْ نَجِدْ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ الْأَرْكُوعًا وَاحِدًا فَيَجِبُ أَنْ يَكُونَ صَلٰوةُ الْكُسُوفِ كَذَالِكَ،

د رویش وائی: چی بیا نو کمال ؒ په تفصیل جواب ورکړی دی دهغو مدعیو چی پر تعدد ؒ کوچ دلالت کوی، ان شئت التفصیل فارجع الیه، د رویش وائی چی په اثبات کی د مذهب د احنافو اوپه جواب کی د مخالفینو ؒ فقیه ابوجعفر الطحاوی ؒ په شرح کی د معانی الاثار ؒ لوی تحقیق کړی دی، وان شئت فارجع الیه، او د غه رنګه ملا علی قاری ؒ په شرح کی د مشکوة او د بدر الدین العینی ؒ په شرح کی د بخاری دیر په ډیره پوری او د قوانینو ؒ د محدثینو دیر بیان کړی دی،

پوښته چی نفره د صلوٰة جامعة ؒ د دی دیارلس ده چی خلګ ؒ اغوندی سبی، او تطویل د قرائت د علیه الصلوٰة والسلام په لمانځه کی د کسوف په قدر د سورة البقره وو، کمال ؒ چی د هغی مسئلی څخه چی د امام تطویل په قرائت سره مکروه دی، صلوٰة الکسوف، څخه دی مستثنی دی. قال ولو خففها جاز ولا یکون مخالفا للسنة، د رویش وائی چی دا قول د کمال ؒ زیاد ؒ مخنی خبری تائید کوی، قال المصنف ؒ:

ثُمَّ يَدْعُو الْإِمَامُ جَالِسًا مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ إِنْ شَاءَ أَوْ قَائِمًا

او بیا دی امام په ناسته سره دعا وکړی او مخ به یې وقبلی ته وي، که ئی خوښه وی. او یا دی په ولاړی

مُسْتَقْبِلَ النَّاسِ وَهُوَ أَحْسَنُ دعا وکړی لکن مخ دی د خلګو وخوا ته وی او داسنه طریقه ده، قال شمس الأئمة

د حلوائی ؒ او د احسنیت وجه یې داده ولی چی په اجتماعی نماڼحو کی اودعا ګانو کی سنت هم دغه طریقه ده، اوبل په داسی قسم کی د دعا په خلګو کی عجز او رقة القلب او حضور پیدا کیږی چی امام وویني چی څرنګه په عجز او نیاز او ابتهال سره دعا کوی، قال المصنف ؒ:

وَالنَّاسُ يُؤَمِّنُونَ عَلَى دُعَائِهِ حَتّٰى يَكْمُلَ انْجِلَاءُ الشَّمْسِ

او خلګ دی امین وائی پر دعا د امام او ترهغه دی دا دعا ته دوام ورکوی چی په مکمله توګه لمر د تندرۍ ښخه خلاصیږی، قال المصنف ؒ:

وَإِنْ لَمْ يَحْضُرِ الْإِمَامُ صَلَّوْا فُرَادٰى كَالْخُسُوفِ

او که امام جمعه مثلاً حاضر نه وو نو بیا دی خلګ یوازی لمونځ وکړی لکه په خسوف القمر کی چی یوازی کوی، ولی چی سپوږمی خو وار په زمانه کی د علیه الصلوٰة والسلام تندرۍ نیولی ده او په هیڅ حدیث موږ ته نه ده رسیدلی چی علیه الصلوٰة والسلام دی دهغه پار ه خلګ جمع کړی وی او لمونځ دی په جماعت سره اداء کړی وی کذا فی المراقی، قال المصنف ؒ:

وَالظُّلْمَةِ الْهَائِلَةِ نَهَارًا أَوِ الرِّيحِ الشَّدِيدَةِ وَالْفَزَعِ اویا لوبه بیرووالی تاریکه چه ډیره سخته وی اویا سخت اوتند باد خلاف العادة پیدا شی یعنی که د ورځی وی او که د شپی وی. اویا بیرووی مثلاً د زلزلی له سببه یا د ډیرو غټو ګډاوونو په سبب یاد پرله پسی تیز و برېښنا وو له سببه الی غیر ذالک، یعنی په دغه وخت کی دی هم خلګ یوازی یوازی لمونځونه کوی. اوپه جماعت سره دی نه کوی،

فائده: د ډیرو خلاف المعتاد بیرو لکه ډیر باران ونه، یا واورې هم خلګ لمونځونه یوازی یوازی کوی چی دا مصیبت خدای دفع کړی. اوپه عمومی امراض وبائیه ووکی دی هم خلګ لمونځونه کوی اودعا ګانی دی هم کوی په دفع کی د هغو مرضونو ط،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین

په اتفاق د اهل حدیثو او د ائمه اربعه رحمهم الله وقد دارت علی ثلثة امور" یعنی دغه احادیثو
پردی شی باندی دایږدی یعنی دلالت کوی ۱ داچی علیه الصلوٰة والسلام د کسوف
لمونځ دوه رکعت کړی دی ۲ امر په دی سره چی صلوٰة کسوف داسی دی لکه نوردی لمونځ
یعنی لکه دسحار دغسی کوی ۳ هغه بیان چی کسوف دایا تو ځنه د قدرت الهی دی" نو
کمال وائی چی د دی حدیث څخه صراحةً دا معلومه سوه چی صلوٰة کسوف دی په یوه یوه رکوع
کوی، او وسته کمال نور یا ته کړیده: وَمَا ذَهَبْنَا إِلَيْهِ رَوَاه كبار الصحابة فالاخذ
به اولی لکثرة رواته وصحة احادیثه وموافقة الاصول المعهودة لانا لم نجد فی شئ من
الصلوات الا رکوعا واحدا فیجب ان یکون صلوٰة الکسوف کذالک"

درویش وائی: چی بیا نو کمال په تفصیل جواب ورکړی دی دهغو مدعیو چی پر تعدد د
رکوع دلالت کوی" ان شئت التفصیل فارجع الیه" درویش وائی چی په اثبات کی د مذهب
د احنافو اوپه جواب کی د مخالفینو" فقیه ابوجعفر الطحاوی په شرح کی د معانی الاثار هم نوی
تحقیق کړی دی" وان شئت فارجع الیه" اود غه رنګه ملا علی قاری په شرح کی د مشکوة او بدر
الدین العینی په شرح کی د بخاری دیر په زړه پوری او د قوانینو سره د محدثینو دیر بیان کړی دی"

یوه مسئله چی نفره د صلوٰة جامعة د دی دیارلسو ده چی خلګ راغونډ یږی، او تطویل د قرائت
د علیه الصلوٰة والسلام په لمانځه کی د کسوف په قدر د سورة البقره وو، کمال چې د
هغی مسئلی څخه چی د امام تطویل په قرائت سره مکروه دی" صلوٰة الکسوف" څخه دی مستثنیٰ
دی. قال ولو خففها جاز ولا یکون مخالفا للسنة" درویش وائی چی دا قول د کمال زیاد
معنی خبری تائید کوی" قال المصنف:

ثُمَّ يَدْعُو الْإِمَامُ جَالِسًا مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ إِنْ شَاءَ أَوْ قَائِمًا مُسْتَقْبِلَ النَّاسِ وَهُوَ أَحْسَنُ

او بیا دی امام په ناسته سره دعا وکړی او مخ به یې وقبلی ته وی، که ئی خوښه وی. او یا دی په ولاړی
دعا وکړی لکن مخ دی د خلګو وخوا ته وی
اود اسنه طریقه ده" قال شمس الائمة

المکتوبة" او د احنفیت وجه یې داده ولی چی په اجتماعی نماځ کی او دعا ګانو کی سنت هم
دغه طریقه ده، اویل په داسی قسم کی د دعا په خلګو کی عجز او رقة القلب او حضور پیدا
کیږی چی امام وویني چی څرنګه په عجز او نیاز او ابتهال سره دعا کوی" قال المصنف:

وَالنَّاسُ يُؤَمِّنُونَ عَلَى دُعَائِهِ حَتَّى يَكْمُلَ انْجِلَاءُ الشَّمْسِ

او خلګ دی امین وائی پر دعا د امام او ترهغه دی دا دعا ته دوام ورکوی چی په مکمله توګه لمر
رڼا ورکړی څخه خلاصیږی" قال المصنف:

وَإِنْ لَمْ يَحْضُرِ الْإِمَامُ صَلَّوْا فُرَادَى كَالْخُسُوفِ

او که امام جمعه مثلاً حاضر نه وو نو بیا دی خلګ یوازی لمونځ وکړی لکه په خسوف القمر کی
چی یوازی کوی، ولی چی سپوږمی خو وار په زمانه کی د علیه الصلوٰة والسلام تندری نیولی ده
او په هیڅ حدیث موږ ته نه ده رسیدلی چی علیه الصلوٰة والسلام دی د هغه د پاره خلګ
جمع کړی وی او لمونځ دی په جماعت سره اداء کړی وی کذا فی المراقی" قال المصنف:

وَالظُّلْمَةِ الْهَائِلَةِ نَهَارًا أَوِ الرِّيحِ الشَّدِيدَةِ وَالْفَزَعِ

اویا لویه تاریکه چه ډیره سی د ورځی چی اویا سخت اوتند باد خلاف العادة پیدا سی یعنی که د ورځی وی او که
د شپی وی. اویا بیره وی مثلاً د زلزلی له سببه یا د ډیرو غټو ګړندیو سبب یاد
پرله پسی تیږو برسیدنا وو له سببه الی غیر ذالک، یعنی په دغه وخت کی دی هم خلګ
یوازی یوازی لمونځونه کوی. اوپه جماعت سره دی نه کوی،

فائده: د ډیرو خلاف المعتاد بیرو لکه ډیر باران، یا واورې هم خلګ لمونځونه
یوازی یوازی کوی چی دا مصیبت خدای دفع کړی. اوپه عمومی امراض وبائیه ووکی دی هم
خلګ لمونځونه کوی اودعا ګانی دی هم کوی په دفع کی د هغو مرضونو" ط،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین

احمقوں کی کمی نہیں غالب ؛ ایک ڈھونڈو ہزار ملتے ہیں۔ مرزا غالب الشاعر المشہور۔
نوجوانوں کو میری آہ سحر دے ؛ پھر ان شاہین بچوں کو بال و پر دے ؛ علامہ اقبال الشاعر المشہور۔
سبق پڑھ پھر صداقت کا۔ عدالت کا شجاعت کا ؛ لیا جائے گا تجھ سے کام دنیا کی امامت کا ؛ .....

بَابُ الْاِسْتِسْقَاءِ

پوه سه: چې سقیا او بوته وائی۔ اوسین اوتاء دپاره د طلب دی۔ لکه په علم صرف کی چې معلوم خبره ده۔ نو د استسقاء معنی لغوی طلب دی داوبو مطلقاً که څوم یو سړی وبل ته ووائی چې ماته اوبه راکړه۔ او په شرع شریفه کی طلب دی د باران دخدای پاک جل سلطانه څخه پرخاصه طریقه باندی چې بیان یې راسی، یعنی په استغفار او حمد او ثناء سره دپروردګار اوپه ډیر تضرع اوتذلل سره دهغه جل شانه څخه طلب دباران نافع کول دی: قال المصنف چې استسقاء مشروع ده په قرآن مبارک سره، اوپه سنت نبوی سره اوپه اجماع امت سره، اما الکتاب، فهو ما حکی ان نوح علیه الصلوٰة والسلام لما دعی قومه مدة مدیدة الی الایمان وترک الشرک فلم یؤمنوا به الا نذر قلیل، حبس الله عنهم القطر، نوخدائ د دوی څخه باران بند کړه اوبنځی ئې د اولاد و څخه وچې سوی خلو یښت کاله، نونوح علیه السلام ودوی ته ووئیل چې که تاسی ایمان راوړی، یرسل السماء علیکم مدرارا، ویمددکم باموال وبنین الآیة، اوداشرعی مسئله ده چې خدای پاک چې دده څخه ادیانو پرقرآن کی یوبیان وکړی اوزمونږ منع وینه کړی هغه زمونږ دپاره هم شرعه ده، کما فی کتب اصول الفقه، واما الحدیث: فقد روی عنه صلی الله علیه وسلم انه استسقی یوم الجمعة حین الخطبة علی المنبر النبوی حین شکی الیه الاعرابی بقحوط المطر وقصته مشهورة وفی کتب الصحاح مذکورة وهذا کان بعد النبوة، وقد استسقی ابوطالب بطلب قریش به صلی الله

علیه وسلم حین کان صلی الله علیه وسلم غلاما بمکة اخرج ابن عساکر هذه القصة بتفصیل ولذالک یقول ابوطالب فی شانه ۴: ؎
وابیض یستسقی الغمام بوجهه ؛ ثمال الیتامی عصمة للارامل ؛
واما الاجماع فقد اجمعت الامة سلفا وخلفا علی الاستسقاء من غیر نکیر، قال الامام الطحطاوی: چې استسقاء سنت ده په نیزد حاجت. یوخوپه داسی ځای کی چې خلګ یه نه وی لږی اوبه ږود، اوبه ځاهان چې دوی خپل ځای نوبه اومواشی یه اوبه کی لکه لوی لوی دښتونه، اوبا ریګونه چې مالداران هلته استوګنه کوی. اوبل داهی ځای یونه چې ږود وبه او وی اوخاهان خووی لکن ډخلګود کښتو یا باغو وغیره کفایت نه کوی، اوبیله ضرورت خلګ استسقاء نه کوی: قهستانی، قال المصنف:

صَلٰوةٌ مِّنْ غَیْرِ جَمَاعَةٍ پوه سه

استسقاء له لمونځ سته یعنی نفلی بیله جماعته، چې نفس لمونځ مراقی والا وائی چې دی روا دی بیله کراهته اوسنت نه دی، ولی چې په حدیث کی د بخاری وغیره داسی ږاغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته چې شکایت د قحط المطر وسو ږ فرفع یدیه یستسقی اود لمانځه ذکر په کښی نشته، اوبل داچې عمر رضی الله تعالیٰ عنه چې ډخلګو سره یه استسقا کوله لمونځ یه کړی دی. اوعمر رضی الله تعالیٰ عنه اشد الناس اتباعا لسنة رسول الله صلی الله علیه وسلم بعد ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه، اوبل داچې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په تیولو صحابه سره استسقاء کړی نوکه لمونځ یه کښی نوده لمانځه ذکر به وی. په دیر شهرت سره په ږوایتو کی دحدیثو راغلی وای، لکن مراقی اوامام طحطاوی وائی چې په یوه روایت شاذه کی ږوایت یه عبد الله بن عباس او عبد الله بن زید کړی دی د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د لمانځه کولو په استسقاء راغلی دی، قال الطحطاوی وهو حدیث شاذ لا یؤخذ به، نود غه سبب مونږ د جواز د لمانځه روایو، اودی سبب یه ابوحنیفه لمونځ داستسقاء سنت نه بولی، لکن امام اعظم داسی هرګز نه دی وئیلی چې په استسقاء کی لمونځ کول بدعت دی لکه بعض دښمنان چې هغه ستر امام ته دا نسبت کوی، اوامام ابویوسف او

امام محمد وائی چی امام دی دوه رکعته نفل لمونځ وخلګوته ورکړی اوجهر بالقرائة دی هم وکړی
لکه د اختر لمونځ یعنی په جهر کی لکن اذان اواقامت به نه کوی» لکن امام محمد وائی چی وروسته
تر لمانځه دی امام دوی خطبی وکړی اوپه مابین کی دی کښینی، اوابو یوسف وائی چی یوه خطبه
دی وکړی. اوورو سته دی شروع پر دعا کا توسره وکړی. دلیل دیا ر انوه حدیث دی
چی د ابن عباس څخه مروی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم یووخت په خلګوسره دوه کهه
لمونځ په جهر سره وکړی.

پوښتنه که اوس امام په جماعت سره لمونځ وخلګوته ورکړی. آیا په نیزد امام اعظم دغه کار مکروه دی اوکه څرنګه؟ **جواب**: دحاکم شهید چی دکافی څخه په نقل کړی دی داسی معلومیږی چی مکروه دی» اوشیخ الاسلام وائی کرجماعت سُنت نه دی په نیزد امام اعظم لکن روادی بیله کراهته» قال الامام الطحطاوی وعلیه التعویل» قال المصنف:

وَلَهُ اِسْتِغْفَارٌ وَيُسْتَحَبُّ الْخُرُوجُ لَهُ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ

اوداستسقاء دپاره طلب بخښنی دی خلګ کوی دخدای پاک څخه لقوله تعالی: فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ اِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا الآیة

اومستحب دی وتل دپاره داستسقاء درې ورځی لکن پرلپسی اوتردری ورځی نریات منقول نه دی» قال المصنف:

مُشَاةً فِي ثِيَابٍ خَلِقَةٍ غَسِيلَةٍ اَوْ مُرَقَّعَةٍ

پیاده به وزی په داسی کالو کی چی زاړه وی اوپریولی وی، یعنی پینه کړی نه وی، اویا پینه کړی وی، مراقی وائی چی پینه کړی کالی اولی دی. چی خضوع اوعجزته نزدی دی» قال المصنف:

مُتَذَلِّلِينَ مُتَوَاضِعِينَ خَاشِعِينَ لِلّٰهِ تَعَالٰى نَاكِسِينَ رُءُوسَهُمْ

پوه سه چی تذلل اوتواضع اوخشوع الفاظ دی چی معنایه نزدی ده. صرف فرق یه دادی چی خشوع دزړه صفت دی. اوتذلل اوتواضع داعضاء ظاهره وو صفت دی. :ترجمه: اوکښته بی ځړوله وی سرونه خپل، په خلاصه کی وائی چی به صورت داستسقاء دادی، چی هروخت چی

ولی، اورو دونه وچ سی. اویا اوبه ترکفایت د مخکو اوبا غو مثلاً کم سی، اویاران ونه تر خپل وخت وځنډیږی، نوامیرد ولایت دی خلګ امر کړی چی دری ورځی دی روژی وسی او حسب الطاقت دی نفلونه کوی، اوکی یو پر بل دنیائی ظلم کړی ور کړی اوکه نور ظلم به کړی وی د هغه دی عفوه وغواړی دیو بل څخه، اوپر نورو شیخی منهو نوری خدای ته توبه وکاږی، اوخلرم ورځ دی پر فوق الذکر شرطوسره وصحراته ووزی، اوکه چیری باران په وخت کی. تر څلورمی ورځی د مخه شروع سوه نوه پاره دشکر دی صحراته والړ سی اونوری دعا کافی دی وکړی.

وَاقِعَه

تردی اوسنی یعنی ۱۴۲۲ سنی دیرش کاله تخمیناً د مخه په قندهار کی دباران قحطی جوړه سوه نووالی د قندهار امر وکړی چی خلګ دی صبا واستسقاء ته اماده سی، چی څابنت سونو درولیش ځان اوخپل طالبان پرته بطو مذکوره وو برابر کړه، اوو عیدګاه ته چی هوری داستسقاء ځای تاکل سوی وو روان سوو، هلته چی ورغلو تیزر فاره موټران د تجارانو والړ دی کړ گورم فلانی مولوی صاحب دیو تجار سره سپور عینکی یه پر ستر گو ایښی دی او دپر زیبا کالی اوچوخه یه هم فوق العادة اغوستی ده راورسیدی.

قصه مختصره تهوله ملایان صاحبان په ورته شان اوشوکت سره دشنا خته کانو په تیزرفتار موټرانو کی راغله. اولوی خطیب د قندهار تر تپولو په لوی شان اوشوکت سره راورسیدی» درولیش خپلو ملګرو ته وویل چی خوند داستسقاء نشته، ولی چی دعاوی به هم دغه جاه اوجلال والا ملایان کوی، نوګمان نه کوم چی قبولی به سی، اوداغسی هم پینه سوه. اواستسقاء هم دغریوه ورځ وسوه وبس، اوکالهم هغسی وچ وو» قال المصنف

مُقَدِّمِينَ الصَّدَقَةَ كُلَّ يَوْمٍ قَبْلَ خُرُوجِهِمْ

اوخیرات ونه دی کوی مسلمانان هره ورځ تر وتود مخه لان الصدقة ترد البلاء»

قال المصنف: **وَيُسْتَحَبُّ إِخْرَاجُ الدَّوَابِّ وَالشُّيُوخِ الْكِبَارِ وَالْأَطْفَالِ**

اوښه کاردی چې خلګ دی باسی ځای ته دا استسقاء خپل چارپایان، غواوی، بوزی، میږی سره د اولادو دروی. اود غه رنګه دی باسی سپین ږیری خلګ چې کلان سالـه وی، اود غه رنګه دی وباسی کچنیان کـه څـهم ډیر کم عمره وی، اما الصدقة، فهی تطفئ غضب الرب جل وعلا وتجلب رحمته التی من جملته الامطار» قال فی المراقی چې مسلمانانو توبه بنائی چې تجدید توبې دی وکړی» او ټوله مسلمانانو توبه دی طلب بخښنی وکړی، اود اهم مستحبه ده چې بهائم او اولاد دوی دے هم وسره جلا کړی، تا چې سږ د ژړا د خلګو ژړا د حیوانانو او د اولادو دوی او اولادو پرمنډو باندی پرې ته سبی، شاید رحمت الهی هم په جوش راسی، او د رحمت باران ونه وروی» ـ تا نگیرد آبرکی خند د چمن ـ تا نه گیرد طفل کی جوشد لبن، هر کجا اشک روان رحمت شود ـ هر کجا آب روان سبزه شود ـ واما اخراج الشیوخ والاطفال، فلما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: هل تُرْزَقُونَ وَتُنْصَرُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ» بخاری، وفی حدیث اخر، لَوْلَا شَبَابٌ خُشَّعٌ، وَبَهَائِمُ رُتَّعٌ، وَشُيُوخٌ رُكَّعٌ، وَأَطْفَالٌ رُضَّعٌ، لَصُبَّ عَلَيْكُمُ الْعَذَابُ صَبًّا» مراقی: قال المصنف:

وَفِي مَكَّةَ وَبَيْتِ الْمُقَدَّسِ فَفِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِدِ الْأَقْصَى

یعنی خروج وصحراته په غیر کی د دغو بشارونو غواړی، اوپه مکه مکرمه کی اوپه بیت المقدس کی د

يَجْتَمِعُونَ وَيَنْبَغِي ذَلِكَ لِأَهْلِ مَدِينَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د استسقاء دپاره دی خلګ جمع سبی په مسجد حرام کی د مکی مکرمی اوپ بیت المقدس کی دی په مسجد اقصی کی سره غونډ سبی، اومراسم د استسقاء دی پرځای کړی، اود غه رنګه بنائی واهل ته د مدینی منوری چې په مسجد نبوی کی دی مراسم د استسقاء پرځای کړی، **فَائِدَه**: په دی دروسجدو کی دی بهائمو نه راولی، وجه یه داده چې

سلف اوخلف ټوله مراسم د استسقاء په حرم مکی او مسجد اقصی کی پرځای کوله، اوبل دا ځایونه شرافت په دربار کی د رب العزت لری، اوشرف لره د مکان لویه برخه سته په نزول کی د رحمت الهی:

واما مدینة الرسول صلی الله علیه وسلم فلاریب فی نزول الرحمة فی تلک البقعة المبارکة «وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ»، وهو صلی الله علیه وسلم هو الوسیلة لامته فی الدارین وهو الشفیع المشفع، نو خلګ دی د ذات. انور د علیه الصلوة والسلام وسیله وګرځوی په دفع کی د شدت د قحط، اود غه رنګه وسیله دی وګرځوی ذات انور د ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه او ذات انور د عمر رضی الله تعالی عنه»

مسئله: درویش وړاندی وویل چې دواب دی د غود ر وځایوته نه راولی مراد دا وو چې داخل ته د د غود ر وځایودی نه راولی، مګر مراقی وائی چې دواب خو دی راولی لکن خارج ابواب المساجد المذکورة دی وددروی، قال المصنف:

وَيَقُومُ الْإِمَامُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ رَافِعًا يَدَيْهِ وَالنَّاسُ قُعُودٌ

او ودی دریږی امام مخامخ وقبلی ته لاسونه دی پورته کړی وی، اوخلګ دی ناست وی

مُسْتَقْبِلِينَ الْقِبْلَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى دُعَائِهِ

مخامخ وقبلی ته اوخلګ دی امین وائی پر د عا د امام، **فَائِدَه**: په حدیث شریف کی چې روایت بنی عمر رض کړی دی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې استسقاء کوله په مدینه منوره» لاسونه یه دومره پورته کړه چې سپین والی د تحر ګو یه معلومیدی. اوولاړ و وقبلی ته مخامخ **پوه سه**: چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دومره بلیغ پورته کول دلاسو چې تحر ګونه بی معلومیدل په اجتماعی دعا کی بیله استسقاء بل ځای نه ده ثابته د اسی نه ده چې علیه الصلوة والسلام اجتماعی دعا بیله استسقاء بل وخت نه ده کړی،،

قَالَ المصنفؒ يَقُولُ اللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا هَنِيئًا مَرِيئًا

اوامام به په دعا کی وائی ای خدایه موږ اوبه کړی په باران سره. خلاصوونکی دسختی څخه چې نماړه وکړی
حیوانانو توته بیله ضرره، چې عاقبت یه ښه وي، قَالَ المصنفؒ:

مَرِيعًا غَدَقًا مُجَلِّلًا سَحًّا طَبَقًا دَائِمًا وَمَا أَشْبَهَهُ

چې اوړونکی د زیادت وی په کښتو کی، چې ډیری اوبه په کښی وی، چې پتوونکی د افق وی یعنی عام وی
پرتولو اطرافو، چې پر ځمکه یې څکان په زوره لویږی، چې ځمکه یې گرده نیولی وی، او دوام دار
وي یعنی په قدر د حاجت دکار ډیرو، رودو، ولو، او ځمکی، اویا مشابه د دغو الفاظو سره،

سِرًّا وَجَهْرًا وَلَيْسَ فِيهِ قَلْبُ الرِّدَاءِ

که د غه دعاء کرار کوی او که په زوره لکن جهر یه افضل دی تاچې مقتدیان
یې هم واوري، اوښته په استسقاء کی اړول د ډیتو پر راسته اوچپه اوبنه، په نیزد امام اعظم
اوابو یوسفؒ: ولی چې امیر المؤمنین عمرؓ اونور صحابهؓ وو چې استسقاء کړیده قلب الرداء
په کښی نه دی راغلی، پوه سه: چې امام اعظمؒ د هغه تحویل الرداء څخه نه دی
منکر چې په احادیثو مبارکه وو کی راغلی ده لکه ده مبارک حاسدان چې وائی بلکه امام اعظمؒ
وائی تحویل الرداء سنت نه دی، والا لفعله الصحابة الكرامؓ التابعين لسنته شبرًا بشبر
بلکه تحویل الرداء آنحضرت صلی الله علیه وسلم تبرکًا کړیده. اوس هم که، څوک تبرکًا
کوی روا ده، قَالَ المصنفؒ:

وَلَا يَحْضُرُهُ ذِمِّيٌّ

اونه دی حاضیږی واستسقاء ته اهل ذمه، هرنوع
کافر چې وی، لنهی عمرؓ عنه، مر، لانهم مبغوضون
له تعالی، فَائِدَةٌ: د علیه الصلوٰة والسلام څخه ثابته دعا په استسقاء کی
دغو کلماتو سره وه. اَللّٰهُمَّ غَيْثًا مُغِيثًا نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ عَاجِلًا غَيْرَ اٰجِلٍ، اَللّٰهُمَّ اسْقِ
عِبَادَكَ وَبَهَائِمَكَ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، وَاَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ، اَللّٰهُمَّ اَنْتَ اللّٰهُ لَا

اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ اَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ، وَاجْعَلْ مَا اَنْزَلْتَ قُوَّةً وَبَلَاغًا اِلٰى
حِيْنٍ، اوکه چیرې باران ډیر سو او خلګ دوداتیو پر نړیدو وویریدل لکه په زمانه
کی د علیه الصلوٰة والسلام هم په خطبه کی دعا وکړه. اوداسی پیښه وه. چې یو اعرابی د جمعې
په ورځ چې علیه الصلوٰة پر خطبه ولاړ وو سوال د باران ئې وکړی، او علیه الصلوٰة والسلام
هم په خطبه کی دعا وکړه: اللهم اسقنا اللهم اسقنا د، او، اره، راوی د حدیث وائی
وریځ راپورته سول لکه سپر او باد پیدا سو. حالانکه مخکی تر دی آسمان بیخی صاف وو
یعنی هیڅ وریځ نه معلومیده نا ببره داوریځ پیدا سو. په آسمان کی سره تنکه سوه.
اوباران شروع سو.

آنحضرت صلی الله علیه وسلم پرهغه خطبه ولاړ وو چې بام دده مبارک پر برابر سری
سو او اوبه دده مبارک په ږیره کی توی سوې، اوداباران تر اتلونکی جمعه پورې وډریدی
اوخلګ ډیر په تنګ سوه نوهغه صحرائی یا بل په داوږ وسته جمعه په وخت کی د خطبی
وعلیه الصلوٰة والسلام په عرض وکی چې د ډیر باران څخه هُدمت البُيوت، آه.
نوته خدای ته خواست وکه چې دا باران دمونږ څخه بند کړی. نو علیه الصلوٰة والسلام
داسی دعاء وکړه، اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا اَللّٰهُمَّ عَلَى الْاٰكَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُوْنِ الْاَوْدِيَةِ
وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ، راوی د حدیث وائی چې علیه الصلوٰة والسلام په وخت کی دوئیلو د حوالینا
دی په دوارو لاسونو به اشاره کوی د شاه وخولته. اووریځ به هم دده د اشارو سره هرطرف
ته روانه وه، حتیٰ چې مونږ لمونځ وکړی د جمعې راوځه تلو آسمان بالکل صاف وو، اویو
څاڅکی باران نه وو هکذا فی البخاری وغیره من کتب الصحاح، وَمَا ذَكَرْتُهُ مُخْتَصَرٌ مِنْهُ، وَلِلّٰهِ
مَا قِيلَ فِي مَدْحِهِ صلی الله علیه وسلم: لَا يُمْكِنُ الثَّنَاءُ كَمَا كَانَ حَقُّهُ: بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر:
وقیل: افاقها گردیده ام بسیار خوبان دیده ام اما تو چیزی دیگری:

باب صلوة الخوف

باب دی په بیان کی د احکامو د لمانځه چې په وخت کی د بیری د دښمن د حملې یعنی د کافرانو چې پر مسلمانانو ورځ کوي، **پوه سه**: چې د خوف لمونځ پر څو کیفیت په احادیثو مبارکه وو کی راغلی دي: چې ټوله کیفیات یې جائز دي په اتفاق دا مانو د خلورو مذهبو صرف اختلاف د دوی په دی کی دی چې اولې یې کوم کیفیت دی، لکن اول مشروعیت د صلوة خوف خو په جنګو کی د کفارو سوی دی لکن صلوة خوف اوس په نورو اسبابو سره هم روا دی چې بیان یې راسې ان شاء الله تعالی.

فائده: اضافت د صلوة و خوف ته اضافت ده و شرط ته یعنی د دغه لمانځه پر هغه کیفیت چې را به سې. شرط یې خوف دی یعنی که خوف نه وي نو پر دغه کیفیت لمونځ نه دی روا.

دوه فائدې خبره: په کنز او هدایه کی وائی چې شرط د صحت د صلوة الخوف واقعی پیره د دښمن څخه او سخت والی دی د بیری د حملې، یعنی نفس خوف د دښمن یا قرب د دښمن کافی نه دی، لکن امام طحطاوی وائی چې دا قول د بعض دی یعنی د تحقیق خلاف دی، او عام فقهاء پردی دی مذهب دی چې نفس حضور د دښمن که څه هم مسلمانان نه ځندی پیریږی کافی دی په صحت کی د صلوة الخوف، ولې چې معتبر په را خصات شرعیه وو کی وجود د سبب ظاهردی، نو حضور د دښمن سبب ظاهر دی د خوف نو په ځای کی د واقعی خوف دریږی، لکه چې معتبر په اباحت د خوړلو د روژی د مشقت دی [illegible] لکن چونکه سفر سبب ظاهر دی د مشقت نو سفر په ځای کی د مشقت واقعی [illegible] د رسول سو حتی چې نفس مسافرته د روژی خوړلو روا دی کما تقرر [illegible] د معتبرات کتب الفقه، بلکه په تحفه او عنایه کی وائی چې نفس قرب العدو هم سبب د صحت د صلوة الخوف.

قال المصنف: **هِيَ جَائِزَةٌ بِحُضُورِ عَدُوٍّ وَبِخَوْفِ غَرَقٍ أَوْ حَرَقٍ**

اولونځ روا دی په سبب د حضور د دښمن د عبارت څخه د مصنف دا سی معلومیږی چې حضور د دښمن شرط دی نفس قرب کافی نه دی. او دا هم معلومه سوه چې حقیقی بیره نه ده شرط، او دغه رنګه روا دی صلوة خوف په سبب د بیری د غرق والی د کښتی او دغه رنګه روا دی صلاة خوف که بیره د سونګ د اور وه، یعنی که بعض نفر و د اور یخ نیوی و نه کی او یا تول پر لمانځه و دریږی او به انتشار پیدا کړي او بعض متاع او شیان به وسوځي. قال المصنف:

وَإِذَا تَنَازَعَ الْقَوْمُ فِي الصَّلٰوةِ خَلْفَ إِمَامٍ وَاحِدٍ فَجَعَلَهُمْ طَائِفَتَيْنِ کله چې د یوې ډلې کښی اختلاف سو چې په یوه امام پسی به اقتداء کوی یعنی دوه امامه به نه وی. نو د دی امام واحد خلګ دوی ډلی وګرځوی،

پوه سه: چې دوی ډلی که سره برابری وی په عدد کی. او یوه ډله تر بلی ډلی پیروی په حساب کی دواړی لاری روا دی، ولې چې لفظ د طائفة عام دی، حتی چې یوه سړی ته هم ویل کیږی. حتی که مسلمانان د ری کسه وه او د دښمن څخه بیریده یو د امام سره او بل د پسی و دریږی. او د ریم د پیره کوی چې امام یو رکعت و کړي مثلاً بیا د پیره دار راسې هغه د پسی و دریږی او هغه د ی یعنی د مخ سړی د پیره کوی، قال المصنف:

وَاحِدَةٌ بِإِزَاءِ الْعَدُوِّ وَيُصَلِّي بِالْأُخْرٰى رَكْعَةً مِنَ الثُّنَائِيَّةِ

او د دی درې وی یوه ډله برابره ده دښمن و غیره د پاره د پیریې او امام د ی وګډاری په هغه بله ډله سره یو رکعت د دوه رکعتی لمانځه څخه خواه اصلاً دوه رکعتی لمونځ وی لکه د سحار لمونځ، او یا په سبب د منفرد دوه رکعته د رباعی وي،

قال المصنف: **وَرَكْعَتَيْنِ مِنَ الرُّبَاعِيَّةِ أَوِ الْمَغْرِبِ** اودوه ۲ رکعته دی امام په اول ځله سره اداء کی که لمونځ څلور ۴ رکعته وو، او یا د مابنام لمونځ وو، د مابنام د دوو ۲ رکعتونو په اوله څله سره "د لبل دا دی چې د مابنام لمر نږدې خوند نیمی کیږی نو څکه دا دیوی څلی دا به دوه ۲ رکعت وی، او اول څله اولی په دوه ۲ رکعته سره لتقدمها". قال المصنف:

وَيَمْضِي إِلَى الْعَدُوِّ مُشَاةً اوولاړه دښمن وطرفته پیاده یعنی هغه اوله څله، **مسئله**: که چیری دوی سپاره سی او یا د صف وبل خوا نه ولاړ سی لمونځ یې باطل سو، ۱۲

قال المصنف: **وَجَاءَتْ تِلْكَ فَصَلَّى بِهِمْ مَا بَقِيَ وَسَلَّمَ وَحْدَهُ**

اورادی سی هغه څله چې په پیره کی وه یعنی په امام پسی دی نیت وکړی نو امام دی دوی نه مابقی من الصلوٰة ورکړی، او امام دی یوائی سلام وګرځوی ولی چې دده لمونځ خو پوره سو،

قال المصنف: **فَذَهَبُوا إِلَى الْعَدُوِّ وَثَمَّ جَاءَتِ الْأُولَى وَأَتَمُّوا بِلَا قِرَاءَةٍ**

وَسَلَّمُوا وَمَضَوْا او بیادی دادوهمه څله ولاړه سی وښته د دښمن، او هغه اوله طائفه دی راسی یعنی هغه اول ځای ته دی راځی او کی خوښه وه هغه دی خیل پاتې لمونځ پوره کړی، او بیله قرائت وځیلو ځکه ولی اوله څله خو لاحق دی او الحق خلف الامام دی حکماً او سلام دی وګرځوی چې د دوی لمونځ هم پوره سو، او بیا دی دا د اولاړه سی د دښمن وخواته د پیرې د پاره. قال المصنف:

ثُمَّ جَاءَتِ الْأُخْرَى إِنْ شَاءُوا وَصَلُّوا مَا بَقِيَ بِقِرَاءَةٍ

او بیادی راسی هغه بله څله چې اوله څله وه کی خوښه وه یعنی اول ځای ته، او کی هغوی لمونځ کاوه د دوی خوښه ده، او دا څله دی پوره هغه پاتې لمونځ به قرائت سره. ولی چې دوی خو

مسبوق دی او پر مسبوق قرائت لازم دی".

فائده مراقی وائی چې په صلوٰة الخوف کی د پیر ۲ روایتونه راغلی دی. او اصح ۲ روایتونه یې شپاړس ۱۶ دی او علیه الصلوٰة والسلام ۲۴ واړه صلوٰة خوف کړی دی، لکن امام طحطاوی د زاد المیعاد څخه نقل کړی دی" چې اصول د دغو حدیثو او کیفیات د صلوٰة خوف دی او دغه کسان چې د پیر روالی د کیفیاتو شوق لری هر وخت چې اختلاف د ۲ روایتو د حدیث وو ینې هغه بل کیفیت د صلاة خوف ګرځوی او هغسی نه ده بلکه دا صرف اختلاف د ۲ راویانو دی و بس. او ابن حجر په فتح الباری کی وائی هذا هو المعتمد" او په درکی وائی چې صلاة خوف په صحیح روایتو کی په څلور ۴ ګایه کی ثابت دی.

غزوة ذات الرقاع، غزوة بطن نخل، غزوة عسفان، غزوة ذی قرد.

درویش وائی: چې والله اعلم مصنف د کومه ګایه څخه صحیح ۲ روایات ۱۶ بولی او سره د دی چې زاد المعاد یې ۶ بولی. او دغه رنګه مصنف ۲۴ واړه صلوٰة خوف د علیه الصلوٰة والسلام څخه نقل کړی دی، او صاحب الدر صرف ۴ واړه صلوٰة خوف د علیه الصلوٰة نقل کړی دی، او د دی دوو عددو- یعنی ۱۶ او شپږ او ۲۴ څلور بیخی پرې فرق دی نو باید د دی خبرو معلومات دکتابو څخه د حدیثو او شروحو څخه د حدیث دکتابو تر لاسه سی، لکن د مختصر شرحه د دی تحقیق ګټه نه دی، او مراقی وائی چې دا بولو کیفیات ۲ روایې، والاولی والاقرب من ظاهر القرآن هو الوجه الذی ذکرناه یعنی فی المتن".

مسئله: که امام په لمانځه کی د خوف سهوه سو سجده سهوه به کوی، دی او مقتدی نه بولو، ولی چې احادیث د سهوی عام دی.

مسئله صلوٰة خوف غلو او باغیانو لاړه نه شته، ولی چې دوی اعداء الله دی په دی سفر او صلاة خوف د احباء الله دپاره دی. قال المصنف:

إِنِ اشْتَدَّ الْخَوْفُ صَلَّوْا رُكْبَانًا فُرَادَى بِالْإِيمَاءِ إِلَى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرُوا او که سخته سوه بیره د دښمن د خواخ یعنی د دښمن د امهلت مسلمانانو ته نه

وړکاوه چې دوی د دا بوخت یا په اوس وخت کې د موټرانو څخه کښته سي او صلوة خوف
پر کیفیت مذکوره وکړي بلکه جنګ په شروع کړي نو په داسې صورت کې دې مسلمانان
دسپر تیا سره لمونځ کوي. لکن یوازې یوازې او هغه هم په اشاره سره وهر طرف ته چې
قدرت یې وي، یعنې استقبال القبلة شرط نه دی، ولې چې د مسلمانانو دپاسه وا
بیخي لوی عذر دی".

تنبیه داد لمانځه شان او عظمت او قوي فرضیت دی. او پخپل وخت کې دکولو نو
د دغه بیان څخه باید سړي پوه سې، یعنې چې په دغسې سخت حالت کې د
لمونځ ساقط سو. او نه د تاخیر اجازه د مسلمانانو ته ورکړه سوه، "فیا اسفی علی حال
بعض المسلمین حیث یکونون سالمین ومع ذالک لا یصلون، لا فرادی ولا با الجماعة
ولا یبالون بذالک ولا یخافون غضب الجبار جل سلطانه". اللهم اغفر لنا ونصرنا
وحبانا وعافیة".

مسئله: په تبیین او جمع الانهر کې وائي چې سپور لمونځ کول په صحرا کې روا دی
او په بنار کې نه دی روا. ولې چې نفل په بنار کې راکبا نه دی روا نو فرض په طریق اولی
نه دی روا وان کان لضرورة" انتهی. درویش وائي چې نفل خو اختیاري لمونځ دی نو
په بنار کې راکبا څه ضرورت سته. که نفل یې زړه غواړي خو کښته دی سې کم مشکل یا
کښته کیدو کې نسته، او فرض لمونځ خو لازم دی او په وخت مقید دی، "إنّ الصّلوة
کانت علی المؤمنین کتابا موقوتا" نو خدای ناکړه که فوجونه د کفارو په بنار ورننوزي او مجاهدین یې د وخت کې د لمانځه مجبوره سې، نو به ولې راکبا
و دوی ته لمونځ نه وی روا؟ نو دا مسئله تجدید نظر غواړي والله اعلم". قال المصنف

وَلَمْ تَجُزْ بِلَا حُضُورِ عَدُوٍّ وَإِنْ لَمْ يَتَنَازَعُوا فِي الصَّلٰوةِ

وینه دی روا صلاة خوف بیله حضوره د دښمن، قال فی البحر لعدم الضرورة حینئذ وقد مر
اختلاف فی هذه المسئلة من قبل فتذکر، او که چیرې نزاع په قوم کې نه وي یعنې خواخوا

په موږ لمونځ په یوه امام پسې کوو، نو افضل دا ده چې هر یوه طائفه دې لمونځ پوره وکړي په
امام پسې لکه په حال کې د امن، یعنې یوه ډله دې پیره کوي، او بله ډله دې په یوه امام پسې
خپل لمونځ پوره وکړي. او سره د امامه دې سلام وګرځوي، او بیا دې دا ډله ولاړه سې د
پیرۍ او وځای ته. او اوله ډله دې راسي او په ټول امام پسې دې خپل لمونځ پوره وکړي
حسبنا الله ونعم الوکیل".

تاریخي کتنه: اویا دکار، تن وړځ ۲ دوشنبه ده د رجب الخیر نیټه ده ۱۴۲۲ هجري
قمري ده، چې دوی هفتې دغه تخمینا پر امریکا باندې دوشنبه
په ښار اوډنیویارک په دوولوی ښارونو کې بعض کسانو هر څوک
چې وه یوه داسې خودکشه حمله کامیابه وکړه، چې دنړۍ په تاریخ کې به تر اوسه د اعنبې
حمله چاندوی کړي. او امریکا ته یې جاني ومالي پیرلوی تاوان ورساوه، امریکا دې حملې
عاملان ویښ ندل؟ یا نه!

خو امریکا چې رئیس جمهور یې په دغه وخت کې بش و. ډبلیو. بوش دې حملې پرې پریوه خوار
غریب د ۲۲ کالو ځوان نړده هیواد افغانستان پرغاړه واچول، په بهانه دې چې د روسانو
په پرغل کې پر افغانستان لوی مجاهد اسامه بن لادن په افغانستان کې وو. نو امریکا
بش په ډیر جوش د صلیبي جنګ اعلان وکړي، یعنې د نصارا وو او د اسلام جنګ، او د طالبانو
د حکومت څخه چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد یې لوی روحاني او ملکي پیشوا وو، دا مطالبه
وکړه چې اسامه بن لادن دې وامریکا ته تسلیم کړي چې امریکا یې په خپل ملک کې محاکمه
کړي. او طالبانو او دوی ته لومشرانو دا خبره رد کړه چې اسامه زموږ ورور مسلمان دی
اولوی مجاهد دی، او د روسانو د قبضې په وخت کې افغانستان باندې لوی مجاهدانه
کارنامې لري".

په هغه وخت کې چې امریکایان د روسانو د پیش قدمۍ څخه ویرېدل د دغه اسامه
سره ډیر مرستې او د وسلو لوی سرسته کوله، نو موږ دا میلمه مجاهد مسلمان ورور
و کافرانو ته حواله کړو، نو امریکا او بش په مغرب ممالکو کې حتی په بعض اسلامي ممالکو

لکه پاکستان، عربستان، سعودی امارات متحده عربیه وو بغاری اونوری جوړی کړی
چې اسامه بن لادن د دهشت گردانو پېرې کی لوی مشری حتماً به ئې طالبانو مونږ سره
سپاری اوکه ئې نه وسپاری مونږ د طالبانو پر حکومت په افغانستان کی هوائی اوزمینی
بریدونه کوو، اود طالبانو حکومت دمابین څخه ورک، په دغه وخت کی دشمال اتحاد پېره
نامه چې د طالبانو مخالف ووچې مشریه برهان الدین ووو اومرکزیه بدخشان ووو «دغه
برهان الدین د امریکایانو ته دعوت ورکړی چې زمونږ شمال ایتلاف دتاسره ملګری یود اسامه
بن لادن په نیولو کی اود طالبانو د حکومت په ړنګولو کی» اود امریکایانو نوپلاز انګریزانو
په لندن کی د پریس لوئی آوازی ګډی کړی چې د طالبانو حکومت به دمابین څخه ورک شو» او
امریکا اعلانونه کوی چې نن حمله کوو صبا حمله کوو مسلمانانو نوتولوپه پاکستان کی خصوصاً
دعلماوو حضراتو مشرانو چې د پی دافغانستان سره دیک جهتی اعلانونو شروع کړه، تراوسه
معامله پردغه ځای ولاړه ده. اود افغانستان په جنګ زده ملک کی په عامو خلګو کی پرې
اضطراب دئ، آینده به وګورو چې خدای جل سلطانه به څه پیښوی» اللهم انصر الاسلام
والمسلمین ودمر الکفرة خصوصاً الامریکا والانکلیس وسائر معاونیهم من کانوا وحیث
کانوا بحرمة السبع المثانی والقرآن الکریم» قال المصنف:

ویستحب حمل السلاح فی الصلوة عند الخوف

اومستحب دی دلوړل د سلاح یعنی په اختلاف دزمانو دهرې نوعی څخه چې حمل یه ممکن وی، په لمانځه کی په وخت کی د بیری د حملی د دښمن»

پوه سه: چې استحباب مذهب دی داحنافو اوامام مالک او امام شافعی رحمهما الله عنهما حمل د سلاح په نیز د خوف په لمانځه کی واجب بولی» ط»

اللهم اغفر لکاتبه ولمصنفه ولقارئه ولمن نظر الیه بعین الانصاف آمین

باب احکام الجنائز

باب دی په بیان کی د جنازی د احکامو

پوه سه: چې جنائز جمع د جنازی ده، مراقی وائی چې جنازه په زبر د جیم او په زبر د جیم
مړی ته هم وائی او چارپائی ته د مړی پرې وت وی، اوبعض اهل لغت
وائی چې په زبر د جیم خودی مړی ته وائی اوپه زبر د جیم چارپائی ته وائی: وقیل بالعکس ط

قال المصنف:

یسن توجیه المحتضر للقبلة علی یمینه وجاز الاستلقاء

سنت دی چا مخ کول د هغه چا چې نزکندن پروی وقبلی ته پر، سته اړخ اوسنتی ښی پرې ایستل
یعنی روادی لکن **پوه سه** چې د اهلته سنت دی چې پرمریض تکلیف نه وی، اوکه
تکلیف وو بیا دی پرخپل حال پریږدی،

فائده محتضر صیغه د اسم مفعول دی ای حضرته ملائکة الموت اوحل به الموت»

فائده هرمسلمان ته په کار ده چې همیشه ومرګ ته مستعد ووسې په توبه سره اوپه زړه مقام
اومرګ دې پرې پیاوړی» کما ورد فی الحدیث النبوی اکثروا ذکر هاذم اللذات» الموت»
خصوصاً مریض ته» ۳ توبه کن امروز تو هرګز نګوفردا کنم ۱۲ شاید بمیری صحدم فردا نیابی درشمر ۱۲ واستثنی من
ذالک العلماء المصنفین والمدرسین، لئلا یخل ذکر الموت کثیراً بالتصنیف خصوصاً اذا کان تصنیفهم
یبلغ الی مجلدات وایضاً یخل بالتدریس» قال المصنف:

ویرفع رأسه قلیلاً ویلقن بذکر الشهادتین عنده من غیر

اوسر دی لږ اپورته کړی، او تلقین دی ورته کوی یعنی ورپیاده وی دی وده ته دوه کلمه شهادت»

اصلاح ولا یؤمر بهما

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ»
بیله دپیروالی د دغه تلقین، ولی مریض په حال د سکرات الموت کی

دی چی د پیر تلقین نخه ئې نړۍ تنګ نه شی. دسرپوړ ته کولو په باره کی مراقی وائی چی نخه یې وقبلی ته یې، نه واسمان ته» درویش وائی چی دا په هغه صورت کی چی پرې استرابخ یې پرې ایښتلی وی» «کما لا یخفی».

او امر دی هم نه ورته کوی چی فلانی کلمه ووایه، ولی پرده سختی ده نوشاید دی به وائی - یا. ولی چی شیطان هم وده ته حاضر یږی او وړ ته وائی چی دین د نصاری ووسه. نو دی به وهغه ته وائی یا. ده امر به داخیال سی چی زما وامر ته یه لا ووییله» نو یې د کفر گمان پرې نه کړی، بلکه په نه وایم حکم به کفر سره ئې نه کیږی، ولی چی دی مغلوب العقل دی نو ځکه بعض علماؤ مرګ بیهوشی او زوال العقل خوشی کړی دی لهذا الخوف». قال علیه الصلوٰة والسلام: لقنوا موتاکم لا الٰه الا اللّٰه فانه لیس مسلم یقولها عند الموت الا انجته من النار» وفی حدیث اخر من کان اخر کلامه لا الٰه الا اللّٰه دخل الجنة» ای دخولا اولیا».

فائده: په قنیه کی وائی: الواجب علی اخوانه واصدقائه ان یلقنوه آه لکن دوجوب د تلقین خبره په بل کتاب کی نسته، بل ټوله د فقه کتابونه وائی چی تلقین سنت دی».

فائده: په هغه تیرسوی حدیث کی چی: لقنوا موتاکم آه جمهور علماء پردی دی متفق چی مراد د میت نخه قریب الموت مراد دی حقیقت میت نه دی، ګله په دی حدیث کی من قتل قتیلا الحدیث وما فی المضمرات» عن البزاز: لوقال لمسلم قل لا الٰه الا اللّٰه فلم یقل کفر باللّٰه وان اعتقد الایمان آه فهو لیس فی المحتضر المذکور بل هذا القول لا یصح علی اطلاقه والتفصیل فی شرح الطحطاوی».

مسئله: که محتضر یووار کلمه شهادت ووئیله نو نور دی کلمه شهادت نه وړ ته تکراره وی ولهذا چی شاید د دې اخیره خبره داغه وی، قال المصنف:

وَتُلَقِّنُهُ فِي الْقَبْرِ مَشْرُوعٌ وَقِيلَ لَا يُلَقَّنُ وَقِيلَ لَا يُؤْمَرُ بِهِ وَلَا يُنْهَى عَنْهُ

او تلقین دمړی په قبر کی یعنی چی په قبر کی کښیښولو سی مشروع دی. او مراقی والا وائی چی دا مذهب د اهل سنت والجماعت دی، او بعض علماء وائی

چی په قبر کی دی مړی ته تلقین نه کوی، دلیل یې هغه دی چی په کفایه کی ذکر سوی دی، چی دامړی که مسلمان وی نو تلقین ته یه حاجت نسته، اوکه پر کفر مړ وی نو تلقین فائده نه ورته لری، آه. اوددی قول نسبت ومعتزلو ته کیږی، اوبعض فقهاء وائی که چا تلقین ومړی ته کاوه خولک دی نه منع کوی اوکه چا نه کاوه خولک دی امر کوی په تلقین سره» اودلیل د اول قول دادی چی په حدیث کی راغلی دی: لقنوا موتاکم شهادة ان لا الٰه الا اللّٰه» دوی وائی حقیقت میت خومړی نومراد د تلقین څخه تلقین د قبر دی. لکن اکثر مشایخو د احنافو پردی مذهب دی چی مراد په حدیث کی معنی مجازی ده ای من قرب الی الموت» کما نوا تلقین دوخت د نزع کندن دی کامتر» په هرحال کیفیت د تلقین دمړی په قبر کی دادی «یا فلان بن فلان اذکر دینک الذی کنت علیه فی دار الدنیا بشهادة ان لا الٰه الا اللّٰه وان محمدا رسول اللّٰه».

درویش وائی چی مسئله د تلقین د مړی معرکة الاراء ده چی لوی تفصیل ته یې فتح القدیر کی دی» اوهغه ټوله تفصیل راانقل کول ددی مختصری شرحی سره مناسب نه دی، او په نورو پوری طویل بیان په مراقی اوطحطاوی کی هم موجود دی اوهغه هم په سبب د طول درویش ونه کی اونه ئی راانقل کی، واللّٰه اعلم بالصواب» قال المصنف:

وَيُسْتَحَبُّ لِأَقْرِبَاءِ الْمُحْتَضَرِ وَجِيرَانِهِ الدُّخُولُ عَلَيْهِ وَ

او مستحب ده قریبانو ته د محتضر او همسایه گانو ته دده چی د محتضر خولی ته دی ورسی او هلته

يَتْلُونَ عِنْدَهُ سُورَةَ يٰسٓ وَاسْتُحْسِنَ سُورَةَ الرَّعْدِ

دی کښینی اوتلاوت د سورة یس دی کوی. اوبعض متأخرینو تلاوت د سورة الرعد هم مستحسن گنړلی دی» **فائده**: دغه خلق دی محتضر ته نصیحت د وصیت کولو کوی. اوبه وخت کی د نزع دی په خوله کی اوبه وړ واچوی، ولی په دغه وخت کی تنده دیره وی لشدة النزع ولذا لک ورد فی الخبر» چی شیطان هم ورته حاضر یږی اوزلابی اوبه ورسره وی».

او محتضرته وائی چې وایه لااله غیری نوره به دی اوبه کړم نعوذ بالله من ذالک او غ خلګ دی محتضرته ډیالک خدای لوی فضل وکرم وړ پیاد کی اوده ګمان دی پرخدای نه کوی، په حدیث کی دمسلم راغلی دی، لایموتن احدکم الاوهو یحسن الظن بالله ان یرحمه ویعفو عنه،

اوپه صحیحینو کی داحدیث هم راغلی دی قال الله تعالی: أنا عند ظن عبدی بی، واما قوله سورة یس فلما جاء فی الخبر، ما من مریض یقرء عنده یس الا مات ریان وادخل قبره ریان ولما قراءة سورة الرعد فلقول جابرؓ انها تهون علیه خروج روحه، قال المصنف:

وَاخْتَلَفُوا فِی اِخْرَاجِ الْحَائِضِ وَالنُّفَسَاءِ وَالْجُنُبِ

او اختلاف کړی دی مشایخو په ایستلو کی دحائض او نفساء بنځی او د جنب، **پوه سکه** چې ایستل د دغو کسانو صرف اولی دی او هغه هم هلته چې ودوی نه ضرورت نه وی او نو په دی سبب باسی چې د دغو کسانو سره چونکه نجاست موجود دی نو نبایده چې حضور د دوی مانع د حضور څخه د ملکو د رحمت وی نه ګرځی، اووجه د عدم الاخراج داده چې ممکنه د چې دغه کسان د محتضر د تیرو اقرباء ووی څخه وی اوبنه به ووزی، او طبیب دی هم وړته راولی.

درویش وائی: اللهم ارحمنا اذا عرق الجبین، وکثر الانین، وبکی علینا الحبیب والبس منا الطبیب، اللهم ارحمنا اذا وارنا التراب، وودعنا الاحباب، وفارقنا النعیم وانقطع الشمیم، اللهم ارحمنا اذا بلی جسمنا واندرس قبرنا، وانطوی ذکرنا وانسی اسمنا، قال المصنف:

فَاِذَا مَاتَ شُدَّ لِحْیَاهُ وَغُمِّضَ عَیْنَیْهِ

نو چې محتضر مړ سو وړ وه دی تره سی نه ای ده او په پښه وړ، تکره چې خوله یه په کښی پټه سی او پرسر دی وړ وتړی او پټی دی کړه سی ستړګی دده، لورود الامر به فی السنة النبویه، وتحسینا لوجهه کما هو الظاهر،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن نظر الیه بعین الانصاف

فَقَالَ الْمُصَنِّفُ وَیَقُوْلُ مُغْمِضُهُ بِسْمِ اللهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ

او وائی دی هغه سړی چې ستړګی دمړی وړ پټه وی، شروع په نامه د خدائی اوتابولو پر ملت د رسول

صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَیْهِ اَمْرَهُ وَسَهِّلْ عَلَیْهِ مَا بَعْدَهُ

الله صلی الله علیه وسلم، یا الله آسانه کی پرده موجوده حال د ده او آسانه کړی وروسته تر دی یعنی

وَاَسْعِدْهُ بِلِقَائِكَ وَاجْعَلْ مَا خَرَجَ اِلَیْهِ خَیْرًا مِمَّا خَرَجَ

د قبر حالات، اودی نیک بختی وړ ګرځوی په دیدار ستا او ګرځوی هغه دنیا چې دی

عَنْهُ

وړ وروتی، یعنی قبر د ما بعده خیر تر دغه دنیا چې دی څندی وروتی،

درویش وائی: چې په صحیح حدیث کی راغلی دی چې څه وخت چې ابوسلمهؓ وفات شو آنحضرت صلی الله علیه وسلم په ستړګی وړ پټولی نو داسې دعاء یې وکړه! چې خدایه وبخښی ابوسلمه اوپورته کړی درجه د ده په هدایت والاوکړی اوده په وړ وستوپاته کورکی د ده عوض وړ کړی په غابرینو کی، اومونږ ته بخښنه وکړی اوده ته یارب العلمین، اوفراخی ورکړی ده ته په قبر کی، اورونړاوړ کړی وده ته په قبر کی، کمال وافی چې بیادی پښتو وغیره پراوړکړی، قال المصنف:

ثُمَّ یُوْضَعُ عَلٰی بَطْنِهِ حَدِیْدَةٌ لِئَلَّا یَنْتَفِخَ

اوبیادی کښیږدی پر نس د ده یوه وسپنه تاچې نس یه ونه پرسیږی، **پوه سکه** چې وسپنه خاصتهً اوطبعًا په دفع کی د پاره سوب فائده لری، اوکه وسپنه نه وی نو یو بل درونده شی دی پرکښیږدی، قال المصنف:

وَیُوْضَعُ یَدَاهُ بِجَنْبَیْهِ وَلَا یَجُوْزُ وَضْعُهُمَا عَلٰی صَدْرِهِ

او کښی دی لښتو لاسونه د ده پر دواړو اړخونو د ده اونه ده وا ایښودل

په ځیګر ده، ولې چې داخوی اوعادت داهل کتابو دی، **فائده**: ګوتې دلاسو دی ومومې چې آواز یې ښه. اوغږ رنګه بندوینه دلاسو اوپښو دی ښه وړ اوار کی چې وغسل په وخت کی ورته اسانه وی» قال المصنف:

وَتُکرَهُ قِرَاءَةُ القُرآنِ عِندَهُ حَتّٰی یُغسَلَ

اومکروه دی قرائت د قرآن مبارک په نیږدې مړی ترهغه وخته پورې چې غسل ورکوی، دا دپاره ددی چې تعظیم قرآن وسپی دهغه ځای چې په مرګ سړه پیدا سو او پسله غسله مړی پاکیږی»

پوښتنه چې غسل ومړی ته ورکول امرشرعی دی قیاس اوعقل کار نه په کښی لری نو داپوښتنه ځای نه لری چې مړی خوپاک وو نوغسل ولی ورکوی» لان الآدمی لا ینجس بالموت کرامة له» یا داخبره کول هم ځای نه لری چې که انسان په مرګ نجس ګرځی نوباید په غسل هم نه سی پاک» لکه نورحیوانات چې مړه سی په پریولو نه پاکیږی، اویا داخبره چې مړی خوجنب ندی. نهایت داخبره ده چې په سختی نه کندنه به دده ځنې یو اودس ما تو ونکی شی وتلی وی، نوباید دده اعضاء داوده اسه وړ پری مینځی

قال المراقی بخلاف الکافر یعنی هغه په غسل سره نه پاکیږی آه لکن امام طحطاوی وائی چې مسلم او کافر په دغو احکامو کی سره یو دی، **سوال**، قال الله تعالیٰ: انما المشرکون نجس **جواب**: دهغه نجاست ځنې مراد نجاست دعقیدی دی نجاست دبدن نه نه دی مراد وهذا مذهب السلف والخلف: قال المصنف:

وَلَا بَأسَ بِاِعلَامِ النَّاسِ بِمَوتِهِ

اوپروا نه سته په خبرولو سره دخلګو په مرګ دده، تاچې جنازه وړ کوونکی ډیر سی، بخاری اومسلم روایت کوی چې علیه الصلوٰة والسلام خبر کړی په مرګ د نجاشی په هغه ورځ کې چې دی په ځمکه کې د حبشه وو مړ سوی وو اوده غه رنګه یې خبر کړه خلګ په مرګ د زید بن حارثه رض اود جعفر بن ابی طالب او عبدالله

ابن رواحه رض چې په یوه غزا کې دری سره شهیدان سوی وه، والتفصیل فی کتابی البلاغ المبین»

مسئله: په نهایه کې وائی که مړی یو عالم وو اویا یو زاهد سړی وو چې خلګو تبرک په کاوه نو بعض متأخرینو وئیلی دی چې پروا نه لری چې په بازار وکی دده مرګ اعلان وکړی وهوالاصح آه اوپه مراقی کی وائی چې دیرد مشا ئخو څخه وائی چې داپروا نه لری چې دجنازی دمړی خبروه خلګوته وړسوی تاچې هغه اقرباء یا نور دوستان چې په مرګ دده خبر نه وی خبرسی اوحق دمړی پرځای کړی، لکن فراط په مدح کې دمړی دی نه کوی بلکه هغه قدر الفاظ دی استعمال کړی چې خلګ یه وبیژنې»

صاحب هدایه په تجنیس کی وائی چې مکروه دی ترحد تجاوز په مدح کې مړی خصوصًا چې جنازه یه حاضره وی لانه من صنیع الجاهلیة» ط اوپروا نه لری بیان دسوانح عمری دمړی که په نثر سره وړ اوکه په شعر سره» لکن چې په واقعیت بیان سی اوافراط په کښې وی

مسئله: ژړل پرمړی که قبل الموت اوکه بعد الموت وی په صرف اوښکو تویولو سره پروا نه لری، چې آواز پورته کول اوچغې وهل په کښې نه وی،

اونیاحت یعنی په زوره چغې وهل لکه دښځو چې غالبًا عادت دی اوکاپی پرځان ځیرل یا تندی تکول یا شکایت دخدای پاک څخه کول سخت مکروه دی، بعض مشائخو دقریب دمرګ په وخت کې داسی حالت پرځان طاری کی لکه پیغام نا نوچې نیولی وی، په بخاری اومسلم کی داحدیث موجود دی چې څه وخت چې دآنحضرت صلی الله علیه وسلم اخیری زوی چې ابراهیم یه نومو اوده دلې بی ماریه زوی خدای پاک ددی څخه ورکړی وو، د ۱۶ میاشتو په عمر کی مریض سو او بیا وفات سو، نوآنحضرت صلی الله علیه وسلم په تویولو اوښکو پروژړل» عبد الرحمان بن عوف رض چې دالته حاضر وو، وعلیه الصلوٰة والسلام ترې ووئیل: وَاَنتَ یَارَسُولَ اللهِ تبکی»! فقال یا ابن عوف انها رحمة» یعنی زما دغه اوښکی د رحمت دسببه توئیږی یعنی دوصلهٔ رحمی له کبله معناداچې اوښکی تویول ممنوع ژړانه دی» وقال ﷺ ان العین تدمع» په تحقیق سره سترګی اوښکی تویوی» والقلب یحزن اوزړه غم کوی» ولا نقول الا ما یرضی ربنا» اوپه خوله نه وایو مګرهغه خبره چې خدای

اوپتی ستر گی می نه سوای رونړه ولاړ ی، او رونړی ستر گی می نه سوای پتولای. بالاخر
دغه مرض د سکتی یوه ورځ راته پیښ سوی وو، چې پلار مرحوم او نور قریبانو
د نبض کتلو وروسته، سل په سل داعقیده سوه چې عبید الله مړسو، نو د قبر
د پاره ئې خلګ ادرې ته واستول او کفن یه راوړی وو، او طالبانو د مسجد ته یه
نړه وروسپارلی وم چې غسل ورکړی، او خلګ او قریبان یه هم خبر کړی وه. نسو
یه لاس تیراوه، د نړه پر برابر یه د غسل یه پرما اچولی هغه طالب چې زما پر بدن
ته چې او به ئې پرما تویولې دې بل طالب ته ووییل چې ته راسه زما خیال دادی
چې د دی مړی نړه حرکت لری او ژوندی دی هغه چې لاس زما پر نړه ایښی وو هغه
هم ورته وییلی وه چې هو زما هم په حرکت پوهیږم، خیر طالبانو غاسلانو زما مړ جوړ
پلار ته وغلی وه چې ته ځه راسه وګوره مونږ عبید الله ژوندی بولو نړه یه
حرکت لری، پلار هره دنورو قریبانو چې راغلی وهغوته هم زما د نړه حرکت محسوس
سوی وو،
نو د غسل د ځایه څخې بیرته خونې ته راوړی وم، او هغه کالې یه راغوستی وه او پرې
تلتک کې یه پټ کړی وم. چونکه د تبو د پیړوخت د تیریدو څخه نړه ډیر ضعیف سوی
وم چې ستر گی می هم نه سوای رونړه ولاړی، او دوی هم هر گړی نه کتلم، خو څوشیبې
وروسته د نړه حرکت و نبض ته راورسیدی او نبض هم په حرکت راغلی یو گړی
وروسته ما ستر گی رونړی کړی او خبری می وکړی، په قریبانو کې د خوشحالی
دوړ پیدا سو چې مړ عبید الله ژوندی سو قبر کنانه یه بیرته راوغوښتل، رفته رفته ما کامل صحت پیدا کړی او کفن یه راکالې کړه وانې غوستل دادی تر اوسه پورې
ژوندی یم یعنی ۸۳ کاله عمر دا اوس می دی، والله جل سلطانه یعلم باجلی، اللهم انی
اسئالك ختام الاجل علی الایمان والاسلام وکلمة الشهادتین عن وداع الروح من البدن
علی الایمان والتوبة من جمیع المعاصی بحرمة سید الانام صلی الله علیه وسلم،

قال المصنف: **فیوضع کما مات علی سریر مجمر وترا ویوضع کیف**

نوی کیښنول سی مړی څرنګه چې مړسو یعنی مرګ یه متیتن سو، پر تخته د غسل په داسې حال
کی تخته دی خوشبویه کړی **یتفق علی الاصح ویستر عورته** وی تاګ وارو نه یا ۳ یا پنځه
پالنه، زړیلی دا تجمیر یوخو پاره د دفع د را ځه کهیفی د میت دی او بل دده د تعظیم پاره
هم دی، کیفیت د تجمیر دا دی چې عود یا اګربتی ته دی او راچوی، او دی وارې پر تخته
شاوخوا راوګرځوی، او که پر تخته نوره سمیتی ځای دی پری باسی او غسل دی ورکړی. او اینبوول
د مړی پر تخته هر رنګه چې وی پرواه نه لری پر اصح روایت چې شمس الائمه وییلی دی، او بعض
وایی پر قبله دی پری باسی یعنی پښې دی و قبلی ته کی لکه مریض چې لمونځ کوی او عورت
دی ورپټ کی، وجوبا ولی چې عورت ته د مړی کتل ناروا دی لکه د ژوندی»
لکن زړیلی او نهایه والا وایی چې د نامه ښځه تر زنګنو پورې دی عورت ورپټ کړی» او
هدایه والا وایی چې صرف عورت غلیظه دی ورپټ کړی تیسیرا علی الغاسل» وهو ظاهر
الروایة وهو المعمول فی الناس الیوم **مسئله**: ساتر العورة دی تر څپلو کا لولاندی دی
اول تو کړپه راچوی، **قال المصنف:**

ثم جرد علی ثیابه ووضئ الا ان یکون صغیرا لا یعقل الصلوة او ورسته دی لښ کی مړی د کالو ښځه. او او دس دی ورتازه کړی، مګر نه کد اسې
کوینی ووچې په لمانځه نه پوهیدی نو هغه او دس نه غواړی،،
مسئله: استنجاء دی داسې ورووهی چې غاسل دی کخوا نه پلاس واغوندې نو ترساتر
لاندی دې استنجاء ورووهی، او که هغه نه وه نو پرساتر سر بیره دی استنجاء ورووهی
قال المصنف: بلا مضمضة واستنشاق الا ان یکون جنبا بیله خولی پریولی او بیله پنړې

ږیولو مګرکه جنب وو، مراقی وائی دسرمسح دی وکړی په صحیح روایت کی، لکن خولۍ او پڼه دی په تهکره وړ مسح کړي، وعلیه التعامل، مر، اوکه مړی جنب وو، یا حائضه یا نفساء بنځه وه نو په تکلیف سره پرې خولۍ اوپڼه اوبه وړ لغړه وی تاچی طهارت یې پوره سی،

تحقیق غسلِ المیّت

پوه سه، چې په نیزد امام ابویوسف دی استنجاء نه وړ وځی، تاچی نور نجاست خارج سی لاسترخاء المفاصل اوخلاصه والاهم ودغه مذهب ته تللی دی **مسئله**: په ابتدا اودوا چی متوضی لاسونه مینځی دمړی دلاسو پرې بولۍ نسته، ط

مسئله دپښو پرې بولۍ دمړی دی نه ځنډوه وی، ولی چې په ځای کی دجمع ذالی داو بوند وړ قیاساً علی النبی **مسئله**: که سړی بالغ سو اولیونی وو بیا په هغه لیونتوب کی مړ سو اودس نه وو، پرې اودمړي غاښونه اوتالودی اوشندان دی په مسح کړي، اودغړ نګه په لړ سبز هودی. اودنو پرې غاښ کی دی گوته ولغړه وړي، وهذا مما استحبه بعض العلماء وهو حسن فی تنظیف المیت **تنبیه** استثناء دجنب چې مصنف په نورالایضاح کی کړیده، اواستثناء دحائض اونفساء چې په مراقی کی کړیده - دایوازی دخلخالی نظر دی، قال الامام الطحطاوی وهوغریب مخالف لعامة الکتب کما فی الشبلی علی الکنز،

اوپه تبیین کی وائی چې جنب لکه نورمړی دی، درویش وائی چې علماوو له بنائی چې په قول دیوازی خلخالی دی فتوی نه ورکوی، قال المصنف:

وَصُبَّ عَلَيْهِ مَاءً مُغَلًّى بِسِدْرٍ أَوْ حُرْضٍ وَإِلَّا فَالْقَرَاحُ وَهُوَ الْمَاءُ الْخَالِصُ

اوبیادی توی کړه سبی پرمړی اوبه چې دبیری ددرختی بلگوټه په کښو ایشولی وی، اویا بروځه اوکه هغه دواړه نه

وی نو بیادی قراح (خالصی اوبه) پرتوی کی، درویش وائی کی په صابون پرې مینځی هم روادی بلکه ورانلونکی خیرودی ملحظ اوی،

فائده: دمغلی څخه دامعلومه سوه چې توډی اوبه دمړي دغسل دپاره افضل دی، کذا فی النهر، کلمه د اودپاره د تخییر ده یعنی مغل وړ کوونکی مختاره دی په پرېولو سره چې مینځی ولی هر یو کافی دی، په حدیث شریف کی راغلی دی چې څه وخت چې پرمدینه منوره کی د علیه الصلوٰة والسّلام وفات سوه، نوده مبارک غاسلانو بنځوته وویل چې غسل وړکړي په اوبو اوسدر سره، قال المصنف:

وَيُغَسَّلُ رَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ بِالْخِطْمِيِّ ثُمَّ يُضْجَعُ عَلَى يَسَارِهِ فَيُغْسَلُ حَتَّى يَصِلَ الْمَاءُ إِلَى مَا يَلِي التُّخْتَ مِنْهُ

اوپرېولۍ دی سی سر اوږیره دمړي پرخطمی سره **پوه سه** چې خطمی په کسره او فتحه دخاء دواړه روادی لکن کسره یه اکثره ده ترفتحی په عربوکی. اوپه پښتنو کی فتحه اکثره ده، دیوواښه نوم دی چې اصلاً په عراق کی پیدی اوخوشبویه هم دی، اوپه پاکولو کی دشو د صابون وړکوی، اودیونانی طبیبانو سره پیدی،

مسئله: که دمړي یعنی مړي پر ږیره ویښتان نه وه اویا یه سر خړیلی وو، اوپر ږیره یه هم ویښتان نه وه یا نه وه راغلی یا کوسه وو یا یه ږیره خړیلی وه نو تکلیف ته دخطمی دپرېولو ضرورت نسته لعدم الباعث علیه، قال المصنف:

ثُمَّ يُضْجَعُ عَلَى يَسَارِهِ فَيُغْسَلُ حَتَّى يَصِلَ الْمَاءُ إِلَى مَا يَلِي التُّخْتَ مِنْهُ

بیادی پرې ایستل سی مړي پرچپه اړخ، نودی وړپرېولۍ سبی، یعنی دده رسته اړخ چې لوړسو راچې شروع په راسته اندام سنت دی، ترهغو پورې چې رسیږی اوبه وهغه جانب نه دمړي چې وتخته ته څرمه دی چې چپه طرفته دمړي دی قال المصنف:

ثُمَّ عَلَى يَمِينِهِ كَذَالِكَ

اوبیا بی مړي پرې باسی پر راسته طرف دغړ نګه یعنی ترهغودی مینځی چې وهغه ځای ته دمړي اوبه ورسیږی چې تختی ترڅرمه دی یعنی چپه طرفته ته،

قال المصنف: **وَالْكَافُورُ عَلَى مَسَاجِدِهِ** او ودی گرځول سی کافور چی یوه معلومه خوشبوئی وه پرځایونو سجدی

دمړی، چی هغه تندی دی، اوپزه ده، اودواړه لاسونه دی، اودوه زنګنونه دی اودوه پښی دی، روی ذالک عن ابن مسعود رض او چنچیان هم دکافور ځخه بد وړی، قال المصنف:

وَلَيْسَ فِي الْغُسْلِ اِسْتِعْمَالُ الْقُطْنِ فِي الرِّوَايَاتِ الظَّاهِرَةِ

اونه په غسل کی دمړی استعمال دپنبه وړپه روایا تو ظاهره ووکی، زیلعی په شرح کی دکنز والی چی پرواه نه لری چی پرمخ دمړی پنبه واچوی. اوپه سوزیوکی لکه دُبر، فرج، بینځی چی په دبره اوپه فرج کی دی پنبه نه وړ ایږدی، قال المصنف:

وَلَا يُقَصُّ ظُفْرُهُ وَشَعْرُهُ

اونوکان دمړی که څه هم اوږده وی نه دی وړ پری کړی اووِدی غورځوی، اووِینتان دی هم نه پری کوی یعنی که دسړی که دبریتووی اوکه د زیر ناف وی. امام شافعی والی چی دمړی بریتون نه ترمسنون بالا وه وِدِنګی دی کی اودغه رنګه کی نوکان غټ وه پری دی کی، اودغه رنګه کی دزیر ناف وِینتان ترغوړ مباح بالاوه ځندی پری دی کی. قاله العلامکین، اوکه فرضًا نوکان اووِینتان دمړی غاسلانوپری کړه زمونږ په نیزدی هغه په کفنو کی ورسره کښیږدی، ق. تب. قال المصنف:

وَلَا يُسَرَّحُ شَعْرُهُ وَلِحْيَتُهُ وَالْمَرْأَةُ تَغْسِلُ زَوْجَهَا بِخِلَافِهِ

اونه دی وِدِنږ منځوی وِینتان دسړ اودبړی ولی هغه د نیت دپاره دی، مړی د زینت ځخه فارغ دی پرته قنیه کی والی چی دا فعل مکروه تحریمی دی که طلاقه نه وی خونکاح قائمه ده اوکه طلاقه وی نوهم نکاح قائمه ده، لبقاء النکاح من حیثهامن جهة العدة، که عدده د طلاق رجعی وی اویا د ظهار، اومیړه ومایینځه غسل نسی ورکولای

کولای والی چی نکاح قطعه سوه، حتیٰ که بنځه د غسل دپاره نه وه میړه دی تیمم ورووهی اوپرمیړه نسته چی ستر گی به پوتهوی په وخت کی دمس د زړا عینو د دی، اوکه بیګانه سړی ووهغه په د غه وخت کی ستر گی پوتیوی،

مسئله که بنځه د میړه د مرګه سره لنګه سوه اوعده د رجعی طلاق په تیره سوه او یا په عده کی د طلاق بائن وه اویا پرمیړه حرامه سوی وه په سبب د مرتد والی نو د غه ما بینه میړه ته غسل نه سی ورکولای، قال المصنف:

كَأُمِّ الْوَلَدِ لَا تَغْتَسِلُ سَيِّدَهَا

لکه مینځه چی د بادار ه ځخه لنګه سوی وی غسل نه سی ورکولای بادار ته او د غه مدبره مینځه یا مطلقه مینځه، ولی چی ملک د بادار په مرګ سره د ده قطع سو او پر منځو خو عیده هم نسته، نوکه ترنه وو داغه مینځه د بادار ته تیمم ورووهی نکه پرلاس بیچلی،

بنځانه فائده

په صحیح روایت کی راغلی دی چی ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه، وصیت کړی وچیلی مایني ته چی اسماء بنت عمیس وه چی که زه مړسوم ماته به ته غسل راکوی، او ابوموسی الاشعری هم مایني ته وِرته وصیت کړی وو، اوپه بل حدیث کی د عائشه رض داسی راغلی دی، . . . . لَوِاسْتَقْبَلْنَا مِنْ أَمْرِنَا مَا اسْتَدْبَرْنَا مَا غَسَّلَ رسول الله صلی الله علیه وسلم إِلَّا نِسَاؤُهُ، یعنی که مونږ د ځخه پوهید ای په هغه شی چی وروسته پوه سوو نو به ږه وای ورکړی وعلیه الصلوة والسلام ته مګر خپلو بی بی گانو، یعنی په وخت کی د وفات وعلیه السلام ته مونږ ته داند وه معلومه چی بنځه و خپل میړه ته غسل ورکولای، ورو سته مونږ ته معلومه سوه،

قال المصنف: **وَلَوْ مَاتَتْ اِمْرَأَةٌ مَعَ الرِّجَالِ تَيَمَّمُوهَا كَعَكْسِهِ بِخِرْقَةٍ**

که سړه وه یوه بنځه په ډله کی د ده نړه یعنی محارم او غیر محرم، نو د وی د تیمم وِوَهی لکه عکس د دی یعنی چی نر مړسی په ما بین کی د بنځو چی بنځی یه محارمی

وی ، دا بنځی دی تیمم ورو وه وهی په یوتوکر سره چې پرلاس دی وپیچی که مړی څخه بنځی اجنبی وی تاچې لاس یې دهغی د بدن سره وی نه منبلی اوستر گی به هم پټیږی دمړوندو څخه د بنځی که څه هم سپین سری وی ، قال المصنف :

وَإِنْ وُجِدَ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ يَتَيَمَّمُ بِلَا خِرْقَةٍ وَكَذَا

اوکه موجود وو په ژوندو کی قریب محرم د مړی که مړی نر وی اوکه بنځه نو تیمم دی

الْخُنْثَى الْمُشْكِلِ يَتَيَمَّمُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

ورووهی بیله تکره . اودغه رنګه دی تیمم ورو وهی د خنثی مشکل په ظاهر روایت کې

مسئله : که خنثی مشکل نه وو یا د نر خو ایه غالبه وه یا د بنځی . نو بیا دی غسل وکړی یا تیمم یا د بنځه ، ط ، م ، قال المصنف :

وَيَجُوزُ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ تَغْسِيلُ صَبِيٍّ وَصَبِيَّةٍ لَمْ يَشْتَهَيَا

اونر اوبنځی لره روادی غسل ورکول وکوچنی هلک اوجنلی ته چې اشتهاء د نر نه وړ ته نرهلک یا جنلی ته ، وجه د اول روایت داده چې اعضاء ولره د کشنی هلک اوجنلی حکم د عورت لري ، لکن چې صغیر جدا وی که چیری اشتهاء ورته کیدل بیا نر و نرته غسل ورکوی اوبنځه بنځی ته ، بیا تراس کاله پوری وروسته یه حکم د بالغ دی ، قال

وَعَلَى الرَّجُلِ تَجْهِيزُ امْرَأَتِهِ وَلَوْ مُعْسِرًا فِي الْأَصَحِّ

اوواجب ده پر نر باندی کارسازی د مړې مایني دده که څه دی مسکین وی په اصح روایت کی ، والمراد بالتجهیز هو الکفن والدفن ، د امذهب دی دابو یوسف لکن امام مذکور وایی چې دا تجهیز هلته پر میږه واجب دی چې مایني مسکینه وی ، اوداخبره خوښه کړی صاحب

المحیط والظهیرة ، اوامام ابو یوسف دا روایت هم راغلی دی چې تجهیز د مایني پر میږه واجب دی که څه هم دا غنی اومیږه مسکین وی . نو دی سبب ه مصنف وو ئیله : علی الاصح اوپه مراقی کی وائی وعلیه الفتوی اوامام محمد مذهب دادی چې پر میږه هیڅ تجهیز واجب نه دی لانقطاع الزوجیة من کل الوجوه ، قال المصنف :

وَلَا بَأْسَ بِتَقْبِيلِ الْمَيِّتِ

اوباک نشته په مخ لودمړی د محبت ده سبب ه ، لکه چې په صحیح حدیث کی راغلی دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم چې پر عثمان بن مظعون رض چې هغه وفات سوی ووداخل سو نو نبی ص پرې راکوږ سو اوعثمان رض یه مخ کړی او اوښکی یه پرمخ راتوی سوی ، رواه الترمذی وابوداؤد وابن ماجه والحاکم ،

اویا د محبت او تبرک دواړو د پاره وی لکه چې بخاری روایت کړی دی د عائشې څخه څو وخت چې علیه الصلوٰة وفات سو د ابوبکر رض په کور کی وو نو څه وخت چې دی خبر سو او راغی کور هم کور د خلکو ډک وو لکن ابوبکر رض د هیڅ چا سره خبره و نه کړه حتی خو چې ته د عائشې رض راغلی او آنحضرت صلی الله علیه وسلم پروت وو او پرمخ مبارک یه کشمیره اواره وه نو مخ مبارک یه وړ لخ کړی اوپر نسکور سو او مخ یه کی او وی ژړل ، تراخیره د حدیث لکن که مچیده د شهوت دلاړې وه کی څه هم مایني وی نا روادی ، لانقطاع النکاح من کل وجه نو میږه بیګا نه سړی دی ، قال المصنف :

وَمَنْ مَاتَ وَلَا مَالَ لَهُ فَكَفَنُهُ عَلَى مَنْ تَلْزَمُهُ نَفَقَتُهُ

کوڅ مړ سو او هیڅ مال یه نه درلودی ، نو کفن یه پر هغه چا لازم دی چې د مړې نفقه په وخت کی د ژوندو ده پر ذمه لازمه وې ، اوکه هغه کسان ویروه نو کفن یه پرانډا نه د میراث پر دوی لازم دی ، قال المصنف :

وَإِنْ لَمْ يُوجَدْ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ نَفَقَتُهُ فَفِي بَيْتِ الْمَالِ

اوکه چیری نه وو موجود هغه څوک چې د ده نفقه پر واجبه

نوکفن دمړی دی د بیت المال څخه حکومت ورکړی، قال المصنف

فَإِنْ لَمْ يُعْطِ عُجْزًا أَوْ ظُلْمًا فَعَلَى النَّاسِ اوکه بیت المال کفن نه کړی

وَرْدِ سَبَبِه څخه د عجز د بیت المال یعنی په بیت المال کی روپۍ نه وی اویا د جهته د ظلم دبیت المال چې پلیسی خووی لکن حکومت ظالم وو، نوکفن دمړی پر عمومی خلګودی کی همسایګان وی اوکه نور، در، قال المصنف:

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ التَّجْهِيزُ مَنْ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهِ غَيْرُهُ اوسوال دی کوی د پاره

دمړی د کفن وغیره هغه څوک چې قدرت پخپله نه پرلری یعنی چې په مړی خبر یې. اوسوال دی دبل چا څخه کوی یعنی بل قادر یې ته دی وفا ئې چې ته څه مبلغ راکړه چې فلانی سړی مړ دی نه کفن په راکړم، ترکیب: التجهیز اول مفعول دیسئل دی. مَنْ لا یقدر فاعل دیسئل دی

مسئله: که پیسی ترکفن بالاسوی بیرته دی هغه سړی ته ورکړی چې ځُندی خښتی یې وی، اوکه سړی غائب سواوسوال کونکی نه پیژندی بل مړی ته دی کفن په راکړی او که مړی نه ووخیرات دی کړی،

مسئله: که یوخوک لخ وو پربل چا ګذښته چې دده د پاره سوال وکړی بلکه پخپل مال وکړی

مسئله که یوخوک درنده خوړلی وو نوکفن یې په پرمتبرع دی پرو ارث نه دی

مسئله که دمړی اکثر بدن موجود وو اویا نیمی بدن یې موجود وو سره دسره اونو یې درنده خوړلی اویا په اوسنی زمانه کی د مړیئن په چاودلو کی ټلی وو نو غسل دی ورکړی اولمونځ دی هم ورکړی، اوکه ترمذکوری اندازې کم موجود وو نو نه غسل ستاونه لمونځ مړ، یعنی داغسی دی په ځګه کی پټ کړی، ط،

پوه سه: چې نفس کفن ورکول نومصنف د غه درې سره بیانوی:

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهِ وَلِكَاتِبِهِ وَلِجَمِيعِ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ آمِين آمِين آمِين

قال المصنف **وَكَفَنُ الرَّجُلِ الْمَيِّتِ سُنَّةٌ قَمِيصٌ وَإِزَارٌ وَلِفَافَةٌ**

اوکفن د نر سنت یې دری جامې دی. یو قمیص پرې نامه لکن د قمیص څخه اصطلاحی نه دی مراد بلکه د غاړې څخه نیولی تر پښو پورې لاندی

مِمَّا يُلْبَسُ فِي حَيَوَاتِهِ باندی لستونړی دی نه ورکوی اونه ترخیټی، او ازار دی،

پوه سه: چې ازار او رداء او لفافه په یوه معنا دی چې هغه یوه جامه ده پرې وړه اوږه ده چې بټوله بدن د مړی پټ کړی د سره څخه تر پښو پورې، او بله لفافه چې هغه هم اوږه ده او پرې وړه جامه ده چې اول هغه اواریږی د مړی ته، اوه لفافه تر مړی په بالا وی تاچې د سر د خوا اود پښو د خوا غوټه یې، او بټوله مړی په کښی وپیچل یې، اودی سبب یې لفافه بولی، اوداکفن به د هغه پټکی څخه وی چې ده په څروند اغوستی یعنی د جمعې په ورځ او په اختر وکی،

مسئله: مستحب داده چې کفن د نبي سپینی کپړی (جامې) وی، لقوله علیه السلام «حَسِّنُوا أَكْفَانَ الْمَوْتَى فَإِنَّهُمْ يَتَزَاوَرُونَ فِيمَا بَيْنَهُمْ» **مسئله**: په دې لور قیمت دی نه راکړی چې کالې د اهل فخر دی په دنیا کی او د ریاء او تکبر د پاره وی لقوله علیه السلام: لَا تُغَالُوا فِي الْكَفَنِ فَإِنَّهُ يُسْلَبُ سَرِيعًا، حتی که یو چا وصیت وکړی چې مات په زړ درهمه مثلاً کفن راکړی د اوصیت ده نافذ نه دی بلکه میانه کفن دی ورکوی جلال الدین سیوطی په شرح الصدور کی وائی: اخرج ابن عساکر عن ابن عباس رضی عن النبی صلی الله علیه وسلم: اذا مات لاحدکم المیت «چې ستا سو څخه یو مړی وسو، فَأَحْسِنُوا كَفَنَهُ، نو ښه کفن ورکړی، وَعَجِّلُوا إِنْجَازَ وَصِيَّتِهِ، او ټلوار وکړی په پوره کولو د وصیت د ده: وَأَعْمِقُوا فِي قَبْرِهِ، او ښه جوړ کړی قبر د ده، وَجَنِّبُوهُ جَارَ السُّوءِ او ګوښه کوی ئې په قبرستان کی د بده همسایه څخه، چاد علیه الصلوة والسلام څخه سوال وکړی یارسول الله ینفع الجار الصالح فی الاخرة، آیا نفع لری صالح همسایه په اخرت کی یعنی په قبر کی چې اول منزل د اخرت دی قال ﷺ هَلْ يَنْفَعُ فِي الدُّنْيَا قَالُوا نَعَمْ قَالَ كَذَلِكَ يَنْفَعُ فِي الْآخِرَةِ

آیا صالح همسایه په دنیا کی فائده لری! خلگو وَوَیل هو علیه الصلوٰة والسلام وَوَیل داغسی نفع لری په آخرت کی انتهی،،

فَائِدَه: رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته په دری (۳) جاموکی کفن ورکړه سوی دی، تر دری (۳) جاموبا کفن مکروه دی، مگر کومړی د بالاجاموو صیت کړی وو بیائی نیاوت مکروه نه دی، اوکی دوو جاموو صیت کړی وو نو دده وصیت لازم الاجراء نه دی، ولی چیرته خلاف د سنت دی بلکه په دری جاموکی دی کفن ورکوی، ط،، نړه نه پوهیږم چی پښتنو ولی دمړی کفن د پاره که شاه وی اوکه گداوی کفن "سان" مختاره کړی دی، اوسه ددی چی په تولو جاموکی تر هغه کم قیمته جامه نسته، اوتقریباً هیڅ څوك د دغه سان کالی په ژوند کی نه اغوندی خصوصاً په اوسنی زمانه کی، حتیٰ چی په عموی وَرځوکی هم نه اغوندی اختر ونه نوشته کوی. که څوك وائی چی وجه یی داده چی داکفن سپینه دَه،، نوزه وایم چی سپین رنگ خو تر دی بالام سته، اوکه څوك وائی چی داخو په قبر کی ژر خرابیږی جامه څه کوی! نوزه وایم د دی حدیث په څه جواب وی: حَسِّنُوا اکفانَ الموتٰی آه قَالَ المُصَنِّفُ:

وَکِفَایَةُ إِزَارٍ وَلِفَافَةٍ

اوبل کفن کفائی دی د نر د پاره اوهغه یوازی ازار، اوبله لفافه ده، لکن دا اصح روایت دی، اوبعض وائی چی قمیص او لفافه کفن کفائی دی،، **پُوهه سه**: چی په هغه کی داختیار دغه کفن کفائی واجب دی بیله کراهته،

مسئله: که د مړی مال لږ وو اوقریبان یی ډیر وه، نو دغه کفن کفائی اولی دی تر سوال پرقریبا نو د کفن سنت پاته، اوکی مال ډیر وو اوقریبان یی لږ وه، نو بیا کفن سنت اولی دی،، **مسئله**: که پرمړی پور وو نه باندی وه چی دده مال یی کافی نه وو نو هغه پور وړی مانع د کفن سنت من حیث القیمة اومن حیث العدد نه هی کیدلای، قَالَ المُصَنِّفُ

وَفَضْلُ الْبَیَاضِ مِنَ الْقُطْنِ وَکُلٌّ مِنَ الْإِزَارِ وَاللِّفَافَةِ مِنَ الْقَرْنِ إِلَی الْقَدَمِ

اوتقسیل وړکړه سوی دی سپینی څامی نه چی پنبه وو وی

ه، وائی چی مستحمل پریولی اونوی سره برابر دی، اوهریوه انداز اولفافه څخه دی دقدر یعنی دسر دمابین څخه تر پښتو پری پوری وی،، وفی المراقی مع زیادة للربط، قَالَ المُصَنِّفُ

وَلَا یُجْعَلُ لِقَمِیصِهِ کُمٌّ وَلَا دُخْرِیصٌ وَلَا جَیْبٌ

اونه دی ورکول کیږی قمیص ته د مړی لستونړی او نه ترخړی، اونه ګریوان چاکوی، ولی چی داتولو شیان د پاره د حاجت د ژوندی دی مړی و دغو شیا نو نه ضرورت نه لری، اوفخر الاسلام په شرح کی د جامع صغیر اورضی الدین په محیط کی اوحافظ الدین په کافی کی د جیب څخه جیب مصطلح اختی دی چی خلق شیان په کښی اچوی چی په پښتو یی جیب بولی بکسر الجیم

قَالَ المُصَنِّفُ

وَلَا تُکَفُّ أَطْرَافُهُ وَتُکْرَهُ الْعِمَامَةُ عَلَی الْأَصَحِّ

اواطراف د کفن دی نه سره جوړوی. ولی چی حاجت ورته نه سته، قال ط اوکی کف وکړی روادی بیله کراهته،، او مکروه ده لنګوټه په اصح روایت کی، ولی چی په کفن کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لنګوټه نه وَه، اوبدائع والا یه علت دا بولی چه کله عمامه ورکړه سی نو جامی د کفن جوړی کړی اوسنت خو داده چی تاك وی، وفی المراقی: چی لنګوټه د مړی بعض ښه بولی،،

پُوهه سه: چی مراد د بعض څخه متأخرین دا حناف دی. لکن په فتاوای ظهیریه کی وائی چی لنګوټه چی متاخرین حسین بولی د پاره د علماؤ اوصلحاؤ ده خاصته نه د عموم خلگو د پاره:

قَالَ المُصَنِّفُ

وَلُفَّ مِنْ یَسَارِهِ ثُمَّ یَمِینُهُ وَعُقِدَ إِنْ خِیفَ انْتِشَارُهُ

پوهه سه: بیادی وپیچی مخکښه طرفه څخه او بیا د سته طرفه څخه اوغوټه دی کړی که چیری د خلا صیدو ویره وَه، **پُوهه سه**: چی اصل پیچل د مړی داری چی اول دی لفافه اواړه کړی، اوبیادی ازار سر بیره پر اواړه کړی، اوبیادی په مړی قمیص واغوندی اوپر ازار دی کښیږدی، بیادی چپه طرف د څخه پر اواړه وی. وروسته دی د استه طرف پر اواړه وی تاچی د استه طرف سر بیره سی، اوبیادی لفافه هم داغسی

پرې اواړه وي. او بیادی غوټه ورکړی که بیره ددی، ۵ چې کفن به سره و پاشل سي
یعنی که بیره نه وه چې قبر نه دی وو نو بیا غوټه ضرورت نه شته کذا فی ط و در.

قال المصنف: **وَتُزَادُ الْمَرْأَةُ فِي السُّنَّةِ خِمَارًا لِوَجْهِهَا وَخِرْقَةً**

اودیا ټول کیږي دی ترکفن دننه ښځی لره د سنت پر طریقه کفن کی یو پورتنی دښځ پټیدو له پاره
لِرَبْطِ ثَدْيَيْهَا وَفِي الْكِفَايَةِ خِمَارٌ یعنی د سر دپاره هم، او یوه ټوټه نکړ
ټوکر به دونه پرې ور وي چې دټیو څخه تر ناموسه پوری به وي، اولبعض وائی تر زنګر
پوری. او په کفن کفائی کی دی یو پورتنی بالا کوي. قال المصنف:

وَتُجْعَلُ شَعْرُهَا ضَفِيرَتَيْنِ عَلَى صَدْرِهَا فَوْقَ الْقَمِيصِ

اوودی ګرځول سی و یښتان دښځی دوی (۲)، کوڅی اوپرځیګرد دی دې کښیږدی تر قمیص سر

ثُمَّ الْخِمَارُ فَوْقَهُ تَحْتَ اللِّفَافَةِ ثُمَّ الْخِرْقَةُ فَوْقَهَا

بیره، او بیادی پورتنی پرسر اوښخ ددی دپاسه واچوی سر بیره پر قمیص چې تر لفافی لاندی
راشی، بیادی هغه ټوکر دټرلودټیو سر بیره پر لفافه وتړی نو کفنونه به نه پاشل کیږی

قال المصنف: **وَتُجَمَّرُ الْأَكْفَانُ وِتْرًا قَبْلَ أَنْ يُدْرَجَ فِيهَا وَكَفَنُ**

او خوشبوئی دی کړه سی کفنونه که دنرو وی اوکه ښځی تاک وار دښخ دپیچلو دمړی په
الضَّرُورَةِ مَا يُوجَدُ هغوکی اوکفن د مجبوری که دنرو وی اوکه د ښځی هغه قد
وخت چې په غزا کی واحد حضرت حمزه رض شهید سو په یوه جامه کی کفن سو. او مصعب
ابن عمیر رض چې هم په غزا کی واحد شهید سو یوه شړی د رلوده چې پرسر بې ورواچول

پښې بې لخې پاته سوی اوکه بې پرې پښو ورواچول سر بې لخ پاته سو. نوعلیه الصلوة والسلام امر وکړی چې سر یې وپټ کړی او پر پښو یې اذخر واښه ورواچوی
نو ددی کبله مصنف ووېل چې کفن ضرورت مایوجد دی».

پوښتنه په حدیث شریف کی امام احمد یه روایت کړی دی او اصحاب سنن
بیله نسائی هم روایت کړی دی. داسی راغلی دی چې علیه الصلوة
والسلام وویل: مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا فَلْيَغْتَسِلْ وَمَنْ حَمَلَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ، او امر خو پاره د وجوب
وی نو باید چې پرغاسل دمړی غسل واجب سی، او پرحامل دمړی دی او دس واجب سي
نو اضافی به په جواب کی څرګندیږی:

جواب: حنیفیانو وائی چې دا دوه (۲) امره چې په دغه حدیث شریف کی راغلی دی
د پاره د ندب دی. ولی چې په حدیث کی دابن عباس تصریح په نفی د وجوب راغلی ده،
امام محمد په موطاء کی وائی: ونأخذ بانه لاوضوء علی من حمل جنازة ولا علی من خنط
میتا او کفنه او غسله، وهو قول ابی حنیفة اوملا علی قاری وائی چې دا امر محمول پر احتیاط
دی، اولبعض فقهاؤ چې هغه سړی چې مړی ته غسل ورکړی د یر وار خفاء او مغموم ګرځي
نو چې دی په خپله غسل وکړی هغه خفګان بې په نشاط او خوشحالی بدل سی،
اودغه رانګه هغه څوک چې مړی پر اوبو واخستی وی لږ تر لږه څه سودا اودل خستګی وی
پیښیږی نو چې اودس وکړی هغه به دفع سی. داوو حکمت دحدیث مذکور. ط. در.

فائده: غاسل دمړی دابتداء څخه د غسل تر پایه پوری داغه قول تکراروی
«غفرانک یا رحمٰن». **فائده**: مشروعیت دغسل دوخت څخه دادم علیه
الصلوة والسلام راغلی دی، حاکم یو حدیث چې دی به حکم په صحت سره هم کړی دی دابن
روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وو ئیله چې آدم علیه السلام غنم رانګه سره تر تګ وی
او پیر جګ سړی وو، خو څه وخت چې دی وفات سو، ملائکو حنوط او کفن دجنت ورته
راوړه او بیا ملائکو غسل ورکړی په اوبو او بعد سره درغ ۳ واره، او په دریم وار کی
یواځی کافور هم استعمال کړه. او په تاکو کفنونو کی و پیچي او په قبر کی لحد ورجوړ

کی او لمونځ د جنازی یه ورکړی. او ملاتګو دهغه وخت عیال ته ډډه ووېل: سَیَأتی اُدم هذا سنتکم من بعده فکذا کم فافعلوا»

تنبیه: په حدیث شریف کی ر اغلی دی که چا مړی ته غسل ورکاوه، او لعض علاماتی دیدی بختی په کښی ولیدی مثلاً مخ یه تک تور سو یا یه تس و پرېسیدی او داسی نور شیان، او عاسِل هغه شیان پټ کړه خدای پاک به وده ته خلویښت کبائر ګښلونه ورو بخښی، او که چا کفن ورکړی مړی ته خدائ به پهغه واغوندی کا پی دسندس او استبرق» چی دوه قسمه ورېښمو دی» او که چا مړی ته قبر ورجوړ کړی. اودی یه په کښی پټ کړی» دومره ثواب لری گویا ده ومړی تر ورځی د قیامت کور ورجوړ کړی، وعنه علیه الصلوة والسلام: یا علی غَسّلَ المؤمن فانه من غسّل میتاً غفرله سَبعُونَ مغفرة» الحدیث»

تاریخی یادګار نن یعنی دجمعی ورځ ده تردی ورځی دمخه څلور ورځی کیږی چی امریکا یانو او انګریزانو پر افغانستان دشپی اودورځی هوائی بریدونه شروع کړی دی، او سکه توغندی پرې برعام المنفعه ځایونو او پرهوائی میدانو او د طالبانو پرشک مند ځایونو بلکه پر بیګناه عوامو هم بی رحمانه ظالمانه اوروی پرکابل، قندهار، جلال آباد، مزارشریف، هرات، شندند او پرنورو بنارونو افغانستان ورته بمباری دشپی او ورځی دخواشروع دی، اود زمینی حملی هم ګوابن کوی، او په موجوده حال کی بعض اسلامی مملکتونو هم فضائی حملوته امریکاته اجازه ورکړیده، او همدا یه دوه هوائی میدانونه دلویدیځ په والک کی ورکړی دی. او امریکا او انګریزانو دا قصد کړی دی چی د طالبانو حکومت به د پښتو غورځوی، وبلی خراته اوس هندوستان وشمالی اتحاد ته چی د طالبانو مخالف ځواک دی پیش رفته سلاح ورکوی بدګه هیلی کاپټرونه هم ورکړی دی» اللهم انصر الاسلام والمسلمین ودمر واهلک اعداء الدین من کانوا اللهم اهزم الکفرة والمشرکین ومن عاونهم

پوه سه چی مصنف تردی اوسه پوری بیان د غسل او کفن دمړی کاوه. ولی چی هغه د جنازی د لمانځه شرط دی او شطونه خو هر ځای ترمشروط دمخه ذکر کیږی لکه طهارت تر لمانځه دمخه ذکر کیږی نو څرنګه

چی مصنف د بیان شخه د شرطونو فارغ سونو اوس شروع په مشروط کوی فقال:

فصل

داتوری خبری د مبتدأ محذوف ای هذا فصل د اودروسته تر دوسره اعرابی تعلق نلری

اَلصَّلوٰةُ عَلَیهِ فَرضُ کِفَایَةٌ لمونځ د جنازی د مړی فرض کفائی دی دلیل د فرض والی خو یه اجماع دامت ده چی منکر یه کافر دی کما فی البدائع والقنیة» اوعلاوه تر اجماع احادیث صحیحه هم اثبات کوی د رضیت نر په کیږی» ولی اخبار احاد دی، قال علیه الصلوة والسلام: صَلّوا عَلیٰ کل بَرٍّ وفَاجِرٍ» اوهغه ایت مبارک چی طحطاوی پر صلوة جنازه دلیل گرځولی دی یعنی قوله تعالیٰ: وَصَلِّ عَلَیهِم» الآیه هغه استدلال صحیح نه دی، ولی چی مقصود یه ایت کی خو د عاده بدلیل مابعده: اِنَّ صَلٰوتَکَ سَکَنٌ لَّهُم» اوفرض عین نه دی، ولی چی پرټولو مسلمانانو فرض ښی ده یوخو محال دی اوبل حرج عظیم دی»

اوبل دلیل دادی چی په حدیث کی ر اغلی دی چی علیه الصلوة والسلام وَخلګوته ووېل: صَلّوا عَلیٰ صَاحِبِکُم» نوکه فرض عین وای نو علیه الصلوة والسلام ولی پریښو

پوه سه: چی جماعت په لمانځه د جنازی کی شرط نه دی که یو سړی لمونځ ورکړی هم فرض ساقط سوه.

مسئله: د جنازی لمونځ د لوی سړی افضل دی د کوچنی د جنازی تر لمانځه ته.

مسئله: تذکول د جنازی. لمانځه صحیح دی ولی چی قربت مقصوده دی، او تکفین یاد جنازی سره د تلو نذر نه دی صحیح» بحر»

فائده: چاچی وَیلی دی چی د جنازی لمونځ دَخواصو شخه د دی امت دی هغه غلطه خبره ده. ولی چی د مخه تیره سوه چی ملایکو والد مر علیه الصلوة والسلام ته ټینګه غسله د جنازی لمونځ کړی» او امام د جنازی د آدم ع حضرت جبرئیل علیه السلام وو» کما فی النهایة او ابن عابدین چی امام د لمانځه حضرت شیث علیه السلام وو»

پوښتنه: اُمنا خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها چې پسله نبوت څخه د علیه الصلوٰة والسلام لس کاله وروسته وفات سویده، او علیه الصلوٰة والسلام د جنازې لمونځ نه دی ورکړی **جواب**: په هغه وخت کې د جنازې لمونځ مشروع نه وو، (الواقدی، قال المصنف) **وَارْکَانُهَا التَّکْبِیرَاتُ وَالْقِیَامُ** او ارکان د جنازې دی اوپه ولاړې کول دی، مرافق وایي چې اول تکبیر شرط دی په اعتبار د شروع د جنازې په لمانځه او رکن دی په اعتبار د دې چې په ځای کې ده رکعت ولاړ دی لکه د درې تکبیره نورې چې هر یو په ځای کې د رکعت ولاړ دی. ګویا د جنازې لمونځ څلور رکوع دی، محیط **مسئله**: د جنازې لمونځ په ناستې بیله عذره نه دی روا. او په سپرتیا کې هم نه دی روا. اوکه محکه د باران په سبب تمول ختمې وه، بیا په سپرتیا روادی، ط، **وَشَرَائِطُهَا سِتَّةٌ إِسْلَامُ الْمَیِّتِ** او شرطونه د لمانځه د جنازې قال المصنف شپږ دی، اول اسلام د مړي دی، ولې د المونځ خو شفاعت دی او شفاعت د کافر په پاره نشته **پوه سه**: چې اسلام عام دی که پخپله مسلمان وی اوکه په تبع د مور او پلار وي لکه د مسلمان کوچنۍ چې مړه شي، نو د جنازې لمونځ به ورکوی، او یا په تبع د دار وی لکه په دار اسلام کښې چې کشنی پیدا شي، **مسئله** که بالغ سړی څخه چا اسلام او پوښتنې او هغه نه ووزده، چې مړ سی د جنازې لمونځ به نه ورکوی، حموی س، قال

وَطَهَارَتُهُ اوبل شرط یې پاکوالی دی د مړي د نجاست حکمي او حقیقي څخه وليې مړي لکه امام د ی او د امام طهارت شرط دی، زاد فی المراقی، وَطَهَارَةُ مَکَانِهِ، نو د جنازې لمونځ ورکول نه دی روا چې غسل نه ورکړه سوی. او یا یې پر بدن نجاست وي.

مسئله: پاکوالی د کفن هم شرط دی نو که کفن د ابتداء څخه نجس وو خو پرې دې منیځې ورنه لمونځ د جنازې نه دی روا، اوکه وروسته تر غسل د مړي څخه نجاست

راوووت او کفن په مردار سو په خزانه کې وایي چې دا نجاست مانع د لمانځه نه دی دفعا للحرج **مسئله**: که ټی مړی بیله غسله بخ کړی او قبرته خاوری ورواچولی، نو د غسل د پاره دی بیرته خاوری نه ځندی غورځوی بلکه قبرته دی لمونځ ورکړی بیله غسله للضرورة، اوکی صرف په قبر کې اینبی وو خاوری نه وی پرور اچولې نو دی مړی راوکاږی غسل دی ورکړی بیادی لمونځ ورکړی.

اوکی غسل نه وو ورکړی او لمونځ یې ورکړی د سبب د ډهیرې، او یا د سبب د جهل، او مړی بخ کړی خواری یې پرواچولې، بیادی قبرته لمونځ ورکړی. ولې چې هغه د ځنه لمونځ خو فاسد وو، او مراد د مکان څخه ځای د مړي د پورته دی، ... نو که مړی پر جنازه وو او جنازه پاکه وه اولاندی محکه مردار وه وه د جنازې لمونځ یې روادی، اوکه مړی پر محکه پروت وو نو د محکې طهارت شرط دی، اوهغه خبره چې صاحب الفوائد کړیده. چې سړه د نجاست د محکې یې هم لمونځ روادی. ولې چې کفن د مړي حائل دی، د اعتبار ورڅخه نه دی، ولې چې په قمیصه کې وایي چې کفن تابع د مړي دی نو حائل نه سی کیدای، درویش وائی: که مړی په پاک تلتک کې پیچلی وو کما هو المعتاد اولاندی محکه مردار وه وه لمونځ د جنازې یې روادی وو ولې چې تلتک په سبب د عدم اتصال په بدن پورې د مړي تابع نه دی،،

مسئله: که د امام خپله بې اوده سیانه وه پیاد اولمونځ یې ورکړی، ورڅخه وروسته معلومه سوه نو که څه هم قوم تمولې په اوداسه وی لمونځ به بیرته راګرځوی، ولې د تمولو اقتداء نه وه پسې روا، اوکه امام اودس درلودی د قوم یا تمولو او یا بعضو اودس نه درلودی لمونځ صحیح سو په سبب د دیوازی امام، ولې چې د جنازې په لمانځه کې جماعت شرط نه دی، ط، در

مسئله: که د جنازې په لمانځه کې اودس مات سو او بل څوک یې خلیفه کړی لمونځ یې صحیح دی ځ **مسئله**: که محکه مردار وه وه اود مړي چوتې یا ګوټې ونه مثلا په پښو وه لکن د پښو نه سره جوت تلی ده چوتې مثلا پاک وو کې خو هم لاندی تلی مردار وی لمونځ د جنازې په کښې روادی،،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما ولمن نظر الیه بعین الانصاف آمین آمین

قال المصنف **وتقدمه وحضوره** لمامراد کا الامام، اوبل شرط دادی چی مړی به دمخ وخواته وی چی مړی به حاضروی و غایب مړی ته لمونځ نه دی روا. مراقی وائی که اکثر بدن ورمړی یا نیمی سره د سره، حاضروی دجنازی لمونځ په روادی:

فائده: نجاشی په فتحه دنون چی دحبشی بادشاه وو اوقوم یې اصحمه وو چی عربی معنایه عطیة الله ده اومسلمان وو. نوکله وړح چی دی په حبشه کی مړ شو آنحضرت صلی الله علیه وسلم په صحابه وڅه ترخبره کړی اوغائبانه دجنازی لمونځ ورکړی نو دی څخه داسوال پیدا کیږی چی حضور دجنازی شرط نه دی، نومراقی په جواب کی دی سوال وائی: چی جنازه د نجاشی ملکوه اپوره ترکړه. چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم ولیدله نو ئی لمونځ ورکړی. داد نجاشی کرامت وو اودنبی علیه السلام معجزه وه، اوپه لمانځه کی دجنازی یوازی دامام لیدل ضروری دی دخلګولیدل نه دی. اوبعض فقهاء وائی چی داغائبانه لمونځ خصوصیت د نجاشی دی،

اوبعض علماء وائی چی مراد د صلاة څخه په قصه کی د نجاشی صلاة لغوی دی، یعنی دعاء یه ورته وکړه دجنازې اصطلاحی لمونځ نه دی. لکن دا اخیری جواب احادیثو سره سمون نه خوری ولی چی په حدیث کی رالغلی دی چی څه وخت چی علیه الصلوة والسلام خبره د مرګ د نجاشی خلګوته ووایه نو د مخه سوا اوصحابه ؓ په صفوکی پسی ودریدل، نو دی څخه واضح معلومیږی چی مصطلح دجنازی لمونځ یه ورکړی. والجواب الاول هو المشهور المقبول. المطابق لما اخرجه الطبرانی ؒ وابن سعد ؒ فی الطبقات چی جبرئیل ؑ راغلی وعلیه الصلوة والسلام اوډی ؑ په تبوک کی وو، اوورته وی وئیله چی معاویه په مدینه منوره کی وفات سوی دی دجنازې لمونځ ورکوی علیه الصلوة والسلام ورته وو ئیل هو، نوجبرئیل ؑ پخپل وخت محکه وخوله اوجنازه شبکاره اوحاضره سوه. نوعلیه السلام چی لمونځ ورکاوه، دوه صفه ملکی پسی ودریدل چی هرصف یه اویا زره وو، نوپسله لمانځه علیه الصلوة والسلام دجبرئیل ؑ څخه پوښتنه وکړه چی داسړی په څه سبب درجی ته ورسیدلی وو، جبرئیل ؑ ورته ووئیله چی په

محبت دسورة اخلاص چی ده قائماً اوقاعداً ذاهباً او جائیاً وعلی کل حال داسورت مبارک وایه درویښ وائی، چی دی حدیث څخه عظمت اوشرافت دسورة اخلاص هم معلومیږی سبب دادی چی داسورة مبارک توحید محض دی دخدای جل شانه. قال المصنف

وکون المصلی علیها غیر راکب وغیر قاعد بلا عذر

اوبل شرط دصحت د لمانځه دجنازی دادی چی مړی به پر ځمکه پروت وی، نوکه مړی پریوه دابه وی او دیا پر لاسو خلګو **الناس لم تجز علی المختار الا من عذر** وو دجنازی لمونځ نه دی روا پر مختاره مذهب مګر په دعذر د سببه، یو عذر خو دادی چی ځمکه خښی اوچکر وی مړی نه پرایښول کیږی،

مسئله: داشرط په یاره کی دهغه چا دی چی دامام سره یه اول د لمانځه نیولی وی چی د مدرک په نامه یادیږی. اوکله چا څخه بعض تکبیرونه تیر سوی وه، چی مسبوق یه ټولی نود غه سړی بیریدی چی کله نه پاته تکبیرونه سره د دعا ګانو وایی جنازه پورته کیږی دعا ګانې

دی پریږدی، صرف تکبیرونه دی پرله پسی وَوالی اوکه نه ییریدی تکبیرونه سره د دعا گانو ووائی وهوالمشهور وعلیه الفتوی، وقیل غیرذالک،،

فَائِدَه: یوشرط چی مصنف نه دی راوړی۔ دادی چی امام به بالغ وی نکه په نوږو لمونځو کی، اوبل شرط دادی چی امام به دیوجزء سره دمړی برابروی،، در، قهستانی، لکن داشرط هلته دی چی مړی یووی اوکه مړی ډیروه دیوصف دمخه ترامام دی تکبیرونو اوامام دی پرابرد هغه مړی په دوی کی چی افضل وی ودیږی،، در، ط، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَسُنَّتُهَا أَرْبَعٌ قِيَامُ الْإِمَامِ بِحِذَاءِ صَدْرِ الْمَيِّتِ ذَكَرًا كَانَ أَوْ أُنْثَى اوسنت دلمانځه دجنازی څلوردی یو ولاړه دامام ده پرابرد څیګړه مړی که مړی نروی اوکه ښځه، ولی چی په څیګړه کی زړه دی۔ اوپه هغه کی نور ډاعیان دی۔ نوپه دې درید وکی اشاره وشفاعت ته دایمان دمړی ده، **مسئله** صغیراوکبیر په دی درید وکی یوشی دی،، مر ط، س،،

پُوه سه: چی دریده پرابرد صدر مذهب مختار دی،، اوبعض وائی چی دسر دی پرابرد سردیږی، ولی چی سرمعدن العقل دی۔ وفیه انه لافرق بین الرجل والمرأة فی ذالک فلاوجه لتخصیص الرجل، اوبعض وائی چی دنراوښځی دواړو دی پرابرد وسط دیږی،، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَالثَّنَاءُ بَعْدَ التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى ۲ـ اودوهم شرط ویل دی دسُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ تر پایه پوری پهسله اولتکبیر قال فی المراقی یجوز قراءة الفاتحة بقصد الثناء کما نص علیه علمائنا: **پُوه سه** چی مسئلة قراءة الفاتحة لویه اختلاف فی مسئله ده۔ امام شافعیؒ قرائت دفاتحة الکتاب فرض بولی، اوامام مالکؒ وائی چی قرائت دفاتحه په بناء کی دمدینی معمول په صلاة الجنازه کی نه دی، **سوال:** په بخاری کی داسی حدیث راغلی دی چی ابن عباسؓ ییوی جنازی ته لمونځ ورکړی اوفاتحة الکتاب یه ووئیله: وقال لتعلموا انه من السنة،،

واجاب عنه الطحاویؒ چی قرائت دفاتحی چی داصحاب الکرامؓ څخه منقول دی هغه پروجه دد عاء اوثناء دی نه پروجه دتلاوة القرآن۔ اودمذهب احنافوؒ علماءهم دالوائی کی فاتحه پروجه دثناء ووائی خوپروا نه لری، اوکی په نیت دقرآن ووائی هغه دی پرته، وهذا مصرح فی کتب المذهب، کا المحیط، والتجنیس، والواوالجتبیه وغیرها،، بلکه پدی قصد یه ویل مکروه تحریمی دی،، ط ۴۸۱، ومزید التفصیل فی م و ط۔

ومن خصائص صلاة جنازة النبی صلی الله علیه وسلم لایجوز فی غیره من الاموات

دادی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم چی په وړځ ددوشنبی وفات سو، اوغسل اوکفن ورکړه سو، اودی مبارک پرتخته په خونه کی دبی بی عائشهؓ کبیښول سو، نوابوبکرؓ او عمرؓ حجری ته ورغله اوپه صف کی پرابر دعلیه الصلوٰة والسلام ودریدل۔ اودوی سره بعض مهاجرینؓ اوانصارؓ هم ملګری وه خونه چی په حجره کی ځائیده۔ نودجنازې لمونځ یه ورکړی یعنی په امامت دابوبکرؓ وروسته ابوبکرؓ اوعمرؓ ووئیله، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، اومهاجرینؓ اوانصارؓ هم ورته سلامونه ووئیل، بیا حضرت ابوبکرؓ الصدیق اوحضرت عمرؓ داسی ووئیله، اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَشْهَدُ اَنَّهُ بَلَّغَ مَا اُنْزِلَ اِلَيْهِ، ای الله مونږ شاهدان یوچی علیه الصلوٰة والسلام ورساوه هغه دین چی دده ته نازل کړی سوی وُو: وَنَصَحَ لِاُمَّتِهِ، اونصیحت یه وکړی خپل امت ته، وَجَاهَدَ فِی سَبِيْلِ اللّٰهِ، اوجهاد یه وکړی دکفارو سره یه لاړکی دخدائ: حَتّٰی اَعَزَّ اللّٰهُ دِيْنَهُ، حتی چی غلبه خدای پاک ورکړه ودین ته ودده، وَتَمَّتْ كَلِمَتُهُ۔ اوپوره سوه کلمه دخدائ یعنی، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ، واومن به وحده لاشریک له، اوایمان راوړه پرخدای یوازی چی شریک نشته دَ، له، وَاجْعَلْنَا اِلٰهَنَا مِمَّنْ يَتَّبِعُ الْقَوْلَ الَّذِیْ مَعَهُ، مونږ الله اگرځوی ای بادار زمونږ دهغه کسانو څخه چی متابعت کوی دهغه قول چی دده سره وو، یعنی القرآن والاحادیث، وَاجْمَعْ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ، اوسره جمع کړی مونږ او اوی یعنی په وړځ دقیامت کی، حَتّٰی تُعَرِّفَنَا بِهِ وَتُعَرِّفَهُ بِنَا، حتی په مونږ وپیژندی

مبارك اوپه ده ﴿مبارك﴾ وپيژ نه مونږ، فانّه كان بالمؤمنين رؤفا رحيما» ولاچې
مبارك وو پرمؤمنانو مهربانه: لَا نَبْتَغِي بِالْإِيمَانِ بَدَلًا» مونږ نه غواړود ايمان
په مقابل کې بَدَل» وَلَا نَشْتَرِي بِهِ ثَمَنًا أَبَدًا» اومونږ نه رانيسوپه ايمان سره ثمنًا
هَميشه» اوخلګو به وَيل امين» اود اخلګ به ښيا وقتل اونورو به داخليدل حتى چې
نړو اوښځو تولو لمونځ وعليه الصلوة والسلام ته ورکړي. په اخيرکې کشيان راغله هغو
هم داوظيفه اداء کړه. اوپه بعض روايا تو کې داسې راغلې دي چې صحابه کرام رض ډيرې او
نزدې خلګو دنږ والله څخه ددوشنبې دورځې ترزوالې پورې دسه شنبې دورځې
داوظيفه دلما څخه اودسلام وښيلو جاري وساتل، اوبعض روايات داسې هم راغلې دي چې
تردرو ورځو پورې لمونځونه ودکول جاري وه. امام طحطاوي په نقل دسيد شارح وائي چې
فرادي اومکرر لمونځونه دخلګو وعليه الصلوة والسلام ته امر مجمع عليه دي هيڅ اختلاف
په کښې نسته» ط» ص۴۸۲ س دره قال المصنف:

وَالصَّلٰوةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الثَّانِيَةِ

اودرود دې وائي پرنبي عليه الصلوة والسلام ورسته تردوهم تکبير يعنې اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى
مُحَمَّدٍ آه يعنې دالتحيات درود. اود درود افضل دي اوکه بل درود ووائي هم روادي.

تنبيه اولې داده چې تردريم تکبير وروسته چې دعا کوي په اخيرکې دي درود ووائي
بلکه دهرې دعاء ادب دادي چې په سر اوپاى کې درود ووائي. چې په حديث شريف کې
راغلې دي: الاعمال موقوفة والدعوات محبوسة حتى يُصلى عَلَيَّ اولًا» واخيرًا» جوړه
سراج سيرة» وبهذا اللفظ وان لم يكن فى الحديث المرفوع لكن معناه صحيح مطابق للاحاديث
الاخر» قال المصنف:

وَالدُّعَاءُ لِلْمَيِّتِ بَعْدَ الثَّالِثَةِ وَلَا يَتَعَيَّنُ لَهُ شَيْءٌ وَإِنْ دَعَا بِالْمَأْثُورِ فَهُوَ أَحْسَنُ وَأَبْلَغُ

اودعاء دميت دپاره معين شي نسته، دجنازې دعاده ومړي ته پنځه دريم تکبير څخه اود عاء دمړي دپاره معين شي نسته،

اوکه چيرې هغه دعا چې منقوله ده په حديثونو کې وکړي نو ډيره ښه اوابلغ ده: يعنې: اَللّٰهُمَّ
اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا. اَللّٰهُمَّ
مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيمَانِ
ثم يقرء الصلوة على النبيّ كما مرّ» قال المصنف:

وَمِنْهُ مَا حَفِظَهُ عَوْفٌ مِنْ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اودماثور دعاوو څخه هغه دعا هم ده چې عوف رض يې ياد کړيده. ددعا څخه دښې
عليه السلام يعنې دجنازې په لمانځه کې» چې يوصحابي رض وفات سوى وو، چې ضمائر ددغې دعا
گرده وهغه مړي ته راجع دي، هغه دعا داده: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ. خدايه ته دې
وبښې اوپرده رحم وکړې» وَعَافِهِ» اودې خلاص کې دعذاب څخه» وَاعْفُ عَنْهُ» او
ده ته بخښنه دګناهونو وکړې: وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ» اوده ته ښه ميلمستيا وکړې، يعنې دير
ثوابونه په اخرت کې اونعيم القبر ورکې، وَوَسِّعْ مَدْخَلَهُ» اوفراخه کړې ځاى دداخليدو
دده يعنې قبر» وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ.

پوه سه: چې په دې دعا کې مقصود پاکوالى دمړيده دتولو صغيره اوکبيره ګناهونو
څخه اودغمو څخه ددنيا اواخرت، ولې پريږدل دکالو نيږونو په دنيا کې په اوبو کيږي، اود
واورې په اوبو اود برګليو په اوبو» وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا» اوته ئې پاک کړې دتولو ګناهونو څخه
«كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ» ګله چې پاکوي کيږي سپين کالى دخيرو څخه
«وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ» اوده ته بدل ورکړې سراى چې قبردى چې ښه وى ترسراى دده
په دنيا کې، وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ» اوده ته ورکړې اهل چې يامراد
ملائكة الرحمة دى اويا همسايګان دمړودى چې هغه بهترى ترهمسايګانو دده په
دنيا کې اوده ته ورکړې ماينه چې خيرى ترماينې دده په دُنيا کې، يعنې په جنت کې،

پوه سه: چې زوج اسم جنس دى هرڅومايندته شامل دى» وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ»
اوته دى داخل کړې وجنت ته، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ» اودى

وَساتی د عذاب څخه د قبر او د عذاب څخه د اور یعنی دوزخ، دا وه دعا د علیه الصلوٰة والسلام حتیٰ عوف رضی الله عنه وائی چی زما په زړه کی دا خوښه وه چی کاشکی دا مړی زه وای. رواه مسلم، والترمذی والنسائی.

مسئله کفن چا د غه اوښ دی دعا وی نه وی زده، نو د غه قدر دعاء دی وکړی: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهٗ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ. **پوښتنه**: چی اکثر عوام د هر ځای د غه قدر دعاء د عربی هم نه وی زده، نو اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آه دی ووائی لکن د مړی نیت دی پاڼه کښی کوی. قال المصنف **وَيُسَلِّمُ بَعْدَ الرَّابِعَةِ مِنْ غَيْرِ دُعَاءٍ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ**

او سلام دی وګرځوی پسله څلورم تکبیر یعنی وجوباً بی له دعا په ظاهر روایت کی، او بعض علما و وښه ګڼلی ده دعاء ورو سته ترسلام یا اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا الخ یا رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا الخ په مراقی کی وائی چی په دواړو سلامونو کی د مړی او قوم نیت کوی یعنی امام او مقتدیان په دواړو امام نیت هم کوی. **مسئله**: سلام دی په زوره نه وائی د جنازی په لمانځه کی برخلاف د نورو لمانځو او د عاء دی هم کراره کوی لکن تکبیر و نه دی په زوره وائی: قال **وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِيْ غَيْرِ التَّكْبِيْرَةِ الْأُوْلٰى** اولاسونه دی نه پورته کوی په غیر د ده اول تکبیر، او دا هم ظاهر الروایة دامام اعظم رحمه الله او د پرده مشایخو څخه د بلغ دهر تکبیر سره لاسونه پورته کوی. **پوښتنه**: چی امام محمد بچیل کتاب موطا کی وائی چی د جنازی د لمانځه سلام پر سړی دوه نه قدر په زوره وائی چی ورته څرمه سړی اوری، ثم قال وهو قول ابی حنیفة رح: او امام ابی یوسف رح وائی چی امام دی نه غایت جهر په سلام سره کوی لکه په نورو لمونځو کی اونه دی کراره وائی. او مقتدیان خو دی کراره وائی. قال المصنف **وَلَوْ كَبَّرَ الْإِمَامُ خَمْسًا لَمْ يُتَابَعْ وَلٰكِنْ يَنْتَظِرُ سَلَامَهٗ فِي الْمُخْتَارِ** او که امام پنځه تکبیر ووایله په پنځم تکبیر کی د ده متابعت نه کړه کیږی لکن

مقتدی د ده سلام انتظار وکړی په مختار روایت کی. ولی چی پنځم تکبیر منسوخ دی نو په غیر مختار روایت کی راغلی دی چی څرنګه چی امام پنځم تکبیر وائی مقتدی دی وګرځوی لکن مختار داده چی د امام سره یوځای سلام وګرځوی. **مسئله**: کد امام سهواً پر دری تکبیره سلام وګرځاوه مقتدیان دی څلورم تکبیر ووائی او بیا دی سلام وګرځوی. مړ. **فائده**: په دعاء کی د لمانځه د جنازی د ښځی دی ټوله ضمیرونه مونث راځی، ط. **مسئله**: مستحب په صفوکی د لمانځه د جنازی دادی چی صفونه دی تاک وی هرڅومره چی وی حتیٰ په فقهی شریفی کی مسئله ده چی که حاضرین د جنازی د لمانځه شپږ کسان وه. نو په امام پسی دی په اول صف کی درې کسه ودریږی او په دوهم کی دی دوه کسه ودریږی او دریمی به هغه یوه پاتی د دوهم صف ترشا، حاصل دا چی تر دری (۳) صفه دی کمه نه وی، او که څلک پنځه یا څو وه چی درې صفه یه نه پوره کول یعنی د (۶) شپږ و پورته قدم. نو په اول صف کی دی ۲ نفره وی په دوهم کی دی هم دوه ۲ نفره وی او په دریم صف کی دی یوسړی وی، دغسې صورت کی به اول وه وی بیا یو بیا یو، همدارنګه داوو په صورت کی. او د څلورو او یا د پنځو په صورت کی دی کیف یشاء ودریږی. رح. قال **وَلَا يَسْتَغْفِرُ لِمَجْنُوْنٍ وَصَبِيٍّ** او د عادی نه کوی ولیونی او نه کچنی ته: کچنی خو اصلا د سړلیونی وی ولی چی هغوی هم ګناه نه لری، او کی جنون عارضی وو لیعنی ورو سته تر بلوغ آفت د جنون ور پلیټ سوی. نو د هغه پاره دی د مغفرت دعاء کوی. ولی چی امکان سته چی په وخت د افاقت کی دی د بعض ګناهونه کړی وی، خصوصاً چی اوائل د بلوغ د هیجان د شهوت وخت دی، او جنون عارضی خو اهلی نه دی چی ما قبل ګناهونه دی لغوه کړی. ط در. قال **وَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا**

ای الله! ته وګرځوی د غه مړی چی لیونی یا کشفی دی زمونږ د پاره ثواب مقدم او ووګرځوی د غه مړی

ولی چې دا وصیت باطل دی، کما قاله الصدر الشهید وفیه رد علی ابن رستم ان الوصیة المذکورة جائزة. قال المصنف:

وَإِنْ دُفِنَ بِلَا صَلٰوةٍ صُلِّيَ عَلٰى قَبْرِهِ وَإِنْ لَمْ يُغْسَلْ مَالَمْ يَتَفَسَّخْ

او که مړی بې غسله لمانځه ورکولو یعنی خاوری یې هم پرې واچولې، نو چې مړی شوېږدلی نه وي، یعنی چونکه د مړی راکښل حرام دی نو په دی سبب شرط د طهارت د مړی د جنازې د لمانځه د پاره ساقط شو. او په غایة البیان کې وائي چې لمونځ استحسان دی، وعلیه الفتوی. «در، ط»

مسئله: که خاوری نه وی پراچولی نو دې بیرته مړی راوکاږی غسل دی ورکړی بیادی لمونځ ورکړی. للقدرة علی غسله کما یکون المیت علی السریر. **پوه سه** چې شوېږدل د مړی کوم معین وخت نه لري بلکه معتبر په تفسخ کې ظن غالب دی. ولی چې تفسخ په اعتبار د ابدانو مختلف کیږی. یعنی دیر چاغ سړی ژر شوېږی او ډنگر سړی ژر نه شوېږی. او په زمانه کې هم فرق لری. یعنی په ګرمی کې ژر شوېږی او په یخ کې ژر نه شوېږی.

فائده: پسله تفسخ ولی د جنازې لمونځ نه ورکوی؟ سبب یې دا دی چې لمونځ د جنازې بدن د میت غواړی. او ژر شوېږید و وړوسته خو بدن نسته صرف اجزاء دی.

پوښتنه: په حدیث کې د بخاری په روایت د عقبه بن عامر رض د اسی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم پسله اته (۸) کاله شهدا ووته د احد لمونځ ورکړی نو په دوه نهانه کې حتماً مړی شوېږی بلکه غوښې یې لاهم تویږی او هډوکی جلا جلا کیږی.

جواب: بعض محدثین وائي چې صلوة په دغه حدیث کې په معنی د دعا ده او دعاء مړی ته هر وخت روا ده، لکن صحیح جواب دا دی چې شهداء

د احد نه وه شوېږدلی. اونه به وشوېږی ځکه چې «لهم من الله عزوجل» دلیل یې دا دی چې په خلافت کې د حضرت معاویه رض چې ده غوښته چې شهداء د احد بل ځای ته ونقل کړی تا چې هغه جینه چې په احد کې وه د شهداء احد په هدیره کې تیره کې، نو چې قبرونه د شهداء احد یې ډک کړه، نو وئې لیدل چې شهداء رض هم هغسی پراته وه لکه چې اول ایښودل سوی وه»

حتی چې بیلچه ناګاه د ګوتی ځخه د حمزه رض ومښته ترګوتې یې وینې راغلی. نو معاویه رض دوی بیرته پټ کړه او د دوی نقل یې صرف نظر کړی، اویا د المونځ ورکول خصوصیت د آنحضرت صلی الله علیه وسلم وو، لکه چې په ډله ډله د آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته لمونځ ورکول کما مرّ د خصوصیا تو څخه دده مبارک دی، او د غه رنګه ځنډول د دفن دده مبارک د شنبی د ورځی څخه تر چارشنبی تر مابنام پورې خصوصیت دده مبارک دی، او مړه د دی چې په حق کې د دیر چا د ونه ځنډول مکروه تحریمی دی، اویا د دی سبب دفن د علیه الصلوة والسلام وځنډیدی تا چې ټولو صحابه کرام رض حتی الغائبین ورته لمونځ ورکړی» ولی چې صلوة جنازه پر تیولو اصحاب کرامو رض فرض عین وو، داسی هم نه وه چې فرض د صلاة الجنازه د ده مبارک ده. په اوله ډله سره پوره سوا د نور لمونځونه نفلی وه، ولی که داسې وای نو به سلمانانو تر یوم القیامة پورې وقبرانور ته د علیه الصلوة والسلام د جنازې لمونځ ورکولای

مهمه فائده: امام طحطاوی او نور فقهاء وائي چې جسد مبارک د علیه الصلوة والسلام هغسی لکه چې اوله وخت چې په قبر کې ایښودل سوی دی هغسی تازه پروت دی بل: هو حیّ یُرزق و یتنعم بسائر الملاذ والعبادات» وکذا سائر الانبیاء علیهم السلام: لما جاء فی الحدیث: ان الله قد حرم علی الارض ان تأکل اجساد الانبیاء او کما قال:

قال المصنف:

وَإِذَا اجْتَمَعَتِ الْجَنَائِزُ فَالْإِفْرَادُ بِالصَّلٰوةِ لِكُلٍّ مِنْهَا

او که مړه یوځای سوی د یری جنازې نو هر جنازې یعنی مړی ته د هری جنازې جلا جلا لمونځ

اَوْلٰی وَیُقَدِّمُ الْاَفْضَلَ فَالْاَفْضَلَ ورکول اولی اوسنه کړی اویا
ورکړي چه په مړو کی دی اول افضل دهغومړو لمونځ ورکوی اوورسته بل افضل تر تر
اخیره پوری فَائِدَه: که یوه جنازه دمخه ترنورو راغلی وه که څه هم مړی
په مقنبل دی خوبیا هم هغه مړی ته دی دمخه لمونځ ورکړي وهکذا «م، ط، در» قَالَ

وَاِنْ اِجْتَمَعَ وَصُلِّیَ عَلَیْهَا مَرَّةً وَاحِدَةً لکه په حرمینو شریفینو
دی په سبب دازدحام اوکه دیری جنازی جمعه سوې، لکن په یوه پلایه لمونځ ورکاوه،
یعنی که څه هم خلاف الاولی خودی لکن روادی اوکه عذر وو بیا خلاف الاولی هم نه دی،
دروښ وائی: چی اینبوولو کی دجنازو دوه صورته دی یوه ظاهر الروایه صورت دی حضرت
الامام الاعظم څخه چی مصنف وائی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

جَعَلَهَا صَفًّا طَوِیْلًا مِمَّا یَلِی الْقِبْلَةَ بِحَیْثُ یَکُوْنُ صَدْرُ کُلِّ
اووه دی گرځوی امام دغه دیری جنازی یواوږد صف وطرفته دقبلی په داسی دول
قَدَامَ الْاِمَامِ چی څیګردهر مړی مخته دامام وی. اوغیر ظاهر الروایه دادی چی
تولمړی دی صف عریض وگرځوی. اوامام دی وافضل تر دمړو
برابر ودریږی، اوابن ابی لیلیٰ وائی چی سړه هر مړی به کښته ترسر دبل مړی وی په
اندازه دفضیلت ددوی. اوامام داول مړی دځیګر پر برابر ودریږی، امام اعظم وائی
چی داسی وضعه نشته ده. ولی چی نبی علیه الصلوٰة والسلام اوابوبکر رض اوعمر رض په قبرونو کی
پرده غسی وضع دی اود لمانځه وضع پر ترتیب دوضع دقبرونو» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَرَاعَی التَّرْتِیْبَ فَیُجْعَلُ الرِّجَالُ مِمَّا یَلِی الْاِمَامَ ثُمَّ الصِّبْیَانُ
اوپه اینبوولو کی دمړو دجنازو نه دلمانځه دپاره دی مراعات دترتیب دافضلیت دمړو وکړي
سی.

چه هغه دادی چی نران دی وامامت ته حرمة اوبیادی کشیان ترهغوورسته اوبیا
بَعْدَهُمْ ثُمَّ الْخَنَاثٰی ثُمَّ النِّسَاءُ دی نرښځیان وی اوبیادې
ښځی وی یعنی لکه دنورو لمونځود پاره صفونه چی هم دغسی ترتیب یه دی. اوکه چیری
ټوله نروه نوحسنٌ دامام اعظم څخه روایت کړی دی چی هغه قول دامام ابویوسف
همدی، چی افضل دمړو اویا مشر دمړو وامام ته نزدی کښیږدی» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَوْ وُضِعُوْا بِقَبْرٍ وَاحِدٍ وُضِعُوْا عَلٰی عَکْسِ هٰذَا
اوکه یه متعدد مړی په یوه قبر کی دفن کول یعنی په سبب دضرورت چی مړی ډیروه
نودهریوه دپاره جلا قبر کښل حرج وو، نودغه مړی دی پرعکس دترتیب مذکور په
قبر کی کښیږدی. یعنی دقبلی وخواته دی افضل فالافضل دمخه اینږدی. اواکثره
علماؤ دکثره قرائنو دی دمخه اینږدی لکه چی په شهداؤ کی داحد دغه ترتیب مراعات
سوی ووچی په کتابونو کی داحادیثو مبارکه ووددی تفصیل موجود دی» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَا یَقْتَدِیْ بِالْاِمَامِ مَنْ وَجَدَهُ بَیْنَ التَّکْبِیْرَتَیْنِ
اواقتداء دی نه کوی په امام پسی هغه څوک چی امام ته ورسیږی اوامام په مابین کی دتکبیرونو
بَلْ یَنْتَظِرُ تَکْبِیْرَ الْاِمَامِ فَیَدْخُلُ مَعَهُ بلکه انتظار
دی وکړی چی امام
تکبیر ووی بیا وائی نودی په لمانځه کی ورسره داخل سی. اوداهم مذهب دامام اعظم اود
امام محمد دی اوامام ابویوسف وائی چی څوشونکه چی مقتدی حاضر سوه امام سره داخل
سی په لمانځه کی اهغه تکبیر چی امام دمخه ترحضور ددهٔ وئیلی دی هغه تکبیر مقتدی
گویا وئیوی، نومثلاً که دمقتدی څخه فقط اول تکبیر تیرسوی وو، نوپه مابین
کی داول تکبیر اود دوهم تکبیر سره دی اقتداء په پسی وکړی، نودی مقتدی تکبیر ونه
پوره سوه اوامام سره به یوځای سلام گرځوی په نیزد امام ابویوسف» اوپه نیزد

د طرفینو" دیوه تکبیر به قضا راوړی، وَعَلٰی هٰذا فقس الصور الاخر"
دلیل د مذهب د امام اعظمؒ اود محمدؒ دا دی چې تکبیرونه د جنازې په ځای کې درکعتو
د لمانځه ولاړ دي. اوپه نورو لمونځونو کې خو مسبوق حکم دادی چې دی به پسله سلامه
د امام تیرسوی رکعتونه راګرځوی، وداسې نه ده رواچې مسبوق به په خلال کې د لمانځه
د امام خپل تیرسوی رکعتونه راګرځوی، نوپردغه قیاس په لمانځه کې د جنازې چې امام
تکبیر تیرسوی تکبیرونه راوګرځاوه" نوځکه دی به انتظار دبل تکبیر کوی"

پوښتنه: چې مذکور فی المتن ظاهر روایت دی کما فی النهر و هو الصحیح" اوکافي
والاس جیح وقول ته د امام ابویوسفؒ وګڼیده - اوپه درمختار کې وائی و علیه الفتوی
واللہ اعلم بالصواب" قال المصنفؒ:

وَيُوَافِقُهُ فِي الدُّعَاءِ ثُمَّ يَقْضِي مَا فَاتَهُ قَبْلَ رَفْعِ الْجَنَازَةِ

اودغه مسبوق مقتدي به موافقت کوی د امام سره په دعاء کې، یعنی کې اوریده چې مشایخ
د بلخ وائی چې د عادي د اسې کوی چې هر صف وَالا د نخه صف نخې واوري، اوبیا دغه مسبوق
د قضاء راوړي دهغه تکبیرونو چې دده نخه تیرسوی وي، د نخه ترپورته کیدو د جنازې،
نوکه دی مطمئن وو چې نه که مابین التکبیرات دعاوی کوم جنازه نه پورته کیږي، نو
تکبیرونه سره د دعاء دی قضاء راوړي. اوکه ویریدی چې جنازه پورته کیږي نوفقط قضاء
سوی تکبیرونه دي وَوائی" قال المصنفؒ:

وَلَا يَنْتَظِرُ تَكْبِيرَ الْإِمَامِ مَنْ حَضَرَ تَحْرِيمَتَهُ

او انتظار د بل تکبیر د امام دی نه کوی هغه څوك چې په وخت کې د تحریمې حاضر وي، لکن دامام سره یوځای تحریمه به
نه وي وَیُلی، یعنی دی دې تکبیر وَوائی او په اول تکبیر کې دامام شریك سو، او سلام دی
یوځای ورسره وګرځوی"

نوټ: دی کتاب ټول حقوق د کتابت طباعت د مکتبة القراءت سره محفوظ دی"

وَمَنْ حَضَرَ بَعْدَ التَّكْبِيرَةِ الرَّابِعَةِ قَبْلَ السَّلَامِ فَاتَتْهُ الصَّلٰوةُ فِي الصَّحِيحِ

قال المصنفؒ: اوکه حاضر سو جنازې ته پسله څلورم تکبیره د امام امادنخه تر سلام نولمونځ د جنازې څخه
فوت سو په صحیح روایت کې، چې د امذهب طرفینو دی
په برازریه کې وجه داوائی چې دامام تولو تکبیرونو خو
تیرسوی دی نودی پوازې آخرنګه تکبیر وائی، اوامام ابویوسفؒ وائی چې دغه سړی
دی فوراً "اَللّٰهُ اَكْبَرُ" ووائی نوګویاد څلورم تکبیر د امام ونیوی. اوچې امام سلام وګر
ځوی د ډې تکبیره نو په دی قضاء راوړي" قبل رفع الجنازة کما سبق فی الاختلاف
الاول" قال فی الخلاصة وغیرها وعلیه الفتوی کما فی ماسبق" ط مرد. قال المصنفؒ:

وَتُكْرَهُ الصَّلٰوةُ عَلَيْهِ فِي مَسْجِدِ الْجَمَاعَةِ وَهُوَ فِيهِ أَوْ خَارِجُهُ

اومکروه دی لمونځ د جنازې پرمړي په مسجد جماعت کې یعنی چې پنځه وخته لمونځ د جماعت په کښې
کیږي- په دی کې احتراز د عیدګاه د مسجد څخه اوکه مړی په مسجد کې وی اویاد باندی ترمسجد وي لکن بعض خلګ په مسجد کې
لپس ولاړوي، **پوښتنه**: چې بعض فقهاء وائی چې د اکراهت تنزیهی دی او
دې ته ترجیح ورکړی ده. ابن الهمامؒ په فتح القدیر کې اوکراهت تحریمی دی علی المشهور
مصنفؒ وائی چې دا مختار روایت دی، درویښ وائی چې څرنګه چې مسئله د مړي
د لمانځه په مسجد کې ډیره مبتلی بها مسئله ده نو باید مزید تحقیق په وکړه سي.
نوپوښتنه: چې بعض فقهاء سبب د کراهت د مړي د لمانځه په مسجد کې دا بوی
چې احتمال د تلوث د مسجد سته په نجاست د مړي- نوپردی تقدیر کراهت یه
تحریمی دی" اوپردی تقدیر چې مړی خارج المسجد وي اوخلګ په مسجد کې وی باید
لمونځ د جنازې مکروه نه سي. او کلام د شمس الائمة السرخسیؒ هم پردغه دلالت کوی . . .

حیث قال. وعندنا ان کانت الجنازة خارج المسجد لم یکره ان یصلی علیها فی المسجد انما الکراهة فی ادخال الجنازة فی المسجد: انتهی.» وقال صاحب المبسوط فان امن التلوث لم تکره علی سائر الوجوه» یعنی که مړی په مسجد کی وی اوکه نه وی، وفی المحیط وعلیه العمل وهو المختار آه. اودرایت دامام ابویوسفؒ څخه نقل کړی دی. انه لا یکره صلوة الجنازة فی المسجد اذا لم یخف خروج شئ من المیت یلوث المسجد» وزاد الامام الاعظم الطحاوی چی کراهت هلته دی چی تلویث دمسجد ظن غالب وی اوکه صرف توهم وو او یا شک وو په هغه سره کراهت نه ثابتیږی.

اوبعض فقهاء په سبب کراهت دا ټولې چی په دی کی شغل دمسجد دی په دا سی شئ دی چی مسجد جماعت دهغه ډپاره نه دی یعنی صلوة الجنازه. نوپه دی تقدیر صلوة الجنازه پرتپولو تقدیر و مکروه دی لکن کراهت به تنزیهی دی، مره.

فائده: ملاعلی قاریؒ په شرح کی دموطا دامام محمدؒ وائی چی مسجد حرام دی کراهت څخه پرهر تقدیر مستثنی دی. ولی چی مسجد حرام هم د جماعات خمسو وو ځای دی. اوهم د جمعی دلمانځه اوهم داختر و د لمونځوهم داستسقاء دلمانځه اوهم د کسوف اوخسوف دلمانځه اوهم دجنازی دلمانځه وعلیه العمل الی یومنا هذا، درویش وائی چی پرده وهم سبب د کراهت که مړی په مسجد کی وی اوخلګ دباندی پسی ولاړوی کراهت نسته اوکه مړی دباندی تر مسجد وی اوخلګ په مسجد کی پسی ولاړوی بیا مکروه دی، کذا فی الجوهرة. ط. قال الامام الطحاویؒ ثم محل الکراهت اذا لم یکن عذر وان کان عذر فلا کراهة اتفاقا، نو یو عذر دادی چی مصلی دجنازی معتکف وی کما فی المبسوط، اویل عذر دادی چی باران وی کما فی الخانیه. درویش وائی که په مقبره کی فارغ ځای د جنازی دلمانځه بالکل نه وو. اونږدی بل خالی محله نه وه، نوداهم عذر کیدای سی چی لمونځ دی ومړی نه په مسجد محله کی ودکړی اوبیادی مقبری ته یوسی اودفن یه کړی، اوهغه چی په حدیث شریف کی راغلی دی. مَنْ صَلّٰی عَلٰی جَنَازَةٍ فِی الْمَسْجِدِ فَلَا اَجْرَ لَه. دلالت پر کراهت تنزیهی کوی» ولی چی نهی دلمانځه څخه ځنه وکړی.

قال المصنف: **وَمَنِ اسْتَهَلَّ سُمِّیَ وَغُسِّلَ وَصُلِّیَ عَلَیْهِ وَاِنْ لَّمْ یَسْتَهِلَّ**

اوکه چیری آواز پورته کړی یعنی وژړل کشنی په وخت کی د زیږیدو نومړکښیږدی

غُسِّلَ فِی الْمُخْتَارِ وَاُدْرِجَ فِی خِرْقَةٍ وَدُفِنَ وَلَمْ یُصَلِّ عَلَیْهِ

یعنی که څه هم دستی مړ سی، اوغسل دی ورکی اولمونځ دجنازی دی ورکی. اوکه بغاړه نه وکړه یعنی مړسو پیدا سو غسل خودی ورکړی پرمذهب مختار یعنی که تام الاعضاء وی اوکه بعض اجزاء وی، اوپه یوه کپړه یعنی تیکره کی دی وه پیچی یعنی کفن شرعی نه غواړی او بنخ دی کړی اولمونځ دے نه ورکوی.

پوه سه: چی داستهلال لغوی معنا پورته کول داوازدی کما فی قولهم: اِسْتَهِلُّوا الْهِلَالَ ای ارفعوا صوتهم عند رؤیة الهلال» لکه پښتانه وائی هغه دمیاشت» لکن مراد داستهلال څخه دلته معنای شرعی ده، یعنی چی یوه علامه دژوند پرپیدا سی یا وژاړی اویا حرکت وکړی، وغیره لکن په دی شرط که کشنی راسته پیدا سو یعنی سر یې د مخه راووتی، نوچی تر ځیګر راووزی، اوکه چیه وو یعنی پښی ئی د مخه راووتی نوچی تر نامه پورې راووزی».

مسئله: مستهل کشنی هم میراث وړای سی یعنی کی پلار مثلاً دحمل په وخت کی مړوو، اودده څخه هم میراث وړه کیږی چی دی مړ سی، لکن په نیزد امام اعظمؒ داهله دی چی استهلال دده په شاهدی ده دوو نرو ډپاره یا دده بنځو او یو نر ثابت وی، اویارانؒ وائی چی په دی شاهدی یوازی قول د بنځوهم منل کیږی. ولی چی د زیږیدو په وخت کی خو نر موجود نه وی عادةً، اوپه حق د لمانځه یوازی قول دمو او یا قول د تابلی هم منل کیږی. البته قول دمورد میراث په باره کی یوازی نه دی قبول په اتفاق سره».

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِکَاتِبِهٖ وَلِنَاشِرِهٖ وَلِمَنْ طَالَعَهٗ وَلِمَنْ نَظَرَ اِلَیْهِ بِعَیْنِ الْاِنْصَافِ.

بوزی اوکی خپه کوونکی هوسړی میلمه کی مثلاً اوښپل کور په خپه مړکړی، اویاد هغو مخلوق کورته وړښی اوهلته یې په خپه مړکړی، نوحاصل د مسئلی دادی چی دغه خاوند کوونیوال سی اومړیه کړی دجنازی لمونځ دی نه ورکوی، ولی چی دغه خاوند ساعی فی الارض دی په فساد سره، مر قال المصنف:

وَمُكَابِرٌ لَيْلًا بِالسِّلَاحِ فِي الْمِصْرِ هغه چاته چی دهشت گردی کوی په ښار کی د شپی سره د سلاح، نو دغه سړی چی په دغه حالت کی ووژل سی دجنازی لمونځ دی نه ورکوی

وَمَقْتُولِ عَصَبِيَّةٍ اویاووژل سی یوځواک د قومی جنگ په لحاظ کی نود قال المصنف: لمونځ نه ورکول ودغوکسانو ته د پاره د اهانت د دوی دی، او د پاره د زجر د نورو خلگو دی دے ورته کارځی، قال المصنف:

فَائِدَه: اوداغه رنگه دی لمونځ دجنازی نه ورکوی

وَإِنْ غَسَّلُوا وَقَاتِلُ نَفْسِهِ يُغَسَّلُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ کوم خلق چی مقتول عصبیه اودغو ته یولوکسانو ته غسل ورکول کیږی، اوقاتل د خپل ځان که عمداً اوی اوکه خطأً وی غسل دی ورکړه سی اولمونځ هم ورکړه سی، وهذا مذهب ابی حنیفة ومحمد لان مؤمن قد اذنب، کالزانی مثلاً وقال ابویوسف لایصلی علیه زجرا لغیره، **فَائِدَه** قاتل د ځان اعظم دی وزړا ترقاتل دبل چا، **فَائِدَه:** ملا مسکین په شرح کی د کنزوالی چی مقتول ته د عصبیت دی غسل هم نه ورکوی، وهکذا فی التنویر ط، قال المصنف:

وَلَا عَلَى قَاتِلِ أَحَدِ أَبَوَيْهِ عَمْدًا اولمونځ د جنازی دی نه ورکوی وقاتل ته ډیوه دموی اوپلار په قصد سره اوکه په خطاء سره ځندی ووژل سی هغه ته دی غسل هم ورکوی اود جنازی لمونځ هم **فَائِدَه:** د قاتل احد الابوین مذکور حکم هلته دی چی زوی ظلماً احد الابوین مړکړی، اوکی پلار حربی وو اویا باغی وو اوزوی مړکړی نو دا زوی چی مړسی غسل اود جنازی لمونځ په اتفاق د فقهاؤ ورکوی.

فَصْلٌ فِي حَمْلِهَا وَدَفْنِهَا

د فصل دی په بیان کی د مړی د جنازی د وړلو اوښخولو د ده د دفن کولو

فَائِدَه: وړل د مړی ترهدیری پوری اود فن د ده فرض کفائی دی، اوړل د مړی عبادت دی. هر مسلمان ته دا ښایی چی ودغه عمل ته دی مبادرت کوی، په احادیثو مبارکه ووکی ثابته ده چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم جنازه د سعد بن معاذ رض پرځپلو مبارکو اوږو اخیستی ده، **شکایت:** ملا صاحب چی د جنازی سره ملگری وی خصوصاً چی ځان یې په خیال غټ ملا وړځی د اختلو څخه د جنازی بیخی ځان ساتی اوداخپل اهانت بولی الا من وفقه الله للمبادرة الی العبادة: قال المصنف:

يُسَنُّ لِحَمْلِهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ سنت دی د پاره د وړو د جنازی څلور ښځی، یعنی نه ښځی، ولی چی ښځی خو یو ضعیفی دی اوبل ځای د فتنی ډنر و دی، اوپه حمل کی د ښځو احتمال د کشف عورت د دوی سته، او د څلور والی وجه یې داده چی د میت تکریم وښی، اوپر حاملینو بار سپک ښی، نو د دی سبب ورل د مړی په شاه اویا پر بوده مکروه دی، ولی چی په دی اهانت د مړی دی، یعنی مړی لکه نور متاع چی خلگ یې په شا وړی یا پر دوابود اسی گرځی،

مسئله: کرنه نه وه بیا یې ښځی ورای سی، **مسئله:** کشتی مړی د یوځواک پر لاسو اخلی اوښایی د بل ته ورکوی وهکذا الی المقبرة **مسئله:** په اوسنی زمانه کی چی مقبری پیری لیری دی نو د مړی پرچارپائی یا تخته کښیږدی اوپه موټر کی د مقبری ته وړسوی، در، قال المصنف:

وَيُنْبَغِي حَمْلُهَا أَرْبَعِينَ خُطْوَةً اوښائی یعنی هر سړی ته وړل د جنازی څلویښت (۴۰) گامه بالاترهغه ثواب

یه پیرد ی لکن حق دمړی په څلویښت (۴۰) ګامه پوره کیږدی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

يَبْدَءُ بِمُقَدَّمِهَا الْأَيْمَنِ عَلَى يَمِينِهِ وَيَمِينُهَا مَا كَانَ عَلَى جِهَةِ يَسَارِ الْحَامِلِ

شروع ډی کوی یعنی په اول لس ګامه کی په مخنی حصه د جنازی چی طرف ړاسته دی، او حامل د ایږ دی پرخپله ړاسته اوږه، اوزاسته طرف د ولې چی مړی خودشا پر تخته پروت دی، حاصل داچی حامل خپل چپه طرف دی د باندی تر لاګو د جنازی وګرځوی اوچپار پای دی پرخپله ړسته اوږه کښیږدی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ مُؤَخَّرُهَا الْأَيْمَنِ عَلَيْهِ ثُمَّ مُؤَخَّرُهَا الْأَيْسَرِ عَلَى يَسَارِهِ

اوبیادی یعنی په دوهم لسم ګامه کی د کښیږدی د پای پښه د جنازی هم پر ړاسته اوږه خپل اوبیادی کښیږدی یعنی په دریم لس ګامه، هغه د جنازی د پای طرف چی چپه دی پرچپه اوږه خپل یعنی ړاسته اوږه د جنازی تر لرګو باندی وګرځوی اوچپه اوږه دی د جنازی ترچپه بغل لاندی کړي، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ يَخْتِمُ الْأَيْسَرَ عَلَيْهِ

او بیادی ختم کړی چپه طرف پرجانب ایسر باندی

فَائِدَه: په حدیث شریف کی راغلی دی، «مَنْ حَمَلَ جَنَازَةً أَرْبَعِينَ خُطْوَةً كُفِّرَتْ عَنْهُ أَرْبَعِينَ كَبِيرَةً»، اوپه حدیث کی دابوهریره ړ راغلی دی که چا یوه جنازه په څلور طرفه سره د مړی حق یه ادا کړی،

قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُسْتَحَبُّ الْإِسْرَاعُ بِهَا بِلَا خَبَبٍ وَهُوَ مَا يُؤَدِّي إِلَى اضْطِرَابِ الْمَيِّتِ

اومستحب ده چابك وړل د جنازی بیله ځغاستی، اوخبب هغه دی چی مړی سره ښوروی، په حدیث شریف کی راغلی دے په روایت د ابن مسعود ړ: «أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا إِلَيْهِ

وَإِنْ غَيْرُ ذَالِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهَا عَنْ رِقَابِكُمْ» **فَائِدَه:** په تجهیز او تکفین کی دی هم اسراع (چابکی) کوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْمَشْيُ خَلْفَهَا أَفْضَلُ مِنَ الْمَشْيِ أَمَامَهَا كَفَضْلِ صَلٰوةِ الْفَرْضِ عَلَى النَّفْلِ

اوتګ د خلګو تر جنازی وروسته، افضل دی تر تګ تر جنازی د مخه، د حضرت علی ړ مخنه روایت دی، چی نرما قسم په هغه خدای دی چی علیه الصلوٰة والسلام په حقه سره نبی ړ استولی دی، چی فضیلت د تلونکی وروسته تر جنازی پرهغه چا چی د مخه تر جنازی ځی، لکه فضیلت د فرض لمانځه پر نفلی لمانځه، ابوسعید الخدری ړ وړته ووایل چی ته پخپله ړ ایه داخبره کوی اوکه شی دی چی تاد علیه الصلوٰة والسلام مخنه اوریدلی دی، حضرت علی ړ په غضب سو، چی یا زه پخپله ړ ایه داخبره نه کوم بل کی ما اوریدلی دی غه خبره ده علیه الصلوٰة والسلام نه یو واړ اونه دوه واړه اونه دری واړه حتی تراوه (۵) حضرت علی ړ حساب کړه یعنی تراوه (۵) واړه می بالاځندی اوریدلی ده، درولیږی وائی چی سبب د غضب د علی ړ داوو چی داخوامور دینیه دی په هغوی ړ ایږ لږ څه دخل سته چی ته ئی پوښتنه کوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُكْرَهُ رَفْعُ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ

اومکروه دی پورته کول د اواز په ذکر سره، اوقرآن شریف دی هم په زوره نه وائی یعنی په وخت کی د ورلوډ جنازی.

فَائِدَه: مستحبه ده هغه چا لره چی جنازه پرده تیریږی اویا په وړیږی چی داسی دی وَوَائِي: سُبْحَانَ الَّذِي لَا يَمُوتُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ، اومړی ته ډډی د خیر د عاء وکړی، اویا دی داسی وَوَائِي: هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ، اَللّٰهُمَّ زِدْنَا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا، اوتر جنازی وروسته کرار کرار، سُبْحَانَ اللّٰهِ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دیر وائی:

فَائِدَه: د دنیا خبری د جنازی د وړو وخته بیا تر وخته پوری د دفن مکروه دی. اومکروه تحریمی دی تګ د بنځو د جنازی سره. اومکروه دی چی څوک یه د جنازی تر لمانځه

دمخه د هدیرې څخه راځي، بحر. قال المصنف:

وَالْجُلُوسُ قَبْلَ وَضْعِهَا وَيُحْفَرُ الْقَبْرُ نِصْفَ قَامَةٍ أَوْ إِلَى الصَّدْرِ

اودغه رنګه مکروه ده ناسته دخلګو مخه ترایښنو ولود جنازې یعنی داوبو څخه دخلګو ولې چې شاید

وَإِنْ يَزِدْ كَانَ حَسَنًا

یه ایښنو لود جنازې به د خلګو وکهمک ته ضرورت پیدا سې اوکښل کیږي دې قبر ترنیمې دقامت دسړي اویا تر ځیګر پورې

فَائِدَهْ:

اوکې تردې زیات وکښنې نېه کاردې چې میت به ښه محفوظ سې. «اوبه بوئې به ئې زیانه دې نه راوړي»

مَسْئَلَه:

په کور کې دمړي ژړا په تویولود اوښکو پروانه لري. ولې چې په حدیث شریف کې راغلی دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په وخت کې دمرګ دخپل زوی ابراهیمؓ په تویولود اوښکو ژړا کې دی. اوعبدالرحمٰن بن عوفؓ چې ورته ووَيْل.. وَاثُبُورَ یارسول الله یعنی ته هم ژاړې یارسول الله علیه الصلوٰة والسلام په جواب کې ورته ووَيْل... هَذِهِ رَحْمَة یعنی داژړا منلې عنه نه ده بلکه وسیله اورقت دزړه دی. البته نوح اوچې وهل یا کالی خیرل یا تندی ټکول مکروه دي.

مَسْئَلَه:

که چا په جنازه کې دتګ اراده نه درلوده نه دی ورته ولاړیږي اوپه بعض حدیثونو کې چې امر په ولاړ په سړه راغلی دی هغه منسوخ دي. «مَرَاقِي». قال المصنف:

وَيُلْحَدُ وَلَا يُشَقُّ إِلَّا فِي أَرْضٍ رِخْوَةٍ

اوقبره دی لحد ورکړل سي اوشق دی نه ورکړه کیږي مګر په داسې ځمکه کې چې سسته وي یعنی لحد د قبلوي لوري

پُوهَه مَسْئَلَه:

چې لحد دابولي چې د قبره قبله په خواکې یوه غاړه جوړه کړي. چې مړي په کښنې ځایيږي، اومړي ته په هغه لحد کې کښیږدي اوخښتې که موجودې وي اویا لرګي کخښتې نه وي ورته کښیږدي اوغاړونه دخښتو اویا لرګو په ختمولو ترې اوبیا خاوري پرواچوي، اوشق ودې ته وائي چې اول فراخ قبر جوړ کړي اوبیا په مابین کې د قبر په قدر دمړي یوه چرګه وکښنې اومړي په هغه چرګه کې کښیږدي، اوبیا خښتې یالرګي دچرګې پرخوله کښیږدي، نوورې وسته خاوري

پرواچوي نومسئله داده که محکه کلکه وه خوسنت لحد دی، اوکه محکه خوړه او سسته وه یا سړه وه چې د لحد قابله نه وه بیا دی نوشق په کښنې وکاږي. قال علیه الصلوٰة والسلام اللحد لنا والشق لغیرنا

مَسْئَلَه:

که مړي په تابوت کې وي اوښخ یه کړي پرواته لري» مر. قال المصنف:

وَيُدْخَلُ الْمَيِّتُ مِنْ جِهَةِ الْقِبْلَةِ

لود اخل کړه کیږي دی مړي د جهت څخه قبلې یعنی مړي دی د قبلې وخواته کښیږدي او خلګ دی ترمړي لاسونه لاندې کړي اوسمدې راواخلي اوپه قبر کې دی کښیږدي که لحد وي اوکه شق وي، اوخلاف السنت دا چې مړي پر تخته پروت وي اوسړیه اول قبرته واچوي او وروسته یه نور بدن، لکه په عربستان کې چې رواج دی، ولې په ورته کارکې شاید دمړي بعض رطوبات خولې اوپزې ته ورسیږي، اوبیا دابې ادبي دمړي ده او بد فالي ده چې اول منزل ته داخرت تاسرچینه ورواچاوه، کذا فی المدخل ط، در.

لکن امام طحطاوئ وائي چې د تابوت سره دمړي بنخول مکروه نه دی چې محکه یا خوه وي اویا نسا که وي اوکه داسې نه وه نود تابوت سره بنخول مکروه دي په اجماع د علماوو، درویش وائي که مړي سړي تابوته تابوته وواوپه تابوت کې سره جمع کړي وو بیاد تابوت سره بنخول یه جائز بلا کراهت دی، لکه په موجوده زمانه کې چې مسلمانان دامریکا یانو اوروسانو په بمبارۍ سره تابوته تابوته شهیدان کیږي، او اندامونه ئې په تابوت کې سره تولیږي. «اللهم ارحم علی ملة افغانستان وخلصهم من هذا البلاء النازل علیهم من جانب الامریکیین والروسیین والملحدین. اللهم انصرهم نصرًا عزیزًا وخذ اعدائهم اخذ عزیز مقتدر».

دی ځای ته زه عاصي په داسې وخت کې راورسیدم چې د شعبان دمیاشتې ۱۴ نیټه وه او دغلورو هفتو څخه پرلپسې دشپې اودورځې پر تیولو بمبارۍ روانه وه افغانستان اوپرقریو او پر مسجدو اوشنا خانود امریکا یانو د خواخ اور تویوونکې بمبارۍ روانه وه، اوپه زرو سینګې اوکوچنیان په دی اورکې کبابیږي. یا الله جل شانك دا اوردافغانستان دمسلمانانو دسرو څخه پخپل قدرت مرکړي، اوتردې سخت اوردامریکا یانو، انګریزانو اوروسانو،

پُوه سه: چی مقدار د پورته والی د قبر په ظاهر روایت کی په قدر دیوی لوښتی وی، او بعض علماء وائی چی په قدر د څلورو گوتو دی وي، لکن قدر دیوی لوښتی هلته گیدای سی چی قبر ته لږ طولاً او عرضاً ورکړی او ورو سته یه مسنم کړی، ولی گی د لږ څخه د تسنیم پر شکل پورته کړی لکه زمونږ د پښتنو قبرونه نو تر سره چی رسیږی څلمیتا یوگز لوړیږی. او دا ظاهر روایت څخه دی خلاف، بلکه د ظاهر څخه د احادیث مبارکه ووهم دی، لکن فقهستانی وائی چی په یوه روایت کی. چی بالا والی تر یوی لوښتی روا دی، د روښ وائی چی بیا هم اوله طریقه ډیره ښه ده، او د اختلاف څخه وتلی ده. او په دی کی شک نشته چی یک لخته تر بیع مکروه دی. او د غږ ننگه د قبر په گچو او یا په سمنتو کی ښوله اشد کراهة دی. لنهی النبی علیه الصلوة والسلام عن تجصیص القبور وتربیعها.

مسئله د اپرو انه لری چی پر قبر او به وپاشی د پاره د تمینگ والی د خاورو، او بل د اچی علیه الصلوة والسلام پر قبر د سعید رضی الله عنه اوپر قبر د خپل زوی ابراهیم رضی الله عنه او به پاشلی وی، او پر قبر د عثمان بن مظعون رضی الله عنه خلگوته وویل چی او به پروپاشی **پُوه سه:** چی تسلیم د قبر مذهب دی د امام اعظم رحمه الله او د امام ثوری رحمه الله او د امام لیث رحمه الله او د امام احمد او د مالک او د امام شافعی رحمه الله والی چی تر بیع د قبر افضله ده **فائده:** چا چی قبر د نبی علیه الصلوة والسلام لیدلی دی هغه مسنوون. قال المصنف:

وَيَحْرُمُ الْبِنَاءُ عَلَيْهِ لِلزِّينَةِ وَيُكْرَهُ لِلْإِحْكَامِ بَعْدَ الدَّفْنِ

او حرام ده بناء یعنی گنبده جوړول پر قبر د پاره د زینت، او مکروه ده د پاره د محکم والی پسله د فن د میت. لنهی النبی علیه الصلوة والسلام عن ذالک. امام طحطاوی رحمه الله وائی چی کراهت په تحریمی دی **فائده:** مصنف رحمه الله بعد الدفن د وټیلو د دی معنا داده چی که بناء او قبه د څخه جوړه وه نو د مړی بندخول په هغه کښی کراهت نه لری. ط کذا فی البرهان.

مسئله پر قبر د بری اچول د پاره د حفاظت د قبر د زهر والی اوده نبش څخه، او د پښو زلاندی کیدو د پاره پروا نه لری. وفی الدر. وقیل لا بأس بالبناء علی القبر وهو المختار. د روښ والی چی د اقول د ظاهر المذهب او احادیثو څخه خلاف دی، وفی التجنیس والمزید. لا بأس بتطیین القبور یعنی په څټو گلول د قبرو پروا نه لری وعلیه الفتوی. قال المصنف:

وَلَا بَأْسَ بِالْكِتَابَةِ عَلَيْهِ لِئَلَّا يَذْهَبَ الْأَثَرُ وَلَا يُمْتَهَنَ

او پروا نشته په کتابت سره پر قبر د دی د پاره چی د امړی د اقربا وو څخه ورک نه سی یعنی او اثر به ولاړ نه سی او څوک بی ادبی و نه سره و نه کړی.

فائدة سنية کتابت پر قبر و دومره قدر روا دی چی پر یوه ډبره او یا د گچو څخه جوړی سوی تختی باندی د مړی نوم او پښتنه نه نوشته کړی او یا یو بیت فارسی یا عربی یا پښتو هم و سره نوشته کړی. او هغه چی په بعض بلاد و کی رواج دی چی د مړی و سره د ډبری شښته د ده وي او پر هغه باندی، الحمد لله، سریږه یا آیت کرسی، یا سورة اخلاص نوشته کړی هغه مکروه تحریمی دی، ولی چی سپی بعض وختونه هدیری ته ورځی او پر د غه شښته بولی کوي، قال المصنف:

وَيُكْرَهُ الدَّفْنُ فِي الْبُيُوتِ لِاخْتِصَاصِهِ بِالْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

او مکروه دی د فن کول د مړی لیږی د کشنی او که لوی، په کور و کی خواه په خونه د استوگی کی د ده یه د فن کوی، او یا یه په غولی کی د سړی د فن کوی، ولی داد د فن خاصه د انبیاء علیهم الصلوة والسلام ده، او د نورو مسلمانانو د پاره مقبره ځای د د فن دی. قال المصنف:

وَيُكْرَهُ الدَّفْنُ فِي الْفَسَانِي

او مکروه دی د فن کول د مړی په فسانی وو کی په فتح القدیر او مراقی کی وائی پوه سه چی فسانی بوفراخ ځای ته وائی چی په محله کی جوړ کی لکه زیرخانه. چی د مړی ځایوی او هلته مړی

وروړی لوپه کښی ایښ دی یه سر بیړه یه بناء پرجوړه کړی وی، چی سړی پسه والاړ وی
پسه کښی در ښکاره ی ښی، وجه د کراهت یه داده چی دا خلاف السنة ده، اوبیل داچی
لحد دمړی د پاره پسه کښی هسته، اوبل داچی بیله ضرورت ته دیر مړی پسه یوځای کی
ایښول دی، اوبل داچی مړی نر و ښځی پسه یوه خونه کی ایښول دی، قال المصنف

وَلَا بَأْسَ بِدَفْنِ اَکْثَرَ مِنْ وَاحِدٍ فِیْ قَبْرٍ لِلضَّرُوْرَةِ وَیُجْعَلُ

اوپر واښته پسه ښخولو کی د ډیرلا تریوه مړی پسه یوه قبر کی، چی ضرورت وی مثلاً مړی
ډیروی اویا قبر کن ضعیفه وی الخ غیر
ذالک من الضرورات، اوپسه مابین کی د دوه
دغسی دفن کړه،

بَیْنَ کُلِّ اِثْنَیْنِ بِالتُّرَابِ

مړو دی خاوری حائل گرځوی. ولی چی علیه الصلوٰة والسلام د اُحد پسه غزا کی شهدا ءو دا
پوه سله: که ضرورت وو د ډیرې څلورو یا بالا دی هم پسه یوه قبر کی دفن کړی، نو که
مړی یو جنس وه یعنی نران وه مثلاً نو افضل فالافضل دی د قبلی وخواته ایښ دی، او که مختلف
وه نو اول دی لوی خلگ د قبلی وخواته کښیږ دی، بیا دی کشنیان، او بیا دی نر ښځیان
او بیا دی ښځی، لکن لږ حائل دی پسه مابین د مړو پسه خاورو سره وی، د رویش والی چی
علامه امام طحطاوی پسه مابین کی د دفن پسه فسانی کی او د دفن د ډیرو مړو پسه یوه قبر
کی پسه فرق یسه نه دی پوه سوی نو ځکه یسه پر مصنف اعتراض کړی دی کما یظهر بالرجوع
الی ص۵۰۵ من تلك الحاشية ولا يخفى الفرق على ما ذكرناه، قال المصنف

وَمَنْ مَاتَ فِیْ سَفِیْنَةٍ وَکَانَ الْبَرُّ بَعِیْدًا اَوْ خَافَ الضَّرَرَ

او که څوك مړ سو پسه کښتی کی او ځکله لیرې وه، او یا بیره د ضرر پر مړی وه مثلاً چی تغیر
یا بد بوئی به وکړی نو

غُسِّلَ وَکُفِّنَ وَصُلِّیَ عَلَیْهِ وَاُلْقِیَ فِی الْبَحْرِ

غسل دی ورکی او کفن

دی هم ورکی اولمونځ د جنازی پسه هغه کښتی کی ورکی او بیادی دریاب ته سپارلی کی،

مسئله: که د مړی اجزاء خاوری سوه نو روا دی چی بل مړی د اول مړی پسه قبر کی ښخ
کړی **مسئله**: د مړی او کوما تول او یا بل ځای ته نقل کول نه دی روا که څه
هم اهل ذ مروی. او د قبر وسره غورځول چی نښ یه بولی هم نه دی روا که څه د ډیری زمانی
قبروی، او د اهل حرب د مړو نښ روا دی کما فعل بهم فی وقت بناء المسجد النبوی فی المدینة

قال المصنف

وَیُسْتَحَبُّ الدَّفْنُ فِیْ مَحَلِّ مَاتَ بِهٖ اَوْ قُتِلَ فَاِنْ نُقِلَ

او مستحب دی د فن د مړی پسه هغه محل کی یعنی پسه هغه ځای کی د هغه محل چی مړی هلته مړ سوی یا قتل سوی

قَبْلَ الدَّفْنِ قَدْرَ مِیْلٍ اَوْ مِیْلَیْنِ لَا بَأْسَ بِهٖ وَکُرِهَ نَقْلُهٗ اَکْثَرَ مِنْهُ

وی او کی نقل کړی پسه قدر د یو میل یا دو و میله پروا نه لری، او مکروه دی نقل د مړی
بالا تر دو و میله، **مسئله**: که د مړی وځای ته یوه نږدی هدیره وه او بله هدیره یو څه
ګوښه وه لکن پسه لږی هدیره کی د ډیر صالح کسان مدفون وه نو پسه نږدی هدیره کی د دفن کول
اولی دی، او که پسه جوار د صالحانو پسه دفن کول اولی دی، بحر، اتق کې څه حکم جزی پسه
یوه خوانه دی کړی. لکن د درویش پسه عقیده جوار الصالحین هدیره اولی ده لانه انفع للمیت
پوه سله: چی استحباب د دفن پسه محل کی د موت، یوه لیل پسه دا دی چی ځکه ټوله
ځای د مړو ده نو نقل د مړی تکلیف بلافائده دی، او تاخیر د دفن هم پسه نقل کی راځی او دا تاخیر
مکروه دی،

او بل دلیل پسه هغه د عائشی رضی الله تعالیٰ عنها حدیث دی، چی د دی وروړ عبد الرحمٰن
پسه شام کی مړ سو او مړی د هغه پسه مکی شریفی ته نقل کړی وو، او دا د زیارت نه وړه غلط
نوی رض داسی ووی ویل که ستاد دفن کار زما پلار کی وای ما ته د شام څخه نه نقل کولی
بلکه هلته می دفن کولی. د رویش والی: چی مسئله د نقل د مړو د یوه هیواده څخه بل
هیواد ته سره د بعد مسافته پسه اوسنی زمانه کی چی د افغانستان مسلمانان پسه پرد و هیواد و

کی نکړپاکستان اوایران اوهلته شپی اووړځی د هجرت تیروی، اود دوی یوقریب ټولمړی
نوقدرت منډ خلګ یه افغانستان ته وړی ددی سببه چی دوی اکثراً په کیمپوکی
اوسی ډی. نوکه داکیمپ یووخت مهاجرین ځندی ولاړی سی خلګ دپاکستان یا
ایران دغه هډیری سره اواړه وی. اود کښت کار ځندی اخلی یا کورونه پرجوړوی اکه څه
هم قبرونه معلوم وی اوهډیره برحاله وی. نودی کښله دوی خپل مړی داخل ته دافغانستا
وړی چی هلته چی ددوی د هجرت موضوع پای ته ورسیږی اوافغانستان ځای د
امن اوامان وګرځی، نود مصنف د قوله سره سم چی تردوه میله بالا نقل یه مکروه دی، باید
دانقل مکروه سهی، منګرکه نوی اجتهاد روا وای اودغه فوق الذکر عذرونه په نظر کی ونیول
سوی وای نودغه نقل بی مکروه نه بللای، ای لانها اعذار واضحة. بلکه وروسته به ټراسهی
چی بعد الدفن یه هم په عذر نقل د مړی وبل مکان ته روادی، لکن داحکم هلته دی چی
مړی ته به یعنی په اول مسئله کی تغیر بد بوئی وغیره نه پیښیږی ورنه بیا مکروه دی،

قال المصنف: **وَلَا يَجُوزُ نَقْلُهُ بَعْدَ دَفْنِهِ بِالْإِجْمَاعِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ**
اونه دی روا نقل د مړی بل ځای ته پسله دفنه په اجماع سره مګر هغه وخت روادی کوقبر
الْأَرْضُ مَغْصُوبَةً أَوْ أُخِذَتْ بِالشُّفْعَةِ محکمه یا تولنه هډیره مغصوبه وی
یعنی په زوره خلګو مړی په محکمه کی دیوچا بیله اجازی دفن کوله، نوبیا روادی چی مړی
د قبر څخه راوباسی بل ځای ته دی یوسی یعنی د مړی خپلی مملوکی محکمی ته یا وقفی
هډیری ته، اویا دغه محکمه چی قبریه په کښنی دی چاپه شفعه وګرځول د مشتری څخه یعنی
یوچا دبل چا څخه محکمه په بیعه اخستی وه اومړی یه په کښنی ښخ کی د مړیو سړی د شفعی
دعوه پری وکړه اوهغه محکمه یه وکتله نومشتری دی خپل مړی وروسته تر دفن بل ځای
ته نقل کړی، د، اوکه پرقبرو باندی دیوسړک، رودځ یا دوکی نقشه راغله نوخلګوته
روادی چی د مړو هډوکی وغیره بل ځای ته نقل کړی، د، و لندرة وقوعه لم یذکره المصنف

فی مزورة نقل المیت بعد الدفن، قال المصنف:

وَلَوْ دُفِنَ فِي قَبْرٍ حُفِرَ لِغَيْرِهِ ضُمِنَ قِيمَةَ الْحَفْرِ وَلَا يُخْرَجُ مِنْهُ
اوکه قبر جوړ سوی وو دبل ژوندی د پاره اوبل چا خپل مړی په کښو دفن نوضمان کښلو
د قبر دی ورکړی یعنی یادترکی څخه د میت اویا د بیت المال څخه لکن مړی دی نه کاږی، نوکه
محکمه فراخه وه نود بل چا په قبر کی مړی ایښودل مکروه دی، اوکه محکمه د قبری تنګه وه یا
کراهت نسته لکن قیمت د حفر به ورکوی،،

فَائِدَه: په ژوندی کی د څان د پاره قبر جوړول روادی چی عمر بن عبد العزیز او
ربیع بن خثیم او نور علما وو د څان د پاره په ژوند قبرونه جوړ کړی وه، قالوا ویجوز
فیه، قال المصنف:

وَيُلْبَسُ لِمَتَاعٍ سَقَطَ فِيهِ وَلِكَفَنٍ مَغْصُوبٍ وَمَالٍ مَعَ الْمَيِّتِ
اود مړی قبر دی سره وښنی په سبب د مال چې په قبر کی لویدلی وی که نقد وی که واج، اود غه

وَلَا يُلْبَسُ بِوَضْعِهِ لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ أَوْ عَلَى يَسَارِهِ وَاللهُ أَعْلَمُ
هم که قبر دی د مړی وښنی په سبب د کفن مغصوب یعنی که چیری مالک د کفن بیله اجازه
د کفن نه راضی کیدی، اود دی د پاره دی د مړی قبر نه وښنی چی مخ پر قبله یه نه وی ایښودل
سوی اویا پر چپه بغل ایښو سوی وی،

فَوَائِدُ شَتَّى فَائِدَه: چی خلګ د مړی د دفن څخه فارغه سی مستحب دا ده
چی نیږدی د قبر دده د کښینی دومره اندازه چی او بن هلا یږی اوغږی
یه و لیښل کیږی، اوپه هم دغه وخت کی د مړی دعا کوی او تلاوت د قرآن کریم دی کوی
په حدیث شریف کی راغلی دی چی مړی په دوی سره الفت طلبوی اوپه دعاء یا قرائت سره
یه نفع اخلی، وهابیان اونور دوی ته ورته کسان دا کار مکروه بلکه بدعت سیئه یه بولی،،

فائده: دیرد متاخرینو څخه دمذهب وائی چی څرنګه چی خلګ د دفن څخه
دمیت فارغ سی هرسړی دخپل په کار پسی ځی، اودمړی قریب د خپل کار ته پریږدی،
اودا مکروه دی چی د مړی پرکور سره عوندپسی **فائده:** په حدیث شریف کی راغلی
دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم چی به ددفن څخه د مړی فارغ سو، نو به وقبرته ودریده
اوخلګوته یی داسی ووییل «استغفروا لله لاخیکم وسلوا له التثبت فانه الآن یُسئل» یعنی تاسی
طلب د بخښنی وکی د خپل ورور دپاره، اوسوال وکی د خدای جل جلاله څخه دده دپاره د تثبت
دعا وکړی یعنی پرقول ثابت چی کلمه مبارکه ده د ثابت والی په جواب کی د ملکو ولی چی د ده څخه
اوس سوال کول کیږی یعنی چی مونږ څندی ولاړسو. **فائده:** په مضمرات کی والی
چی نقل د مړی پسله دفنه دری (۳) قسمه دی یوڅه یه جایز بالاتفاق ده، اوبل وجه
یه حرام بالاتفاق ده، اوپه بله وجه کی اختلاف، اما الاول، چی مړی په محلّه مغصوبه
کی دفن سوی وی، اویا کفن مغصوب وی، اومالک د محلی نه راضی کیږی مګر په نقل د
د مړی ده د محلی څخه اویا مالک د کفن نه راضی کیږی مګر په کښلو د کفن ده څخه نو ورته وایی
چی مړی راوکاږی، که محلّه مغصوبه وه نو بل ځای دې نقل کړی او که کفن مغصوب وه
هغه سړی ته دی کفن ورکړی اومړی دی په بل کفن کی هلته دفن کړی، واما الثانی لکه
مور یا پلار یه ووائی چی زمونږ زوی د قبره راوه کاږی چی مونږ یه مخ وویني، یعنی چی د
ئی دفن کوه دوی ته وه حاضر، اویا مور پلار وغیره ووائی چی مونږ خپل مړی خپلی هیری
ته وړو. نو دا نا روا ده بالاتفاق، واما الثالث، چی قبرته دیوی خوا اوبه ورننوتلو وی
نو بعض فقهاء وائی چی روا دی چی مړی د دغه ځای څخه بل ځای ته نقل کی، ولی چی
داسی روایت راغلی دی چی صالح بن عُبَید الله چا د قریبانو څخه په خوب ولیدی،
اوصالح په خوب کی هغه ته ووییل چی ما د دغه قبر څخه بل ځای ته نقل کړی، ولی چی زه
اوبه اوبو په عذاب کړم، نو قریبا نو چی قبر وشنی نو هغه بغل دده چی محکی ته څرمه
وه په اوبو کی وه نو عبد الله بن عباس فتوی ورکړه چی نقل یه کړی، اوفقیه ابو
جعفر الطحاوی چی نه دی نقل کوی.

فائده: بعض فقهاء وائی چی دفن د مړی دشپی مکروه دی که بیله عذره وی،
لکن صحیح داده چی کراهت خو نه شته که څه هم دفن کول د ورځی اولی دی، ولی چی علیه الصلوة
والسلام د چارشنبی په شپه دفن سوی دی، اوعثمان رض اوفاطمه رض اوعائشه رض هم شپی
دفن سوی دی،
فائده: تلقین د مړی ورته وسته تر دفن شافعیه مستحسن ګڼلی، اوبعض فقهاء
د حنیفیا نو یه حسن ګڼلی، هغه داسی چی مړی ته دی ووائی: چا ای فلانی د فلانی سپینی ریږه
ته درپیاد که چی ته خو دنیا څخه پرکلمه «لا إله إلا الله محمد رسول الله» وتلی یه، اوته
په دنیا کی راضی وی «پیه الله ربا»، اوپه اسلام راضی وی دینا، اوپه محمد راضی وی نبیا،
اوپه قرآن راضی وی اِماما، اوکی دمور نومرینه وو ور معلوم منسوب دی کی وحوا لم البشر
دی تلقین په باره کی طبرانی اوبل حدیث راوړی دی، لکن هغه حافظ سیوطی ضعیف ګڼلی
دی مګر ابن الصلاح وائی چی د دی حدیث تائید په عمل د اهل شام سوی دی، لکن د پښتنو
په وطنو کی دا تلقین نه دی رواج ولی چی د پیر فقها وو د حنیفیانو په دی تلقین سره نه دی
قائل، واللّٰه أعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.
فائده: د جنازی سره د قریب اویا یو همسایه چی صالح وی تل افضل دی تر نفلی
لونځو اوکه نه قریب وو، اونه صالح سړی وو بیا نفل افضل دی **فائده سیئه** په
مراقی کی وائی چی مکروه ده ناسته د قبر یا نو د مړی په ورواړه کی د سړی یا په یوه کوټه کی
چی خلګ د تعزیت اوفاتحی د پاره ورته راځی، ولی چی دا داعما لو څخه د جاهلیت دی اوعلیه
الصلوة والسلام هم منع ځندی کړیده، اووهابیان هم ورته خبره کوی، لکن امام طحطاوی
وائی چی د اهله مکروه دی چی د اقرباء د میت غالی اوکمبلی هواری کړی، اود دوی د کوره څخه
چای راوړی اود غرمی دخواړو وړی تیاریږی وغیره، نو دی ته اشاره کړیده سید په شرح کی چی
وائی: وَلَا بَأْسَ بِالْجُلُوسِ لَهَا «ای للتعزیة الی ثلاثة ایام من غیر ارتکاب محظور» او
نهر فائق والا د تجنیس څخه نقل کړی دی اووائی: وَلَا بَأْسَ بالجلوس لها ثلثة ایام
اومراقی وائی چی مکروه ده ناسته دفاتحی دپاره په مسجد کی لکه د پښتنو چی عادت دی.

درویش وائی: ملایانو هم خولـه پښـه نیولی ده، حتی چې په مسجد کې د فاتحې په وخت کې سر پرسر چایانې راځي اوکور ته چې اواري وي اوبا لښتان پراته اودنسوارو تولـه داوزم پرتې وي.

درویش وائی: د اقرباء د مړې په کور کې څای نه لري اوفاتحه خوانان اوقریبان اوشاخ خپلـه خوښـه فاتحې ته راځي، نوکه اقرباء د مړې په مسجد کې بیله ذکر سوی کار وکښیږي او خلـک چې راځي تلاوت د قرآن کیږي اومړې ته دعا کوله کیږي اودنیا پې خبرې اونور مجلسونه نه وي نوامکان لري چې داغسې فاتحه خوانی به په مسجد کې روا وي بسبب العذر المذکور.

فائده: په مراقي کې وائي چې مکروه د میلمستیا دکور نخه د مړې. لانها شرعت للسرور لا للشرور، وهي بدعة مستقبحة» اوپه بزازیه کې وائي چې مکروه دی میلمستیا دکور د مړې په اوله ورځ اوپه دوهمه ورځ اوپه دریمه ورځ «درویش وائي چې په اوله ورځ کې د همسایګان د مړې کور ته دوډی وغیره وړ استوی کما یدل علیه الحدیث الشریف او برهان حلبي وائي چې په دې باره کې یوحدیث سنته چې روایت یې امام احمد اوابن ماجه کړی دی په سند صحیح سره د جریر بن عبدالله رض نخه چې هغه وائي: کنا نعد الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة، یعنی من فعل الجاهلیة» برهان حلبي وائي چې د احدیث خو صرف د اولې ورځې پرکراهت الضیافت دلالت کوی، ولـه چې جاهلیت والاهم دغسې کوله بلکه په بزازیه کې په کتاب الاستحسان کې وائي: وان اتخذ طعاما للفقراء کان حسنا، اوپه الاستحسان کې د فتاوی خانیه کې وائي: وان اتخذ ولی المیت طعاما للفقراء حسنا الا ان یکون فی الترکة صغیرا فلا یتخذ ذالک من الترکة».

درویش وائي چې حاصل د کلام دادی او **اختلاف** دادی چې د ضیافت او خیرات فرق سته، ضیافت هغه میلمستیا ده چې وړې، غوښې او تکلفې خواړه برابرکړی او اغنیاء د کلی اوکوڅې اوغنیان قریبان راوغواړی، اود فقیرانو دعوت په کښې نه وي، داسې ضیافت د مړې په کور کې مکروه دی. پر اوله ورځ سپو کې ولې داسې ضیافت خود خوشحالي وي لکه واده وغیره په وخت کې کیږي د غم په وخت کې نه کیږي، اوخیرات دا بولـه چې یوه اندازه غوښې مثلاً

پاڼې کړی او دوډی پخه کړی اوډکل کوڅې یا نور مسکینانو ته خبر ورکړی اوهغه خیرات په وخورې دا کراهت نلري که خرڅه په اول ورځ وي: وبهذا یحصل التطبیق بین الاحادیث واقوال الفقهاء» واللـه اعلم بالصواب».

فائده تعزیت یعنی دلاسائی ورکول: چې په اصطلاح په موږ فاتحه بولو مستحب ده نرو اوښځو لره: قال علیه الصلوة والسلام من عزی اخاه بمعصیته کساه اللـه من حلل الکرامة یوم القیامة: وقال علیه الصلوة والسلام من عزی مصابا فله مثل اجره **فائده:** یوواړ چې فاتحې ته سړي ورسي نوښه سبائی ده لږه چې بله پلاو وړاندې: کذا فی المراقی: واللـه اعلم بالصواب وعلمه اتم.

فائده سړي ته چې مصیبت ورسیږي بالفوره دی إنا للـه وإنا إلیه راجعون ووائي. ولی چې په حدیث شریف کې روایت په بخاري کړی دی علیه الصلوة والسلام وائي: إنما الصبر عند الصدمة الأولی. یعنی کامل صبر په هغه اول تکلیف دی چې سړي ته ورسیږي، اوپه بل خبر کې راغلی دی. که ډیر هغه مصیبت چې ده ته رسیدلی وو، لږه څلویښتو کلو ورپیاد سوا وهغه معنی کله تکرار کړي دومره ثواب لري لکه چې په وړځ کې د وقوع د مصیبت».

فائده: طبرانی اونورو ډیرو محدثینو روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام فرمائي که یومسلمان ته د قریب د مرګ مصیبت ورورسیدی نو دی په یاد هغه مصیبت چې زما د رحلت په سبب ده ته رسیدلی دی، فإنها من أعظم المصائب» چې زما د وفات مصیبت ترټولو لوی مصیبت دی د دې د القائل.

أصبر لکل مصیبة وتجلد ∴ واعلم أن المرء غیر مخلد. یعنی صبر کوه ای مسلمانه دهر مصیبت په وخت کې اوځان قوی کړه یعنی زړه قوی کړه، اوپه دې پوه سه چې هیڅ سړی نه په دنیا کې د همیشه توب حق نه سته. وإذا ذکرت مصیبة تسلو بها ∴ فاذکر مصابک بالنبی محمد ∴ اوکه ستا په یاد وو مصیبت چې ته زړه دلاسائی ورکوی. نو ته بیا دکه زړه دې دلاسائی د دغه هغه مصیبت چې تا ته په وفات کې د علیه الصلوة والسلام درسیدلی

سیدلی وو » وقالت فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها بعد موت ابیها صلی الله علیه وسلم: ـه

مَاذَا عَلَى مَنْ شَمَّ تُرْبَةَ أَحْمَدٍ
أَنْ لَا يَشُمَّ مَدَى الزَّمَانِ غَوَالِيَا

څرخ ستہ! یعنی هیڅ خرج نسته پرهغه چا چې بوی کړی خاوری دقبر انور د علیه الصلوٰة والسلام پرې دی کی چې بوی نه کړی د زمانې په تیریدو کی » غوالی » خوشبوئې چې یسوه تر تولو خوشبوی گانو د دنیا بالاده » ـه

صُبَّتْ عَلَيَّ مَصَائِبُ لَوْ أَنَّهَا
صُبَّتْ عَلَى الْأَيَّامِ صِرْنَ لَيَالِيَا

اوتوی کړه سوه پرما دیر مصیبتونه یعنی په سبب د مرگ د علیه الصلوٰة والسلام که چیری توی سوی وای دغه مصائب پر ورځو هغه به شپی گرځیدلای » صَدَقَتْ رضی الله تعالی عنها وصلی الله تعالی علی ابیها وسلم ـه قَالَ الشَّاعِر: په مدح کی د علیه الصلوٰة والسلام:

افاقها گردیده ام مهر تبان ور زیده ام ؛
بسیار خوبان دیده ام آما تو چیزی دیگری ؛ عاشق ذات انور نبوی. حسن تلوکانی چه خوش گفته است:
تعالی الله ز هی شاه یگانه ؛ ز هی بخت و کمال جاودانه ؛ چه گویم وصف آن ذات کریمش ؛ که پیدا نیست مثلش در زمانه ؛
فضیلش گشته موجودات عالم ؛ غرض ذاتش دگر باقی بهانه ؛ نبوراوست روشن جسم آدم ؛ نه دریائی کمالش را کرانه ؛
زمن یارب بروح پرفتوحش ؛ رسان هردم درود جاودانه ؛ رسول حق تعالی اوست بیشک ؛ حسن آورده ایمان غائبانه ؛

درویش وائی: چې دیری مسئلی په دی باب کی چې چیر تفصیل یه غوښتی ما په دې مختصره شرح کی صرف نظر کړی » تا چې طبع دقارئینو کرامو ملال نه سی پیدا » وَعَلَى الله التكلان وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى الله فَهُوَ حَسْبُهُ

فَصْلٌ فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ

دافصل دی په بیان کی د زیارت دقبرو یعنی د مړو د زیارت. قَالَ الْمُصَنِّفُ

نَدْبٌ زِيَارَتُهَا لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ عَلَى الْأَصَحِّ

مندوب دی یعنی ښه کار دی زیارت دقبرو د نارولره او ښځو لره پر اصح روایت. لکن پر قبر به نه خیژی، او بعض فقهاء وائی چې ښځو لره زیارت دقبرو حرام دی. اول د دوی جزع اوبې صبری دیره ده. اوبیل ښځی خصوصاً د اخیری زمانې په زیارت ته تلل بهانه وتورو کارونه وگرځوی. لکن مصنف په مراقی کی وائی چې که څوک پرې اول کی نر او ښځی دواړه منع وی د زیارت څخه د مړو. لکن ور وسته چې رخصت راغلی او نهی منسوخه سوی. نو دا رخصت نر او ښځو دواړو ته شامل دی، لقوله علیه الصلوٰة والسلام: زُورُوا الْقُبُورَ تُذَكِّرُكُمُ الْمَوْتَ. تا سې زیارت دقبرو کوی چې تا سې ته مرگ د ډیر یاد وی، او په بل حدیث کی د اسی راغلی دی: كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا وَاجْعَلُوا زِيَارَتَكُمْ لَهَا صَلٰوةً عَلَيْهِمْ وَاسْتِغْفَارًا لَهُمْ. یعنی زه وم چې تا سې می منع کړی واست د زیارت څخه دقبرو پس تا سې زیارت کوی دقبرو او گرځوی زیارت ستا سې قبرولره دعا گوئی ومړولره او طلب د ښښی د دوی د پاره او دغه رنگه د محمد بن النعمان څخه مرفوع حدیث مروی دی: مَنْ زَارَ قَبْرَ أَبَوَيْهِ أَوْ أَحَدَهُمَا فِي كُلِّ جُمُعَةٍ غُفِرَ لَهُ وَكُتِبَ بَرًّا. رواه البیهقی. ترجمه: که چا زیارت د مور او پلار او یا د دواړو دقبرو او یا د یوه د دوی په هر جمعت کی. نو بخښنه به وکړه سی وده ته، او دی به نوشته سی برا یعنی د مور او پلار فرمان ورونکی:

پوه سه: چې «بر» مقابل دعاق دی. قَالَ الْإِمَامُ الطَّحْطَاوِيُّ أَخْرَجَ ابْنُ أَبِي الدُّنْيَا وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ وَاسِعٍ قَالَ بَلَغَنِي أَنَّ الْمَوْتَى يَعْلَمُونَ بِزُوَّارِهِمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَوْمًا قَبْلَهُ وَيَوْمًا بَعْدَهُ، وَقَالَ ابْنُ الْقَيِّمِ الْأَنْدَلُسِيُّ أَنَّ الْأَحَادِيثَ

والاشارة تدل علی ان الزائر متی جاء علم بہ المزور وسمع سلامہ وانس بہ۔

یعنی هروخت چی قبرته دمړی ورسی نو هغه مړی په پوهیږی اودده سلام اودی اودږی الفت کوی، وَرَدَّ عَلَيْهِ « اودده د سلام جواب ورکوی » نود اعام دی که صاحب القبر شهید وی اوکه نه وی، اوپه دی حدیث شریف کی وخت اینبول د وړځی جمعی نسته،

فَائِدَه

مستحب ده چی که چیری پرقبرو پښی لګیدلی بایدچی پښی ئی لخی وی، او چیری لاړنه وه بیله پښی اینبو لو پرقبرو په سبب د ضرورت پرواته لری، قال الامام الطحطاوی: ولا یکره المشی فی المقابر بالنعلین وکرهه احمد: **پوه سه**: چی دوه عبارت معنا داده چی صرف په اډیره (هدیره) کی د چوتوسره تګ مکروه ئی دی، دامعنا نه ده چی پرقبرود نعلینو په تیریدو کی کراهت نسته، ولی چی هغه مکروه اتفاقاً دی الا لضرورة،

مسئله سړی دی په هدیره کی شپه نه کوی، ولی په هغه کی سړی ته دهشت پیښیږی،

مسئله: څوک چی د قبرو زیارت ته وړځی قصد به ئی رضا د خدای اواصلاح د خپل نفع وی اونفع د مړی په دعا سره اویا په تلاوت د قرآن سره، **مسئله**: قبر دی نه مسه کوی اونه دی ښځوی، فانه من عادة اهل الکتاب «اوبل» مسه کول خصوصیت د حجراسود اورکن یمانی دی اوبجول خاصه د حجراسود دی، اود ښځود زیارت په باره کی قدیماً اوجدیداً علماوو اختلاف دی، چنانچه مصنف د ښځود پاره هم مندوب بولی، اود قاضی خان چا سوال وکی چی ښځی زیارتوته تلای شی اوکه نه! قاضی ورته وویل چی ته ئی د صحت اود فساد پوهښتنه کوی بلکه د دی پوهښتنه وکړه، چی څونه قدر لعنت پر دوی اوږی، په فتاوی تاتارخانیه کی وائی چی خه وخت چی ښځه دکورڅوزی یعنی بیله ضرورت شرعی نوداپه لعنت کی د خدای اود ملائکود، اود هرطرفه په دی پسی شیطانان وی، اوچی هدیری ته وړسیی روح د مړی پردی لعنت وائی، اوچی دکور وخواته

راروانه شی هم د خدائ په لعنت کی به وی، اوبدرالدین العینی په شرح کی د بخاری پله دی چی اوبد دبیان یه په زیارت کی د ښځو کړی دی په اخیرکی داسی وائی: چی زیارت د قبرو د ښځوته مکروه دی بلکه دی وائی چی په اوس وخت کی حرام دی، خصوصاً د ښائسته او ښځی ولی چی د هغوپه وتوکی قطعی فتنه اوفساد ته کامتومنا اوڅ» د «س، څخه اپسی نقل کړی دی که ښځی چی زیارت د قبرو ځی نیت یه غمنوی کول وی، اوڅه اوی، کما جرت به عادتهن، نود وی ته زیارت د قبرو نه دی روا، اوهم د غه دی محمل اومعنا د هغه حدیث صحیح چی علیه الصلوٰة والسلام فرمائی: لَعَنَ اللّٰهُ زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ، اوکه د دوی نیت عبرت اختیار وی اوتبرک په زیارت د قبرو اوصالحو بندګانو وی او مخالفت الشرع کار هم نه کوی، نو پرواته لری چی سپین سری وی، اود ځوانانو نو ښځو ته مکروه دی، ګله جماعت ته ورته وه د ځوانانو نو ښځو کما فی کتب الفقه» قال ط» والاصح ان الرخصة ثابتة للرجال والنساء کما قال المصنف: لان السیدة فاطمة رضی الله تعالی عنها کانت تزور قبر حمزة رض کل جمعة وکانت عائشة رضی الله تعالی عنها تزور قبر اخیها عبد الرحمن رض بمکة»

درویش وائی: چی زمونږ د زمانی ځوانانو نی ښځی دی باید پرهغو مبارکانو نو ښځو قیاس نه وی اونه په اوس زمانه کی عالموته روا ده چی ځوانانو نو ښځوته فتوی د جواز ورکړی» کما لا یخفی فتامل» د»، وفی المرقاة چی سنت دی زیارت د قبرو په ولاړ اودعا ومړو ته هم په ولاړی لکه چی علیه الصلوٰة والسلام د جنت البقیع هدیری ته چی به ورغلی نو په ولاړ بی داسی وو ئیل: السلام علیکم دار قوم مؤمنین وانا ان شاء الله بکم لاحقون اسئال الله لی ولکم العافیة» اوپه شرحه کی د مشکوٰة وائی چی زائر له دنبا ئی چی قبرته دی نږدی دریږی، که ولاړی او که ناست وی لکه د ژوندو سره کهر» په قهستانی کی وائی چی پرابرد مخ دی دریږی، اوامام غزالی په احیاء العلوم کی وائی چی مستحبه په زیارت کی د قبرداده چی مخ دی د مړی وخواته وګرځوی اوشاه وقبلی ته، اوپه حال کی د دعا دی هم داغسی ولاړوی: وعلیه عمل عامة المسلمین»

اووهابیان وائی چی په حال کی د دعا دی مستقبل القبله درین ی. **پوه سه**،
چی په حدیث شریف کی چی "دار قوم مؤمنین" ړاغلی دی په حذف سره د مضاف یعنی اهل
دار قوم مؤمنین لکه چی په بل روایت کی صراحةً ړاغلی دی، اوابن عبدالبرؒ په سند صحیح
سره د ابن عباسؓ څخه روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: مَا مِنْ مُؤْمِنٍ
يَمُرُّ بِقَبْرِ أَخِيهِ الْمُؤْمِنِ كَانَ يَعْرِفُهُ فِي الدُّنْيَا فَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ إِلَّا عَرَفَهُ وَرَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ.
پوښتنه: آن حضرت صلی الله علیه وسلم ان شاء الله ولی ووئیله! اوسره د دی
چی الحاق د مړوسره خو یقینی دی **جواب**: بعض علماء وائی ویل د مشیت صرف
تبرکاوه، اوبعض علماء وائی: ای علی أتم الحالات، اود عافیت معنی داده چی د سخط
څخه د خدائ ج ورځ د اخرت محفوظ وی. قال المصنفؒ:

وَيُسْتَحَبُّ قِرَاءَةُ يٰسٓ لِمَا وَرَدَ إِنَّهُ مَنْ دَخَلَ الْمَقَابِرَ وَقَرَءَ

اومستحب ده یعنی زیارت کونکی لره ویل د سورة یٰسٓ. ولی چی په حدیث کی ړاغلی دی چی روایت

يٰسٓ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْهُمْ يَوْمَئِذٍ وَكَانَ لَهُ بِعَدَدِ مَا فِيهَا حَسَنَاتٌ

په انس ؓ کړی دی. چی ده ویل چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسی وویل چی په
تحقیق چی څوک داخل ہی هدیرو ته اووائی سورة یٰسٓ یعنی ثواب یه وَمړو ته د مقبری وبخښی
خدائ ج به سپک کړی د دغو مړو څخه په دغه ورځ عذاب اویا به عذاب څخه د پورته کړی
اووی به قاری لره ثواب په قدر د مړو د دغی هدیری او حسنات.
پوه سه: چی په ورځ د جمعی هم عذاب د بر نرخ څخه پورته کیږی، اوبیا نه ړ اگرچی
عذاب پر مسلمانانو نه وی ط. **پوه سه**: چی د اثواب او رفع د عذاب هلته صورت
نه نسی چی سړی هدیری نه وړسی اویٰسٓ شریف هوری وَوائی **فائده**: د دی
حدیث څخه دا معلومه سوه چی قرائت د قرآن په هدیره کی روا دی بلکه مستحب دی،
اووهابیان په هدیره کی قرائت د قرآن ناروا بولی، امام محمد وائی چی دلیل د استحباب

په ورود د آثارو نبویه وو دی په دی باب کی. قال الطحطاوی وهو المذهب المختار، کما صرح
به الفقهاء، فی کتاب الاستحسان، اوملا علی قاریؒ چی وائی چی په دی باره کی صحیح حدیث
نه دی ړاغلی د منلو وړ نه ده په مقابل کی د تصریح د امام محمد او نورو فقهاوؒ، قال

وَلَا يُكْرَهُ الْجُلُوسُ عَلَى الْقَبْرِ لِلْقِرَاءَةِ فِي الْمُخْتَارِ وَكُرِهَ الْقُعُودُ

اونه ده مکروه ناسته پر قبر د پاره د قرائت د قرآن، ولی تروړلا دی په ناستی قرائت سره په تسلی او

عَلَى الْقُبُورِ لِغَيْرِ قِرَاءَةٍ وَوَطْؤُهَا وَالنَّوْمُ عَلَيْهَا وَقَضَاءُ

اطمنان ویل کیږی، اومکروه ده ناسته پر قبرو بیله قرائت د قرآن، اود غه رنګه مکروه ده تر پښو

الْحَاجَةِ عَلَيْهَا وَقَطْعُ الْحَشِيشِ وَالشَّجَرِ مِنَ الْمَقْبَرَةِ وَلَا

لاندی کول د قبرو او د اغه رنګ مکروه دی خو ب کول پر قبر او د غه رنګ مکروه ده بلکه اشد کراهة لبولی یا عوله

بَأْسَ بِقَطْعِ الْيَابِسِ مِنْهُمَا

کول پر قبر، او د غه رنګ مکروه دی ړ یبل د لندو
وښو او یړی کول د لندی د رخی د هدیری، او
یړوا نسته په ړ یبلو کی د وچو وښو او یا د وچی د قبرو.

فائده: په کتابو کی وائی چی په لړشی کی چی سروی هغه لره ژوند سته، او چې
ژوندی وی هغه تسبیح د خدای پاک وائی: کریمه، وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَ
لٰكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ، اوچې مړسی نو تسبیح یه قطعه کیږی، نو انسانانو او حیواناتو
مرګ اوژو ند خو معلوم دی، او د نباتاتو ژوند دادی چی شین اولوندوی، چی وچ سو نو
مړسی او تسبیح یه قطع سی، او د پرو ژوند دادی چی ړوغه وی لکه د رود کانړی چی د ره ماته
سی نو مړه سی او تسبیح ویل یه قطع سی، نو بناءً علیٰ هذا د لسنه دا دری چی شنه اولانده
وی یا د رخته د هدیرې چی شنه اولنده وی، تسبیح د خدای جل سلطانه وائی نو په دې
تسبیح وئیلو کی د دوی مړو ته نفع ړسیږی، نو ځکه یه قطع مکروه ده، نوټ. فکر وکړه،

چې په تسبیح دوه ښو اوږدختو اوروغو کانړو مړو ته نفع رسیږی، نو په قرائت د قرآن
د انسانانو مسلمانانو نو څومره څخه به مړو ته څرنګه نفع نه رسیږی، نو وهابیانو نو دا قول
چې قرائت د قرآن نفع و مړی ته نه رسیږی او قرائت د قرآن د قبر وسره مکروه دی، د شریعت
نبوی ﷺ څخه مخالفه خبره ده.

درویش وائی: چې هم دا راز دی چې مسلمانان د خپلو مړو و مړو ته شښتزی اویانورې
درختی شنې کوی او تر لوی والی پورې پالنه کوی، او هم دا سردی چې په وخت کې د پسرلی
فائده ورسیږی، او د دې بیان څخه هغه مسئله هم توضیح سوه چې په فقه شریفه کې وائی
چې په ګچو او یا په سمیټو د قبرو جوړول ناروا دی، ولې چې بیانات نه پرېښودل کیږی
د الصراع علی الاسراب.

مسئله شرعیه ابو حفص عبکری وائی چې مسلمان کولای سی چې ثواب د خپل وبل چا ته
وبخښی که هغه بل څوک مړوی او که ژوندی، بیله دې چې د ثواب
څخه دعامل کوسی، دارقطنی د علی رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړی دی چې نبی علیه الصلوة
والسلام وفرمایله، چې څوک چې تیریږی پرهدیرو باندې او قل هو الله احد ۱۱ یوولس
واره ووائی او ثواب یې دهدیرې و مړو ته و بخښی، نو دې قاری ته به خدای ورکړی ثواب
په قدر د مړو د دې مقبرې، او طبرانی، او بیهقی په شعب الایمان کې د ابن عمر رض څخه روایت
کړی دی. چې هغه. وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: اذا تصدق احدکم
بصدقة تطوعا فلیجعلها لابویه فیکون لهما اجرها ولا ینقص من اجره شئ ط،
که څوک صدقه وکړې یوه صدقه نفلی نو دی د هغې صدقې ثواب د مور او پلار د پاره
وګرځوی نو خدای مور او پلار ته دده اجر او ثواب ورکوی بیله دې چې د ثواب څخه د عامل
دی څه شی کم کړی.

الهی! درویش وائی چې زما په تو له عمر کې چې ۸۳ کاله ته رسیږی ما هر څه نوافل د عبادات تو
بدنیه وو، او یا قولیه وو او یا مالیه وو، ما کړی دی د هغو تولو ثوابونه زما مور او پلار ته ورسوی
امین امین

پوښتنه: چې معتزلی وائی چې هیڅ څوک څه نه کولای سی چې د خپل عمل هر عمل چې وي
د بل چا لپاره وګرځوی هر څوک چې وي او دوی دا آیت خپل دلیل ګڼي، وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ
إِلَّا مَا سَعَىٰ،

والجواب عنه، چې دا آیت منسوخ دی قاله ابن عباس رض په هغه آیت
سره، وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ، الآیه، ولې دې څخه دا معلومه سوه چې
اولاد په سبب د صلاح ده آباء و وجنت ته داخلیږی، او علکومه نه وائی چې دا مذکوره آیت
خاص دی په قوم سره د ابراهیم او د موسیٰ. او هر چې امت محمد ﷺ دی هغوته ثواب د ما سعیٰ
او د ما سعی لهم، ورکول کیږی، او نور جوابونه چې شمیر ۲ شپږته رسیږی، په حاشیه کې
د طحاوی مطالعه کړه،

فائده امام مالک په موطاء کې وائی چې حضرت علی رض پر قبر سر اینو، او خښت په
هم پروا نه، او فقیه ابو جعفر طحاوی په شرح کې د معانی الآثار موصول
حدیث د نافع رض روایت کړی دی، چې ابن عمر رض پر قبر کښینستی نه او امام مالک وائی چې د فعله
څخه د علی رض او د ابن عمر رض څخه دا معلومه سوه چې د جلوس پر قبر چې نهی ځنډی د اعلی جلوسه
د پاره د قضاء حاجت یعنی بولی وغیره، و اخرج الطحاوی حدیثا مرفوعا برواية رجال ثقات،
عن زید بن ثابت رض: قال انما نهی النبی صلی الله علیه وسلم: عن الجلوس علی القبور
لحدث او بول او غائط، او فقیه ابو جعفر طحاوی چې اعلم د خلګو دی په مذهب د ابو حنیفه
رح وسته تر ټولو خبرو یې د اوئیلی دی، وهذا قول ابی حنیفة رح وابی یوسف رح ومحمد رح او
ملا علی قاری رح دا ټول فیصله کړیده چې ټول نهی د ناسیتی څخه پر قبر ښه تنزیهی دی او فعل
د علی رض او د ابن عمر رض د پاره د بیان د رخصت دی،

درویش وائی: چې په قول د ملا علی قاری رح ټوله حدیثونه، او اقوال مختلفه د فقهاؤ
سره جمع کیږی، فینبغی ان یعتمد به والله اعلم بالصواب، عاصی وائی ـ
دا کتاب به په پښتنو کې ویل کیږی.. نه ماهدو کې به په قبر کې خاوری کیږی،
که یوو رور ما ته دعا د مغفرت کې، خدای دې دی هم و بخښی په اخرت کې،
غرض نقشیست کز ما یاد ماند ؛ که هستی را نمی بینم بقائی ؛ مگر صاحبدلی روزی ز رحمت ؛ کند در حق این مسکین دعائی ؛

ے آے تے ہم مثل بلبل سیر گلشن کر چلے ٭ دیکھ مالی باغ اپنا ہم تو اپنا گھر چلے ٭

احب الصالحین ولست منهم ٭ لعل الله یرزقنی صلاحا ٭

بَابُ اَحْکَامِ الشَّهِیْد

باب ثابت دی په بیان کی د احکامو د شهید. **یُوه سړه**: چې شهید پر وزن فعیل دی نو یا په معنیٰ د مشهود له دی، ولې چې ملایکه ده ته شاهدی اداء کوی په دخول د جنت سره د پاره د اکرام د ده، او یا په معنیٰ د مشهود علیه دی، ولی د ده وینې او ټپونه پرده شاهدی اداء کوی چې د حق په لار کې مړ سو، او یا فعیل په معناد فاعل دی، لشهوده عند الحق جل شانه، او یرزق عنده بما شاء الله، او یا د دی سببه چې روح ئې دار السلام ته د اخلیږی فی الحال بخلاف ارواح غیره من المؤمنین، ولې چې د هغو حضور دار السلام ته په وخ د قیامت کیږی او یا د دی سببه چې دی پرې شهادة الحق ولاړ و نو ځکه شهید سو. او یا د دی سببه چې د دی حاضیږی د هغه کرامت ته چې د ده د پاره خدای پاک وتاکلی. وهذا حاصل ما فی المرقاة والفتح لکن بعض مذکوره معناوی خاص په هغه شهید پوری دی چې لاعلاء کلمة الله «شهید سبی فتیر قال المصنف

اَلْمَقْتُوْلُ مَیِّتٌ بِاَجَلِهٖ عِنْدَنَا یعنی بای سبب کان یعنی لم یسبق من اجله او رزقه شیء» یعنی په نزد د اهل السنة والجماعت، او معتزلو وائی چې د مقتول اجل قاتل پرقطع کړی، او که قاتل نه وای وژلی نو دی به ژوندی پاته وای» قال المصنف

وَالشَّهِیْدُ مَنْ قَتَلَهٗ اَهْلُ الْحَرْبِ او شهید په شرعه شریفه کی که په مباشرت سری مړ کړی لکه چې په توری یا نیزه کړی یا اهل الحرب مسلمانان بمبار کی لکه چې په هیروشیما او ناګاساکی امریکایان خذلهم الله ولعنهم

پې مسلمانان د افغانستان نړاوښځې بمبار وي، او په دی اوریه کیا بوي. قال المصنف

وَاَهْلُ الْبَغْیِ اَوْ قُطَّاعُ الطَّرِیْقِ اَوِ اللُّصُوْصُ فِیْ مَنْزِلٍ لَیْلًا او یا یه باغیان د حکومت اسلامی مړ کړی. او یا یه غله قتل کړی چې لاریه نیولې وی. او یا یه په کور کی غله مړ کړی د شپې **یُوه سړه**: چې قید د شپې اتفاقی دی ولی اکثره

وَلَوْ بِمُثْقَلٍ غلا د شپو په وخت کی ترسره کیږی ورنه کی د ورځې غله مړ کړی هم شهید دی. که څوک په د ر انه شی یه مړ کړی لکه لویه د بره چې ور ایله کړی، قال المصنف:

اَوْ وُجِدَ فِی الْمَعْرَکَةِ وَبِهٖ اَثَرٌ او یا په جګړځای کی مړ پیدا سو نو که دا معرکه د اهل حرب وی او که بغاتو وی او که د قطاع الطریق وی او په د ساندی یو اثر او علامه د جنګ هم وی لکه، ټپ، سوځل، ماتوالی د سر یا د پښو وغیره، او یا یه تر ستر ګو او یا تر غوږو او وینې راغلی وی،

فَائِدَه حربی هر هغه کافر ته وائی که هندو وی او که یهودی وی که نصرانی وی او هر هغه چې تر حکم د امام المسلمین لاندی نه وی، او که د د غو طوائفو څخه څوک په دار الاسلام کی اوسیدی او تر حکم د امام المسلمین لاندی ئې گذاره کوله هغه ته ذمی وائی او که د د ار الحرب څخه په پاسپورټ او اجازه د ار الاسلام ته راغلی و هغه ته مستأمن وائی.

فَائِدَه څرنګه لکه مسلمانان چې مامور ه دی په جنګ د اهل حرب، د غه رنګه مامور ه دی په قتال د بغاتو، نو حکم د اهل الحرب او بغاتو یو دی، ط، قال المصنف

وَقَتْلُهٗ مُسْلِمٌ ظُلْمًا مصنف قتل د وایه، ولې که یو سړی د بامه د لویږی او مړ سی او یا په اوبو کی غرق سی. نو د اتو د لو کسان په احکامو کی د د نیا شهیدان نه دی البته فی الاخرة شهیدان دی، او په ناحقه یه مړ کی، نو کی په ټهم کی مړ کی او یا په قصاص کی مړ کړی هغه شهید نه دی چې د دی پرچا حمله وکړی، او یا پر مال د چا حمله وکړی، نو هغه سړی مدافعة وا ورد مخ کړی او حمله کوونکی مړ کړی **عَمَدًا** په قصد سره نو که چا بل څوک مړ کی په خطاء سره

هغه شهید نه دی کله خوک چې ښکار کوی او پرسري ومنلی.

مسئله: قال صاحب البحر: من وجد مذبوحا ولم یُعلم قاتله او وجد مقتولا فی محلة ولم یعلم قاتله فهو لیس بشهید لانه لا یدری اقتل ظالما او مظلوما عمدا او خطأ. **مسئله**: که پلار زوی مړ کړی او یا اړخیل مړ کړی هغه شهید دی اوقصاص یې نشته هغه به سبب د عارض وابوته یا سید ته دی. قال المصنف:

بِمُحَدِّدٍ ومړ په کړې به شیء شی لکه توره، خنجر، چړه وغیره **پوه سه** چې دغو یادو کلاشنکوف گولی هم بمحدد کی داخل دی، اگرچه شیره وای به یې عارض داورد یا رتودی. نو په محدد سره یې شبه عمد والیستی لکه چې په ډرنه، چړه یې مړ کړی. قال المصنف:

وَكَانَ مُسْلِمًا بَالِغًا خَالِيًا عَنْ حَيْضٍ وَنِفَاسٍ وَجَنَابَةٍ

هغه چې مړ سوی دی مسلمان، احتلام دی کړی وخت کې څوک مسلمان وی، او بالغ به وی احتلام دی کړی نه وی، او خالي به وی حیض او نفاس او جنابت نه، ولی چې کشی مقتول نه اوسی حائضی یا نفساء یا جنب نه غسل ورکول کیږی، او نوی کفن هم یعنی پنځلو کالو کی دی نه سخه وی. قال المصنف:

وَلَمْ يَرْتَثْ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ او دې مقتول د جنګ نه وی کړی پسله **پوه سه**: چې مُرتث شرعا هغه خوک دی چې د صف نه د جنګ الیستل سوی وی او یا د واء په سوی وی، او یا خوړلی یې کومې وی دپاندی تر صف القتال، نو مرتث سړی شهید دی په احکامو کی د اخرت یعنی ده ته هغه ثواب موعوده د شهید وی ورکړه کیږی خو د اشرائط نوله موجود وی نو د غه مقتول په حکم کی د شهداء د احد دی. قال المصنف:

فَيُكَفَّنُ بِدَمِهِ وَثِيَابِهِ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ بِلَا غُسْلٍ نو د من دی دوه نو یعنی وینی دی نه څندی ومینځی او نه د کالو چې اغوستی په وی. او د جنازی لمونځ

دی وکړی بیله غسل، هم د غه حکم کړی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم په شهداء کی د احد». بعض خلک پوښتنه کوی چې شهداء خوژوندی دی په حکم د دی آیت کریمه «بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ» او څنګه د خو د جنازی لمونځ نه دی روا **جواب** دوه محله احیاء دی په احکامو کی د اخرت کما یدل علیه قوله تعالی: عِنْدَ رَبِّهِمْ. او د جنازی لمونځ خو د احکامو مخه د دنیا دی، نو څکه د دوی ترکات وښیل کیږی او مانیې ئی بیا بل مړو کولای سی چې د اپوله او هم دا رنګه نور د احکامو مخه د دنیا دی». **سوال**: لمونځ د جنازی خو د پاره د طلب د بخښنی دی د مړی د پاره او شهداء خو خدای جل جلاله بخښلی دی **جواب** که داسی وای نو نبی علیه الصلوة والسلام نه ئی ولی د جنازی لمونځ ورکاوه: مع انه معصوم عن الذنب» او کشنی نه ولی د جنازی لمونځ ورکوی او سره د دی چې پرکشنی خو هیڅ ګناه نشته، بلکه د عمومی حکمت د جنازی د لمانځه. اداء د حق د میت ده چې په ذمه کی د مسلمانانو نو لازم دی. هم، بحر، ط در، قال المصنف:

وَيُنْزَعُ عَنْهُ مَا لَيْسَ صَالِحًا لِلْكَفَنِ كَالْفَرْوِ وَالْحَشْوِ او کا بړی دده نه څنه هغه شیان چې صالح د کفن نه وی. لکه پوستین او چپنه چې په مابین کی پنبه وی. او بجر وائی چې خولی دی هم څندی وکا بړی او بوټونه دی هم څندی وکا بړی. او د زولنې وائی چې بالا پوښ او چپنه. او صدری دی هم څندی کا بړی، لکن پرتوګ دی نه څندی کا بړی». قال المصنف:

وَالسِّلَاحُ وَالدِّرْعُ وَيُزَادُ وَيُنْقَصُ وَكُرِهَ نَزْعُ جَمِيعِهَا

لکه توره، توپک، کلاشنکوف وغیره. او زغره د جنګ او سینی قمیص او زیانوی دی یله جامه که موجود، حاصل د شهید ترکفن سنت کمی وی، او کمی دی کی د شهید څخه بعض کالي چې که ترکفن سُنت سالاوی د پاره د حق د ورثه وو، او مکروه دی کښل د ټولو جامو د شهید، ولی دا کار خلاف السنة او خلاف الاجماع وی، نو مکروه تحریمی دی». در.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما ولجمیع المؤمنین والمؤمنات امین امین امین

قال المصنف: **وَيُغَسَّلُ اِنْ كَانَ جُنُبًا** کہ جنب وو نو غسل دی ورکړی **پوه سړه** چې ما مذهب دی د امام اعظم او یارانو دا غسل دی نه ورکوی۔ په صحیح حدیث کې راغلی دی چې حنظلة بن راهب چې په اُحد شهید سو، علیه الصلوٰة والسلام ووئیله چې ما ولیدل ملایکو چې غسل ورکاوه۔ حنظلة بن ابی عامر ته په مابین کې د آسمان او ځمکې په اوبو ورځې په لوښو کې د سپینو زرو، ابوامیدؓ وائی چې موږ ورغلو او د حنظله ږ سړی موو کتی نو د سر څخه اوبه تویېدلی، نو علیه الصلوٰة والسلام د دی لپاره چې د دی شهید ته ولی ملایکو غسل ورکوی، نو په د حنظله ږ ومایینی ته سړی واستاوی هغې ورته ووئیل چې دی کوره ووژنې نو په بل روایت کې راغلی دی چې ده چې د جنګ اوغزا نو ږ واړیدلی نو د چیره تلواره وغسل نه ورکړی۔ قال المصنف:

اَوْ قُتِلَ صَبِيًّا اَوْ مَجْنُونًا اویا کوچنی اولیونی مړه کړه سوی۔ ولی لوی نه غسل ځکه ورکوی چې هغه ګناه کار ګیدلای سی، او کوچنی اولیونی لره خو ګناه نشته نو په معنا کې د شهید او د احد نه دی، چې پرې سد اولویان خلک وه۔ قال المصنف:

اَوْ حَائِضًا اَوْ نُفَسَاءَ اَوْ اُرْتُثَّ بَعْدَ اِنْقِضَاءِ الْحَرْبِ

یا ښځه چې شهیده سوه حائضه یا په نفاس کې وه۔ او د لیل په هغه د جنب د لیل دی، اویا وخندیږ یعنی ژوندی وو، پسله ختمیدو د جنګ، قال المصنف:

بِاَنْ اَكَلَ اَوْ شَرِبَ اَوْ نَامَ اَوْ تَدَاوٰى اَوْ مَضٰى عَلَيْهِ وَقْتٌ

د ژغاښت صورت ورکړی چې یا خوړلی وکړی اویا اوبه وڅښلی اویا بیده سی اویا دوا وکړی، اویا وخت

الصَّلٰوةِ وَهُوَ يَعْقِلُ اَوْ نُقِلَ مِنَ الْمَعْرَكَةِ لَا لِوَطْيِ الْخَيْلِ اَوْ

د لماښځې پرتیږي سی او دی په هوش کې وي، اویا د جنګ د ځایه نقل کړی بیله دی سببه چې اسات

د موټر لپاره لاندی نه کړی بلکه د پاره د دواء وغیره نقل کړی سی، نو که د جهت څخه د خوف د عدو او خیل نقل کړه سو هغه مُرتث نه دی غسل دی نه ورکوی **پُوه سه**: چې پوازی هوش نه دی کافی بلکه قدرت پر اداء د لماښځې هم غواړی نو د غه تیښې په هوش کې خو وو مګر قدرت یې په هیڅ ډول پر اداء د لماښځه نه د لوی حتیٰ مُرتث نه دی یعنی غسل دی نه ورکړی، قال المصنف:

اَوْصٰى اَوْ بَاعَ اَوْ اِشْتَرٰى اَوْ تَكَلَّمَ بِكَلَامٍ كَثِيْرٍ اویا یې وصیت وکړی خواه په کار د دنیا وی یا د اخرت لکن د امذهب دی د ابویوسفؒ او امام محمدؒ چې په وصیت سره د امور د اخرت مرتث نه دی، او فقیه ابوجعفر طحطاویؒ چې په وصیت سره هله مرتث ګڼل کیږی کې وصیت تر دوو خبرو بالاوو اوکې په یوه خبره یا په دوو خبرو وصیت وکړی مرتث نه دی اویا یه یوشئ راانیوی اویا یوشئ خرڅ کړی اویا یه ډیری خبری وکړی، قال المصنف:

وَاِنْ وُجِدَ مَا ذُكِرَ قَبْلَ اِنْقِضَاءِ الْحَرْبِ لَا يَكُوْنُ مُرْتَثًّا

او د دا مذکوره شیان او کارونه پیدا سوه د هغه د جنګ تر ختمیدو نو بیا مرتث نه دی حتیٰ چې غسل دی نه ورکوی، قال المصنف:

وَيُغَسَّلُ مَنْ قُتِلَ فِي الْمِصْرِ وَلَمْ يُعْلَمْ اَنَّهُ قُتِلَ بِمُحَدَّدٍ

او غسل دی ورکوی هغه چا ته چې په بنار کې مقتول پیدا سی، او د ده نه معلومیږی

ظُلْمًا اَوْ قُتِلَ بِحَدٍّ اَوْ قَوَدٍ وَيُصَلّٰى عَلَيْهِ چا ته چې دی په محدد ظلماً او غسل دی ورکوی هغه وژل سوی دی اویا په حد زنا کې اویا په قصاص کې او لمونځ د جنازې دی هم ورکړی

فَائِدَة هغه کسان چې مرتث ګڼل سول هغه په امورو کې د دنیا شهیدان نه دی یعنی غسل به ورکوی او په امورو کې د اخرت: من الانعام والمراتب

۱۲ چې درنده ته په مړکړی ۱۳ چې هغه وکې ته په ستونی کې ښندسي اوخندی مړسي ۱۴
چې په ښندی خانه کې مړسي اوظلمًا ښندی وي ۱۵ په پېرو وهلو کې دحکومت یا پیر مړسي
۱۶ چې مار یا لړم یا لمندی یا عقرب ك ته وخوري اوخندی مړسي ۱۷ په طلب کې دسله
اجرت اختلو. ۱۹ بل چې په قې وهلو کې مړسي ۲۰ هغه خوك چې هره وخ د ۲۵ ځله
واړه وغه دعا کوي: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِيْ فِي الْمَوْتِ وَفِيمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، نوکړدی پرځیل
وانش مړسي هم ثواب دشهید لري، دروېش وانی چې دغه مذکوره شیان اکثر سیوځې
دی اوبعض دروېش پرقیاس کړی دی، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

دَرویش وَائِ: چې دروژی مبارکې میاشتې ته تخمینًا ۱۰ ورځې پاته وي دکال ۱۳۲۲ھ
رجار شنبې په وخ نږدې کتاب الصوم ومخ ته راوسیدم، اللهم وفقنی لفعل الخیرات
واحفظنی من فعل المنکرات، والحمد لله معطی الترغیب والصلوٰة والسلام علی نبیه
المصدوق وعلی آله وصحبه اصل الصدق والصفاء اجمعین.

خوشخبری

تفسیر ایوبی حنفی ۱۵ جلده

مکتبة القراءة والتجوید کانسی روډ کوئټه

العائبة للشهداء دوی دنورو شهداوو مړه شریك دی.

فَائِدَة سَنِيَّة: پوهه شه، چې علامه جلال الدین السیوطی پخپل کتاب تشبیت کې په نقل د طحطاوی شهداء د اخرت نور کسان هم راوړی دی چې د هغه کسان په صحیح حدیثو کې هم په دلله کې د شهداء د اخرت راوړه سوی دی صراحةً یا الشارة وقیاسًا.

۱ **مَبطُون**: هغه چې د کس د مرض مړسي یعنی یا د استسقاء په مرض یا د اسهال په مرض ۲ **غَرِيق**، دی چې په رود یا ځای کې ولوېږی اوغرق سی نو مړسي. ۳ صاحب الهدم چې دیوال یا خونه پرودنه پرې ږی اومړسي ۴ ذات الجنب په مرض مړسي، دا مرض یوهشموداني دی چې په داخل کې دیوه بغل پیدا سی اوپرسخت درد ورسره وی اوبعض فقهاء وائی چې ذات الجنب سکاروی ته وائی. اولوفې تبی ته هم وائی.

۵ چې بسخه په جمع کښې مړه سی یعنی د لنګید وپه وخت کې خواه عیال یه په نس کې پاند سی او مړه سی، او یا مستحاضه په لنګید و کښې مړه سی. ۶ په مرض د سل مړسي چې دا یو مرض دی په سږی کې پیدا کیږی او بدن کمزوری کړی، مخ پرنقصان وی اوبدن یې هم ترپیږی. ۷ اویا په دق مړی چې هغه مرض دی چې په ښه کې د ډانی پیدا سی اوښه ورسره وی، چې په اوسنی اصطلاح یه تور ژبړی بولی. اوه امرض د سرطان یو قسم دی چې مایوس العلاج دی، اوپه پیرو زمانو سره یې خندی مړکیږی یعنی طویلانی مرض دی هلك السل.

۸ چې په مسافرۍ کې خوك مړسي، ۹ اویا په صریح سره مړسي، چې په اصطلاح دیپر یا نانو مرض یه بولی ۱۰ په محافظت کې د ځان اویا مال اویا دماینی مړه سي ۱۱ چې په عشق کې خوك مړسي که عشق حقیقی وی، لکه د خدای اوعلیه الصلوٰة والسلام عشق، اویا په مجازی عشق کې د نږدیاد سبځی مړسي. لکن شرط دادی چې د حرام کار نه وي په پرهیزو ورسره ملګری وي، لکه چې مسه کول په شهوت سره اوزنا اولواطت. اویل شرط دادی چې دی به خپل عشق پټ ساتی

پُوه سه: چې سبب د عشق مجازی خو حرام دی لکن پرله وقوع نه په دی سبب کې خندی مړسي شهید دی.

کِتَابُ الصَّوم

داکتاب دی په بیان کی دمعنیٰ دروژی اود احکامو دروژی،

پُوه سه: چی مصنف اوبعض فقهاوو نورو ترلما څخه وروسته کتاب الصوم راوړی
ددی کبله چی لمونځ اوروژه دواړه عباداتِ بدنیه دی، اوبعض فقهاوو ترلما څخه
وروسته کتاب الزکوة راوړی ددی سبببه چی په قرآن شریف کی په ډیرو ځایونو کی "اقیموا
الصلوٰة واٰتوا الزکوٰة" یوځای راغلی دی، اوبل ددی سببه چی بعض فقهاءو وائی چی افضل
داعمالو پسله زکوة صوم دی،

فائده، کدځنی روژه نیول عبادت قدیمه وو، لکن فرضیت دروژو په
میاشت کی دروژی دشعبان دمیاشتی پر ۱۰ تاریخ اویا پر ۲ تاریخ نازل سوی دی ترڅو
هجرتِ نبوی یونیم کال وروسته، اوهم په دغه تاریخ قبله دبیت المقدس څخه وکعبی شریفی
ته نقل سوله، قال المصنف:

هُوَ الإمساكُ نهارًا داخومعنا لغوی دصوم دی، نوددی لغوی معنا پر بناء عرب
کی "نهارًا" یعنی امساک دی دورځی. وائی: صامَ الفرسُ، چی وابنه نه خوړی اوپه شرع شریفه
صادق ده ترلمر لویدو وپورې، اوپه نیزد حکماوود لمر څخه ترلمر لویدو وپورې نوځکه
دوی وائی: اذا کانت الشمسُ طالعةً فالنهار موجودٌ، قال المصنف:

عَنْ إدخالِ الشيءِ ددا خلولو څخه دهغه شی کهخورلئ دهغه عادی وی لکه
دودی اوبه وغیره اوکه غیرعادی وی لکه ډبره خاوری
وغیره چی داخل کړی نفس ته، **پُوه سه**: چی چونکه ادخال متعدی دی نوپه دې
سره یه دخول وایستی مثلاً که دسړی په خوله کښ ننوتی روژه یه نه ده ماته، اویا په څونه
کی اوبل کړی وو په خوله یه دود ننوتی روژه یه نه ده ماته، اوکی چلم وځکاوه اودوه یه

نیکرۍ روژه یه ماته ده، مرطب، د **پُوه سه**: چی ادخال که عادی شی وو، نو
همه یه روژه ماته ده اوکفاره باندی سته اوغیرعادی وو روژه خو یه ماته ده، مګر
ماکفاره نسته باندې، ط، قال المصنف:

عمدًا أو خطاءً خطاء صورت لکه یوسړی چی روژه یم پیادوی په خوله اوبه
لغړوه اوځندی تیری سی روژه یه ماته سوه لکن ددغی روژی امساك دی وکړی اووروسته
یه قضاهم راوړی اوکفارت باندی نسته، مصنف چی عمداوخطاء ذکرکړه نومراد یه
دادی چی په هیره روژه نه ماتیږی، قال المصنف:

بطنًا أو ما له حكمُ الباطنِ یایه فس ته داخله کړی اویا هغه ځای ته چی
چی دبطن دداخلیدوځولازمی دی، دځولی دخوا، دپیزی دخوا، دغوږ دخوا، لکه چی لنده
دوایه غوږ کی څاڅکی کړی، ولی چی دپیزی دخوا اودغوږ ودخوا وستونی ته لارسته، اوبل
لارد بطن لونه ده، اوبل څخول دذکر لاری دواء دې، اوبله لار دبطن جانفه تپ دی
یعنی هغه تپ چی وفس ته سړی وې، اوهغه چی په حکم کی دباطن وی لکه چی په امه
تپ کی چی لنده دواواچوی: امه تپ بولی چی پردی ته دماغ رسیدلی وې،

وشهوةُ الفرجِ اوامساك غواړی یعنی دورځی دشهوت څخه
قال المصنف دفرج که په جماع معهوده وی لکه هغه سړی که
دنروی اوکه دښځی، اویا قضاء شهوت په عبث کارسره وی چی استمناء یه بولی.

مسئله: په جماع معهود سره هم روژه ماتیږی اوهم کفارت پرلازمیږی بیان دکفارة
الصوم به وروسته راسی. ان شاء الله تعالیٰ، اوپه عبث کارسره روژه ماتیږی
اوکفاره نه پرلازمیږی، طحطاوی، قال المصنف:

بنيةٍ من أهله په نیت سره چی اهل دروژی وې **پُوه سه** چی نیت
دروژی ددی دپاره غواړی چی دعبادت اوعادت فرق په

وَسی مثلاً یوسړی چی عادت یه داوی چی دسپیدو څخه بیا ترماښام پوری چوړی نه
خوړی وهکذا لکن روژی ته یه فکړهم نه وی، اواهل دروژی هغه څوک دی چی په
ده کی دری شرطه صحت دروژی موجود وی. چی اسلام دی، اوپاک والی دبنځې دوډ
حیض اونفاس څخه اوبل نیت دی، اوبل علاوه پرهغو درو علم یه لری پس
فرضیت دروژی په دغه میاشت کی. که په دارالحرب کی وو اوکه په دارالاسلام کی وو خو
دارالاسلام یه په ځای کی دعلم دوجوب ولاړ دی، که څه هم دی علم یې وجوب دروژی
نه لری،

مسئله: بلوغ شرط نه دی، ولی چی روژه د نابالغ هم صحیح ده، اوخدائ تعالی
ورکوی **مسئله**: که سړی نیت دروژی خو وکړی مګر بیا بیهوښه سو ترمام پوری
روژه یه صحیح ده، اوکه سړی پسله نیت دروژی لمونځ سو دغه روژه خوبیه صحیح ده وچی
لعدم النیت **مسئله**: بنځه چی دحیض اونفاسه څخه خلاصه سوه مثلاً په شپږو کی
وغسل یه نه وی کړی نیت دروژی یه صحیح دی کذا فی البحر، ط. **پوهسه**: چی
فقهاوو دا تعریف دصوم دیر مختصر کړی دی اووائی چی: صوم امساك دی دمفطراتو څخه
دیاه دخدای په امر دخدای په خپل وخت کی. قال المصنف:

وَسَبَبُ وُجُوبِ رَمَضَانَ شُهُودُ جُزْءٍ

اوسبب دفرضیت دروژه
درمضان دمیاشتی حاضرې
دیوجزء دمیاشتی، یعنی چی صالح دروژی وی یعنی دسپیدو څخه بیا دلمر تر زوال پورې

سوال: یوکښی چی بالغ سی په مابین کی دمیاشتی دروژی نوده ته خوشهوده دجزء
صالح للصوم پیدا سوه نو پرده باندی باید قضاء د تیرو سوو وړځو هم لازمه سی

جواب: په تیرو سوو ورځو کی خو پرده کی شرط دوجوب نه وو موجود نو قضاء
پرې نشته، بحر ط. **پوهسه**: چی په جزء صالح سره شپه ووته اوما بعد
الزوال ووتی، ولې دغه دوه صالح دروژی نه دی: اودا مذهب دفخر الاسلام علی البزدوی

وی، اوشمس الائمه السرخسیؒ وائی چی سبب مطلق وخت دی دغې میاشتی، قال المصنف:

وَكُلُّ يَوْمٍ مِنْهُ سَبَبٌ لِأَدَائِهِ

یعنی سبب دوجوب داداء دغې ورځې
ولې چی ورځی خوسره متصلی نه دی
چی په مابین کی دورځو شپی سته، لکن په دی پوه سه. چی سبب دوجوب دروژی
جزء اول دی دهری ورځی نه ټوله ورځ، ولی سبب خو ترسببه مخروی نو باید دهری ورځی
روژه دابله ورځ ونه سی،

مسئله که یوسړی په اول شپه کی دمیاشتی دروژی پرسدوو، اوبیا ترسپیدو
دغه لیونی سو، او پسله میاشتی دروژی پرسدسو، اویا په اخیره ورځ بعد الزوال پرسد
سو، نو پرقول دشمس الائمه السرخسیؒ دټولې میاشتی دروژو قضاء پرلازمه ده، ولی چی
دوی مطلق جزء ه میاشتی دروژی یعنی اول شپه یه صحت کی ونیوله. اوپرقول دفخر
الاسلام قضاء دهیڅ ورځی پرې نشته، ولی چی ده خو جزء صالح دروژی په میاشت کی په
صحت کی نه دی نیولې، ومغنی والاقول دفخر الاسلام صحیح ټولې وعلیه الفتوی کما فی المجتبی
والنهر والدرایة وصححه غیر واحد من الفقهاء وهو الحق کما فی العنایة. **مسئله**: که
څوک بالغ سو اویا کافر وو مسلمان سو په مابین کی دمیاشتی دروژی نویا ته روژې
پرفرض دی اودتیرو سوو ورځو روژی پرفرض نه دی. قال المصنف:

وَهُوَ فَرْضُ عَيْنٍ أَدَاءً وَقَضَاءً عَلَى مَنْ اجْتَمَعَ فِيهِ أَرْبَعَةٌ

اوروژه فرض عین ده پرهغه چا چی په هغه کی داځلور شیان موجود وی، اسلام، پرکافر روژه

أَشْيَاءُ الْإِسْلَامُ وَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ وَالْعِلْمُ بِالْوُجُوبِ

فرض نه ده، عقل، پرلیونی روژه فرض نه ده، بلوغ، پرکوچنی چی بالغ نه وی روژه فرض نه ده

لِمَنْ أَسْلَمَ بِدَارِ الْحَرْبِ أَوِ الْكَوْنِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ

اوبَل به علم بالفعل لری په فرضیت سره د روژی هغه څوک چې مسلمان سی په دار العرب کی، او صرف بود و باش دده په دار اسلام کی کافی دی د پاره د فرضیت د روژی پرده کله څه هم دی یه په فرضیت یه خبر نه وی » قَالَ المُصنفُ:

وَيَشْتَرِطُ لِوُجُوبِ أَدَائِهِ الصِّحَّةَ مِنْ مَرَضٍ

اوشرط دی د واجب والی د اداء لپاره جوړ والحدد اسی مرض څخه چې سړی روژه نه سی ورسره نیولای یعنی د جهت څخه د مرض پر تکلیف وی روژه نیول **پوه سه** چې مطلق مرض مراد نه دی ولی چې غالبًا انسان دیوخه مرض څخه خالی نه وی، قَالَ اللهُ تَعَالَى: فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ الآية. قَالَ المُصنفُ:

وَحَيْضٍ وَنِفَاسٍ وَالإِقَامَةُ وَيَشْتَرِطُ لِصِحَّةِ أَدَائِهِ

او د غه رنګه شرط دی خالی والی د ښځې د حیض او نفاس څخه کاه. اوبَل شرط د وجوب الاداء مقیم والے دسړی دی یعنی چې مسافر به نه وی لِمَا تَلَوْنَا مِنَ الآيَةِ. اوشرط دی د پاره د صحت د اداء د روژی، **پوه سه**: چې مراد د اداء څخه نفس عمل د روژی تاچې قضاء ته هم شامله سی، ولی د صحت د قضاء د پاره هم دا غه شرطونه دی» قَالَ المصنفُ:

ثَلَاثَةُ النِّيَّةِ

د روژی دی اول نیت دی، وفی المراقی: فی وقتها لکل یوم، **فَائِدَه**: صاحب هدایه وائی چې شهود د اول جزء د میاشتی د روژی سبب دی د تولو روژو د دغی میاشتی، ثم کل یوم سببٌ لصومه ولا منافاة بینهما ه، لکن امام طحطاوی پردی خبره سوال لری دده په حاشیه کی وګوری، قال

وَالْخُلُوُّ عَمَّا يُنَافِيهِ مِنْ حَيْضٍ وَنِفَاسٍ وَعَمَّا يُفْسِدُهُ

او خالی به وی روژه د هغه شی څخه چې منافی ده روژی وی چې حیض او نفاس دی، ولی چې سړه د حیض او نفاس د روژه نه اداء اونه قضاءً صحیح ده، او د غه رنګ به روژه خالی وی د فاسدو

څخه د روژی لکه خوړلو اوجماع وغیره » قَالَ المُصنفُ:

وَلَا يَشْتَرِطُ الْخُلُوَّ عَنِ الْجَنَابَةِ

اوشرط نه دی خالی والی د روژی د جنابت څخه یعنی که سړی د شپی جماع مثلًا کړی وی او سپیدی پرسا اوچاودی د روژه یه صحیح ده، اویا دوړځی ببیده وو په خوب کی شیطان بازی ورکړه روژه یه صحیح ده، ولی چې ازاله د جنابت خو ممکنه ده، بخلاف الحیض والنفاس والمفسد » قَالَ المُصنفُ:

وَرُكْنُهُ الْكَفُّ عَنْ قَضَاءِ شَهْوَتَيِ الْبَطْنِ وَالْفَرْجِ وَمَا أُلْحِقَ بِهِمَا

او رکن د روژی ځان ساتل دی د پوره کولو د خواهش د نس او د فرج که نروی او که ښځه. او چې ملحق وی په نس او فرج سره لکه چې ورسته به راسی، إِنْ شَاءَ اللهُ: قَالَ

وَحُكْمُهُ سُقُوطُ الْوَاجِبِ عَنِ الذِّمَّةِ وَالثَّوَابُ فِي الْآخِرَةِ

او حکم د روژی لیعنی اثر مرتب پر روژی نیولو که فرضی وی او که نفلی

وَاللهُ أَعْلَمُ

ساقط والی د واجب دی یعنی که د طرفه څخه د خدای واجب وی لکه میاشت د روژی او که خوږی د بنده د خوا واجب وی لکه نذری روژه، یا نفلی چې شروع په وکړی او بَل حکم په ثواب دی په اخرت کی. **درویش وَالِئ** چې د شنبی په شپه د شعبان د میاشتی پر ۲۵ نیته تخمینًا اربکا نوا او تاجکا نو د مزار شریف بنار په کومک د امریکا یانو د طالبانو څخه پس لږ وی هفتی سخت جنګ زمینی او بمباری د امریکا یانو څخه قبضه پر وکړه » اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُونَ ط ۱۴۲۲ھ

خبردار

د نور الایضاح پښتو (۳) جلده د کتابت طباعت او کمپیوټری یکنه او په هر لوی او کوچنی سائز کی د مکتبة القراءة والتجوید » سره محفوظ دی » ورنه .....

فصل فی صفة الصوم وتقسیمه

دا فصل دی په بیان کی دصفت د روژی یعنی فرض دیا واجب وغیرهما، اویه بیان کی د تقسیم د روژی .. قال المصنف:

ینقسم الصوم الی ستة اقسام

روژه ویشل کیږی و شپږو قسمه ته. **فائده**: مصنف دغه اقسام دمجمله وار مجمل ذکر کړ او اوس یه تفصیلاً ذکر کوی، ولهذا چی تفصیل بعد الاجمال اوقع دی په زړه کی ښه واقع کیږی: لما قال العارف الجامی:

چو شوش باشد که بعد از انتظاری ؛ بامید رسد امیدواری ؛ وقد بین سرد الک فی المطول،

چی شئی چی مجمل ذکر سی اوسړی پوره په پوه نه سی، نو په زړه کی شوق او انتظار ته پوهیږی و پیدا کیږی، او په دی پسی هم زیار کاږی، والعلم الحاصل بعد التشوق والانتظار والطلب والتعب الذ واعظم وقوعاً فی القلب وادفع لالم الطلب والتعب من بلا صیام، قال المصنف:

فرض وواجب ومسنون ومندوب ونفل ومکروه

یعنی یوشم فرض عین روژه ده لکه روژه دمیاشتی د روژی، اوواجب، سنت، مستحب، نفل او مکروه ده **پوه سه**: چی فرض اوواجب هریودوه قسمه دی، یومعین فرض لکه اداء د صوم د رمضان، اوبل غیرمعین فرض لکه قضاء د فرضی روژو. او نذر معین چی مثلاً سړی ووائی چی پرما دعبا ورځی روژه نذر ده، نو دا واجب معین دی، اوکه سړی ووائی چی پرما یوه روژه نذر ده دا واجب غیرمعین دی، نو په دی دوه اقسام د روژی انتهی سوه، قال

اما الفرض فهو صوم رمضان اداء وقضاء وصوم الکفارات

هرڅه چی روژه ده چی قسم اول وو هغه روژه ده لسم ورځی د محرم د میاشتی سره د نهم دوه ورځی په حدیث شریف کی راغلی دی چی علیه السلام د لسمی ورځی روژه خو نه ښوله لکن داسی وویل چی که زه پاته سوم تر بله کاله پوری نه به د نهم روژه هم ونیسم، اوپه بل حدیث کی راغلی دی

ذکر سوی دی، یا روژی د قتل خطاء چی په سورة النساء کی ذکر سوی دی، او روژی د کفاع الیمین چی په سورة مائده کی ذکر سوی دی، او روژی د فدیة الصید یا روژی د محذور الاحرام لکه چی سر وحربی بیله عذره، نو په دی دوو کفارو کی که څوک سړی مخیر دی په مابین کی د ذبح الحیوان او اطعام الطعام او صیام نو چی دی روژی مختاره کړی نو هغه روژی فرض گرځی، دا دوی کفاری په سورة البقره کی ذکر سوی دی، اویا کفارة افطار الصوم عمداً بغیر عذر. **فائده**: روژه د قران او تمتع که څوک فرض دی لکن هغه صوم الکفارت نه دی بلکه صوم الشکر دی، **فائده**: صاحب الملتقی صوم الکفارات واجب بولی نو که چیری هغه مذهب صحیح وی نو مراد د فرض څخه فرض عملی دی چی واجب تر هم شامل دی، نو منکر یه کافر نه دی، قال المصنف:

والمنذور فی الاظهر

اود قسمه څخه د فرض د نذری روژی که نذر مطلق وی اوکه مقید وی په اظهر روایت کی د قوله تعالی: وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ. اوبعض فقهاء والی چی صوم منذور واجب دی، نو ردی وجهی مصنف اظهر وویله، قال المصنف:

واما الواجب فهو قضاء ما افسده من صوم النفل

او هرچی واجب روژه ده هغه قضاء راوړل دی د هغی نفلی روژی چی فاسده یه کړی، **فائده**: روژه د اعتکاف منذور بیله میاشتی د روژی هم واجب ده لکن لندره وقوعه لم یذکره المصنف فلا یرد السوال عدم صحة الحصر المفهوم من قوله فهو قضاء الخ قال المصنف:

واما المسنون فهو صوم عاشوراء مع الیوم التاسع

او هرچی سنت روژه ده هغه روژه د لسم ورځی د محرم د میاشتی سره د نهم دوه ورځی په حدیث شریف کی راغلی دی چی علیه السلام د لسمی ورځی روژه خو نه ښوله لکن داسی وویل چی که زه پاته سوم تر بله کاله پوری نه به د نهم روژه هم ونیسم، اوپه بل حدیث کی راغلی دی

چې د صوم عاشوراء روژه وی ژړوی ګناهونه د تیر کال یعنی محوه کوی ئ ه قال المصنف

وَاَمَّا الْمَنْدُوْبُ فَهُوَ صَوْمُ ثَلَاثَةٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ

اومندوب روژی دری (۳) روژی دی په هره میاشت کی. سبب یې دا دی چې حسنه د مسلمان په لس مثله یې ثواب دی اوپه حدیث شریف کی راغلی دی چې د غه دری (۳) روژی په هره میاشت کی لکه د تیولو عمر روژی په ثواب کی: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُنْدَبُ كَوْنُهَا اَيَّامَ الْبِيْضِ وَهِيَ الثَّالِثَ عَشَرَ وَالْخَامِسَ عَشَرَ

اومندوب دی چې دری روژی په میاشت کی دی ایام بیض وی، اوهغه دیارلسم (۱۳) اوخوارلسم (۱۴) پنځلسم (۱۵) پوره سره. چې د غورځوته ایام بیض وائی په اعتبار دشپو یعنی ایام لیالها بیض. ولې چې تولې شپې سپوږمی ولاړه وی، په حدیث کی چې په روایت یې ابوداؤد راوړی دی داسی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام موږ ته امر کولو چې موږ ایام بیض روژی و نسو» آه قال المصنف:

وَصَوْمُ الْاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسِ وَصَوْمُ سِتٍّ مِنْ شَوَّالٍ

اوه مندوب دقسمه څخه دی روژه د دوشنبی اوپنجشنبی اوشپږ روژی د کشنی اختر دمیاشتی: لقوله علیه الصلوٰة والسلام: چې اعمال د بندګانو د دربار ته د رب العزت اوپه بل حدیث کی راغلی دی چې که چاد میاشتی د روژی روژه اوبل ئ ورو سته شپږ روژی د شوال دمیاشتی ونیولې دالکه تولې عمر چې روژی ونیولی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ الْاَفْضَلُ وَصْلُهَا وَقِيْلَ تَفْرِيْقُهَا

بیا نوافضله داده چې متصلی وکنسی، یعنی پرله پسې وکړی داختر دی دستی پرله پسې ونیسی، لظاهر قوله علیه

الصلوٰة والسلام فاتبعه آه اوبعض فقهاء ولې چې افضل یې جلاجلا نیول دی، دپاره د اظهار د مخالفت د اهل کتابو چې هغه ترفهنو بالانفلی روژی دستی نسی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَكُلُّ صَوْمٍ ثَبَتَ طَلَبُهُ وَالْوَعْدُ عَلَيْهِ بِالسُّنَّةِ كَصَوْمِ

اودغه رنګه مندوب دی هرهغه روژه چې طلب یې اووعده د ثواب یې په حدیث نبوی

دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَصُوْمُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا

سره لکه روژه د داؤد علیه السلام چې هغه یوه ورځ روژه نیوله. اوبله ورځ به ئ خوړله اودغسی

وَهُوَ اَفْضَلُ الصِّيَامِ وَاَحَبُّهُ اِلَى اللّٰهِ تَعَالٰى

روژه بهترینه پرله فرضی روژو اوواجب روژو. اودغسی روژه محبوبه د روژو ده پې د باری د خدای جل جلاله، ولې چې داسی روژو کی سړی نه عادت کیږی د روژو سره بخلاف صیام الدهر: قال علیه الصلوٰة والسلام احب الصیام الی الله صیام داؤد واحب الصلوٰة الی الله صلوٰة داؤد کان ینام نصفه ای نصف اللیل ویقوم ثلثه وینام سدسه وکان یفطر یوما ویصوم یوما، رواه ابوداؤد وغیره من المحدثین، قال المصنف

وَاَمَّا النَّفْلُ فَهُوَ مَا سِوٰى ذٰلِكَ مِمَّا لَمْ يَثْبُتْ كَرَاهَتُهُ

اوهرچې نفل دی یعنی چې پنځم قسم د روژی دی هغه هغه روژه ده چې ما سوا د هغو اقسامو څخه وی چې بیان یې تیر سو لکن مکروه والی یې نه وی ثابت» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاَمَّا الْمَكْرُوْهُ فَهُوَ قِسْمَانِ مَكْرُوْهُ تَنْزِيْهًا وَمَكْرُوْهُ تَحْرِيْمًا

اوهرڅه چې مکروه دی چې شپږم قسم دی د روژی دی هغه دوه قسمه دی یو مکروه تنزیهی دی اوبل مکروه تحریمی دی چې حرام ترنزدی دی»

قال المصنف **اَلْاَوَّلُ کَصَوْمِ عَاشُوْرَا مُنْفَرِدًا عَنِ التَّاسِعِ**

اول چی مکروه تنزیهی ده لکه د عاشورا یعنی د لسم د ورځی د محرم د میاشتی روژه نیول یوا ځی د نهم د ورځی څخه، او د غه رنګه کراهت دی ته که یوه لسم ورځ روژه وساته ونیسی ۵

وَالثَّانِیْ صَوْمُ الْعِیْدَیْنِ وَاَیَّامُ التَّشْرِیْقِ اود وهم قسم یعنی مکروه تحریمی هغه روژه ده دوو اختر و، ولی چی په روژه نیولو کی اعراض دی د میلمستیا څخه د خدای او د غه رنګه مکروه تحریمی ده روژه د ورځود تشریق چی هغه درې ورځی دی د ورځی څخه وروسته ورځی دی» په حدیث شریف کی راغلی دی چی ایام التشریق ورځی د خوراک او څښاک دی»

وَکُرِهَ اِفْرَادُ یَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاِفْرَادُ یَوْمِ السَّبْتِ

او مکروه ده یوا ځی روژه نیول د ورځی د جمعی په روژه سره، او د غه رنګه مکروه دی یوا ځی والی د ورځی د شنبی په روژه سره، چی د دغو دواړو روژو څخه په حدیث نبوی کی نهی راغلی دی **پوه سه**: چی مکروه افراد دی نو که ترجمعی د مخه یوه ورځ روژه ونیسی او یا تر شنبی وروسته یوه روژه وغسی بیا کراهت نسته، او د غه رنګه که د جمعی او د شنبی د ورځی روژه وغسی بیا کراهت نسته» **سوال**: په صحیح حدیث کی د طلب د ورځی د جمعی د روژی راغلی دی نو بیا څرنګه مکروه کیدای سی **جواب** چی حدیث د نهی وروسته دی نو د حدیث د طلب ناسخ دی، کذا فی شرح الجامع الصغیر للعلامة السیوطی، او په دی کی وائی چی روژه د ورځی د جمعی مندوب ده، کذا قال الامام الطحطاوی والمعتمد ما ههنا» قال المصنف:

وَکُرِهَ صَوْمُ یَوْمِ النَّیْرُوْزِ وَالْمِهْرَجَانِ او مکروه ده روژه د نوروز چی اوله ورځ د پسرلی ده د شمسی کال، او د غه رنګه مکروه روژه د ورځی د مهرجان چی د مئی اوله

ورځ ده پحساب شمسی کی، نو نوروز اوله ورځ د اول حمل ده چی لمر په اعتدال ربیعی کی وی او مهرجان اوله ورځ د میزان چی لمر په اعتدال خریفی کی وی، **فائده**: د غه درې (۳) ورځی د آتش پرستانو د فرس د اختر ورځی وی، چی د فارس خلګ که څه هم اوس مسلمانان دی خو بیا هم د دغو ورځو د اختر په توګه درانوی کوی بلکه د نوروز ورځ خو تر شرعی اختر پا لا لمانځی وجه د نهی د دغو دوو (۲) روژو څخه داده - چی په روژه نیولو کی د دی دوو (۲) ورځو تعظیم دی او په حدیث شریف کی نهی راغلی دی د احترام څخه د دغو دوو ورځو، قال المصنف:

اِلَّا اَنْ یُّوَافِقَ عَادَتَهٗ مګر د نوروز یا مهرجان روژه مکروه نه ده که اتفاقا د ده د عادت سره برابره سوه مثلا ده به همیشه د یکشنبی مثلا روژه نیوله او یوکال هغه روژه د نوروز یا مهرجان برابره سوه نو بیا کراهت نسته لعدم العلة المذکورة» قال المصنف:

وَکُرِهَ صَوْمُ الْوِصَالِ وَلَوْ یَوْمَیْنِ وَهُوَ اَنْ لَّا یُفْطِرَ بَعْدَ

او مکروه ده د وصال روژه که څه هم دوی ورځی وی، او صوم وصال دا ده چی روژه نه ماتوی د وسته تر

اَلْغُرُوْبِ اَصْلًا حَتّٰی یَتَّصِلَ صَوْمُ الْغَدِ بِالْاَمْسِ وَکُرِهَ

لمر لوید و په هیڅ وخت یعنی د شپی حتی چی جوته سهی روژه د سبا ورځی د پرون په ورځ پوری

صَوْمُ الدَّهْرِ او د غه رنګه مکروه ده صوم الدهر چی تول کال بیله ایام منهیه و وی روژه وی، **فوائد شتی (۱) فائده**: په عمدة الفتاوی کی وائی چی روژه د نوروز یا د مهرجان که بله روژه ورسره یوځای کړی بیا کراهت نسته **فائده**: د غه رنګه مکروه ده صمت الصمت چی روژه و نسی مګر هیڅ چا سره هیڅ خبره نه کوی، بلکه د دی د پاره د خیر خبری کوی، یا چی کار یه وی هغه خبری د هم کوی لکن د اسی روژه هلته مکروه ده چی د روژاتی پرد اسی روژه کی عقیده د ثواب وی، او کی اتفاقا ګرځی ورځ د چا سره خبری نه وکړی بیا کراهت نسته **فائده**: صوم وصال و علیه

السلام نه مکروه نږوه کما ورد فی حدیث رواه البخاری **فائده** نجی میږه چی برکور وی دا به نفلی روژه بیله اجازی د میږه نه نسی، او هر څه چی فرضی روژه ده که اداء وی او که قضاء وی د میږه اجازی ته ضرورت نشته» قال المصنف:

فصل فیما یشترط تبییت النیة وتعیینها وما لا یشترط

دا فصل دی په بیان کی د هغو روژو چی د شپی نیت په کښی شرط وی او تعیین د منوی روژی، او په بیان کی د هغو روژو چی د شپی نیت او تعیین په کښی شرط نه دی. قال المصنف:

اما القسم الذی لا یشترط فیه تعیین النیة ولا تبییتها

او هرچه هغه قسم دی چی په هغه قسم کی تعیین د نیت، شرط نه دی او نه د شپی نیت غواړی

فائده: مصنف په عنوان کی د «ما یشترط» د مخ کړی د جهت د دی چی هغه وجودی دی شرافت لری ترعدمی» او په تفصیل ما لا یشترط» د مخه کی یو د دی جهته چی د دی اقسام لږ دی، او بل د اقسم شرافت لری چی اداء د رمضان دوه قسم دی» قال المصنف:

فهو اداء رمضان والنذر المعین زمانه، والنفل

هغه ادائی روژه د ورځی د شتی د روژی اوادا د کول دی د هغه نذر چی زمانه یی معین وی، لکه چی یو سړی ووائی چی پر مایه نذر روژه د یکشنبی د ورځی د ورځی هستی او بل نفلی روژه ده» قال المصنف:

فیصح بنیة من اللیل الی ما قبل نصف النهار علی الاصح

نو صحیح دی هر یو د دغو د ۳ و روژو څخه په نیت د سره د شپی څخه تر د مخه د نیمی ورځی پر صحیح مذهب

پوه سه: چی راد د نفلی روژی څخه دا دی چی فرض او واجب نه وی نو که سنت وی او

که مندوب وی او که مکروه کما مر **مسئله**: که سړی تر غروب د لمر د مخه د صباد ورځی د روژی نیت وکړی نو دغه نیت نه دی صحیح» رد» **فائده**: افضله داده چی د دغو د ۳ و روژو نیت معین یعنی د اداء رمضان یا صوم منذور معین یا نفل د شپی د مخه وکړی **پوه سه**: چی د نیت معنی دا ده چی قصد جازم وکړی چی نه صبا روژه نسم او که نه کړم میلمه نوره ما روژه ده. په دا سی نیت سره روژه نه ده صحیح ولی چی د دی جازم نه دی **مسئله**: که سړی سحار کړی نه ئی نیت د روژی نیولو د ر لودی او نه ئی د خوړلو او په دی هم خبر وو چی صبا روژه ده، په دغه علم قدر سره دی روژاتی نه گرځی» ط

مسئله: که سړی پیشلمی وکړی او ده غالب گمان دا وو چی سفیدی نه دی چاودلی نو که دی په سفیدو پوهیدی روژه یی صحیح ده او که نه پوهیدی نو باید پیشلمی و نه کړی

مسئله: که سړی چرگ د ر لودی چی تیک د پیشلمی پروخت بی اذان کاوه بعض مشائخ وائی چی د چرگ اذان ته اعتبار نشته» لکن په فتاوا هندیه یعنی فتاوی عالمگیریه کی وائی که سړی دا چرگ تجربه کړی وو» چی پروخت برابر ئی اذان کاوه نو وه ته د چرگ پر اذان اعتماد ر وادی»

فائده: فی المراقی، نبی خالی کیدای مسلمان د نیت او قصد څخه د روژی، په شپو کی ده د میاشتی د روژی» مگر نه نادر سړی چی یا فاسق معلنا وی، او یا تر غروب الشمس د مخه بیده سی تر سپیدو پورې، حتی چی فقهاء وائی چی پیشلمی پر روژه بس نیت دی، د خولې نیت خو هیڅ نه دی لازم

سوال: په حدیث شریف کی را غلی دی چی روژه نشته هغه چا له چی د شپی نیت و نه کړی **جواب** دا حدیث محمول پر نفی ده کمال دی نه ده جواز **پوه سه** چی په قدوری کی دا سی عبارت واقع دی» اجزئته النیة ما بینه وبین الزوال» اه او مصنف ما قبل نصف النهار روایه» او په دی کی شک نشته چی نصف نهار شرعی خو تر زوال الشمس د مخه دی، نو په اصح ویلو کی رد پر قدوری وکړی»

فائدة: دلیل دصحت د نیت د روژی تر نصف النهار پوری دادی چی روژه یو عبادت ممتده واحده دی، نو په اکثرو اجزاؤ کی د روژی نیت کافی دی، نو د ماقبل څخه د نصف النهار پیا تر غروب پوری د په یوه حصه دورځی ده. **یوه سره**

چې د مصنف عبارت د جامع الصغیر سره برابر دی، قال المصنف:

وَنِصْفُ النَّهَارِ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ اِلٰی وَقْتِ الضَّحْوَةِ الْكُبْرٰی

او نصف نهار یعنی په شرعی شریفه کی د وخت څخه د راختو د سپیدو پیا تر وخت پوری د پاخه ځابنت، د څخه هم نهاره په لغت او ریاضی ووی د طلوع الشمس څخه پیا تر لویدو د لمر ده، چې نصف النهار په استواء یعنی تر زوال د څخه پوره کیږی، فاعرف الفرق، قال المصنف:

وَيَصِحُّ بِمُطْلَقِ النِّيَّةِ وَبِنِيَّةِ النَّفْلِ وَلَوْ كَانَ مُسَافِرًا

او صحیح کیږی یعنی د رمضان سره شمه روژه، چې فرض روژه ده، نذر معین دی، او نفلی روژه ده، په

اَوْ مَرِيضًا فِي الْاَصَحِّ

مطلق نیت سره یعنی چې تخصیص د فرضی روژی، یا نذری روژی یا نفلی روژی نه وی ورسره، او د غه رنګه د رمضان سره روا دی په نیت د نفلی روژی، که څرګنده سړی مسافر یا مریض وی په اصح روایت کی، او دا مذهب دی د فخر الاسلام علی البزدوی او د شمس الائمة السرخسی، دلیل یې دا دی چې مسافر او مریض ته چې روژه روا کړه سوی دی په سبب د تکلیف پرده وی، نو چې دوی دا تکلیف پرسر واخلی او روژه یې ونیوله نو دوی ګویا عذر ونه درلودی، فیقع عن صوم الفرض.

پوښتنه: دی سړی خو د روژی د نیت سره د نفلی قید نه یات کړی دی نو بایډ نفل سی ولی چې دوی ته چې خوراک وغیره اجازه په سبب د عذر د سفر یا مرض سته، نو نفل بایډ په طریق اولی ورته روا وی لکه چې بعض فقهاو هم پردغه عقیده دي **جواب**

فائده: په مریض کی چې روژه ونسی په نیت د نفلو یا د واجب اخر د ری قوله دي،

را یودا قول دی چې مصنف اصح ګنړلی دی چې روژه د رمضان څخه د نیت د نفلو یا واجب اخر لغوه دی ګڼامر قاله المصنف تبعا لفخر الاسلام وشمس الائمة: او (۲) دوهم قول دادی چې روژه یې د ما نوی څخه ده یعنی نفل یا بل واجب، او هم دا مذهب مختار د صاحب هدایه دی، او نور د پیرو مشایخو حتی بعض علماء وائی چې دا ظاهر المذهب د امام اعظم دی، او (۳) دریم قول تفصیل دی په مرض کی یعنی که د اسی مریض وو چې روژی تاوان ورته کاوه په قول د طبیبانو مګر سره د هغه مرض روژه وښول په نیت د نفلو وغیره نو روژه یه د «ما نوی» څخه واقع کیږی او که روژی تاوان نه ورته کاوه لکه «سوء الهضم» نو روژه یې د رمضان څخه ده، بحر

قال المصنف

وَيَصِحُّ اَدَاءُ رَمَضَانَ بِنِيَّةِ وَاجِبٍ اٰخَرَ مِنْ كَانَ

صَحِيحًا مُقِيمًا

او صحیح ده اداء د روژی د میاشتی د روژی په نیت د بل واجب لکه کفاره د یمین یا منذور مطلق هغه چا لره چې دی په صورت د جور ولی او مقیم وی، ولې چې ورځی د روژی د میاشتی معیار د فرضی روژو دی نو په خطاء فی الوصف سره هم فرضی روژه ده، قال المصنف:

بِخِلَافِ لِلْمُسَافِرِ فَاِنَّهُ يَقَعُ عَمَّا نَوَاهُ مِنَ الْوَاجِبِ الْاٰخَرِ

او مخالف حکم دی د مسافر چې نیت د واجب اخر وکړی په میاشت کی د روژی، چې هغه روژه د ده «ما نوی» څخه چې واجب اخر دی واقع کیږی، او دا هم مذهب دی د امام اعظم او یارانو چې د فرضی روژی د رمضان کیږی، والدلائل للمذهبین فی المبسوطات،

قال المصنف

وَاخْتُلِفَ التَّرْجِيحُ فِي الْمَرِيضِ اِذَا نَوٰى وَاجِبًا اٰخَرَ فِي رَمَضَانَ

او اختلاف دی د ترجیح په مریض کی چې روژه په نیت د واجب اخر د نسی په میاشت کی د روژی یعنی بعض فقهاء ترجیح ودی ته ورکوی چې روژه د مریض د ما نوی څخه ده، او بعض فقهاء وائی چې روژه یې د رمضان څخه واقع کیږی،

وقدمربیانه ، قال المصنف:

وَلَا يَصِحُّ الْمَنْذُورُ الْمُعَيَّنُ وَقْتُهُ وَزَمَانُهُ بِنِيَّةِ وَاجِبٍ

اونه صحیح کیږی یعنی دذی څخه دنا ذر نذر ساقط یږی هغه منذور چی نا ذر په وقت معین کړی وی

آخَرَ بَلْ يَقَعُ عَمَّا نَوَاهُ مِنَ الْوَاجِبِ فِيهِ

لکه چې وئیلی ئی وی چې د چهارشنبی روژه

دې هفتی پرما نذر ده ، په نیت دبل واجب لکه کفارة الیمین مثلاً بلکه دغه ورځ روژه چې سړی نذر

کړی وه ده خو وئیولم لکن پ. نیت دبل واجب ، نودغه روژه ده هغه روژه ده چې ده نیت کړیده

چې هغه واجب اخردی ، په هغه ورځ کې چې ده په روژه نذر کړی ، حاصل دا چې نذری روژی به قضا

راوړی **پوه سه:** چې په دی مسئله کې اختلاف دروایا تو نسته ، مگر **مسئله** که

نا ذر معین په هغه ورځ دنفلی روژی نیت وکړی یا د مطلق روژی نیت وکړی یا په دغه روژه د منذور

څخه واقع کیږی ، نو دی سبب ده مصنف بنیة واجب اخر وویله ، قال المصنف:

وَأَمَّا الْقِسْمُ الثَّانِي وَهُوَ مَا يُشْتَرَطُ فِيهِ تَعْيِينُ النِّيَّةِ وَتَبْيِيتُهَا

اوهر څه چې دوهم قسم دی چې په هغه کې شرط دی تعیین د نیت یعنی چې خلاف د روژه نیسم ، او دغه

شرط تعیین دی نیت د روژی په شپه کې ، قال المصنف:

فَهُوَ قَضَاءُ رَمَضَانَ وَقَضَاءُ مَا أَفْسَدَهُ مِنْ نَفْلٍ وَصَوْمُ

اوهر څه چې دوهم قسم دی چې په هغه کې تعیین د نیت غواړی آه هغه قضائی روژه ده میاشو

الْكَفَّارَاتِ بِأَنْوَاعِهَا وَالْمَنْذُورُ الْمُطْلَقُ كَقَوْلِهِ إِنْ شَفَى

د روژی او دغه رنګه قضاء چې اوږه دهغی روژی چې نفل ده نیولی وه مګر فاسده یې کړه ، او دغه رنګه

اللهُ مَرِيضِي فَعَلَيَّ صَوْمُ يَوْمٍ فَحَصَلَ الشِّفَاءُ

روژی د کفارو

په تولو اقسامو سره لکه کفارة الیمین یا صوم تمتع ونحوها ، او دغه رنګه دی نذر مطلق

لکه یوسړی چې ووائی که زما مریض خدای پاک راجوړکړی نو پرما یوه ورځ روژه نذر ده او

مریض هم جوړسو ، درویش ووائی چې دی تولو وجه داده چې د دغو روژو دپاره په شرع

شریف کښې ورځ نه ده تا کل سوی ، نو تعیین د روژی د روژاتی پرغاړه دی ،

مُهِمَّه

په تولو اقسامو کی د روژو کی د شپی نیت د روندی وکی د صبا دپاره او بیرته دهغه څخه یه

رجوع وکړه چې نه ئی ښسم ، صبا په زاړه نیت دی صائم څسی گرځیدای » ولی هغه نیت خو په

رجوع سره مات سو ، نو کی د نفلی روژی د نیت څخه رجوع وکړه په شپه خونه پرده قضاء سته

او نه گناه ، او که د فرضی روژی د نیت څخه ئی رجوع وکړه صرف قضاء باندی سته ، او کی پسله

رجوع یه نیت بیرته نوی کی نو هره روژه چې وه هغه روژه یه صحیح ده او که یوسړی پسله

نیت قلبی داسی ووئیله « اَصُوْمُ غَدًا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ » نیت یه نه باطلیږی ، ولی ده اِنْ شَاءَ

اللّٰهُ وَیلو څخه ده مقصد طلب د توفیق الهی دی ولبس ، ولې چې په ان شاء وئیلو سره نفی

تلفظ باطل سو نیت خو عمل د زړه دی ، بحر رائق » **مسئله:** که چا په شپه نیت

د صبا روژی وکړی وده ته خوړلی جماع وغیره روا دی او دا رجوع د نیت څخه نه گڼل

کیږی بلکه هغه سابق نیت یر پرځای دی تجدید ته د نیت هم ضرورت نسته ، علامه

ملا مسکین:

خوشخبری

مَعَارِفُ الْقُرْآن ١٠ توکه	تفسیر ایوبی ١٠ توکه
شتاسو مسائل او د هغوی حل ٩ توکه	نکاح قدوری ٢ توکه

فَصْلٌ فِيمَا يَثْبُتُ بِهِ الْهِلَالُ وَفِي صَوْمِ يَوْمِ الشَّكِّ وَغَيْرِهِ

دا فصل دی په بیان کی د هغه شی چې په هغه سره لیدل د میاشتی ثابتیږی یعنی که د روژی وی اوکه د اختر وی اوکه د نورو میاشتوو وی اوپه بیان کی د شک د روژی اونور احکام.

مسئله: واجب کفائی د طلب د میاشتی د برات د پاره د روژی، قال المصنف.

يَثْبُتُ رَمَضَانُ بِرُؤْيَةِ هِلَالٍ أَوْ بَعْدِ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ إِنْ غُمَّ الْهِلَالُ

الهلال: ثابتیږی د میاشت د روژی په لیدلو سره د میاشتی او د غر رنګه ثابتیږی په حسابولو سره د برات د میاشتی دیرش ۳۰ ورځې، که میاشت د روژی و رکه سوه یعنی نه سوه معلومه په سبب د وړیځې یا گرد وغیره: قال علیه الصلوة والسلام: صُومُوا لِرُؤيَةِ الهِلَالِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤيَتِهِ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ يَوْمًا. ترجمه: تاسی روژی ځکه په لیدلو د میاشتی یعنی د روژی او تاسی روژی ماتوی په سبب د لیدلو د میاشتی یعنی اول د روژی نه سوه معلومه نو تاسی پوره کړی حساب د میاشتی د برات دیرش ورځې،

درولیش وائی: که په اول کی خو میاشت د روژی معلومه سوه، لکن په اخیر کی و رکه سوه نو دی روژی دیرش پوره کړی **مسئله:** د غر رنګه واجب کفائی ده طلب د میاشتی د شوال په دیرشمه شپه کی

مسئله: قول ته د نجومیانو او جنتریو اعتبار نشته په شرعی امورو کی، قال المصنف.

وَيَوْمُ الشَّكِّ هُوَ مَا يَلِي التَّاسِعَ وَالْعِشْرِينَ مِنْ شَعْبَانَ وَقَدْ

او د شک ورځ هغه ورځ ده چې په نوه شپیتم ۲۹ د برات پسی ده او طرف د علم او جهل په سره برابر وی چې

اسْتَوَى فِيهِ طَرَفُ الْعِلْمِ وَالْجَهْلِ بِأَنْ غُمَّ الْهِلَالُ

دا هم معنی منطقی ده د شک، په دی سبب چې میاشت د روژی نه سوه معلومه یا په سبب د وړیځې

یا گرد یا دود، یا دیره تاریکه وه. **درولیش وائی** چې سبب د برابری د علم او جهل دا دی چې د برات میاشت احتمال د نه ویشت ۲۹ ورځولری، او د دیرشو ورځوم لری، لقوله علیه الصلوة والسلام الشهر هکذا وهکذا وهکذا ددواړو لاسو په گوتو یه اشاره کوله لکن په اخیر وار ئی یه گوته کت کړو چې نه ویشت ۲۹ سی، وهکذا هکذا هکذا گوته یه نه کړه کت چې دیرشی ۳۰ سی.

مسئله:

چونکه د روژی میاشت لکه نوری میاشتی گاهی ۳۰ ورځی وی اوگاهی ۲۹ ورځی وی نو ایا د غه د روژی میاشتی د روژی چې یوه ۳۰ ورځی وی او بله ۲۹ ورځی وی په ثواب کی فرق سره لری اوکه څرنګه

درولیش وائی، چې ابن حجر العسقلانی پرده د موضوع کی د اسی تحقیق کړی دی چې په نفس فضیلت کی خو فرق نه سره لری ولی چې فرض د غه میاشت روژه نیول دی کم ۳۰ وی اوکه ۲۹ وی، اوپه دی کی هم فرق نه سره لری چې مغفرة د ذنوبو کول کیږی د هغه چا د پاره چې د روژی میاشت روژه ونسی ایماناً واحتساباً. اوپه دی کی هم فرق نه سره لری چې قول به جنت ته ورځی د روژه ورځی چې د روژا تیا نود پاره مخصوصه ده چې باب الریان یه بولی کما جاء فی الحدیث الصحیح، اما په خصوص کی د دی ۳۰ ورځو والا یو روژه بالاده اویو پیشلمی یه هم بالا دی اویو روژه مات یه هم بالادی، نو په دی سبب ۳۰ روژی والا میاشت په ثواب کی بالاده تن ۲۹ ورځو والا میاشتی د روژی، انتهی مع تفصیل وزیادة من هذ العبد العاصی قال المصنف.

په خصوص د روژو مذکوره بالا بوکاړو وبنا ظاهر پر لمن تامل ۱۲

وَكُرِهَ فِيهِ كُلُّ صَوْمٍ إِلَّا صَوْمَ نَفْلٍ جَزَمَ بِهِ بِلَا تَرَدُّدٍ

او مکروه ده په ورځ کی د شک هره روژه که فرضی روژه وی یعنی چې په نیت د فرضی روژی د

بَيْنَهُ وَبَيْنَ صَوْمٍ آخَرَ

میاشتی یه ونه نسی، او د غه رنګه مکروه ده په د غه ورځ چې قضا د روژه یا واجب روژه، او هم هغه روژه مکروه ده چې نفلی وی لکن په نیت کی تردید وی، او نه ده مکروه نفلی روژه چې د ده یقین وی پر نفلی او په نیت کی د اسی تردید نه وی چې که فرضی روژه نه سوه نو نفلی خو به سی اوکه

مثلاً دورځی دفرضی روژی حال معلوم سو بیایه فرضی روژه **پوه سه** ، چی نیت ونغولی کارنه دی چی سهی ووائی چی نه صبا نفلی روژه نسم بلکه نیت دنهی کاردی نوکی په نهی کی تردد وو نوروژه یه مکروه ده ، نودکراهت څخه سړی یا په دی خلاصیږی چی دسهی عادت وی چی په هفته کی یکشنبه اودوشنبه مثلاً روژه نسی هغه دده معتادی روژی پوشک روژه برابری سی. نوروژه نیولو یه مکروه نه ده اوپه دی دواړهم دکراهت څخه خلاصیږی چی دروژی روژی یا خلور یا بالاد روژی ترمیاشتی دمخه سهی شروع کړی .

اختلاف بعض فقهاءُ وائی چی دشک روژه نه نیول افضل دی ، ولی چی دی تردید نیت قلبی پریږمشکل دی عوام خوخه کوی بلکه بعض ملایانوته هم مشکل دی ، ددی سببه چی اکثرملایان په تولهٔ کال کی یوه روژه هم نفلی نه نسی - نوپه شک روژه کی څرنګه دی دنفلو بلا تردید قلبی نیت کولای سی . دلیل ددی فقهاووُ دا دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم ددی روژی دنیولو څخه نهی کړی دی کما مر **درویش وائی** چی نهاهم داغه خوښه ده ، اوبعض علماء وائی چی روژه نیول یه افضل دی ولی چی حضرت علی کرم الله وجهه اوحضرت عائشی رضی الله تعالی عنها دغه روژه نیوله ، والجواب انه لاینبغی لاحدان یقیس نفسه المتردد علی اصحابهٖ ، قال المصنفؒ :

وَاِنْ ظَهَرَ اَنَّهٗ مِنْ رَمَضَانَ اَجْزَءَ عَنْهُ مَاصَامَهٗ

اوکه چیری پښکاره سوه چی دغه درورځی دمیاشتی ده یعنی دورځی خبر صحیح راغلی نودغه سړی چی په دغه ورځ یه نفلی روژه نیولې ده دفرضی روژی کفایت کوی ، قال المصنفؒ :

وَاِنْ رَدَّدَ فِيْهِ بَيْنَ صِيَامٍ وَفِطْرٍ لَا يَكُوْنُ صَائِمًا

اوکه سړی تردید وکړی په مابین کی دروژی نیولواوخوړلو مثلاً دایه نیت وو که روژه سوه خوزمایه روژه اوکه روژه نه سوه نه بی خورم نوپه داسی نیت دی روژه اپه نه گرځی یعنی که صبا تر ضحوة الکبری ورو سته معلومه سوه چی روژه ده ددغه سړی روژه نه ده صحیحه

مسئلهٔ المصنفؒ **وَكُرِهَ صَوْمُ يَوْمٍ اَوْ يَوْمَيْنِ مِنْ اٰخِرِ شَعْبَانَ وَلَا** اوهکروه گنړل سوی ده یوه ورځ روژه اویا دوی ورځی روژه داخیره څخه دبرات دمیاشتی اوهکروه نه ده بالاتردوو ورځو لقوله علیه الصلوٰة والسلام : لَا تَقَدِّمُوا **يَكْرَهُ مَا فَوْقَهُمَا** الشَّهْرَ بِيَوْمٍ وَلَا يَوْمَيْنِ ، متفق علیه مره اوامام شافعیؒ وائی چی دبرات میاشت چی نیمی ته ورسیږی بیابه روژه مکروه نه ده بیله فرضی روژی ، قال المصنفؒ :

وَيَأْمُرُ الْمُفْتِي الْعَامَّةَ بِالتَّلَوُّمِ يَوْمَ الشَّكِّ ثُمَّ يَأْمُرُ

اوامرکوی دی مفتی دمحکمه شرعیې عام خلق په انتظار سره دهغه ورځی یعنی بیله نیته دروژی بلکه

بِالْاِفْطَارِ اِذَا ذَهَبَ وَقْتُ النِّيَّةِ وَلَمْ يَتَعَيَّنِ الْحَالُ

دخورلو وغیره څخه پرهیز وکړی په ورځ کی دشک یعنی ترڅاخه ثابت پوری اوه امر مفتی چی په بازار وکی دی یوه ورځ دهغه اوپرمنارو باندی اعلان ونه وکړی ، اوبیادی مفتی امر وکړی خلکونه چی اوس نوخورلو وغیره شروع کړی چی وخت دنیت تیرسی چی ضحوة الکبری وه ، اودروژی حال ندوی معلوم سوی **فَائِدَه** : ولی دامردمفتی وظیفه ده دقاضی نه ده قاضی خوصرف حکم ورکوونکی دی فتوای خودمفتی کاردی ، قال المصنفؒ :

وَلْيَصُمْ فِيْهِ الْمُفْتِي وَالْقَاضِي وَمَنْ كَانَ مِنَ الْخَوَاصِّ

اوروژه دی ونسی په ورځ دشک کی مفتی اوقاضی اوهغه څوک چی هغه دخواصو بندګانو نوڅخه دخدائی وی ، لکن دا روژه به په پته سره نسی چی عوام په خبر نسی ، ولی عوام بیا اعتراض کوی چی وګوری موږ نه وائی چی روژه مه نسی اوپخپله یه نسی ، قال المصنفؒ :

وَهُوَ مَنْ يَتَمَكَّنُ مِنْ ضَبْطِ نَفْسِهٖ عَنِ التَّرْدِيْدِ فِي النِّيَّةِ

وَمِلَاحظَةُ كَونِهِ عَنِ الفَرضِ اوخاص بنده دخدائ هغه سړی دی چې څان

سانلای سی د تردید څخه په نیت کی یعنی د فرضی اونفلی ترمابین، اوهیڅ په زړه کی دا نه وړ کړی چی

چی دا روژه به د فرض څخه روژه گرځی یعنی که دمیاشتی معلومات وسو، **فَائِدَه**: په

اوس زمانه کی په بعضی ملکونو کی لکه پاکستان چی شرعی مفتیان نشته، اویا مفتیان خو وی لکن دا

وظیفه نه اجراء کوی، نو دا وظیفه دملایانو پر غاړه ده چی پخپلو مساجدو کی دی عوام په دغه

تلقین او انتظار نه خبر کړی **فَائِدَه** پدغه شرط برابر خاص سړی پرې نادردی «وفضلا

عن المفتی والقاضی: قال العلامة الزمخشری: قضاة زماننا صاروا لصوصا؛ عموما فی القضایا

لا خصوصا؛ نخاف منهم والوصا فحونا؛ للصوامن خواتمنا فصوصا؛

فَائِدَه: د تلقین فائده په اوسنی زمانه کی چې را دیوګانی په بنارونو اوقریو کی بلکه

په صحرا نشینو کی هم موجود دی، چی دمیاشتی خبر پروخت خپره وی" دا ده" چی ممکنه ده

چی د روژی دمیاشتی دلید لوخبر دی حکومتی منابعوته دشپی رسیدلی وی چی دسحار په خپرونه

کی نشر کوی اوسحارانی خپرونه خونا وخته شروع کیږی. قال المصنف.

وَمَنْ رَأَى هِلَالَ رَمَضَانَ أَوِ الفِطْرِ وَحْدَهُ وَرُدَّ قَوْلُهُ لَزِمَ الصِّيَامُ

اوکه چا ولیدل میاشت د روژی یا د کښنی اختر یواځی اوړه کړه سو یعنی د قاضی

دخوا قبول نه شو په سبب دیواځی والی یا د فسق" نو پرده روژه نیول خو لازمیږی

اوکی قاضی قبول ومنی خو په طریق اولی، پرلاړ نه شه ده. **مسئله** که شاهد فاسق

وو اوسره د هغه امام یا قاضی قبول ومنی اوخلګونه یه امر د روژی وکړی، نوکه د مخبر

اویا یوه د اهل بلد پرله پسې نیت کولو، روژه وخوړل په نیزد عامو مشائخو کفاره باندی سته،

اولبعض فقهاء وائی کفاره باندی نشته، ولی د دې خبر په سبب د فسق خو د منلو وړ نه وو

اوکه لیدونکی عادل وو او امام یه اخبار وکړه اوعلان د روژی یه هم وکړی نوکه هرڅوک

روژه وخوری کفاره باندی لازمه ده بلاخلاف.

اللهما غفر لمؤلفه والکاتبه ولوالدیهما ولجمیع المؤمنین والمؤمنات

قال المصنف: **وَلَا يَجُوزُ لَهُ الفِطْرُ بِتَيَقُّنِهِ هِلَالَ شَوَّالٍ**

اوبه دی روا وی د غه سړی ته ما تول د روژی په سبب د تیقن د ده چی دا هلال د شوال ده، او

فقیه ابوجعفر الطحاوی وائی. چی د غه سړی دی خوراک اوچښاک اوجماع نه کوی لکن روژه

دی فاسده کړی، اوپه روژه نیولو کی دې د ثواب الهی خیال نه کوی، ولی خو د ده په نیز خو د غه

داختر وخ ده اوبعض مشائخ وائی چی د غه سړی دی دی خوراک وغیره کوی لکن په پټه د ځکو

څه، نو مصنف د غه دواړه مذهبه رد کړه بقوله **وَلَا يَجُوزُ** آه قال المصنف

وَإِنْ أَفْطَرَ فِي الوَقْتَيْنِ قَضَى وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ وَلَوْ

اوکه دی سړی ماته کړه روژه، په د غو دواړو وختو کی یعنی چی ده میاشت د روژی ولیدل یواځی

كَانَ فِطْرُهُ قَبْلَ مَا رَدَّهُ القَاضِي فِي الصَّحِيحِ

ماته کړه اویا یه د سوال میاشت ولیدل یواځی نو روژه یه وخوړل، نو حکم دادی چی په دواړو

صورتونو کی دیوی روژی قضا اوړی، که څه هم ما تول د روژی د مخه تر رد د قاضی وکړه د

شاهدی د ده پر صحیح روایت، ولی چی د دی سړی ما تول د روژی په سبب د شبهی دی اوسره

د شبهی کفاره نشته، اولبعض فقهاء وائی چی پر د غه سړی په دواړو صورتونو کی کفاره ښته

کی د مخه تر رد د قاضی روژه ماته کړه" قال المصنف:

وَإِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ مِنْ غَيْمٍ أَوْ غُبَارٍ وَنَحْوِهِ قُبِلَ

اوکه وو په اسمان کی بوعلت یعنی چی مانع وو د نظر سپیو ږمی د لید و ته یا وریځ وه یا

خَبَرُ وَاحِدٍ عَدْلٍ أَوْ مَسْتُورٍ فِي الصَّحِيحِ

گرد وو یا مثل د هغه نکه شبنم یا تمو ښ

چی ضبات یه بولی په عربی، قبول دی کړی یعنی قاضی دی قبول کړی اخبار دیوه سړی

چی وائی ما میاشت ولیدله چی داخبر ورکونکی عادل وی، اویا مستور الحاله وی، یعنی دفتو
اوعدالت درلئیه نه وی معلوم، اوعدل هغه سړی ته وائی چی نیکی تر بدی ډیری وی، چی
جامع تفسیر یې دادی ملکة تحمل علی ملازمة التقوی والمروة، یعنی یو محکمه قوت دی په
مسلمان کی چی هغه قوت دی باعثه کوی پرهمیشه لوټ دبیری دخدائ اودعیرت پرکار
مصنف صحیح وویله په مقابل کی دظاهر الروایة چی خبر دمستور نه دی مقبول، م ط، قال

وَلَوْ شَهِدَ عَلَى شَهَادَةِ وَاحِدٍ مِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ أُنْثَى أَوْ رَقِيقًا

اوکه چیری شاهدی اداکړه پرشاهدی دیوه سړی مثل هغه یعنی هغه هم بوو او عدل وو یا
مستور وو که څه هم

أَوْ مَحْدُودًا فِي قَذْفٍ تَابَ لِرَمَضَانَ

وی اویا محدود په قذف کی سوی وی او توبه یې کښلی وی چی داشاهدی په دیاره دروژی
وی **مسئله** عدل یامستور چی میاشت ولیدله په دغه شپه کی به حاکم ته ورځی اوخبر
به ورکوی تاچی صبا روژه وَنسی **مسئله**: که میاشت پرده ناکه شپځی یعنی خوانی لیدله
وه نو دا کولای سی چی بیله اجازی دَ وَلی ولاړ شی قاضی ته خپله شاهدی اداء کړی ولی چی
دا اخبار پُردی فرض دی، په فرض عین کی د وَلی واجازی ته ضرورت نشته، م،

سوال: د محدود فی القذف په باره کی ایت مبارکه داسی راغلی دی، وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ
شَهَادَةً أَبَدًا **جواب**: محدود فی القذف، چی توبه وکاږی نو خو عَدل گرځی او
دمیاشتی لیدلو خبر خو شاهدی نه ده بلکه صرف خبردی نو که محدود فی القذف پسله
توبې څخه روایت دحدیثو وکړی نو هغه روایت یه خو بالاتفاق قبول دی، فاخباره
برؤیة الهلال لرمضان مقبول بالطریق الاولی،

مسئله: په شاهدی کی پرشاهدی دمیاشتی لیدلو نکی یو سړی هم کافی دی، ولی
چی په اصل کی چی رویة ذهلال رمضان دی یو کافی دی نو په فرعه کی هم یو کافی دی،

فائده: داخبر خاصه ده دروژی دشاهدی په نقل سره ده، ولی چی دا اصلاً

شاهدی نده اخباردی، لکن په اصل شاهدی کی چی دیوه سړی شاهدی نقل کوی دوه نر
غواړی یا یو نر دوی ښځی کذا فی بحر الرائق، قال المصنف:

وَلَا يُشْتَرَطُ لَفْظُ الشَّهَادَةِ وَلَا الدَّعْوَى

اونه دی شرط دا خبار دروئیة الهلال دیاره لفظ د، أَشْهَدُ بِاللهِ مثلاً اودغه رنګه نده شرط دعوی،

مسئله په اتفاق دفقهاوو د مذهب حنیفی الا النادر اوپه اتفاق دامام شافعی
قول ته دنجوم گرانو یا جنتری جوړونکو اعتبار نشته، په باره کی دمیاشتی دروژی څه
ابتداء اونه انتهاء نقله الامام الطحطاوی عن ابن الشحنة، قال المصنف:

وَشُرِطَ لِهِلَالِ الْفِطْرِ إِنْ كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ لَفْظُ الشَّهَادَةِ

اوشرط کړل سوی ده ای الشرنبلالیة وکذا اسائر الابلة، م، دکوچنی اختر دمیاشتی دلیدلو دپاره که چیری په
اسمان کی علت وو لفظ د شهادت کما مر ذکرها، قال المصنف:

مِنْ حُرَّيْنِ أَوْ حُرٍّ وَحُرَّتَيْنِ بِلَا دَعْوَى

مسلمین مکلفین غیر محدودین فی القذف دوو آزادو نارینه
ووځه اویا یو آزاد نر او دوی آزادی ښځی بیله دعوی کولو، **پوښتنه**، لیدل دمیاشتی
دکوچنی اختر خو هم خبردی نو ولی عدد او حریت او لفظ د شهادت او اچی شاهدان به محدود فی
القذف نه وی، په کښی شرط دی، **واجاب عنه** صاحب البحر چی په خبر کی دلیدلو دمیاشتی د عید
الفطر نفع دعبادو ستة چی خولیږه وخورلو ته خلاصی سی، نو لکه نور حقوق دبندګانو، نو مذکور
شیان چې په حقوقو کی دبندګانو د شاهدی شرط دی نو د عید الفطر په اخبار کی هم شرط دی

قال المصنف

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ فَلَا بُدَّ مِنْ جَمْعٍ عَظِيمٍ

اوکه په اسمان کی علت نه وو نو چاره نشته، دلوی جماعت د شاهدی څخه دپاره دروژی اوفطر

لِرَمَضَانَ وَالْفِطْرِ وَمِقْدَارُ الْجَمْعِ الْعَظِيمِ مُفَوَّضٌ إِلَى

رَائِي الْإِمَامِ فِي الْأَصَحِّ او اندازه د جمع عظیم معتوض ورائی ته د امام یا قاضی دی. **پُوه سه** : چې مقدار د جمع کثیر په ظاهر الروایة کې خو ښه دی ګرانه علی امام ابو یوسف رائی چې پنځوس کسه غواړي، او خلف بن ایوب رائی چې پنځه سوه کسه غواړي او بعض فقهاء رائی چې د هر مسجد جماعت څخه یو یا دوه کسه غواړي او مصنف چې تفویض ورائی ته د امام کړی دی د امام محمد کذا فی البدائع او فتح القدیر و الا رائی چې حق په دی مسئله کې مذهب د امام محمد دی. قال المصنف:

وَإِذَا تَمَّ الْعَدَدُ بِشَهَادَةِ فَرْدٍ وَلَمْ يُرَ هِلَالُ الْفِطْرِ

او که پوره سو عدد د روژې یعنی ۳۰ روژې په شاهدی سړه دیوه سړي یعنی په سرکې د روژې یوه سړي شاهدی دلیدلو **وَالسَّمَاءُ مُصَحِّيَةٌ لَا يَحِلُّ لَهُمُ الْفِطْرُ** د میاشتی ورکړی وه او قاضی د هغه شاهدی منلی وه او حکم د روژې یې کړی وو، او نه ولید لسول میاشت د فطر یعنی شوال او حال دا وو چې اسمان هم صاف وو، نو نه ده ښه را خلګو ته روژه خوړل، او دا هم اتفاقي مسئله ده. لکه شمس الائمة السرخسی چې وائی، او دی وائی چې قاضی دې هم هغه شاهدت ته د تعزیر ورکړي چې ولی دوه د اسی غلطه شاهدی ادا کوله. کذا فی الدرر، و فی التجنیس اذا لم یُرَ هلال شوال فی الصورة المذکورة خلګ دی یوه روژه بله ونسي لظهور غلط الشاهد او زیلعی په شرح کې د کنز وائی که آسمان په دغه صورت کې وړیځ درلوده، بیا دی خلګ د صبار روژې وخوړې وای چې غلطیا دا چول شاهد نه سوه بنکاره او عدد د روژو پوره هم سو، قال المصنف:

وَاخْتُلِفَ التَّرْجِيحُ فِيمَا إِذَا كَانَ بِشَهَادَةِ عَدْلَيْنِ

او ترجیح د روژې په نیولو کې یا په مانولو کې اختلاف په کتبی دی یعنی د علماء په هغه صورت کې چې د روژې میاشت په شاهدی د دوو عادلانو ثابته سوی وه او د هغه وخت څخه د روژې پوره ۳۰ سوې. او اسمان هم صاف وو لکن سړه دهغه د شوال میاشت نه ولیدل سوله.

نو په دریم او خلاصته او بزازیه کې وائی چې فطر صحیح دی بلکه لازم دی. ولې چې دوو شاهدانو د اثبات د رمضان د اسی دی لکه عیان یعنی لیدل دشی، ګویا اوله میاشت ګرد و خلګو لیدلی وه او په مجموع النوازل کې وائی او امام اجل سید ناصر الدین یې هم تائید کړی دی. چې خلګ دی روژه ونسي، ولې چې سړه د صاف والی د اسمان چې خلګو هلال د شوال نه ولیدل نو داد لیل دی دهغو داوولو شاهدانو» د رویش وائی چې د بنده هم دغه مذهب خوښ دی، د دی سبب چې اسمان صاف وې، نو ولی میاشت نسوه معلومه او سړه د دی چې طالبان د هلال شوال نه اویښې نه وه او واړه ټوله دی.

سوال: اول شاهدان خو مومنین عادلان فرض کړی وه نو څرنګ دوی پر خطا بلل کیږي

جواب: عدالت د دوی خو لیل د دی دی چې دوی په قصد دروغ نه دی وئیلی لکن احتمال د سهوې د دوی خو عدالت ته د دوی کمتا وان نه رسوې. قال المصنف:

وَلَا خِلَافَ فِي حِلِّ الْفِطْرِ إِذَا بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ وَلَوْ ثَبَتَ

او خلاف د فقهاو نه نسته په روا والی د فطر یعنی چې عدد د روژو پوره سې که چیرې په اسمان

رَمَضَانُ بِشَهَادَةِ الْفَرْدِ وَهِلَالُ الْأَضْحَى كَالْفِطْرِ

کې علت وو که څرګند روژې میاشت په شاهدی د یوه سړي ثابته سوی وی او میاشت د لوی اختر په حکم کې لکه میاشت د کشنی اخترده یعنی که علت وو نصاب د شهادت غواړي، او که علت نه وو نو جمع عظیم غواړي، او دا هم ظاهر روایت دی، قال المرغی وهو الاصح لما تعلق به نفع العباد» او دا امام اعظم څخه د اسی روایت هم راغلی دی چې د لوی اختر میاشت لکه د روژې میاشت په حکم کې یعنی نصاب په کتبی شرط نه دی. لکن دا روایت نادر او شاذ دی کې څرګند تخفی تصحیح کړیده خو بیا هم فتوی نه ده په ښه بلکه اصل مذهب ظاهر الروایت دی کما مره

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما ولجمیع المؤمنین ولمن نظر فیه بالانصاف

قال المصنف: **وَلَا يُشْتَرَطُ لِبَقِيَّةِ الْأَهِلَّةِ شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ عَدْلَيْنِ**

اوشرط دی د ثبوت د نور وړ میاشتو پاڼو یعنی که په اسمان کی علت وو، شاهدی د دوو سړو

أَوْ حُرٍّ وَحُرَّتَيْنِ غَيْرُ مَحْدُودَيْنِ فِي الْقَذْفِ

عادلانو، اویا یو حر سړی او دوی ښځی حری، چی دوی محدود فی القذف هم نه وی، او په اسمان کی علت نه وو نو بیا جمع عظیم شرط ده» ولی چی په نورو میاشتو پوری حقوق د خلگو مربوط لکه پور، وعدی وغیره نو ځکه د محدود فی القذف شاهدی نه ده پکښی روا کار

پوښتنه:

په وړاندی متن کی داسی وویل سوی: وَلَا يُشْتَرَطُ لِفْظُ الشَّهَادَةِ وَلَا الدَّعْوَى» د شهادت لفظ خو ظاهره دی، نو پوښتنه داده چی د دعوی تصویر څرنگه دی په لیدو کی د میاشتی د روژی چی مصنف وویل چی نه ئی غواړی

جواب یوسړی طلاق دمایني یا عتاق د مړئ مثلاً معلق گرځولی وو، د روژی د میاشتی په نوی والی سره، نو ښځی یا مړئ دعوه وکړه چی د روژی میاشت نن شپه د انوی سوه اومیره یا مالک حُندی منکر وو نو هغه مُدعی شاهدان تیر کړی چی مونږ میاشت ولیدل، نو په دی شاهدانو سره خو هغه اصلاً هغه دعوی ثابته سوه لکن نوی والی د روژی ضمناً ثابت سو، ولی مجرد دخول د میاشتی بیله ورته دعوی خو تر حکم د قاضی نه لاندی کیږی،

فائده: د جمع عظیم په شاهدی کی عدالت شرط نه دی بلکه اسلام د مخبرینو هم شرط نه دی «ط» لانه بمنزلة الخبر المتواتر فی غیر الحدیث النبوی م کالاخبار بالبلدان الخالیة والملوك الماضیة ولا یشترط فی التواتر المذکور اسلام المخبرین کلهم فضلاً عن العدالة» قاله الکمال بنقل «ط» قال المصنف:

وَإِذَا ثَبَتَ فِي مَطْلَعِ فِطْرٍ لَزِمَ سَائِرَ النَّاسِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

او که ثابته سوه د میاشتی لیده په مطلع کی د دیوه وطن، نو لازم ده پر تولو خلگو منل د

منی میاشتی په ظاهر مذهب او روایت کی» قال المصنف:

وَالْمَذْهَبِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى وَأَكْثَرُ الْمَشَائِخِ

او پردغه مذهب هم فتوی ده او اکثر مشائخ هم پردغه دی، د دلیل وائی چی دا معناده د دی قول د فقهاوو او اهل المتون: ان اختلاف المطالع لا اعتبار له،

پوښتنه: چی مسئله د اختلاف المطالع قدیمًا وحدیثًا معرکة الاراء ده

فائده: اختلاف د مطلع یوه بلد او د بل بلد» په یوه میاشت مسافت کی راځی او دا یه اقل درجه ده» جواهر.

فائده: ثبوت د میاشتی په نیږد غیر لیدونکو په صرف حکایت سره نه کیږی چی یو یا دوه کسان ووائی چی په فلانی بلد کی میاشت ولیده له، بلکه په دی ډول کیږی چی خو کسه شاهدی اداء کړی چی د فلانی بنار قاضی حکم وکړی د میاشتی په لیدو په شاهدی د شاهدانو، اویا د شاهدانو شاهدی نقل پر نقل تر دی بلده پوری راورسیږی» او یا د لیدو د میاشتی خبر مشهور سی، لکه په پخوانی زمانه چی به قاضی د شاهدانو په شاهدی د میاشتی لیدل منظور کړه، نو په بنار کی به ئی پیر تو فونه وویشتل چی خلگو ته به داثابته سوه چی میاشت ولیدل سول، او په قریو کی به د توفکانو پیر پیرونه وکړه، او په اوسنی زمانه کی چی دیوه دولت اسلامی راډیو د اخبارو کی چی په فلانی دولت اسلامی کی میاشت ولیدل سول او قاضیانو هم حکم په وکړی»

پوښتنه: په راډیو کی خبری کوونکی یوسړی د یا فاسق کما هو الاغلب او عادل، نو راډیو په وینا څرنگه د میاشتی لیدل ثابتیږی، او سره د دی چی په راډیو گانو کی خو پیر درواغ خبرونه هم خپریږی کما یدل علیه التجربة، نو باید څوك د راډیو خبرته په بناره کی د میاشتی د روژی یا فطر اعتبار ورنه کړی

جواب: تاسو وویل چی خبر خپرووونکی د راډیو یوسړی دی گاهی فاسق اوگاهی عادل، اوگاهی رښتیا اوگاهی درواغ، لکن په امور دینیه ووکی لکه رمضان، فطر، ذوالحجه، د حکومت اسلامی پر راډیو باندی حکم وی چی په ورته خبرو کی به غلط خبر

نو اخبار در ادیو د یوه دولت اسلامی پر منزله د اخبار د ټولو حکومت مسلمه ده هغه هیواد دی
نو محکمو نو اخبار در ادیو د اخبارو مشهوره و وښځه ښولو. **مسئله**: که یو وطن والوته ثابته
سوه چې په فلانی وطن کی یوه وړځ د مخه روژه وه نو پرده وی باندی یوه وړځ د خولی روژی شته
لازمه ده بناءً علی ظاهر المذهب مړ،

پوه سه چې بعض فقهاءً لکه صاحب التجرید وغیره پردی رآیه دی چې اختلاف د مطالعو
اعتبار لری او د یوه مطلع روژه یا فطر د بل مطلع پر خلګو نه دی لازم، دوی وائی چې د مختلفو
بلادو مطالع داسی ګیدای سی چې پر یوه بلد لمر زوال وکړی او د ماښین وخت داخل سی او پر
بل بلد لمر غروب وکړی نو پر اولو خلګو د ماښین لمونځ واجب دی نه د ماښام بلکه د ماښام
لمونځ ورته روا هم نه دی، ولی چې سبب د ماښام د لمانځه چې غروب الشمس دی پردوی نه دی
او پر دوهم بلد د ماښام لمونځ واجب دی نه د ماښین وذالک ظاهرٌ، امام طحطاویؒ دلته یوه
عجیبه خبره کړیده دی وائی چې مذهب د صاحب التجرید اشبه یعنی د صواب ډیر نږدی دی
اصح دی فتدبر، **درویش وائی** چې دعینی ده کلام څخه داسی فهمیږی چې اعتبار اختلاف
لره ده مطالعو سته یعنی خلاف د ظاهر المذهب، دی وائی چې میاشت که د روژی اوکه د ډیلی
میاشتی وی هلته ټری والوته معلومیږی چې د اد شعاعو څخه د لمر جلاسی، او د اجلاو والی مختلف
ګیږی په اختلاف د بلدانو د محکی مثلاً کوم بلد چې د مشرق وخواته وی هلته سپین ډیر ولمر ته
پیره نږدی وی، نو ځکه په سبب د شعاعو د لمر د انه معلومیږی او څرنګه چې لمر د مغرب وخواته
روان وی سپین ډیر کرار کرار ځندی پاته کیږی حتی لمر سره ډیر ولاړسی د مغرب پر خوا او سپین ډیر
۱۲ درجې ځندی پاته سی نو رویت د هلال ممکن ګرځی کما تقرر فی کتب الهیئة، لکه طلوع د سپیدۍ
او غروب د لمر چې هم په دغه دول مختلف کیږی، او د عشا ګه چې د لمر زوال وکړی په مشرق
کی دا نه ده لازمه چې په مغرب کی به هم وخت د زوال وی، بلکه ممکن ده بلکه واقع ده چې یو وخت
د طلوع الفجر وی د یوه قوم د پاره او هم د اغه وخت د طلوع الشمس وی د نورو د پاره او
وخت د غروب الشمس د ی وی د بعض خلګو د پاره او د نصف لیل د ی وی د نورو د پاره، وهذا
مثبت فی علم الافلاک والهیئة إنتهی قول العینی مع زیادة من در،

درویش وائی. چې حوالی د علم الهیئة ضرورت نشته، ولې چې خلګو ته پتجربه ثابته
ده مثلاً خوک چې امریکی ته تلیفون کوی نو د غه خلګ د دوی د وطن په غاښت کی تلیفون نه ورکوی
ولې چې پر امریکا یا نو شپه وی او دوی غالباً بیده وی او د غه رنګه د غرمې په وخت کی یا د ماښین
په وخت کی تلیفونی تماس د امریکا یا نو سره دنسی کولای بلکه دوی به د دوی د وطن په شپه
کی تلیفون ورکوی چې د امریکا یا نو وړځ سی، وهکذا فی البلاد والاوطان الأخر المختلفة فی
المطالع والمغارب نعم هغه وطنونه چې تر یوی نصف نهار لاندی وی په طلوع او غروب
کی فرق نسره کوی، نو د دوی ترمابین یو والی په روژه او فطر کی لازم دی کما لا یخفی علی
ماهری الافلاک والهیئة،

درویش وائی: که داځای غریب نه وای، او د اشرح د مبتدیانو نو د پاره نه وای نو مابه دې
مسئلی ته د پر تفصیل ورکړی وای، د فائدة جدیدة کر غلطه ده که نه: د درویش ده د انظریه:

پوه سه: چې کتابونه ټوله وائی چې اقل مرتبه چې مطالع په کښی مختلف کیږی په
معلومه اره طریقه دیوی میاشتی مسافت دی د پښتو په مابین کی د مشرق او مغرب د دوو بنارو
یا یا لا تر هغه چې په اصطلاح دی ته مطالع کلیه وائی، او چې تر دی کم وی په هغو مطالعو
کی د څه هم طلوع او غروب څه ناڅه فرق سره کوی، لکن دونه فرق نه سره کوی چې سبب د
اختلاف دلیدو د میاشتی د روژی یا فطر مثلاً دی وګرځی، او دی مطالعو ته په اصطلاح کی
مطالع جزئیه وائی: اذا عرفت هذا نو **پوه سه** چې په زمانه کی د مجتهد اعظم ابوحنیفه
څرنګه چې وسائل د نقل د خبرو په مابین کی د شرقی او غربی د بنارو پر پښتو منزل وو او یا
پر آسانو یا پر خرو وغیره، نو په هغه زمانه کی خبرو نه د تر دی بنارو سره رسیدله یعنی د
مطالعو جزئیه و و حالات چې هغه سبب د اختلاف د مطالعو پر دوی چې یوځای دی
په واضح تو ګه میاشت معلومه سی په بل ځای کی نه نو په روژه او فطر کی به په یوه بلد کی په سبب
د خراب والی د هوا یا د وجود د ورځی میاشت د روژی یا فطر نه ولیدل سی، او په بل بلد
کی چې هوا یه صاف وی او د ریاب و ر نږدی او وړځ هم نه وی میاشت ولیدل سی، او هغه اول بلد
تر یه و رو سته حال معلومه سی نو که اول بلد والا اول روژه نه وه نیولی نو قضاء یه پر لازمه ده

اودامعناده ددی عبارت دفقها وو چې اختلاف دمطالعو اعتبار نه لری یعنی پرتمولو روژه یا فطر لازم دی، اوهغه عبارت چې په بعضو کتابو کې دفقهی لیدل کیږی چې د غروب لیدل پرشرق باندی احکامی دینیسه لکه روژه اوفطر لانهوی مراد عین شرق او غروب نه دی چې په مابین کې نصف دور د فلك وی بلکه مراد دغه بلاد شرقیه اوغربیه دی چې ذکر سول، اودې څنډ جانب مخالف بلکه هیڅ څوك انکار نشی کولای، اودا اوس چې وسایل د نقل د خبرو دی هرګړی اوګړندی سوی، لکه تلفون، راډیو، تلویزون، انټرنیټ وغیره چې په یوه دقیقه کې مثلاً د غرب احوال وشرق ته رسوی و بالعکس نو باید اختلاف دمطالعو یعنی الکلیه اعتبار ولری، لکه چې عینی دلمی نحوې په مسئله کې تصریح په وکړه. ذا وود فقیر دارد حال، والله اعلم بحقیقة الحال، قال المصنف:

وَلَا عِبْرَةَ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ نَهَارًا سَوَاءٌ كَانَ قَبْلَ الزَّوَالِ

او اعتبار نشته لید لولره د میاشتی په وړځ کې خواه دا لید لیه دغه ترزوال وی یا وروسته

أَوْ بَعْدَهُ وَهُوَ لِلَّيْلَةِ الْمُسْتَقْبَلَةِ فِي الْمُخْتَارِ

ترهغه، په دی معنا اعتبار نشته، لید لولره د میاشتی په وړځ کې چې خلګ دی دغه وړځ د روژی وبولی یا د اختر، فلذا قال في الخانية فلا يُصام ولا يفطر به، نو دا هلال د ورسته شپې ګڼل کیږی، په مذهب کې چې مختار مذهب دی د امام اعظم اوامام محمد په بدائع کې وائی چې امام ابو یوسف وائی کې د میاشت ترزوال ورسته ولیدل نو دا میاشت دورسته شپې ده، اود لید لو وړځ ده د روژې نه ده، اوکې میاشت دغه ترزوال ولیدل هغه میاشت د تیرې شپې ده او وړځ د لید وې په درمضان وړځ ده اوهم پردغه قیاس دی لید ل د میاشتی د کوچنی اختر قبل الزوال او بعده، یعنی په هغه کې هم دغه اختلاف سته،

اللهم اغفر لمؤلفه ولشارحه ولكاتبه ولجميع المؤمنين والمؤمنات آمين آمين خدایه وبخښی مولف اوهم کاتب: لوی څښتن لره محبوب ده د غائب،

بَابُ مَا لَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ

باب دی په بیان کې د هغو شیانو چې روژی نه فاسدوی،

وَهُوَ أَرْبَعَةٌ وَعِشْرُونَ شَيْئًا مَا لَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا

اوهغه خلیرو دیشت شیان دی یوه صفو ۲۴ څخه دادی چې صائم خوړلے وکړی او یا چښلے وکړی یا وطی وکړی یعنی یا دوه دهغو څخه یا دری سره، لکن په هیڅ سره د روژې نوروژه یه نه فاسدیږی، په دلیل دهغه حدیث: إِذَا أَكَلَ الصَّائِمُ نَاسِيًا فَإِنَّمَا هُوَ رِزْقٌ رَزَقَهُ اللهُ إِيَّاهُ فَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ، **فَائِدَه**: چونکه جماع لکه خوړلے اوچښلے دما تو ونکو څخه د روژی دی، نو دهیری په صورت کې د جماع هم حکم د خوړلے لری یعنی روژه نه په ماتیږی، **مَسْئَلَه**: کې د جماع په صورت کې روژه د سړی او ښځې دواړو دستی دی خپل غټ د فرج څخه وباسی، او کې یو څه څنډ وکړی روژه یه فاسده ده مګر کفاره نشته باندی، او کې پله روژی پیاد یدو څخه نو، پکښی وښورا وه او یا ئی را وکښئ او بیرته یه ور ننه ایستی روژه یه هم فاسده سوه او کفاره هم پرلازمه ده،

مَسْئَلَه که سړی د شپې په اخیرکې دمایښی سره کار شروع کړی وو، د څه ترانزال پرسپیدو وَ بیریدی، نو زړه یه مخ ر اوکښی او د باندی او دَس پر واوښتئ، و روسته سپیدی ر اوچاودی هیڅ شی باندی نشته لعدم الجماع في النهار صورةً ومعنىً، مر، اومصنف چې ناسی ووایه ولی که ئی خوړلے مثلاً په خطاء سره وو یعنی روژه یه پیاد وه اوقصد دما تولویه نه وو بلکه په خوله یه اوبه لغړولی څنډی تیرې سوی، او یا یه دکتوی خوندکتی مثلاً نا ببره یو څه ښورا څنډی تیره سوه او یا یه دمایښی سره په لخه کوښه سات تیراوه نا ببره یه د غټ سړی چې حشفه یه بوله ننوتل لکن فوراً یه ر اوکښل روژه یه فاسده سوه لکن کفاره نشته، بحر س، ط،

پُوه سه چی هیره په حقوقو کی دنده گانو نوعذر نه ده، مثلاً یوسړی وه ویل ږغ شی په ډیره ورکی اویا یه امانت ورکړی، نوهغه سړی بغل ته کښینی نو مثلاً چی ولاړ پیدی کُندی هیرسو اوورلکه سو ضمان یه پرلازم دی، **پوه سه** چی فساد او بطلان په عباداتو کی یوشی دی البته په معاملاتو کی فرق سره لری، لکه بیع فاسده اوباطله کما تقرر فی محله» ط، در، **قال المُصنف:**

فَإِنْ كَانَ لِلنَّاسِي قُدْرَةٌ عَلَى الصَّوْمِ يَذْكُرُهُ بِهِ

نوکه چیری وړ ناسی (هیروونکی) خوړونکی لره قدرت پر روژی یعنی پر پوره کولو روژی

مَنْ رَآهُ يَأْكُلُ وَكُرِهَ عَدَمُ تَذْكِيرِهِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ

ترمابنام بیله ظاهره مشتبه لکه قوی ځوان، نوروژه دی وړ پیاد کی هغه خوله چی روژاتی پر خوړلک ووینی، اومکروه دچی ده

قُوَّةٌ فَالْأَوْلَى عَدَمُ تَذْكِيرِهِ

وړ پیاد وی، پرمختاره مذهب کذا فی فتح القدیر اوبعض فقهاءُ وائی چی نه دی وړ پیاد وی ولی چی دغه خوړلک دده خو فاسدوونکی دروژی نه دی، اوکه نه وړ روژاتی لره قوت تامه دروژی د پوره کولو نولو داده چی نه دی وړ پیاد وی لکه سپین ږیری اویا ضعیفه ځوان، ولی چی په دی پیاده ولو کی قطع دړزق الهی راځی» **قال المُصنف:**

أَوْ أَنْزَلَ بِنَظَرٍ أَوْ فِكْرٍ وَإِنْ أَدَامَ النَّظَرَ وَالْفِكْرَ

اویا نرا انزال سو په سبب دکتو وکس ته دښځی کی خپله ماینه وی اوکه بیگانه وی اویا په فکر وهلو انزال سې، که څه هم پیروړ ته کوری اویا پر فکر ووهی روژه یه نه ده فاسده ولی چی دده څخه نه صورة دجماع وپیدا سوی دی اونه معنا دجماع وچی انزال دی په مباشرة په لخه سره،

سوال: روژاتی ته خودغسی کول حرام دی **جواب** دحرمت څخه دروژی مات والی نه دی لازم لکه روژاتی چی غیبت وکړی مثلاً اوکه دوو بنځو خپل فرجونه سره ومښل چی محقق یه بولی نوکه نه سوی انزال روژه یه نه ماتیږی اوکه انزال سوی روژه یه ماته ده،

مسئله: مصنف انزال په کتو اوپه فکر سره مقید کی ددی سببه که سړی انزال سی په سه کولو ذکر د بنځی دیوځای سره کخه هم په مابین کی د ذکر او د بنځی د ځای حائل وی لکن حرارت دیدن محسوسه کیږی روژه یه ماته ده **مسئله:** که روژاتی په لاس کی ځان انزال کړی روژه یه ماته سوه په نزد دعامة المشائخ (وهو المختار، قه، ط، در، **مسئله** ورته فعل چی استمناء یه بولی په عربی بیله روژی هم حرام دی کی غرض قضاء د شهوت وه اوکی غرض ځان مائل وه د زناء څخه مثلاً یعنی دایه ګمان وی کړه استمناء و نه کړم د شهوت د غلبی د سببه یه زنا یا لواطت ځندی وسی، نوبه ورته فعل جواز ولړی، انما الاعمال بالنیات، قال المصنف

أَوِ ادَّهَنَ أَوِ اكْتَحَلَ وَلَوْ طَعْمُهُ فِي حَلْقِهِ

اویا یه سړغوړ کړی یعنی روژه یه نه ماتیږی

مراقی وائی لکه سړی چی په روژه کی دګرمی د سببه په ښځو اوبو لمبیږی چی باطن یه هم یخ سی روژه یه نه ماتیږی، ولی چی دا یخوالی د بدن ترمساماتو د اخلیږی اوهغه اعتبار نه لری کذا قال الطحطاوی» اودغه روژه نه ماتیږی چی ستر کی توری کړی کخه هم خوند د ښځو یه حلق کی محسوس کړی اویا رنګ د ښځو یه نارو کی ووینی، وهو الاصح وقول الاکثر، مره مراقی وائی که دغه راځه خوشبویه وی او که نه وی، نو د دی څخه دا معلومه سوه چی روژاتی ته بوبول د ګل یا مشکو وغیره مکروه نه دی **مسئله** که روژاتی په ستر ګو کی شیدی واچولی اویا یه دواء وړ واچوله سره دیو قسم روغنو یې په حلق خوند معلوم سو روژه یه نه فاسدیږی، ولی چی داخل من المسام دی اوهغه ته اعتبار نسته، مرا، ط، په حدیث شریف کی چی روایت یه عائشه ره کړی دی داسی راغلی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به ستر ګی توره ولې وهو صائم،

فائدة: دحضرت الامام الاعظم څخه داسی روایت دی چی روژاتی ته مکروه ده چی په واله کی مثلاً د ګرمی د سببه لمبیږی اویا کالی پرځان

لنده وی اودمراقی څخه نقل انشاء وسوچی په لمبیدو په یخواوبو روژه نه ماتیږی **جواب** یود روژی ماتوالی دی اویوکراهت دی، مراقی خووائی چی روژه نه په ماتیږی امام علیه الرحمه خونه وائی چی روژه په ماتیږی لکن دافعل مکروه بولی، ولی چی دی فعل کی اظهار د تنګدلی د عبادت په ادا کولو کی کذا فی المنح وط، **مسئله**: که روژاتی دانګوردانه په تاږه وی غوښه کړه اوتیره یه کړه اوبیرته یه راکش کړه اوروغه یه راوکښه روژه یه نده ماته، **مسئله**: که بښځی په فرج ګوته چخ کړه چی ګوته یه نه لنده وله اونه غوږه روژه یه نده ماته، مراقی ماتیږی پر مختاره مذهب، هر، قال المصنف: **اَوْ اِحْتَجَمَ** اویاروژاتی وینی وکښی هم یه روژه نه ماتیږی، ولی چی په حدیث شریف کی راغلی دی: اَنَّهٗ اِحْتَجَمَ صلی الله علیه وسلم وهو محرم واحتجم وهو صائم، رواه البخاری، اوامام احمد په وینو کښو روژه ماته بولی اواحناف وائی که وینو کښو روژاتی ضعیفه کاوه دروژی څخه نووینی کښل یه مکروه دی والا فلا بأس به، قال المصنف: **اَوْ اِغْتَابَ** اویایه غیبت وچا وکی هم روژه نه په ماتیږی **پوه سه**: چی غیبت خوګناه کبیره وده، اوغیبت ودی ته وائی چی ته د یومسلمان وروره غه حال بیان کی چی هغه په غم کی اچوی، بعض عوام د غیبت څخه بیخی منکرسی، ولی چی دی دچا غیبت کوی اوبل سړی ورته ووائی چی غیبت مه کوه دی په جواب کی ورته وائی چی نه خو یه غیبت نه کوم، نه ئی حال بیا ټوله دابیابله ګناه ده، خو وخت چی علیه الصلوٰة والسلام د غیبت بیان کاوه، یوسړی پوښتنه وکړه، اِنْ کَانَ فِی اَخِی مَا اَقُوْلُ، یعنی که زما په وروره مسلمان کی هغه عیب ووچی زه ئی بیان کوم نوهم غیبت دی، علیه الصلوٰة والسلام جواب ورکړی: اِنْ کَانَ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهٗ وَاِنْ لَمْ یَکُنْ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدْ بَهَتَّهٗ، که په هغه کی داعیب ووچی ته ئی بیان کوی نوخو غیبت دی وکړی، اوکه هغه عیب نه وی پکښی نوتا بیا بُهتان پرهغه وویایه چی ترغیبت ئی ګناه دیره، **مسئله**: که یوسړی کومه ګناه په جهر سره کوله دهغه بیان کول غیبت نه دی، نوآیت ذیل په حدیث شریف کی راغلی دی چی غیبت: اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا، دی وجه داده چی زنا چونکه نادره مسلمان څخه پیښیږی نوچی یووخت پیښه شی په زړه کی پښیمانی غالباً پیدا کیږی،

اوپه زړه کی د توبې ارادې یا بالفعل توبه ورنه کیږی اوغیبت کوونکی چونکه غیبت یو عادی کار ګرځولی دی، نو نه پښیمانی اونه ارادې توبې یه په زړه کی پیدا کیږی، قال المصنف: **اَوْ نَوَی الْفِطْرَ وَلَمْ یُفْطِرْ** اویایه نیت د ماتولو روژی وکړی مګرماته یه نه کړه، په مجرد نیت سره یه روژه نه ماتیږی اوپه د غه نیت کی ګناه کارهم نه دی، مګرهغه وخت چی ښه ګ قصد د ماتولو یه کړی ووخوبیا دیو مانع د سببه یه ماته نه کړه، نوروژه خو یه ماته نه ده لکن د عزم په سبب ګناه کاره دی،

دروښ وائی: چی هم د غه حال دی د قصد د هم ګناه کبیره، لبعض العلماء مراتب د قصد داسی نظم کړی کما فی حواشی البخاری ونقله الطحطاوی ایضاً، مراتب القصد خمسة هاجس ذکروا: فخاطر فحدیث النفس فاستمعاد: یلیه هم فعزم کلها رُفعت: سوی الاخیر ففیه الاخذ قد وقعا: وتفصیل تلک المراتب، هاجس: هغه دی چی پرهغه زړه دیوه بدکار خیال وسړی ته لکن بیله د رنګ یه بیرته په هغه فکر د زړه څخه ووزی، اوخاطر: هغه فکر ته وائی د بدکار چی یوکړی په کښی متردد وی لکن بیاد زړه څخه ووزی، اوحدیث النفس، هغه ګناه دی چی په خولهم ووائی چی زه داکار کوم لکن نه ئی وکړی اوهم اراده نه بدکار وائی چی دده پر زړه ورګرځیدلی وه لکن بیاهم نه ئی وکی اوعزم، تهینګی ارادی ته وائی چی دهغه بدکار په بعض اسبابو لاس پوری هم کړی لکن بیرته یه پریږدی **فائده**: په عزم کی صرف ګناه د عزم لیکل کیږی نه د هغه فعل بد لکه د زنا عزم چی سړی وکړی نود زنا ګناه نه پرلیکل کیږی، قال المصنف:

اَوْ دَخَلَ فِی حَلْقِهٖ دُخَانٌ بِلَا صُنْعِهٖ اویاداخل سی دود ده په حلق کی بیله کسبه ده ولی چی په کی دی معذور دی ولی قدرت یه پرمنع نه لری اوکه څوک ووائی چی خوله دی پټه ونسی، زړه وایم خوبیا دغه دود په یوه ټنوزی اوحلق ته ځی، **مسئله** که څوک چلم وڅکوی او یاسګریټ وغیره روژه یه ماته ده، ولی داخو ده په قصد سره وه لکن کفاره نه ښته باندی، اوکه ښته بیان بی راسی **مسئله** هر دود چی سړی یه حلق ته وزسوی په صُنعه سره روژه یه ماته ده حتی که روژاتی عود یا عنبر وګلول اوبیا یه وڅان ته نژدی کړه اوهغه دود یه دیږی وخوا ته

کښ کړی او روژه یې هم پیاده وه، نو روژه ماتیږی، ولی خو ده ته معذوره وه چې دغه دود یې علق وجوف ته وای داخل کړی **سوال**: د مخ تیره سوه چې د ګل یا د مشکو په بوی لو روژه ماتیږی نو فرق یې څه دی؟ **جواب**: په بوی لو کې د ګل وغیره صرف هغه هوا چې د ګل وغیره په بوی خوشبویه سوی وه پرې ته داخله سوه. او په ماخن فیه کې جوهره دخل نه ور سیدی» قال المراقی وهذا مما یغفل عنه کثیر من الناس» قال المصنف:

اَوْ غُبَارُ وَلَوْ غُبَارَ الطَّاحُونِ اویا یې په خوله ګرځ ننوتی که څه هم ګرځ ورپرود ترې ندی وی، یعنی روژه یې نه ده ماته، لکن په سبب الانهر کې وائی که د روژا تی چاره کیده، د کولو مخ د دا سی کار چې ګرځ دده په خوله ننوتی، اویا هم په هغه کار کاوه روژه یې فاسدیږی فافهم **مسئله** که د سړی کسب داوو چې د ترې ندی غنم بی وخلګوته په مزدوری ور غلبیلول» چې په هغه کی خواه مخواه ګرځ یې خوله یا پزه ننوزی روژه یې نه په ماتیږی للضروره» **مسئله** که د سړی خپلی اوښکی وحلق ته ور تلی سوی، اویا یې خوله وحلق ته ور تلی سوه، اویا یې د باران ځاځکی په خوله کی ولویدی روژه یې ماتیږی لامکان الاحتراز عنه، حتی کی په قصد د غه شیان تیر کړه کفاره پرلازمه ده، بحر، ط، قال المصنف: **وَذُبَابٌ**: اویا د روژا تی په خوله مچ ننوتی او حلق ته تی ورسیدی او تیر سو روژه یې نه ده ماته لعدم امکان الاحتراز عنه، او د غه حکم د غو ماشی دی چې د روژا تی په خوله ننوزی، قال المصنف:

اَوْ اَثَرُ طَعْمِ الْاَدْوِيَةِ فِيهِ وَهُوَ ذَاكِرٌ لِصَوْمِهِ اویا د دواء یې په خوله کی پیدا سو چې ده مثلاً ترسپید و د مخه خوړلی وه روژه یې نه وه ماته، قال

اَوْ اَصْبَحَ جُنُبًا وَلَوْ اِسْتَمَرَّ يَوْمًا بِالْجَنَابَةِ اویا یې سحار چې د شپې جنب سوی وه او غسل یې نه وو کړی نو په دی جنابت یې روژه نه ده ماته که څه هم همیشه نوب وکړی پرهغه جنابت پوره وړځ بلکه که ډیری وړځې دوام پرجنابت وکړی روژه

نیولو یې صحیح البته دوام پرجنابت ګناه ده لقوله تعالی: فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ الآیه یعنی تاسی د مایبوسره جماعی کوی تر نژدی پوری د سپیدو نو غسل خواه مخواه ورو سته ترسپیدو د اړخی چې وړځ ده، او د روژی وخت دی ولقوله علیه الصلوة والسلام: وَاَنَا اَصْبَحُ جُنُبًا وانا ارید الصیام واغتسل واصوم» قال المصنف:

اَوْ صَبَّ فِي اِحْلِيلِهِ مَاءً اَوْ دُهْنًا اویا تری کړه سوه د غنم په غار کی اویه یا روغن روژه نده یې ماته لکن دا په نیزد امام اعظم اوامام محمد اوامام ابویوسف وائی که دا اویه یا روغن سپوښی تر ورسیده روژه یې ماتیږی او که په نلکه د ذکر وه بالاتفاق روژه نه یې ماتیږی **مسئله**: کی د ښځی وکس ته اویه یا روغن واچوله خواه مخواه روژه یې ماتیږی بالاتفاق علی الاصح» س، ط، قال المصنف:

اَوْ خَاضَ نَهْرًا فَدَخَلَ الْمَاءُ اُذُنَهُ اویا یې عوښه وخپل پرواله کی نو یې اویه اوښه غوږته ننوتی روژه یې نه ده ماته، ولی چې غسل ته خلګ ضرورت لری، مرقال المصنف

اَوْ حَكَّ اُذُنَهُ بِعُودٍ فَخَرَجَ عَلَيْهِ دَرْنٌ ثُمَّ اَدْخَلَهُ مِرَارًا اِلَى اُذُنِهِ اویا یې وکوږ وی غوږ د لرګی په خاشه نور او وتله پرخاشه باندی خیره د غوږ او بیا یې ځوا مره خاشه په غوږ وچخ کړه، روژه یې نه ده ماته بالاجماع کما فی البزازیه» ولی چې ما توونکی شی ودماغ ته نه ور سیدی» کذا فی المراقی قال

اَوْ اَدْخَلَ اَنْفُهُ مُخَاطًا فَاسْتَنْشَقَهُ عَمْدًا اَوِ ابْتَلَعَهُ اویا یې داخل کی د پزی روژا تی پیدا کړه ګرناب نو د اګر نلک ده پوره ته کش کړه او یا یې د ستونی ډوا تیر کړه روژه یې نه ده ماته، **مسئله**: مراقی وائی که د سړی نارۍ ترخلا ړا وتلی او ده بیرته پوره ته کش کړی او تیری ئی کړی نو که ده، نارۍ د خولی څخه نه وی قطع سوی

کی نه کی محسوس، نو روژه یه نه ده ماته لعدم وصول شئ من خارج الی الحلق والبطن، قال المصنف

بَابُ مَا يُفْسِدُ بِهِ الصَّوْمَ وَتَجِبُ بِهِ الْكَفَّارَةُ مَعَ الْقَضَاءِ

باب ثابت دی په بیان کی د هغو شیا نو چې روژه په ماتیږی او کفاره هم په لازمیږی سره د قضاء، قال

وَهُوَ اثْنَانِ وَعِشْرِينَ شَيْئًا إِنْ فَعَلَ الصَّائِمُ شَيْئًا مِنْهَا

او هغه ۲۲ شیان دی که چیرې روژاتی یو د دغو شیا نو څخه په خپل خوښه او قصد

طَائِعًا مُتَعَمِّدًا غَيْرَ مُضْطَرٍّ لَزِمَهُ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ

سړی وکړی او مجبور هم نه وي، نو پرده لازمه ده قضاء راوړه دهغې روژې چې ده فاسده کړه او کفاره هم پر لازمه ده **پُوه سئ**: چې مصنف خو شرطونه د قضاء او کفارې په دې ځای کې بیان کړي، او بعض شرطونه یې پرې ایښي دي ۱ روژاتی به مکلف وي که نابالغه وو او روژه یې ماته کړه نه قضاء باندې سته او نه کفاره ۲ چې روژه به ادائ وي د میاشتې د روژې نوکه یو سړي قضائ روژه نیولې وي او بیا یې ماته کړي، نو قضائ خو هغه سې پاته ده او کفاره نسته باندې ۳ نیت د روژې به ئ دشپې کړې وي نو کې د ورځې نیت د فرض روژې وکړي او بیا یې ماته کړه نو قضاء خو باندې سته مګر کفاره نسته، ولې کفاره لکه حدود په شبهه نه ږیږي، نو چونکه امام شافعیؒ ده ورځې د روژې نیت روا نه بولي نو د شبهه ده په اسقاط کې ده کفاري د حنیفي څخه ۴ نیت به د تعیین د روژې فرض کړي وي، نو که سړی په میاشت کې د روژې د صباد مطلقې روژې وکړي که څه هم روژه د حنیفیانو په نیږدې غه نیت کافي دی، لکن شافعیؒ په کافي نه بولي نو که دغه روژه حنیفي ماته کړه قضاء باندې سته، مګر کفاره باندې نسته لشبهة خلاف الشافعیؒ، مګر بیا هم یا ران وائي

کې د ورځې د فرض روژې نیت وکړي او بیا یې ماته کړه کفاره باندې سته، «من ط»

۵ د روژې ترنیولو وروسته به روژاتی ته داسې عذرونه نه وي پیښ سوي چې ده ته روژه ماتوک روا کړي لکه ناجوړې، **پُوه سئ** چې مصنف د غیر مضطر قید وویاید «د دې سببه چې که روژاتی مجبور سې وي د روژې ماتولو ته مثلاً سخت مریض سې چې د روژه ماتولو څخه چاره ونه لري، نو بیا قضاء که سته کفاره نوهسته» قال المصنف

وَهِيَ الْجِمَاعُ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ عَلَى الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُولِ بِهِ

او د هغو شیا نو څخه یو جماعي دی په یوه کې د دوو لاروچې کس او کنده یعنې که د نرو ی او که د ښځې، او دا کفاره پر فاعل او مفعول به دواړو لازمه ده، لکن مراقي ووائي چې جماع به د انسان سره اوتړوندې سره وي، نو کې جماع د ښځې سره وکړي مثلاً یا د مړې ښځې سره نو کفاره باندې نسته لعدم کمال الجنایة. **مسئلة**: په نهرکې وائي چې که سړي د بیخې کشنې انجیلې سره چې مشتهاة نه وي جماع وکړي نو کفاره باندې نسته «ط»

پُوه سئ: چې فاعل که انزال سې او که نه سې کفاره باندې سته. ولې چې احکام د جماع ولکه حد او غسل وغیرهما تعلق په نفس تنوتلو د ذکر لري او فساد د روژې او کفارې هم د دغو اقسامو څخه دی «زیلعي»، امام طحطاویؒ وائي چې وجوب د کفارت په وجود پورې د شهوت لري، لانه لاشهوة فی المفعول به فی دبره «آه» لکن د رویش وائي چې د اخبره که بناء پر سلب کلي د وی خو غلطه ده، او که سلب جزئي د وی نو به صحیح وي علی سبیل الندرة فتامل **پُوه سئ**: چې په بارهٔ کې د روژې د فساد او کفارې قبول او د برسره یوشی دی لکن پر وجوب د حد فرق سره لري، ولې حد خو په زنا پورې مربوط دی، او د برې کار خو زنا نه بولي بلکه لواطت یې نومولی دی، **پُوه سئ**: چې ګناه د افطار عمداً په توبه سره نه زائلیږی بلکه کفاره حتماً غواړي» هدایه، قال المصنف

وَالْأَكْلُ وَالشُّرْبُ سَوَاءٌ فِيهِ مَا يُتَغَذَّى بِهِ أَوْ يُتَدَاوَى بِهِ

او د خوړلو او چښلو دی برابره ده په دغه ما تو ونکي کې که د غذاء شی وي او که د دوا شئ وي

ونقل المصنف فی المراقی عن الجوهرة اختلافاً فی معنی التغذی، بعض فقهاء وائی چې د تغذی معنا داده، چې طبع میل وخورك ته دغه کوی اود نس شهوت هم پرځای کیږی، او بعض علماء وائی چې غذاء هغه شی دی چې نفع یه واصلاح ته د بدن راجع کیږی، اود دی اختلاف فائده دا ده چې یوسړی یو ګوله دغوښو مثلاً وژونی بیرته ئی دخولې څخه راوباسی، او بیا یه خوله ته واچوی اوتیریه کړی، نو پرد وهم قول کفاره باندی سته ولی چې دغه ګوله خو بدن ته نفع لری، اوپر قول اول کفاره نسته، ولی چې سړی ګوله وژووی اوراوی کا بدی دخولې څخه، طبع بد ځندی وړی اوخوایه پرګرځی وهذا هوالاصح کما فی المحیط،

تفریع دپان بلګونه یاد بنګو بلګونه چې سړی وخوری اوعادی ورسره وی، نو پر قول ثانی کفاره باندی نسته، ولی چې د دی په خورك کی اصلاح د بدن نسته بلکه بدن اوعقل ته تاوان دی، اوپر اول مذهب کفاره پرسته، ولی چې دعادی سړی طبع میل ورته کوی اود نس شهوت یه هم پرځای کیږی،

بنهانه فائده کدسړی د تمبکو د چلم عادی وی اویاد چرس د چلم، یاد سګریټو یا بیړیو اویا نسوارو عادی وی، نو په روژه کی دغه دود چلم یا سګریټو مثلاً اویا نسوارو تیرکړی، اویاد تریاکو عملی تاریاك وخوړی روژه خو یه حتماً ماته ده لکن په لزوم کی د کفاره اختلاف دی پر اول تفسیر کفاره باندی سته ولی خو طبع دعادی خلګو یعنی عملیانو د غوشیانو ته میل کوی اود نس شهوت یه هم پرځای کیږی، اوپر دوهم تفسیر کفاره نسته باندی ولی چې دغوشیانو کی نفع د بدن نسته اواصلاح د بدن هم نسته بلکه یوله ضرر دی د بدن دپاره، کذا فی المراقی والطحطاوی مع زیادة من هذا العبد العاصی،

پوښتنه: په نسوارو چې سړی یه صرف وکړی په خوله کی نیولی وی اوبیرته یه توکړی اود وه دری واړه ورو سته هم ناری توکړی او یا په خوله اوبه ولغړوی روژه ماتیږی اوکه څرنګه؟ **جواب**: هو په نسوارو روژه ماتیږی ولی چې نسوار کاشنی کشنی اجزاء لری چې حتماً حلق ته ځی اود سړی بیله ارادی تیریږی، دلیل دادی چې نسواری سړی

چې نسوار خولې ته واچوی اویوګړی ورو سته یه توکړی اود یره مبالغه په توکلو کښې هم وکړی ورو سته چې ناری تیری کړی حلق یه ترڅ سی نو معلومه سوه چې دغه کوچنی اجزاء حلق ته ورسیدلی وه، **سوال**: په ترڅ اوخواګرځنده دواکی هم باید دا اختلاف وای، ولی طبع خو نفرت ځندی کوی لکه څرو ولی غوښه **جواب**: طبع سلیم چې په دواکی خپل صحت وینی نوکه څه هم هغه دوا ترڅ اوخواګرځنه وی وهغی دواء ته میل طبع کوی کما یدل علیه التجربة فلا یکون فیه اختلاف بل یلزم الکفارة زجراً عنه قاله المصنف فی المراقی

قال المصنف **وابتلاع مطر دخل الی فمه** اود غرنګه هم روژه ماتوی اوهم کفاره لازمه وی د باران اوبه اوثاګی چې د سړی په خوله کی ولویږی اوسړی یه تیری کړی، اوبه لی اوواوره هم پرده غه قیاس ده، ولی چې د دی خواحتراز پیر آسانه کیږی چې یایه سرکښته نیولی وای اویا یه خوله پته نیولی وای، قال المصنف:

واکل اللحم النیئ الا اذا دود اود غرنګه روژه ماتیږی اوکفاره لازمیږی په خورك د اوموغوښو مګرهغه وخت کفاره نسته کد غوغوښو چینجیان کړی وی، ولی د غه غوښې هم طبع نفرت ځندی کوی اوهم د غذا صالح نه دی، **دلیل وائی** چې امام طحطاوی په نقل د سید شارح داسی وائی، چې فقهاء په خوړلو کی د دخټی د بلګوپر لزوم کی یوه کفاری دا معتبره کړیده چې سړی د دغو بلګود خوړلو سره عادی وی نو کفاره باندی سته، اوکی عادت نه وو، نو روژه په ماتیږی اوکفارت نه لازمیږی، نوباید د اوموغوښو په خورك کی هم د عادت اوغیر عادت فرق سره وکړه سی، **والجواب عنه** چې د بعض د رخټود بلګود خوړلو عادت والا د یږدی، اود اوموغوښود خورك عادت په انسانانو کی خو نسته مګر لیوه طبع یا سپی طبع سړی وی، قال

واکل الشحم فی اختیار الفقیه ابی اللیث اود غرنګه کفاره سته په خورك کی د واز ګوچې اومی وی په مذهب مختار کی د فقیه ابواللیث

السرقندئ اوپه تجنیس کی هم ورته خبره یه کړیده » قال المصنف:

وَقَدِيدُ اللَّحْمِ بِالْاِتِّفَاقِ

اوکه روڼاتی وچی کړی غوښی وخولی کوخرهم په اوږه پوره نه وی پخ سوی اوکه خرهم قدید الشحم وی، په اتفاق روژه یه ماته ده اوکفاره پرلازمه ده، ولی چی د پرخلګ وچی غوښی اوخوری، په صحراء کی خلګ په اصطلاح لاندئ وکړی اوما لګه پرغوښو یه واچوی اوپسله وچولی یا بیا کشئ کشئ کتری کندی جوړه وی، نوپه دغه وخت کی نر اوښځی لوی اوکوچنی داسی په مزه مزه دغه وچ اومه کباب نه خوری چی څه درته ووایم، قال المصنف:

وَاَكْلُ الْحِنْطَةِ وَقَضْمُهَا اِلَّا اَنْ يَمْضَغَ قَمْحَةً فَتَلَاشَتْ

اودغه رنګه روژه ماتوی اوکفاره لازموی خوړل دغنمو اوپه غاښونو میده، کولو اوبیا تیره ولو مګر کله روڼاتی یوه دانه غنم خولته واچول اوپه غاښونو نه میده کړه چی په ناروکی متلاشی اووتی سوه اوهیڅ خوند یه نه معلومیدی، نوند روژه پرماتیږی اوند کفاره په لازمیږی، قال المصنف:

وَابْتِلَاعُ حَبَّةِ حِنْطَةٍ سَمْسَمَةٍ اَوْ نَحْوِهَا مِنْ خَارِجِ فَمِهِ فِي الْمُخْتَارِ

اودغه رنګه کفارت لازمیږی په تیره ولو دکنجدی ددانی اویا مثل دهغه ځکه ابن دانه دخولی د باندی ځخ په مختار روایت کی، ولی په دی سره غذاء پیدا کیږی، **فَائِدَه:** اربښی کدئ نښی کړی اویا لندی دانی دا ربښو یه دوبزی ځخ ره اوکښی اووی خوړلی، کفاره پرلازمه ده ولی په دغه خوړلو اوربښو خلګو عادت ځاری دی، اوکی وچه اربښه وخوړله روژه یه ماته سوه مګر کفاره نشته، لعدم الاعتیاد، «مردر»، قال المصنف:

وَابْتِلَاعُ الطِّينِ الْاَرْمِينِيِّ مُطْلَقًا

اودغه رنګه روژه هم ماتوی او کفاره هم لازموی خوړل دارمینی خټو مطلقا کی سړی عادتی وی اوکی نه وی، ولی چی طین ارمینی د دوا دپاره خلګ خوری، نو دغه خوړل افطار کامالادی، ځکه دنورو دواووخوړل،

پوه سه: چی طین ارمینی عطاران پیژه فی پوښتنه پ وکړه. قال المصنف

وَالطِّينِ الْغَيْرِ الْاَرْمِينِيِّ كَالطِّفْلِ اِنِ اعْتَادَ اَكْلَهُ

اودغه رنګ روژه ماتوی اوکفاره هم لازموی خوړل دخټو غیر ارمینی وو، چی په عربی یه طفیل بولی اوپه پښتو یه دخړو اوبو کرګ بولی، لکن هلته دا دوه شئ لازموی چی سړی عادتی وی لکه پیری ښځی چی دغه کرګ دخوړلو عادت لری، اوکی عادت نه وو، نو روژه یه ماتیږی مګر کفاره باندی نشته، قال المصنف:

وَالْمِلْحُ الْقَلِيلُ فِي الْمُخْتَارِ

اودلږ ماګی خوړل هم روژه ماتوی اوهم کفاره لازموی په مختار روایت کی، درویش وائی چی مراقی وائی، لا الکثیر منه، اودیره ماګه خوړل کفارت نه لازموی، وروسته یه داسی ویلی دی، وانه من الامتحانیات بالجواب، اوداخبره چی دلږ ماګی په خوړلو کفاره لازمیږی اودیری ماګی په خوړلو کفارت نه لازمیږی دامتحانی مسئلو څخه ده په جواب کی یعنی چی ددی مسئلی په صحیح جواب څوك پوهیږی اوکه به لا ادری، وائی، ددی سؤال اول امتحان دادی چی ته پوسړی ترووائی چی هغه کوم شئ دی چی دلږ په خوړلو یه کفاره پرروژاتی لازمیږی اودیر په خوړلو یه کفاره نه لازمیږی، نوفرضا کردی درته ووائی چی هغه ماګه ده، نودوهم امتحان یه دادی چی نوولی داحکم صحیح دی، درویش وائی چی هم مراقی اوهم طحطاوی داجواب داغسی مجهول پری ایښی دی دامتحان دپاره لکن عامی خلګ یعنی پښتانه ورونه اوخوندی په تشویش کی نه اچوی، بلکه جواب داسی بیانوی چی دلږی ماګی دخوړلو پیر خلګ عادتیان دی اوبل لږ ماګه خوړل دواهم ده، دبعض خلګو دپاره چې بدن کی دډاکټر په وینا دماګی سیستم کمزوره سوی وی، نوچی لږ ماګه هم عادی شی ده اوهم دواء نو ځکه کفاره یه پرخوړلو لازمیږی، اودیره ماګه خوړل نه عادت کیدای سی اونه دواء، نو ځکه په خوړلو یه روژه ماتیږی، اوکفاره نه لازمیږی، لکن دلږ اودیری ماګی مقدار درایه دمستلی به موکول دی، فتدبر

قال المصنف **وَابْتِلَاعُ بُزَاقِ زَوْجَتِهِ أَوْ صَدِيقِهِ لَا غَيْرِهِمَا**

اودغرنگه کفاره لازمیږی اوروژه ماتیږی په تیرولو دتار ودماینی اویادداستنای یعنوچی هلك وی اوده محبت ورسره وی. نه دبل چادنارو په تیرولوسره چی روژه خوپه ماتیږی اوکفاره نه په لازمیږی، دلیل یه دادی چی داولو دوو په نارو سره سړی خوند اومزه اخلی کما یدل علیه التجربة» اودنورو خلکوپرنارو خوند خوپریږده دسړی خوا پرگرځی:

قال المصنف **وَأَكْلُهُ عَمْدًا بَعْدَ غِيبَةٍ أَوْ بَعْدَ حِجَامَةٍ أَوْ بَعْدَ مَسٍّ**

اودغرنگه کفاره سته چی روژاتی په قصد روژه وخوری وروسته ترغیبت دچا. داکفاره خواه

أَوْ قُبْلَةٍ بِشَهْوَةٍ أَوْ بَعْدَ مُضَاجَعَةٍ مِنْ غَيْرِ إِنْزَالٍ

مخواه سته کړده ته هغه حدیث دعلیه الصلوة والسلام یعنی "الغیبة تفطر الصائم" ورسیدلی

أَوْ بَعْدَ دُهْنِ شَارِبِهِ ظَانًّا أَنَّهُ أَفْطَرَ بِذَالِكَ

وی اوکه نه وی اوپه تاویل

ددغه حدیث پوهیږی که نه. چی تاویل یه په اجماع دمجتهدینو دادی چی ثواب یه نسته، اوکه مفتی فتوی دماتیدو ورکړی اوکه نه، ولی چی داحدیث مخالف دقیاس نخه دی من کل الوجوه اویاوروسته تروینو کښو روژه یه په قصد ماته کړه هم کفاره پرسته، دوینو په صورت کی که څه هم نه وی ورسیدلی خوکفاره سته، اوکه هغه حدیث چی «افطر الحاجم والمحجوم» ورسیدلی وو، اوپه تاویل یه هم پوهیدی چی مراد دادی چی حاجم اومحجوم وافطار ته نږدی سوه» حاجم په سبب دوینو کشولو په ذریعه دهغه ښیښی چی دی وینی په کاږی او محجوم په سبب دوینو کښلوسره نوهم کفاره باندی سته، ولی چی دده عمدًا ماتولوده لره څه دلیل نسته، اوکه حدیث ورسیدلی وو لکن په تاویل یه نه پوهیدی اوپرظاهر باندی حمل کړی وو اویامفتی فتوی ورکړی وه چی ستا روژه په وینو کښلو ماته سوه»

نوبه دی صورت کی کفاره باندی نسته. ولی چی په ظاهر دغه حدیث اوزاعی اوامام احمد فتوی ورکړیده، نوداشبهه سوه، اودغرنگه کفاره پرلازمیږده کی چی په دې شهوت سره واخسته دماینی نخه اویایه ماینه په شهوت سره مسه کړه اویاورسره پریوځی اوورسره لاس ترغاړه سوپه دی درو سره وو صورتونو کی انزال نه سو اودده ظن داوو چی په دغو کارو سره زما روژه ماته سوه، نوبیه په قصد سره دوه دی وخوړل یایه اوبه وچښلی نوکفاره باندی سته اوکه په دغه صورتونو کی انزال سواویایه روژه لپسی وخوړله بیا کفاره نسته، ط، دلیل یه دادی چی په دغو کارو ده روژه فاسده سوه بیله کفاری. ولی چی جماعی خوبه نه دی کړی نوده چی دوه دی وروسته خوړل روژه یه نه وه نوځکه کفاره باندی نسته»

مسئله مگر هغه وخت کفاره باندی نسته کړده داسی یوحدیث اوریدلی وی کوم څخه هغه حدیث صحیح نه وی چی هغه حدیث پردی دلالت کوی روژه ماتیږی، نوبیله دغو کارو ځی روژه لپسی وخوړله، اویایه دیوفقیه عالم نخه پوښتنه وکړه چی په دغو کارو روژه ماتیږی اوکه نه هغه فقیه فتوی دماتیدو ورکړه، که څه هم هغه فقیه خطاوتلی وی په هغه فتوی کی نوځکه ده وروسته روژه لپسی وخوړله نوکفاره باندی نسته، ولی چی ظاهر حدیث اویاد فتوی شبهه وگرځیدله اودوړاندی تیره سوه چی شبهه مسقط دکفاری ده، بدائع، ط، در، اودغرنگه کفاره باندی سته کی برتیونه غوړکړه اوده گمان داوو چی په دی غوړیدو سره زما روژه ماته سوه، نوخوړل وغیره لپسی شروع کړی، وجه دکفارې یه داده چی دغه گمان دده کوم صنعت شرعی نه لری که څه هم هغه ثابت نه وی، نوچی ده وروسته خوړل وکړی نوروژه یه په قصد ماته کړه نوکفاره باندی لازمږده،

فائده: مصنف په مراقی ص۵۵۵ کی وائی چی که دغه برتیو غوړیدو والا که دیو فقیه څخه پوښتنه په دغه باره کی وکړه هغه ورته وویل چی دبرتیو په غوړیدو دی روژه ماته سوه، نوبیاله هغه ده په خوړل وغیره شروع وکړه، هم پرده کفاره سته، ولی چی دافتوی بیخی بی ځایه ده نو اعتبار لری، نوورو سته خوړل دده په قصد روژه ماتول دی، نو کفاره باندی سته، داحکم مصنف دکمال نخه اوهغه د بدائع نخه نقل کړی، لکن وروسته

مصنف وئیلی دی چی قاضیخان والئ چی سړی جاهل وی نو د دغی فتوی په صورت کی پرده
کفاره نشته، «قال المصنف»:

إِلَّا إِذَا أَفْتَاهُ فَقِيهٌ أَوْ سَمِعَ حَدِيثًا وَلَمْ يَعْرِفْ تَأْوِيلَهُ عَلَى الْمَذْهَبِ

مګر هغه وخت کفاره باندی نشته کله چې سړی په موجوده کار وکړی دیو
فقیه عالم څخه فتوی طلب کړي وه، او هغه ورته ووئیل چې روژه دی په دغو کارو ماته سوه
نو پسله هغه څخه پرې خوړلې وغیره لاس پورې کړي، او یا دی سړي یو حدیث اوریدلی وو
چې هغه دلالت پردی کاوه چې په دغو کارو روژه ماتیږي، او دی یې په تاویل د هغه حدیث
د مذهب دلاری نه پوهیدی، نو بناء پر هغه حدیث ده خپله روژه ماته وبلله نو بیا ځکه
خوړلې وغیره شروع کړي نو کفاره باندی نشته، ولی چې فتوی د هغه مفتی او یا حدیث ده کړه
شبهه وګرځید له، او په شبهه سره کفارت ساقطیږی، کما مر مرارًا، «قال المصنف»

وَإِنْ عَرَفَ تَأْوِيلَهُ وَجَبَتْ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ

او که دی په
برابر د مذهب سره پوهیدی، یعنی چې د مذهب دلاری په هغه کار روژه نه په ماتیږ له او
حدیث تاویل د رد لودی او د اسړی هم په خبرو نو کفاره پرلازمه ده، ولی چې ده وروسته
روژه په قصد وخوړله، کما فی الحدیث: «أفطر الحاجم والمحجوم کما مر مع التأویل»

وَوَجَبَتِ الْكَفَّارَةُ عَلَى مَنْ طَاوَعَتْ مُكْرِهَهَا

او واجبه ده کفاره پر هغه ښځه چې مجبوره یې په روژه کې جماع د وړځې خندی وغوښتې په
روژه، او یا د دې هم د سړه خوښه کړه پر تو کا بن یې خلاص کړي میړه یې وځان ته
وړ پاتې نو پر دواړو کفارې لازم دی، «والله أعلم بالصواب».

اللهم اغفر لمؤلفه ولشاهه ولکاتبه ولوالدیهم ولمن نظر فیه بعین الانصاف آمین

فَصْلٌ فِي الْكَفَّارَةِ وَمَا يُسْقِطُهَا عَنِ الذِّمَّةِ بَعْدَ الْوُجُوبِ

دا فصل دی په بیان کی د کفارت او د هغو شیانو چې کفاره د ذمې څخه ساقطه وی او روسته تر وجوب د کفارې

«قال المصنف» **تَسْقُطُ الْكَفَّارَةُ بِطُرُوِّ حَيْضٍ أَوْ نِفَاسٍ أَوْ مَرَضٍ**

او ساقطیږی کفاره په سبب د عارض والې د حیض یا نفاس و ښځه ته او یا یوه داسې

مُبِيحٍ لِلْفِطْرِ فِي يَوْمِهِ وَلَا تَسْقُطُ عَمَّنْ سَافَرَ بِهِ

ناجوړی پیښه سی نړیا ښځی ته، چې هغه ناجوړی ورځ د روژې نه روژه ماتوی روا کوی، لکن
دا دری سره

كُرْهًا بَعْدَ لُزُومِهَا عَلَيْهِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

کاره په دغه
ورځ کې پیښ سې، او نه ساقطیږی کفاره د هغه چا څخه چې په سفر بوتلې سې، په زور سره
پسله هغه چې کفاره پرده لازمه سوی وه، په ظاهر روایت کې «د رویش وائی: چې صورت
دمسلې داسې دی» چې یوی ښځی په قصد روژه ماته کړه نو کفاره خو پردی لازمه سوه، لکن دغه
ښځه هم په دغه ورځ کې حائضه سوه او یا لنګه سوه چې نفساء سوه، هغه لازمه کفاره د دی څخه ساقط
سوه، او یا ښځه یا نر وو چې په قصد یې روژه ماته کړه نو کفاره خو پرلازمه سوه، لکن هم په
دغه ورځ کې یوه داسې ناجوړي ودغه ښځی یا نر ته پیښه سوه چې که د دوی روژه وای ماتوله په
او دا ماتوله په دغه مرض ودوی ته روا کړي وای، نو هغه لازمه کفاره د دوی څخه ساقطه سوه او نه
ساقطیږی کفاره په سبب د دی چې دغه سړي چې کفاره پر لازمه سوی وه له دی سببه چې په
قصد یې روژه ماته کړې وه په زور یا سفر ته روان کړي، نو پر دغه سړي کفاه باقی ده».

فَائِدَه: کله دغه سړي چې کفاره پر لازمه سوی وه ښځله خوښه په سفر وتلی وو نو کفاره
په طریق اولی پرې پاته نده. «منه»

پوښتنه: په دغو څلورو سره وو صورتو کې چې وروسته تر لزوم د کفارې عذر پیښ سوی دی یعنی حیض، نفاس، مرض، سفر، نو ولې په درو اولو صورتو کې لازمه کفاره ساقطیږی او په څلورمه صورت کې نه ساقطیږی

جواب: فرق یې دا دی چې په اولو درو صورتو کې عذر د صاحب الحق د خوا دی یعنی د خدائ د خواچې روژه هم د ده حق ده، او په څلورم صورت کې عذر د بنده د خوا دی چې مکره دی او یا بې له روژاتی دی.

مسئله: که سړی مرض مبیح بې له وخانه پیښ کړی، یعنی یا په وخان تپی کړی او یا په قصد د بام څخه وخان راواچاوه وغیره الک، نو هغه لازمه کفاره د ده څخه نه ساقطیږی، ولې چې عذر د صاحب الحق د خوا نه دی بلکه د ده د خوا دی. ک. م.

مسئله: یو روژاتی په یوکار کې چې وخان ستړی کړی او وخت د دولې وو، نو چې ترڅو ساعته یې روژه ماته کړه کفاره باندې نه ده، ولې چې ستړیا د ده د خپله لاسه څخه پیښه سوه د صاحب الحق د خوا نه ده، او هغه خبره چې بقالۍ کړیده چې په دغه سړي کفاره نشته، اعتبار نه لری، ولې چې د دی سړي اود «مَنْ سَوْفَ يَرَى» څخه فرق دی. قال المصنف:

وَالْكَفَّارَةُ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ وَلَوْ كَانَتْ غَيْرَ مُؤْمِنَةٍ

او کفارة الصوم آزاد ول دی د مړې کړه هم مسلمانه وې، او امام شافعی وائی چې په تحریر د کافر کفاره نه ادا کیږی دی دا کفارة الصوم پر کفارة د قتل الخطاء قیاس وې چې هغه کې تحریر د رقبة مؤمنة راغلی دی، مونږ وایو چې په کفارة الصوم کې رقبة مطلق راغلی ده، فالمطلق یجری علی اطلاقه والمقید علی تقییده، ولې چې دا واقعی سره جلا دی. کما تقرر فی اصول الفقه.

فائده: د مړې آزاد ول به په نیت د کفارې وی

فائده: مړې که لوی وی او که کشنی حقنې شیر خوره کفاره ادا کیږی، او یا چاته مړی په ګرو ورکړی. او یا تبنیدلی وی لکن چې ژوندیه معلومیږی، او یا خصی وې، او یا په یوه ستر ګه ړوند وې، او یا یه پلاس یا یوه پښه پرې وی، او یا د سړې قریب وی چې په نیت د کفارې یه راپلولی وی او د قریب څخه ذا رحم محرم مراد دی، ولې چې د هغه په شراء کې نیت د کفارې شرط دی

نه په نورو قریبانو کې لکه دا کا نرۍ وغیره

فائده: کې دوارې لاسونه پرې وی وه یا یه دوارې پښې پرې وې، یا ګونګی وو، یا په دوارو ستر ګو پرونده وو، او یا د هیڅ ډول لیونی وو، نو د دغو مړیو نو په ازادولو سره د کفارې څخه نه وو زې، م، ط، د، قال المصنف:

فَإِنْ عَجَزَ عَنْهُ صَامَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ لَيْسَ فِيهِمَا

او که چیرې د غه روژه ما تو و نکی عاجز، وو د مړې دا نازادیدو څخه یعنی نه ئی مړی درلودی او نه ئی قیمت چې په ورایه کښی او یا لکه په اوسنی وخت

يَوْمُ عِيدٍ وَلَا أَيَّامُ التَّشْرِيقِ

کې په هیڅ اسلامی مملکت کې مړی موافق د شریعت سره وجود نه لری، نو بیادی د غه سړی روژی د کښی دوه میاشتی پرله پسی یعنی په مابین کې به ئی روژه نه خوری، او نه به وی په دی دو و میاشتو کې داختر ورځ، او نه د تشریق ورځی د لوی اختر، ولې چې د دغو د روژو نیولو څخه منهی راغلی دی، قال المصنف:

فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَطْعَمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا يُغَدِّيهِمْ وَيُعَشِّيهِمْ

او که طاقت د دو میاشتو روژو نه در لودی یعنی په سبب د کبر سن (سپین زرتوب) یا مرض نه پرې وغیره بیادی نو ډوډی ورکړی، و شپیتو مسکینانو ته، ما بنام

مسئله

عَشَاءً وَغَدَاءً

اوغرمه، مګر دوه ډوډی چې مړونکی د دوی وې پریوځای اجتماع د ۶۰ مسکینانو ته شرط نه ده بلکه صرف عدد د (۶۰) مسکینانو شرط دی که غه هم په تپال تپال وې، قال المصنف:

أَوْ غَدَائَيْنِ أَوْ عَشَائَيْنِ أَوْ عَشَاءً وَسَحُورًا

اویا دی دوې غرمې ډوډی ورکړی، اویا دی دوه ما بنامه ډوډی ورکړی، اویا یو ما بنام او بیو پیشلم یعنی که روژه وه، ډوډی ورکړی،

مسئله: دا شرط دی چې هغو اولو مسکینانو چې غرمه یا ما بنام یه ډوډی ورکړې وی هم بعینه هغو مسکینانو ته دا بل وخت ډوډی ورکړی

حتی کی غرمه ۶۰ مسکینا نوته دوه ډوډی ورکړه اوما بنام په بیا نورو ۶۰ مسکینا نوته دوه ډوډی ورکړه غاړې په نه خلاصیږی تاچی دیوی ډلی دوه ډوډی بیرته ر اوه نه ګرځوی»

مسئله: کی یو مسکین ته ۶۰ ورځی دغرمی اوما بنام دوه ډوډی ورکړه هم صحیح دی»

مسئله: چې پرسترخوان په مسکینان کښینه وَلې نوده تولود مړ یا تروخته پرسترخوان نه خندی تولوپې،

مسئله: که دوه ډوډی غلمینه وه نو وچه دوه ډوډی هم کافی ده که څه هم غوښتې وغیره نه وی ورسره، اوکه اور ښینه وه نو یوښتی دتیږه دوو رسره شرط دی که څه هم شلومبی یا کرت وې، ولې چې ور ښینې نړیږه ده،

مسئله: که یو په دغو مسکینانو کی مړ وو یعنی یو پلا یه دوه ډوډی خوړلې وه هغه کفایت نه کوی که څه هم د دغه سړی دوه نه لوی نسی وی چې سره دیوواړه دوه ډوډی خوړلو اوس هم دبل خالی نسی سړې قدر دوه ډوډی خوړلای وی ولې چې دغه سړی خوده یعنی کفاری والا مو ړنه کی بلکه نیم نس یه ور ډلګ کړی، قال المصنف:

اَوْ يُعْطِيَ كُلَّ فَقِيرٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ اَوْ دَقِيقِهِ اَوْ سَوِيقِهِ

اویا دی ورکړی هر فقیر ته نیمه کاسه دغنمو اویا اوړه دغنمو اویا سویق دغنمو، یعنی چې غنم نښتی کړی اوبیایه اوړه کړی لکه د سفرو کی، تاچی هرځای پنځولوته د دوه ډوډی ضرورت نه وی بلکه دوی به دغه سویق پاوبولا نده کړه بیابی خوړل یا چښل، اوکی نښتی کړی نه وای بیا خو صرف اوړه خوړل د طبیعت سره موافق نه دی بلکه پرسړې بد لګیږی، کما هو ظاهر، اویا د یوه کاسه خرما ورکړی، او یا یوه کاسه اوربشی اویا قیمت دهریوه چې وې، **پوه سه**: چې کاسه څلور کیلوده او نیمه کاسه دوه کیلوده» قال المصنف:

وَكَفَتْ كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ عَنْ جِمَاعٍ وَاَكْلٍ مُتَعَدِّدٍ فِي

اوکافی ده یوه کفاره د جماعونو په روژه کی په قصد سره اود خوړلو څه په قصد سره په خوړلو

اَيَّامٍ لَمْ تَتَخَلَّلْهُ تَكْفِيرٌ وَلَوْ مِنْ رَمَضَانَيْنِ عَلَى الصَّحِيحِ

کی متعدد واړه نه، لکن چې په مابین کی کفاره نه وی ورکړه سوې، که څه هم دغه جماعی اوخوړلو د دوو روژو وی یعنی د دو ورځو میاشتو د روژې پر صحیح روایت باندې: د روژیش وانې چې حاصل د دی مسئلی دا دی چې یو روژاتی دیوی روژې په میاشت کی خو واړه جماع وکړی اوخو واړه یه خوړلو وکړی، یعنی په قصد یه دا کار ونه د دوو ورځو روژو وکړه نود تولو یوه کفاره کافی ده، په اتفاق د روایاتو، ولې چې مقصود د کفارې څخه زجر دی اود دغه سړي زجر په یوه کفاره کیدای سی، اوکی د دوو میاشتو د روژې په دغه کار ونه وکړه اوکفاره یه تراوسه نه وه ورکړی هم یوه کفاره یه ښه ده، په نیزد امام محمد، قال فی الاسرار والبزازیه وعلیه الاعتماد، ولذا قال المصنف علی الصحیح، لکن په بحر رائق کی وانې چې ظاهر الروایه دادی چې که روژه ماتوله په دوو میاشتو کی وه دوی کفاری پرلاړمینې» که څه هم اول کفاره یه نه وی ورکړی قال وهو الصحیح کذا فی الجوهره» فاختلف التصحیح فی هذه المسئلة فالاحتیاط فی ظاهر المذهب کما لا یخفی»، در قال المصنف:

فَاِنْ تَخَلَّلَ التَّكْفِيرُ لَا تَكْفِي كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

اوکچیری کفاره په مابین کی ورکړی وه یعنی یو واړه چې روژه یه پیه قصد ماته کړه په هره توګه چې وی یعنی که جماع وی اوکه خوړلو وی نو یه کفاره ورکړه ورو سته یه بیا په هغه کار یا بل کار بیا روژه قصدًا ماته کړه، نو هغه د مخه چې کفاره ورکړی ده هغه کفایت نه کوی بلکه بله کفاره به ورکوی په ظاهر روایت کی، ولی مقصود کفاری څخه خو زجر وو، نو وه چې بله پلا روژه ماته کړه نو په اول کفاره د ته زجر نه د دی حاصل سوی، نو ځکه بل زجر غواړی، او بله خبره داده چې زجر خو ترګناه ورو سته وی، نو اوله کفاره خو ترد وهمی ګناه د مخه ده» شعر»

واحسن منك لم تر قط عینی ٭ واجمل منك لم تلد النساء٭

خلقت مبرءا من کل عیب ٭ کانك قد خلقت کما تشاء ٭

بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ مِنْ غَيْرِ كَفَّارَةٍ

داباب غمابت دی په بیان کی دهغو شیانو چې روژه خوماته وی مګر کفاره نه لازمیږی،

وَهُوَ سَبْعَةٌ وَخَمْسُونَ شَيْئًا

اوهغه چې روژه فاسده وی او پنځوس شیان دی **یوه سه**

چې امام طحطاوی ددغو ۵۷ شیانو پاره یو مختصر قانون کلی بیان کړی دی چې تر هغه دغه تولو ۵۷ اوه پنځوس شیان لاندی کیږی یعنی چې قضاء دروژی پرسته اوکفاره نسته هغه قانون دادی، چې په بیوشی کی غذاء والی وی اوته معتاد غذاء پکښی وی نو دهغه په خوړلو سره روژه ماتیږی اوکفاره نسته» اویا غذاء پکښی وی لکن عذر شرعی ورسره ملګری وی، او یا قصرد غذاء، اود اشیو ورسیږی ونس ته یا ودماغ ته، اویا کمال شهوت دفرج پکښی وی یعنی غیرد جماعو چې ددی تولو مثالونه به دمصنف په بیان کی راسی ان شاء الله نوکفاره نسته اوقضاء سته»

قَالَ إِذَا أَكَلَ الصَّائِمُ أُرْزًا نِيًّا أَوْ عَجِينًا أَوْ دَقِيقًا

کیږی وخوری روژاتی په وړځ کی داداتی روژی» وچې ورجې، یاخمیر لاندې اوره اویا وچ اوړه، لکن چې ددغو اوړو سره غوړی یادوښنا یا بوره نه وی کړې، اوکه ددغو شیانو نوښځریو ورسره ګډوو بیا کفاره هم پرواجبه ده، مر، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

أَوْ مِلْحًا كَثِيرًا دُفْعَةً

اویا وخوری دیره مالګه په یوه پلا، اوکه په دیرو واروسره ئی وخوړله نوپه اوله پلا خوړلو سره یې هم روژه ماته سوه هم کفاره پرلازمه سوه، نوځکه به ستا نخر سوال وکړی چې کومه دی هغه چې په لږ خوړلو سره ئی کفاره لازمیږی اود دیرې خوړلو سره یې روژه ماتیږی لکن کفاره نه لازمیږی، نوته ورته ووایه چې هغه مالګه ده،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه

قَالَ الْمُصَنِّفُ

أَوْ طِينًا غَيْرَ أَرْمِينِيٍّ وَلَمْ يُعْتَدَّ أَكْلُهُ

اویایه وخوړله ختیه چې ارمینی نه وه، اوحال داوو چې دی یې په خوړلو عادی نه وو، اوکه ختیه ارمینی وه چې هغه دواړه دده اویا غیر ارمینی خووه لکن خوړونکی ورسره عادت وو، نوبیا قضاء اوکفارة دواړه پرسته مطلقاً، ط، عن»

قَالَ الْمُصَنِّفُ

أَوْ أَكَلَ نَوَاتًا أَوْ قُطْنًا أَوْ كَاغَذًا

اویایه وخوړلی دخرما منډکه یا پنبه یا کاغذ» یعنی دغسی شیان چې عادتاً نه خوړل کیږی مراقی وایې چې یایه شین رنګ اویا ژیړ رنګ وخولته واچوه، ناڅې یې شیبی یا ژیړی سوی نوهغه ناڅې ده تیری کړی هم روژه ماته ده اوکفاره نسته، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

أَوْ سَفَرْجَلًا وَلَمْ يُطْبَخْ

اویایه وخوړی بهی چې پوخ سوی نه وو، ولې داسی وخت» بهی» په عادت کی خلګ نه خوړی اوکه پوخ بیایه په خوړلو سره کفاره هم لازمیږی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

أَوْ جَوْزَةً رَطْبَةً

اویایه وخوړی لوند جوز، لکن پوه سه چې چې دلاندې جوز په خوړلو کی تفصیل سته هغه دادی چې دغه جوز مغزنه وو نیولی، نوپه خوړلو کی کفاره نسته، اوکی مغزنیولی وو نوروژاتی هغه جوز سره دپوستکی وژړووی او تیریه کړی، نوزمونږ مشائخ وائی کی پوستکی ترمغزد مخه حلق ته ورسیدی لکه خویه ماته سوله مګر کفاره باندی نسته، اوکی حلق ته اول مغزور سیدی بیا کفاره باندی سته، ولې چې په اول صورت کی په پوستکی روژه ماته سوه پوستکی خو کفاره نه لازمیږی، اوپه دوهم صورت کی په مغزو روژه ماته سوه اومغز خو غذائی شی دی کفاره لازمیږی. **مسئله**: کی وچ جوز سره دپوستکی اود مغزه وچیچی اوتیر یه کړ، کفاره باندی نسته، ولې داسی خوړلو دجوز عادی شی نه دی» م»

مسئله: کی لوند بادام وخوړی کفاره پرلازمه ده، ولې چې د بادام لوند خوړل هم عادی شی دی لکن داهلته چې مغزیه نیولی وی اوکی مغزنه وو نیولی بیا کفاره نسته»

ولې چې د بادام خورلګ په داسې صورت کې عادي شی نه دی» ط» قال المصنف:

أَوِ ابْتَلَعَ حَصَاةً أَوْ حَدِيدًا أَوْ تُرَابًا أَوْ حَجَرًا

اویا په ټېره یعنی کښې شګه اویا وسپنه، یا خاوری اویا ډبره، نو روژه مات او کفاره نه لازمېږی، ولې داشیان نه غذا ده اونه په عادت کې خوراکی شیان دی، پرده شیانو قیاس دی سره زهر یا سپین زهر یا زمرد لاجورد وغیره» قال المصنف:

أَوِ احْتَقَنَ أَوِ اسْتَعَطَ أَوْ أَوْجَرَ بِصَبِّ شَيْءٍ فِي حَلْقِهِ عَلَى الْأَصَحِّ

اویا په دستور وکړی چې «امالې» یرم بولی یعنی دکونې دخوا دواء نس ته رسوی» اویا په دښې دخوا لونده شی وخلق ته ورساوه، اویا په دښې دخوا لوندشی وخلق ته ورساوه، اویا په ایجار وکړی چې ورو سته عبارت په تفسیر دی یعنی یوشی په په حلق کې دننه توی کړی، پراصح مذهب، په اصح وئیلو کې احتراز وکړی د قول څخه د امام ابویوسف چې هغه وائی چې په دغود رو سره صورتو کې کفاره باندی واجبه ده. دلیل دصحیح روایت دی چې کفاره خومربوط په افطار پوری ده چې صورةً ومعناً وی، اوهغه په خوړلو سره راځی اوپه دغوصورتو کې خوخوړل نشته، اومطلق فائده چې په دغوشیانو کې ستره چې هغه دواوی دی خو روژه مات توی اوکفاره نه لازمېږی» م» **مسئله**: که سړی روژه اتی په پوزه سره اوبه په پوزه اوبه په زوره کښې کړی چې دماغ تی ورسیږی روژه یې مات سوه» س، ط»

قال المصنف:

أَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ دُهْنًا أَوْ مَاءً فِي الْأَصَحِّ

اویا یه وخښولی په غوږ کې روغن یا اوبه نو روژه یې مات سوه، کفاره نشته پراصح روایت

پوه سه: چې په روغنو کې خو اختلاف نشته چې روژه په ماتیږی ولی روغن خو هم فائده ده اود غوږ دلارې دماغ ته مضطر رسیدی، لکن په اوبو کې اختلاف دی» قاضیخان اوکمال وائی چې روژه په ماتیږی، ولې چې مضطر دماغ ته ورسیدی د روژې ماتی

په فعلسره فائدی ته اعتبار نشته، اوپه محیط کې وائی چې صحیح دادی چې روژه نه په ماتیږی ولې چې اوبه خو دماغ ته تر تاوان کوی، نو فطر که څه صورةً پیدا سو لکن معنیً فطر نشته» م» قال المصنف:

أَوْ أَوَى جَائِفَةً أَوْ آمَّةً بِدَوَاءٍ وَصَلَ إِلَى جَوْفِهِ أَوْ دِمَاغِهِ

اویا یه دواء وکړه دجائفه تپ اویا امته تپ په داسې دواء سره چې هغه دواء ولنس ته ورسیږی اویا هغه دواء ورسیده ودماغ ته، **پوه سه**: چې جائفه هغه تپ دی چې په نس کې وی اوامته تپ هغه دی چې په سر کې وی، نو دواعامه ده که چېرې وی اوکه لنده وی»

فائده: دجائفه تپ په دواء کې تفصیل دادی، که تپی یقیناً په پوه سو چې دواء دتپ څخه نس ته ورسیده، نو خو اتفاقاً یه روژه مات سوه اوکې شک وو چې دواء به نس ته رسیدلی وی اوکه نه! نو که دواء لنده وه امام اعظم وائی چې روژه یه ماتیږی، ولې چې لنده دواء غالباً دتپ څخه نس ته رسیږی» اویاران وائی چې روژه یه په شک نه ماتیږی اوکه دواء وچه وه اوسړی په کښې شکی وو چې رسیدلی به وی اوکه نه! نو روژه اتفاقاً نه دماته» **پوه سه**: چې دا شک او یقین په تپ پورې اړه لری چې دپرته ړوند تپ دی چې نس ته ننوزی دی اوکه سرسری دی چې دنس څخه لیرې دی یا لږ یا پیر»

پوښتنه: دحدیث مبارکه څخه دا سې معلومیږی چې د روژې ماتوالی په نس او فرج پورې اړه لری، یعنی چې نس ته شئی داخل سی یا ده فرج شهوت پرځای سی، نو دسر تپ په دواء سره که څه هم دماغ ته ورسیږی ولی روژه ماتیږی» **جواب**: چې اصباء او حاکمان او اکثر انو په متفقه ډول داخبره منلی ده چې دجوف الرأس اودجوف المعدة ترمابین سوری سته چې هغه شئ چې جوف الرأس ته ورسیږی جوف المعدته هم رسیږی» نو ځکه یه روژه ماتیږی» هذا حاصل ما فی فتح القدیر وشرح الطحطاوی مع زیادة من در» قال

أَوْ دَخَلَ حَلْقَهُ مَطَرٌ أَوْ ثَلْجٌ فِي الْأَصَحِّ وَلَوْ لَمْ يَبْتَلِعْهُ بِصُنْعِهِ

اویا د اخلی سی وخلق ته د روژاتی دباران اوبه یا واوره کی څه هم په اختیار سره تیری نه کړی
اوکی په اختیار تیری کړی بیا کفاره هم پرلازمه ده، ط، **فائده**: په فتاوای
هندیه کی وائی که د روژاتی په خوله کوز د څریندی ننوتی، اویا یه دواء میده کول اوه هغی
دواء خوند یه په خوله کی محسوس کړی، اویا دود داور یه په خوله ننوتی اویا باد دوړی
جوړی کړی اوده په خوله ننوتی، اویا د آسانو وغیره د څغاستو دوړی دده په خوله ننوتی روژه
یه نه ماتیږی»

قال المصنف: **أَوْ أَفْطَرَ خَطَاءً بِسَبْقِ مَاءِ الْمَضْمَضَةِ إِلَى جَوْفِهِ**

اویا یه روژه ماته کړه په خطاء سره چی نه ئی قصد وو اونه ئی روژه هیره وه بلکه ورباندی سوی اوبه
د خولې پریولو وخت ته دده ولاړی، نو روژه خوبیره ماته ده، اوکفاره باندی نشته لعدم القصد
سوال: په صحیح حدیث کی راغلی دی: رُفِعَ عَنْ أُمَّتِي الخطاءُ والنسيانُ وما استكرهوا
علیه، نو دی حدیث په مقتضیٰ باید په خطاء سره روژه نه سبی ماته لکه په هیره چی نه ماتیږی
جواب: په حدیث شریف کی مراد رفع د گناه ده یعنی په خطا چی روژه څنډی ماته
سی نو گناه کار نه دی، اود روژی ماتوالی یه په سبب د عدم احتیاط دی په مضمضه کی
وهذا هو الفرق بين الخطاء والنسيان «فافهم» مر، ط، در، قال المصنف:

أَوْ أَفْطَرَ مُكْرَهًا وَلَوْ بِالْجِمَاعِ أَوْ أُكْرِهَتْ عَلَى الْجِمَاعِ

اویا چا روژاتی مجبور کړی د روژی پر ماتولو کړه هم پر جماع د مانینی مجبور کړی، قال المراقی
فی المحیح وبه یفتیٰ، اویا ښځه روژاتی میړه وغیره مجبوره کړه پر جماع نو، نر په صورت
کی پر نر کفاره نشته» **سوال**: د نر چی د مجبوری په وخت کی د جماع عوغنر لک سونو
معلومه سوه چی د دغه جماع کی خوښی سوی اوپه راښی سوی نو باید کفاره پروی **جواب**
د آله تک والی خو طبعی کار دی دلیل د رضاء او خوښی نه دی، مر، او د روژاتی په صورت کی پر
ښځه کفاره نشته» **پوښتنه**: که ښځه په اول کی خود جماع عو څخه په انکار
کاوه لکن نر په زوره پرته گابن په خلاص کړی او څرنگ چی نر آله د دی په کس ورننه کړه دی

نه ئی هم خوند ورکړی اوپه دغه کار راضی سوله» نو هم پر ښځه کفاره نشته اوکه څرنگ
جواب یا کفاره پروی نشته، ولی نفس چی نر آله ورداخل کړه د دی روژه ماته شوه
وروسته ئی خوند ورکول او یا راضی والی خو یه پسله فساده د روژی دی» قال المصنف:

أَوْ أَفْطَرَتْ خَوْفًا عَلَى نَفْسِهَا مِنْ أَنْ تَمْرَضَ مِنَ الْخِدْمَةِ

اویا ښځی روژه ماته کړه د سبیه د بیری پر ځان باندی چی نږه به مریض سی نو په سبب د خدمت
د باداره او یا د سیږه کم ښځه مینځه وی اوکه **أَمَةٌ كَانَتْ أَوْ مَنْكُوحَةً** حُره منکوحه دیو چا وی، نو کفاره باندی نشته،
ولی چی دې روژه په سبب د عذر ماته کړه، لکن معتبر پیردی باب کی غلبة الظن دی نفس توهم
نه دی» **پوښتنه**: چی د فقه شریف په کتابونو کی وائی چی منیځی ته روادی چی منع وکړی
د خدمت څخه د باداره کی داعاجزه کوله د اداء څخه د فرضو کار، نو سره د دغه حکم شرعی بیا هم پرده
باندی کفاره نشته چی روژه ماته کړی په سبب د عجز د خدمت څخه د باداره، نو پر حُری ښځی
خو په طریق اولی کفاره نشته په سبب د عذر مذکور، وهذا التتمة مذكور في التاتارخانية،
قال المصنف **أَوْ صَبَّ أَحَدٌ فِي جَوْفِهِ مَاءً وَهُوَ نَائِمٌ** اویا به توی کړی
کی اوبه اوحال داچی روژاتی بیده وو مثلاً روژاتی بیده وو او څوک یه خلاصه نیولی وو بل سړی
یه په خوله کی اوبه ور توی کړی هغه اوبه فوراً د حلق د لاړی نس ته ولاړی اود ی راویښ
سو، اویا نسوار ویښ خو بیا هغه بل سړی ورته ووئیله چی ماستاپه خوله کی اوبه ور توی
کړی او تا تیری کړی روژه خو یه ماته سوه، ولی چی مغلوبیه ونس ته ور سیدی مگر کفاره
پری نشته ولی چی د روژاتی قصد او رضاء نشته، در، ط وائی چی دا مسئله مصنف د دی دپاره
ذکر کړه چی د بعض خلگو به دا توهم وائی چی دغه بیده به لکه بیړو ونکی وی او روژه به ئی
نه ماتیږی، وجه د فرق داده چی هیری والا افطار د صاحب الحق جل جلاله د خوادی، او د
مذکور سړی افطار د بنده د خوادی، نو د دی مثال بل ځای هم ستاسه کله چی ذابح حیوان ذبح

کوی بسم الله په هیره سی نوذ بیحه حلاله ده، ولی شارع تاسی پر منزله د ذاکر د تسمیه نازل کړی دی، اوکه یوسړی د خوب سره سره یو حیوان بیله تسمیه حلال کړی ذبیحه مرداره ده، نو په روژه کی هم یو پر بل نه قیاسیږی، ط، در، قال المصنف:

أَوْ أَكَلَ عَمْدًا بَعْدَ أَكْلِهِ نَاسِيًا وَلَوْ عَلِمَ الْخَبَرَ عَلَى الْأَصَحِّ

اویا خورلك وکړی یو روژاتی په قصد سره پسله دی څخه د مخی یه په هیره شی خورلی وی کړه هم په حدیث نبوی خبروی پر اصح مذهب» اوهغه حدیث دادی: مَنْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ نَاسِيًا وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ» نو د دغه سړی روژه د قصد په خورلو ماته سوه اما کفاره نسته باندی.

پوښتنه: سره د علم د حدیث نبوی چی معنا یه داده: چی په هیره روژه نه ماتیږی نو دده روژه خو پر ځای وه، نو ورو سته چی عمدًا خورلك وکړی، نو پس روژی جنایت وکړی باید کفاره باندی وی

جواب: حدیث مذکور چونکه خبر واحد دی او یقین نه فائده کوی، نو حدیث د سبب په عمد خورلك سره د ده روژه ماته سوه، او قضاء پر لازمه ده، او کفاره په دی سبب پرده نسته، چی د قیاس دلاری چی په وخت د نسیان خو مفطر ده و نسته و رسیدی باید روژه یه ماته سی لکن حدیث نبوی یه روژه خلاف القیاس ماته نه بولی، نو د اشبهه سوا په عدم لزوم کی د کفاری چی عمدًا یه بیا خورلك وکړی، وهذا ظاهر الروایت، ط حطاوی مراقی، قاضیخان زر

قال المصنف

أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا ثُمَّ جَامَعَ عَامِدًا

او یا روژاتی اول وار جماع د مابنی سره په هیره وکړی او بیا یه په قصد وکړی، دلیل یه هغه دی چی ذکر شو، قال المصنف:

أَوْ أَكَلَ بَعْدَ مَا نَوَى نَهَارًا وَلَمْ يُبَيِّتْ نِيَّةً

او یا یه خورلك وکړی روژاتی او مثل ذالك الشرب والجماع، پسله دی څخه چی نیت د روژی فرض ده و نه کړی وو، او نیت به د شپی څخه نه ورکړی لکن دامذهب دی دامام اعظم دی یعنی چی کفاره نسته باندی، ولهذا په دی روژه کی شبهه سته چی امام شافعی دوړځی نیت د روژی روا نه بولی، او کفاره

په شبهه سره نه پریږی کله مو مراد اویا رائی وائی چی کفاره باندی سته، قال المصنف:

أَوْ أَصْبَحَ مُسَافِرًا فَنَوَى الْإِقَامَةَ ثُمَّ أَكَلَ

او یا سړی سحار کړی چی سفر ته یه قصد وو، یعنی د شپی خو یه نیت د روژی کړی وو او لکن سحار یه عزم د سفر و کړی بیا ببیره نیت د اقامت وکړی، نو خورلك یه وکړی نو کفاره نسته باندی که هم د دغی روژی په موجوده صورت کی وده ته ماتول حرام دی، اوکی د مخه ترنیت د اقامت خورلك وکړی بیا خو یه طریق اولی کفاره نسته بلکه حرمت هم نسته. قال المصنف

أَوْ سَافَرَ بَعْدَ مَا أَصْبَحَ مُقِيمًا فَأَكَلَ

او یا د غه سړی چی ده شپی په د روژی نیت خو کړی وو او سحار هم پر نیت د اقامت پاته وو لکن ورو سته په سفر روان سو او بیا یه خورلك وکړی، نو کفاره باندی نسته، که غه هم د ماتول د روژی حرام دی. قال المصنف

أَوْ أَمْسَكَ بِلَا نِيَّةِ صَوْمٍ وَلَا نِيَّةِ فِطْرٍ

او یا سړی د اعنی د خورلك وغیره څخه څان ساتلی وو، او نه ئی د نیت د روژی وو او نه ئی نیت د خورلك وو ورو سته یه خورلك وغیره وکړی کفاره نسته په سبب د دی چی شرط د صحت د روژی په ده کی نه سو پیدا نو روژاتی نه دی» قال المصنف:

أَوْ تَسَحَّرَ أَوْ جَامَعَ شَاكًّا فِي طُلُوعِ الْفَجْرِ وَهُوَ طَالِعٌ

او یا سړی کمی وکړی او یا یه د مابنی سره جماعی وکړی په د اسی حال کی چی د ی په دواړو صورتو کی شك وو په سفید و چا ودو کی لکن په حقیقت کی سفیدی چاودلی وی، چی ورو سته ده ته هم معلومه سوه نو کفاره نسته باندی، په سبب د شك وو، لکن دی په دی گناه گار دی چی ولی سنه معلومات نه کاوه، مگر افطار گناه نسته باندی **مسئله** که سړی ته سره د تلاش د سفید و د رڼ نه معلومیدی لکن شك وو بیا خورلك وغیره وکړی نو قضاء

دروژی په سبب دشک نه نسته باندې، د حضرت الامام څخه روایت دی چې سړی سره د شکه په طلوع الفجر کې په خوړلو وغیره سره ګناه ګاره دی کې ستر ګی ضعیفه وی، اویا سپورې وچې دسفید ودرلو نه په کښې معلومیدی اویا وریځ وه، وهذا معنیٰ قوله علیه الصلوٰة والسلام: دَعْ مَا یُرِیبُکَ اِلیٰ مَا لَا یُرِیبُکَ، پریږده هغه کار چې تا په شک کې اچوی او مختار کړه هغه کار چې تا په شک کې نه اچوی، قال المصنف:

اَوْ اَفْطَرَ بِظَنِّ الْغُرُوْبِ وَالشَّمْسُ بَاقِیَةٌ

اویا روژاتی روژه ماته کړه په غالب ګمان د لمر لوبیدو مګر لمر یا قی وو مثلاً په وریځ کې وو او ورسته ښکاره سو نو کفاره نسته باندې کې څه هم قضاء پرلازمه ده، **مسئله**: کړه په غروب کې د لمر صرف شک وو او روژه یې ماته کړه او لمر نه وو لویدلی کفاره باندې نسته، په یوه روایت کې، اوبل روایت: دادې چې دا صورت هم ګڼه په طلوع الفجر کې شک وی یعنی کفاره نسته باندې. والصحیح ما فی المتن تا چې عمل پر اصل سوه په دواړو صورتونو کې چې شپه وه نو اصل دادې چې شپه به باقی وی سفیدی عارضی شی دی اوپه دوهم صورت کې چې ورځ وه نو اصل دا وه چې ورځ به باقی وی اوغروب الشمس عارضی دی دافاینده په یاد وساته، قال المصنف:

اَوْ اَنْزَلَ بِوَطْیِ بَهِیْمَةٍ اَوْ مَیِّتَةٍ اَوْ بِتَفْخِیْذٍ اَوْ بِتَبْطِیْنٍ اَوْ قُبْلَةٍ اَوْ لَمْسٍ

اویا روژاتی انزال سوی په جماع سره د ځنې عوسره د څاروی مثلاً اویا د مړې ښځې، اویا د مایني په وړلو نو کې ځان انزال کې اویا پرتن د مایني ځان انزال کې اویا په بغولو د مایني په ځان انزال کړې، اویا په مسه کولو سره د مایني انزال سو، نو روژه خوبه ماته سوه مګر کفاره باندې نسته، لقصور الجنایة علی الصوم، **مسئله**: که روژاتی په لاس سره ځان انزال کړی روژه به ماته سوه لکن کفاره نسته باندې، لما ذکرنا، قال المصنف

اَوْ اَفْسَدَ صَوْمَ غَیْرِ اَدَاءِ رَمَضَانَ

اویا سړی فاسده کړه یعنی یا په خوړلو یا جماع وغیره سره روژه د ماسوی څخه د ادائی روژې

د میاشتی روژی که قضائی وی اوکه نفلی وی نو کفاره نسته ولې چې دې حرمتی د میاشتی د روژی نه ده کړی چې هغه سبب د کفاری دی، قال المصنف:

اَوْ وُطِئَتْ وَهِیَ نَائِمَةٌ اَوْ اَقْطَرَتْ فِیْ فَرْجِهَا عَلَی الْاَصَحِّ

اویا وغوړل سوه ښځه لکن دا بیده وه مګر دشپې دی نیت د روژې کړی وو، روژه خوبه په وطی سره فاسده سوه لکن پر ښځه نسته ولې چې دې خو جنایت نه دی کړی، اویا دی ښځې په کس کې اوبه توی کړی روژه خوبه ماته سوه لکن کفاره نسته، ولې داکار مشابه دامالدمره دی، کامر حکم، پس اصح روایت لکن سید وانی چې په دی کې هیڅ اختلاف نسته، ط قال المصنف:

اَوْ اَدْخَلَ اِصْبَعَهُ فِیْ دُبُرِهِ مَبْلُوْلَةً بِمَاءٍ اَوْ دُهْنٍ اَوْ اَدْخَلَتْهُ فِیْ فَرْجِهَا الدَّاخِلِ عَلَی الْمُخْتَارِ

اویا یه چې کړه روژاتی ګوته خپله په کُنه کې چې ګوته یه لنده وه په اوبو یا په غوړو اویا ښځې چې کړه لنده ګوته په اوبو یا غوړو یا په خپل دننه کس کې، نو کفاره باندې نسته، لان هذا اقل من الحقنة، **پوه سه** چې روژه یه هلته فاسده ګرځی چې په قدر د حقنی یه وریچ کړی، **مسئله**: د استنجاء وملو په وخت کې کړه روژاتی په کُنه کې اویا د ښځې په کس کې په سبب د مبالغې په استنجاء کې اوبه ننوتی نو که د حقنی تر اندازې کمې وی، نو روژه یې هم نه ده فاسده اوکه هغونه مقدار وه روژه خوبه فاسده سوه لکن کفاره نسته

فائده: که روژاتی استنجاء وهله او دکنی کُلمه یې ده او وتله نوده هغه هم پریوله، نو که ده هغه کلمه وچه کړه په تو کره د مخ ترې چې دی ولاړ سی او کلمه یې خپل ځای ته ورسیږی نوده هغه روژه نه ده ماته، ولی هغه اوبه خوده څنډی وچې کړی د مخ تر رسید و وباطن ته اوکی کلمه داعنسی لنده وه دی ولاړ سو او کلمه یې ننوتله بیا روژه ماته او کفاره نسته، مط قال

اَوْ اَدْخَلَ قُطْنَةً فِیْ دُبُرِهِ اَوْ فِیْ فَرْجِهَا الدَّاخِلِ وَغَیْبَهَا

اویا روژاتی چخ کړه پښه وغیره په کښه کی اویا بښځی پـه دننه کس کی اود اپښه وغیره په کنه یا کس کی بیخی پټ سوه نوروژه خویه ماته سوه. ولـه چی یوشئ کامل باطن ته ورسیدی لکن کفاره نشته، اوکه یوطرف د پښه وو اوغیره دباندی پاته وو، نوروژه یه هم نده ماته، لانّ تمام الدخول کعدم دخول شئ بالمرة» مراقی» «قال المصنف»:

اَوْ اَدْخَلَ حَلْقَهُ دُخَانًا بِصُنْعِهٖ

اویا سړی روژاتی داخل کړی دود دیوشی پـه قصد سره چی حلق تی ورسیدی اونس یاد ماغ تـه ئی ورسیدی، نوروژه یه ماته ده اوکفاره نشته، په مراقی کی وائی چی داحکم په غیرکی د دودد عنبرو یـا اگربتی دی، اوکه دهغود ود وی نود کفارة لزوم بعید نه دی للنفع والتداوی: ثم قال» وکذا الدخان الحادث شربه، چی مراد څنډی سگریټ اوچلم، اوبیړی دی یعنی پـه دی شیانوکی هم کفاره بعید نه دی فتدبر» «قال المصنف»:

اَوِ اسْتَقَاءَ وَلَوْ دُوْنَ مِلْئِ الْفَمِ فِیْ ظَاهِرِ الرِّوَایَةِ وَ

اویا روژاتی پـه قصد قئی وواهه کرخه هم تر ده کی خولی کم وی پـه ظاهر روایت کی. اوحضرت امام ابویوسف د خولی د کوالی شرط

شَرَطَ اَبُوْ یُوْسُفَ مِلْئَ الْفَمِ بُوْلِ پُوْهِ سَهٖ

چی د امام اعظم نخه چی قئی تر ده کی خولی کم وی دوه روایت دی، یوه دا دی چی روژه پـه ماته ږی وهوالموافق لقوله علیه الصلوٰة والسلام مَنِ استقاءَ فلیقض» اوامام ابویوسف شرط بولی پـه ماتوالی کی د روژی د قصد پـه قئی سره د کم خولـه، ولـه چی کم تر هغه کا العدم دی حکه اوه س نه پـه ماته ږی» بعض امامان چی د روژی اولوداسه فرق نسی کولای وعوامو ته وائی وائی چی پـه روژه کی قئی بی قصده پـه دکم خوله وواهه روژه یه ماته ده» دلحکم د دوی غلط دی»

قال المصنف

اَوْ اَعَادَ مَا دَرَعَهٗ مِنَ الْقَیْءِ وَکَانَ مِلْئُ الْفَمِ وَهُوَ ذَاکِرٌ لِلصَّوْمِهٖ

اویا روژاتی پـه قصد قئی وواهه کرخه هغه قئی چی پرده غالبه سوی وولیعنی پـه

قصد یه نږوو وهلی، اوحال داوو چی هغه قی پـه دکم خولـه وواهه اوده روژه هم پـه یاد وه» نو روژه یه ماته ده اوکفاره نشته باندی، اوکی روژه هیره وه نوروژه یه هم نده ماته» اوکه قئی تر ملئی الفم کم وو نوده بیرته تیرکړی پـه هغه کی دوه روایته دی پـه یوه روایت کی یه روژه فاسده ده امام طحطاوی وائی چی اصح عدم فساد دی» درعن المحیط» «قال المصنف»:

اَوْ اَکَلَ مَا بَیْنَ اَسْنَانِهٖ وَکَانَ قَدْرَ الْحُمَّصَةِ

اویا روژاتی وخوړی هغه شی یعنی پوډی یا غوښی وغیره چی د غاښونو پـه مابین کی بند وه اوپـه قدر د یوه نخود وو، نوروژه خو یه ماته سوه اوکفاره نشته، اوکه تر حمصی کم وو نوروژه یه نده ماتیږی للضرورة ولزوم الحرج

قال المصنف

اَوْ نَوَی الصَّوْمَ نَهَارًا بَعْدَ مَا اَکَلَ نَاسِیًا قَبْلَ

اویا یه نیت د روژی وکړی دورځی پـه لـه دی چی د مخه تر نیت یه خوړلـه پـه هیره کړی وود مخه تر نیت

اِیْجَادِ نِیَّتِهٖ مِنَ النَّهَارِ اَوْ اُغْمِیَ عَلَیْهِ وَلَوْ جَمِیْعَ

کولو د نیت د ده ورځی نوروژه یه ماته ده اوکفاره نشته، اویا بیهوشی ړاغله پرسړی کد هم تـه وو

الشَّهْرِ اِلَّا اَنَّهٗ لَا یَقْضِی الْیَوْمَ الَّذِیْ حَدَثَ فِیْهِ

میاشت وی مگر د هغه ورځی قضاء پری نشته چی وده ته بیهوشی پـه دغه ورځ یا پـه شپـه کی د

اَغْمَاءُ اَوْ حَدَثَ فِیْ لَیْلَتِهٖ

هغی ورپسی نه سوی وی پوهه چی اغماء یونوع د مرض ده چی د پیر

دیه نادر دی اواحکام د شرعی شریفی بناء پر غالب دی، نوځکه پردغه ممتده بیهوشی قضاء

و ورځ خود بیهوشی لانږده، مگر د هغه ورځی قضاء نشته چی دی پـه هغه ورځ کی یا

پـه کی بیهوشه سوی دی، للعذر»

اویا روژاتی چخ کړه پینبه وغیره په کنه کی اویا بنتی پکه دننه کس کی اود اپینبه وغیره په
کنه یا کس کی بیخی پټ سوه نوروژه خویه ماته سوه، ولیچی یوشی کامل باطن ته ورسیدی لکی
کفاره نشته، اوکه یوطرف د پینبه وو اوغیره دباندی پاته وو، نوروژه یه هم نه ده ماته، لان
تمام الدخول کعدم دخول شئی بالمره، مراقی، وقال المصنف:

اَوْ اَدْخَلَ حَلْقَهُ دُخَانًا بِصُنْعِهِ

اویا سړی روژاتی داخل کړی دود دلوښی
په قصد سره چی حلق تی ورسیدی
اونس یاد ماغ ته ځی ورسیدی، نوروژه یه ماته ده اوکفاره نشته، په مراقی کی وائی چی داحکم په
غیرکی د دودد عنبرو یا اگربتی دی، اوکه دهغو دود وی نود کفاره لزوم بعید نه دی للنفع
والتداوی: ثم قال، وکذا الدخان الحادث شربه، چی مراد څنډی سگریټ اوچلم، اوبیړی
دی یعنی په دی شیانوکی هم کفاره بعید نه دی فتدبر، قال المصنف:

اَوِ اسْتَقَاءَ وَلَوْ دُونَ مِلْئِ الْفَمِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَ

اویا روژاتی په قصد قئی وواهه کرخه هم ترڅو کی خولی کم وی په ظاهر روایت کی. اوحضرت
امام ابویوسفؒ د خولی د کوالی شرط

شَرَطَ اَبُوْ يُوْسُفَ مِلْئَ الْفَمِ بُوْلِي پُوْهِ سَه

چی د امام اعظمؒ څخه چی قئی ترڅو کی خولی کم وی دوه روایتونه دی، یوه دا دی چی روژه په ماتیږی
وهوالموافق لقوله علیه الصلوٰة والسلام مَنِ اسْتَقَاءَ فَلْيَقْضِ، اوامام ابویوسفؒ شرط
بولی په ماتوالی کی د روژی د قصد په قئی سره د کخولی، ولیچی کم ترهغه کا العدم دی ځکه
اود س نه په ماتیږی، بعض امامان چی د روژی اولوا سه فرق نسی کولای وعوامو ته وائی
وائی چی په روژه کی قئی بی قصده په دکخولی وواهه روژه یه ماته ده، د احکم ددوی غلط دی،
قال المصنف

اَوْ اَعَادَ مَا ذَرَعَهُ مِنَ الْقَيْءِ وَكَانَ مِلْئَ الْفَمِ وَهُوَ ذَاكِرٌ لِصَوْمِهِ

اویا روژاتی په قصد تیرکړی هغه قئی چی پرده غالبه سوی وولیعنی په

قصد یه نږدی وهلی، اوحال داوو چی هغه قئی په دکخولی وواهه اوده روژه هم په یاد وه، نو
روژه یه ماته ده اوکفاره نشته باندی، اوکی روژه هیره وه نوروژه یه هم نه ده ماته، اوکه قئی تر
ملئی الفم کم وو نوده بیرته تیرکړی په هغه کی دوه روایته دی په یوه روایت کی یه روژه فاسدیږی
امام طحطاویؒ وائی چی اصح عدم فساد دی، در عن المحیط، قال المصنف:

اَوْ اَكَلَ مَا بَيْنَ اَسْنَانِهِ وَكَانَ قَدْرَ الْحُمَّصَةِ

اویا روژاتی وخوړی
هغه شی یعنی
چوړی یا غوښی وغیره چی د غاښونو په مابین کی بند وه اوپه قدر د یوه نخود وو، نوروژه خو
یه ماته سوه اوکفاره نشته، اوکه تر حمصی کم وو نوروژه یه نه ماتیږی للضرورة ولزوم الحرج
قال المصنف

اَوْ نَوَى الصَّوْمَ نَهَارًا بَعْدَ مَا اَكَلَ نَاسِيًا قَبْلَ

اویا یه نیت د روژی وکړی د ورځی پسله دی چی د ډوډۍ یه خوړلو یه هیره کړی وو د مخه تر نیت

اِيْجَادِ نِيَّتِهِ مِنَ النَّهَارِ اَوْ اُغْمِيَ عَلَيْهِ وَلَوْ جَمِيْعَ

کولو د نیت د ده ورځی نوروژه یه ماته ده اوکفاره نشته، اویا بیهوشی ړاغله پوره ګرځی که څه تر سو

الشَّهْرِ اِلَّا اَنَّهُ لَا يَقْضِي الْيَوْمَ الَّذِي حَدَثَ فِيْهِ

میاشت وی مګر هغه ورځی قضاء پری نشته چی وده ته بیهوشی په دغه ورځ یا په شپه کی د

اَلْاِغْمَاءُ اَوْ حَدَثَ فِي لَيْلَتِهِ

هغی ورپیښه سوی وی
پوه سه
چی اغماء یونوع د مرض ده چی د پیر
امتداد یه نادردی اواحکام د شرعی شریفی بناء پرغالب دی، نوځکه پردغه ممتده بیهوشی قضاء
د تولو ورځو د بیهوشی لازم نه ده، مګر هغه ورځی قضاء نشته چی دی په هغه ورځ کی یا
په شپه کی بیهوشه سوی دی، للعذر،

قال المصنف: **أَوْ جُنَّ غَيْرَ مُمْتَدٍّ جَمِيعَ الشَّهْرِ** او یا سړی لیونی سو لکن نه وه
نو قضا د ورځو د جنون پرده لازمېږده: لانه لا حرج فی قضاء ما دون الشهر، یعنی که څ
جنون ونیول بیا قضاء پری نشته للحرج، قال المصنف:

وَلَا يَلْزَمُهُ قَضَاؤُهُ بِإِفَاقَتِهِ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا بَعْدَ فَوَاتِ

اونه ده لازمه قضاء د ورځې پرهغه لیونی چې د شپې به پرسد کیدی، ولی چې شپه محله د روژې
نه ده، او یا د ورځې به پرسد سو هغه وخت کې چې
وَقْتِ النِّيَّةِ فِي الصَّحِيحِ وخت د صحت د نیت د روژې به تیر سوی وو
یعنی الصحوة الکبری لانه لا اعتبار للصحة فی هذا الوقت، فکان الصحة فی هاتین الوقتین
کالعدم فکان هو کالمستوعب جمیع الشهر فلا قضاء علیه للزوم الحرج فافهم،

پوه سه: چې امام طحطاوي په ص ۵۵۸ د دې باب په پای کې یوه مفیده، تتمه لري
ده چې ترجمه یې داده: په هغو ځایونو کې چې په باب کې ذکر سوه چې کفاره پرې روژاتی نشته،
هغه ځایونه دي چې د روژاتی څخه مړ وروسته بعد اخری په قصد د معصیت د افساد الصوم نه وي پیښ
سوی، او که مکره وا رونه په قصد د معصیت د افساد الصوم پیښ سی بیا کفاره باندی سته
کذا فی الشهر الفائق،،

قدوری نکاح پښتو
آسانه فقه پښتو یوځله
معارف القرآن
پښتو
دیرشر، به د مکتبة القرآت والتجوید څخه خپاره سی

فصل ويجب الإمساك بقية اليوم على من فسد صومه

واجب دی ځان ساتل د خوړلو اونورو د روژې ماتوونکی شیانو څخه
پاته د ورځ پرهغه چا چې روژه یې فاسده سې، **پوه سه**: چې مصنف چې واجب وویل
دا ظاهر الروایة دی او هم صحیح، بعض علماء وائی چې امساک مستحب دی، حکمت د امساک تشبه
ده د روژاتیانو سره تا چې حق د وخت چې د روژې میاشت ده پرځای سی، **فائده**
د امساک پرچا واجب دی کې فساد د روژې په عذر سره وی لکه جنګ د دښمن یا تبه چې د وارې
زائل سی او یا بې عذره فاسده سوی وي، قال المصنف:

وعلى حائض ونفساء طهرتا بعد طلوع الفجر

او واجب دی امساک پرښځه چې د حیض او نفاس څخه پاک سی لمسله سپیدو څخه **فائده**
حرام دی امساک پرښځه چې په حال کې د حیض وی یا نفاس، ولی چې حقیقة روژه خو دی نه حرامه
نو تشبه په حرام سره هم دی نه حرامږده، **فائده**: که مسافر مقیم سو بعد طلوع الفجر
او یا مریض جوړ سو وروسته د طلوع الفجر او یا لیونی پرسد سو په دغه وخت کې هم امساک پر
واجب دی **پوه سه**: چې هغه کسان چې امساک ورته حرام وی لکه ښځه حائضه یا
نفساء په حال کې د حیض او نفاس یا مسافر په حال کې د سفر یا مریض په حال کې د مرض چې
خوړل وغیره کوی په پته دی کوی علانیة دی نه کوي، قال المصنف:

وعلى صبي بلغ أو كافر أو مسلم وعليهم القضاء إلا الأخيرين

او د غه رنګه امساک واجب دی پر کشنی چې بالغ سی او یا کافر چې مسلمان سی پسله سپیدو څخه
لحرمة الوقت بالقدر الممکن، او پردغو ټولو قضاء د دغې روژې سته مګر دوه اخیر چې
صبی بالغ دی یا کافر مسلمان پرهغو قضاء نشته، لعدم اهلیتهما للصوم فی اول الوقت للصوم
فلم یجب علیهما الصوم حتی یجب القضاء،

فَصْلٌ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَفِيمَا لَا يُكْرَهُ لَهُ وَمَا يُسْتَحَبُّ

دا فصل دی په بیان کی د هغو شیانو چې مکروه وی روژاتی ته، یعنی کوم شیان چې روژه یې نه په ماتیږی او په بیان د هغو شیانو چې مکروه نه وی روژاتی ته، او په بیان کی د هغو شیانو چې مستحب وی یعنی روژاتی ته، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

كُرِهَ لِلصَّائِمِ سَبْعَةُ أَشْيَاءَ ذَوْقُ شَيْءٍ وَمَضْغُهُ بِلَا عُذْرٍ

مکروه دی روژاتی ته اوه شیان، خوند کتل د یوه شی یا ژوول د یوه شی بیله عذره، ولې چې دی فعل کې روژه وفساد ته پیښول دي، امام طحطاوي وائي چې د ظاهر مخ مطلق کراهت دا معلومیږي چې کراهت د دغو شیانو تحریمي دی، کوم شیان چې روژه نفلي وی علی المذهب، ط، م، او شمس الائمه الحلواني وائي چې په نفلي روژه کې پرواه نه لري، ولې چې افطار، او ماتول د نفلي روژې بیله عذره روا دي، په یوه روایت کې لکن هغه روایت د ظاهر المذهب نه دی،

پوه سه: چې عذر د خوند کتلو شي روژاتی لره دا هم کید ای سي چې د بنځې میړه بد اخلاقه وي چې پر ټوله اوبې نمکه کتنځ خوابده وي، نو دې ته روا ده چې د کټوي وغیره خوند وګوري او کې میړه حسن الاخلاقه وي بیا یې خوند کتل روا نه مکروه تحریمي دی، او منیځه هم پرې دغه قیاس دې، اوکه روژاتی شئ رانیوي او خوند یې دی د پاره کتي چې په رانیولو کې خطا نو زهر یې په دی مسئله کې اختلاف دی، او ژوولو عذر دا دی چې دیوی بنځې کشنی د وډي پخپله نه سواى خوړلای ژوول یې غوښته او بل بې روژې خولې هم نه وي چې د دی وکشنی نه چې وډي وروژوي نو دی ته کې هم روژه وی ژوول د نه وډي مکروه نه دی، والا یکره باالاتفاق، در مر،

پوه سه: چې امام طحطاوي په مکروهاتو کې دغه شیان هم ذکر کړي دي ۱ چې روژاتی لمبیږي په اوبو کې ډوبول یا پوسکی نه اچول نه باید چې اوبه یې په کونه ننوزي چې په ګونه او پوسکی سې د کوني تنا وخلاص سو ۲ ماینه ته مکروه دی نفلي روژه چې میړه یې پرکوي وی بیله اجازې دمیړه الا ان یکون صائما او مریضا، او محرما بحج او عمرة، اوکه میړه یې دغسې احوالو کې وو بیا منعه

وماینی د نفلی روژی څخه نه سی کولای ۳ مرئې یا مینځی ته مکروه ده نفلی روژه بیله اجازې د بادار څخه کوم هم بادار، یې مریض یا محرم وغیره وي، ولې چې مقصود د مرئې او مینځی څخه خدمت دی په روژه سره دوی د خدمت څخه ضعیفه کیږی ۴ چا چې څوک مزدور کړی وی نو د د مزدور روژی په خدمت کی تاوان کاوه بیا مزدور ته روژه نیول مکروه ده اوکی تاوان نه کاوه بیا پرواه نه لري، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمَضْغُ الْعِلْكِ

اودغه رنګه مکروه دی ژوول د ژاولو، یعنی روژه نه په ماتیږی د اوداکراهت نو اوبنځی دواړو ته شامل دی، وجه د کراهت یې دا ده چې سړی چې ژاولی ژووی خلګ چې وائی چې دا سړی روژه خوړی نوځای د تهمت دی، وقد قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْآخِرِ فَلَا يَقِفَنَّ مَوَاقِفَ التُّهَمَةِ، **مسئله:** ژاولی ژوول په غیر کی د روژې بنځوړه مستحب دی او نروته مکروه دی مګر په خلوت کی، م، ط، **فائده:** عِلك بعض اهل لغت وائی چې مصطکی دی لکن مصطکی چې هم دا اوس د طبیبانو سره موجود دی هغه دواء وده ژوولو شی نه دی، بعض اهل لغت وائی چې لبان دی چې کندر یې هم بولي، **فائده:** ژاولی دوه قسمه دی یو توری ژاولی بولی چې دهغه څخه د ژوولو په وخت کی اجزاء جلا کیږی اود ناو سره تیریږی هغه خو مطلقًا کرنوی وی یعنی نه وی ژوول سوی اوکه نږه وی یعنی ژوول سوی وی روژه په ماتیږی، او یو سپینی ژاولی دی، هغه کې نه وی ژوول سوی اویا ژوول سوی وی لکن سره غیر متصل الاجزاء وی چې هغوته په کند هاری پښتو ژبه خارچنر وائی په دواړو سره روژه ماتیږی، ولې چې اجزاء ځندی جلا کیږی اود ناو سره تیریږی اوکه سپینی ژاولی وی اومتصل الاجزاء وی، نو د هغو ژوول مکروه دی،

تبصره: هغه ژاولی چې د خارج څخه په اوسنی زمانه کی راځی چونکه په وخت کی د ژوولو د هغو خوږ پوښ یعنی خوږ والی ځندی جلا کیږی اود ناو سره تیریږی کما یدل علیه التجربة اوورو سته ژاولی په کښی پیدا کیږی، نو د هغو په ژوولو هم روژه ماتیږی،

اللهم اغفر للمؤلف وللکاتب وللشارح وله ولمن نظر فیه بعین الانصاف،

قال المصنف: **والقبلة والمباشرة إن لم يأمن فيهما على نفسه الإنزال أو الجماع في ظاهر الرواية**

اودغه رنګه مکروه ده چه اختتل او لخرخیته پریوتل دمایني سړه چې دی کار ته په عربي ژبه مباشرة فاحشه وائي دغسې دوه کارونه چې پرځان باندې دانزال چې صرف روژه بې ماتېدسې، اودجماع څخه چې هم بې روژه ماتېدسې اوهم کفاره به پرلاړه شي که د رمضان روژه وه اوداحکمد ظاهر روایت دی،

پوه سه: چې فرق په مابین کې دمطمئن اوغیر مطمئن په نفس قبله اوچرکې دی چې غیر مطمئن تیمکروه ده اومطمئن ترنه ده مکروه، ولې چې په حدیث شریف کې د عائشه رضی روایت په بخاري اومسلم کې دی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام به د خپلو بنځو څخه چه اختتل اودی به روژاتي وو، **پوه سه:** چې هغه تفسیر چې درویش دمباشرت فاحشه وکړي په هغه کې اختلاف اوفرق په کراهت اونه کراهت په غیر مطمئن اومطمئن کې خوښته، اوهرچې هغه تفسیر دی چې طحطاوي کړی دی چې مباشرة فاحشه دادی چې میره اومایند دواړه پرتوګان سره وکاږدی اوډډ نرد ذکر ښځې دفرجه سره په تماس کې وي، نوپه فتاوی هندیه کې وائي چې هغسې مباشرة مکروه علی الاطلاق دی یعنی که هم سړي دجماعو اوانزال څخه په امن کې وي بلکه په محیط کې وائي چې هیڅ اختلاف په کراهت کې دغسې مباشرت نشته،

فائده: کې دمایني څخه داسې پوهې احتتي چې شوندان ددی ئې نه بیښله هغه علی الاطلاق مکروه دی، ط، وکذا في الفتاوی الظهیریة، درویش وائي چې وجه دکراهت د نفس پوهې اونفس مباشرت داده چې سړي روژه خپله دفساد سره مخامخ کوي، قال المصنف:

وجمع الريق في الفم ثم ابتلاعه وما ظن أنه يضعفه كالفصد والحجامة

اودغه رنګه مکروه دی جمع کول دناروپه خوله کې اوبیایه تیره کول یعنی په قصد سره، وجه دکراهت یه مشابهت دی دمفطرسره چې

یوغروپ اوبه تیری کړي، اودغه رنګه مکروه دی هغه چې دده ګمان وي چې دده کار په کمزوري ضعیفه سم دروژې څخه، لکه سړي چې رګ خلاص کړي اویا وینې وکاږي، درویش وائي چې مراقي داسې لفظ هم نریات کړي دی، والعمل الشاق، لکن ددی کار کراهت وهغه چاته دی چې دغه عمل شاق ته ضرورت نه لري، اوهرچه هغه کسان چې عیال نفقه په عمل شاق برابره وي هغوته هیڅ کراهت نشته، قال المصنف:

وتسعة أشياء لا تكره للصائم القبلة والمباشرة مع الأمن

اونه ۹ شیان مکروه نه دی روژاتي لره، یوه هم اختتل دمایني څخه یعنی چې پرطریقه د فاحشې چې نه وي کار مقرب، او بل مباشرة دی دمایني سړه یعنی چې مباشرة په تفسیر ثانی نه وي کار، لکن دواړه کار سره داطمنان د انزال او جماع مکروه نه دي، لما رمن حدیث عائشة رض المتفق علیه، اوداهمد ظاهر الروایت دی، اودامام محمد څخه روایت دی چې مباشرت په تفسیر اول مکروه دی، اوداروایت دی دحسن د امام اعظم څخه، قال المصنف:

ودهن الشارب والكحل والحجامة والفصد

اونه دی مکروه دوبرېو لاندې فیه شئ ینافي الصوم مره اونه دی مکروه سترکې تورول روژاتي لره لانه روي انه علیه الصلوٰة والسلام اکتحل وهو صائم، اونه دی مکروه وینې کښل یا رګ خلاصول، لکن په شرط دی چې دروژاتي عقیده وي چې دروژې څخه نه ضعیفه کیږي، مر، کما مر قال المصنف:

والسواك آخر النهار بل هو سنة كأوله ولو كان رطبا أو مبلولا بالماء

اودغه رنګه مکروه نه دی دمسواک وهل په اخیر کې دورځې، کې څوم امام شافعي په وروسته کې ترزوال مکروه بولي، بلکه مسواک وهل سنت دی په اخیر کې دورځې لکه په اول کې دورځې کې څوم مسواک لوند وي، او یا په اوبو لوند وي لکه بعض علماء داسې مسواک وهل مکروه بولي، دلیل ددی مسئلې: داقول د علیه الصلوٰة

والسلام دی: من خیر خلال الصائم السواك» ترجمه: دښوخوبو څخه د روژاتی مسواك دکړی د احدیث مطلق دی په اول سره نه دی مقید» وورد: کان النبی صلی الله علیه وسلم یستاك اول النهار واخره وهو صائم» کفایه «ط» وفی الجامع الصغیر للسیوطیؒ: السواك سنة فاستاکوا ای وقت شئتم» وفی الحدیث صلوة مع سواك افضل من سبعین صلوة بلاسواك» وهذا الحدیث لاتقید فیه بالرمضان وغیره ولابأول النهار فیه واخره» قال المصنفؒ:

والمضمضة والاستنشاق لغیر وضوء والاغتسال

اودغږ نگ مکروه نه دی په خوله اوبه لغړول اوپه پزه اوبه دا خلول بیله اوداسه، نوپه اوداسه کی خوپه طریق اولی مکروه نه دی، اودغږ نگه مکروه نه دی غسل کول په روژه کی، وقد ورد کل ذالك فی الاحادیث النبویه م» قال المصنفؒ:

والتلفف بثوب مبتل للتبرد علی المفتی به

اودغږ نگه مکروه نه دی پیچل دلندی جامی پرځان په گرمی کی دخنکی د پاره، پرمذهب مفتی به، چی هغه قول دی د امام ابو یوسفؒ، ولی چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوبه توی کړی پرسر یاندی اودی روژاتی وو، دنندی حشه یا د گرمی د وجهی» رواه ابوداؤد، وایضا ابن عمرؓ به پرځان لنده جامه پیچل اوروژه به ئی وه، اوامام اعظمؒ دا فعل مکروه بولی، ولی په دی فعل سره روژاتی خپله تنگدلی بنکاره کوی په اداء کی د عبادت د روژی» قال المصنفؒ:

ویستحب له ثلاثة اشیاء السحور وتاخیره

اومستحب دی روژاتی لره دری (۳) کاره یو پیشلمی دی، لقوله علیه الصلوة والسلام: تسحروا فان فی السحور برکة» د پیشلمی برکت یوخو قوت دی، د اینده ورځی پر روژی، اوبل داچی وخت د پیشلمی وخت د قبلیدو د دعاء دی، نوچی سړی راکښینی شاید یوه دعاء او استغفار به ووائی هغه به قبول شی اوبل اقتداء ده په نبی علیه الصلوة والسلام کښی، اوبل داچی په ابتداء کی د اسلام وو روژه

ترخوب خورلو وغیره حرام وو اوپیشلمی دهغه ناسخ وگرځیدی، نوپیشلمی نه کول شبه د عمل بالمنسوخ ده. **مسئله**: کله دسړی په پیشلمی ځنی خوړل زړه نه غوښتی نوچی د اولینی سی اویوه دانه خرما او یا یو غړپ اوبه وچښی هم سنت پرځای کیږی» **مسئله** کله سړی د اول څخه د شپی ولیدلی وی، اوچی وخت د پیشلمی سی پیشلمی وکی اوبیا بیده سی سنت نهوند سوپرځای بلکه داسی کول مکروه دی ولی چی اغلب کی د دغه سړی څخه د سحار لموښ قضاء کیږی او یا جماعت ځنډی تیریږی، کما یدل علیه التجربة» اوبل مستحب دی ځنډول د پیشلمی: لقوله علیه الصلوة والسلام: ثلث من اخلاق المرسلین: تعجیل الافطار وتاخیر السحور ووضع الیمین علی الشمال فی الصلوة» قال المصنفؒ:

وتعجیل الفطر فی غیر یوم غیم

اوبل مستحب وختی د روژه ماتولو دی په غیر د کی د ورځی د دوربین څخه، **پوښه** چی روژه دی د مخه ترما بنام د لمانځه ماتوی، په مجرا لیق کی وائی چی تعجیل مستحب دادی چی د ماښام استقبال دستوری دپاره د مخه روژه ماتوی، اوپه وخت کی د افطار دا دعا مستحب ده،

د روژه ماتولو دعاء اللهم لك صمت وبك آمنت وعلیك توکلت وعلی رزقك افطرت ومن العدم شهر رمضان نویت فاغفرلی ما قدمت وما اخرت» ط»

تاریخی خبره

خروخت چی زما شرح ودی پرلاوتو ورسیدلو نوپه افغانستان کی د طالبانو حکومت په سبب د سختو بمبارینو او سختو راډیوئی تبلیغاتو د امریکا یانو یك لخته ختم شو» د شوال ۵ تاریخ ۱۴۲۲ هـ ق ولعل الله یحدث بعد ذالك امرا» اللهم انصر الاسلام والمسلمین آمین یارب العلمین»

ښه فائده د اوسنی د مشکل سوال حل کوونکی فائده

سوال بدین منوال: په پیچکاری په عبارت دیگر په ستن لګولو په بل عبارت په انجکشن روژه ماتیږی اوکه نه!

جواب به دنستعین: د دی سوال حل موقوف پرځو مقدمو دی»

اولہ مقدمہ: معنا دروڑی کما فی نور الایضاح والمراقی والطحطاوی کما مر وکذا فی سائر کتب الفقہ، یعنی په شرعه شریفه کی کښه هم معنا لغوی یه مطلق امساك دیوه فعله اویا قوله څخه دی، داده چې سړی به امساك کوی یعنی په قصد، دوړځی یعنی دراچاوده څخه دسپیدو تر لرلو یدو پورې، دقصدی داخلولو څخه دشئی، نو کی ګرځ په خوله ننوتی روژه یه پرځای ده که هغه شی ماکول عادةً وی لکه ډوډی اویا عادی شئی نه وی لکه خاوری، ډبره، وغیره که دا دخال په قصد وی چې په بعض صورتو کی کفاره هم پرلاړ نه ږیږی، کما مر مفصلاً اوکه خطاءً وی لکه چې دخولی دپریولو څخه اوبه څندی تیری سې، نو په دواړو صورتو کی روژه نه ده باقی، البته کرپه هیره وی روژه یه باقی ده، وکل ذالك قد مر مفصلاً، اوداادخال به ولس ته نه کوی دخولی دخواوی اوکه دپزی دخواوی اویا دټپ دخواوی لکه جائفه ټپ یعنی چې ټپ دمعدی پردی ته ورسیدلی وی، ولې چې ودی ټپ ته چې لنده دوا واچوی خواه مخواه لس ته ورسیږی اوبه وچه دوا کی اختلاف دی کما مر،

اوږه دماغ ته چې په حکم کی دنس دی، لکه چې په امه ټپ کی دواء واچوی، امه هغه ټپ دی لکه دسړی چې سرمات سی اوأم الدماغ ته یعنی پردی دمغزو ته ورسیږی، ولې چې داسی ټپ ته چې دواء واچوی سی مغزو ته ورسیږی، اودغه رنګه به امساك کوی دشهوت څخه دفرج کدمخ دخواوی اوکه دشادخواوی چې دې ته جماع ویل کیږی، اودغه رنګه به امساك کوی دشهوت دفرج څخه په صرف انزال سره لکه په مباشرت فاحشه دمانینی اویا عبث بالید وی وقد مر کل ذالك مفصلاً، اوددی امساك سره به نیت ملګری وی، تاچې عادت اوعبادت سره جلاسی، اوصائم به کافر نه وی لیونی به نه وی اوبنځه به حائضه اونفساء نه وی، ولې چې داکسان اهل دروژی نه وی، وقد مر مفصلاً فتذکر،

مقدمه ثانیه: روژی لوماتوونکی شیان سته یا سره دکفاری لکه په قصد چې ډوډی اوخوړی یا اوبه وڅښی یا جماع وکړی یا بیله کفاری لکه چې ډبره تیره کړی وغیره کما مر کل ذالك.

مقدمه ثالثه: دروژی په ماتولو غذائی شی اوغیر غذائی که څه هم مضر بدن وی لکه سړی مرګوش وخوری روژه یه ماتیږی که څه هم مضر دی،

مقدمه رابعه: کوښتی ته بیله معلومولاړ وپه تاثیر سره اویا ودماغ ته په تاثیر سره فائده

ورسیږی روژه نه په ماتیږی، مثلاً روژاتی اولاد جه تبه وی توده، نوډاکټران یه پرنس او سرینجی وړ ایږ دی، تاچې دنس حرارت اودماغ حرارت یه کم سی اوهغه سوهم کمیږی، کما یدل علیه التجربة، نوډ دغی بیخ تاثیر د مسلمات دقیقو څخه دبدن او معدی اودماغ ته ورسیږی اوروژه نه په ماتیږی، عند الکل من الائمة،

مقدمه خامسته: کچیری لږه په روژاتی نیښ جګ کی اوبه کناتی مثلاً په زهر توی کړی یالنډی یاماړ په روژاتی غاښونه د تنه کی اود غاښونو څخه زهر په کښی توی کړی روژه یه با الاتفاق نه په ماتیږی، ولی دازهر یوه ادنی ادنی څاڅکی دی نه وجوف ته رسیږی اونه دماغ ته کما هو ظاهر، اوسره ددی چې ګاهی دازهر پرزه تاثیر وکی اوسړی څندی مړسی اویا یه زړه پوکان سی نوداتاثیر پرزه اویادزهر پرانډام چې واقع کیږی، داپه تاثیر سره دی یعنی زهر په داغه کی دی نه نقل کیږی مګر په قدرت الهی تاثیر یه پرزه وغیره طاری سی نوځکه روژه نه په ماتیږی، ددی تاثیر مثال په حدیث صحیح کی چې بخاری وغیره روایت کړی دی موجود دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم صحابه رض امر کړه چې تاسی وترنی استمار، چې پښتو یه لنډی ټولی، اوذوالطفتین ما چې پرسر دوی ۲ لیکی لری، اوعلیه الصلوٰة والسلام وفرمائیله، چې دا دوه حاملی بنځی ته یوکړی وګوری حمل په اچوی، اودسړی ستر ګوته چې وګوری سړی په ستر ګو ریږدوی، نودا بیخی ظاهره خبره ده چې دا تاثیر په قدرت کامله الهی پورې مربوط دی وبس،

مقدمه سادسه: پیچکاری په قدیم زمانه کی د مجتهدینو هیڅ وجود نه درلودی بلکه د شروح قدیمه د فقه شریفی لکه هدایه وغیره، اوپه زمانه د متونو قدیمه ووکی لکه کنز اوقدوری وغیرهما اودفتاوی قدیمه لکه شامی، عالمګیری وغیرهما یه هم هیڅ وجود نه لری، اودغه رنګه په زمانو کی د قدیم حکماو ووکه ابن سیناء جالینوس وغیرهما هم پیچکاری وجود نه لری، نوځکه چې د پیچکاری دروژی ماتولو حواله پردغو کتابو ورکوی هغه حوالې تمولی غلطی دی،

مقدمه سابعه: بعض کسان چې خپلی خبری په بلند آواز کوی اودبل خبره نه اوری هغه وائی چې دامه ټپ یاد جائفه ټپ په لنده دواسره بالاتفاق اوپه وچه دواء سره علی الاختلاف روژه ماتیږی نو پیچکاری هم ددغه قسمه څخه ده، داقیاس ددوی مع الفارق دی ولی چې تاپه اوله

مقدمه کی دامنه اوجائنه تپ کمال با التفصیل و پیژندی، اومطلق پیچکاری پرهغونه قیاسیږی

مقدمه ثامنه: درویش یو لویه ورقه ولیده دفتوی چی دیری امضاوی او مهروونه هم پاندی وهغه چی ما مطالعه کړه فقط دمفسدانتو دروژی د مختلفوفتا واوو څخه عبارات راانقل کړی وچی په هغومفسدانتو کی دپیچکاری نه عین وو اوته اثر اوپه اخیرکی یه ئی تفریع دروژی ماتولود پیچکاری پرکړی وه، اودغه رنګه دقانون دشیخ دابن سیناء په حواله وغیره نقلونه کړی وه، چی دمقام سره به ئی هیڅ رابطه نه درلوده: اذا عرفت هذه المقدمات .. نئو.....

یوه سرچی پیچکاری پرځوقسمه ده

یوقسم چی اصطلاح کی سیرم ورته وائی اودلاسو یا د پښود غټو رګوپه ذریعه ترزریق کیږی په هغه پیچکاری کی شک نشته چی جوف اونس ته رسیږی، ولی چی بعض مریضان چی غټ غټ عملیات او آپریشنونه دا کپتران ورکړی دیری وړځی هغه ته خورکی شی نه ورکوی بلکه داغه سیرم ورکوی چی دمریض کامله غذا پیدا کیږی یعنی نه وږی کیږی اونه تږی کیږی، نوداظاهره خبره ده چی دغه رګونه چی سیرم په کښی وو لګوی بالذات یا بالواسطه معدی ته سیرم نقل کوی، نوروژه پاتیږی

اوبل قسم پیچکاری دبعض ناجوړ یودیاړه اویاد طاقت دیاړه، اویاد بعض درد ودیاړه په یورګ کی دلاس وهل کیږی، دغه پیچکاری امکان لری چی په جریان دوینودی وکښ اویاد ماغ ته ورسیږی نوکه څوم دارسیدل خوتقینی نه دی اوروژه په صرف شک نه ماتیږی خوغلبه ظن نه وی لکن دیاړه داحتیاط دی روژه اتی ددغه قسم پیچکاریو څخه ډډه وکړی، اوبل قسم پیچکاری صرف په عضله کی ترزریق کیږی چی هغوم داسی عضله وی چی هلته غټ رګونه بیخی نه وی، لکه دلاس موټ اویا کنډاته په هغی سره روژه نه ماتیږی ۰

فائده: دهغی پیچکاری فائده صرف اوصرف په تاثیرده نه په انتقال ددواء، بعض ناپوهکسان وائی چی بعض ددغوستنو و بدن ته طاقت ورکوی، نوولی روژه نه په ماتیږی

جواب: ورکول دروژاتی وبدن ته خوروژه ماتوونکی نه دی، ولی چی دخارج څخه قسم دننګړی په شکل ددواء چه کاله راځی چی هغه څوک چی ئی تراس وتړی نودوینی جریان یه یه

بدن کی نوره مالوی، اوبدن ته دپرطاقت ورکوی، آیا که دغه ډنګړی روژاتی تراس کړی، نوروژه یه په ماتیږی، اودغه رنګه روژاتی که دډیری تندی څخه وحالت ته دضعف رسیدلی وی، اوبیا دی په والله کی کښینی اواوبه پرسره واچوی، اوضعف د تندی یه په قوت بدلسی، نوروژه یه ماته سوه، لا ۰ بلکه دمخه تیره سوه چی پرمذهب دامام ابویوسف په ورته کاروکی کراهت هم نشته، اونورالایضاح هم داغه صحیح ګنړلی دی، اوامام طحطاوی په هغه ځای کی دامام اعظم وه دلیل ته دکراهت په نسبه پوری جواب ورکړی دی،، واللہ اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب

ګرانو خواننده ګانو وه فقیر فکر په باره کی دپیچکاریو، لکن بیا هم چی هرعالم خپلی نظریه ته آزادی دی

فائده: «دډرویش مسئلی په کتابوکی د یاړه دتذلیل دعلماوونه دی بلکه دیاړه داظهار د خپل نظر دی اونه دی دیاړه چی علماء دی نړماسره تحریری، یا شفاهی مناظره او بحث وکړی، البته خپله رایه وخلګوته بیانولای سی، اوکی نړمارایه غلطه په فکر کی ورغله نسبت دغلط ورته کولای سی، لکن دجنګ امیزه خبرو څخه دی ډډه کوی ولی چی: جزاء سیئة سیئة بمثلها،

معارف القرآن

پشتو

کتبه
احقر الانام وفضل المنعم الملک العلام
بتسلیه عفیه

بشاریخ کاهنی کوئټه

مکتبة القراءة والتجوید

فصل فی العوارض

دافصل دی په بیان کی د عوارضو چې خوړك د روژې د سرې نه روا کوی، چې هغه سفر، او مرض، او یاد چا د خوا پر روژه نه نیولو مجبور کول، او حمل د نبځې چې پر ځپلې یه بیرېدی، او رضاع، لوږه، او تنده، او کلان سالی ده چې هرم یه بولي، چې دا ټوله به په دی فصل کی مفصل، راسی ان شاء الله تعالیٰ

پوه سه: چې عوارض جمع د عارض ده، عارض ور ښځې ته وایي: هذا عارض ممطرنا، اوښ ته اوی ته هم وایي، او یار خوته هم وایي، او افته ته هم وائی، ط: قال المصنف:

لمن خاف المرض أو بطأ البرء

پوه سه: دا عبارت او وروسته نور عبارتونه مبتدا ده خبر یې وروسته راځي، که څوك بیرېدی پر زیاتوالی د مرض او یا د زیاتوالی د زمانی د نا جوړېدو، **پوه سه:** چې په بحر رائق کی او طحطاوی کی وائی چې دا خوف په اجتهاد پورې د مریض اړه لري، چې غلبة الظن ته ورسیږي، د علاماتو د لاري، یا د تجربې د لاري، او یا په اخبارد طبیب چې مسلمان وی او ظاهر الفسق نه وي او بعض فقهاء یه عدالت شرط بولي نفس توهم اعتبار نه لري نو سړی ته په دغو دوو عذرونو روژه نه نیول روا دی،

مسئله یوغازی چې په غزا کی وی یقیناً پوهیدی چې جنګ به شروع سی، او یا په غلبة الظن پوهیدی، ولې چې اول صف کی د دښمن په مقابل کی وو، او دی بیریدی که نه روژه ونیسم نو د جنګ څخه به ضعیفه سم، نو ده ته روژه نه نیول یا ماتول د روژې د مخه ترجنګ «م»،

مسئله: که نبځې د بیرې د حیض په بناء د عادت د دې، او یا یو سړی نوبتی تبې کیدلی او تبې به واړي وو، نو د غو د واړو نیولو روژه ماته کړه، نو که حیض نبځې ته ور غلی یا پر سړي تبه راغله خو کار خلاص سو، او که داد واړه عذرونه پیښ نه سوه په کفاره کی اختلافی دی صحیح دا ده چې کفاره نسته باندی، «م د»،

مسئله که د روژې ۳۰ ورځ وه او خلګو روژه وه نا ببره تګلان وسوه یا دوی وو هل سو د خلګو د اخیال سو چې اختر سو نو به روژه ماته کړه و روسته معلومه سوه چې تګلان او دوی دواړه د پاره وو مثلاً کفاره پر دوی نسته «د ر م»،

ســه خزانة الفقه وکنبل ایوب :: بیا خوشخط ولیکل خوار حقانی،

قال المصنف

ولحامل ومرضع خافت على نفسها نسبا كان أو رضاعا

او د هغه رنګه فطر روا دی نبځې ته چې حمل یه په نفس وی او یا کشنی ته ئی ورکوی، او دا بیرېدی پر ځپل ځان یعنی یا د مرض څخه بیرېدی مرګ څخه یا نقصان العقل څخه، خواږی ورکول یه د نسب دلاری چې د کشنی مور وی او یا دا ئې وی یعنی بیګانه نبځه وي، **مسئله** که مسلمان طبیب د مرضعې ته وویل چې د هغې د کشنی نفس ناسته کیده چې ته د غه دوا د وره څې مثلاً یا دری واړه وچیبنه نو د نو د کشنی نفس ناسته به دی جوړ سی، نو دی ته روژه ماتوول روا دی په سبب د دغه عذر، قال علیه الصلوٰة والسلام: إن الله وضع عن المسافر الصوم وشطر الصلوٰة، وعن الحبلى والمرضع الصوم، قال المصنف:

والعذر المعتبر ما كان مستندا لغلبة الظن بتجربة أو

او هغه عذر چې معتبر دی یعنی په دی باب کی هغه دی چې تکیه وی پر غلبه ظن یا په د مخه تجربه سره او یا په

إخبار طبيب مسلم حاذق عدل

اخبار د طبیب چې مسلمان وی او عادل وي، او په طبابت کی ماهر

ولمن حصل له عطش شديد أو جوع يخاف منه الهلاك

او د هغه رنګه روژه ماتوول روا دی هغه چا لره چې پیدا سی وده ته سخته تنده او یا سخته لوږه چې بیرېدی د مرګ څخه یعنی په سبب د لوږې یا تندی **پوه سه** چې قهستانی وائی چې حر سړی چې د چا مزدور وی یا مرئی د چا او یا هغه سړی چې والده یه کاره وله چې سخته ګرمی وه چې د تندی د سبب د ځان پر هلاك وبیرېدی نو ده ته روژه ماتوول روا دی او یا حره ښځه وه یا منیځه وه چې په سبب د ډیرې په خولو او یا د کالی د پریولو په سبب تنده ډیره پر غالب سوه روژه ماتوول ورته روا دی، خ، ط، **مسئله** که سړی روژاتی پر خپل ځان ډیر تکلیف راوستلی وو چې په هغه سبب د ده تنده مهلکه پیښه سوه نکه

نکه یو خوك چې په روژه کې د یرد غنمو لو وکړي یا غوښې، وامثال ذالک روژه ماتول خو ورته روادی لکن کفاره باندی سته پرظاهر روایت اولبعض فقهاء وائی چې کفاره نسته باندی ۱۲ مطر

قال المصنف: **وَلِلْمُسَافِرِ الْفِطْرُ وَصَوْمُهُ أَحَبُّ** اوروا ده مسافر لره د روژی خوړلو اوروژه

یه پریښه ده **پوه سه** چې مراد د مسافر څخه هغه سړی دی چې تر سپیدو د مخه یه سفر شروع کړې وی، نو وده ته روژه خوړل اونیولو واړه روادی، اوکه چیری د روژې نیت کړی وو مګر روسته یه وړځ کې سفر شروع کړی هغه ته روژه ماتول نه دی روا مګر هغه وخت چې یو نوی عذر ورپیښ سې،

قال المصنف: **إِنْ لَمْ يَضُرَّهُ وَلَمْ يَكُنْ عَامَّةُ رُفْقَتِهِ مُفْطِرِينَ وَلَا**

اودا روژه نیول هلته افضل دی مسافر لره کرده ته روژه نیولو ضرر نه کاوه، یعنی مطلق ضرر نه هغه ضرر چې

مُشْتَرِكِينَ فِي النَّفَقَةِ فَإِنْ كَانُوا مُشْتَرِكِينَ أَوْ مُفْطِرِينَ

بیره د هلاکت په کښې وی ولی که بیره د هلاك وه په سبب د روژې بیا خو افطار یعنی روژه خوړل واجب دی

فَالْأَفْضَلُ فِطْرُهُ مُوَافَقَةً لِلْجَمَاعَةِ نه افضل اول دا چې اکثر انو یوالی

نه وی، اونه دوی تول انو یوالی په اندازا وخرځ کې سره شریکان نه وه، اوکه چیری لږ کسان د انو یوالی یه خوړلو کې د روژې وه او ډیر یه روژا تیان وه، بیا نو فطر افضل دی، اوکه چیری دوی تول انو یوالی پخرځ کې سره شریکان وه، اویا اکثره او ډیر ملګري یه روژه خوړلو کې وه بیا نو افضل دا ده چې روژه خوړل دی، دې اړه د موافقت د جماعت سره د ملګرو د سفر

پوه سه: چې صاحب البحر په صورت کې د شرکت فی النفقه علت او دلیل د افضلیت د فطر د اویلی دی چې په روژه نیولو کې خو د ډیر تاوان د مال دی تاوان د مال لکه تاوان د سړي د ځان دی، لکن مصنف د دواړو مسئلو دلیل موافقة للجماعة وو ایه، ولې چې دلیل د بحر والا صاحب النهر رد کړی دی، او وائی چې ممکنه ده چې د هغه سړي دی سخی اوجوا نمرد وی په

تاوان د مال دی باك نه کیږی، حاصل د کلام دا دی چې په سفر کې روژه خوړل رخصت دی، او روژه نیول عزیمت دی، نو عمل په عزیمت سو اولی دی، که چیری دا مذکوره عذرونه نسته وه،

مسئله: په نیزد حنیفیانو په سفر کې قصد لمانځه او خوړل د روژې هغه سړي ته هم شامل دی چې سفر یې د پاره د معصیت وی لکه یو سړی چې په غلا پسې سفر کوی، لکه هغه چا ته چې شامل دی چې سفر یې د امر مباح د پاره وی لکه سیاحت، اویا د طاعت د پاره وی لکه سفر د حج مثلاً، د عذر د

قال المصنف: **وَلَا يَجِبُ الْإِيصَاءُ عَلَى مَنْ مَاتَ قَبْلَ زَوَالِ عُذْرِهِ بِسَفَرٍ**

اونه ده واجب وصیت کول پرهغه چا چې د مرګ سره مخامخ سې د مخ ترڅو زوال د عذر ځنې چې سفر وو

وَمَرَضٍ وَنَحْوِهِ كَمَا تَقَدَّمَ اویا مرض اویا مثل د هغه یوه د سفر او مریض والی لکه چې د مخه تیره سوه یعنی هغه عذرونه چې

روا کوونکی وه د روژې د خوړلو، ولې پرد غه مړی د غه خوړلی روژې لازمې نه دی، د دی کبله چې ده نوری ورځې نه دی پیدا کړی او خدای جل شانه وائی: **فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ**، قال المصنف:

وَقَضَوْا مَا قَدَرُوا عَلَى قَضَائِهِ بِقَدْرِ الْإِقَامَةِ وَالصِّحَّةِ

یعنی که د سړي سفر وو پای ته ورسیدی او یا یه صحت پیدا کړی او یا بل عذر وو هغه زایل سو، نو د هغه کسان به قضاء راوړی د هغو روژو چې دوی قدرت پرپیدا کړی په قدر د اقامت که مسافر وو او روژې ئی خوړلی وه او یا جوړ سو که مریض وو او روژې ئی خوړلی وه. او کې قضاء نه وه راوړی پرده باندی په وخت کې د مرګ وصیت د فدیه ورکولو واجب دی،

مسئله: که مړی وصیت د فدیې د روژو مثلاً وکړی، نو د اوصیت دده د درېیمې څخه د مال دده نافذ دی که وارث درلودی، او که وارث نه وو، نو وصیت به د ټولې مال څخه چلیږی، د ابتوله علته چې پرمړی پور نه وی باندی او که پور پرې باندی وو که ټوله مال یې په پور کې ولاړې نو دده وصیت لغوه سو الا ان یتبرع به الوارث، او که د پور څخه مال پاته سو بیا دده وصیت د درېیمې

څخه د مابقی چلیږی کی وارث د ګرلودی، اوکی نه د ګرلودی بیاد تولد مابقی بعد الدین څخه چلیږی،

مسئله: که مړی وارث او قریب د مړی څوا څخه روژه ونسی یا د مړی قضائی لمونځونه راوګرځوی په هغه د مړی غاړی نه خلاصیږی لقوله علیه السلام: لَا یَصُوْمُ اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ وَلَا یُصَلِّیْ اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ» س، د، ط، ه،

قال المصنف: **وَلَا یَجِبُ التَّتَابُعُ فِی الْقَضَاءِ** او شرط نه دی

والی د قضائی روژو، ولی چی خدای پاک مطلق وئیلی دی، فَعِدَّةٌ مِّنْ اَیَّامٍ اُخَرَ، او متابع قید یه نه دی وئیلی، لکن بیاهم عند المقدرة مبادرة وقضائی روژو ته او متابع دهغو مستحب دی مبادرة الی فعل الخیر، وبراءة الذمة،

فائده: په څلورو قسمو روژو کی متابع واجبه ده په نص قرآنی ۱ اداء رمضان ۲ کفارة الظهار ۳ فدیة الیمین بالله ۴ کفارة القتل الخطاء، اوکومو چی وده ته اختیار دی که متابع کوی اوکه نه! هغه قضاء د رمضان ده، روژی په سبب د سر خړیلو د محرم الحج والعمرة په سبب د عذر، اوروژی د متمتع الحج والقران، اوروژی د جزاء الصید په حرم کی، اودریمه قسمه روژی خو په قران مبارک کی نه دی ذکر سوی په احادیث صحیحه ووسره ثابته دی یو قسم روژی د ماتولو د روژی د رمضان په قصد سره چی په هغوکی متابع شرط ده، اونفلی روژی یا نذری روژی په هغوکی متابع شرط نه ده، ط، د، ه،

ابیات

بقبرستان نظر کردم صباحی ؛

ازانها می شنیدم یک صدائی ؛ گلان کلهها در خاک میگفت ؛ همین دنیا نمی آرزد بکاهی ؛ غرض تعمیست کز ما یاد ماند ؛

گر هستی را نمی بینم بقائی ؛ نگهدار جمیلی روزی برحمت ؛ کند درحق این مسکین دعائی ؛ ندارد توشه راه قیامت ؛

بجز شرمندگی در روسیاهی ؛ ندارد طاعتا مقبول درگاه ؛ بجز اشک ندامت آه آهی ؛ بحق حرمت فرقان اعظم ؛

مرا از ذنب خود کن عذرخواهی ؛ شفیع آورده ام روی محمد ؛ کرم کن بر من گم کرده راهی ؛

اعتذار ؛ اهبل النمل من خلوص وداد ؛ لسلیمان نصف رجل جراد ؛

قائلا ذا لک منتهی جهدی ؛ والهدایا بقدر من یهدی ؛

احب الصالحین ولست منهم ؛ لعل الله یرزقنی صلاحا ؛

درباب تقلید وحذر از لامذهب

حق شده مذهب امام چهار ؛ رهروان ره شه ابرار ؛ خدمت دین احمدی مرسلم ؛ کرد هریک برون ز حد و شمار ؛

گفت هریک که چون حدیث نبی ؛ یابی آنجا تو قول ما بگذار ؛ کین همه سعی ما بدین نبی است ؛ بهر ان عمر کرده ایم نثار ؛

جامعان حدیث مرسل پاک ؛ چون بخاری و مسلم احرار ؛ ابن ماجه نسائی وطائی ؛ ترمذی بیهقی اولی الابصار ؛

هم طحاوی حافظ عینی ؛ دارقطنی جامع اضمار ؛ حافظ داری ابوداؤد ؛ بود تقلید نزد شان مختار ؛

اتباع چنین ائمه کن ؛ گوش را نه بدین نوا کیار ؛ که بتقلید هست سنت اوت ؛ بهتر از هر اداست سر دولت ؛

آئے تھے ہم بلبل سیر گلشن کر چلے ؛ دیکھ مالی باغ اپنا ہم تو اپنا گھر چلے ؛

دا لاان چی پر همه وو مخکو اوری ؛ مشرف فی کی دا ذات دکیمیا وَلی ؛

ملامت پر عبید مه کوه بی حرمته ؛ خپله سعیه یه مبذول کړه د خدمته ؛

که دعا نه راته کړی د خپل حسده ؛ بد گوئی هم مه کوه ای بی عزته ؛

قال المصنف: **فَاِنْ جَاءَ رَمَضَانُ اٰخَرَ قَدَّمَ عَلَی الْقَضَاءِ وَلَا فِدْیَةَ**

نو کچیری راغله بله میاشت د روژی یعنی پرسری د تیری میاشتی د روژی قضائی باندی وی په

بِالتَّاخِیْرِ اِلَیْهِ نود روژی د میاشتی روژی دی پر قضائی روژو د مخه کړی یعنی شرعًا

د هغه حکم دی حتی که سړی د روژی په میاشتی کی د قضائی نیت وکړی

هغه د ده نیت لغوه دی او روژه یه د دی میاشتی روژه ده، او نسته پر د غه سړی فدیه د قضائی

روژو بلکه د روسته تر روژی به قضائی روژی نسی، وعلم جزا، قال المصنف:

وَیَجُوْزُ اَلْفِطْرُ لِشَیْخٍ فَانٍ وَعَجُوْزَةٍ فَانِیَةٍ او د واده روژه

خوړلو ونرته چی شیخ فانی وی او بنځی ته چی پیرښی فانیه وی، سپین زیری یا سپین سری ته چی شیخ فان وائی پر دی سبب چی نزدی وی وفنا او مرګ ته، نو مجازدی په اعتبار د مایئول الیه لکه په دی ایت کی: اِنِّیْ اَعْصِرُ خَمْرًا، ای عِنَبًا، او یا په دی اعتبار چی قوت د ده ختم سوی دی نو بیا د غه

لفظ حقیقت دی» مر، ط، در،

مسئله: یوسړی کړداسی مریض ووچې د صحت څرګنې امید قطع سړی وو لیعنی دومره وړځې چې د قضائی روژې په کښی ړ اوګرځوی، نوپه ترونډ دی فدیه ورکړی

مسئله: کړیوسړی د سبیه د پیرۍ ګرمۍ پر روژه نیولو قادر نه وو نو روژه دی خوړی اویا په ترمی دی قضاء ړاوړی «کذا قال الامام الطحطاوی». **یوه سله:** چې د شیخ فانی دپاره معلومه کلونه اوسن نه دی تباکل سوی ولی چې په بدنوکی دانسانانو فرق سته بلکه مدار پردی دی چې په سبب د کلاني سالی پرده روژه نیولو پیر بوجه وی، اوپه بعض روایاتوکی چې د ۹۰ کالهبن وشیخ فانی ته تباکل سوی دی هغه ته اعتبار نشته، قال المصنف:

وتلزمهما الفدية لكل يوم نصف صاع من بر

او لازمه ده پردوی دوو فدیه دهری وړځی دپاره نیمه کاسه د غنمو، یعنی یا قیمت د نیمی کاسې.

مسئله: د شیخ فانی خوښه ده که دا فدیه په اول کی د روژې ورکوی اوکه په اخیر کی، لکن په شرط دی چې دا عجز د دوی به ترمرګ پورې پاته وی، اوکې ورو سته ضعف قطعه سو اوپس روژه نیولو قادر سو بیا بې قضاء ړاوړی کی څرګنه فدیه ورکړی وی، مر، ط، در،

مسئله: کړسړی مسافر وو او روژې ئی خوړلې وی اوپه هغه سفر کی مړسو پرده باندې فدیه د هغو روژو لازمه نه ده، نوف صیت هم نه غواړی اوکه مقیم سو یو څو ورځې مګر قضاء ده روژه فدیه نه ړاوړه نود هغو ورځو فدیه پرلازمه ده نوبه وصیت په فدیه سره کوی قال المصنف:

كمن نذر صوم الأبد فضعف عنه لاشتغاله بالمعيشة

لکه هغه څوک چې به فدیه ورکوی چې نذر کړی ئی وی پرخپل ځان ابدی

يفطر ويفدي روژه یعنی په تولو ترونډ کی خپل اویا ضعیف سی د همیشه روژه نیولو څخه په سبب د دې چې د ترونډ د معیشت په کاروبار اخته وی، یعنی د غه سړی پرهم روژه خوړی او فدیه به ورکوی، ولی چې دی پر قضاء یقیناً نه دی قادر، ولی چې د ده تولو ترونډ څو

د نذری روژو دی نو قضائی روژې به څرنګه وکړی» قال المصنف:

فإن لم يقدر على الفدية لعسرته يستغفر الله تعالى و

اوکه قادر نه وو د غربسړی چې فدیه پرلازمه وه یعنی شیخ فانی اویا د صوم الابد

يستقيله نذر والا، پرفدیه باندې په سبب د مسکنت نو دې دی طلب د مغفرت کوی یعنی همیشه کمایدل علیه صیغة المضارع او طلب د عفوی دی کوی د خدائ څخه چې د ده څخه تقصیر وسو په حقوقو کی د خدائ» قال المصنف:

ولو وجبت عليه كفارة يمين أو قتل أو ظهار أو افطار عمدا فلم يجد

اوکه پرسړی واجبه وه کفاره د قسم اویا د قتل خطاء، یا کفاره د ظهار اویا د روژې په قصد خوړلو کفاره

ما يكفر منه من عتق وهو شيخ فان أو لم يصم حتى

اونه ئی درلودی د کفاری شی چې ازاد یده د مړۍ دی، یعنی د اطعام اوکسوت طاقت یه هم نه وو اودی شیخ فانی هم وو یعنی چې د روژې نیولو توان یه هم

صار فانيا لا يجوز له الفدية نذر درلودی، او یا یه په اول کی خو یه طاقت د روژې درلودی لکن روژې یه نه ونیولی حتی چې شیخ فانی سو، نوده ته فدیه ورکول نه دی روا په دې دلیل چې قال

لأن الصوم هناك بدل عن غيره المصنف ولی چې روژه په د غو صومونو کی خو بدل د بل شی ده، چې هغه کفاره مالیه ده، د دی سببه چې په روژه کفاره د د غو کارونه سی ورکولای تر خو چې ده کفاره مالیه څخه نه وی عاجزه سوی» د رد المحتار، د ذکر شوی مسئلو د دی چې کومځای چې روژه اصل او مستقل وی لکه د شیخ فانی روژه اویا د نذر ابدی والا روژه، نو چې دی عاجزه د روژو څخه، نو فدیه ورکول ورته روا دی. اوپه کومو ځایونو کی چې روژه بدل د کفاره مالی وی لکه په پورته مذکوره اخیرۍ ځایونو کی، نوپه نیز د عجز د روژې څخه فدیه نه ده.

وکړوا بلکه ده له بې استغفاره اوطلب دعفوی درب العزت بله چاره نشته « اللهم اغفر ذنوبنا وتقصيرنا في اوامرك وهجومنا على معصيتك » قال المصنف ؒ

وَيَجُوزُ ٱلفِطرُ لِلمُتَطَوِّعِ بِلَا عُذرٍ فِي رِوَايَةٍ

اوروادی نفلی روژی والا له ماتول دروژی بیله عذره په یوه روایت کی چې هغه روایت دامام ابی یوسف ؒ دی، لکن ظاهر روایت دادی چې دده فطر بیله عذره روا نه دی، اوحیط والاهم دغه ظاهر الروایت صحیح بللی دی. **سوال**: مصنف ؒ ولې غیر ظاهر الروایت ذکر کړی **جواب**: څرنګه چې په صحیح حدیث کی راغلی دی چې: المتطوع امیر نفسه « یعنی که روژه خوری اوکی پوره کوی، نوپه اعتبار دد لیل دا روایت قوی دی نوځکه یې ذکر کړی اوهم ددی سبب محقق ابن الهمام ؒ صاحب دفتح القدیر ارروایت مختار ګرځولی دی» قال المصنف ؒ

وَالضِّيَافَةُ عُذرٌ لِلضَّيفِ وَالمُضِيفِ وَلَهُ البِشَارَةُ بِهٰذِهِ ٱلفَائِدَةِ ٱلجَلِيلَةِ

اومیلمستیا عذر دی هم میلمه لپاره اوما تووونکی لره دروژی په دغه عذر سره نږدی سته په دغه فائده جلیله کی، ولې په حدیث شریف کی راغلی دی « مَنْ أَفْطَرَ لِحَقِّ اخِيهِ يُكْتَبُ لَهُ ثَوَابُ صَوْمِ الْفِ يَوْمٍ وَمَتَى قَضَى يَوْمًا كُتِبَ لَهُ ثَوَابُ صَوْمِ الْفِ يَوْمٍ » اوداحدیث په تاتارخانیه اومحیط، اومبسوط کی نقل سوی دی، اوپه تجنیس اومزید کی وائی که یوسړی دسحار دخوا روژه نفلی نیولی وه بیاده ته یواشنای دشناخته ګانو څخه راغلی اووده ته یې ووایل چې روژه ماته کړه: لَا بَأْسَ بِأَنْ يَفْعَلَ ثُمَّ ذَكَرَ بِهٰذَا الْحَدِيثِ »

فائده: په فدیه کی دوه ورځې اباحت یعنی میلمستیا دوې ورځې دوه ورځې چې دمړ ښتیا وی روادی لکه تملیک چې روادی »

فائده: هغه مالی کار چې په لفظ د اطعام راغلی وی لکه فدیه اوکفاره د ظهار اود مفطر د روژی، فاطعام ستین مسکینا، اویا په لفظ د طعام لکه جزاء د صید مقتول فی الحرم اوالاحرام» قال عزوجل: اوکفاره طعام مساکین » په هغه کفارو کی تملیک اواباحت دواړه روا

دی اوچې په لفظ د ایتاء راغلی وی لکه زکوٰة: قال الله تعالیٰ: وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ » یا په لفظ د اداء راغلی وی لکه په سرسایه کی: قال علیه السلام: أَدُّوا عَنْ كُلِّ حُرٍّ » الحدیث » په هغه کی تملیک شرط دی اباحت کافی نه دی » مر، ط، در »

پوښتنه: ماتول دروژی یا فاسدول د لما نځ چې دواړه نفلی وی بیله عذره ښایسته حرام وای: لقوله تعالیٰ: وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ » **جواب**: چونکه دا ایت مبارکه که څرګنده قطعی الثبوت دی، لکن قطعی الدلالة نه دی پر عدم الابطال الظاهر یعنی فاسدول ولې معنا دایت دی داوی. وَاللهُ أَعْلَمُ » چې تاسی مړبا طلوی ثواب د عملو په سبب دریا او نمی نوحرمت خونه په ثابتیږی البته ماتول او فاسدول بیله عذره مکروه دی اوکه عذر وو بیا کراهت هرګنده اتفاقًا. **مسئله**: ضیافت عذر دی لکن قبل الزوال اوبیله زوال بیا روژه ماتول نه دی روا » مګر هغه وخت که په نه ماتولو کی عقوق د احد الوالدین راتی بیا بیله زواله یې هم ماتول ورته روادی. **مسئله**: کهسړی ووئیله چې پرما دی ماینه طلاق سی چې زه به خپله روژه نفلی ماتوم نوصحیح مذهب دادی چې روژه دی ماته کړی ولو بعد الزوال **سوال**: مصنف ؒ ووئیله چې ضیافت عذر دی یعنی نفلی روژه ماتوی اوسره ددی چې په حدیث صحیح کی داسی راغلی دی: إِذَا دُعِيَ احدكم الى طعام فليجب » کهخوك وَبلل سوو دوی ته دعوت دی قبول کړی: فَإِنْ كَانَ مفطرًا فَلْيَاكُلْ وان كان صائمًا فَلْيُصَلِّ » نوکی روژه خو دوی به وخوړی اوکی روژه وه هوری دی نفل وکړی، نوددی حدیث معنا اومفاد خو دادی چې روژه دی نه ماتوی،

جواب: حدیث محمول پردی دی چې دمضیف خوا نه بدیږی چې میلمه روژه نه کی ماته اوعبارت دمصنف ؒ محمول پردې دی چې دمضیف خوا بدیږی، وهذا من سوانح الوقت **پوښتنه**: چې فرضی روژی که ادائی وی اوکه قضائی وی اود غږ سره د نذری روژی ماتول که دچا خوا بدیږی اوکه نه نږدی روا کذا فی شرح الجامع الصغیر للسیوطی ؒ ذکره الطحطاوی ؒ » قال المصنف ؒ

وَإِذَا أَفطَرَ عَلَى أَيِّ حَالٍ فَعَلَيهِ ٱلقَضَاءُ

اوکی نفلی روژه ماته کړه په هرصورت سره چې وی

یعنی کر عذر وی اوکه نه نو پرده، قضاء لازمه دَه، نود الکه نفلی لمونځ چی سړی فاسد کړی

إِلَّا إِذَا شَرَعَ مُتَطَوِّعًا فِي خَمْسَةِ أَيَّامٍ يَوْمَيِ الْعِيدَيْنِ

مګر چه وخت قضاء نسته کی شروع وکړه په نفلی روژه کی په پنځو ورځو کی دکال چی ایام منهیه یه بولی

وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ فَلَا يَلْزَمُهُ قَضَاؤُهَا بِإِفْسَادِهَا

چی دوئی، اختر ورځی دی اودریځ ورځی دی ترلوی اختر وروسته ورځی دی ترلوی اختر وروسته چی ایام التشریق یعنی بولی

فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَاللهُ أَعْلَمُ

ولی چی په دی پنځو کی چی نفلی روژه سړی ونسی اوبیایه فاسده کړی قضاء باندی نسته په ظاهر روایت کی، اوخدای پاک ډیر سبه خبردار دَی،

پوه سه: چی امام ابویوسفؒ اوامام محمدؒ وائی چی پرد غه سړی خو افطار واجب دی للنهی عن الصوم فیها، اوقضاء هم پرواجب ده، ولی چی شروع په نفلو یه وکړه، امام اعظمؒ وائی چی قضاء به هلته وائی چی ده تقصیر کړی وای په ماتولو کی دَروژی، اوسره ددی چی دی مقصر نه دی بلکه افساد پرواجب دَی،

حضرت ایوبی ته

خدای دی وساتة له هره مشکلاته
نا روغی اود هغه آفاته

داد عا درته هر یو مسلمان تل کړی
حقانی هم داد عا کړی آقا تاته

دخوار حقانی په قلم ولیکل سو

باب ما یلزم الوفاء به من منذور الصوم والصلوة ونحوهما

داباب دی په بیان کی دهغه عمل چی پرسړی وفاء په کول لازمیږی چی نذر یی روژه وی اویا لمونځ اویا مثل دهغوی. قال المصنف:

إِذَا نَذَرَ شَيْئًا لَزِمَهُ الْوَفَاءُ بِهِ إِذَا اجْتَمَعَ فِيهِ ثَلَاثَةُ شُرُوطٍ

کر چا نذر کړه پرځان باندی یوشی، نو پرده وفاء په هغه سره لازمه ده که په دی نذر کی دری شرطه موجود وه. قال الله تعالی: وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ، والامر المطلق للوجوب کما تقرر فی اصول الفقه وروی البخاریؒ: ان علیه الصلوة والسلام قال... مَنْ نذر ان یطیع الله فلیطعه ومن نذر ان یعصی الله فلا یعصیه، وایضا قد اجمع الامة المرحومة علی الایفاء بالنذر، نود دی کبله بعض فقهاءؒ وائی چی ایفاء په نذر سره فرض ده، مړ در، علامه اکملؒ اونور فقهاء هم وفرضیت ته تللی دی، امام طحطاویؒ وائی چی قول په وجوب دایفاء بالنذر اوفرضیت ده، هغه دوه قوله دی چی هر یو ته ترجیح دفقهاءؒ دخوا ورکړه سوی ده، قال المصنف:

أَنْ يَكُونَ مِنْ جِنْسِهِ وَاجِبٌ

یوشرط په منذور کی دادی چی دده د جنسه څخه به واجب وی یعنی د طرفه د خدائ یعنی واجب اصالةً لا تبعًا نو ځکه نذر په اوداسه سره یا په قرائت د قرآن پاک نه دی صحیح ولی چی په تبع دلما نځه واجب دَی یعنی فرض دی، **سوال**: نذر د اعتکاف صحیح دی اوسره دی چی د خدائ دخوا شئی من جنسه فرض نسته، **جواب**: د اعتکاف معنا لبث دی اوده د جنسه څخه فرض لبث موجود دی چی هم اصلی دَی، چی وقوف په لما نځ کی دی،

فائدة سنية: ذکرها صاحب الکفایه، د رویش وائی چی صاحب الکفایه، د شرط اول په باب کی یوه زیبا فائده راوړی ده، چی اصل په صحت کی د نذر داده چی منذور به د جانبه څخه د خدائ واجب اوفرض نه وی، کما سیأتی، نو بناءً علیه د صلوات څخه وو

یا د شهر رمضان د روژې نذر صحیح نه دی، لکن د جنسه څخه د منذور به واجب او فرض عبادات
د خدای جل وعلی د خوا موجود وي، او هغه واجب به هم اصلي واجب وي یعنی تبعي برنه وي
کما مر عن قریب، د دې خبرې دلیل دا دی چې عبادات الهیه باید په اندازه د انعامات الهیه وي، ولا د پاره
شکرها، لکن چونکه نعمتونه د خدای پر بنده ګانو په پوره لحظه کې د حیات متواتر او متتابع او نکاثر
وه او بنده نشي کولای چې دائم الاوقات په عباداتو کې د خدای مشغول وي، من جهة توافر
الضروریات البشریة فی طول الحیوة، فلاجل هذه الضروریات «خدائ ﷻ پنځه وخته لمونځونه
اویوه میاشت وهکذا الزکوة والحج، دیولو شکرونو په ځای کې وشیله تیسیرا علی العباد» اوس نو
یو بنده چې نذر د یو عبادت پر ځای کوي، ګویا اراده د دې لري چې خپل عبادت منذوره د
عبادت مفروضه ته د خدائ ﷻ د رضا کړي تا چې فی الجمله د خدائ ﷻ شکریه ته دوام ورکړي، او د اقانون
دی چې یوشئ چې خولۍ وبیل شئ ته ورجوته وي، نو ملحق به شئ موجود وي، نو که د جنسه د منذور
عبادت واجب اصلي عبادت د خدائ ﷻ د خوا نه وي موجود «نو خو هغه ملحق به مباح وي، او د مباح
کار نذر نه دی روا، حتی چې نذر د ولاړې یا ناستي یا خوراک وغیره نه دی صحیح، انتهی قول الکنانی
مع کثیر من الزیادة» قال المصنف:

وَاَنْ یَّکُوْنَ مَقْصُوْدًا وَاَنْ یَّکُوْنَ لَیْسَ وَاجِبًا فَلَا یَلْزَمُ

او بل شرط دا دی چې هغه واجب اخر به مقصود وي یعنی اصالتا لا تبعا لغیره نو که او دس چې په سبب د لمانځه

اَلْوُضُوْءُ بِنَذْرِهٖ وَلَا سُجُوْدُ التِّلَاوَةِ وَلَا عِیَادَةُ الْمَرِیْضِ

فرض وي، او بل شرط دا دی چې د غه منذور عبادت بواجب وي د جانب څخه د خدای جل شانه، نو نه لازمیږي
وَلَا الْوَاجِبَاتِ الْاُخَرِ

او دس په نذر کولو سره، ولې دی مقصود لذاته نه دی بلکه شرط د صحت د لمانځه دی مثلاً، او نه سجدة التلاوة په
نذر کولو سره لازمیږي، ولې چې سجدة التلاوة خو خدائ ﷻ دخوا واجب دی، او عیادة المریض په
نذر لازمیږي، ولې چې د جنسه څخه د هغه بل واجب من جانب الله نه دی، او دا قول ظاهر الروایة

دی د امام اعظم د خوا، د ورځې وائي چې خلور شرطونه چې مراعات کړیده چې منذور به محال
نه وي مثال یې دا دی چې ورځې ووائي چې پرما یې نذر چې د صبا د ورځې روژه به نن ورځ
نیسم، هغه ته ضرورت نشته، اذ لیس من شان العاقل نذر المحال. او نه هم لازم دی نذر د
نور واجبا تو، ولې چې هغه د خدائ ﷻ په ایجاب سره واجب دی، او ایجاب د واجب محال دی»، مر،
قال المصنف

وَیَصِحُّ بِالْعِتْقِ وَالْاِعْتِکَافِ

او صحیح دی نذر په عتق د مرئي یا نه مرئي شئ، ولې چې اراد ول د مرئي مثلاً
په کفارا تو کې په اینت سره فرض دی، او صحیح دی نذر د اعتکاف، ولې چې د جنسه د هغه فرضي شئ
سنته په شرع کې چې اخیره نا سته ده، فاصل مکث الاعتکاف موجود فرضا وهو المذکور، فالمعتکف
کالجالس فی الصلوة للقعدة الاخیرة فصح نذره،

مسئله نذر د حج ماشیا صحیح دی، ولې چې نظیر یې په شرع کې سته، ولې چې د چا کور
چې مکې شریفې ته نژدې وي پر هغه حج ماشیا فرض دی، نو د ده نا ذر کور که څه هم لیرې وي مګر نذر یې
صحیح دی لوجود الاصل فی الشرع: **مسئله** نذر د مرئي په اعتکاف سره یا د سړي د مایني
په اعتکاف سره صحیح دی، نو که بادار او میړه اجازه ورکړه خو اداء یې نکړي او که بادار یا میړه اجازه
نه ورکړه بیا لپسله عتقه او د مایني د جلا والي به ئې د واړه قضاء راوړي، قال المصنف

وَالصَّلٰوةِ الْغَیْرِ الْمَفْرُوْضَةِ وَالصَّوْمِ

او د غه رنګه صحیح دی نذر د لمانځه چې فرضي نه وي
یعنی نفلي او د روژې یعنی نفلي، ولې چې د دواړو مثل په شرع کې فرضي سته **مسئله**
نذر د خیرات د نقود و صحیح دی او د غه رنګه نذر د ذبح د حیوان صحیح دی، لوجود مثل الاول
وهو الزکوة ومثل الثانی وهو الاضحیة، قال المصنف:

فَاِنْ تَنْذُرْ نَذْرًا مُطْلَقًا اَوْ مُعَلَّقًا بِالشَّرْطِ وُجِدَ الشَّرْطُ

لَزِمَهُ الْوَفَاءُ بِهٖ

نو که سړي مطلق نذر وکړي، یعنی په شرط سره مربوط نه وو، او یا
مربوط په شرط وو لکه سړي چې ووائي که خدائ ﷻ ماته زوی راکړي

مثلاً پرمایوه میاشت روژی مثلاً نذر دی اوشرط موجود سو، نوپرده با ندی په دواړه صورته کی وفاء بالنذر لازمه ده» قال المصنف:

وَصَحَّ نَذْرُ يَوْمَيِ الْعِيدَيْنِ وَأَيَّامِ التَّشْرِيقِ فِي الْمُخْتَارِ

او صحیح دی نذر کول د روژې د دو اختر و او د ورځو د تشریق په مختار روایت کی، او په غیر مختار روایت کی نه دی صحیح، ولې چې دا نذر په معصیت منع دی. **جواب**: روژه په اعتبار د ذات صحیح ده او حرمت خو یې په اعتبار د اعراض دی د میلمستیا څخه د خدای جل سلطانه وهوامر عارض خارج عن الصوم فلا یمنع الصحة لذاته. قال المصنف:

وَيَجِبُ فِطْرُهَا وَقَضَاؤُهَا وَإِنْ صَامَهَا أَجْزَأَهُ مَعَ الْحُرْمَةِ

نو پر نذر واجب ده خوړل د دغو روژو، وچې نذر کړي یې دی نا پوهې اعتراض د ضیافت څخه د خدای ر اضی، او قضاء ر اوړل یې هم واجب دی د سببه د وفاء بالنذر. قال المصنف: او که ئې نه د منع د روژو د دغو ورځو نا ذر هغه روژې وې نو لې نو د نا ذر غاړې یې خلاصې سوی سې د حرمت ولې چې اعراض د ضیافت څخه د خدای پاک دی اوده اعراض وکړی.

مسئله: که سړی نذر وکړي چې ده یې اراده د وجود نه د ر لوده نکه چې سړی ووائی که ما خبری د زید سره وکړی پر مایه نذر چې زه به مړ نې ارادوم، او بیا یې خبری ورسره وکړی نو ظاهر روایت خو دا دی چې وفاء بالمنذور لازم د ې پرده که معلق وی او که نه او په روایت کی د نوادرو ووائی چې دده خو بښه ده که مړ نې ارادوی او که کفاره یمین ورکوی. مصنف: په مراق کی ووائی چې صحیح روایت د نوادرو دی. قال وهو المفتی به. لقوله علیه الصلوة و السلام: کفارة النذر کفارة الیمین. د لرونکی ووائی چې په دی مسئله کی د پیر تفصیل اوقیل وقال سته، نو که څوک تفصیل غواړي، نو بحر ا ئق یا طحطاوی دی مطالعه کړي. قال المصنف:

وَالْعِبْرَةُ لِتَعْيِينِ الزَّمَانِ وَالْمَكَانِ وَالدِّرْهَمِ وَالْفَقِيرِ

او معتبر لغوه بولو تعیین د نذر د ویلو خاص وخت کی

او د غه رنګه لغوه بولو معینه ورځ د یو خاص مکان، او د غه رنګه لغوه بولو د یو خاص درهم نذر او هم لغوه دی د انذر و رکول د یو خاص فقیر ته، والدلیل علی الکل، چې نذر خو واجبول دی د یو فعل په ذمه کی خپل د جهته د ثواب، نو دا تعلق نذر لری په خصوص پوری د زمانی یا د مکانی یا د فقیر او تقدیر یې لکه د درهمو یا د درهمین مثلاً صرف د پاره د تعیین د مقدار د منذور دی. قال المصنف:

فَيُجْزِيهِ صَوْمُ رَجَبٍ عَنْ نَذْرِهِ صَوْمَ شَعْبَانَ وَيُجْزِيهِ

نو کافی ده نذر کونکی لره روژه د خدای تعالی د میاشتی کړه نذر کړی وه روژه د میاشتی د رجب، او د غه رنګه کافی

صَلٰوةُ رَكْعَتَيْنِ بِمِصْرَ نَذَرَهُمَا بِمَكَّةَ وَالتَّصَدُّقُ بِدِرْهَمٍ

دی دوه رکعته لمونځ په مصر کی چې ده نذر کړی چې زه به ئې په مکه شریفه کی کوم، او د غه رنګه کافی دی خیراتول

عَنْ دِرْهَمٍ عَيَّنَهُ وَالصَّرْفُ لِزَيْدٍ الْفَقِيرِ بِنَذْرِهِ لِعَمْرٍو

د یو درهم په ځای کی د هغه معین درهم چې ده ئې خیرات پر ځان نذر کړی وی، او د غه رنګه کفایت کوی صرفول د خیرات و زید ته چې فقیر وی چې ده نذر کړی وی چې زه به ئې عمرو ته ورکوم.

مسئله: که چیرې یو سړی نذر کی اعتکاف یا روژه، نو اعتکاف یا روژه به ترهغه معین کړی وخت د مخه اجراء کړه صحیح ده. **مسئله**: که سړی نذر کړی چې زه به فلانی کال کی حج کوم او ترهغه کال د مخه به حج وکړی صحیح دی. **مسئله**: که سړی نذر کړی چې زه به په فلانی ورځ دوه رکعته نفل کوم بیا یه هغه دوه رکعته د مخه ترهغې ورځې اداء کړه صحیح دی، د دوو سره مسئلو د لیل دادی چې سبب د وجوب د غو عبادا تو خو نذر دی، هغه پیدا سو پس له تحقق د سبب نو له تعیینات لغوه دی، شرنبلالی، ط، در، قال المصنف:

وَلَوْ عَلَّقَ النَّذْرَ بِشَرْطٍ لَا يُجْزِئُهُ مَا فَعَلَهُ قَبْلَ وُجُودِ شَرْطِهِ

او که چیرې یو چا معلق کړی په یو شرط سره مثلاً وئې ویلې که نما زوی خدائی د سفره څخه صحیح سالم

راوستی نو پرماد یوه پوښه خیرات نذر دی، نو دی نذر پرځای کی نه دریږی، هغه خیرات دپښه چی دمخ ترڅنګ دنروی ده ذبح کړی وی، ولی چی نذر معلق په شرط سره دمخه تر وجود دشرط ګویا نه دی پیدا، کما هو القاعدة المقررة فی اصول الفقه، کما فی قول الامرتسی ارجیل ان خرجت من الدار بدون الاجازة فانت طالق.

بَابُ الْاِعْتِكَافِ

باب دی په بیان کی دا اعتکاف یعنی دهغه دمعنا او احکامو **پوښه سه**: چی اعتکاف په لغت کی حبس او منع ته وائی، نو اعتکاف اصطلاحی شرعی هم منع کول او بندی کول دمعتکف دی خپل ځان لره په مسجد کی، او په شریعت کی یی تعریف دادی... قال المصنف:

هُوَ الْاِقَامَةُ بِنِيَّتِهِ فِی مَسْجِدٍ تُقَامُ فِيهِ الْجَمَاعَةُ بِالْفِعْلِ

اعتکاف اوسیدل دی په نیت دا عتکاف په مسجد کی چی په هغه مسجد کی دجماعت لمونځ اوس کیږی

لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ

دپنځه وخته لمونځونو پاره.

حضرت علیؓ او حذیفهؓ وائی: لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِی مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ.

فَلَا يَصِحُّ فِی مَسْجِدٍ لَا تُقَامُ فِيهِ الْجَمَاعَةُ لِلصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُخْتَارِ

نو ددی صحیح اعتکاف په هغه مسجد کی چی په هغه کی جماعت دپنځو لمونځونو کول کیږی پر مختار مذهب چی مذهب دامام اعظم او دمحمدؒ دی، او دامام ابو یوسفؒ څخه روایت دی چی اعتکاف واجب لکه منذور اعتکاف نه دی صحیح بیله مسجد جماعت څخه او اعتکاف مسنون یا نفلی په هر مسجد کی روا دی:

فضل الحق حقانی په قلم ولیکل شو:

قال المصنف:

وَلِلْمَرْأَةِ الْاِعْتِكَافُ فِی مَسْجِدِ بَيْتِهَا وَهُوَ مَحَلُّ عَيَّنَتْهَا لِلصَّلٰوةِ

او ښځه اعتکاف کولای سی په مسجد کی دکور، او مسجد دکور هغه خونه ده چی دې تا کلی وی دپاره د لمانځه، اوکه دکی د لمانځه دپاره ځای نه وو معین کړی، نو دی لره اعتکاف نشته، قال المراقی وهی ممنوعة عن حضور المساجد فلا اعتکاف لها فی المساجد، او دنهایه دعبارت څخه داسی معلومیږی، چی اعتکاف دښځی په مسجد کی مکروه تنزیهی دی، لکن صحیح داده چی ناجائزدی

فائده: رکن داعتکاف لبث اودرنګ دی اوشرط یه مسجد مخصوص دی، یعنی مسجد جماعت اویل نیت دی، اوروژه په منذور اعتکاف کی، والاسلام والعقل والطهارة من حیض ونفاس فی المنذور، ولی چی دمنذور دپاره روژه شرطه ده، او حائض اونفساء لره روژه نشته، اوبلوغ شرط نه دی، اوپاکی دجنابت څخه هم شرط نه ده، ولی چی روژه سره دجنابته هم روا ده، ولوفی المنذور، اوسبب داعتکاف نذر دی په منذور کی اوطلب دثواب دی په نفلی کی، اوحکم داعتکاف سقوط دی د واجب منذور، اوپیدا کول دثواب دی په نفلی کی.

مسئله: دمسجد تعیین په شروع سره کیږی په یو مسجد کی نو معتکف ته نه ده روا چی په یو مسجد کی شروع په اعتکاف وکړی اوبیا بل مسجد ته نقل کیږی بیله عذره کما سیاتی، ط، درمختار، قال

وَالْاِعْتِكَافُ عَلَى ثَلٰثَةِ اَقْسَامٍ وَاجِبٌ فِی الْمَنْذُورِ وَ

او اعتکاف پردرې قسمه دی، واجب چی سړی نذر کړی وی، اوسنت موکده کفائی دی په لس اخیرو

سُنَّةٌ كِفَايَةٌ مُؤَكَّدَةٌ فِی الْعَشْرِ الْاَخِيرِ مِنْ رَمَضَانَ وَ

ورځو کی دروژی، اومستحب یعنی نیکه کاردی په ماسوا کی دمنذور، اودنسو ورځو اخیرو دروژی د

مُسْتَحَبٌّ فِی مَا سِوَاهُ

میاشتی، نراهدی وائی وائی چی تعجب دی دمسلمانانو نود پاره عوام لاخرکوی بلکه علماء، چی څرنګه دوی پرې اینبی دی اعتکاف اوسره ددی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم به بعض عبادات گاهی کول اوگاهی به ټی پریښودل

او اعتکاف یه دغه وخت چې ومدینې منوري ته یه هجرت کړی دی، اعتکاف دعشر اواخرد رمضان یه نه دی پرې ایښی الی ان تتوفاه الله تعالی، نو علماء صرف په میاشت کې د روژې دا خیر لیږی یو طالب علم جبرًا واعتکاف ته مُوظف کوی، اودی پخپله وخته گرځی اودی سنت مؤکد به یو وخت هم قصد نه دی کړی طول عمره، او عوامو ته هم ملا صاحب دا تبلیغ نه کوی چې د ټولو مسلمانانو نود پاره سنت مؤکد دی، ولی چې ملا صاحب بیریږی چې عوام به راته ووائی چې ته ولې دا سنت مُوکد نه پرځای کوی، نود عوامو عقیده داده چې اعتکاف سنة المسجد دی صرف طالب علم اجراء کړی،

سوال: نو په سبب د همیشه توب د علیه الصلوة والسلام پر اعتکاف باید اعتکاف واجب وای **جواب:** وجوب د عمل همیشه د علیه الصلوة والسلام پر ټولو امت حالت ثابتیږی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم یه پرتارک باندی انکار کړی وی، لکن بعض صحابه کرامؓ چې اعتکاف مذکور به ټی نه کاوه، آنحضرت صلی الله علیه وسلم انکار نه وی پرکړی، نود دلیل دی دی چې اعتکاف مذکور سنت کفائی دی، مرعاة، دریم، قال المصنف:

وَالصَّوْمُ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْمَنْذُورِ فَقَطْ

اوروژه شرط ده د پاره د صحت د نذري اعتکاف د پاره فقط نوکه یوسړی د اسی وویلې چې زه اعتکاف نذر کوم یوه میاشت بیله روژې، نو پرده باندی اعتکاف یوه میاشت لازمیږی سره د روژې، **مسئله:** نذر په څه به پوری اړه لری، ولی نذر خو متعلقا تو څخه د څه دی، نوکه دسړی په ژبه نذر وی او تلفظ نه په وکی هغه شی نه نذر کیږی **پوښه سه:** چې دفقط معنا داده چې په نفلی اعتکاف کی روژه نده شرط، لقوله علیه الصلوة والسلام لیس علی المعتکف صیام الا ان یجعله علی نفسه، قال المصنف:

وَاَقَلُّهُ نَفْلًا مُدَّةٌ يَسِيرَةٌ وَلَوْ كَانَ مَاشِيًا عَلَى الْمُفْتَى بِهِ

او هغه لږ موده د اعتکاف نفلی لږ موده ده کوم هم په مسجد کی ولاړ وی یعنی ناسته لانه وی بلکه که څه هم شپه وی، پر مفتی به مذهب، او حسن د امام اعظمؒ څخه روایت کړی دی چې روژه په نفلی

اعتکاف کې هم شرط ده، ولی چې نفلی اعتکاف هم په وخ پورې اړه لری لکه منذور، او اقله اندازه یه یوه ورځ ده، لکن معتمد مذهب دادی چې اعتکاف نفلی مبنی پر مسابلت دی، نو مطلق نفل په ټول د رنګ سره د نیت د اعتکاف کولو شی وی او که دوه رکعته وی روا وی، قال المرغینانی چې د غه لږ نیت د اعتکاف نفلی حیله ده د هغه چا د پاره چې د مسجد پریوه د روازه ور ننوزی او بله د روازه وتړی، تا چې مسجد لا روند گرځی چې هغه ممنوع ده،

پوښه سه: چې هر جزء د اعتکاف نفلی سره د نیت عبادت دی بیله انضمام د بل جزء سره نفلی اعتکاف په نیت او شروع سره نه لازمیږی لانتهائه بالخروج،

مسئله مُهمّه

که سړی نیت د اعتکاف مسنون په عشر اواخرو کې د روژې وکړی، او ندر کړی څلوروه او نیمه ورځ یا دوه ورځې اعتکاف وکړی بلکه که یو ساعت یه وکړی او بیا یه پریږدی قضاء باندی نه ده واجب اعتکاف خو چې غیر منذور، وی نه فاسدیږی بلکه پاتی ته رسیږی په ترک سره وهذا سائغ عزیز فتذکره،

دَامامانو مفکوره دَاده

چې یو چا چې نیت د عشر اواخرو اعتکاف وکړی او د اسی وویلې چې زه لس ورځې اخیری د روژې د میاشتی اعتکاف کوم، نو په دغه ویناپرده نذر سره، او دوی نه پوهیږی چې نذر خپل الفاظ لری

سوال: یوسړی چې دوه رکعتو لمانځه نیت وکړی او شروع یې هم په وکړه لکن دوه رکعته یې پوره نه کړه پرې ئی ښوولې، نو ولی دا دوه رکعتو قضاء پرې نسته، **جواب:** تر دوه رکعته کم خو لمونځ نه دی، او اعتکاف خو حد محدود نه وی لری هر اندازه لبث اعتکاف دی سره د نیته، مثال د دی دادی چې سړی د څلورو رکعتو نفلی لمانځه نیت وکړی او پر دوه رکعته سلام وګرځوی، نو دوه رکعته قضاء پرې نسته، ولی چې لمونځ پوره سو، فافهم، قال المصنف:

وَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ إِلَّا لِحَاجَةٍ شَرْعِيَّةٍ كَالْجُمُعَةِ

اونه دی وزی معتکف څخه چې مسجد دی د نږدې اړه یا هغه خوته معینه ده چې د نبځی د پاره د اعتکاف ځای دی، مګر د حاجتِ شرعی د پاره لکه د جمعې لمانځه چې ځی،

مسئله: معتکف به دجمعی لمانځه ته دجامع مسجد پرځواداسی وخت کی چی دی سنت قبلی اودجمعی لمونځ اوسنت بعدی په دغه وخت کی کولای شی نوبیرته په مسجد ته دا اعتکاف رائی یانه

قال المصنف

أَوْ طَبِيعَةٍ كَالْبَوْلِ أَوْ ضَرُورِيَّةٍ كَانْهِدَامِ الْمَسْجِدِ

اویا طبعی ضرورت وی لکه بولی وکذ الغائط، اودغه رنګه وتای سی دپاره دپیولو دنجاست اویا غسل دجنابت

وَإِخْرَاجِ ظَالِمٍ كُرْهًا وَتَفَرُّقِ أَهْلِهِ وَخَوْفٍ عَلَى نَفْسِهِ

چی حلام ورته پیښ سوی وی، اویادپاره ضروری حاجت لپاره لکه چی مسجد ته نږدی اویاظالم پرته وره وباسی اویایې کور دربوره سی، او

أَوْ مَتَاعِهِ مِنَ الْمُكَابِرِينَ

اویا بیړی بوی پرځان یاپرکالو دظالمانو دځواخځه، نودی سمدلاسه بل مسجد ته ولاړسی یعنی کی اعتکاف منذور وی دپاره دمسنون یا نفلی اعتکاف پوره کولو دپاره کی قصد ووی

مسئله: که معتکف دوقتی دپاره دحاجت انسانی اوورسته ترقضائی حاجت دیومریض پوښتنی ته ولاړی اویاد جنازی لمانځه ته بیلده دی چی قصداً دهغه دپاره وتلی وی روا ده یعنی اعتکاف یې نه ختمیږی» ط»

اوامام طحطاوی په نقل دتاتارخانیه ځواني که معتکف په وخت کی دا اعتکاف نذر یې شرط کړه چی نوبه دمریض پوښتنی ته ځی اودجنازی لمانځه ته بهځی، اوحفتوته دمجلس دعلم شرعی به ځی، روا ده، اودا ټوله مشروطه کارونه کولای سی، فلیحفظ هذه الفائدة» در»

مسئله: که معتکف دحاجت انسانی دپاره ووتی ورسته ترهغه یوکړی ناحقه ځنډ وکړی اعتکاف یې ختم شو، ط» قال المصنف:

فَلَوْ خَرَجَ بِلَا عُذْرٍ سَاعَةً فَسَدَ الْوَاجِبُ وَانْتَهَى بِهِ غَيْرُهُ

که معتکف دمسجد ځخه ووتی بیله عذره یوکړی نوکه واجب اعتکاف وو لکه منذور هغه فاسد سو یعنی قضائیه پرلاړنه ده اوپای ته ورسیږی سنت یا نفلی اعتکاف یعنی ده نوره وره ځوچی ده یه نیت کړی ووقضاء پری نسته، کمامر»

پیوه سه: چه مراقی وروسترتر، فسد الواجب» داسی لیکلی دی» ولا اثم علیه» اوامام طحطاوی وائی چی گناه هلته نسته چی په عذر سره یه فاسد کړی اوکه ئی بی عذره یه فاسد کړی بیا خو گناه کاره دی لقوله تعالی: وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ.

مسئله: اعتکاف باطلیږی په بیهوشی سره اوپه جنون سره کی دوام وکی یوځوورځی مگر نه اول ورځ کی په مسجد کی تیره کړه، قال المصنف:

وَأَكْلُ الْمُعْتَكِفِ وَشُرْبُهُ وَنَوْمُهُ وَعَقْدُ الْبَيْعِ لِمَا يَحْتَاجُهُ

اوخورک دمعتکف او څښل دده، اوخوب دده اوعقد دبیع رانیولو دهغه شی چی دی حاجت ورته لری دهغه

لِنَفْسِهِ أَوْ عِيَالِهِ فِي الْمَسْجِدِ وَكُرِهَ إِحْضَارُ الْمَبِيعِ

دپاره اویادعیال دپاره اوپه مسجد کی بدوی اومکروه دی حاضرول دمبیع وه مسجد ته، داقوله جواز په سبب دضرورت دا اعتکاف دی، حتی که معتکف دغوښیا نودپاره دا اعتکاف ځخه ووتی که واجب اعتکاف ووهغه خوفاسد سو اوکه نفلی ووپای ته ورسیدی، اوفتاوای ظهیریه وائی چی فقهاء جائز بولی وتل دمسجد ځخه دپاره دا کل اوشرب پسله عزوبه ځخه دلمر، والفتوی علی الاول» در» اواحضار دمبیع چی مکروه دی ددی دپاره چی مسجد ځای دحقوقود خدانځ دی دکان نه دی، **مسئله**: بعض علماء وستایلی دی دطالبانو په مسجد کی کوی اوهلته میلمنوته چای اوډوډی ورکوی پوتبولو باندی نیت دا اعتکاف نفلی لانهردی ورنه ځورک وغیره په مسجد کی مکروه دی، قال المصنف:

وَكُرِهَ عَقْدُ مَا كَانَ لِلتِّجَارَةِ وَكُرِهَ الصَّمْتُ إِنِ اعْتَقَدَهُ

اومکروه دی هغه عقد دبیع اوشراء چی دپاره دتجارت وی، که مبیعه حاضره کړی اوکه نه، ط»م، در»

قُرْبَةً وَالتَّكَلُّمُ إِلَّا بِخَيْرٍ

اومکروه دی پته خوله کیدل په اعتکاف کی یعنی دا داثواب کارنه دی، اودغه رنګه مکروه دی خبری کول مگر نه په خیره

فرعه: چونکه په مسجد کی بیله معتکف د مباح بیع اوشراء مکروه ده، خوپه مسجد کی مخری بوکی بتا کی قهقهه خندا به څرنګه مکروه نوی **فرعه:** په صحیح حدیث کی راغلی دی چی وږی خوړونکی یا ګنده ټرپاز خوړونکی دی د حضور څخه د جماعت په سبب د بد بوئ د خولې منع دی د مسجد څخه، نوځرنګه ملایان بد بویه وړسته توک دانې د نسوارو په مسجد کی استعمالوی! **فرعه:** چونکه مسجد دپاره د عبادت دی او د حقوقو د خدائ دی او د نیا ئی مباح خبری په کښی مکروه دی، نوځرنګه مُلایان د منطقو او د فلسفی درسونه په مسجد کی کوی؟ البته د قرآن مبارک درس او د احادیث نبویه و د درس او یا هغه علوم چی نامورې علوم توقف باندی لری لکه نحو، صرف، معانی، بدیع، عقائد وغیره و د درس په مسجد کی مکروه نه دی. قال المصنف:

وَحَرُمَ عَلَيْهِ الْوَطْئُ وَدَوَاعِيْهِ وَبَطَلَ بِوَطْئِهِ وَ

او حرام کیږی د معتکف باندی وطی د مباینی، او اسباب

الْإِنْزَالُ بِدَوَاعِيْهِ

د وطی لکه بوسه اختلاط او یا لمس د اعضاو و په شهوت سره او باطلیږی اعتکاف په وطی او په انزال سره یې د واعیو د وطی، لقوله تعالیٰ: وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ، نو چې جماع ممنوع شوه، نو د واعی یې په اعتکاف کې هم ممنوع دی لکه قبله او لمس بالشهوت، ولې چې د واعی اسباب دی د جماع او قانون دی چې سبب د حرام هم حرام دی، مر، ط، در، **پوه شه:** چې وطی فرق نه لری که عامداً وی او که ناسیاً وی او که مکرهاً وی او که د وړځی وی او که د شپې وی، **مسئله:** که معتکف په فکر وصلو او یا په کتلو سره انزال شو، نو اعتکاف یې نه باطلیږی، مراقی، قال المصنف:

وَلَزِمَتْهُ اللَّيَالِيْ أَيْضًا بِنَذْرِ اعْتِكَافِ أَيَّامٍ وَلَزِمَتْهُ

او لازمیږی پرمړی اعتکاف د شپو په نذر سره د اعتکاف د وړځو، ولې چې فقهاءُ وائی چې لفظ

الْأَيَّامُ بِنَذْرِ اللَّيَالِيْ مُتَتَابِعَةً

د ایام په صیغه د جمع سره هغه د وړځو په برابر شپې ته هم شامل دی نو د اسې پایه

په اول شپه ترغروب الشمس د محرم وه اعتکاف ته داخل ښی، او په اخیره ورځ باید ترغروب ورسته ووزی، مر، قال المصنف:

وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطِ التَّتَابُعَ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَلَزِمَتْهُ

که څه تتابع یعنی پیوسته اعتکاف کول شرط نه دی، ګرځول سوی په ظاهر روایت کی، لان مبنی الاعتکاف

لَيْلَتَانِ بِنَذْرِ يَوْمَيْنِ

فی العرف علی التتابع، او پدې لازم دی اعتکاف د دوو شپی په نذر د یوې ورځې، او امام ابو یوسف وائی چې داول شپې اعتکاف نه دی پرلازم، قال المصنف:

وَصَحَّ نِيَّةُ النَّهَارِ خَاصَّةً دُوْنَ اللَّيَالِيْ وَإِنْ نَذَرَ اعْتِكَافَ

او صحیح دی نیت د ورځو نه د شپو یعنی ترمیاشت کم عدد یاد کړی، ولې چې نیت معتبر حقیقی دایام وکړی چې بیاض

النهاری

شَهْرٍ وَنَوَى النَّهَارَ خَاصَّةً أَوِ اللَّيَالِيَ خَاصَّةً لَا تُعْتَمَلُ

او که سړی نذر وکړی اعتکاف د پوره میاشتی یعنی که میاشت معین کړی چې مثلاً د رات میاشت او که مطلق میاشت ذکر کړی، او په

نِيَّتُهُ إِلَّا أَنْ يُصَرِّحَ بِالْاِسْتِثْنَاءِ

نیت کی د ورځی وی خاص او یا شپی وی خاص نوانیت دده معتبر دی، البته کی تصریح په استثناء د ورځو یا د شپو وکړه نو بیا صحیح دی، دلیل یې دا دی چې شهر په شرع او په عرف کی نوم دی د مقدرو ورځو او شپو د واړو، صورت د استثناء دا دی چې ووائی چې پرما نذر دی یوه میاشت اعتکاف په ورځو کی نه په شپو کی، او یا داسې ووائی چې پرما اعتکاف دیوی میاشتی نذر دی إلا اللیالی، وعلیٰ هذا فقس استثناء الایام، قال المصنف:

وَالْاِعْتِكَافُ مَشْرُوْعٌ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ

او اعتکاف مشروع دی په کتاب الله سره قال الله تعالیٰ: وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ، او په حدیث سره، ابوهریره رض او عائشه رض

روایت کوی، چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به همیشه اعتکاف کاوه په اخیرو لسو ورځو کې د
رمضان د خروخت څخه چې دی مدینې منورې ته راغلی ترهغه وخته پورې چې خدای پاک دی وفات
کړی **پوه سه**: چې سره ددې چې اعتکاف په مذکوره ورځو کې سنت مؤکد دی لکن
مع ذالک سنت کفایې دی ولا منافاة بینهما، ط، **قال المصنف:**

وَهُوَ مِنْ أَشْرَفِ الْأَعْمَالِ إِذَا كَانَ عَنْ إِخْلَاصٍ

اودغه اعتکاف دبهترین اعمالو څخه دی چې داخلاص دلاري وی یعنی ریا اوسمعت نه وی په کار او

وَمِنْ مَحَاسِنِهِ أَنَّ فِيهِ تَفْرِيغُ الْقَلْبِ عَنْ أُمُورِ الدُّنْيَا

یعنی دښو فائدو څخه داعتکاف نهٔ فارغ کول دی د دنیا د کارونو څخه په سبب داشتغال په عبادت
د خدای جل سلطانه، **قال المصنف:**

وَتَسْلِيمُ النَّفْسِ إِلَى الْمَوْلَى وَمُلَازَمَةِ عِبَادَتِهِ فِي بَيْتِهِ

اوبل تسلیم دی د خپل ځان د خپل بادار عزاسمه تعالی اوبل همیشه والی دی په ورځو کې د اعتکاف پر عبادت د
خدای ﷻ بنوافلو الصلوات وتلاوة القرآن العزیز و سائر
وَالتَّحَصُّنُ بِحِصْنِهِ انواع الاذکار، هغه هم په بیت الله کې چې مسجد دی، او
عادت دکریا نو خنګه دا دی چې څوک چې د دوی کورته میلمه ورشی حتی المقدور به یې ښه خوږ،
فکیف بالمعتکف الذی نزل بیت ارحم الراحمین ضیفا، قال السعدی: مَنْ دَقَّ باب الکریم انفتح،
او معتکف د دښمنا نو څخه خپل ځان خوندی کې په قلعه کې د خدای ﷻ نوهیڅ دښمن پرده نشی
کاکه باب کیدای کالنفس والشیطان ومردة الجن، **قال المصنف:**

وَقَالَ عَطَاءٌ رَحِمَهُ اللهُ مَثَلُ الْمُعْتَكِفِ مَثَلُ رَجُلٍ يَخْتَلِفُ عَلَى

اووئیلی دی عطاء بن ابی رباح چې مثال د معتکف لکه هغه سړی دی، چې دی دولې ته د یولوی سړی

ورځی یعنی یا بابا چاوی، یا وزیر وغیرهما دیوکار د پاره چې دهغه

بَابُ عَظِيمٍ لِحَاجَةٍ

یعنی هغه عظیم بالعاقبة دهغه سائل کار کوی، اونا امیده نه پریږدی ممنو خالق العالم جل شانه
په څرنګه داسائل معتکف به دخپل عظیم فضله څخه څرنګه محرومه کی، **سعدی** ؒ
ای کریمی که از خزانهٔ غیب ؛ گبر و ترسا وظیفه خور داری ؛ دوستان را کجا کنی محروم ؛ گر تو با دشمنان نظر داری ؛ قال المصنف
چې عطاء ابن رباح جلیل القدر تابعی دی اوعارف بالله دی، اوامام مجتهد دی اوشاگرد دابن
عباس ؓ دی، اودمشا ځخو څخه د امام اعظم ابوحنیفه ؒ دی اوامام اعظم وائی چې ما نه دی لیدلی
افقه ترحماد ؒ اونه می دی لیدلی اجمع دعلوموتر عطاء بن ابی رباح، وفات دعطاء ؒ په
۱۱۵ کې دی اوسن دده ۸۰ اتیا کاله وو، **قال المصنف:**

فَالْمُعْتَكِفُ يَقُولُ لَا أَبْرَحُ حَتَّى يُغْفَرَ لِي

پس نو معتکف وائی چې نه خم په ځای نه پرځم حتی چې ما ته یعنی مسجد څخه نه خم حتی چې بخښنه وشی و
ما ته یعنی عمومی بخښنه د صغائرو ګناهونو او د کبائرو ګناهو، او د کریم بادار د خوا څخه لیری نه ده
چې داغسی دی وکړی، کیف وقد ورد فی الحدیث الصحیح انه تعالی یقول: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي
وأنا اقول: اللهم اغفرلی ذنوبی کلها، درویش باګناه وائی چې مصنف ؒ چونکه دبیان څخه
دعبادات بدنیه ووڅخه فارغ سو او نوبت د عباداتو مالیه وو راورسیدل، نو په خاتمه
کی د عباداتو بدنیه ووداسی یو عبارت نړیبا راوړی دی، **قال المصنف:**

وَهَذَا مَا تَيَسَّرَ لِلْعَاجِزِ الْحَقِيرِ بِعِنَايَةِ مَوْلَاهُ الْقَوِيِّ الْقَدِيرِ

اودغه چې تیرسو یعنی بیان د عباداتو بدنیه وو داهغه شی دی چې ما ته یعنی عاجز حقیر بنده
ته په مهربانی او توفیق د بادار خپل چې خاوند د قوت او قدرت دی، **پوه سه**
چې مصنف ؒ په دی عبارت کی نفی د انانیت او کبر او لوفی د ځان نه څخه وکړی،
اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهِ وَلِمُتَرْجِمِهِ وَلِكَاتِبِهِ وَلِمَنْ نَظَرَ إِلَيْهِ، اٰمِين

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدَانَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِیَ لَوْلَا

ټولې ثنا اومنت خدائ لره دی چې موږ ته ئې هدایت اوښوونه وکړه دی دپاڑه یعنی اول دین اسلام

اَنْ هَدَانَا اللّٰهُ وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا

بیا د بیان دمسائل فقهیه وو په پاڑه کی د عبادا تو بدنیه وو، اوموږته ووچې سوږدی لاپیدا کړی وای وددغه کار ته کرموږ

ته ښوونه درب العزت وخوا ته وای "

مُحَمَّدٍ خَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ

اودخدای پاك عظیم رحمتونه دی وی پرسید زموږ اوپادار زموږ محمد چې ختم دانبیاء عم پرده

وَمَنْ وَالَاهُ سوی دی، اوپ ال ددده اوپر اصحابو ددده اوپرهغه چاچې ددده سره دوستی

لری هم درود وی، قَالَ الْمُصَنِّفُ :

وَنَسْاَلُ اللّٰهَ سُبْحَانَهٗ مُتَوَسِّلِيْنَ اَنْ يَّجْعَلَهٗ خَالِصًا

اوموږ سوال کوو د الله سبحانه څخه چې په وسیله د سید الرسل دی ورکړی دا کتاب اوبیان

لِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَاَنْ يَّنْتَفِعَ بِهِ النَّفْعَ الْعَمِيْمَ

دمسائلو د فقه عملی خالصه ددده رضاء دپاڑه، اودی سوال کوو چې نفع دی ورکړی یعنی مسلمانانو ته

وَيُجْزِلَ بِهِ الثَّوَابَ الْجَسِيْمَ په دغه بیانا توسره نفع عامه یعنی

کې نړوی اوکه ښځی اولوی خدائ دی ورکړی ثواب عظیم یعنی وماته، درویش وائی چې حقیقت

دادی چې دمصنف د نفع عمومی سوال خوبیله شکه اوتردده قبول سوی دی، ولې چې په

اسلامی نړی ټوله کی نور الایضاح یومعتمد اوداعتبار ورکتاب گنړل سوی دی او په

ټوله نړی کی په مدرسو اوپه انفرادی درسوکی قبول حسن اورواج عظیم لري، نودخدائ

دفضل عظیم څخه لیری نه ده چې دوهم سوال دده دی یعنی سوال دثواب جسیم دی هم قبول سوی دی

درویش وائی، چې ورته سوال نه باگناه محمد عُبَید الله مترجم دی کتاب عظیم الشان

نور الایضاح په پښتو ژبه هم کوم او وایم چې خدایه ته دا کوشش او عرق ریزی زما

هم قبول کړی اوماته ثواب عظیم اوعفوه دټولو گنهونو راته وکړی او پښتنو وروڼو

اوخویندو ته لویه نفع په دغه ترجمه سره ورسوی امین، وللّٰه الحمد والثناء الحسن اولاً

واخیرًا والصلوٰة والسلام علی سیدنا وآله وصحبه جمیعًا برحمتك یا ارحم الراحمین۔

خبرتیا

عاصی وائی چې څه وخت چې ماد اشرحه پښتو ترکتاب الزکوٰة پوری ورسول

خدای جل سلطانه وعظم شانه وکرمه ماته سره دخپل نړی سفر حرمینو شریفینو په برخه

کړی، هغه ووچې د اشرحه پرکتاب الزکوٰة معطله وه څوچې نه دخپل ملګری سره دسفر

عظیم الشان څخه د حج بیت الله شریف په خیر او عافیت اوصحت اوسلامتی سره په

توفیق درب جل وعلی بیرته راستون سوم، نومی بیرته خپل دشرحی وکاریته ادامه

ورکړه، اَللّٰهُمَّ وفقنی لاتمام هذا الشرح بالخیر والصحة والسلامة وارزقنی زیارة

الحرمین الشریفین فی العام الآتی تمام القدرة والصحة والسلامة وما ذالك علیك بعزیز

برحمتك یا ارحم الراحمین

زمونږ نوی چاپ شوی اسلامی اثار

آسانه فقه	تعلیم العقائد	تعلیم الاسلام
الفقه المیسر	ارشاد الصرف	نکاح قدوری

کِتَابُ الزَّکوٰۃ

د اکتاب ثابت دی په بیان کښی د زکوٰۃ

فَائِدَه: زکوٰۃ په دوهم کال کی د هجرت نبوی ﷺ فرض سوی لکه روژه چی هم په دغه کال کی فرض سوی ده لکن زکوٰۃ تر روژی د مخه فرض سوی دی، امام طحطاوی وائی چی د زکوٰۃ ورکول واجب دی علی الفور یعنی په اول وخت کی وعلیه الفتوی، نوبناءً علی هذا سړی گناه کاره دی په څنډ ولو د زکوٰۃ اوشاهدی یه نه قبلیږی،

مسئله: پر انبیاء علیهم الصلوٰۃ والسلام زکوٰۃ نه دی واجب، ولهذا چی زکوٰۃ خوپاکی ده د هغه چا په باره چی شاید په ګناهونو ککړ وی، لقوله تعالی: خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا، اوانبیاء علیهم الصلوٰۃ والسلام د ګناهونو څخه پاک دی، ولهذا چی عصمت د انبیاء علیهم الصلوٰۃ والسلام په تفصیل اوپه حواله د معتبرو کتابونو اوپه دلائلو سره ویړلی نو د دې ټولیش رساله چی نوم یی "کشف الغطاء عن عصمة الانبیاء" دی دستیاب اوپه غور ئی مطالعه کړی تاچی په دی مسئله کی زړه ښه ښانه سی، اودزړه شکوک اوشبهات یی زائل سی،

فَائِدَه: د زکوٰۃ یوه معنا په لغت کی طهارت یعنی پاکی ده چی په سبب د زکوٰۃ ورکولو د نفس د سړی د بخل څخه پاکیږی اومال یه د خبث اونجاست څخه پاکیږی، اوبله معنا یه برکت دی چی د زکوٰۃ ورکولونکی په باقی مال کی خدائ برکت اچوی، اوپه دی دنیا کی خدائ سره د ثواب د اخرت عوض ورکوی، اوبله معنا یه مدحه اوثناده چی خدای جل جلاله د زکوٰۃ ورکولونکی په قرآن مبارک کی مدحه کړیده، اوخدائ مخلوق هم د منکی مدحه اوثناوائی،

درویش وائی: چی د مانع الزکوٰۃ په باره کی دپیرانیتوب اوبیخی دپیر حدیثونه راغلی دی چی د هغو ټولو بیان دلته گران دی، او ولی به مانع الزکوٰۃ د خیر څخه محروم نه وی اوسره د دی چی د غه مال دا ره چی مثلاً د زوی واده یه وی، په زړو روپی د فساقو اوفجارو حتی پرښو قیانو غزلیانو بلکه پر مسلیانو ښځو صرفوی، اوپه دی فخر کوی اولسمه حصه د هغو روپو په زکوٰۃ

کی نه ورکوی، افسوس صد افسوس د دغسی اغنیاوو پر حال، د مانع الزکوٰۃ په باره کی سعدی شیرازی وائی: بخیل اربود زاید بجز وبر: بهشتی نباشد بحکم خبر: قال المصنف:

وَهِيَ تَمْلِيكُ مَالٍ مَخْصُوصٍ لِشَخْصٍ مَخْصُوصٍ فُرِضَتْ

اوداز زکوٰۃ په ملګ ورکول دی دیو مخصوص مال ویو مخصوص اومعین سړی ته، اوداز زکوٰۃ فرض کړل

عَلَى كُلِّ حُرٍّ مُسْلِمٍ مُكَلَّفٍ مَالِكٍ لِنِصَابٍ مِنْ نَقْدٍ

سوی دی پر هر آزاد مسلمان اومکلف باندی چی مالک وی د نقدی نصاب،

پوه سه چی چونکه زکوٰۃ د فقهی شریفی مسئله ده، اوموضوع د فقهی افعال د مکلف دی نو د دی سببه مصنف تفسیر د زکوٰۃ په تملیک سره وکړی چی فعل د مکلف وګرځی اوداهم مذهب دی د محققینو د اهل اصول الفقه، نوبناءً علی هذا هغه مال مخرج ته زکوٰۃ وائی کما فی قوله تعالی: وَآتُوا الزَّكَاةَ، مجاز شرعی دی کذا قال الفقیه الطحطاوی، **فَائِدَه**: د تملیک په لفظ سره اباحت خارج سو، نوکه سړی بعض فقراوته میلمانه کړی اوډوډی ورکړی په نیت د زکوٰۃ هغه د زکوٰۃ په ګای کی نه دیږی چی دی ته اباحت وائی تملیک نه ده،

مسئله که یوسړی یتیم ته کالی ورکړی مثلاً نو د زکوٰۃ په نیت سره یه غاړی خلاصیږی په شرط د دی چی هغه یتیم د قبض په معنا پوهیږی، در، ط،

فَائِدَه: مال خاص په اعیانو سره دی یعنی چی یوذات وی نوپه قید د مال په منفعت خارج کړی، نوکه چیری یوغنی مسکین ته دده په سړی کی داستوګنی اجازه ورکړی د زکوٰۃ غاړی نه په خلاصیږی، ولی استوګنه منفعت دی مال نه دی، ط، در، رد، قوله مَخْصُوص، چی هغه څلورمه دلسمی حصی د نصاب دی، او یا د دی په ګای کی ولاړی لکه چی په صدقة الفطر کی اوزکوٰۃ د سوائمو کی به ئی بیان راسی، إن شاء الله، قوله لِشَخْصٍ مَخْصُوصٍ، چی هغه فقیر وی یاد هغو مصارفو چی په قرآن مبارک کی یه ذکر راغلی لکن په شرط د دی چی هاشمی به نه وی اود سړی څپل مړی بهم نه وی، قوله عَلَى حُرٍّ، پرد ی سره مړنی مینځه خارج سوه چی پرهغو زکوٰۃ نسته، قوله مسلم خرج به

الکافر بناء علی انه غیر مکلف بفروع الشریعة حتی که یو سړی مرتد سی العیاذ بالله او بیرته مسلمان سی، په هیڅ هغه عبادت سره چې ده په ورځو کې دردت نه دی کړی مکلف بالقضاء نه دی

قوله مکلف ای بالغ عاقل، نو پر نابالغ کشنی یا پر لیونی زکوة نه دی

وَلَوْ تِبْرًا أَوْ حُلِيًّا أَوْ آنِيَةً أَوْ مَا يُسَاوِي قِيمَتُهُ مِنْ عُرُوضٍ

کرغه هم دغه سره نه راوسپین نه ړد اغسی چکی پراته وی یعنی سکه نه وی پر وهل سوی، او یا

لِلتِّجَارَةِ فَارِغٌ عَنِ الدَّيْنِ وَعَنْ حَاجَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ نَامٍ

نه یو روی لکه غاړګی، ګټمی وغیرهما او یا لوښی وی لکه د سپینو نه رو یا د سره نه رو ګلاس وغیره، او یا برابر وی د قیمت دلاړی نصاب سره د شیانو څخه د تجارت

وَلَوْ تَقْدِيرًا

لکه مال د غالی فروش، یا کمبل فروش، یا د پرچون دکاندار وغیره چې د تجارت دپاره وی، او د غه نصاب به فارغ وی د پورې څخه یعنی پر مالک د نصاب به پورې نه وی باندې

ولې چې د پور په اندازه که پرده وی نو پرده باندې زکوة نه ده، او د غه نصاب به نه زائد وی د حاجت اصلی څخه، لکه د کور شیان که څرګند غالی وی او یا لوښی یا د سپرلیو د آس یا موټر سائیکل یا

موټر اوتر توری توپک، کلاشنکوف وغیره، او د نصاب به نما اوګته کوونکی وی که څرګند

تقدیرًا، تقدیری نما داده چې د غه نصاب د تجارت څخه معطل په صندوق کې اینبی وی

او بالفعل تجارت نه په کوی، قوله اوحلیًا آه عام تردی که جائز الاستعمال وی لکه د ښځې د پاره د سره نه رو ګټمی یا نور زیورات او کې استعمال جائز وی لکه د نر د پاره د سره نه رو ګټمی

مطلقًا یا د سپینو نه رو ګټمی چې یو مثقال یا بالاتر هغه وی،

قوله او آنیة او یا لوښی وی لکه ګلاس، غاب، چای خوړ وغیره د سره نه رو یا د سپینو زرو،

قوله او ما یساوی او یا په قیمت برابر وی د نقدینو د نصاب سره د اسبابو څخه چې د تجارت دپاره وی

مسئله: که چا په کور کې غالی د پیر قیمت والا دپاره د استعمال نه ده تجارت آواری وی او یا خولک د سپرتیا د پاره یو ګران قیمته موټر لری لکن د تجارت په نیت یې نه وی رانیولی،

یا موټر ګاډی یا نور ورته شیان په هغوی کې یعنی په قیمت کې د هغو زکات نسته، قوله فارغ عن الدین، **پوه سه**: چې مراد د پوره څخه هغه پورې دی چې بنده د خوایه

طلب کیږی، که څرګند هم د پاره د خدائ وی لکه زکوة چې حکومت په طلب کولای سی مثلًا پرسړی

د پخوا څخه زکات وی، او اوس دومره پیسې لری چې د پخوانی زکات غاړه په وزی فقط، نو

پردغه اوس زکات نسته، او یا خراج مالیه ده محکمی پر باندی وی چې بیت المال ته غوښتونکی

دی، او یا په پور د بنده وی، لکه عام پورونه، او که پور وعده لری او کی نه لری، او د ښځې

د مهر مؤجل په اندازه هم پرده زکوة نسته، او که د بنده د خوا مطالبه نه وه لکه نذری پورونه

پر هغو روپو زکات سته، قوله وعن حاجته آه لکه د اغوښتلو کالی او د اوړیدو شیان او ګرم

پوستینان یا چپنی وغیره او نفقه د عیال او سرای ده پاره د سکونت او یا د کرایو د پاره سرایونه

چې د تجارت دپاره نه وی، یا آلات د جنګ او جهاد لکه کلاشنکوف، توره، توپک وغیره، یا د کا

د پاره لکه اهنګر نه رګړ وغیره د پاره د کسب اسباب، او د سپرتیا شیان لکه موټر وغیره لکه آس او نر

یا کتابونه د علم د هغه چاد پاره چې دی ئ اهل وی یعنی درس یا مطالعه کولای سی،

مسئله که د سړی سره روپی وی چې د مذکوره شیانو د رانیولو د پاره یې اینبی وی او کال

پرتیر سی او مصرف کړی یې نه وی زکوة پرواجب نه دی، طحطاوی، **مسئله** کتابونه د

غیر اهل د پاره د حاجتِ اصلی څخه نه دی لکن په قیمت کې د کتابو زکات نسته چې د تجارت

نیت یې نه وی په کښی کړی، بحر، **فائده**: که سړی د پر پوستینان د رلوده یا چپنی

لونبی یا د کور نور اسباب چې حاجت یې ورته نه وو، مګر د تجارت نیت یې هم نه د رلودی زکات

خوښته په کښی لکن دبل چا زکات ورته حرام دی، در، **مسئله** کتابونه د نا اهلو

د پاره چې قیمت یې ونصاب ته ورسیږی، او یا ملا صاحب د پیر و کتابو متعددی نسخی لری

او یا د منطق، حکمتو، یا ریاضی کتابونه لری چې قیمت یې ونصاب ته رسیږی زکات خو پرلانهر نه دی

لکن دبل زکوة ورته حرام دی، پردی مسئله کی ملا یان باید غور وکړی یا عمل پرې وکړی یا یې

رد کړی لکن الثانی غیر ممکن فتأمل، **مسئله**: د نفقې د پاره که سړی نقدی روپی

اینبی وی او کال پرتیر سو، مشهور داده چې زکات په کښی نسته لکن په بحر رائق کی وائی

چې په نقدو روپو کې زکوة ستة پرې دے ولې چې ئې اینبی وی که د نفقې دپاره وی اوکه د غلامانو دپاره وی چې کال پرې تیرسی، «واللہ اعلم» قال المصنف:

وَشَرْطُ وُجُوْبِ اَدَائِهَا حَوْلَانُ الْحَوْلِ عَلَى النِّصَابِ الْاَصْلِی

اوشرط د وجوب د اداء د زکوة تیریدہ د کال دے پر اصلی نصاب باندے

وَاَمَّا الْمُسْتَفَادُ فِیْ اِثْنَاءِ الْحَوْلِ فَيُضَمُّ اِلٰی مُجَانِسِهٖ

اوهغه مال چې سړي ته پیدا سی په مابین کې د کال د اصلی نصاب یعنی گټه وکړی چې د گټې پر مال کال

وَيُزَكِّیْ بِتَمَامِ الْحَوْلِ الْاَصْلِیِّ سَوَاءٌ اِسْتَفَادَ بِتِجَارَةٍ اَوْ

وی تیرو سوی اوپر اصلی نصاب کال تیرسی نو د غه گټه مال دے د رجوتی کړی وخپل هم جنسه نصاب ته، اوتیرو

مِيْرَاثٍ اَوْ غَيْرِهٖ

اصلی اوعارضی مال زکوة دی ورکړی په تیریدو سره د کال پر اصلی مال باندی، خواه دا عارضی مال یې په تجارت گټلی وی اویا د یو قریب خپلوان میراث ورپاته سوی وی اویا په بله توګه لکه یوچا چې ورته هبه کړې وی،

پُوه سه

چې سره زر او سپین زر په زکات کې جنس دی نو که سړي سره او سپین زر د لوړه د کال په مابین کې مثلاً سپین زر وگټله، نو د غه مال دی د واړو ته ورضم کړی، او کې سړي د غو یو او اوښانو او د سپین زرو سره زرو نصابونه د لوړه او د کال په مابین کې نور غوایې پیدا کړه هغه به د غو یو نصاب ته جوتوی د نقدینو یا اوښانو نصاب ته به ئې نه ورجوتوی وعلی هذا القس» قال

وَلَوْ عَجَّلَ ذُوْ نِصَابٍ لِسِنِيْنَ صَحَّ

که ورباندی ورکی مالک د نصاب زکوة د څو کلو صحیح دی یعنی د هر څو کلو زکوة چې ورکړی د هغومره کلو غاړې یې خلاصوی، مثلاً یوسړي د دری سوه روپې د لوړې او کال پرتیر سو نو یې سل روپې د هغو څخه په زکوة د شل کلو ورکړی روا ده، ولې چې نصاب چې دوه سوه روپې دی هغو ته هر پاته دی،

مسئله: که سړی تر دوه سو روپې کمې د لوړې، نو د هغه تر کال یې پنځه روپې د دوو سوو روپو زکوة ورکړی ورسته کال پورې سوا او نصاب هم پورې سو هغه مجنی زکوة یې نه دی صحیح ولې چې هغه وخت خو نصاب نه وو پورې نو زکات مفروض نه وو، **مسئله**: که چیرې سړي تعجیل وکړی او زکات یې ورکړی په مابین کې د کال نصاب تېر نه وی او ان سو که څه هم په اخیر کې د کال پیرته نصاب کامل سې هغه زکات یې نه دی صحیح کذا فی الطحطاوی، قال المصنف:

وَشَرْطُ صِحَّةِ اَدَائِهَا نِيَّةٌ مُقَارِنَةٌ لِاَدَائِهَا لِلْفَقِيْرِ اَوْ وَكِيْلِهٖ

اوشرط د صحیح والی د اداء د زکوة نیت دی چې جوت به وی د وخت سره د ورکړی د زکات وفقیر ته اویا

اَوْ عَزْلِ مَا وَجَبَ وَلَوْ مُقَارَنَةً حُكْمِيَّةً كَمَا لَوْ دَفَعَ لِلْفَقِيْرِ

یا نیت جوت وی د وخت سره د ورکولو د روپو د زکات وکیل ته، نو بیا کې وکیل بیله نیت د زکوة ورکړی صحیح

بِلَا نِيَّةٍ ثُمَّ نَوٰی وَالْمَالُ قَائِمٌ بِيَدِ الْفَقِيْرِ

دی او نیت د موکل کافی دی حتی که یو مالدار سړي د زکات روپې وهندو ته ورکړی او ورته وئې ویل چې ته زما وکیل یې په فقراء وبیشه وډیشه هم صحیح دی، ولې اعتبار نیت لره د موکل دی، ط در» اویا یې نیت جوت وی د هغه وخت سره چې د وی روپې د زکات د نورو مالونه څخه جلا کوی یعنی یوسړي د زکات مقدار روپې جلا کړی د نورو روپو څخه اود ا یې نیت وکړی چې د غه روپې به زه په زکوة کې ورکوم د غه مقارنت کافی دی یاد هغو روپو څخه چې کوم مسکین ته یې ورکوی نیت د زکوة نسی ورته حاضر زکات یې صحیح دی، اوکې څه هم د امقارنت حکماً وی لکه یوسړی چې مسکین ته یو اندازه روپې ورکړی اوپه د غه وخت کې د زکوة نیت نه وی، ورو سته نیت د زکوة وکړی صحیح دی لکن چې هغه مال په پلاس کې د فقیر موجود وی یعنی صرف کړی به ئې نه وی، قال المصنف:

وَلَا يُشْتَرَطُ عِلْمُ الْفَقِيْرِ اَنَّهَا زَكٰوةٌ عَلَى الْاَصَحِّ

اونه دی شرط پرې دی چې د غه روپې د زکات دی پر اصح روایت حق کې فقیر ته ئې یوه اندازه علم د فقیر

حَتّٰى لَوْ اَعْطَاهُ شَيْئًا وَسَمَّاهُ هِبَةً اَوْ قَرْضًا وَنَوَى الزَّكٰوةَ

صحت یوه اندازه روپی ورکړی اوپه خوله یې ورته وویل چې دا روپی هبه ده اویا قرض دی اوده نیت دزکات کړی وو زکات یې صحیح سو،

پوښتنه: بعض زکوة ورکوونکی تصریح په دی سره کوی چې دا روپی په زکوة کی واخله نوده سے تصریح څرفائده ده **جواب** ددی تصریح دافائده ده چې دغنی پریوسړی دمسکین گمان وی لکن په حقیقت حال نه وی خبر نودی تصریح په زکوة ددی سبب کوی چې دغه سړی که غنی وو، نوبه ورته ووائی چې نه غنیم ماته زکات نه دی رواء. لکن په دی زمانه کی داتصریح فائده نه لری بلکه اعتبار غالب الظن ته دزکات ورکوونکی دی، ولی چې هغه بل سړی کشل واړه غنی وی خصوصاً دمسجد مُلا صاحب هغه نه ورته وائی چې نه غنیم زکات ماته نه دی رواء بلکه غالبًا به داورته ووائی چې کور دی ودان پرځنګه سبه وخت دی زماد احتیاج زکات راکړی،

مسئله: که یوسړی په نیت دزکوة وکښتیانو ته دفقیر قریب دا ختر په مبارکی کی روپی ورکړی، یا یوچا مسکین نړۍ پرغنی وکړی ده په زړی کی روپی ورکړی لکن په نیت دزکات صحیح ده غاړی دزکوة یه خلاصیږی، **مسئله** که یوشاگرد واستاذ ته یاد علم یاد صنعت روپی په نیت دزکات ورکړی، نوکرداسی ووچې دغه شاگرد روپی نه وای ورکړی هغه تعلیم نه ورته کاوه نود زکات غاړی یه نه په خلاصیږی، اوکه په داسی حال کی معلم ووچې روپی یه نه وای ورکړی هم یه تعلیم ورته کاوه، نود زکوة غاړی یه په خلاصیږی **مسئله**: که یوغنی په قصد دنذر اویابل واجب مسکین ته روپی ورکړی، دزکوة غاړی یه نه خلاصیږی،

بنهانه فائده که دیوغنی پرمسکین پوره باندی ووچې هغه پوره نه سوای اداکولای نوداسی خویه دزکوة غاړی نه خلاصیږی چې مسکین ته ووائې چې هغه زما پوره په زکوة کی قبول کړه، بلکه داسی دی وکړی چې مسکین ته دی زکات ورکړی بیادی ورته ووائی چې زما پوره نو اوس راکړه، اوکه داغسی وکړه بیا هغه مسکین روپی اوپوره نه ورکاوه په نړۍ دی دلاسه ځندی وکاږی اوکی هغه شی نه سوای ګولای قاضی ته دی بوزی چې هغه یه ځندی

ورداخلی، ط دس، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَوْ تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَالِهِ وَلَمْ يَنْوِ الزَّكٰوةَ سَقَطَ عَنْهُ فَرْضُهَا

که سړی خیرات کړی ټولی روپی یعنی نصاب پوره وو اوکال هم تیرسوی وو اوده نیت دزکات نه وو پکښی کړی نوبه دغه خیرات سره زکات فرضی ساقط سو، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَزَكٰوةُ الدَّيْنِ عَلٰى اَقْسَامٍ فَاِنَّهُ قَوِيٌّ وَوَسْطٌ وَضَعِيفٌ

اوزکوة دپور پرځوهتمه دی یعنی په اعتبار دپور یعنی پور پردرې قسمه دی قوی، اوسط، ضعیف

فَالْقَوِيُّ هُوَ بَدَلُ الْقَرْضِ وَمَالُ التِّجَارَةِ اِذَا قَبَضَهُ

نوقوی پور هغه دی چې یا په بدل کی دقرض وی یعنی چاته قرض روپۍ ورکړی وی او پور یې پرباندی وی، اویاد تجارت دمال بدل وی یعنی یوشی پرخرڅ کړی وی چې دا سړی هغه پور قبض کړی،

قَالَ الْمُصَنِّفُ اَوْ كَانَ عَلٰى مُقِرٍّ وَلَوْ مُفْلِسًا اَوْ عَلٰى جَاحِدٍ وَعَلَيْهِ بَيِّنَةٌ

اویادا پور یه باندی وی پرهغه چاچی وی هغه په دغه پور اقرار کوی که څوم مُفلس وی، اویادغه پوره وړی پس منکر وی خوپرهغه منکر پوره وی شاهدان وی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

زَكَاهُ لِمَا مَضٰى وَيَتَرَاخَى وُجُوبُ الْاَدَاءِ اِلٰى اَنْ يَقْبِضَ

نوغړی به زکات ورکوی دتیرو کلو یعنی هرڅو کاله چې دا پور دده باندی وی اوده دلاس ته نه وی رسیدلی اوواجب دی داداء په ځنډیږی تر هغه وخته پورې چې څلویښت روپی قبض کوی نوبه هغوکی یودرهم دی

دِرْهَمًا فِيهَا دِرْهَمٌ لِاَنَّ مَا دُونَ الْخُمُسِ مِنَ النِّصَابِ

ولی چې تر پنځمی کم نصاب چې څلویښت روپی دی یعنی ۴۰ روپی د ۲۰۰ روپو پنځمه حصه کیږی

هغه کم عفوه دی زکوة

عَفْوٌ لَا زَكٰوةَ فِيْهِ وَكَذَا فِيْمَا زَادَ بِحِسَابِهٖ نسته پکښې اوغم
ږنګر دی زکوة ورکوی د یا لا بود روپو چې قبض یې کړی په حساب د څلو یښتو روپو، قَالَ

وَمُتَوَسِّطٌ وَهُوَ بَدَلُ مَا لَيْسَ لِلتِّجَارَةِ كَثَمَنِ ثِيَابِ الْبِذْلَةِ

اوبل میانه پوردی ګله قیمت دهغه شیانو چې د تجارت دپاره نه وی مثلاً قیمت د کالو د استعمال کد
اغوستلو کالي وی اوکه د اواریدو شیان وی

وَعَبْدِ الْخِدْمَةِ وَدَارِ السُّكْنٰى یعنی یوسړی د هغه د استعمال شیان په
پوه چاته ورکړی، اوپوریه پریباندی وی، اویا یه خپل د خدمت مړی پرچا خرڅ کړی وی او روپۍ
پریباندی وی، اویا د استوګنې سړی ئې پرچا خرڅ کړی وی اوروپۍ ئې پریباندی وی،

پوه سه: د خپلې سپړتیا موټر چې پرچا خرڅ کړی اوروپۍ ئې پریباندی وی هغه هم
وسط پوردی» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

لَا تَجِبُ الزَّكَاةُ فِيْهِ مَا لَمْ يُقْبَضْ نِصَابًا وَيُعْتَبَرُ لِمَا مَضٰى

نوید غه وسط پوه، زکات پرده نسته ترهغو پورې چې یو نصاب روپۍ یه قبض کړی نه وی، او تیر

مِنَ الْحَوْلِ مِنْ وَقْتِ لُزُوْمِهٖ فِيْ ذِمَّةِ الْمُشْتَرِيْ فِيْ صَحِيْحِ الرِّوَايَةِ

کال زکوة دهغه وخت څخه پرده لازم دی چې دده د غه پوه، په ذمه کې د مشتري لازم سوی دی
په صحیح روایت کې، پوه سه: چې په دې وسط کې دوه روایته دی، یو روایت
دی د مبسوط وغیره هغه د غه مذکور فی المتن دی، یعنی د زکات اداء د غه پوه هغه وخت
پرده لازمه ده چې دوه سوه روپۍ د د غه پوه، وکاږی د پوره ورې څخه اوکال تیر یده د وخت
څخه د لزوم په مشتري باندی نه د وخته څخه د قبض» اوبل روایت دی د ابن سماعه د امام
اعظم څخه په هغه روایت کې وائي: چې د وخت څخه د قبض د ۲۰۰ روپۍ چې کال پرتیر سی، نو

زکوة یه واجب الاداء دی نه د وخت څخه د لزوم پر مشتری» ودلائل الروایتین ووجه صحة
روایة المتن فی الکتب المبسوطة فراجعها. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالضَّعِيْفُ وَهُوَ بَدَلُ مَا لَيْسَ بِمَالٍ كَالْمَهْرِ وَالْوَصِيَّةِ

اوبل ضعیف پوردی هغه هغه پوره دی چې بدل د مال نه څخه نه وی، لکه ولور، د مایني چې پر میړه

وَبَدَلُ الْخُلْعِ وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ وَالدِّيَةِ وَبَدَلُ

باندی او کال پرتیر سی، اویا سړی وصیت وکړی چې مثلاً زما د ریمی زره روپۍ فلانی ته ورکړی، نو دغه

الْكِتَابَةِ وَالسِّعَايَةِ لَا يَجِبُ فِيْهِ الزَّكَاةُ مَا لَمْ يُقْبَضْ

هغه روپۍ وځنډولی چې یو کال پرتیر سو بیا یه ورکړی، اویا د غه پوه بدل وی د صلح د د م عمد یعنی یو

نِصَابًا وَيَحُوْلُ عَلَيْهِ الْحَوْلُ بَعْدَ الْقَبْضِ سړي یو چا په قصد سره
مقتول د قاتله سره صلح پر یوه اندازه روپو باندی وکړه، هغه روپۍ قاتل وځنډولی یو کال
اوبیا یه ورکړی، اویا بدل د خلع وی یعنی مایني میړه ته وویل چې ما ایله که زه به دوني روپۍ
درکړم، نو میړه هم قبول کړه، لکن مایني هغه د خلع بدل روپۍ یو کال وځنډولی اوبیا یه
ورکړی، اویا دیت وی مثلاً یو سړی بل سړي په خطا مړکړی چې د هغه دیت پر عاقله ؤ وژل
کړونکي لازم دی لکن هغوی اپوره وځنډ اوه یو کال مثلاً اوبیا یه ورکړی، اویا بدل د
کتابت وی نکه چې مړئ بادار ته ووائي چې ما مکاتب کړه زه مثلاً په دوئ میاشتی کې تاته زر
روپۍ درکړم هغه قبول کړه لکن مړئ د غه بدل یو کال وځنډ اوه اوبیا یه ورکړي» اویا سعایه
نکه سړی چې نیم مړئ مثلاً آزاد کړی اوورته ووائي چې ته کوشش وکړه د هغه بدل نیمی روپۍ مانته
برابری کړه، نو مړئ یو کال هغه نوری روپۍ وځنډولی اوبیا یه ورکړي، نو په دی ټولو صورتو
کې هر هغه سړي زکات نسته، ترهغو چې یو نصاب روپۍ یا یا لا ترهغه قبض نه کړی، اوپر قبض

کړي روپو نوی کال تیرنه شی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَهٰذَا عِنْدَ الْإِمَامِ وَأَوْجَبَا عَنِ الْمَقْبُوضِ مِنَ الدُّيُونِ

اودافرق پمابین کې دقوی اودوسط اودضعیف پورو لکه چې تاسی واوریدی په نیزد امام اعظم دی اوپاراوافی زکوة دمقبوض روپو

الثَّلَاثَةِ بِحِسَابِهِ مُطْلَقًا

واجب بولی په درومړو قسمونو کی دپورو ومطلقا کی لږ قبض کړی اوکه ډیری، والدلائل فی الکتب المبسوطة. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَإِذَا قَبَضَ مَالَ الضِّمَارِ لَا تَجِبُ الزَّكٰوةُ لِلسِّنِينَ الْمَاضِيَةِ

کم یوسړی قبض کړی مال دضمار یعنی سره داشکال دمال ضمار کړده قبض کړی دتیرو کلونو زکوة نه ده باندی

بِخِلَافِ سَائِرِ الْأَمْوَالِ

پوه سله: چې مال ضمار هغه مال ته وائی چې رسیده وهغه ته ډیرشکل وی لکه چې وښائی خو چې وائی

قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَهُوَ كَابِقٍ وَمَفْقُودٍ وَمَغْصُوبٍ لَيْسَ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ

دمال ضمار یومثال لکه مړی یوسپا وپرچې وتښتی یا ورک سی لکن دتجارت پاره وی وروسته هغه مړی پیدا کړی، بل مثال یې دادی چې مال دبل سړی کړ نغدی وی اوکه تجارتی مال وی خولک یې ځندی غصب کړ اومالک شاهدان نه پرلری، لکن اخرغاصب پښیمانه سی اوهغه مال یې ورکړی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمَالٍ سَاقِطٍ فِي الْبَحْرِ وَمَدْفُونٍ فِي مَفَازَةٍ أَوْ دَارٍ عَظِيمَةٍ

یادسړی تجارتی مال په دریاب کې غرق سو یاپه ځمکه دریا کې پروت زرلو لاسته ورغلی، بل مثال یې هغه مال اونقود دے چې ده ښخ کړی وی په بیابان کې، اویاپه لوی سرای کې اوځای دښخید وځندی هیروی، بخلاف

وَقَدْ نَسِيَ مَكَانَهُ وَمَأْخُوذٍ مُصَادَرَةً

دی چې کشنی سرای وی ولی دهغه ټوله سرای شامل ممکن دی، بل مثال یې دادی چې یو اندازه مال ظالم په زور وده ځمکه احتی وی چې دده زور نه په رسیږی

مثلاً حکومت وقت په زور ځندی احتی وی اوضبط کړی وی وروسته هغه حکومت پښیمانه سی یا بل عادلانه حکومت قائم سی اوده مال بیرته لاس ته ورسی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمُودَعٍ عِنْدَ مَنْ لَا يَعْرِفُهُ

اویایه مال امانت ایښی وی اسی چا ته چې دی نه پیژنی، لکن هغه سړی ددی سړی مال ورته راوړی، بخلاف ددی چې مال یې وه شناخته سړی ته ایښی وی اوبیا ځندی هیروی هغه باندی دټولو تیرسو دکلونو زکات لازم دی، ولی نقصان په ده کی دی څرنګه شناخته سړی ځندی هیرسو، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَدَيْنٍ لَا بَيِّنَةَ لَهُ عَلَيْهِ

اویایه پورپرچا باندی وی اوهغه پوه وړی پرې منکروی اودی هوشاهدان نه پرلری، ورو وسته هغه پوره وړی خپله پښیمانه سی اومال یې ورته راوړی، درویش وائی چې په دغه ټولو مثالونو کی دمال ضمار چې مالک ته یې له دیرو کلو لاس ته ورسی، دتیرو کلونو زکوة باندی نسته بلکه چې یې له وصوله کال پرتیرسی بیاد یوکال زکات پرکیږی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَا يُجْزِءُ عَنِ الزَّكَاةِ دَيْنٌ أَبْرَءَ عَنْهُ فَقِيرٌ بِنِيَّتِهَا

اوکفایت دزکوة ځخه نسی کولای یعنی دزکات غاړی نه په خلاصیږی، هغه پورچې دیوه غنی یوه فقیر باندی وی او ابراء ورکړه سی وهغه ته په نیت دزکات، درویش وائی چې ددی مسئلی ټوله بیان ویاندی عنقریب تیرسو، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَصَحَّ دَفْعُ عَرَضٍ وَمَكِيلٍ وَمَوْزُونٍ عَنْ زَكَاتٍ

اوصحیح دی ورکول دعرض یعنی کالی کمبلی، لوښی وغیره، اوهغه شی چې په پیمانه خرڅیږی لکه غنم خرما اوربشی وغیره په اصطلاح دعربو، اویاپه ترازو تلل

النَّقْدَيْنِ بِالْقِيمَةِ

سپین زر یاسره زر لکن په قیمت دعرض اودمکیل اوموزون، یعنی داسی غاړی نه په خلاصیږی چې دلسو روپو

عرض وغیره د سلورو پو نقد په زکات کی ورکړی، لکه بعض عوام چې داعنسی حیله جوړه وی
چې پو مسکین یوه جوړه کالی ورکړی چې مثلاً قیمت یه لس روپی وی اودی مسکین ته ووایی
چې ځه کالی دسلورو پو په زکوة کی قبوله کړه مسکین کالی غیمت وبولی، ورته ووائی بښردی
لکن دغنی فقط د لسلورو پود زکات غاړی یه خلاصیږی. قال المصنف:

وَإِنْ أَدَّى مِنْ عَيْنِ النَّقْدَيْنِ فَالْمُعْتَبَرُ وَزْنُهُمَا أَدَاءً كَمَا أُعْتُبِرَ وُجُوبًا

اوکه سړی زکات ورکاوه دخودی نقد ینو څخه نو معتبر یه وزن دی په اداء کی لکه
چې وزن د دوی معتبر وو په وجوب کی یعنی دنصاب په بارة کی، مطلب دادی چې
قیمت ته ځیښې زر د اوسرو زرو اعتبار نشته، مثلاً په سرو اوسپینو زرو کی جید اوردی
چې په قیمت کی دیر فرق سره لری، اویا یوه ګینره دښځو دسرو زرو څخه مثلاً جوړه سوی وی
چې قیمت یه ۳۰ مثقاله وی مثلاً لکن سره زر په کښې ۲۰ مثقاله کار سوی وی نو معتبر وزن دې
قیمت نه دی، اودامذهب دی دامام اعظمؒ اودامام ابویوسفؒ اوامام زفرؒ والی چې قیمت ته
اعتبار دی. اوامام محمدؒ والی چې هرڅوقیمت اووزن څخه چې دفقیر فائده په کښې وی معتبر دی

فَائِدَةُ الْاِخْتِلَافِ

پریوسړی پنځه درهمه دښو سپینو زرو زکوة واجب وو ده د
بیکاره سپینو زرو څخه چې په وزن پنځه درهمه وه ورکړه فقیرته چې قیمت دهغوی جیار
سره څلور درهمه کیدی، نوپه نیزد شیخینوؒ زکات یه صحیح دی، ولی چې وزن خو یه برابر دی
لکن سره دکراهته، اوامام محمدؒ اوزفرؒ والی چې زکات یه ترهغونه دی صحیح چې هغه بالابود
دقیمت ورکړی، امام زفرؒ پرمذهب خوظاهر وده ولی چې دی قیمت ته اعتبار ورکوی، اوامام
محمدؒ په نیزچې انفع للفقیرته اعتبار ورکوی ددی سبب نه خلاصیږی چې شك نشته
چې انفع وفقیرته خومودی سره د فضله دی» فافهم» قال المصنف:

وَتُضَمُّ قِيمَةُ الْعُرُوضِ إِلَى الثَّمَنَيْنِ وَالذَّهَبِ إِلَى الْفِضَّةِ قِيمَةً

اوضم کړی قیمت دعروض یعنی چې د تجارت دپاره وی وسپینو زرو یاسرو زرو ته

چې د مجموع زکات د نقد ینو څخه ورکړی روادی، اودغه رنګه ضم کړه کیږی سره زر وسپینو
زرونه په اعتبار د قیمت دسرو زرو چې نو زکات د مجموع د سپینو زرو څخه ورکړی»

قال المصنف: **وَنُقْصَانُ النِّصَابِ فِي الْحَوْلِ لَا يَضُرُّ إِنْ كَمَلَ فِي طَرَفَيْهِ**

اونقصان د نصاب په مابین کی د کال تاوان نه لری یعنی زکوة نه په ساقطیږی که چیری هغه نصاب
په سر اوپای کی د کال پوره وو، مثلاً یوسړی دوه سوه درهمه په سر کی د کال درلوده، نوده بیا
یوشی دګټې په امید په راسوی، مګر په وروسته کی د هغه شی قیمت ۱۰۰ سل روپی راکښته سو، مال
پروت وو رفته رفته په اخیر کی د کال بیرته دوه سوه روپو ته ورسیدی نو زکوة کامل پرواجب دی،

قال المصنف: **فَإِنْ تَمَلَّكَ عَرَضًا وَهُوَ لَا يُسَاوِي نِصَابًا وَلَيْسَ لَهُ غَيْرُهُ**

که سړی په ملک کی وو یو عرض هرشی چې وی د تجارت دپاره لکن قیمت دهغه شی په ابتداء کی د کال

ثُمَّ بَلَغَ قِيمَتُهُ نِصَابًا فِي آخِرِ الْحَوْلِ لَا تَجِبُ زَكَوٰتُهُ

نصاب ته ورسیدی مثلاً قیمت یه سل روپی وو لکن دی سړی چې تجارت شروع کی رفته رفته ده په اخیر کی
د کال دوه سوه ته ورساوه، نو ددغه کال زکات باندی نشته، ځکه چې

لِذَالِكَ الْحَوْلِ

بل کال پرتیریږی، لکن شرط دادی چې بل شی د نقد ینو څخه به دی
نه لری چې نصاب په اول کی د کال په پوره سی، قال المصنف:

وَنِصَابُ الذَّهَبِ عِشْرُونَ مِثْقَالًا وَنِصَابُ الْفِضَّةِ

اونصاب د سرو زرو مثقال دی او نصاب د سپینو زرو ۲۰۰ دوه سوه درهمه دی د

مِائَتَا دِرْهَمٍ مِنَ الدَّرَاهِمِ الَّتِي كُلُّ عَشَرَةٍ وَزْنُ سَبْعَةٍ

هغو دراهمو څخه چې هر لس درهمه یه اووه مثقاله وی، اوهغه روپی سری یاسپینی، چې ترشل

وَمَا زَادَ عَلَى نِصَابٍ وَبَلَغَ خُمُسًا زَكَّاهُ بِحِسَابِهِ

مثقال با لاسی اویاد هغود درهمو څخه چې هر لس درهمه به اوه مثقاله وي، اوهغه روپي سري یا سپینې چې ترشل مثقاله بالاسې اویا تر دوه سوه درهمه بالاسې، لکن پنځمې حصې ته د نصاب و رسیږي یعنې ۴ مثقاله د سرو زرو یا ۴۰ درهمه د سپینو زرو نو زکات بې په حساب د نصاب وركوي.

پوه سه: پوه سه چې دپاره د پیژندګلوي د مقدار د دینار اودرهم چاره دا ده، چې د هغو کسور به سرې پیژني، نو واوره چې دینار شپږ حبې دي، اوحبه دوې اربشې ده نو د حبې اربشې ۱۲ کیږي، او اربشه ۲ خردله ده، اوخردل ۱۲ فلس دي، اوفلس ۶ فتیله دي او فتیله ۶ نقیره دي، اونقیر ۶ قطمیر دي، اوقطمیر ۱۲ ذرة دي، نوته په ضرب سره د دینار ذرې معلومې کړه، اوهغوني ذرې چې غونډې کړې دینار به څنګه جوړیږي، اودرهم خوهغه دي لکه مصنف چې وویل لس درهمه اوه مثقاله کیږي، او **پوه سه**: چې مثقال او دینار شپږ یوشي دي، نو په دې عبارت پیژندګلوي د مثقال اودینار د دا سې کیدای شي چې یو دینار شل قراطه دي، اودرهم ۱۴ قیراطه دي، اوقیراط پنځه اربشې دي، نو په دې حساب دینار سل اربشې دي، اودرهم ۷۰ اربشې دي".

تنبیه: درهم چې ۱۴ قیراطه هغه درهم شرعي اودرهم متعارف ۱۲ قیراطه دي، نو مقدار د نصاب د دراهمو متعارفو په حساب ۲۰۰ درهمه دي، اودرهم شرعي په حساب ۱۷۵ کنه اقل الام الطحاوي، اوبعض متاخرین چې دهر دینار اووطن خپل دراهم معتبر دي په نصاب کې لکه افغاني په افغانستان کې، کالداري په پاکستان کې، ریال په سعودي کې په فتح القدیر کې والي: وهوالحق، واللہ اعلم بالصواب.

فائده: علامه طحطاوي پ مصنف باندې داسې نیوکه کړیده، چې مناسب داوه چې پرسپینو زرو مصنف د څخه ترسره خبره کړي واى، ولې چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم وعمالونه خپل اول د سپینو زرو نصاب او زکوة به ئې بیانوى بیا به ئې د ورو سته د سرو زرو، اوبل دا چې په خلکو کې عموماً

اوالکثرا سپین زر رواج دي، نو د دې سبب مهر د ښځو اونصاب د سرقه هم د دغه سپینو زرو په روپو تاکل کیږي، ځکه ویش وائي چې شاید مصنف د دې لپاره د سرو زرو نصاب ذکر کړي وي چې سره زر خو اعزاز نقدینو وه، نو حلګ چې په دې پوه سي چې اعزاز پ کې د نقدینو زکات نو پر سپینو زرو به دلاور سي، د زکات په بار ه کې" قال المصنف:

وَمَا غَلَبَ عَلَى الْغِشِّ فَكَالْخَالِصِ مِنَ النَّقْدَيْنِ

او هغه سکه وبلې زر چې زر یې تر قوت پورې وي، نو هغه لکه خالص زر د اسې دي یعنې په نصاب او زکوة کې غش غالبه وه هغه حکم د عروضو لري په اعتبار د قیمت یې زکات ستنه.

وَلَا زَكٰوةَ فِي الْجَوَاهِرِ وَاللَّآلِي إِلَّا أَنْ يَتَمَلَّكَهَا بِنِيَّةِ التِّجَارَةِ كَسَائِرِ الْعُرُوضِ

او زکوة نشته په جواهراتو کې لکه عقیق، مرجان، یاقوت، اونور د دغه قسمه جواهرات او نه په ملغلرو کې زکوة ستنه، مګر هغه وخت یې زکات په ملک کې د دغه جواهرات وغیره راوستلې وي په نیت د تجارت" **پوه سه**: چې امام طحطاوي د دې څخه نقل کړي دي، چې غیر د سرو زرو او سپینو زرو او غیر د سوائه سوهغې چې موتبر ان وي که سرا یونه وي کرغالي وي که جواهرات وغیره وي، په هغو کې زکوة نشته مګر چې په نیت د تجارت په رانیولو وي یې وخت د عقد کې، **مسئله**: که سرې یوشي د دغو شیانو رانیوي اوپه وخت کې د عقد په نیت د تجارت نه وي وسته، په نیت د تجارت په کښې وکړي زکات نشته باندې، ط، **مسئله**: که یوچا د دغو شیانو څخه یوشئ رانیوي د پاره د استعمال اونیت یې دا وو که چیرې ښه گټه پرې اغله خرڅوم یې ترهغو چې خرڅ کړي یې نوي زکات په کښې نشته د ر، ط،

التِّجَارَةِ كَسَائِرِ الْعُرُوضِ

قال المصنف: وَلَوْ تَمَّ الْحَوْلُ عَلَى مَكِيلٍ أَوْ مَوْزُونٍ فَغَلَا سِعْرُهُ

او که پر کیلي شي لکه غنم وارښې، جوارې، ورجې وغیره او یا پر وزني شي لکه وسپنه وغیره کال تیر شو یعنې د تجارت د پاره ئې

أَوْ رُخِّصَ فَأَدَّى عَنْ عَيْنِهِ رُبُعَ عُشْرِهِ أَجْزَأَهُ وَلَوْ أَدَّى

راینولی وه، نوزخ دوغوشیانو پورته سوا وپاکښته سونوکه دغه تجار دعینی دغوشیانو څخه څلورمه دلسمی حصی ورکړه دزکات غاړی

مِنْ قِيمَتِهِ لُعْتُبِرَ قِيمَتُهُ يَوْمَ الْوُجُوبِ وَهُوَ تَمَامُ

په خلاصی سوی، اوکی قیمت څخه دوغوشیانو زکات ورکړی، نوحضرت الامام الاعظم چی هغه ته په اعتبار دی چی

الْحَوْلِ عِنْدَ الْإِمَامِ وَقَالَا عِنْدَ يَوْمِ الْأَدَاءِ لِمَصْرِفِهَا

پرده زکات دوغوشیانو واجب سوچی حولان دکال دی، اویارانو وائی چی قیمت دهغه ورځی معتبر

دی چی دی په مصارفوته دزکوٰة ورکوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَا يُضْمَنُ الزَّكَاتُ مُفْرِطٌ غَيْرُ مُتْلِفٍ فَهَلَاكُ الْمَالِ بَعْدَ

اودزکات ضامن نږدی هغه سړی چی په اداکولو کی دزکوٰة ئی تفریط کړی وی یعنی پرمال کال تیرسو

الْحَوْلِ يُسْقِطُ الْوَاجِبَ لکن مالک دمال بیله عذره زکات وځنډوی حتی چی مال

یوورځی اویا څنډی وزلک سووغیره، نوبی ضامن دزکات نږدی، نتیجه داسوه کمال تولو

بیله تمام الحول هلاک سو، نوهغه واجب زکات ساقط سوکه څوم ده په اداء کی تفریط کړی

وی قال المصنف: وَهَلَاكُ الْبَعْضِ حِصَّةً وَيُصْرَفُ الْهَلَاكُ إِلَى

اوبعض مال هلاک ساقطوی حصه دهغه هلاک مال دباقی مال زکات پرسته، اوصرف کیږی هلاک اولاوهغه قدرته چی عفوه

الْعَفْوِ فَإِنْ لَمْ يُجَاوِزْهُ فَالْوَاجِبُ عَلَى حَالِهِ

وی یعنی زکات نږدی پکښی، نوکه هلاک ترعفوی نږسو بالا نود تولو مال زکات پرلازم دی یعنی هغه چی باقی مال دی،

مثلاً یوچا شپږ اوښان درلوده، نوپرده خویو پسه کیږی اویو اوښ عفوه دی، نوپسله تمام

الحول یو اوښ هلاک سو نوپرده پوره پسه کیږی هغه هلاک متوجه وعفوی نه دی، نوره اموال

دتجارت هم پردغه قیاس کړه، فتفکر، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَا تُؤْخَذُ الزَّكَاةُ جَبْرًا وَلَا مِنْ تَرِكَتِهِ إِلَّا أَنْ يُوصِيَ بِهَا

اوزدی اخستل کیږی زکات په زوره اونه زکات دی اخستل کیږی دمیراث څخه دده مګرنه که

مړی وخواځخه وصیت کړه سوی وو په زکات نوکه مړی وصیت

فَتَكُونُ مِنْ ثُلُثِهِ دزکوٰة کړی وو نوبیادی قدر دزکوٰة دده یعنی څخه ورکړی فقط

کی غاړی په خلاصیږی اوکه نه ولاچی دوه ثلث خوده ورثه ووحق دی، الا ان یتبرعوا به.

وَيُجِيزُ أَبُو يُوسُفَ الْحِيلَةَ لِدَفْعِ وُجُوبِ الزَّكٰوةِ وَكَرِهَهَا

اوروابولی امام ابویوسفؒ حیله دپاره ددفع دوجوب دزکوٰة، اوامام محمدؒ په مکروه بولی

مُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا مثلاً یوسړی دامی مال درلودی

کدکال پرتیرسوی وای پرده

زکوٰة واجبیدی لکن ده په مابین کی دکال هغه مال وچاته و بخښه بیاچی کال پوره سو اوهغه

مال په نیزد موهوب له موجود وو بیا دوباره واهب رجوع په هبه کی وکړه، اوهغه مال په دهغه

څخه بیرته واخستی یاپه رضا اویاپه قضا دقاضی، نودغه مال پریوه باندی زکات نشته، لعدم

حولان الحول عند احدهما، خانیه ط وفی المعراج، کدیوسړی اوښان چی نصاب په پوره

وو، نوده یوه ورځ ترکال پوره کیدو دهغه څخه خرڅ کړه فرارا عن وجوب الزکوٰة، قال محمد

یکره وقال ابویوسفؒ لایکره وهوالاصح، اوکی دکوه، دنفقی دپاره خرڅ کړه لایکره بالاجماع

وتمام هذا البحث فی البحر، درولیش وائی چه خدای جل سلطانه چی سړی ته دونده مال ورکړی چی پرده

زکوٰة واجبیدی نومناسبه داده چی دپاره داسقاط حق الله چی زکات دی حیله ونه کړی، وَلَئِنْ

شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ، ایت کریمه دی، اوشکر نشته چی زکوٰة شکر مال دی،

بَابُ المَصرِف

باب ثابت دی په بیان کی د مصرف د زکوٰة

پوه سه چی د مصرف تعریف فقهاؤ په اصطلاح کی د شرع په داسی د قول کړی دی چی هغه مسلمان دی چی هغه ته ورکول د زکات روا وی، **فائده**: مصنف دباب په عنوان کی داسی وینه ویل «باب مصرف الزکوٰة» کړخو هم بحث خو د زکات دی، دی دیاره چی مصرف الزکوٰة مصرف العشر، مصرف خمس المعادن، ته هم شامل سی، چی د معادنو خمس المصرف بیت المال دی **فائده**: په قرآن شریف کی د زکوٰة اته ۸ مصارف ذکر سوی او مصنف اوٙ مصارف ذکر کړه، ولی چی مؤلفة القلوب چی په قرآن مبارک کی ذکر سوی دی د هغو برخه په اجماع د صحابه کرامؤ ساقطه سوه.

پوښتنه: مؤلفة القلوب خو کسان وو چی صحابه کرامؤ د مصرفیت څخه وایستل.

جواب: مؤلفة القلوب هغه ضعیف الایمان مسلمانان وه چی د اسلام سره ئی قوی رابطه نه وه، نو آن حضرت صلی الله علیه وسلم په امر الهی د دوی ته په صدقاتو کی د نډه ورکړل تاچه د ایمان سره ئی علاقه په مرور د زمان سره سی، نو ځکه اضافه د مصرف د صدقاتو په قرآن مبارک کی اته ذکر سوی دی، قال الله تعالیٰ: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ الی ان قال وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ

پوښتنه: چونکه د مؤلفة القلوب په قرآن کی ذکر سوی دی نو د صحابه کرامؤ په قول څرنګه منسوخه کیدای سی،

جواب: په اصولو کی دا قاعده دی چی اجماع د صحابه کرامؤ دلیل قطعی دی، نو کیدای سو چی ناسخ د قرآن وگرځی: والتفصیل یطلب من کتب فن الاصول

قال المصنف:

هُوَ الْفَقِيرُ وَهُوَ مَنْ يَمْلِكُ مَا لَا يَبْلُغُ نِصَابًا وَلَا قِيمَتَهُ

یو مصرف د زکات فقیر دی، او فقیر هغه څوک دی چی مالک خو وی د څه مال لکن نه رسیږی د مال د دوه نصاب ته اوته قیمت ته د نصاب.

مِنْ أَيِّ مَالٍ كَانَ وَلَوْ صَحِيحًا مُكْتَسِبًا

د هر مال څخه چی وی که څوک اومږ د وری قابل وی، **مسئله**: که سړی نصاب خو د رلودی لکن هغه غرق د ده په حاجتِ اصلی سره وو نو زکوٰة اخستله ورته روا دی ط، **مسئله** که د سړی پور پر یو چا باندی وو چی نصاب کیدی لکن په مده سره او مده نه وی رسیدلی او دی نفقی ته محتاج سو، نو ده ته زکات اخستل روا دی تر وخت د اجل **مسئله**: که پور د ده اجل نه د رلودی نو که پور ورکړی د ده مسکین وو، نو ده ته اخستل زکوٰة روا دی په صحیح روایت کی او که پور ورکړی غنی خو وو لکن د ده د پور څخه منکر وو، او ده شاهدان د پور نه د رلوده، نو ده ته اخستل زکات روا دی، او که پور ورکړی غنی وو او د ده په پور یه اقرار کاوه، نو ده ته اخستل زکات ناروا دی، ط «در»، **فائده**: هغه چا ته چی روغ رمټ وی او پر کسب هم قادر وی، او ل د ده چی د زکات او نخلی، او د اذلت پرمان نه کړی نیږی «در، ط، قال المصنف:

وَالْمِسْكِينُ وَهُوَ مَنْ لَا شَيْءَ لَهُ

پوه سه: چی مراد نفی د شی مطلق نه دی یعنی چی نه قمیص لری او نه پر توک لری وغیره ذالک بلکه مراد نفی د هغه شی دی چی د هغه شی په نصاب کی زکوٰة کیږی لکه سړی اوښ، پسه، وغیره **پوه سه**: چی بعض فقهاؤ تعریف د فقیر او مسکین پر عکس د ما قال المصنف کوی، لکن د مصنف قول اولی دی: لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ. قال

وَالْمُكَاتَبُ

او دریم مصرف مکاتب دی چی بادار ده ته وعده کړی چی دونه مقدار روپی ماته راکړه نو ته ازاد یې، وهو المراد بقوله تعالیٰ: وَفِي الرِّقَابِ «عند اکثر المفسرین» **پوه سه**: چی په مکاتب کی دا فرق نسته چی مکاتب د غنی مالک وی یا د فقیر پر مذهب صحیح ط **مسئله**: د مکاتب ته دهاشمی زکوٰة نه دی روا، ط، **فائده**: د مکاتب ته نه د روا چی چا زکات ورکړی چی دی به ئی صرفوی په غیر کی دیو د کتابت» بحر»

اللهم اغفر لمؤلفه ولمترجمه ولناشره ولکاتبه وقد کتبه بقلمه قاری فضل الحق حقانی غفرله

قال المصنف: **وَالْمَدْيُونُ الَّذِي لَا يَمْلِكُ نِصَابًا وَلَا قِيمَتُهُ فَاضِلًا عَنْ دَيْنِهِ**

اوبل مصنف دزکوة هغه سړی دی چې پور پر باندې وي اوې مالک د نصاب یا د قیمت د نصاب چې بالاددې تر پورې نه وي، په فتاوی ظهیریه کې وایي چې هر څوک د زکات وړ وي هغې سړي ته اولې ده تر ورکړې وفقیر ته، لکن مدیون به هاشمي نه وي؛

قال المصنف: **وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَهُوَ مُنْقَطِعُ الْغُزَاةِ أَوِ الْحَاجِّ**

اوبل مصنف د زکوة في سبیل الله دی یعنی په لار کې د خدای **پوه سه**: چې کله څوک د زکوة في سبیل الله دی لکن په عرف د شرع في سبیل الله هغه کسان دي چې په غزا کې نفقه او خرڅ په خلاص سي یا په دا یا موټر د کار وړ نه وي نو هغوته د زکات ورکړه اولې ده تر هغه کسب کار چې خلک وي، ولی که دوی په کسب لاس پورې کړي نو د غزا څخه پاتې وي، او د غه خلکو ته ورکول د زکات د پرېښه کار دی په سبب د فقر او جهاد څخه پاتې کیدو، او د التیسیر مختار د ابو یوسف دی د في سبیل الله، یا منقطع الحاج یعنی چې د حاجي د حج په وخت کې نفقه خلاصه سي او یا غلبه یې څنډې یوسي، او د اکثرو قول د امام محمد دی د في سبیل الله، او بعض فقهاء وائي چې في سبیل الله طالبان د علم دی چې فقیران وي، **فائده**: د اختلاف په مابین د امام ابو یوسف او د امام محمد په تفسیر کې د هغه آیت دی چې في سبیل الله په کښې ذکر سوی دی د دې په اتفاق د ورکړې د زکوة وتهولو ته روادی، په شرط د فقر، قال المصنف:

وَابْنُ السَّبِيلِ وَهُوَ مَنْ لَهُ مَالٌ فِي وَطَنِهِ وَلَيْسَ لَهُ فِي سَفَرِهِ

اوبل مصنف د زکات ابن السبیل دی یعنی د لارې زوی، چې معنا یې مسافر دی، او دی هغه سړي دی چې په وطن کې خو مال لري لکن د مال د ده سره نه وي په سفر کې **پوه سه**: چې ابن السبیل چې په وطن کې مال د نصاب لري پرده د زکوة واجب دی چې خو د خپل مال ولاس ته وي، سیږی، لکن في الحال په لاس کې د ده مال نه سته، نو دی فقیر دی د زکات احتمل ورته روادی،

سوال منقطع الغزاة او منقطع الحاج که په وطن کې مال لري، نو دوی خو په ابن السبیل کې داخل سوه، او که په وطن کې هم مال نه لري نو خو په فقراوو کې داخل سو، نو څرنګه ابن السبیل جلا قسم سو **جواب** په اختیار د شق ثانی چې چونکه په منقطع الغزاة او منقطع الحاج چې دوی په عبادت کې د خدای ولاړ دی غزا یا حج دی نو دی کبله د فقیر مطلق څخه جلا قسم سوله، **مسئله** د ابن السبیل د پاره فرض کول د یوچا اولی دی تر قبول د زکات څنګه کذا في بحر الرائق، قال المصنف:

وَالْعَامِلُ عَلَيْهَا يُعْطَى قَدْرَ مَا يَسْعَهُ وَأَعْوَانَهُ

اوبل مصنف پر صدقاتو جمع کولو باندې، یعنی که هغه سړی چې حکومت اسلامی دی مقرر کړی پر زکات داو بنا تو، پیسو وغیرها باندې، نو د غه عامل ته دی د زکات د مالو څخه دومره قدر تنخواه ورکوی چې د ده او د ده ملګری یعنی من ډایان یا مزدوران ډیر ی کې هم د غه عامل پخپله غنی وي،

وَلِلْمُزَكِّي الدَّفْعُ إِلَى كُلِّ الْأَصْنَافِ وَلَهُ الِاقْتِصَارُ عَلَى وَاحِدٍ

او روا ده زکات ورکوونکی ته چې خپل زکات په ټولو د غو صنفو وویشي، او هم ده ته روا ده چې خپل زکات

مَعَ وُجُودِ بَاقِي الْأَصْنَافِ

پر یوه صنف قسم کړي یعنی یوه صنف ته په ورکړې سره د دی چې باقی اصناف هم موجود وی، بلکه دا هم موجود وی، بلکه دا هم ورته روا ده چې دیوه صنف دیوه سړی ته یه ورکړی فقط، او بعض امامان وائی چې مزکی به حتماً خپل زکات د ټولو اصنافو ته او په هر صنف کې کم از کم درې کسان ورکوی، وفي النهر روی عن کثیر من الصحابة عدم التعیین یعنی د مزکی اختیار دی، قال

وَلَا يَجُوزُ دَفْعُهَا لِكَافِرٍ وَغَنِيٍّ يَمْلِكُ نِصَابًا أَوْ مَا يُسَاوِي

او نه ده روا ورکړه د زکات وکافرته یعنی که مشرک وی او که دهري وي او که یهودی وی او که نصاري وی، او د غه رنګه روا نه ده ورکړه د زکات وغنی ته چې مالک د نصاب وی د هغه مال څخه چې وی

لکن دا نصاب دَحوا نجواوه پوره خته خالی وي ه قال المصنف:

قِيمَتُهُ مِنْ اَيِّ مَالٍ كَانَ فَاضِلًا عَنْ حَاجَتِهِ الْاَصْلِيَّةِ

خواه هغه نصاب نامی بالفعل وی اوکه صالح بخاوی لکن ده معطل پرینبودی، اویابل شی چی برابروی قیمت دهغه د نصاب سره دهرمال نخه چی وي. **فائده**: مراد دبل شی نخه هغه شی دی چی د تجارت دپاره وی، نه د استعمال دپاره مثلاً یوسړی په کورکې دپیسو غالی اولوښی اوسپرلۍ موټر وغیره د استعمال دپاره نودهغوپه قیمت کی زکات نشته، کرخه هم نصاب ته ورسیږی اوکی یوه غالی مثلاً تجارتی در لوده چی قیمت یې نصاب ته ورسیدی زکات باندی فرض دی، وعلی هذا القیاس دپیسوایونه دکرائی دپاره نه د تجارت دپاره دهغوپه قیمت کی زکات نشته، وهکذا اسپی دپیسو محکی رانیولی وی لکن نه په نیت د تجارت فتأمل، قال المصنف:

وَطِفْلٍ غَنِيٍّ

اودغه رنګه نه ده رواورکول د زکات وکشنی ته د غنی سړي کفروی اوکه بیخه اوکه په عیال کی د غنی وی اوجلاوي. **پوه سه** چی مراد د طفل نخه هغه دی چی بلوغ ته نه وی رسیدلی، دلیل د عدم جواز چی طفل غنی ګڼل کیږی په غنا د پلار. **فائده**: د غنی زوی چی لوی وی زکوٰة ورته روادی، که خو هم مثل د وی نفقه یې پلار ورکوی. **مسئله**: په لورکی د غنی چی میړه لری اختلاف دی صحیح دادی چی زکوٰة ورته روادی، دا پخپله مالکه د نصاب نه وی. ط. **مسئله**: روادہ ورکړه د زکات ومایني ته د غنی سړي چی چی د غنی په غنا دمور نه ګوڅی که خو هم د د ی سره یوځای وي. ط. قال المصنف:

وَبَنِي هَاشِمٍ وَمَوَالِيهِمْ وَاخْتَارَ الطَّحَاوِيُّ جَوَازَ دَفْعِهَا لِبَنِي هَاشِمٍ

اودغه رنګه د زکوٰة نه ورکوی وبنی هاشم ته اود دوی ازاد کړلو سوچې مریانوته اومختاره کړیده امام اوفقیه ابوجعفر الطحاوی چی مصنف د شرح معانی الاثار دی په حنفیو کی، اود ده په شان حنیفیان وائی چی اعلم دنا سویه مذهب

د امام ابوحنیفه هم د غه طحاوی دی چی د زکوٰة ورکړه وبنی هاشمونه روادی. **پوه سه** زکات ورکول وبنی هاشمونه ناروادی په اختیار د مهٔ کی بل څوك ودوی ته زکات ورکوی اوکی دوی یوڅو بل ته زکات ورکوی، اوامام ابویوسف یووبل ته د بنی هاشمو زکات روابولی.

پوه سه: چی حرمت د زکات وبنی هاشمونه بعض فقهاء بلکه اکثر قدماء یې شرافت د نسب د دوی ښولی او زکات د مال خیره ده تو د اشریف نسب باید په ملوث نه سی، نو یې د ی تقدیر ودوی ته زکات الی یوم القیامه ناروادی، واختاره المصنف واکثر الفقهاء، اوبعض فقهاء لکه امام طحاوی اونور د یر فقهاء وجه یه دا بولی چی بنی هاشمونه خمس الخمس د بیت المال څخه ورکول کیدی، نو زکات ته د دوی ضرورت نه وو. **پوه سه**: چی ابوعصمت د امام اعظم څخه داسی روایت کړی دی چی دفع د زکات وبنی هاشمونه په دی زمانه کی روا ده، ولی چې عوض د زکات چی خمس الخمس وو دوی ته اوس نه ورکول کیږی، ولی چی بیت المال په یاره کی د غنا ئمو د یر سست عمل مختاره کړی دی اوپر مستحقینو یې نه ولیږی بلکه غیر مستحقین کسانونه ورکوی، نو بنی هاشمونه چی عوض د زکات یعنی خمس خمس الغنائم نه رسیږی لکه چی معلومه خبره ده، نو د دوی حال واصل ته ورسو چی جواز د اخذ الزکات دی، اوامام قهستانی هم په جواز د زکات وبنی هاشمونه فتوی ورکړیده،

تبصره د روښ وائی په اوسنی زمانه کی یعنی سنه ۱۴۲۳ هـ ق، بلکه ترډی د یر کلونه د مخی چی کفار و غلبه وکړه او مسلمانان په هر کنج کنج د نړی د کفارو سره د جهاد توان نه لری نو غنائم بیخی اوس وجود نه لری حتی چی خمس الخمس یه وبنی هاشمونه ورکړه سی، اوبله خبره داده چی بنی هاشمونه څوك مزدوری هم نه ورکوی، ولی وائی چی دا بی ادبی ده، نو چی زکات هم نسی ورته روا اخیر بنی هاشم به څه کوی. **مسئله** نفل صدقات اودوقفی محکو غلو بنی هاشمونه اتفاقا روادی، وهو الحق کما فی فتح القدیر، اوسید وائی چی د زکات خمس د بیت المال څخه هم وبنی هاشمونه روادی، وابعد الزیلعی حیث سوی فی المنع بین الصدقة الواجبة والتطوع، والعلم عند الله،

قال المصنف: **وَاَصْلُ الْمُزَكِّي وَفَرْعِهِ** خپل واصل ته لکه پلار نیکه کشحم لوروی اویا مورته اوږدهغی مور یا پلارته، اودغه رنګه زکوة نه دی روا او فروعوته د مزکی لکه زوی زوی وان سفل یا لور یاد هغی عیال **مسئله** چی نه اصول د مزکی وی اونه فروع وی وهغوته زکات روادی، لکه خوندی، وروڼه، اودهغو اولادونه، دا کاز امن اویا خویدی آقا اواخوال اوخالا توته زکوة ورکول روادی، بلکه دوی ته دفعه اولی ده تربیګانه وخلګو ولی چی په ورکړه کی صله رحمی هم راځی علاوه تر زکوة، **مسئله**: د زوی ومامنی ته زکات روادی، لکن په ټولو کی شرط دادی چی فقراء به وي، وفی الصورة الاخیرة نظر فتدبر.

قال المصنف: **وَزَوْجَتِهِ** اودغه رنګه زکات د میړه ومامنی ته روانه دی کشحم مسکین وي داخو اتفاقا نا روادی، اود مامنی چی غنی وی ومیړه ته چی فقیر وي یا ران وائی چی روادی او امام اعظم وائی چی نا روادی، قال المصنف:

وَمَمْلُوكِهِ وَمُكَاتَبِهِ وَمُعْتَقِ بَعْضِهِ وَكَفَنِ مَيِّتٍ وَقَضَاءِ دَيْنِهِ

چا یاده ازاد کړی وی، اودغه رنګه نه دی روا چی د زکات په روپو مړی ته کفن رانشی اویاد مړی پورونه په اداء کړی، لکن اشباه ونظائر داسی حیله د مړی کفن ته ذکر کړیده چی د زکات روپی دی یو فقیر ته ورکړی، اوهغه دی مړی ته کفن رانشی، او ثواب د زکات ورکوونکی اوفقیر ترمابین شریک دی، اوداحیله په قضا کی د پورو د مړی کی هم جاری کیږی.

مسئله: د زکات په روپو خوك مسجد نه سی جوړولای، ولی په زکات کی تملیك وفقیر ته شرط دی، نو دی چی په مسجد صرفوی تملیك به چا ته کوی، نو دی د مسجد امام چی فقیر وی یا بل سړی ته وائی چی مسکین وی چی نه به ټاته روپی په زکات کی درکړی ته مسجد په جوړکړه ثواب به نیعی وی نو داسی کار کیدای سی، **پوښتنه**: که هغه فقیر روپو تنګ سو او وی ویل چی مسجد نه په جوړوم نو بیایه څه حکم دی **جواب**: غنی پیرته

خپل د زکات روپی په زوره نه سی اختلای، ولی ده خو تملیك وکړی د زکوة غاړی خلاصی وکړی، هبه خونه دی چی رجوع په کښی وکړی.»

مسائل شتی فی باب الزکوة

۱ کړچا خپل مړی یا مکاتب ته په شپه کی مثلاً روپی په زکات کی ورکړی اوده نه پیژندی چی زما مړی وو یا مکاتب وو سته داوړته ښکاره سوه چی ماخوز کات خپل مړی یا مکاتب ته ورکړی دی، ده زکات غاړی نه خلاصیږی» ط «۲ اوکړچا زکات ویوچا ته ورکړی په تاریکه کی او پیژندی یه نه، وروسته داښکاره سوه چی هغه سړی هند وو، یا زما پلار وو یا می زوی وو، یا می مایته وه یا هاشمی وو د زکات غاړی یه خلاصی سوی» ط «۳ یو فقیر ته چی پوره وړی وو د ونه روپی په زکات کی ورکول چی هغه وروسته تر پوره اداکولو پوره نصاب ور پاتیدی داورکړه مکروه ده، بلکه دونه قدر به ورکوی چی دسوال راوګرځی ۴ حتی که یو سړی سل اونه نوی روپی درلودی مزکی یو درهم په زکات کی ورکړی چی نصاب په پوره سود اهم مکروه ده» ط «۵ اوکه مزکی ویو فقیر ته تر نصاب دیری روپی ورکړی لکن دونه روپی وی که هغه فقیر د خپل کور پر ټولو افرادو د ښلی وای هریو ته تر نصاب کمی وررسیدلی نو بیا کراهت نه لری» مراقی «۶ که سړی مثلاً یو درهم زکوة مثلاً ماتی کړی یعنی ۳ مایه یا ۴ مایه کړی نو بیوه یوه حصه فقراء ته ورکړه داسی کول خلاف د اولی ده، ولی چی جمع اولی تر تفریق، لقوله تعالی: اَفَرَاَیْتَ الَّذِی تَوَلّٰی وَاَعْطٰی قَلِیْلًا. بحر، فخر.

قال المصنف: **وَتُمْنُ مَنْ يُعْتَقُ وَلَوْ دَفَعَ بِتَحَرٍّ لِمَنْ ظَنَّهُ مُصْرَفًا**

اودغه رنګه د زکات غاړی یه نه په خلاصیږی که سړی د زکوة په روپو مړی ته رانیوی چی بیا ازاد کړه یی ولی چی قبض د فقیر شرط دی هغه نه راغلی.

فَظَهَرَ بِخِلَافِهِ إِجْزَئَهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ عَبْدَهُ أَوْ مُكَاتَبَهُ

که چا زکات ورکړی یو چا ته او فکر یې هم پکښی وکړی اوده غالب ګمان داوو چی دا مصرف د زکات

دی، وروسته ورته بنکاره سوه چی هغه سړی چی مالزکات ورکړی نهادزکوة مصرف نه وو
هغه وړکړه کافی ده یعنی دزکات غاړی په خلاصی سوی، مګرنه کړ هغه څوک ددې مرتبې اویا
مکاتب وو، وقد مر تفصیله من قبل فتذکره. قال المصنف رح:

وَكُرِهَ الْإِغْنَاءُ وَهُوَ أَنْ يُفْضِلَ لِلْفَقِيرِ نِصَابٌ بَعْدَ قَضَاءِ

اوبکړه دی غنی ګرځول دفقیر په زکات سره هغه داسی چی بالاسی وفقیر ته نصاب کامل پرله اداکولو

دَيْنِهِ وَبَعْدَ إِعْطَاءِ كُلِّ فَرْدٍ مِنْ عِيَالِهِ دُونَ النِّصَابِ

څخه دپورته چی پرفقیر باندی وو، اوپرله دی څخه چی دغه فقیر وړکړی وای وهرورته ددې دعیال

مِنَ الْمَدْفُوعِ إِلَيْهِ وَالْأَفْلَا يُكْرَهُ وَنُدِبَ إِغْنَاؤُهُ عَنِ السُّؤَالِ

کمترنصاب دهغه مال څخه ده ترڅو دغنی دخواورکړه سو، اوکه پوره نصاب فقیرته نه پاتې کیدی، نوبیا که
څومره ترنصاب بالاورکړی مکروه نه دی، اومستحب ده چی دوینه زکات دی ورکړی چی فقیره سوال
څخه پرله اوګرځی، اودی تفصیلاهم دمخه تیرسو.

مسئله: په تنویر اوشرح کی دهغه والی: چی نه دی روا وسړی لره سوال دنفقی دخلګو څخه
چی ددې سړی ورځی نفقه موجوده وی بالفعل یا بالقوه یعنی چی په صورت جوړ اوپرکسب
قادروی، اوهغه سړی چی ددغه سوال ګرپه حال خبروی، په ورکولو کی دقوت ګناه کاردی،
ولی چی ده پرحرام کارچی ورته سوال وو کومک وکړی، اوکی دکالود پاره سوال کاوه اویاد
سوال کاوه ددی سبب چی دی دکسب څخه په جهاد مشغوله وو، اویاپه طلب دعلم مشغول وو،
بیاده نه سوال روادی او ورنو نکی په ګناه کارنه دی. ط. قال المصنف:

وَكُرِهَ نَقْلُهَا بَعْدَ تَمَامِ الْحَوْلِ لِبَلَدٍ آخَرَ لِغَيْرِ قَرِيبٍ أَوْ

اومکروه دی وړل دزکات وروسته ترپوره والی دکال دافید چی مصنف رح وواید پاره ددی چی حق

دفقراوو دخپل بنار هغه وخت په مال دغنی سره تعلق نسی چی پرمال دغنی کال تیرسی. قال

أَحْوَجَ وَأَوْرَعَ وَأَنْفَعَ لِلْمُسْلِمِينَ بِتَعْلِيمٍ وَالْأَفْضَلُ صَرْفُهَا

اویاسوائه دډیر محتاجه وی اوهغه پرهیزګار وی اوچی نفع فی سبیل دمسلمانانو ترپه تعلیم سره، اوښه خبره داده چی

لِلْأَقْرَبِ فَالْأَقْرَبِ مِنْ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ ثُمَّ لِجَارِهِ

ورځی کی وزدی اوبزدی قریب ته چی ده سره قرابت نسبی لری اومحرم دزکوة والا، ترهغه ورپوسته وهمسایه

ثُمَّ لِأَهْلِ مَحَلَّتِهِ ثُمَّ لِأَهْلِ حِرْفَتِهِ ثُمَّ لِأَهْلِ بَلْدَتِهِ وَ

اویا دخپلی محلی اوکلی محتاجه ته، اویا دخپل کسب هم شریکه ته، اویا دخپل بنار محتاجه ته اوو

قَالَ الشَّيْخُ أَبُو حَفْصٍ الْكَبِيرُ رَحِمَهُ اللهُ لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ

ویلی دی شیخ ابوحفص کبیر الله دی پرده رحم وکړی، چی نه قبلیږی دیوچا صدقه ترڅوچی دده

وَقَرَابَتُهُ مُحَاوِيجُ حَتَّى يَبْدَأَ بِهِمْ فَيَسُدَّ حَاجَتَهُمْ

څپلوفریبانوکی احتیاج والاوی ترڅوچی ابتداء ددوی څخه ونه کی اوددوی حاجتونه پوره نه کی.

فائده: اووړل دزکوة مکروه دی وبل بنارته یعنی که څومره ترمسافت دقصر لمانځه کموی

پوه سله: چی معتبرپه زکات کی ځای دمال دی نه ځای دمالک حتی که سړی په بوه
بنار کی وو لکه هرات مثلاً اومال یې په بل بنار کی وو لکه قندهار مثلاً نودی به زکات روپی
پرفقیرانود قندهار ویشی، اوپه صدقة الفطر کی معتبر ده ځای دی نه ده دعیال داری
اومکروه دی نقل وغیرته دقریب اوکی خپلوا قربا ووته نقل کاوه بیا هیڅ کراهت نسته، اویا
سوائه دډیر محتاجه، اوکی احوج ته نقل کی یعنی تراهل بلد محتاجه وو هغوته نقل دزکات روادی
اویاپه بل ځای کی ښه پرهیزګار فقیروی وهغه ته هم نقل کول دزکات مکروه نه دی، اویاپه

بل بنار کی یو عالم فقیر وو چی مسلمانا نوته ئې ډیر نفع ورسیږی په سنوونه ددین، او افضل داده چی زکات دی سړی ترټولو نزدی قریبانوته اوبیا تر هغو ورڅوستہ اقرب ته چی خاوند دقرابت نسبی او محرمیت زکوة والاوی لکه ورونړه دسړی یا خوندی ورڅوستہ د هغو اولادته چی وریرونه اوخویږنړی گانی دی وعلی هذا القیاس» اوورڅوستہ تر هغو افضل داده چی هسایه گانوته زکوة ورکړی، اوورڅوستہ د محل والا فقیرانوته اوورڅوستہ هغه کسانو فقیرانو ته زکات والا چی دغنی سړی سره په کسب او کار کی شراکت لری، یعنی دهغوکسب هم دغنی کسب وی لکه آهنگران، موچیان، بنایان، نجاران وغیره اوبیاورڅوستہ دی دښار ومسکینانوته ورکوی، شیخ ابوحفص کبیرؒ خدای دی پرده رحم وکړی وئیلی دی چی زکات دهغه سړی نه قبلیږی چی دی ئې وبل چا ته ورکړی، اوده خپل قریبان محتاجه وی، یعنی مسکینان وی حقی چی دی اول شروع دزکات ورکولو دوی څخه ونه کی اودوی احتیاجات ورڅخه رفع نه کړی،

پوهه سه: چی مراد ابوحفص المرحوم دنه قبلیدو څخه دادی چی ودغه سړی ته خدای جل شانه ثواب نه ورکوی که څه دزکات غاړی خلاصی سوی یعنی دوزخ هم خدائ نه ورکوی پر دغه فعل دده، په معراج کی وائی چی ورکول دزکات وعالم فقیر ته اولی دی ترجاهل فقیر څخه که غنی په دارحرب کی وو اوزکات یه دداراسلام فقیرانوته استاوه کراهت نه لری که څه هم په دارحرب کی مصرف دزکوة وی، ط،

مسئله

یَحِلُّ عَلَیْهِ الْحَوْلُ عِنْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنْ یَوْمِ الْفِطْرِ

اوکافراصل دعبارت نه دی چی مالک یونصاب وی یعنی دهرشئی نصاب چی وی، ددی شرط وجه داده چی غرض دصدقة الفطر څخه دادی چی احتیاج دفقیرد فع ښی، نوچی سړی پخپله فقیر

وَاِنْ لَمْ یَکُنْ لِلتِّجَارَةِ

وی بل فقیر به څرنگه د فقره خلاص کړی، یا مالک وی دقیمت دنصاب دعروضو څخه که څه هم کال نه وی پر تیر سوی اوداصدقة الفطر واجبیږی په وخت کی دطلوع دسپیدو دوږمی داختر، که څه هم دغه نصاب دتجارت دپاره نه وی بلکه ژیور وی کاد بنځی،

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

داباب دی په بیان کی دصدقی دورڅی داختر،

چی په پښتو یه "سرهایه" بولی. **پوهه سه**: چی فطر اسلامی لفظ دی اوځوک چی سرمایه ته صدقة الفطر وائی هغه غلط لفظ دی، ط

فائده: دصدقة الفطر امرنبوی هغه کال کی وسو چی په هغه کال روژه فرض سوله، اوترزکات نه مخه، اودحضور اکرم صلی الله علیه وسلم عادت داوو چی تراختر د مخه یوه یادونی ورڅی به ئې خطبه ویله اود صدقة الفطر امر بې خلگوته ورکاوه،

فائده: زکات چی پرسړی واجب سی اودمخه تراداء دزکات مال یعنی نصاب هلاک سی یعنی دلاسه څخه ئې ووځی زکات څندی ساقط دی، اوسرمایه پسله وجوب څخه کی څرهم مال هلاک سی واجب الاداء دی، قاله الامام الطحطاوی، قال المصنف:

تَجِبُ عَلٰی کُلِّ حُرٍّ مُسْلِمٍ مَالِكٍ لِنِصَابٍ اَوْ قِیْمَتُهٗ وَاِنْ لَمْ

واجب ده صدقة الفطر پرهرچرسانده چی، ولی چی مربی مالک دتملیک دشی نه دی، چی مسلمان وی ملاصقة الفطر عبارت مالی دی

یَحُلَّ عَلَیْهِ الْحَوْلُ عِنْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنْ یَوْمِ الْفِطْرِ

اوکافراصل دعبارت نه دی چی مالک یونصاب وی یعنی دهرشئی نصاب چی وی، ددی شرط وجه داده چی غرض دصدقة الفطر څخه دادی چی احتیاج دفقیرد فع ښی، نوچی سړی پخپله فقیر

وَاِنْ لَمْ یَکُنْ لِلتِّجَارَةِ

وی بل فقیر به څرنگه د فقره خلاص کړی، یا مالک وی دقیمت دنصاب دعروضو څخه که څه هم کال نه وی پر تیر سوی اوداصدقة الفطر واجبیږی په وخت کی دطلوع دسپیدو دوږمی داختر، که څه هم دغه نصاب دتجارت دپاره نه وی بلکه ژیور وی کاد بنځی،

زمونږ څپاره شوی اثار

تعلیم الاسلام	مناسک حج	جامع البرکات
اوی کمپیوټری لیکنه	بانته کتابت پښتو	
آسانه فقه	تیسیر التجوید پښتو	القول السدید عربی و پښتو

لتفريع نوکه یوسړی ترسپیدو وړاختر وړځی د مخه مړسې ودغه کس ته صدقة الفطر نسته اوکه په سپیدو کی وړین ی صدقة الفطر په سته یعنی واجب دی **پوهسه** چی نصابونه دری قسمه دی ۱ یوهغه نصاب دی چی نامی وی حقیقةً او تقدیراً په هغه نصاب پوری تعلق لری زکوة ۲ اوبل نصاب هغه دی چی هغه پوری صدقة الفطر اووجوب داضحیه اوحرمة الزکات اړه لری اوپه هغو پوری نفقه داقرباؤ وتعلق لری په هغه نصاب کی غا اوتجارت اوحولان الحول شرط نه دی ۳ اوبل نصاب هغه دی چی په هغه سړو وسړی ته سوال حرام ږی بعض فقهاءٌ وائی چی پنځوسو درهمه ولری، اوبعض فقهاءٌ بیا وائی چی نفقه دیوی وړځی اوشپی لری، نوسوال وړ نه حرام دی. قال المصنف:

فَارِغٍ عَنِ الدَّيْنِ وَحَاجَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ وَالْمُعْتَبَرُ فِيهَا الْكِفَايَةُ لَا التَّقْدِيرُ هغه چی فارغ وی د پور څخه اود حاجت اصلیه څخه لکه دکور سامان اوفاضل نه ترخوا نجوو ددوه د عیال وی، اومعتبر په خوا نجوا صلیه کی ددوه اوپه خوا نجود عیال ددوه مقدار د کفایت دی اندازه نه لری. قال المصنف:

وَهِيَ مَسْكَنُهُ وَأَثَاثُهُ وَثِيَابُهُ وَفَرَسُهُ وَسِلَاحُهُ وَعَبِيدُهُ لِلْخِدْمَةِ اوحوائج اصلیه دادی نه سرای دی د اوسیدو اوکه مال دار وی مسکن خیمه یا کیږدی ده، اوبل دکور سامان دی لکه کمبله، تلینګ بالښت، کډوه وغیره اوبل کالی د اغوستو دی دسړی اوبل آس دی د سپر تیا، بل سلاح ده، لکه توره، توپک وغیره اوبل مریان دی د خدمت دپاره، **دروېش وائی** چی دلیل د وجوب د صدقة الفطر هغه حدیث دی چی ابوداؤد په روایت کړی دی: قال علیه الصلوٰة والسلام فی خطبته: أَدُّوا عن کل حرٍّ وعَبْدٍ صغیرٍ اوکبیرٍ نصف صاع من بر اوصاعاً من شعیر اوصاعاً من تمر، اصولی قانون چی امر مطلق دپاره د وجوب وی **مسئله** صدقة الفطر واجب موسع په تولو عمر کی یعنی هر وخت چی ورکی اداء ده، زهږ جمهور حنفیه وو په نیز.

قال فی البحر وهو الصحیح لکذرکات، اوبعض فقهاءٌ وائی چی خاص داختر وړځ په وخت دادا دی د وړوسته کی ورکی هغه قضا ده، واختار هذا المذهب الکمال فی التحریر. قال المصنف:

فَيُخْرِجُهَا عَنْ نَفْسِهِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ الْفُقَرَاءِ وَإِنْ كَانُوا أَغْنِيَاءَ يُخْرِجُهَا مِنْ مَالِهِمْ اوصدقه فطر دی دخپل ځان داورکوی، اولاده ده کنه نړوی اوکه ښځی چی دا اولاد فقراء وی، اوکه چیری اولاد اغنیاء وه مثلاً یو سړی دعو کچیانو نوته روپی ورپخلی وی، نوبیادی صدقة الفطر دوی دمال څخه ورکړی، **مسئله د** بالغانو اولادو صدقهٔ فطر پر پلار نسته که خپله ده په عیال کی وی، اوفقراء هم وی، اودمانی سرمایه هم پرمیړه نسته. قال المصنف:

وَلَا تَجِبُ عَلَى الْجَدِّ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَاخْتِيرَ أَنَّ الْجَدَّ كَالْأَبِ عِنْدَ فَقْدِهِ أَوْ فَقْرِهِ اونده واجبه سرمایه پرنیکه باندی پرظاهر الروایت کی، اوداخبره مختاره کړه سوی ده چی نیکه لکه پلار دی چی د لمسی پلار نه وی یعنی مړ وی اویا مسکین وی یعنی د لمسیانو په دغه دوه صورتونو کی سرمایه پرنیکه ده، اوداهم روایت د حسن دی، اما اعظم واختاره هذه الروایة الکمال، واختارها فی الاختیار اوصاحب الدرهم ودغه روایت ته تګ کړی دی،

تنبیه درویش وائی چی دغه روایت په مختار اولوسره هغه سوال دفع سوچی فقهاءٌ خووائی چی سبب د صدقة الفطر وجوب هغه سړی چی مؤنت یه پرسړی وی اوسړی کامیل ولایت اوتصرف پرلری نونیکه چی د لمسیانو پلار یه مړ وی اویا فقیر وی او د لمسیان نیکه ساتی نوخو نیکه مؤنت د لمسیانو د نفقی پرځان اخستی دی اونیکه هم ولایت کامله پر لمسیانو لری، نوباید دغه لمسیانو سرمایه پرنیکه واجبه وی اوسره د دی چی په ظاهر روایت کی وائی چی پرنیکه مطلقاً د لمسیانو سرمایه نه ده واجبه، نوخو سبب چی رأس

یمونه وثیلی علیه پیداسوا ومسبب نشته چی وجوب الفطرۍ ومثل هذا الایجوز» حاصل دفع اختیارۍ درروایته د الحسنؒ لیونی چی مذکوره دووصوره تود لمسیانو سرسایه پرنیکه واجبده فلایلزم تخلف المسبب عن السبب فافهم، وقدخطئ صاحب البحرؒ فی جواب هذا فارجع الی الکتاب انکمالؒ» قال المصنفؒ:

وَعَنْ مَمَالِيكِهِ لِلْخِدْمَةِ وَمُدَبَّرِهِ وَأُمِّ وَلَدِهِ وَلَوْ كُفَّارًا

اوعنه رنگه به سرسایه کوی د هغو مزیانو چی د خدمت دپاره وی یعنی کرد تجارت دپاره وه بیایه صدقة الفطر پرمالك نشته بلکه په هغوکی زکات سته اودقاری صدقی نه سره یوځای کیږی اوعنه رنگه به سرسایه دمدبر مریی ورکوی، مدبر هغه مریی دی چی مالك ورته ووائی چی پسله مرگه زما تحر (آزاد) یی، اوعنه رنگه به سرسایه ورکوی دام الولد چی هغه مینځه چی دبادار نخه لنګوی کنځم دعنه دهغی کافران وی، قال المصنفؒ:

لَا عَنْ مُكَاتَبِهِ وَلَا عَنْ وَلَدِهِ الْكَبِيرِ وَزَوْجَتِهِ وَقِنٍّ مُشْتَرَكٍ

اونه دواجب پرسرسایه دمکاتب مریی، اونه دواجبه پرپلار سرسایه دلوی بالغ عیال کنروی

وَآبِقٍ إِلَّا بَعْدَ عَوْدِهِ وَكَذَا الْمَغْصُوبِ وَالْمَأْسُورِ

اوکه بنځه په عیال کی وی یعنی نفقه پلار ورکوی اوکه نه وی، اودماینی سرسایه پرسرپی نده واجب، اودهغه مریی سرسایه چی شریکی یه پرپوه شریك نشته، اودتبتید لی مریی سرسایه پرمالك نشته مگرنه هغه وخت چی بیرته مولی ته راسی، اوعنه رنگه سرسایه دهغه مریی نشته چی دمالك نخه ئی غصب کړی وی، اوعنه رنگه دبندی مریی سرسایه پرمالك نشته، قال المصنفؒ:

وَهِيَ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ دَقِيقِهِ أَوْ سَوِيقِهِ أَوْ صَاعٍ مِنْ تَمْرٍ أَوْ زَبِيبٍ أَوْ شَعِيرٍ

اوصدقة الفطرنیمه کاسره دغنمواویا دواړو دغنمواویا دسویق

دغنمو اویا پوره کاسه ده خرما اویا داوښکو دانګورو، اویا داورښو، **پوه سره** چی سویق دعربو په اصطلاح دابولبی چی غنم ننی کړی اوبیایه مینده کړی اودلوبی په وخت کی اوبه ورولچوی، یا ګولی ځندی کوی اوکی ډیری اوبه ورواچولی بیایه چسپی، عربوبه نخوانی ستروکی داسویق دعمان سره اخستی، ولی چی هرځای دوی ته دوه وی نخول ګران کاروی او بل هرځای به بوتی هم نه وی، ولذالک یقال فی الشئ النافع غایة النفع هوانفع من تفاریق العصاء اودمخه دننی کیدوحکمت دادی چی صرف اوبه اومرخوړل یه خوند نه کوی اوبل مریفی ځندی پیدا کیږی کما هوالظاهر بالتجربة» قال المصنفؒ:

وَهُوَ ثَمَانِيَةُ أَرْطَالٍ بِالْعِرَاقِيِّ

اوکاسه رطله ټه عراقی حساب

پُوه سره: چی عراقی رطل دوزن

په حساب یوسل اودیرش درهمه دی، نوپه دغه حساب کاسه یوزر او خلویښت درهمه وزن ده، داقول دامام اعظمؒ اودمحمدؒ دی، والتفصیل فی شرح الامام الطحطاویؒ

فَائِدَه

صاع یانصف صاع په پیمانه اوپه وزن دواړه روادی کذا ذکره الزیلعیؒ شارح الکنز» قال

وَيَجُوزُ دَفْعُ الْقِيمَةِ وَهِيَ أَفْضَلُ عِنْدَ وُجْدَانِ مَا يَحْتَاجُهُ

اوروادی ورکړه دقیمت یعنی دغوخور اکی شیا نو بلکه قیمت افضل دی په وخت کی دی چې

لِأَنَّهَا أَسْرَعُ لِقَضَاءِ حَاجَةِ الْفَقِيرِ

دفقیرسره به غالبًا دغه خور اکی تو کی موجود وی یعنی چی وخت د دعاصلاتوده مذکوره شیانو وی په سبب ددی چی قیمت اولی دی چی قیمت چی دراهم دی مثلاً زر او سیدونکی دی، وما یحتاج الیه الفقیرته یعنی کالی دکور دبندګانو یا نورورته شیان ولی په نغدو روپو هرشی رانیول کیږی بخلاف الحبوبات المذکورة» قال المصنفؒ

وَإِنْ كَانَ زَمَنُ شِدَّةِ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ فَهُمَا وَمَا يُؤْكَلُ أَفْضَلُ مِنَ الدَّرَاهِمِ

اوکه زمانه دسختی دغنمو اواوربشوه یعنی دحاصلاتو وخت نه وو نو غنم اواربشی اوچی

خو را کیږی هغه شیان نکه خرڅا یا سوبق هغه افضل دی تردرا ښهو، قال المصنف:

وَوَقْتُ الْوُجُوبِ عِنْدَ طُلُوعِ فَجْرِ يَوْمِ الْفِطْرِ فَمَنْ

اووخت دواجبوالی د صدقة الفطر په نیزد راختود سپیدو دورځی دکښنی اختردی نوکځوا

مَاتَ أَوِ افْتَقَرَ قَبْلَهُ أَوْ أَسْلَمَ أَوِ اغْتَنَى أَوْ وُلِدَ بَعْدَهُ

مړی اویا مسکین سی دمخه تر طلوع الفجر اویا مسلمان ښځ اویا غنی سی اویا ورزیږیدی پسله سپیدو فجر

لَا تَلْزَمُهُ وَيُسْتَحَبُّ إِخْرَاجُهَا قَبْلَ الْخُرُوجِ إِلَى

سره یې ځنډ باندی، اومستحب دی ورکول د صدقة الفطر دمخه تروتود خلکو وعیدګاه ته تاچی نږدې دفقیرانو

الْمُصَلَّى وَصَحَّ لَوْ قَدَّمَ أَوْ أَخَّرَ وَالتَّأْخِيرُ مَكْرُوهٌ

دمحلی بیغمه سی اواضطراب پیدا نه سی، اوصحیح دی دمخه تراختر ورکول درسیدلو اوځنډ ول یې

هم روادی لکن ځنډ ول یې مکروه دی، په هدایه کی وائی چی تفصیل یې په جوازکی د صدقة الفطر

په مابین کی دیوی مُدی اوبلی مُدی نه ښته، یعنی واجب موسع دی لکه زکوة، اوخلف بن

ایوب وائی چی تعجیل وروسته تردخول دمیاشتی روادی، اومخه تر روژی نه دی روا،

اوبعض فقهاء وائی چی تعجیل په نصف اخرکی دروژی روادی، اوبعض وائی چی په لسو

اخیرو ورځوکی تعجیل روادی» وعند الحسن بن زیاد: لا یجوز تعجیلها اصلا کالاضحیة"

دروښ وائی چی تفصیل ددی مبحث په کفایه شرح الهدایه اویا په بحر رائق کی مطالعه کړه، قال

وَيَدْفَعُ كُلُّ شَخْصٍ فِطْرَتَهُ لِفَقِيرٍ وَاحِدٍ وَاخْتُلِفَ فِي جَوَازِ

تَفْرِيقِ فِطْرَةٍ وَاحِدَةٍ عَنْ أَكْثَرَ مِنْ فَقِيرٍ

اوورکوی دی هرسړی خپله سرپانه ویوه فقیرته اواختلاف دفقهاء

دی په ورواوالی کی دوه ډلو دیوی سرسائی پر بالادیوه فقیر، دروښ وائی صحیح اول مذهب دی

اوعادت دخلګو داسی دی چی مثلاً شل روپی سرسایه پرکیږی عیدګاه ته نوپه لاره کی فقیران

ولاړوی نودی یوه یوه روپی وفقیرته ورکوی چی فقیران په انزار سی، قال المصنف:

وَيَجُوزُ دَفْعُ مَا عَلَى جَمَاعَةٍ لِوَاحِدٍ عَلَى الصَّحِيحِ

اوروادی ورکړه د ډیرو کسانو دسرسائی وه یوه نفرته یعنی فقیرته برصحیح روایت،

وَاللهُ الْمُوَفِّقُ لِلصَّوَابِ

اوخدای توفیق ورکوونکی دی دحق لارې

حقانی بکسټور

ستاسو لپاره هروخت حاضر

تفسیر ایوبی

دیر ژر چاپ ته وسپارل سی

کِتَابُ الْحَجّ

داکتاب دی په بیان کی د احکامو د حج

مقدّمه: پوه شئ: چی لفظ د حج په زور د حاء او زیر د حاء دواړه راغلی دی، او مشهور په عامو کتابونو کی داده چی حَج په لغت کی مطلق قصد ته وائی. لکن طحطاوی وائی چی غلط خبره ده بلکه حج قصد دی و محترم ځای ته اویا وینه کار ته دی.

اختلاف: په دی کی شارحین لیکلی دی چی حَج په شریعت کی د نورو انبیاء علیهم السلام هم وو. لکن په دی کی اختلاف دی چی په هغوی باندی هم حَج فرض وو صحیح داده چی فرضیت د حج په امت مرحومه پوری خاص دی.

اختلاف اخره: حج په سنه شپیر کی د هجرت فرض سوی دی» وهو المشهور والصحیح ایضا کذا قال العلامة نوح». وقیل: په سنه څلوښت کی د هجرت فرض سوی، وقیل په سنه نه ۹ کی د هجرت مختار د قاضی عیاض دغه خبره ده، وقیل حَج د مخ ترهجرت فرض سوی دی وهو بعید» او تردی ابعده خبره داده چی په سنه لسم کی د هجرت فرض سوی دی».

اختلاف اخر: آنحضرت صلی الله علیه وسلم څوحجونه کړی دی! دارقطنی د جابر بن عبدالله ؓ څخه روایت کوی چی علیه السلام درې حجونه کړی دی، دوه ۲ د مخ ترهجرت، او یو حَج په سنه لسم کی د هجرت کړی چی د حجة الوداع په نامه مشهور دی او علیه السلام په دغه کی قارن وو او هغه کال حج اکبر هم وو یعنی د عرفات ورځ د جمعی وه. او په سنه ۹ نه کی ابوبکر الصدیق ؓ حج ته استولی وو او پیغام یې داور کړی وو چی پسله سږ کاله دی مشرک حج ته نه راځی کذا فی البخاری، اوملاعلی القاری: وائی چی علیه الصلوٰة والسلام ترهجرت د مخ درې حجونه کړی دی چی عدد یې نه دی معلوم. اوعلامه ابن الاثیر ؒ پخپل تاریخ کی وائی چی علیه الصلوٰة والسلام قبل الهجرة اوو روسته ترنبوت هر کال چی مانع به نه وو حج به کاوه، واللهُ اعلم وعلمه اتقن واحکم.

د حج د مخه څه کول پکار دی؟

پوه سره: چی یو سړی چی د حج ارادہ ولری نو کی مور او پلار، دواړه یا یو تر دوی وه او دده وخدمت یا نفقی ته اړوه نود هغوی څخه د اجازه د حج واخلی، او کی بی اجازی د دوی ولاړ سی نو گناه کار ه دی، او بعض علماء په حج مکروه بولی البته که مور او پلار دده وخدمت یا نفقی ته محتاج نه وه خو بیا هم اجازه احتیاط خو ډیره ښه کار دی مگر که بی اجازی د دوی ولاړ سی گناه کار نه دی، داهلته که روپی د حج د نوی خپلی گټلی روپی وی، او کی د پلار د ژوند ې څخه روپی احستی وی بیا خو په بی اجازی حج صحیح هم نه دی،

پوه سره: چی نیکه او نانا حکم د مور او پلار لری کی مور او پلار مړه وه» په کتاب النوازل کی وائی که نوی بی بزیری وو او بنائسته وو پلار د ده حج کولو څخه منع کړی، د زمانی بعض متکبران مالداران داسی هم کوی چی بی بزیری بنائسته نوی په سفر د حج دبیگانه خلگو سره استوی چی د هغه بل سړی حج هم ور مکروه یا فاسد کړی، په دی سبب چی په طول کی د سفر د حج چی په یو اطاق کی دوی سره اوسیږی په بچه بازی بلکه په بدکاری دی سره اخته سی، شیطان په داسی مواقعو کی ډیری هلی ځلی کوی، بلکه عجبه بلده چی دفتا وا وو په کتابونو کی داسی مسئله راغلی ده چی دسړی نوی ډیر بنائسته وی که څه هم بالغ وی ترکور د باندی دگلی اوکلی دکانو ته دی نه پریږدی بلکه لوړه چی کوخوته نه پریږدی لخوف الفتنه» بلکه فتنه په نوی کی ډیره ده تر لوړه ولی لوړته خو یواځی بدکاره ځوانان گوری، او نوی چی بنائسته وی هم بدکاره ځوانان ستر گی ور ته کشوی او هم بدکاره ښځی ستر گی د شهوت ور اړه وی. نو نوی چی بنائسته وی د بزیری تر ډیره تلو باید په کور کی وی، خصوصًا د مسکینا نو ژامن چی پلار یې د جیب خرڅ ور کولو توان نه لری نو د هغه نوی په شل روپی مثلاً وبدکاری ته تیار ږیږی،

پوه سره: چی د فرضی یا واجب مثلاً کار کولو یا د حرام او مکروه کار کولو حاجت د استخاره خو هیڅ نسته مگر په سفر کی د حَج د اقدر استخاره دی وکی چی نه حج ته په موټر وکی ولاړ سی یا په آب گوتې کی یا په طیاره کی ولاړ سی، او دا استخاره دی هم وکړی چی د فلانی سړی سره ملگری

سمه کړه دفلانی سړه،

نوی شرط د حج د سفر د مخ ډادی

چې سړی به د ژوند په اخلاص د ټولو ګناهونو څخه توبه کا وی او د ټولو فرائضو، واجباتو، سنتو د کولو به د خدای جل وعلی سره وعده کوی، او مظالمو کی کړی وه یې خلګو باندی یا به بخښنه ځندی غواړی یا به ردد مظالمو کوی کی امکان وو، او هغه عبادات لمونځونه روژی وغیره چې ده خروخت نه وی کړی د هغو به قضاء، اوړل شروع کوی، او ټینګ قصد دی وکړی چې نه به اینده داسی نه کوی، او کی د چا سره دخولی یاد لاسو خصومت کړی وی د هغو څخه دی هم عفوه وغواړی، او کله د چا پور پرباندی وی د هغو ټولو دی وصیت وکړی، او په طول د سفر د حج دې دا دوئ کلمی ډیری وائی: لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ،،

او په ټوله سفر کی دی دا ډیر لوالانو سره ښه اخلاق په کار واچوی، قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی: فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِی الْحَجِّ ،، الآیة ،، او چې هرکله حرمینو شریفینو ته ورسیږی شپې او ورځې چې ډیری محدودی دی د خدای جل جلاله په طاعت او عبادت کی صرف کړی داسی دی نه کوی چې ټوله ورځ په بازار کی د تحفو د رانیولو د پاره تیروی، او داسی دی هم نه کوی چې د بعض وطنداران و سره مثلاً د ابوجهل په سرای کی یا په حرم شریف کی په باندار و ورځ تیره وی د رولیش وائی: ما د پیرو او رونه ولیدل چې د عرفات شریف چې ځای د دعا ګانو د قبلیدو دی د حاجیانو صاحبان په مسخرو په خندا سره د یوی خیمی څخه بل وتل په بله خیمه به ننوتل چې ما زده ګیر به سو یو ګړی به ئې د عا وکړه بیا به په موټرانو کی سپاره سوه د مزدلفی پرخوا به روان سو،

حاجی باید فکر وکړی چې ما د دومره روپی په طیاره کی مصرف کړی او دومره ستر تیاوی پرځان برداشت کړی او د کور اولاد څخه می ځان مسافر کړی دی د څه د پاره؟ د پیر خلګ د شهره او پیغوره څخه چې فلانی روپی لوی او حج نه کوی حج ته ولاړ سې، هغه کسان نو ځکه د اغه شپې او ورځې په حرمینو کښې عبث تیره وی چې د اسی خلګ وائی چې فلانی حاجی صاحب د حج د اغلی

دی، ومن التوفیق لما یرضی به الرب جل سلطانه، قال علیه الصلوٰة والسلام: انما الاعمال بالنیات وانما لامرء ما نوی، الی اخر الحدیث رواه البخاری فی اول کتابه، قال المصنف:

هُوَ زِیَارَةُ بُقَاعٍ مَخْصُوْصَةٍ بِفِعْلٍ مَخْصُوْصٍ فِیْ اَشْهُرٍ

چې زیارت کول د ی د خاصو ځایو لکه عرفات کعبه وغیرهما من المقامات المعروفة فی مکة المکرمة وقراها، هغه دا چې

وَهِیَ شَوَّالُ وَذُو الْقَعْدَةِ وَعَشْرُ ذِی الْحَجَّةِ

د ی به محرم د ی پښت د حج اولا اوطواف کورنکی به طواف قدوم اوبیا په عرفات درېدل وغیرهما من الافعال التی ستجی بیانها، به میاشتو کی د حج چې هغه د کښی اختر میاشت اود میانی میاشت دی، اولس ورځی د لوی اختر د میاشتی د ی، نو که څوک یو فعل د افعالو د حج تر د غو میاشتو خارج وکړی هغه په دم نه خوری، یعنی نه د ی روا حتی چې احرام ترې د مخه تر د غو میاشتو د مخه وکړی مکروه تحریمی د ی که څه هم پرځان یه اعتماد وی چې زما څخه محظورات الاحرام نه صادریږی، قَالَ المصنف:

فُرِضَ مَرَّةً عَلَى الْفَوْرِ فِی الْاَصَحِّ

فرض کړه سوی د ی حج یوواړه یعنی په ټوله عمر کی لکن کوله به پوری لازم د ی پنسله شروط ثمانیه چې عنقریب به ورسی، امام طحطاوی وائی چې وقت د حج په اصطلاح د اهل اصول مشکل بولی، د د ی سببه چې د بعض عبادا تو وقت معیاروی، د معیار معنا داده چې څومره وخت هغوی به عبادت وی لکه د روژی وخت په ژمی او د وبی کی اوبل د جنسه د هغه عبادت نو ورسره ځائیږی لکه د فرضی روژی سره نفلی یا قضائی نه ځائیږی، نو د د ی جهته چې چونکه په اشهرو کی د حج په یوه کال کی بل حج نه ځائیږی، نو باید وخت د حج معیاروی، او د بعض عبادا تو وخت ظرف وی یعنی د سره د هغه عبادت بل د جنسه د د ه ځائیږی، او عبادت ټوله وخت نه نسی، لکه وخت د لمانځه چې نفل او قضائی لمونځ په وخت کی د فرضی لمانځه ځائیږی، او لمونځ ټوله وخت هم نه نسی، دا اخری خبره د د ی سببه یعنی چې د حج افعال ټوله میاشتی د حج نه نسی نو باید وخت د حج ظرف سې، نو څوک چې جهت د معیارت

ترجیح ورکوی نوهغه یالغوره واجب بولی، لکن نه پردی معنی کی سړی تراول کال یه وځندوی نوحج وقضا ئی بلل کیږی لکه روژه چی ترخپل وخت تیره سی نوقضا ئی گنړل کیږی، بلکه په دی معنا چی تراول کال یه وځندیدی گناه کاره فاسق، مردود الشهادة دی، لکن بیا هم کی په وروسته کلو کښی اداء کړی، دغه مذکوره جریمی بیرته پورته کیږی، نوځکه چی ترجیح و ضرفیت نه وه رکوی هغه حج واجب علی التراخی بولی، یعنی په تراخی گناه کاره نه دی لکن نه پردی معنا چی هیڅ گناه نلسته، البته که مذکوره جریمی نلسته، اوپه دی کی شک نلسته چی عبادت نه تمادی سنه کاردی، ط، دروليش، قال المصنف:

وَشُرُوطُ فَرْضِيَّتِهِ ثَمَانِيَةٌ عَلَى الْأَصَحِّ الْإِسْلَامُ

وشرطونه دفرضیت دحج اته دی پرصحیح مذهب باندی، اول یه اسلام دی، نوپرکافر حج نلسته حتی که کافر په وخت کی دکفر غنی پریږی اودحج کولو قدرت یه درلودی اوبیا ورته مسکین سو او مسلمان سو نوهغه کفر دغنا په سبب پرده حج نه دی فرض، اوکه مسلمان طاقت دحج یه درلودی لکن ده ونه کړی اوبیا مسکین سو حج یه پرذمه کی پاته دی، قال المصنف:

وَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ وَالْحُرِّيَّةُ وَالْوَقْتُ

اول شرط عقل دی نوپرلیونی نسته، اول شرط بلوغ دی نوپرکشنی کوتله قدرت مالی حج لری حج باندی فرض نه دی، اول شرط ازادوالی دی، نوپر مرئ باندی حج نلسته، اول شرط وخت دی چی حج میاشتی دی نودمخه دحج ترمیاشتو حج فرض نه دی حتی که یوسړی تراشهر ودحج دمخه عنی وه چی اشهر دحج راتلی نودی مسکین سو حج پرفرض نه دی، قال المصنف:

وَالْقُدْرَةُ عَلَى الزَّادِ وَلَوْ بِمَكَّةَ بِنَفَقَةٍ وَسَطٍ

اول شرط یه قدرت دی پرتو بنه یعنی نفقه، که څه هم په مکه کی وی یعنی توښه دلاری اودمکی مکرمی هم شرط دی، لکن میانه نفقه، پوه سه چی حج راتلو اوطحطاوی کی واپی چی مراده نه اوخوړ وسطه هغه نفقه مراده چی دسړی صحت دبدن اوسره عادت وی، اوداچی

نفقه په خلکو کی تفاوت لری بعض خلک دسړک اودچی دوړی سره عادت وی یعنی که غوښی نه خوری صحت دبدن نه یه تاوان نه رسیږی، اوبعض خلک دغوښو یادورجو سره عادت لری

تضمیم که یوسړی دغوښو سره یه عادت وود خوړلو اودحج کولو په صورت کی صرف پرونجه دوړی یاد شلو میلو سره قدرت یه درلودی، یرغوښو خوړلو یه قدرت نه درلودی نودی قادر علی الزاد نه بلل کیږی اوحج پرفرض نه دی **پوښتنه** د وسط معنا نوخرده **جواب** دوسط معنا داده چی په معتاده نفقه کی میانه وی، فتدبر

وَالْقُدْرَةُ عَلَى رَاحِلَةٍ مُخْتَصَّةٍ بِهِ أَوْ عَلَى شِقِّ مَحْمِلٍ

اوبل شرط یه قدرت دی پرراحله یعنی اوښ یا اوښه، اویا قدرت دی پرنیمی دکجاوی داوښ لکن

بِالْمِلْكِ أَوِ الْإِجَارَةِ لَا الْإِبَاحَةِ وَالْإِعَارَةِ

یاپی ملک وی اویا په ملک وی اویاپه کرایه وی، نه په اباحت یعنی چی یوسړی وبل ته ووایی چی زماپرراحله تاته سپرتیا مباح ده یاپه عاریت غوښتلو سره یعنی چی یوسړی وبل ته ووایی چی داستا اوښه ماته په عاریت راکړه چی زه حج ته پرولاړ شم هغه صورت ته ووایی نښه دی، غرض په دی دوو صورتو کی سړی قادر پرراحله نه بلل کیږی اوحج پرفرض نه دی، اودموتر اوطیاری هم داغه حال دی شبرا بشبر، فتفکر، درویش،

دیادوړخبره: بحر راائق په بحث کی دراحلی وائی چی کرپس اوښ نه وو قادر پرغاټر یاخره قادر وو حج پرواجب نه دی آه، **مسئله:** که یوسړی نه نزدی دحج روپی وو هبه کولی پرسړی قبول نه دی لازم، نوپه دی سره حج نه پرفرضیږی ط،

مسئله که یوسړی داهل مکه ومن حولها څخه وو بلکه وطن آپیر لری وو لکن مع ذالک قادر پرمشی پیاده وو حج نه دی پرفرض، در، قال المصنف:

لِغَيْرِ أَهْلِ مَكَّةَ وَمَنْ حَوْلَهُمْ إِذَا أَمْكَنَهُمُ الْمَشْيُ بِالْقَدَمِ

اوقدرت پرراحله شرط دی دغیر اهل مکه اوهغوځوک چی پرښاوخواد مکی مکرمی وی که دوی ته ممکن

وو تگ پر پښو، نو پر دوی حج فرض دی پر پښو ولې چې دا لکه تگ جمعې ولمانځه نه دی، ط ق ال

وَالْقُوَّةِ بِلَا مَشَقَّةٍ وَإِلَّا فَلَا بُدَّ مِنَ الرَّاحِلَةِ مُطْلَقًا

او پخپل قوت سره بیله مشقت څخه او کې تگ د پښو بیله تکلیفه نه سوای کولای نو چا ته نسته په فرضیت کې د حج د احلی څخه مطلقًا که مشي وي او که بل څوك وي، د وښت وایي، چې نن صبا چونکه داوښ سفر د حج ډیخې نادر دی بلکه په ځای کې داوښ نن ورځ موټر ان لوی او کښتي والا ډیر دی نو مشقت وو نوده کرایه د موټر څخه چا ته نسته په فرضیت کې د حج، قال المصنف:

وَتِلْكَ الْقُدْرَةُ فَاضِلَةٌ عَنْ نَفَقَتِهِ وَنَفَقَةِ عِيَالِهِ إِلَى

او غه قدرت ځانې زیاته وي د ده په ځان وي تر نفقې د ده او تر نفقې د عیال د ده تر وخت د ده د بېرته راتلو

حِينِ عَوْدِهِ وَعَمَّا لَا بُدَّ مِنْهُ كَالْمَنْزِلِ وَأَثَاثِهِ وَآلَاتِ

د سفر څخه د حج او غه د ژوند به نه زیاته وي د هغه شیانو څخه چې د ده لره د هغوی چاره نه وي لکه د سواري

الْمُتَحَرِّفِينَ وَقَضَاءِ الدَّيْنِ

خواه ملکًا وي خواه په کرایه وي، او اسباب د منزل او کور، لکه کمپله نالی و تلتك وغیرها، او زیاته به وي تر آلاتو د کسب کارانو لکه تیشه، اره وغیره د نجار د پاره او یا نورو کسب کارانو، او زیاته تر اداء کولو د پورونو چې پرده باندې وي، پوه سله: چې عیال د سړي هغه څوك دي چې نفقه یې پرده لازمه وي، مسئله: که د سړي په سر ای کې ترجمه د ده بالا محکمه یا خونې وي چې د هغه خرڅې کړي وای، نو حج یې په کولای سولی ایا پرده خرڅول د دغه یا د نورو ځای واجب دی او حج پرفرض دی او که خرڅ! جواب: خرڅول خو یې واجب نه دی لکن افضل دا ده چې خرڅ یې کړي او حج پې وکړي، ط، قال المصنف:

وَيُشْتَرَطُ الْعِلْمُ بِفَرْضِيَّةِ الْحَجِّ لِمَنْ أَسْلَمَ بِدَارِ الْحَرْبِ

اوبل شرط د فرضیت د حج علم دی د سړي پر فرضوالی سره د حج هغه چا ته چې په دار الحرب کې اسلام راوړی

أَوِ الْكَوْنِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ

وي اویا د چې په دار اسلام کې بود باش کوی نو که په څه وخت کې په فرضیت د حج خبر وی او که نه وی حج پرفرض دی، ولې ناخبر تیا په دار اسلام کې عذر نه دی بلکه د سړي خپل تقصیر او بیا کې ده چې په دار اسلام کې او سیږي او د ده د اسلام په فرائضو سره نه دی خلاص او په ناخبرۍ د بخلاف دار الحرب کما لا یخفی، عفر له، قال المصنف:

وَشُرُوطُ وُجُوبِ الْأَدَاءِ خَمْسَةٌ عَلَى الْأَصَحِّ صِحَّةُ الْبَدَنِ

او شرطونه د وجوب د اداء یعنی پرسړي لازمولو کول د حج پنځه دی پر صحیح روایت اول جوړوالی د بدن دی نو پر هغی سړي چې ناجوړ وی که څوك هم حج فرض دی لکن اداء یې نه ده فرض لعذر المرض، قال

وَزَوَالُ الْمَانِعِ الْحِسِّيِّ عَنِ الذَّهَابِ لِلْحَجِّ وَأَمْنُ الطَّرِيقِ

اوبل شرط دا دی چې مانع چې په سټرګو معلومه وی د ټګه څخه د حج زایل یعنی نه به وی، لکه چې حکومت پاسپورټ نه ورکوی چې بیله پاسپورټه حساب د حج سفر ممکن نه دی الی غیر ذالك اوبل شرط دا دی چې لاره حج به په خطره کې نه وی. پوه سله: چې معتبر په امن کې دا ده چې غالبًا لاره امن وی، ولې حقیقت امن په علم کې د څدای جل سلطانه دی، لکه به موټر کې د حج کول اویا په طیاره کې د حج کول اویا په آب ګوټ کې د حج کول، چې که څوك احتمال د دی سته چې موټر دی په لاره کې د سفر د حج چپه سی، اویا دی طیاره سقوط وکړی یا دی آب ګوټ په دریاب کې غرق سی، لکن دا احتمالات فرضیت د حج د اداء سړي د ذمې څخه نه ساقطیږی، ولې چې اغلب په دغو سفرلیو کې سلامتیا ده کما یدل علیه التجربة، قال المصنف:

وَعَدَمُ قِيَامِ عِدَّةٍ وَخُرُوجُ مُحْرِمٍ وَلَوْ مِنْ رَضَاعٍ

اوبل شرط د وجوب الاداء دا دی چې د بنځې سره چې حج نه کې محرم به په سفر وسره ونږی، پوه سله: چې محرم هغه څوك چې ابدی د د غې بنځې نکاح ورنه حرامه وی، نو اجنبی

اَوْمُصَاهَرَةٍ مُسْلِمٍ مَامُوْنٍ عَاقِلٍ بَالِغٍ

نواخښی یعنی دښځی د خور میړه محرمه نه دی الی غیر ذالك ، کی څوم محرم د رضاع د سببه وی لکه د ښځی سره رضعی نړۍ یا د ورور ملګری وی اویاد خپلې دلاری په محرم وی لکه د ښځی سره چې نړۍ په سفر کی د حج ملګری وی. لکن شرط دادی چې څوک محرم به مسلمان وی اودامن سړی وی یعنی زنا کار به نه وی، اوعاقل به وی لیونی به نه وی او بالغ به وی کشنی به نه وی، سبب دادی چې مقصود ملګرتیا څخه د محرم ساتنه ده د حاجیه ښځی د خلګو د بدکاری څخه اودا مقصد په کافر خائن لیونی یا نابالغ کی نه پوره کیږی،

پوه سه: چې اصلی خائن مجوسی دی چې دهغه عقیده ده روا والی د نکاح د خور اومور سره ده لکن چونکه مجوسی په قید مسلم ووتی، نو دلته د مامون څخه اخراج د خائن مومن دی کما لا یخفی» د ر» قال المصنف:

اَوْزَوْجِ اِمْرَتِهٖ

اویا به میړه د ښځی د دی سره ملګری وی، **مسئله** ښځه که څوانه وی او که بڼځی سپین سړی وی خو د ذکر سره ملګرو څخه چاره نه لری، او امام شافعی وائی چې ښځه که څرهم څوانه وی د نورو سپین سرانو نه ښځو حاجیانو سره بی محرمه اومیړه سفر د حج کولای سی، لحصول مقصود من الحاجیه من الزناء، لکن نصوص د منع د سفر د حج بیله محرمه اومیړه عام دی، نو د ښځو سپین سرو سفر د حج ښځی ته مطلقاً حرام دی **مسئله** که ښځه کونده وه اوغنی وه، د مالی حیثیته پر حج قادره وه، اومحرم یې نه درلودی، اویا نور سره ټولی پردی فرض نه دی چې د حج د پاره به میړه کوی، اوکی وکړی به کاردی لکن داشرط غلط دی چې دا به میړه ته وائی چې د حج راغلو ما به طلاقوی، اونړاسره به په سفر کی د حج جماعی نه کوی، اوکی شرط هم کړی میړه ترروا د وچې په سفر کی د حج جماعی ورسره کوی، اوچې د حج څخه راغله خواه مخواه برئی طلاقوی، بلکه د دې خوښه ده کی طلاقوی اوکه نه» د ر» قال

وَالْعِبْرَةُ بِغَلَبَةِ الظَّنِّ فِی السَّلَامَةِ بَرًّا وَبَحْرًا

او اعتبار غالب ګمان لره دی په سلامتیا کی د ده سفر ده چې که په وچه کی وی اوکه په دریاب کی وی

د رولیش وائی: چونکه په زمانه د قدماء د امامانو او مصنفانو طیاره نه وه، نو ځکه په عباراتو کی د دوی جَوَّا لفظ نه دی راغلی، وقدمر منا التفصیل فی ذالك»

مسئله: که ښځی بی محرمه حج وکړی د حج غاړی خلاصی سوی لکن مکروه کار دی،

مسئله: که میړه د حج اسلام یعنی فرضی څخه ماینه نه سی منع کولای. البته د نفلی حج څخه یې منعه کولای سی لکه فرضی روژه او نفلی روژه، **مسئله** که د ښځی محرم د دې سره حج نه ولاړی نو له خرڅ او نفقه او کرایه وغیره پر ښځه باندې دی، البته که محرمه غنی ووای حج پرفرض وو او د خپل حج د پاره تلی، او ښځه یې چې دی محرم وو د سره ملګری سوه نو پس ښځه یې نفقه نه ده لازمه» د ر» قال المصنف:

وَلَا يَصِحُّ اَدَاءُ فَرْضِ الْحَجِّ بِاَرْبَعَةِ اَشْيَاءَ لِلْحُرِّ الْاِسْلَامُ

او صحیح کیږی اداء د فرضی حج په څلورو شیانو سره حُر سړی لره قید به لان العبد لیس علیه الحج المفروض. او اسلام چې مسلمان به وی. او دوهم

وَالْاِحْرَامُ وَهُمَا شَرْطَانِ

احرام او دادوه شرطه دی یعنی د صحت د پاره اورکن د حج نه دی، **پوه سه** چې شرط خارج موقوف علیه اورکن داخل ته وائی» قال

ثُمَّ الْاِتْيَانُ بِرُكْنَيْهِ وَهُمَا الْوُقُوْفُ بِعَرَفَةَ لَحْظَةٍ

او بیا راتګ کول دی په دوو رکنو سره د حج، اوهغه نو اول رکن د حج دریده دی پر عرفات لحظة

مِنْ زَوَالِ يَوْمِ التَّاسِعِ اِلٰى فَجْرِ يَوْمِ النَّحْرِ بِشَرْطِ عَدَمِ

یعنی که څرهم یو کم وخت وی، د وخت څخه د زوال د نهمې ورځې بیا تر سپیدو پورې د اختر د ورځې

الْجِمَاعِ قَبْلَهٗ مُحْرِمًا

په شرط دی چې د څخه تر عرفات بی جماعی نه وی کړی په داسی حال کی چې دی محرم وو، **مسئله** کی جماعی کړی وی نو حج یې فاسد سو نو د هغه حج افعال به تهوله پوره کوی، اوبل کال بی قضا راوړی د ر

قال المصنف: **وَالرُّكْنُ الثَّانِي أَكْثَرُ طَوَافِ الْإِفَاضَةِ فِي وَقْتِهِ**

اوه وهم رکن دج اکثر شوطونه طواف زیارت دی چی خلور شوطه دی، یعنی هغه درې شوطه واجب دی کرد سرې څخه پاته سې

وَهُوَ مَا بَعْدَ طُلُوعِ فَجْرِ النَّحْرِ چاړه یې په دمه سره کیږي، اوه دا طواف به په خپل وخت کې کوي چې ورو سته تر طلوع د سپیدو دی دوړځی د اختر معنا داده چې تر دغه وخت د مخه طواف زیارت نه دی روا کې څوم تر اخیره عمر څنډ ول روا دي، لکن واجبه داده چې په ورځو کې د نحر به ئې کوي، چې درې ورځې دي، والا یجب علیه الدم»

پوه سه: چې دی طواف مفروض ته طواف افاضه وائي یعنی چې حاجي د عرفات څخه راکښته سوبیا بې کوي، اوطواف زیارت یې هم بولي چې دی زیارة ته بیت الله شریف راځي» ط، ر

قال المصنف: **وَوَاجِبَاتُ الْحَجِّ إِنْشَاءُ الْحَجِّ مِنَ الْمِيقَاتِ**

اوواجب شیان دج دادی ۱ شروع کول دی دج د میقات څخه، **پوه سه:** چې پراطراف ومکي مکرې خوځایونه دی، بعض لیرې او بعض نژدې دي چې وهغوته میقاتونه وائي د میقات معنا داده چې آفاقي سړي به ترهغه ځای بې احرامه دج یا د عمرې نه تیریږي، ۱ میقات دی د مدینې والاوو، چې هغه ته ذوالحلیفه وائي، چې د مدینې منورې څخه ۶ شپږ یا ۷ میله لیرې دی، اوترمکې مکرې پورې لس منزله دی یا ۹۰ اوداهغه لیرې میقات د مکې مکرې څخه اود التریه پخوانۍ زمانې کې ځاهان وو چې عوامو رته ابیار علي وائي، ۲ ذات عرق بولي، چې هغه میقات د اهل مشرق د مکې مکرې څخه دی چې په مابین کې د دغه میقات اود مکې مکرې ۲ منزله دی، ۳ جحفه، یا د مهیعه» امام نووئ وائي چې د دغه میقات اومکرې مکې ترمابین ۳ منزله دي، اوه اد یوی قریې نوم دی چې په مابین کې د مغرب اوشمال د مکې څخه پرلاره د تبوک، اوداځای میقات دی د اهل شام اومصر اود اهل مغرب، ۴ قرن دی اوقرن دیو غره نوم دی چې پای یې په عرفات ته رسیدلی دی، چې د مکې اوقرن ترمابین دوه منزله دی، اوداميقات دی د نجد یانو»

۵ یلملم دی چې جنوب ته د مکې واقع دی دوه منزله د مکې مکرې څخه لیرې دی اوداميقات د یمن د خلکو دی» **پوه سه** چې د غه ځایونه چې میقات دیو خاص خلکو د پاره ټاکل سوی دی د ی معنا دانه ده چې بیله د غو خلکو بل څوك د الته احرام نسی تړلای، لما ورد فی الحدیث النبوی هن لهم ولمن اتی علیهن» بجرد دې» قال المصنف:

وَمَدُّ الْوُقُوفِ بِعَرَفَاتٍ إِلَى الْغُرُوبِ وَالْوُقُوفُ

اول واجب څنډ ول د وقوف پرعرفات تر لویدو د لمر پورې اوغایه په مغیا کې داخله ده، اوبل

بِالْمُزْدَلِفَةِ فِيمَا بَعْدَ فَجْرِ يَوْمِ النَّحْرِ وَقَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ

واجب دریم د مزدلفه چې دیوځای نوم دی چې د عرفات پای ته دی، اوداریدل پسله سپیدو څخه دوړځې داختر دی اود مخ ترې راختو دلمن، قال المصنف:

وَرَمْيُ الْجِمَارِ وَذَبْحُ الْقَارِنِ وَالْمُتَمَتِّعِ اوبل واجب ویشتل دی د ځلو چې په عرف کې شیطانان ورته وائي، اوبل واجب ذبح کول دیو حیوان دی قارن لره چې د میقات څخې دج اوعمرې یوځای نیت کړي اومتمتع لره چې د میقات څخه یې د عمرې نیت کړي اود عمرې ترافعالو ورو سته احرام خلاص کې، بیا احرام یا اووم په ورځ د حرمه څخه د مکې احرام دج وتړي، چې عوام ورته د شکریه پوسه وغیره وائي» قال المصنف:

وَالْحَلْقُ وَتَخْصِيصُهُ بِالْحَرَمِ وَأَيَّامِ النَّحْرِ وَتَقْدِيمُ الرَّمْيِ

اول واجب د سر خریل دی یعنی یا تقصیر ویشتنا نود سر چې عوام ورته د ځان حلالیدو وائي، اوبل واجب خاص کول دی د حلق چې حرم پورې اوبه ورځو کې د اختر اود مخه

عَلَى الْحَلْقِ وَنَحْرُ الْقَارِنِ وَالْمُتَمَتِّعِ بَيْنَهُمَا کول دی د ویشلو د جمرې عقبې حلق اندی اوذبح د قارن اومتمتع به په مابین کې وی یعنی تر رمی ورو سته اوتر حلق د څخه چې دا هم واجب دی

وَايْقَاعُ طَوَافِ الزِّيَارَةِ فِي اَيَّامِ النَّحْرِ وَالسَّعْيُ بَيْنَ

اوکول واجب دی د طواف د زیارت په ورځو کی د نحر چې درې دی، اوبل واجب سعی ده په مابین کی د صفا

الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فِي اَشْهُرِ الْحَجِّ وَحُصُوْلُهُ بَعْدَ طَوَافٍ

او مروا، چې دوه غرونه دی، په میاشتو کی د حج، اوبل واجب کول د سعی دي پسله طواف

مُعْتَدٍّ بِهِ نخ چې د اعتبار وړ وی، یعنی تر نفلی طواف وروسته سعی یې د صفا او مروه

نسته، «ف»، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْمَشْيُ لِمَنْ لَا عُذْرَ لَهُ وَبَدَاءَةُ السَّعْيِ مِنَ الصَّفَا وَ

اوبل واجب پر پښو تګ کول دی د سعی هغه چا لره چې عذر نه لری یعنی

طَوَافُ الْوَدَاعِ که عذر وړ بیادی د کرایی په ریږ یا نورو کی سپور نه وی، اوبیادی بل سړی

په شا کې په شا دې سعی وکړي، اوبل واجب شروع د سعی ده د صفا څخه، نو کې دمروه څخه شروع

وکړي هغه اول شوط ګڼه اعتبار نه لري، اوبل واجب طواف وداع دی چې طواف رخصت یې هم

بولي اوطواف الصدر یې هم بولي، چې په اخیر کی چې کورته روانیږی دغه طواف به کوی،

پوه سه: دوداع معنا اودرخصت معنا یوه ده، اوصدر په معنا د رجوع دی، دامعنا نه

نږدې ده نکه بعض امامان چې کوی اوعوام هم چې پرځیګر دی کعبې شریفې څخه دحرم څخه وزی، قَالَ

وَبَدَاءَةُ كُلِّ طَوَافٍ بِالْبَيْتِ مِنَ الْحَجَرِ الْاَسْوَدِ وَالتَّيَافُنُ

اوبل واجب شروع کول دهر طواف چې پر کعبه شریفه یې کوی د حجر اسود څخه، اوبل واجب داری

چې پر ښۍ اړخ طرف دی روانیږی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْمَشْيُ فِيْهِ لِمَنْ لَا عُذْرَ لَهُ وَالطَّهَارَةُ مِنَ الْحَدَثَيْنِ

اوبل واجب داری چې طواف دی پر خپلو پښو کوی هغه څوک چې عذر نه لری، اوبل واجب پاکی د بدن ده د کثیفو اولوی بی اوردسیا څخه چې ناپاکی

وَسَتْرُ الْعَوْرَةِ وَاَقَلُّ الْاَشْوَاطِ بَعْدَ فِعْلِ الْاَكْثَرِ مِنْ طَوَافِ

الزِّيَارَةِ اوبل واجب پټ والی د عورت دی په طواف کی، اوبل واجب کول دی د اقل

شوطو پسله دی چې اکثر طوف یې د مخ کړی وي، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتَرْكُ الْمَحْظُوْرَاتِ كَلُبْسِ الْمَخِيْطِ وَسَتْرِ رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ

اوبل واجب پرلیبنول دی د ممنوعاتو د احرام لکه پتول د سر، چپل او مخ خپل اودګنډلی جامی عوسل

وَسَتْرُ الْمَرْاَةِ وَجْهَهَا وَالرَّفَثُ وَالْفُسُوْقُ وَالْجِدَالُ

اوپتول د ښځی محرمی خپل یعنی سری پټوی، اوبه کوی رفث چې جماعته وائی اوبعض فقهاء وائی چې

رفث قول فحش ترې وائی اوفسوق به نه کوی یعنی مطلق معاصی اوګناهونه، پوه سه

چې ګناه کول خو په احرام اوغیر احرام کی ممنوع ده لکن په احرام کی اشد منعاده لکه دوریښمینی

جامی اغوستل په لمانځه کی اشد ګناه ده ترخارج د لمانځه اوجد الیه نه کوی یعنی خصومت

دانې یوالانوسره د خادمانوسره اودهیڅ چا سره، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَقَتْلُ الصَّيْدِ وَالْاِشَارَةِ اِلَيْهِ وَالدَّلَالَةُ عَلَيْهِ

اوقتل د ښکار لکه هوسی، کوتره یعنی صید بری ولی چې د بحری صید لکه ماهی روا دی په احرام کی

اواشاره به نه کوی وبل چا ته کې محرم اوکه حلال د ښکار وخواته، اودلالت به نه کوی د چا د ښکار

یعنی وا چې فلانی ګای ته ولاړ سه هلته هوسی ده، نو اشاره حاضرته وائی، اودلالت وغائب ته

ده فافهم الفرق بین الاشارة والدلالة، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَسُنَنُ الْحَجِّ مِنْهَا الْاِغْتِسَالُ وَلَوْ لِحَائِضٍ اَوْ نُفَسَاءَ اَوِ الْوُضُوْءُ

اوسنت کارونه په حج کی دادی یو سنت ښځه د حج غسل کول دی که څه هم حائضه ښځه وی یا نفساء اویا

إِذَا أَرَادَ الْإِحْرَامَ اودس تازه کول دی چې سړی یا ښځی ارادہ د احرام وکړي **پوه سه** چې غسل خو افضل دی کما لا یخفی **فَائِدَه**: دحائض او نفساء دغسل یا اودس د طهارت دپاره نه دی، ولې چې دوی که شل واره غسل وکی مثلاً په زمانه کی د حیض یا د نفاس وکړي پاکی نه ګرځی بلکه داغسل مثلاً د پاره د احترام دا حرام دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلُبْسُ إِزَارٍ وَرِدَاءٍ جَدِيدَيْنِ أَبْيَضَيْنِ اوبل سنت دی چې اغوستل دعورت، اوبل بټو، یعنی دپاره د پټولو داوزار، ولې چې لمونځ سړه دلغ والی دی وی اوزی او یا د دوارو اوزار ومکړه دی، ط، اوهغه دوی ځامی به نوی او سپینی وی، اوکی دنو څه طاقت نه درلودی نو غسلین هم کافی دی، **وَالتَّطَيُّبُ** اوبل سنت خوشبوئی لګول دی یعنی قبل الاحرام لکن پرښه د ن نه پر کالو، ولې چې تطیب د جامو په نیز ټولو اماما نو روا نه دی لکه بعض جاهلان عوام چې کوی، اود بدن سر یا ږیری خوشبوئی عامه دی کرذات د خوشبوئی پاته لکه مشک اوکی صرف بوی یې پاته وی، کذا فی البحر و در، ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَصَلَاةُ رَكْعَتَيْنِ وَالْإِكْثَارُ مِنَ التَّلْبِيَةِ بَعْدَ الْإِحْرَامِ رَافِعًا اودو رکعته لمونځ هم سنت دی د هغه تر احرام، اودیره دی وائی تلبیه پسله احرامه څخه اوپورته کوونکو

بِهَا صَوْتَهُ مَتَى صَلَّى أَوْ عَلَى شَرَفًا أَوْ هَبَطَ وَادِيًا أَوْ لَقِيَ به وی اوزار په تلبیه سره هروخت چې لمونځ وکړي، اویا پریږدو ځای پورته کیدی، اویا کښته ښیلی ته شوه کیدی، اویا د نورو سپرو خلګو سره ملاقی شو

رَكْبَانَ وَبِالْأَسْحَارِ اود سحار په وخت کی دی هم تلبیه ډیره وائی،

وَتَكْرِيرُهَا كُلَّمَا أَخَذَ فِيهَا وَالصَّلَاةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اومکرره دی وائی چې شروع یې په وکړي یعنی هروخت چې شروع په تلبیه وکړي یو څو واره دی پرله پسې وائی

اقله مرتبه یې درې واره دی، اوو الصلوٰة عطف دی پر تلبیه یعنی د سُنتو څخه درود ویل دی پر نبی علیه الصلوٰة والسلام باندې، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَسُؤَالُ الْجَنَّةِ وَصُحْبَةُ الْأَبْرَارِ وَالِاسْتِعَاذَةُ مِنَ النَّارِ

اوبل د سنتو څخه دی سوال دی یعنی په لوی دربار کی د خدای جل سلطانه د جنت اوملګرتیا د نبو خلګو په جنت کی اود پناه غوښتلو داوره څخه، دروښ وائی چې د دغو دری شیانو درخواست باید په بار بار په ډیر عجز او انکساری سره حاجی وکړي ولې چې مقصود دی څخه بلکه د ټولو اعمالو حسنه وو بلکه د اسلام د دین څخه هم د غه دربی شیان دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْغُسْلُ لِدُخُولِ مَكَّةَ وَدُخُولُهَا مِنْ بَابِ الْمُعَلَّاةِ نَهَارًا

اوبل سنت غسل دی د پاره د داخلی د مکی مکرمی، اوبل سنت دخول دی د بنا ریته د مکی مکرمی د باب المعلاة څخه چې اوس په نامه د کدأ یا د ډیری او عوام په کُدی بولی، دروښ وائی چې دا سُنت په اوسنی زمانه کی عمومی حاجیان چې مشرق او مغرب او د لیری مملکتونه څخه راځی نسبی اجراء کولای، ولې چې کار و بار د حاجیانو د معلمانو پلاس کی دی، حاجیانو ته هیڅ درک نه معلومیږی البته په ۱۴۲۳ کال چې د افقیر حج ته تللی وو اتفاقاً مو پردغه دروازه دخول راغلی هغه په دی سبب چې زموږ د معلم په کداء کی کور او فتر وو او د کداء عماری د حاجیانو د پاره په کرایه احستی وی، اوچې موږ ور غلو یان اومطوف راسره کړی پردغه دروازه هم دورځی داخل سو، فللّٰه الحمد والمنة، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالتَّكْبِيرُ وَالتَّهْلِيلُ تِلْقَاءَ الْبَيْتِ الشَّرِيفِ

او الله اکبر دی وائی او لا إله إلا الله دی وائی په وخت کی د ملاقات یعنی د لیدلو د بیت الله الشریف، **پوه سه**: چې معنا د تکبیر داده اللهُ أكبر من كل كبير كما هو المتعارف في الكتب وما قال ط معناه الله اكبر من الكعبة لئلا يقع نوع شرك آه فما لا افهمه تدبر، د روښ،

اللهم اغفر لمولفه ولكاتبه ولوالديهما ولجميع المؤمنين.

وَالدُّعَاءُ بِمَا أَحَبَّ عِنْدَ رُؤْيَتِهِ وَهُوَ مُسْتَجَابٌ وَطَوَافُ

اوبل سنت دے دعا کول دی په هغه شی چې د حاجی خوښ وی په وخت کی د لیدو د کعبې شریفې او د دعاء

الْقُدُومِ وَلَوْ فِي غَيْرِ أَشْهُرِ الْحَجِّ په دغه وخت کی قبلیږی. اوبل سنت

ته ورسیږی که څوک په غیر کی د میاشتو د حج وی، یعنی د عمری په نیت، حاصل دا چې طواف قدوم

په حج پورې تخصیص نه لري.

وَالِاضْطِبَاعُ اوبل سنت دے حج یعنی د طواف په وخت کی یعنی طواف قدوم اضطباع ده

دا اضطباع معنا دا ده چې پتوی د ترې راسته اوږه لاندې پرېږده او

واچوی **تَنْبِيهٌ** بعض عوام حاجیان چې په طواف کی ئې اضطباع وکړه نو وهغه تر دوام

ورکوی په غیر کی د طواف یعنی کوی حتی د ویښ ولیدو چې بعض حاجیانو په کلیو ستنو پتوپیر

چې اوږه تنګ تړلی وی او لمونځونه بې کوله اوسره ددی چې د دغه ذکر سره چې په لخه اوږه

لمونځ مکروه دی حتی چې ما وینو غسی خلګو ته وویلې چې اوږه دی پټه کړه لکن عمل په نږه کاوه

ولنعم ما قیل، آن کس کہ نداند و بداند کہ بداند؛ در جہل مرکب ابد الدہر بماند؛ قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالرَّمَلُ إِنْ سَعَى بَعْدَهُ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ اوبل سنت د حج اوږی

سنوره ولاړ دی په هغه طواف

کی وړاندې سعی نه وه صفا او مروا لپسې کوی، او په اشهرو کی د حج وی **پوه سه**

چې رمل چابک تګ دی چې ګامونه نږدې سره ایښودی، او اوږی هم سنوره وی. **مسئله**

کې په اولو درې شوطونو کی رمل نه کوی په هغه پاتې شوطونو کی به ئې هم نه کوی، ط. اوکه په ازدحام

خلګو کی راغلی چې رمل به نه سوای کولای نو دی ودریږی چې فرجه پیدا سی بیا دی رمل وکړی

پوه سه: چې دمتن څخه دا معلومیږی که طواف قدوم والا اراده د سعی نه د مخه لوده

پسله طواف نو په هغه رمل هم لازمه نه دی، وسیأتی بیانه فی الفصل الآتی إن شاء الله.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه وقد کتبه بقلم فضل الحق حقانی ١٤٢٣هـ ٧-٩.

وَالْهَرْوَلَةُ فِيمَا بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ لِلرِّجَالِ وَالْمَشْيُ

اوبل سنت د حج چابک تګ دی په سعی کی په مابین کی د دوو میلا نوو چې په رنګ نښه شوی دی، لکن نارینو

عَلَى هَيْئَتِهِ فِي بَاقِي السَّعْيِ لره نه ښځولره او تګ دی کوی په سکون او اطمینان

کوی چې ترمیلینو تیر سی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْإِكْثَارُ مِنَ الطَّوَافِ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ صَلَوةِ النَّفْلِ

لِلْآفَاقِيِّ اوبل سنت د حج دی طوافونه کول دی او طواف افضل دی تر نفلی لمانځه دهغو

حاجیانو نه د پاره چې د اطراف څخه د عالم اسلام راغلی وی سبب دا دی چې نفلی لمونځونه

خو حاجی کورهم کولای سی، او طواف خو هر وخت نه میسر یږی کما لا یخفی **فَائِدَةٌ** دمکی

مکرمی خلګو لره په موسم کی د حج نفلی لمونځ افضل دی تر طواف، تاسی چې طواف گاه افاقیانو خالی سی

او په غیر کی د موسم الحج دوی لره هم طواف افضل دی تر نفلی لمانځه، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْخُطْبَةُ بَعْدَ صَلَوةِ الظُّهْرِ يَوْمَ سَابِعِ ذِي الْحِجَّةِ

اوبل سنت د حج ویل د خطبی دی یعنی امام لره د حرم شریف پسې مابښین د لمانځه څخه په اووم ورځ

وَهِيَ خُطْبَةٌ وَاحِدَةٌ بِلَا جُلُوسٍ يُعَلِّمُ الْمَنَاسِكَ فِيهَا

دلوی اختره د میاشتو چې دا خطبه یوه خطبه ده په مابین کی ناسته نشته لکه د جمعې د خطبې په مابین کی

اوورې نسیې به د حاجیانو ته مناسک او افعال د حج لکه د وقوف عرفات، مزدلفه، اونور افعال د حج

چې په دغو ورځو کی حاجیان کوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْخُرُوجُ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ مِنْ مَكَّةَ

إِلَى مِنًى وَالْمَبِيتُ بِهَا اوبل سنت د حج وتل دی د حاجی پسله راختلو څخه د لمر په

ورځ د اتمه د مکی مکرمی څخه د منی ته اوشپه تیرول دی په منی کی

ثُمَّ الخُرُوجُ مِنهَا بَعدَ طُلُوعِ الشَّمسِ يَومَ عَرفَةَ إِلَى عَرَفَاتٍ

اوبل سنت دحج وتل دی حاجی د منی څخه پېله راختلو لمړی په وخ د عرفات اوعرفات ته
ورسیدلو وخت ته وایی چې په ورسته کې ترلمړ راختو حاجیان دلوی تکلیف سره چې عرفات ته ورځی
کیږی، هغه داچې چونکه دمعلمانو نفر پیردی، نو دوی نسبی کولای چې ورسته ترلمړ راختو
لمړی ترزوال پورې خپل حاجیان وعرفات ته ورسوی، نوځکه دوی دسپید وڅخه موټران
اوښان حاجیانو ته وړاندې چې په هغه وخت کې هیڅ بیړبار اوازدحام په موټرانو کې نه وي
نو دوی چې یوه پیړه حاجیان وعرفات ته وخپلو خیمو ته ورسوی، بیرته موټران بلامعطله
راځي، نور حاجیان ترخیمو د عرفات ټهوشم.

چې لمړ راوخیژی حاجیان د دغه سنت د پرځای کولو د پاره دپر او اکثر په منی کې وی اوپه یوپلا
پرښانو راووزی، حتی چې داسې ازدحام جوړیږی چې په موټرانو کې ځای په حملولو اوپه جنګونه
پیدا کیږی، یو کړی ورسته د ښانو آمد ورفت هم بند ښکی، نو کوم حاجیان چې په منی کې هغوی
باقی وی یا به پرلپښو څې هغه دپر لوی منزل دی، ولی چې دمنی څخه تر عرفات پورې ۶ میله لاړه ده، اوبا
په تکسی موټرانو کې څې، اول خو تکسیان دموقع څخه په استفاده سره دپر، یا لوړ غواړي، اوبیا چې
تکسی والا چې صرف حاجي په عرفات کې داخل کړي نو په ته ناکې، حاجي بیچاره دخپل معلم په خیمو ښې
سرګردان وي، اوبل معلم په وخپلو خیمو ته نه پریږدي. دهر معلم خپل تکټ د حاجي سره وي چې هغه
وبیکاره ته کې په دروازه کې د مجموعه خیمو، کې دهر معلم سړي ولاړ وی تکټ کوري نه ټې پریږدي
اوکه څوک معلم خو خپل حاجي ته تکټ دخیمو ورکړي هم وی، لکن حاجي ته دا پته هم نه لګیږي چې زما
د معلم خیمې به چیرې وي، په نهرو بلکه په لکو خیمې ولاړې وی، حتی ما داسې حاجیان ولیدل چې
خیمې به څندې ورکې وی نو ښې پریږدي د پخته پخو وغیره اچولی وو، وبیا اوتږی ترلمړ لویدو
پورې به ناست وو، اوکوم حاجیان چې د معلم په موټرانو کې به ولاړه هغه خویښه د خپلو خیمو څخه
تاکوی هلته ښې ښې فرش کړي خیمې ولاړې وی اود چنګ اوبه فراوانه وي، اود چکر ځایونه دپر وی
اود اودس یا غسل کولو ځایونه هم فراوان وی، اود دې سره د غرمې په وخت کې د معلم دخوانبو وړ چې

اوښې مفتی وړ کول کیږی اوحاجی د ټولو سرګردانیو څخه د خدای جل سلطانه وعبادت ته فارغ
البال وي،

تفریع نو د دی تکلیفو اوکړاوونو سبب دا دی چې حاجي په منی کې د لمړ راختو ترسنت
تیرسي اوقبل ازان بې ازدحامه په عرفات ته وخپلو خیمو ته ورسیږي، نو د
عرفات سخته وخ به بې دسرګردانۍ څخه خلاص وی اوعبادت اودعا کانو ته پېله زواله د لمړ به به
په استراحت وي. وَقَد قَالُوا الضَّرُورِيَّاتُ تُبِيحُ المَحظُورَاتِ. نو په نظر د دروښ وړ غسنت
یعنی د لمړ راختو ورسته وتل د منی څخه په پاتې سره اوپه پټ لمړ وتلو سره د منی څخه، د روښ
والی چې د تولې واقعاتو چې ما بیان کړی زما چشم دید واقعی وي، ولې چې د دروښ اوه اته کسه
اشخاصو لاندې څه وخت چې سپیدی سوی په منی کې اود معلم د موټرانو اړخونو ورغیده دوی ماته
وویل چې اوس موټران دپر فارغ اوخالی دی د ځې چې عرفات ته ولاړ سو ما ورته ووویل چې دا کار
خلاف السنته دی نو دوی هم پاتې سوه اخیر چې لمړ اوختی ازدحام دوښه پیرسو، چې موټرانو دیوالانو
پراجتماعی صورت کې په موټرانو کې ځای پیدا کول ناممکن سوه. اخیر چې موټران قطع سوه په
تکسی کې ولاړو، اوهغه بیان کړو سوی تکلیفونه موګرده ولیدل. قَالَ المُصَنِّفُ:

فَيَخطُبُ الإِمَامُ قَبلَ صَلوةِ الظُّهرِ وَالعَصرِ مَجمُوعَةً

اوبل سنت د حج دادی چې امام به د ډخه دماپښین اومازدیګر تر لمانځه حال کول دمازدیګر، چې جمع کړه

جَمعَ تَقدِيمٍ مَعَ الظُّهرِ خُطبَتَينِ يَجلِسُ بَينَهُمَا

کیږی په جمع تقدیم سره یعنی ترخپل وخت د ډخه دماپښین د لمانځه سره ادا کیږی دوی به وایی چې په ماپښین
کې به کښینی. **پوښه سه**: چې ټولو حاجیان چې حساب په تکوتر سیږی په مسجد کې د لمړه
چې په عرفات کې واقع دی نه جمع کیږی اونه ئې امکان د جمع سته، بلکه په اوس کلو کې داسې حاجیان
دپروی چې د غه مسجد ته په ستر ګونه وی لیدلی. نو هغه کسان چې د غه مسجد ته کله حاضر نه سوی نو
فرد مازدیګر لمونځ پخپل وخت کې کوی او جمع ورته "وا" هو کولای سی چې هر یو د غو د و لمونځو

پخپل خپل وخت کی په جماعت سره وکړي، قال المصنف:

وَالاِجْتِهَادُ فِي التَّضَرُّعِ وَالْخُشُوعِ وَالْبُكَاءِ بِالدُّمُوعِ

اوبل سنت دچ دادی چې دپرکوشش په کوي تپوله حاجیان په تضرع یعنی عجز ظاهري سره او خشوع یعنی په عجز باطني سره او ژړا به کوي په اوښکو سره یعنی نړ په غږ غږ و سره لکه بعض ړیا ناماران چې په سټرګو کې وینکه نه وي اونارې اوغلیلې ئې تر اسمان تیرې وي، گفته اند ؎

روی دریا فرو شست دوخت ؛ اگر بر خدا در پروشی نکوست ؛ والله الغنی عن العبادة الشریکة، قال

وَالدُّعَاءُ لِلنَّفْسِ وَالْوَالِدَيْنِ وَالْإِخْوَانِ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا شَاءَ

اوبل سنت دچ دادی چې دعا به کوي دځان دپاره اودمور اوپلار دپاره اودپاره د تپولو ورونړو

مِنْ أَمْرِ الدَّارَيْنِ فِي الْجُمَعِينَ

مسلمانانو دپاره په هغه دعا سره چې دده خوښه وي دده روښانه دنیا اواخرت په دواړو جمعو کې یعنی دعرفات اومزدلفې شریفې، قال المصنف:

وَالدَّفْعُ بِالسَّكِينَةِ وَالْوَقَارِ بَعْدَ الْغُرُوبِ مِنْ عَرَفَاتٍ

اوبل سنت دچ دادی چې په ارام اوعزت سره دی لپله لمر لوېدود عرفات ځنډ راروان سي اوپه

وَالنُّزُولِ بِمُزْدَلِفَةَ مُرْتَفِعًا عَنْ بَطْنِ الْوَادِي بِقُرْبِ جَبَلِ قُزَحَ

مزدلفه دی ورته واړوي، دشیلی دنسه ځنډ لوړ چې وادی محسر په بولي، نژدی وجبل قزح ته چې مشعر حرام په هم بولي، **مسئله** دمابنام لمونځ دی تروخت وځنډوی اودماخستن دلمانځه دمخه دی وکړي انفراداً کان اوجماعتاً، قال المصنف:

وَالْمَبِيتُ بِهَا لَيْلَةَ النَّحْرِ وَالْمَبِيتُ بِمِنًى أَيَّامَ مِنًى بِجَمِيعِ أَمْتِعَتِهِ

اوبل سنت شپه تیرول دی په مزدلفه کې اوبل سنت دچ شپې تیرول دی په منی کې په وخوکې

دمنی سره د تپولو کالو اوسامانونه، قال المصنف:

تَقْدِيمِ ثِقْلِهِ إِلَى مَكَّةَ إِذْ ذَاكَ وَكُرِهَ

اومکروه دی دمخه استول دخپل سامان ومکی ته په دغه وخت کې چې دی په منی کې وي،

مهمه مسئله: یوه دامسئله چې تپوله امتعه دده سره به وربسره وي! اوبله دا چې خپل سامان دمخه ومکی ته نه استوي، اوبله دامسئله چې حاجي خپل سامان په مکه مکرمه کې نه پریږدي بلکه تپوله به عرفات ته وربسره وړي، اوپه کتابو کې دفقهی وائي چې ددی تپولو کراهت تحریمي دی، اوسره ددې چې حاجیانو پرې سامانونه اوشیان په مکه مکرمه قبل ایام الحج رابولي وي اوهغه تپوله په مکه شریفه کې دمعلم پرځای په کوټه اطاق کښې پریږدي اطاق لپسې قلف کې نه ئې عرفات ته تپوله وړای سي اونه ئې خوک وړی اونه ئې منی ته خوک وړی اونه ئې وړای سي، اوبعض خلک دمنی خپل بعض دروند بارهکی ته خپل اطاق دمخه لاړاوړي دطواف زیارت په وخت، نودغه کراهت جواب به څروي! قال المصنف

وَيَجْعَلُ الْمِنَى عَنْ يَمِينِهِ وَمَكَّةَ عَنْ يَسَارِهِ حَالَةَ الْوُقُوفِ

اوګرځوي به منی پر استه اړخ اومکه پرچپه طرف په حال کې دودریدو دخلودولیشلو دپاره

لِرَمْيِ الْجِمَارِ وَكَوْنِهِ رَاكِبًا حَالَةَ رَمْيِ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فِي

اوبل به دی سپور وي پر اس یا اوښ په حال دویشتو دجمرة العقبه یعنی اول خلې په تپولو

كُلِّ الْأَيَّامِ

وخوکې، درویش وائي چې په حال کې دسپرتیا پریښې دا شیاوو کرخه هم لازدحام الناس غایت الازدحام حتی چې ویشتونکی دخپلو دوو پښوځای په ډیر تکلیف به پیدا کوي نوداسنت په سبب دمجبوري په نني زمانه کې پاته دی اوپه پریښولو کې ئې ګناه هم نسته،

اللهم اغفر للمؤلف ولکاتبه ولجمیع المسلمین امین

قال المصنف: مَا شِيَا فِي الْحُجْرَةِ الْأُولَى الَّتِي تَلِي الْمَسْجِدَ وَالْوُسْطَى

اوپیاده بروی په حال کی دویشتو داول څلی چی څرمه دی و مسجد ته یعنی مسجد خیف ته اود مینځ دځلی

وَالْقِيَامُ فِي بَطْنِ الْوَادِي

په ویشتو او په وخت کی دویشتلو دجمار ودی په نس کی دشیلو دپریدی

پوه سه: چی دهر څلی سره په پخوانی زمانه کی شپیله تیره سوی وه. چی د درولیش هم په اولو

څجو کی هغه شپیلی پیاده وی، په اوسنی زمانه کی نو هر سته نه ئی نبسانی بلکه چونکه څوکاله

دمخه په دغو ویشتلو کی د شیطانانو دپرې ضعیفه خلک اوبنځی دځلگو تر پښولاندی مړه سوه.

نود سعودی حکومت هر څلی ته لوړ څای هم جوړ کړی چې دهغی خواصم څلی ویشتل کیدای سی

اوکښته پخوانی څای هم باقی دی، تاچی خلک سره تقسیم سی اولوی ازدحام سپک سی فی الجمله،

بعض مشککین کسان وائی چی دلوړ خوایه ویشتل نارواوی، لکن داددوی غلط یاده، ولی اصلی مقصود

خو رمی دجمار ودی، دهره څای څخه چی وی، ته نه وینی چی دسببیه دازدحام دځلگو سعودی حکومت

شاوخوا بر نډی جوړی کړی دی چی په هغو برنډو کی هم طائفین طواف کوی، اوسره ددی چی په

خیر القرون کی بلکه زمونږ په اولو څجو کی یوازې طواف کښته پرمځکه کیدی ولیکن وروسته

چونکه په وخت کی داجتماع دحاجیانو داختر په ټرډو شپیلو کی چونکه پرمځکه اوبه برنډو کی هم

طواف کوونکی ته ګانیدلی، نوسعودی د برنډو پربام چی تر بام دکعبی شریفی دیر لوړ دی

طواف ګای جوړ کړی چی پر هغه بام چی ساحریه ډیره فراخه ده حاجیان طواف ونه کوی، نو په متفقی

دقول دد غه مشکک باید په برنډو او یا پربام د برنډو دی هم طواف نه وی روا،

سوال: په کتابونو کی دحدیثو او فقه داسی وائی چی کعبه شریفه تر عنان پوری ده اسمان کعبه

جواب: دهر څو لوړ ځای په په سبب دعذر دازدحام اړه بیری دمرګ چی شیطانان

وولی هر ډاډه وی چی مقصود دروی ویشتل دی، ولیکن، قال المصنف:

وَكَوْنُ الرَّمْيِ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ فِيمَا بَيْنَ طُلُوعِ الشَّمْسِ إِلَى زَوَالِهَا

اوبل داسنت دی چی په اوله ورځ دی رمی دشیطان په مابین کی دراختو د لمر بیا تر زوال پوری وکړی

درولیش وائی چی معذورین سپین ږیری اوښځی چی د پیرانزدحامه سره په دغه محدود وخت کی

مخامخ کیږی کولای سی چی داولی ورځ رمی دی تر مانبام پوری وکړی، قال المصنف:

وَفِيمَا بَيْنَ الزَّوَالِ وَغُرُوبِ الشَّمْسِ فِي بَاقِي الْأَيَّامِ

اوږی دی کوی یعنی د دروسره څلو په مابین کی زوال تر لویدو دلمر په باقی ورځو کی . . .

وَكُرِهَ الرَّمْيُ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ وَالرَّابِعِ فِيمَا بَيْنَ طُلُوعٍ

او مکروه دی ویشتل په اوله ورځ او په څلورمه ورځ په مابین د راختو سپیدو اود راختو دلمر

الْفَجْرِ وَالشَّمْسِ وَكُرِهَ فِي اللَّيَالِي الثَّلَاثِ وَصَحَّ لَوْ رَمَى

او مکروه دی رمی دشپو څلو په دروشپو کی یعنی دمینی اوکه چا وکړی صحیح دی. ولیکن شپو پولی

كُلَّهَا اللَّيَالِي تَابِعَةٌ لِمَا بَعْدَهَا مِنَ الْأَيَّامِ إِلَّا اللَّيْلَةَ الَّتِي

تابع دی دوروسته ورځو یعنی په شرع کی مګر هغه شپه چی وروسته دعرفات دورځی ده .

تَلِي عَرَفَةَ حَتَّى صَحَّ الْوُقُوفُ فِيهَا بِعَرَفَاتٍ وَهِيَ لَيْلَةُ الْعِيدِ

مګر نه هغه شپه چی څرمه ده دعرفات ورځی ته چی هغه تابع دوروسته ورځی نه ده بلکه تابع ده مخی ورځی

ده چی دعرفات ورځ ده، حتی چی صحیح دی دریده پرعرفات په دغه شپه کی اوبه حقیقت کی

خو داشپه داخترده نوکه دغه شپه تابع دوروسته ورځی وای، باید وقوف دعرفات په دغه شپه نه

وای صحیح، قال المصنف:

وَلَيَالِي الرَّمْيِ الثَّلَاثُ فَإِنَّهَا تَابِعَةٌ لِمَا قَبْلَهَا

اودغه رنګه تابع نه دی هغه دری شپی دهغی دجمراتو ولی چی هغه تابع دوروسته ورځونه دی بلکه دمخه

ورځوتابع دی کما لایخفی،

وَالْمُبَاحُ مِنْ اَوْقَاتِ الرَّمْيِ مَا بَعْدَ الزَّوَالِ اِلَى غُرُوْبِ الشَّمْسِ مِنَ الْيَوْمِ الْاَوَّلِ

اومباح یعنی جائز د اوقاتو څخه د رمی ورو سته تر زوال تر لویدو پوری د لمړ د اولی ورځی یعنی سنت طریقې خو هغه وه چې د څخ تیرو سوه لکن په مذکوره اوس وخت کی هم رمی د اولی ورځی یعنی چې ویشتل د جمرې عقبی دی هم مباح اوجائز دی، قال المصنف:

وَبِهٰذَا عَلِمْتَ اَوْقَاتَ الرَّمْيِ كُلَّهَا جَوَازًا وَكَرَاهَةً وَاسْتِحْبَابًا

اوپه دغه ټوله تیرسوی بیان سره تاوپیژندل وشوه د رمی د څلو ټولو یعنی د درو سره ورځو من حیث الجواز یعنی روا والی او مکروه والی او مستحب والی دی، **پوه سه** چې په جوهره کی چې شرح د قدوری ده د اسې وائی، چې اوقات د رمی الجمار څلور ورځی دی. د اختر ورځ او درې ورځې ورو سته تر اختر. نو په اوله ورځ کی وقت مکروه سته چې په مابین د سپیدو او د طلوع الشمس وخت دی. اوبل وخت مسنون سته، چې ورو سته تر طلوع الشمس زوال پورې، اووخت مباح سته چې بعد الزوال تر غروب پورې دلمر، وبعد غروب الشمس تر طلوع الفجر پورې مکروه دی، یعنی د مړ په هیڅ صورت کی نسته البته په اخیرې صورت کی کراهت موجود وي، اوپه دوهمه ورځ او دریمه ورځ د رمی الجمار د اختر څخه د لمر تر زوال پورې خو هیڅ روا نه دی، او په نوله تر غروب پورې وخت مسنون دی، او ورو سته تر غروب تر سپیدو پورې وخت مکروه دی. یعنی صرف کراهت دی د مړ نه پرلانه میږي، حاصل داچې د دغو دوو ورځو رمی کړ په شپه کی وکړي تر سپیدو د مخه روا دی، وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ. اوځلورمه ورځ وخت د رمی یې په نیز د امام اعظم د سپیدو څخه شروع کیږي تر غروب الشمس پورې، لکن قبل الزوال مکروه دی، اوبعد الزوال مسنون دی اوپه نیز د یارانو د څلورمی ورځی وخت دوه یشتو بعد الزوال دی اود مخه تر زوال هیڅ روا نه دی

وَمِنَ السُّنَّةِ هَدْيُ الْمُفْرِدِ بِالْحَجِّ وَالْاَكْلُ مِنْهُ

اوه سنت څخه دی هدیه د مکی شریفې یعنی که اوښ وسے اوکه غوې وی اوکه پوسه وی

وَمِنْ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ فَقَطْ

دیاره دهغه چاچې یوازی دیچ په نیت یه کړې وی، اوخوړل ېې هم کوی د هغه هدیې د غوښو څخه، اود غړ ښکه دی خوړل کوی د نفلی خیرات څخه چې په مکه شریفه کی وکړي. اود غړ ښکه د تمتع د شکریه د غوښو څخه فقط یعنی د دغه یا تو د دمړ ده د پسه غوښې به دی نه خوړی. **پوه سه**: چې د هدی المفرد یا هدی التطوع یا هدی التمتع یا هدی القران د حیوان د غوښو خوړل لازمه نه دی، بلکه جائز دی په دی غرض د مصنف احتراز د خوړلو د دم الجنایات دی، چې د هغه خوړل وسې نه روا نه دی. قاله

وَمِنَ السُّنَّةِ الْخُطْبَةُ يَوْمَ النَّحْرِ مِنَ الْاُوْلٰى يُعَلِّمُ فِيْهَا بَقِيَّةَ الْمَنَاسِكِ وَهِيَ ثَالِثَةُ خُطَبِ الْحَجِّ

اوبل د سنت څخه دی خطبه ویل د امام په ورځ د اختر په مثل د اولی خطبی چې ورښیه به په دغه خطبه کی باقی د مناسکو د حج یعنی د رمی الجمار، طواف زیارة وغیره. اود اهم دریمه خطبه د خطبو څخه دی ده، چې د دوو خطبو ذکر ورکړ اندی تیر سوه تذکر. قال المصنف:

وَلِتَعْجِيْلِ النَّفْرِ اِذَا اَرَادَهُ مِنْ مِنًى قَبْلَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِيْ عَشَرَ

اوبل سنت څخه دی تلوار په وتو کی د منی څخه کی اراده وه د وتو د مخه تر لویدو د لمر د دولسمی ورځی **فائده**: د اندازه لازمه چې حاجی به تر لمر لویدو د مخه مکی شریفې ته ځان رسوی بلکه چې د نفر اراده ولری نو تر حدود د منی دی صرف ځان وباسی تر لمر لویدو د مخه نود کراهت څخه خلاص سو. **فائده** اوله ورځ یوم النحر بولی، دوهمه ورځ یوم القر بولی چې حاجیان قرار لری په منی کی، اودریمه ورځ یوم النفر الاول بولی، چې بعض خلک وړی د منی څخه اوځلورمه ورځ یوم النفر الثانی بولی چې ټوله خلک منی پریږدی، کذا فی الجوهرة.

وَانْ اَقَامَ بِهَا حَتّٰى غَرَبَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِي عَشَرَ

اوکه حاجی پاته سوپه منیٰ کی ترهغوچې لمړلوبیدی د دولسمې ورځې یعنی وروسته تر لمرلویدو دوولسمې نوښی یعنی دمرودیرو

فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَقَدْ اَسَاءَ وَاِنْ اَقَامَ بِمِنًى اِلٰى

خوبا ندی نښته، لکن په دغه کار سره گناه گار سو، اوکه دی پاته سوپه منیٰ کی تر سپیدو چا ودلو خلوی

طُلُوْعِ فَجْرِ الْيَوْمِ الرَّابِعِ لَزِمَهُ رَمْيُهُ وَمِنَ السُّنَّةِ

التُّزُوْلِ بِالْمُحَصَّبِ څخه نازلیده دی په محصب کی، **پوه سه**: چې محصب

چې ابطح په هم بولي دیو نږدی ځای نوم دی ومکه ته چې هوری شیله ده چې میده میده شګو په

کښی دی، **پوه سه**: چې دابطح نزول صرف زمونږ حنیفیا نو په نیز سنت دی په دی

سبب چې علیه الصلوٰة والسلام په حجة الوداع دلته اړولی وه اوپه منبسط کی وائی که چا نزول د

محصب پریښو گناه کاره دی، **دَرویش وائی** چې که څوک ما په اولوحجو کی محصب لیدلی دی اوهلته

چې یو مسجد دی چې علیه الصلوٰة والسلام چیرې چې په محصب کی لمونځ کاوه پرهغه ډګر دغه مسجد هغه

جوړ دی اوپیر بنا ئسته مسجد لری غرمه می په کښی تیر کړیده، اودمابښین لمونځ می په هغه مسجد

کی اداء کړی دی اوبیا مکی شریفې ته ټللی یم، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

سَاعَةً بَعْدَ اِرْتِحَالِهِ مِنْ مِنًى

یوگړی دی نزول په کښی وکړی وروسته ترکوچ د منیٰ څخه، درویش وائی چې انزول

دمحصب په هغه وخت کی حاجیانو کولای سوای چې دمنیٰ څخه به دوی پرلپښو مکی شریفی ته ټللل

نوبې یوگړی غرمه مثلاً په محصب کی تیر کړه بیا به مکی ته روان سوه، مګر په اوسنی زمانه کی محصب

څوک پیژنی لاند، ولی چې دوی یعنی حاجیان په تکسی موټرانو د منیٰ څخه برابر مکی ته ځی حتی

که حاجی وتکسی والا نه وواېی چې ما محصب ته صرف یوگړی وروله چې دا سنت پرځای کړم،

تکسی والا ورته ووائی: فَاللّٰهِ مَا اَعْرِفُ الْمُحَصَّبَ وَلَا الْاَبْطَحَ، نو دغه محبوری د سببه

دحاجیانو نوتولو څخه داسنت پاته دی، اِلَّا الشَّاذَّ وَالنَّادِرَ، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَشْرَبُ مِنْ مَّاءِ زَمْزَمَ وَيَتَضَلَّعُ مِنْهُ

اودغه رنګه سنت دی چې سړی به چښلی اوبه د زمزم دغه اوبه دی ځان په اوبه کی، اوتنس دی په ډکوی پسې دری ۳ واړه سره،

وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ اَلنَّظَرُ اِلَيْهِ قَائِمًا وَالصَّبُّ مِنْهُ عَلٰى رَاْسِهِ

اوبخاخ وقبلی تندی دریږی په وخت کی دچښلو اوبو زمزم، اودقبلی وخواتندی گوری اوپه ولاړ ی

وَسَائِرُ جَسَدِهِ وَهُوَ لِمَا شُرِبَ لَهُ مِنْ اُمُوْرِ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ

دی چښلی اواوبه د زمزم دی توی کړی پرسر اوپس تولو بدن خپل، اود زمزم اوبه دهر غرض د پاره د امورو څخه

د دنیا اواخرت چې وچښلی کافی دی، **پوه سه**، چې اصل تجربه د علماوو اود صالحینو

اوبه د زمزم د مختلفو امراضو د پاره اود هر قسم هر قسم اغراضو او مطالبو د پاره چښلی دی خدای جل جلاله

هغه د دوی مقاصد اومطالب حاصل کړی دی، لکن د درویش وائی چې حسن نیت او تینګه عقیده په

دی باره کی مهم رول لری، د شک اوشبهی په ستر گودی نه ورته گوری، لان ماء زمزم من عظیم

قدرة الله جل سلطانه فی تلک البقعة الشریفة، د درویش وائی چې طریقةً اداب د آب زمزم چښلو

دا دی: چې حاجی دی د زمزم څاته ورسی او پخپله دی اوبه راوکاږی یعنی په سولاغه لکن داکار

په پخوا زمانه کی چې د زمزم اوبه په سولغور اکښه کیدلې، چې د درویش هغه وخت هم پیاده دی خو ممکن

وو، لکن اوس چې د زمزم څاخوک لیدلای نه سی، بلکه د مشین په ذریعه اوبه ځندی را کاږی

اوهلته ټلکی دی هغه اوبه اوس خلګ چښی خو په هر صورت حاجی دی په اوسنی زمانه کی په هغو

اوبو مخامخ وقبلی ته ښه ځان اوبه کړی، اوبیادی ساه وکاږی، اوبیادی اوبه وچښی اوخو واړه

دی د عنسی وکی اوهر پلادی کعبی شریفی ته گوری، درویش وائی د داخله څخه د احاطی د زمزم څخه

کعبه شریفه نه معلومیږی نو صرف وجهت ته د کعبی شریفی دی گوری. اومخ دی په پریوتلی اوسږی هم په

په پښو یولی اوپرځان دی هغه اوبه توی کړی حتی الممکن» قال المصنف:

وَمِنَ السُّنَّةِ اِلْتِزَامُ الْمُلْتَزَمِ وَهُوَ اَنْ يَّضَعَ صَدْرَهٗ وَوَجْهَهٗ عَلَيْهِ

اوبله سنت څخه دی په غیږ کی ټینګ نیول د ملتزم شریف په دی ډول چی سړی دی ځیګر اوسخ پر ملتزم کښیږدی، اوهغه دعاء چی زړه یه غواړی هغه دی وکړی، د رولیټی وائی چی پخوا زمانه کی چی زمانه ښه پیاده دی داکار ډیر آسانه وو هر سړی کولای سوای، اما په اوسنی زمانه کی که حاجی په اولوحاجیانو کی ولاړ سی، اویا په اخیر وحاجیانو کی پاتی وی نو شاید داکار به وکړای سی، اوکه د حاجیانو د ازدحام وخت وو نو زه ګمان کوم چی بیله پری وهلو او کشولو به داکار ډیر مشکل وی واللہ اعلم

وَالتَّشَبُّثُ بِاَسْتَارِ الْكَعْبَةِ سَاعَةً دَاعِيًا بِمَا اَحَبَّ

اولاسوندی ټینګ کړی پرپرده وپورې د کعبی شریفی یوګړی اودعا دی کوی په هغه دعاء سره چی ډډه خوښه وی اوبله سنت دی، کله چیری لاس وررسیدی اوکی لاس نه وررسیدی نولاسونه دی تر سر لوړ ونسی اودکعبی شریفی پرډیواله دی کښیږدی» قال المصنف:

وَتَقْبِيْلُ عَتَبَةِ الْبَيْتِ وَدُخُوْلُهٗ بِالْاَدَبِ وَالتَّعْظِيْمِ

اودغه رنګه سنت دی بجول د چارچوب دبیت الله شریفی، اوبیت الله شریفی ته دی داخلیږی په ادب اوتعظیم سره. **پوه سه:** چی بجول د حجراسود یا تثبث په پرده وپورې دکعبی، اویا ملتزم شریف په ځیګر پورې نیول یا دخول وخولی ته د کعبی شریفی ټوله سنن اوادابونه دی، نوکه حاجی ته دغه کار ونه ممکن سوه بیله ازاره دخلګو اوبیله کشولو اوپرې وهلو دخلګو خوډیر اعلی اودثواب کار ونه دی، اوکه بی ازاره ممکنه نه وه لکه په اوس زمانه دحج کی خوبیادی حاجی د دغو سنتو تر سره تیر سی، ولی ازاره دخلګو خوجرم دی» قال المصنف:

ثُمَّ لَمْ يَبْقَ عَلَيْهِ اِلَّا اَعْظَمُ الْقُرُبَاتِ وَهُوَ زِيَارَةٌ

ورورسته چی افعال دحج فرائض واجبات، سنتونه مستحبونه وپای ته ورسیده نه دی پاتی پرحاجی باندی مګر یولوی دثواب

اَلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَصْحَابِهٖ فَيَنْوِيْهَا عِنْدَ

کاروونخه چی هغه زیارت دی دنبی علیه الصلوة والسلام اوداصحابو دده یعنی دقبرودده دوی، نوحاجی دی نیت وزیارت

خُرُوْجِهٖ مِنْ مَكَّةَ مِنْ بَابِ سُبَيْكَةَ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلٰى

کوی په وخت کمی دوتو دده دمکی مکرمی څخه پرروانه چی په نامه دباب السبیکة یادیری دکښته غونډی

وَسَنَذْكُرُ لِلزِّيَارَةِ فَصْلًا عَلٰى حِدَةٍ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى

پرلاړ، اوزړدی چی موږ به ذکر کړو د زیارة نبوی دپاره مستقل اوجلا فصل کړو خدائی خوښه اوړاوه.

فَائِدَه: ددی بیان څخه د مصنف دا بنکاریږی چی زیارة النبی صلی الله علیه وسلم ترهغه حاجی وروسته ترحج دی، په اوسنی زمانه کی هغه حاجیان چی په د څخه تیاروکی مکی مکرمی ورسیږی هغه حاجیان چونکه تروخته پوری دحج دپاره زمانه پاتی وی نونه دافرادی حج نیت کوی اونه د قران حج بلکه ټوله دی نیت د تمتع کوی، نوچونکه څرنګه چی مکی شریفی ته ورغله نود هرمعلم سره نامه چی وی هغه په جوازات یعنی پاسپورټونه سره جمع کړی، اوخپل مطوف وسره کړی چی په حاجیانو عمره وکړی یعنی اوه شوطه طواف اووه واره سعی د صفا اومروا، نوحاجیان خانونه داحرام څخه خلاص کړی نومعلم په سمدلاسه په صباوړځ مثلاً مدینی منوری ته استوی دزیارة نبوی دیاره ثم وثم، تر هغه وخته پوری چی دحج شپی رانژدی کیږی، اوحاجیان راستنیږی د ۴۰ لمونځو دپاره په مدینه منوره کی پریښی دی، وروسته په بیرته مکی مکرمی ته راستوی، اودغه حاجیان پرذوالحلیفه چی پخوا به ئی ابیارعلی نبلله، چی میقات داهل مدینه دی اوتر ټولو میقاتو لږیری میقات دی، ومکی شریفی څخه احرام دبلی عمری تړی چی مکی شریفی ته راسی عمره ادا کوی اوخانونه حلال کړی، اوپردغه میقات آنحضرت صلی الله علیه وسلم هم احرام تړلی دی سره دډیرو صحابوړ، نوداحاجیان چی دحج مراسم پوره کړی سمدلاسه په دمکی شریفی څخه جدی ته استوی، اودجدی څخه خپلوخپلو وطنونه ځی، نوددغو حاجیانو نوم څخه کړخم اصل سنت چی زیارة النبی صلی الله علیه وسلم وروسته ترحج پاتی سو

لکن په دی کی گناه نشته، ولی چی داکار په دوی جبراً د سعودی د حکومت د خوا وسو، ومع هذا
بل سنت چی احرام د ذوالحلیفه څخه د دی پرځای سو، او هم یوه ټری عمره یه په نصیب سوه، وهاتانی
او هغه حاجیان چی د دین ورو ورسته مکی شریفی ته راځی هغه د افراد او قران نیت هم کولای سی، ولی
چی تر وخته د حج لږ شپی پاته وی، نو د غه فرقه حاجیان د سعودی حکومت ورو ورسته ترجمه و مدینی
منوری ته استوی او اصل سنت د دغو حاجیانو نو پرځای سو، او د غه حاجیان ورو ورسته ترمه الته شپو
سیده د مدینی منوری څخه جدی ته استوی او بیا د هغه ځای څخه خپلو وطنونه ځی،

سوال: د سعودی د حکومت په لوری د څه او ورو ورسته د زیارة النبی صلی الله علیه وسلم ته
استولو کی څه غرض او حکمت دی، **جواب**: د سعودی د احکمت دی چی په حرمینو کی بلاضرورته
ازدحام جوړ نه سی، او په تنګو او ځوکی د اختر که څرګند ازدحام عظیم جوړ یږی، هغه خو د حج د مراسمو
د ادا ء ضرورت پیښ سو،

پوه سه: چی مصنف چونکه افعال د حج او د عمری ټوله په متفرقو ځایونو کی ذکر کړه
چی د هغو ټولو په یاد ساتل د حاجی ته ګران وو، نو هغه د ټولو مناسک یو ځای ذکر کوی تاسی حاجی ته آسانی سهی، نو وایی:

خبرتیا

د حضرت علامه ابوالفضل مولانا **محمد عبید الله ایوبی القندهاری السلیمانخیلی** بنکلی تصنیف **نکاح قدوری** ان شاء الله
دیر ژر د چاپ څخه راووزی او د انتظار هغه ساعتونه به دیر ژر ختم سی ان شاء الله
ستاسو خیرخواه فضل الحق حقانی
پخپل قلم سره

فصل فی کیفیة ترکیب افعال الحج

د افصل دی په بیان کی د یوځای کولو کی د افعالو د حج،

إذا أراد الدخول فی الحج أحرم من المیقات کرابغ

مرکله چی یوسړی اراده وکړی چی په حج کی داخل سی، نو دی احرام وتړی د یوه میقات څخه لکه رابغ چی
عوام یه رابك بولی، رابغ دیوی شیلی نوم دی د ریاب ته نږدی، **پوه سه**: چی ذکر د رابغ مصنف پرسبیله د مثال کړی دی، ولی چی د څخه تیره سوه چی میقاتونه ډیر دی، او رابغ خاص
لازم نه دی، قال المصنف:

فیغتسل أو یتوضأ والغسل وهو أحب للتنظیف

نو دی غسل وکړی او یا دی اوس تازه کړی او غسل چی دی تر او دا سه افضل هم دی صرف د بدن
د پاکوالی د پاره دی یعنی نرده طهارت د پاره، ورنه پر حائض او نفساء حاجیه باندی به د اغسل
نه وای، فقه د پاره د تفصیل ده احرام تړلو د پاره ده، د تعقیب د پاره نه ده، قال المصنف

فتغتسل المرأة الحائض والنفساء إذا لم یضرها

نو چونکه د اغسل د تنظیف د پاره دی نو هغه ښځه چی فعلاً په حیض کی وی یا نفساء ښځه چی
منوره هم په نفاس کی وی هم به د اغسل کوی لکن که نفساء ته د اغسل تاوان نه کاوه، قال

ویستحب کمال النظافة بقص الظفر والشارب ونتف الإبط

او مستحب ده کامل پاکی د بدن، حتی په پری کولو سره د نوکانو، او په پری کولو سره د
بریتو یعنی پروچه مسنونه باندی، او د همدارنګه د بغل و پښتان دی کاږی

وَحَلْقِ الْاِبْطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ وَجَمَاعُ الْاَهْلِ وَالدُّهْنِ وَلَوْ

مُطَيَّبًا اوکه نه سرای کښای نوی وَخرڅی، اوودی خرڅی ترېر نافهم کړ نروی اوکه ښځه، اودمابنی سړی حماعهم وکړي، د جماع سړه ادی چی ترڅ په مطمئن سې، اوبیا په حج کی دمابنی سره د جماع سو داڅر وړ نه پیدا نه‌ی، اود حج په دوران کی نامحرم ښځو ته په نظرهٔ شهوت وینه گوری، اوروغن که څهم خوشبویه وی په سر پوری اوپه ږیره پوری ومسوړي، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَلْبَسُ الرَّجُلُ اِزَارًا وَرِدَاءً جَدِيْدَيْنِ اَوْ غَسِيْلَيْنِ وَالْجَدِيْدُ

او اغوندی دې نر سړی لنگ اوسړه دوپټه کړ نوی وي، اوکه پرېولی مگر نوی اوسپین افضل

اَلْاَبْيَضُ اَفْضَلُ وَلَا تَزِرُّهُ وَلَا يَعْقِدُهُ وَلَا يُخَلِّلُهُ

دي، اوښني دی نه بکښی اپردی، اوښه دی لنگ ته غوټه ورکوی، اوښه دی په مابنی کی دلنگ یا پتو کلپی ستن جګوي، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فَاِنْ فَعَلَ كُرِهَ وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَتَطَيَّبَ وَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ

اوکی دڅه غوکار وڅخه یوکار وکړي مکروه خودی، لکن څنی نه دی پرلاڅهٔ، اوخوشبوئی دی ولگوی، لکن پرهر اړخ اوځ اوبالو لنگ، وغیره دی نه موړی **پوه سه**: چی مصنف تولاصیغی دلته د مخاطب پرډول لیکلی دی گویا مخاطب یې حاجی یا عمره کوونکی دی، عینیٰ وائی چی په دغو صیغو کی باعث کولو حاجی یا معتمر پرزده کړه د افعالو د حج اود عمری، اودوه رکعت لمونځ دی وکړي افضل دادی چی اقتداء دی په علیه الصلوٰة والسلام ټینګه وکړي چی ده مبارک علیه السلام په اول رکعت کی د دغه لمانځه پسله الحمدلله څخه قُلْ يَا اَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ، وایه اوپه دوهم رکعت کی قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ، وبیله کړه هم ټینګه سورت چی ووائی کافی دی،

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهٖ وَلِمُوَلِّيْهِ وَلِوَالِدَيْهِمَا اَجْمَعِيْنَ.

وَقُلِ اللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ اووایه ای الله زما اراده د حج ده، نوته څ راته اسانه کړی اوقبول یه کړی زما څخه، **پوه سه** چی داد مفرد حج نیت دی، اوبا متمتع چی ترعمری وروسته نیت د حج کوی، اومتمتع به اول داسی ووائی اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِيْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّيْ، اوقارن به داسی ووائی اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُمَا لِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ ۞ قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَبِّ دُبُرَ صَلٰوتِكَ تَنْوِيْ بِهَا الْحَجَّ وَهِيَ لَبَّيْكَ

اووروسته ترلمانځه دی تلبیه ووائی چی نیت د حج به په کښی وي، اوهغه تلبیه داده چی زه په خدمت درته **پوه سه**: چی دا بیان دافضل دی ورنه حج په مطلق نیت سره روادی،

اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ

ولاړیم ای خدایه په خدمت درته ولاړیم هیڅ شریك نشته تا لره. په خدمت درته ولاړیم، په تحقیق ټوله تعریف

وَالنِّعْمَةَ وَالْمُلْكَ لَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ وَلَا تُنْقَصُ

اوټوله نعمتونه اوبادشاهی خاص تا لره دی، اوتا لره هیڅ شریك نشته، اوترد غو الفاظو دی حشه

مِنْ هٰذِهِ الْاَلْفَاظِ شَيْئًا وَزِدْ عَلَيْهِ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ

شی نه کموی، اوکه څ خوښه سی نو پرډی تلبیه دی ورزیات کی دا الفاظ

وَالْخَيْرُ كُلُّهُ بِيَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبٰى اِلَيْكَ وَالْعَمَلُ

سُنَّةٌ زه ستا طاعت کومربه بار بار، اوخیر یعنی د دواړو د نیا واخرت ستاپه قدرت کی دی، اوزه عاجزی اوسوال تاته کومو، اوداعمال تا لره هم سنت دی،

د تلبیې مختصره ترجمه: زه ولاړیم په دروازه کې د عبادت ستا یا الله په بار بار، اوما قبوله کړی ستا دعوت تا مړ په بار بار (د علامې ټی) هیڅ شریک نشته تا لره لبیک، په تحقیق سره حمد اونعمت اوپادشاهي تا لره ده، او سعدیک. زه ستا طاعت کوم په بار بار اوخیر یعنی ددوارو دنیا واخرت ستا په قدرت کې دی، والرغبی یعنی عاجزی اوسوال ستا څخه دی یعنی تاته عاجزی کوم اوستا څخه سوال کوم.

فَاِذَا لَبَّیْتَ نَاوِیًا فَقَدْ اَحْرَمْتَ فَاتَّقِ الرَّفَثَ وَهُوَ

نو چې هرکله تا تلبیه ووئیله چې نیت دې هم ووغوښته محرم سوی، یعنی شرعًا چې محرم سوی نو په ځان

اَلْجِمَاعُ وَقِیْلَ ذِکْرُهٗ بِحَضْرَةِ النِّسَآءِ وَالْکَلَامِ الْفَاحِشِ

ساتی د رفث څخه اورفث جماع ته وائی، اوبعض مفسران وائی چې رفث ذکر د جماع عودې په حضور کې د

وَالْفُسُوْقَ وَالْمَعَاصِیْ وَالْجِدَالَ مَعَ الرُّفَقَآءِ وَالْخَدَمِ

سپکاوو ځان وساته دسپما کو څخه لکه ښکنځل یا فحش مسخري اوفسق اودګناهو څخه اومعاصیو څخه عطف تفسیر دی، اوجنګ دی نه کوی دانویوالانوسره اوخادمانوسره یعنی نه دی قولی جنګ ورسره کوی اونه عملی جنګ. قال الله تعالیٰ: فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِی الْحَجِّ. قال

وَقَتْلُ صَیْدِ الْبَرِّ وَالْاِشَارَةُ اِلَیْهِ وَالدَّلَالَةُ عَلَیْهِ

اوځان ساته د وژلو څخه د ښکار وچې لکه هوسۍ، کوتره، وغیره، په برکې اشاره ودی ته ده چې صید البحر لکه ماهی وغیره وحاجی ته مباح دی، اوځان ساته د اشاری څخه وصید البر ته، اود لالت وچاته هم مه ورکوه پر صید البر باندې چې د اشارت اود لالت د فرق دی، چې اشارت وحاضر ته ده اود لالت پر غائب باندې ده، کفایه، عنه. قال المصنف.

وَلُبْسُ الْمَخِیْطِ وَالْعِمَامَةِ وَالْخُفَّیْنِ وَتَغْطِیَةِ الرَّاْسِ

اوځان وساته ای حاجی د اغوستلو دروغ کړی جامې چې قمیص وی کرپۍ توګ وی اوکی دپښو په ماښین کی درز ور ګنډلی وی

وَالْوَجْهِ وَمَسِّ الطِّیْبِ

اوهمدارنګه ځان وساته د تیرلوښخه د لنګوټی، اوده په پښو کولو څخه د موزو. **پوه سه.** چې د موزو څخه مراد متعارفی موزی یوازی نه دی بلکه هرد پښو شی چې بجلکی په پښیږی مراد دی اوبه پښتوه سر اومخ ه

مسئله: د تول اود بعض مخ وغیره فرق نشته، حتی اګر ټی پرسر ده وه په دسمال وغیره به ټی نه ټړی، اوبه یې خوله پښتوی اوبه یې باړخوا وکه لاسونه پرسترګو کښیږدی پرواندلوی، بجر، الفق، او خوشبوئی هم مه مسه کوه.

مسئله: چوپړ حاجیان دحجر په غاړه عطرو سینو چپه کوی نو محرم حاجی ته نه ده روا چې یا لاسونه دسته ورنښلوی. ولې چې داهم من الطیب دی.

وَحَلْقِ الرَّاْسِ وَالشَّعْرِ

اوحاجی دی ځان ساتی د څرګیلو څخه د سر اود ویښتانو د اتعمیم بعد التخصیص دی، **پوه سه** چې مراد د حلق الراس څخه هغه عرفی څرګیل مراد نه دی، اود ویښتانو د څرګیلو څخه هم متعارف معنا مراد نه ده، بلکه کی مراد از الد ویښتانو ده د بدن د هره ځایه څخه چې وی که په څرګیلو سره وی که په غچې پرې کولو سره وی اوکه په کښلو سره اوکه په موی پاک سره وی اوکه په سوځلو سره وی، کی پخپله د اکار وکی اوکی بل سړی ور وکی، البته کی په ستړګه کی باندې ومات سوی هغه کښلای سی کما ذکره بعض المشائخ، بحر، ودر، عن. قال المصنف.

وَیَجُوْزُ الْاِغْتِسَالُ وَالْاِسْتِظْلَالُ بِالْمَحْمِلِ وَالْخَیْمَةِ وَغَیْرِهِمَا

اورواده حاجی ته غسل کول یعنی نه په استعمال د صابون ونحوه، اودغه رنګه رواده حاجی ته په سایه کی د کجاوی یا د خیمی اویا بل شی لکه سایوان ته کښینستل لکن په شرط د دی چې سر اومخ یې د محمل اوخیمی اوسایوان څخه نه منښلی اوکه رسیدی بیا د اغسی کول مکروه دی. **مسئله** که حاجی پرسر تالی یا غاب وغیره واخستی نه کراهت سته اوسه جزاء اوکه لږ پرسر واخسته بیا جزاء پرسته نشته.

وَشَدُّ الْهِمْیَانِ فِی الْوَسَطِ

اورواده وحاجی ته ټرل د همیانی یا د جیبو والا کمربند پرملا باندی د پاره د سا تلو پیسو کې د هم

همیاني بيا کمبند خوګندولی دی، لکن الضرورات تبيح المحظورات، «وَمَا جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاَكْثِرِ التَّلْبِيَةَ مَتٰى صَلَّيْتَ اَوْ عَلَوْتَ شَرَفًا اَوْ هَبَطْتَ

اوته دپيره وايه تلبيه هروخت چې دی لوړ وکړی، اويا لوړځای ته پورته کيدل اويا کښته کيدل

وَادِيًا اَوْ لَقِيْتَ رُكْبَانًا وَبِالْاَسْحَارِ رَافِعًا صَوْتَكَ

اويا کښته ځای ته شوه کيدلې، اويا نور سپاره په مخه درغلې، اودپيره وايه تلبيه په وخت کې د سحار

بِلَا جُهْدٍ مُضِرٍّ پيه داسې دول چې آوازپه تلبيه سره بلند کوه، اوپه لوړوالی کې د اوازپه تکليف برخان چې تاوان درته کوی مرکوه، اويا ملګرو ته آزارروی، دپه، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فَاِذَا وَصَلْتَ اِلٰى مَكَّةَ يُسْتَحَبُّ اَنْ تَغْتَسِلَ اوهرکله چې ته دمکې مکرمې نومستحب داده چې ته غسل وکړی، ومکی ته يعنی بنارته

پُوهِ سَه: چې داغسل دتعظيم البلدة الشريفة اود نظافت دپاره دی، نوددی سببه حائض اونفساء ته هم مسنون دی،

پُوهِ سَه: چې دخول وبنارته دمکې کرامه لپاره دی اوکه نهارا وی پروانه لری، کرخه هم افضله دخول دوړچې دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتَدْخُلُهَا مِنْ بَابِ الْمُعَلّٰى لِتَكُوْنَ مُسْتَقْبِلًا فِي

اوته داخل سه بنارته دمکې ددروازې څخه دبنارچې باب المعلى يه نُولې چې دمکې مکرمې يه

دُخُوْلِكَ بَابَ الْبَيْتِ الشَّرِيْفِ تَعْظِيْمًا

شرقي طرف کې واقع ده، ددی دپاره چې ترپه وخت کې ددخول دبنارودروازې تردبيت شريف مخامخ

سی چې دروازه د بيت الله شريفې هم مشرقي ده اوداد پاره دَ تعظيم د بيت الله الشريف کيږی

وَيُسْتَحَبُّ اَنْ تَكُوْنَ مُلَبِّيًا فِي دُخُوْلِكَ حَتّٰى تَاْتِيَ بَابَ

السَّلَامِ مستحب داده چې ته دی تلبيه ويونکی ئې په وخت ددخول وبنارته ترهغو وخته چې ورځی باب السلام ته چې دحرم ليوه مشهوره دروازه ده، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فَتَدْخُلُ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ مِنْهُ مُتَوَاضِعًا خَاشِعًا مُلَبِّيًا

نوته داخل سه مسجد حرام ته دباب سلام څخه، په داسې حال کې چې عاجزی دظاهر به درښه وی او

مُلَاحِظًا جَلَالَةَ الْمَكَانِ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُصَلِّيًا عَلَى

خشوع يعنی ښيره دباطن به هم همراه وی، او تلبيه ويونکی به ئې، اوپه خيال کې به دی وی عظمت

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَلَطِّفًا بِالْمَرَاحِمِ دَاعِيًا بِمَا اَحْبَبْتَ

دغه ځای چې مسجد حرام اوبيت الله شريفه ده، اَللّٰهُ اَكْبَر به وائی او لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ به وائی

فَاِنَّهُ مُسْتَجَابٌ عِنْدَ رُؤْيَةِ الْبَيْتِ الْمُكَرَّمِ اودروډ ويونکی به ئې پس

نبی عليه الصلوٰة والسلام باندی، اودعا کوونکی به ئې په هغه دعاء سره چې ددنيا خوښه وی کړدنيا اوکه داخرت وی، ولی چې دعا په نيزد ليدلو دبيت المکرم مستجاب اوقبوله ده اود لطف اونرمی څخه به کار واخلی دازدحام کوونکی سره يعنی دازدحام کوونکی سره دنرمۍ اودخشوع کارمه اخله، **فَائِدَه**: پردغه ځای کې داقرار بود عاء خصوصاً دمور اوپلار دعاء هم دفهم څخه مه باسه، اوهغه کسان چې وتاته يه وصيت ددعاء کړی وی، اوتاهم وعده ددعاء ورسره کړی وی، کې تفصيلی دعاء يه پيره وی اجمالاً دعاء ورته وکړه مثلاً ووايه اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكُلِّ مَنْ اَوْصَانِي بِالدُّعَاءِ،

پوه سه : چې په حدیث کې دعا ځانګړې دا دعاء د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه راغلې ده: اعوذ برب البیت من الدین والفقر ومن ضیق الصدر وعذاب القبر" په مناقبو کې د امام اعظم راغلې دی چې یو سړی چې بیت الله ته تلې وحضرت الامام ته ځ ووویل چې زه پسه سیزده ورځې د بیت الله شریفې کمه دعا وکړم امام اعظم ورته وفرمایلې له، چې ته دغه دعاء وکړه په وخت د لیدلو د بیت الله شریفې، ای الله ته زما دعاوې قبلوه، نوکه دې دغه دعاء خدائ قبوله کړه نو ته به د ابد دپاره مستجاب الدعات وګرځې، بحر وزیلعی. انظر ایها الناظر الی غرارة علم ابی حنیفة الامام الاعظم رحمه الله" قال المصنف:

ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا رَافِعًا يَدَيْكَ كَمَا

وړیسته ترلیدو د بیت الله او دعا کا نو بیا نو مخامخ ورځې سه د حجر اسود پرځوا لاسونه پورته وکړه

فِي الصَّلٰوةِ وَضَعُهَا عَلَى الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ وَقَبِّلْهُ بِلَا صَوْتٍ

لکه په لمانځه یعنې په افتتاح کې او الله اکبر ووایه او وار وار لاسه کښیږده پر حجر اسود باندې او حجر اسود مچ کړه بیله آواز د مچید و په وخت، قال المصنف:

فَمَنْ عَجَزَ عَنْ ذٰلِكَ إِلَّا بِإِيْذَاءٍ تَرَكَهُ وَمَسَّ الْحَجَرَ

او که څوک عاجزه سو د مذکورې دوو ډولو د حجر اسود د مچید و څخه لکه چې اغلب په موسم کې د حج د اجز

بِشَيْءٍ وَقَبِّلْهُ أَوْ أَشَارَ إِلَيْهِ مِنْ بَعِيْدٍ مُكَبِّرًا حَامِدًا مُصَلِّيًا

ستد، نو دې پریږدې هغه قسم چې ول، ولې چې په هغه دوو ډولو مچید و په سبب د ډیر ازدحام

عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلګ ازاره وول، را چې او د خلګو ازاره وول خو حرام دی او د حجر اسود مچول سنت دې، درولیش وائې چې زه ګمان نه کوم چې په موسم کې د حج یا په شپاته ورځ کې

څوک حجر اسود بیله پوره ازاره د خلګو دی څوک مسه کړي، او عوام کالانعام خو یه په داسې وجه مسه کوي، چې یو پر بل سپرېږي، او یو بل سره ګډوي نو به مسه کوي او ورته کار څو یقینًا حرام دی، او عوام په دې فخر کوي چې نن په طواف کې مې په هر شوط کې حجر اسود مسه کړی، فالحذر الحذر،

مصنف وائي، که اوله طریقه د ازاره نه وه ممکنه نو دې په یوشئ لکه پتوبیا لکړه حجر اسود مسه کړي او بیا دې هغه شی مچ کړي او همغسې هم نه وه ممکنه نو ده لرې اشاره دې ورته وکړي په لاسونو سره، په داسې الله اکبر ویونکې به وې، او لا الٰه الا الله ویونکې به وې، او درود ویونکې به وې پر نبي علیه الصلوٰة والسلام باندې، درولیش وائي چې د ډیر ازدحام په وخت کې د ډرغو شیانو د وېلو وقوف او دریده هم وسړي ته نه میسره کیږي کما یدل علیه التجربة، بلکه صرف دې الله اکبر دره واره وېلو فرصت چې سړي پیدا کړي ډیر خوشحالي به وې. والله الموفق،

ثُمَّ طُفْ أَخِذًا عَنْ يَمِيْنِكَ مِمَّا يَلِي الْبَابَ مُضْطَبِعًا

بیا نو طواف شروع کړه چې شروع پر راسته اړخ کوي چې د دروازې ته د کعبې شریفې څرمه وې، او مضطبع

وَهُوَ أَنْ تَجْعَلَ الرِّدَاءَ تَحْتَ الْإِبْطِ الْأَيْمَنِ وَتُلْقِيَ طَرَفَيْهِ

یعنې وی، اضطباع دې ته وائي چې پتو ور ګډوه لاندې ترې راسته بغل او دواړه طرفه یې پرچپه اوږه

عَلَى الْأَيْسَرِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ دَاعِيًا فِيْهَا بِمَا شِئْتَ

واچوي او طواف دې اوه شوطه وکړه په داسې حال کې چې په اوه شوطه کې دعا کوه هغه دعا چې ستا خوښه وې یعنې تعیین د دعاء نسته او طواف

وَطُفْ وَرَاءَ الْحَطِيْمِ کوه د حطیم دباندې، **فَائِدَة**: حطیم مشتق د حطم څخه دی په د قطع دغه ټوټه ده چې شکل د دال لري د بیتې شریفې څخه ده، د جاهلیت په وخت کې قریشو جلا کړیده، ولې دوی هغه روپۍ سره جمع کړې وې په هغو روپو

مکمله کعبه پرقواعدو دابراهیمۍ نه جوړیده نودغه ټوټه یه جلا کړه او ټوله حطیم دکعبی شریفی جزء نه دی بلکه یه قدرد شپږو گزوده، موجود دیوال څخه دکعبی جزء دکعبی دی، یه روایت دمسلم دعائشه رضی الله تعالی عنها څخه،،

پوښتنه: نوپه دی صورت کی حطیم باید مربع وائی لکه کعبه شریف نوپردغه شکل ده ولی دی، درویش وائی چی یه غایة البیان کی وائی چی قبرد هاجرۍ او اسمٰعیل علیهما السلام یه حطیم کی دی آه نوزما خیال دادی چی حطیم ته چی دوونه فراخی ورکړیده، اوپر شکل مذکور جوړ سوی دی په قدیم الزمان کی دیارده مراعات دد غو قبرو لکن په مرور زمانی غه دوه قبره محوه سوه اود حطیم جزء وگرځیدله، واللہ اعلم بالصواب،،

اوپه حدیث شریف کی راغلی دی کدچا ښه وکړه یه حطیم کی وهغه چاته چی پرده ئی ظلم کړی وو غه به خدائ دهغ ظلم پروجه ټوکر ټوکر کړی، بحر، در، عزه **فائده**، داقانون دی چی تجربه ددی قانون شاهد عدل دی چی هره دعا چی سړی یه یه معنا یه پوهیږی پرهغه دعا کی حضور، درږه اوهم رقت درږه اوهم عجز او انکسار پیدا وی نوهغه دعا چی سړی یه یه معنا نه پوهیږی، اوداهم شرعی مسئله ده چی هیڅ الفاظ وئیل بیله فهمه ده معنا ثواب نه لری، بیله الفاظ قرانیه وو مبارکه وو، نوبناءً علی هذا هرحاجی دی په ټولو شوطوکی دطواف دکعبی شریفی اویا په اشواطوکی دسعی بین الصفا والمروة پخپله موږ فی ژبه دعاکوی، ولی چی هرحاجی ته خپل ضروریات اوحاجات چی په دربارکی دخدای جل جلاله یوعریضه وی سپه معلوږدی اوداښه معلومه چی په عربی دعاکی به دحاجی ټوله خصوصی حاجات درږه پیدا اوکړی نگه لهذا مصنف وویل داعیا فیها بما شئت، اود ټولو کتابو دفقهی شریفی دغه مسئله ده،

التفریع بعض مناسک په پښتو اوبعض په فارسی یا اردو، چی بعض ملایان نوجوړکړی دی هغه مسائل دحج اود عمری اود فرائضو، واجباتو، سننواو جنایاتو، وغیرهاچی په دغو شرحولیکلی دی دهغه مونږ دپره شکریه وایو، اودایولوی خدمت بولودخپل قوم اوهم ژبو دپاره، لکن دوی چی وائی: دشوط اول داد عاده، اودشوط ثانی داد عاده، وهکذا داکوم لازم شی نه دی

خوانندہ عوام داگمان کوی چی داشوطونه بیله دغود عاگانو نه دی صحیح نوځکه دوی په طواف کی اوپه سعی کی هغه دمناسکو رسمالی ومختنه نیولی وی، اوطواف یا سعی کوی، اوپه دوران کی دطواف چونکه ددوه ستړگی په مناسک کی دی داحاجی په ډکه ووهی اودبل حاجی پر پښو وروخیژی، حتی گاهی ښځه په ډکه ووهی اود حاجی په ستړگی کی نه وریږی داوښکو معلومیږی، اونه ئی پراعضاء ظاهروو بیاندی دعجزاوانکسار اوخشوع اوخضوع علامی معلومیږی،،

پوښتنه: مطوفان چی دحاجیانو دتعلیم دپاره معلمانو مقرر کړی وی هغه ټولو خوپه عربی ژبه دعاکوی **جواب** هغه ددغود عاگانوپه معناهم پوهیږی، نوکه ته ای حاجی دغسی یه چی هم په عربی الفاظو پوهیږی اوویلای ئی هم سی اوهم یه په معنا پوهیږی نوخو دپراعلی، اوکد صرف الفاظ ویلای سی انوپخپله موږ فی ژبه ټوله حاجات خپل دربّ العزت په دربار کی په ټولوشوطو کی دطواف یا سعی عرضوو وباللہ التوفیق،

وَاِنْ اَرَدْتَّ اَنْ تَسْعٰی بَیْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَقِبَ الطَّوَافِ

اوکه ستا اراده وه چی ترطواف وروسته سعی په مابین کی دصفا اومروه وکړه نوراملی وکړه په دری

فَارْمُلْ فِی الثَّلَاثَةِ الْاَشْوَاطِ الْاَوَّلِ وَهُوَ الْمَشْیُ

اولوشوطوکی چی اول دی، اورمل څه معناده تگ دی په طواف کی چابک، سره دښورولود اوږو

لِسُرْعَةٍ مَعَ هَزِّ الْکَتِفَیْنِ کَالْمُبَارِزِ یَتَبَخْتَرُ بَیْنَ الصَّفَّیْنِ

لکه یوسړی چی جنگ ته دکافرانو ورځی، نودی په ښه فخر ایمانی په مابین کی دوو صفودمسلمانانو

فَاِنْ زَحَمَهُ النَّاسُ وَقَفَ فَاِذَا وَجَدَ فُرْجَةً رَمَلَ لَا بُدَّ لَهٗ

اوکافرانو گرځی، اوکه چیری دخلگو په ازدحام کی راغلی نودی ودریږی، هروخت چی فرجه اولاړپیدا

مِنْهُ فَيَقِفُ حَتّٰى يُقِيمَهُ عَلَى الْوَجْهِ الْمَسْنُونِ بِخِلَافِ

سوه بیادی رمل شروع کړی اوچاره لسته تالره د رمل څخه تاچی نه وکړی طواف پر طریقه مسنونه باندی

اِسْتِلَامِ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ لِأَنَّ لَهُ بَدَلًا وَهُوَ اِسْتِقْبَالُهُ وَ

اوخلاف د مسه کولو د حجر اسود ولی د هغه د استلام د پاره دی نه دریږی، ولی چی مسه د حجر اسود بدل لری چی هغه

تَسْتَلِمُ الْحَجَرَ كُلَّمَا مَرَرْتَ بِهِ

بخامخ ورته دریدل دی اومسه کوه ته حجر اسود هره پلا چی ته تیریږی پرده

یعنی کی د مسحی امکان وو بیله ازاره د خلګو، اوچونکی رمل بدل نه لری نوخوله مخواه به ورته دریږی

درولیش وائی چی نژدی د اختر په ورځو کی به په دیره مشکله به حاجی پروجه مسنونه یعنی د رمل نره

به طواف کوی کوم هم ورته ودریږی چی په ساعتوسا عتوبه حاجی پرچا یک تګ اوبری بنورولو

به قدرت پیدا کوی» وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ: پوه سه: چی دارادی په قید نفل طواف خارج سو، ولی ترهغو ورو ورو ستا خو حاجی اراده د صفا او مروه د سعی نه لری،

مسئله: د رکن یمانی مسه کول بنه کار دی لکن په ظاهر روایت کی سُنت نه دی، اورکن شامی اوعراقی چی د خطیم پرخوادی نه دی مسه کوی» ط» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَخْتِمُ الطَّوَافَ بِهِ وَبِرَكْعَتَيْنِ فِي مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ

اوهاجی دی طواف ختم پرمسه کولو د حجر اسود کوی، اوپه دوه رکعته لمونځ کولو په مقام ابراهیم

السَّلَامُ أَوْحَيْثُ تَيَسَّرَ مِنَ الْمَسْجِدِ ثُمَّ عَادَ فَاسْتَلَمَ

کی یعنی هغه ته نژدی، اویا هرځای د مسجد حرام څخه چی ده ته ممکنه اواسانه وی یعنی که پر مقام ابراهیم

اَلْحَجَرَ وَهٰذَا طَوَافُ الْقُدُومِ وَهُوَ سُنَّةٌ لِلْآفَاقِيِّ

انډهام وو اوپله دوه رکعته لمانځه دی بیرته راسی حجر اسود ته او مسه دی کړی یعنی یالاسونه

ری ورته پورته کړی کله چی د حرام څخه اودی طواف ته طواف قدوم وائی، او د طواف سنت دی هغه چا

لره چی د اطراف و څخه راغلی وی یعنی ممکی سړی ته سنت نه دی **فَائِدَه**: مقام ابراهیم

په قول د طحطاوی دهغی ډبری نوم دی چی ابراهیم علیه السلام به ګاهی ګاهی د هاجرې او د ده

زوی اسمٰعیل علیه السلام وملاقات ته راتی چی ده په امر د ساری چی دده بلله بی بی وه د امور او زوی

په خالی شیله کی د ممکی چی هلته نه انسان وو اونه اوبه وی پرې ایښی وو او بیا په هغه ځای کی خدای

د زمزم څاپیدا کړی اونور خلګ هم دلته اباد سوه نوچی دی پر اوښ سپور راغلی پر دغه ډبری بی پښه

کښیښوولی راتاته سو، اوچی سپرېدی به هم به ټی پر دغه ډبره پښه ایښوولی او سپرېدی به»

نوقدرتی دده مبارک قدمونه په هغه ډبره کی پیدا سوه او اوس هم ستنه، اوبعض فقهاء وائی

چی مقام ابراهیم هغه ډبره ده چی ابراهیمؑ او اسمٰعیل علیهما السلام خدای جل جلاله امر کړه

چی زماد عبادت د پاره هغه ځای ته چی جبرئیل م ور ښوولی وو یوه خونه جوړه کړه، نو دوی

چی په بناء د کعبی مبارکی لاس پوری کړی نو تر هغه وخته پوری چی د دوی لاسونه دیوالته ترسیده

خو ډبری اوختمی به ټی پرایښوولی، اوهرګاه چی دیوالونه لوړ سوه اود دوی لاسونه نه وررسیدل

نوخدائ دی امر کړی چی پردغه ډبره ډبری یا خښتی درسره اخله دا ډبره په قدرت د خدای

پورته کیږی تر خوچی ته هغه ډبری اوختمی پر دیواله د کعبی شریفی ایږدی او بیرته په کرار کرار

راکښته کیږی وهکذا خوچی دیوالونه د کعبی شریفی پوره کیږی نو په دغه ډبره کی پردی تقدیر

هم نښانه د قدمینو د ابراهیمؑ پیدا سوه او اوس هم ستنه،

فَائِدَه: بیت الله شریفه د آدم علیه السلام تر نزول وځکی ته د ښخه ملائکه وو

جوړه کړی وه، قَالَ اللّٰهُ: إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ» الآیه: بیا په طوفان

نوح علیه السلام کی خراب سوه او تر خاورو لاندی سوه، اوبعض وائی چی اسما نوته نقل سوه

خو په هرصورت په نوی بناء سره د بیت الله شریفی خدای پاک ابراهیم او دوی زوی اسمٰعیل

علیهما السلام ماموره کړه هغه چی بیت الله از سرنو تعمیر سوه **فَائِدَه**: د تواریخو

اسلامیه وو په کتابونو کی وائی چی د کعبه شریفی د موجوده بناء چی حجاج بن یوسف کړیده،

۱۵ پنځلسمه بناء ده،

فَائِدَه مقام ابراهیم په قدیمه زمانه کی په کعبه شریفه پوری متصل پروت وو د دروازی وړاسته طرفته: قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى. نوځ وخت چی طائفین ورپریښلو اومصلین اودوی نه سره ځائیدلو نویه مقام ابراهیم د طواف دځای څخه پوانداز گوښه دهندارو په شمالنبو کی کښینو. دوړو لپاره داولو حجو په وخت کی هم مقام ابراهیم ترمطاف دباندی وو. نوچا چی به طواف وکړی نو دمقام ابراهیم سره به ئی دوه رکعته د طواف اداء کړه رفته رفته چی حاجیان ډیریدلو اومطاف تنګیدی نومقام یه په مطاف گډ کړی، حتی چی هم اوس مقام ابراهیم تخمیناً په مابین کی دمطاف دی.

جاهل عوام:

چی دایه اوریدلی دی چی دوه رکعته د طواف د مقام ابراهیم سره اداکیږی، نو په عین مطاف کی پرلمونځو ولاړوی چې طائفین یه ترشا اومخ تیریږی، اوگاهی چې دوی پرسجده پراته وی دطائف فکر وی پرسر ئی پښه ورکښیږدی، اوگاهی خوکسه سره ملگری وی اوترلاسونه سره نیولی وی پرلمونځو گونکو پیره کوی اود طائفانو څخه یه ساتی، دادوی ناپوهی ده، ولی دوه رکعته لمونځ د طواف په ټوله حرم شریف کی روادی، داد عوامو پرموجوده نقشه دغسی لمونځ مکروه دی، بلکه په بحر رائق کی وائی چې په حرم شریف کی صرف دغه لمونځ افضل دی کی په اطاق کی وکړی هم روادی ترهغوچې په ټول طواف دشروع اراده نه لری اوکی ټول طواف ته اراده وه نود اول طواف لمونځ علی الفور لاښه دی، اوکه ټول طواف په نه کاوه چی وطن ته ولاړ یعنی هم دغه دوه رکعته کولای سی ولی چی داواجب علی التراخی دی.

فَائِدَه: دغه اول طواف ته تکه چی طواف قدوم وائی طواف التحیه اوطواف اللقاء او طواف اول العهد یه هم ټولی کذا فی العنایه **فَائِدَه**: وروسته تردوه رکعته د طواف هغه دعاء چی آدم علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام څخه منقول ده پیره نه ښایا اوجامع اوپه زړه پوری دعاده اوهغه داده، اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ تَعْلَمُ سِرِّي وَعَلَانِيَتِي فَاقْبَلْ مَعْذِرَتِي، خدایه ته خبرئ زما په ښه حال اوپه ښکاره حال ته قبول کی زما عذر یعنی چی دگناهونو په باره کی سوال د مغفرت دی، وَتَعْلَمُ حَاجَتِي فَاَعْطِنِي، اوته خبریږه زما په حاجت ټوله زما حاجت راپوره کی

چی خیر د دنیا اواخرت دی، اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْئَلُكَ اِيْمَانًا يُبَاشِرُ قَلْبِي، خدایه زه ستا څخه سوال کوم د داسی ایمان چی گډ وی د زړه سره زما یعنی نوع د نفاق نه وی پکښی، وَيَقِيْنًا صَادِقًا حَتّٰى اَعْلَمَ اَنَّهُ لَا يُصِيْبُنِي اِلَّا مَا كَتَبْتَ عَلَيَّ، اوزه ستا څخه غواړم د رښتیا گوتیقین ستا پر کار وچې هغه نو دادی حتی چی زه پوه سم په دی سره چی ماته نه رسیږی یعنی دمصائبو څخه مگر هغه څه چی تاپه ازلی قلم پرما لیکلی وی، یعنی دهغو څخه د خلاصون لارنسته په هیڅ حیله، وَالرِّضَاءُ بِمَا قَسَمْتَ قَدْ غَفَرْتُ لَكَ، اوخدایه زه د تا څخه رضا غواړم په هغه څه چې تا زما په قسمت کی لیکلی وی، په حدیث شریف کی راغلی دی چی خدای پاک آدم علیه السلام ته وحی راواستوله: ما و بخښلی عمومی بخښه می کړیده وتاته، اوهیڅ څوك ستا د اولادی څخه په ماته درخواست ونه کړی په مثل ستا د درخواست مگرنه زه به بخښم گنهونه ده هغه، او به دستی ورکوم هغه شی چی د دستی چاروخښتی وی، اوداچی دنیا به وده ته داسی کړم چې د دی پوزه به سپیره وی یعنی، مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ، چی دده به گمان نه وی، که څه هم دده اراده وهغه دنیا ئی مشبی ته نه وی، عز. در. قَالَ الْمُصَنِّفُ

ثُمَّ تَخْرُجُ اِلَى الصَّفَا فَتَقْعُدُ وَتَقُوْمُ عَلَيْهَا حَتّٰى تَرَى الْبَيْتَ

بیا به ووزی دحرم شریف څخه د صفا وغره ته یعنی پرباب الصفا باندی اوورپوره ته به سی اوده

فَتَسْتَقْبِلُهُ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا دَاعِيًا وَتَرْفَعُ

به د ډیږی پرصفا ترڅوچې ته وینی بیت الله نو به محامخ ودریږی وهغی ته په داسی حال کی چې الله اکبر به وائی اولا اله الا الله به وائی او تلبیه به وائی

يَدَيْكَ مَبْسُوْطَتَيْنِ

اودرود به وائی اودعا به کوی یعنی هرڅه چی دی خوښه وی، اولاسونه به هم دواړه پوره ته کوی سره خلاص، **پوه سه** چی ما په بار بار وئیلی دی چی دُعاء پخپل موږ نی ژبه کوله پیرحضور دزړه سره اولی خوبیا هم زیلمئ په شرح کی دلکنر د اجامع عربی دعا سره اوړی ده: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي

وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَلَا نَعْبُدُ
إِلَّا إِيَّاهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» درې واړه، درویش وائي چې دغه کلمات
که څه پیري ښې کلمات دي، لکن عبارت د مصنف ډېر جامع دی ولې چې مصنف اَللهُ اَکبَر وایه
اوده تلبیه ویل اود درود ویل، اوبیا د حاجت خپل غوښتنه هم ذریاته کړیده، نوکه د دغو
کلماتو سره د مصنف د عبارت هم مراعات وسي ډېره ښه ښکلی وی لکن دا زد حام په وخت کی دومره
اوږدی ولاړی ته اود عا وړته به خلګ سړی نه پریږدی، کما یدل علیه التجربة فی هذا الزمان

ثُمَّ يَهْبِطُ نَحْوَ الْمَرْوَةِ عَلَى هِيْنَةٍ فَإِذَا وَصَلَ بَطْنَ الْوَادِي

بیا له صفا څخه چې د دغه غره څخه کښته سي وطرفته د مروه دغره، په سکون او اطمنان

سَعَى بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ سَعْيًا حَثِيثًا فَإِذَا تَجَاوَزَ

سره نوچې دی وړ سیرۍ نښ دهغه شیلو ته بیادی ځغلی په مابین کی د هغود و میلا نوچې په

بَطْنَ الْوَادِي مَشَى عَلَى هِيْنَةٍ

رنګ ښه غونډه دی سعیا یعنی ټګ چابک
معتاد ټګ په سکون او اطمنان سره کوی، درویش وائي چې په اولو کلو کی چې مونږ حج ته تلو رشیا
په دغه ځای کی د دغود و میلانو ترمابین شیله وه چې په هغی کی به شګی وی او ډېره کښته
وه، او اوس خو نه شیله سته او نه شګی او نه جوړ والی صرف دغه دوه میله پرد واړو طرفونو په
ښه رنګ ښه هلی دی چې حاجیان هلته چابک چابک ځی ولبس، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

حَتَّى يَأْتِيَ الْمَرْوَةَ فَيَصْعَدُ عَلَيْهَا وَيَفْعَلُ كَمَا فَعَلَ عَلَى

حتی چې وړ ځی د مروة غره ته نو پر هغه دی وړ پورته سی او هوری دی هم هغه کارونه وکړی

الصَّفَا يَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا

لکه پر صفا چې کړی وه مخامخ د بیت الله شریف ته دی ودریږی، الله اکبر دی ووائی

لا إله إلا الله دی ووائی تلبیه دی ووائی درود دووائی دعا دی کوی لاسونه دی خلاص
نیولی وی وطرف ته ده اسمان اود انو بوشوط سو

فَائِدَه: مصنف چې
دغه عبارت اول ووایه و یَفْعَلُ آه نو دغه ورو سته عبارت ته یستقبل آه ضرورت نه دو
خو ټوله په صفاء کی تیر سوه اَللّٰهُمَّ الآن یقال اوړه ها لمزید التوضیح وللمبالغة فی بیان
افعال الحج.

دَقِيقَه: مصنف د صفا په وقوف کی داسی وویلیله حتی تری البیت آه اود مروه په وقوف
کی هغه عبارت نه راوړی صرف دایه وویلیله: یستقبل البیت ولې چې د مروه
څخه بیت الله شریف نه معلومیږی، چې په مابین کی بناوی دی نو صرف وجهت ته دکعبی
دی مخامخ سې کی څه هم نه وینی،

مَسْئَلَه په دی مسئلی کی چې د صفا څخه تر مروه پورې
یوشوط دی دا زمونږ د ټولو حنیفیانو مذهب دی مګر فقیه ابوجعفر الطحاوی وائي چې د مروه
څخه چې بیرته صفا ته راسی نو یوشوط دی، نو ۱۴ خوا رلس واړه سعی غواړی د فقیه مذکور
دلیل اود هغه جواب په بحر، ایثق او عنایه کی مطالعه کړی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ يَعُودُ قَاصِدًا الصَّفَا فَإِذَا وَصَلَ إِلَى الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ

او بیادی ږاوګرځی د مروه څخه په قصد د صفا اوهر وخت چې وړ سیرۍ میلینو اخضرینو نودی

سَعَى ثُمَّ مَشَى عَلَى هِيْنَةٍ حَتَّى يَأْتِيَ الصَّفَا وَيَفْعَلُ

بیا دی چابک سې، چې ترهغو تیر سی، بیادی نود عادی ټګ کوی، حتی چې صفا ته وړ سیدی

كَمَا فَعَلَ أَوَّلًا وَهٰذَا شَوْطٌ ثَانٍ فَيَطُوفُ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ

بیادی نو پر صفا هغه کارونه وکړی چې اول واړیه کړی وه، اود ادوهم شوط سو، یعنی خلافاً
لابی جعفر الطحاوی ولې چې هغه واړ چې صفا ته چې بیرته راغلی نو یو شوط پوره سو کما مر آنفا

يَبْدَأُ بِالصَّفَا وَيَخْتِمُ بِالْمَرْوَةِ وَيَسْعَى فِي بَطْنِ الْوَادِي

نو اوه شوطه ته پردغه ډول پوره کړه،

فِي كُلِّ شَوْطٍ مِنْهَا حتی چی شروع د طواف د صفا څخه کیږی او ختم یې پر مروه کیږی، او چا بک تگ به کوی پر هغه ځای د شیلی په هر شوط کی، په بحر رانق کی وائی چی چابک والی په شیلی کی یې هر شوط کی سنت خو دی لکن په ترک سره یې شی لازمیږی او قال المصنف:

ثُمَّ يُقِيمُ بِمَكَّةَ مُحْرِمًا وَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ كُلَّمَا بَدَا لَهُ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنَ الصَّلٰوةِ نَفْلًا لِلْآفَاقِيِّ

بیا دی نو اوسیږی چی حاجی وی په مکه مکرمه کی احرام بنده او طواف د بیت الله دی کوی هر وخت چی وده خوښه وی او طواف نفلی افضل دی تر نفلی لمانځه اطراف سړی لره، ولی چی نفلی لمونځ خو دی په وطن کی هم کولای سی چی نو په غواړی هغومره قدر او طواف خو داځو محدود دی شپی او ورځی دی، قال المصنف:

فَإِذَا صَلَّى الْفَجْرَ بِمَكَّةَ تَأَهَّبَ لِلْخُرُوجِ إِلَى مِنًى فَيَخْرُجُ مِنْهَا بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَيَسْتَحِبُّ أَنْ يُصَلِّيَ الظُّهْرَ بِمِنًى وَلَا يَتْرُكُ التَّلْبِيَةَ فِي أَحْوَالِهِ كُلِّهَا إِلَّا فِي الطَّوَافِ

نو چا چی ده لمونځ وکړی د سحار د اتم ورځی د لوی اختر د مباشتی نوځان دی اراسته کړی او توت چی چابک والی په شیلی کی یې هر شوط کی سنت خو دی لکن په ترک سره یې شی یعنی دم یا صدقه لازمیږی او قال المصنف:

ثُمَّ يُقِيمُ بِمَكَّةَ مُحْرِمًا وَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ كُلَّمَا بَدَا لَهُ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنَ الصَّلٰوةِ نَفْلًا لِلْآفَاقِيِّ

بیا دی نو اوسیږی چی حاجی وی په مکه مکرمه کی احرام بنده او طواف د بیت الله دی کوی هر وخت چی وده خوښه وی او طواف نفلی افضل دی تر نفلی لمانځه اطراف سړی لره، ولی چی نفلی لمونځ خو دی په وطن کی هم کولای سی چی نو په غواړی هغومره قدر او طواف خو داځو محدود دی شپی او ورځی دی، قال المصنف:

فَإِذَا صَلَّى الْفَجْرَ بِمَكَّةَ تَأَهَّبَ لِلْخُرُوجِ إِلَى مِنًى فَيَخْرُجُ مِنْهَا بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَيَسْتَحِبُّ أَنْ يُصَلِّيَ الظُّهْرَ بِمِنًى وَلَا يَتْرُكُ التَّلْبِيَةَ فِي أَحْوَالِهِ كُلِّهَا إِلَّا فِي الطَّوَافِ

نو چا چی ده لمونځ وکړی د سحار د اتم ورځی د لوی اختر د مباشتی نوځان دی اراسته کړی او توت دمنی نوی او وړی دمکی څخه لپاره راختلو د لمر او مستحبه داده چی دماپښین لمونځ دی په منی کی وکړی. او تلبیه دی نه پریږدی په هیڅ وخت د وختونو کی مګر نه په طواف کی یوه سره چی منی په پخوا زمانه کی دیوی قریې نوم وو چی دری کونځی په کښی وی، او په اوسنی زمانه کی ښه ښایسته ښار دی او منی په حرم کی داخله ده، بحر در،

قَالَ الْمُصَنِّفُ وَيُمْكِثُ بِمِنًى إِلَى أَنْ يُصَلِّيَ الْفَجْرَ بِغَلَسٍ وَيَنْزِلُ بِقُرْبِ مَسْجِدِ الْخَيْفِ

او هاجی دی درنګ کوی په منی کی تر هغو چی د نهم د ورځی د سحار لمونځ دی په تاریکه کی وکړی او دده نزول باید قریب د مسجد خیف نه وی چی هغه په اوسنی زمانه کی د پیریو ښایسته مسجد دی، او په اوپه پخوا زمانه کی زما پیاد دی صرف د قبلی پرخوا څو برنډی وی او په نور میدان کی د مسجد شکی اواری وی، ولس، قال المصنف:

ثُمَّ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ يَذْهَبُ إِلَى عَرَفَاتٍ فَيُقِيمُ بِهَا

نو د روستنه تر راختو د لمر یعنی د نهمی ورځی ولاړ سی د عرفات پرخوا چی هلته وړ سیدی نو دی اوړی (هلته) اوسیږی. عرفات نه عرفه هم وائی چی نو هر دی د پیر فراخه مبارک میدان چی په اوسنی زمانه کی چی تعداد د حاجیانو ګاهی و شل (۲۰) لکه نه ور سیږی د اټولو حاجیان فی از د حاضر پر هغه مبارک میدان ځائیږی، قال المصنف:

فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ يَأْتِي مَسْجِدَ نَمِرَةَ فَائِدَه: چونکه په اوسنی زمانه کی حاجیان

نو چی لمر زوال وکړی نو دی حاجی وړ سی د مسجد نمره نه چی پر عرفات دیو مسجد نوم دی، په لکو دی او په مسجد نمره کی یې امکان د ځائیدو نه نسته، نو که څوک په خیمو کی لمونځ وکړی کوم حرج نه وی ان شاء الله تعالی:

فَيُصَلِّي مَعَ الْإِمَامِ الْأَعْظَمِ أَوْ نَائِبِهِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ

نو چی مسجد نمری نه وړ ځلی نو دی لمونځ دی وکړی سره د لوی امامه چی د بیت الله شریف امام دی یا د نائب

بَعْدَ مَا يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا وَيُصَلِّي الْفَرْضَيْنِ

سره د هغه حتی چی شروع د طواف د صفا څخه کیږی او ختم یې پر مروه کیږی، او چابک تگ به کوی

دماپښین لمونځ اودمازدیگر لمونځ یعنی په وخت کی دماپښین پسله دی چی امام دوی خطبی ووائی چی په مابین کی جلسه هم وکړی، یعنی لکه دجمعی د لمانځه په یوه اذان دوه اقامته سره،

فائده په بحرالرائق کی وائی چی مصنف چی دمازدیگر لمونځ ذکر کړی پس دماپښین دلمانځه څخه اشاره یه ودی وکړه چی ۲ دوه رکعته سنت چی دماپښین تر لمانځه وروسته دی هغه دی په مابین کی نه کوی اوکولی مکروه دی، نونفل خوپه طریق اولی مکروه دی کماسباتی،

سبحانه فائده چونکه امام دحرم شریف په مذهب وهابی دی اودوی په نزد تراویح هم مسافرگنړلی کیږی، نوځکه دی دماپښین دوه رکعته سفریانه کوی اودمازدیگر لمونځ هم دوه رکعته اوزموږ د حنفیانو په نیز سړی هلته مسافر بلل کیږی چی دوه ورځو ۳ ورځو اوشپږ پاره کوږه وړی، نوپه دی سبب زموږ اقتداء په دغه پسی نده صحیح، ولی چی دامام لمونځ زموږ په عقیده فاسد دی، ولی چی موږ دی مقیم بولو اودی دوه رکعته کوی، **پوښتنه** بعض خلګ بلکه بعض ملایان وائی چی د سعودی حکومت دپاره دمراعات دنورو مذهبو امام مکه په فتح دعرفات دسحار طائف ته بیړی چی دمسافت دسفر عند الکل ده، اودهغی خواځخه په عرفاتو کی اولی چی دی مسافر وگڼی اولمونځ په دوه رکعته بالاتفاق وگڼی، نوبیا ولی زموږ لمونځ نه دی پسی روا؟ **جواب** وهابیان خپل مذهب بولی اوپه مراعات کی دمذهبهم درجدی دی نوګمان نه کوم چی دوی به داسی کوی، اوچا دحکومت دخواځخه هم داسی گواهی بالمشافهه نه ده ورکړی، نوبنه به داوی چی زموږ حاجیان دی دماپښین لمونځ سره د سنتو په جماعت دماپښین پخپل وخت کی اداء کړی اوبیادی دمازدیگر لمونځ دمازدیگر په وخت کی وکړی، قال المصنف

ولا یجمع بینهما الا بشرطین الاحرام والامام الاعظم

اوجمع نده روا په مابین کی د دغو دوو لمونځو مگر په دوه شرطه سره یوبه سړی محرم وی او

فلا یفصل بین الصلوتین بل به نفی لمونځ په امام اعظم پسی وی نوبی احرامه سړی جمع دلمونځونه سی کولای

اوکه په امام اعظم پسی نه وو ولاړ کړځه لمونځ په جماعت کوی مثلاً په خیموکی هغه نه هم جمع نه ده روا، اوجلا والی دی نه کوی په مابین کی د دغو دوو لمونځو په نفلو سره،

پوه سه: چی مراد د نفلو څخه زائد تر فرضو دی چی معنا عامه د نفلوده نو راتبه سنت بعدی دماپښین دی هم نه کوی کمامر، در، قال المصنف

وان لم یدرك الامام الاعظم صلی کل واحدة فی وقتها المعتاد

اوکه سړی ونه رسیدی وامام اعظم ته یاسهوا یا قصدا، نودی هغه سړی اداء کړی هرپیوه دغو دوو لمونځو څخه په معتاد وخت دماپښین اومازدیگر کی یعنی کی یواځی کاوه اوکی په جماعت کاوه، قال المصنف

فاذا صلی مع الامام یتوجه الی الموقف وعرفات

نوچی سړی لمونځ وکړی سره دامام نومخ دی کی دموقف خواته، اوعرفات ټوله ځای د درید وړی

کلها موقف الا بطن عرنة مگر نه دس دعرنه شیلی، **پوه سه** ده حتی چی هم دااوس عرنه وجانب غربی ته دمسجد نمره ورضه سوی دی، **فائده**: بالجمله دابن حبیب څخه روایت کوی چی عرفات ټوله دحل محله ده مگر عرنه په حرم کی داخله ده والله اعلم قال

المصنف **ویغتسل بعد الزوال فی عرفات للوقوف**

اوغسل دی وکړی ودوسته تر زوال په عرفات کی دپاره دوقوف دعرفات

ویقف بقرب جبل الرحمة مستقبلا مکبرا مهللا ملبیا

اوودی دریږی قریب وجبل رحمت ته مخامخ وقبلی ته په داسی حال کی چی الله اکبر به وائی او لا اله الا الله به وائی او تلبیه به وائی او دعا به کوی دواړه لاسونه برابر اوږه ده نیولی وی،

داعیا مادا یدیه

پوه سه: چې جبل رحمت دیو کشنی غره نومږدی په مابین کی د عرفات، قال المصنف:

كَالْمُسْتَطْعِمِ وَيَجْتَهِدُ فِي الدُّعَاءِ لِنَفْسِهِ وَوَالِدَيْهِ وَ

نکه بیسړی چې د ډاډ ځړ د وډی غواړی اوکوشش دی کوی په دعا کی د پاره دځان یعنی کا اخروی شی غواړی

إِخْوَانِهِ وَيَجْتَهِدُ عَلَى أَنْ يَخْرُجَ مِنْ عَيْنَيْهِ قَطَرَاتٌ

اوکه دنیوی شی غواړی، اود غه رنګه دی دعا کوی دهم، اوپلار د پاره یعنی خصوصاً چې د وی مړه وی اود پاره

مِنَ الدُّمُوعِ فَإِنَّهُ دَلِيلُ الْقَبُولِ د وروڼړو د ی هم دعا کوی، یعنی

وی چې ښه مسلمانان دی، د رویش وائی چې علاوه پرهم، اوپلار، ټولو اقربا وڼه اجمالاً یا

تفصیلاً دعا کوی اود غه رنګه هغه کسانو ته چې په وخت کی د رخصت وحاجی ته به وصیت کړی

وی چې ماته پرعرفات دعا وکړه، نوکه تفصیلاً نه وی ممکنه اجمالاً دعا خودی ورته وکړی، اوحاجی

دی کوشش کوی چې یو څاڅکی د اوښکو تر دوار و ستر گو ته ی کړی، ولی دغه اوښکی دلیل د

قبلیدو د دعا دی، قال المصنف:

وَيَلِحُّ فِي الدُّعَاءِ مَعَ قُوَّةِ رَجَاءِ الْإِجَابَةِ وَلَا يُقَصِّرُ فِي

اود ډیرې تهکلیږی وخدائی ته په دعا کی یعنی په بار بار دی درخواست ورته کوی، سره د کلکی عقیدی

هٰذَا الْيَوْمِ إِذْ لَا يُمْكِنُهُ تَدَارُكُهُ سِيَّمَا إِذَا كَانَ مِنَ الْآفَاقِ

د قبلیدو، اوحاجی به په دغه ورځ کی کوتاهی نه کوی په دعا ګانو کی، ولی چې د دی ورځی پیدا کول

بیا ممکن نه دی، اوخصوصاً هغه کسان چې د اطرافو څخه د عالم راغلی وی، ولی ډیر افاقیان په خپل

عمر کی یوحج نصیب ډیدی سببه چې مرګ نه دی معلوم اودوهم واړه حج قدرت هم نه دی معلوم،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه كتبه احقر فضل الحق حقاني بقلمه ٢٥-٧-١٤٢٣هـ

وَالْوُقُوفُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفْضَلُ وَالْقَائِمُ عَلَى الْأَرْضِ أَفْضَلُ

اود ریدل په دغه ځای کی پراوښی وغیره سپور افضل دی، لان رسول الله صلى

مِنَ الْقَاعِدِ الله عليه وسلم كان راكبا على الناقة في هذا الوقت، اوبیا چې ولاړ وی

پر هغه افضل دی تر ناست سړی **پوه سه**: چې په اوسنی وخت کی وقوف علی الراحله

کا لعدم دی کما يدل عليه التجربة که څه هم بعض اعرابو دی ورځی د پاره ډیر بناشته کړی اوښان

درولی وی، د پاره داجرت لکن په سبب د ډیرو والی داجرت ډیر کسان نه پرسیږی اوکه پر

سپاره هم سی نود سیل اود میلی د پاره وی نه د پاره د دعا اوعجز او انکسار، قال المصنف:

فَإِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ عَلَى هَيْئَتِهِمْ

نوچې لمر ولویدی نو دی راتاسی امام اوخلګ دی ورسره وی په سکون او اطمنان سره،

فَائِدَه: په اوسنی وخت کی حاجیان په لکو پرعرفات جمع وی، نوهغوته دامام حال

معلومیږی نوصرف په علامه د لمر لویدو خلګ پوهیږی چې د افاضی وخت دی، اود اهم

پیاد لره چې که حاجی ترغروب د لمر هلته ولاړ وی بیا به ترمزدلفی پورې په مشکله موټر پیدا کوی

ولی چې د معلمانو بسان د مازدیګر د لمانځه په وخت کی بیا ډک سی بیا نه په مابین کی اونه پرسړکای

پیدا کیږی، اود کرائی ټیکسیان ډیر اجرت غواړی نو سړی مجبوره دی چې پرپښو به مزدلفی ته ځی

اود ډیرې میله لاره ده د بنځو او سپین ږیرو او د ناروغو کسانو د پاره لوی حرج دی، اوبل دا

چې د عرفات د ډګر څخه بیخی ډیر سړکان وتلی دی نو نا ولده حاجی نه پوهیږی چې کوم سړک

د مزدلفی دی سرګردان ګرځی، **نواسانه کارو ادی** چې حاجی که په امام اعظم پسی د واړه

لمونځونه یوځای کړی وه خو ډیر اعلی اوکی د ماپښین لمونځ په خیمه کی وکړی نو د هغه لمانځه ورو سته

دی په وقوف اود عا ګانو شروع وکړی، اوبیا ورو سته دی د مازدیګر لمونځ دی په اول وخت

کی وکړی، اوبیا دی دعاوی، تکبیرونه، کلمه طیبه، تلبیه، ډیره ډیره وائی، اوچې لمر لانبه لوړ

ولاړ وی د معلمانو په موټرانو کی چې د دوی د خیمو مخ ته ولاړ وی اوحاجیان په کښی

سپیرہ ی دی دپے ځای په کښی ونښی، اوهلته په موټر کی دی هم خپلو دعا ګانو نه ادا مه وړکړی
یوخو د مزدلفی دلاری د پښو د تګه او سرګردانی څخه خلاص شو، اوبل

دوی فائِدی افضلیت دوقوف علی الدابة هم لاس ته ورغلی ولی چی موټران
په عصر حاضر کی لکه اوښان د عصر قدیم دی، **سوال**: په دی موټرانو کی چی سړی دونه
وختی سپورہی نو خوبی د عرفات څخه قبل غروب الشمس وباسی، اوخروج قبل الغروب خو منکروه
دی **جواب**: موټران په ډغه وړځ پرعرفات په نږدی، اوډ ټلولاړ ئی بیخی مشکل
وی حتی چی دومره وختی هم سپورہی نو که دما خستن د وخت نږدی خلیدو پوری د عرفاته وونږی
پرته به ښه ولاړ وی

فائِدَه، دا یوله ماجرا د پښو خواو د سپین ږیرو اونا جوړو اونا ولده خلګو د پاره د درویشو
ذکر کړه، ورنه چی سړی کولاړ کولاړ پر پښو روان وی اود غروب سره د لمر ځان د عرفاته وباسی یا خپله
ورسته اوبیا چوتکه پرقوی خلګ د مزدلفی پرلاړ روان دی هم په هغو پسی روان وی که څه هم
ستړی سی خوثواب به یې پوره وی، **قال المصنف**،

وَاِذَا وَجَدَ فُرْجَةً يَسْرِعُ مِنْ غَيْرِ اَنْ يُؤْذِيَ اَحَدًا وَ

یا نو چی حاجی ګرسپورہ وی اوکه پیاده پیدا کړی خلاصه نودی چابک چابک په کښی روان سی بیله

يَحْتَرِزُ عَمَّا يَفْعَلُهُ الْجَهَلَةُ مِنَ الْاِشْتِدَادِ فِی السَّيْرِ

دی چی اړ خلګ دی په ډکو وهلو سره وبوځاته، اوحاجی دی پرهیز کوی د هغه کار نه څخه چی جاهلان

وَالْاِزْدِحَامِ وَالْاِيْذَاءِ فَاِنَّهُ حَرَامٌ

ډ کوی چی د پرسخت ځنګلی اود خلګو سره ازدحام کوی اوخلګ په پرې وهلو سره اوپه ډکو وهلو سره ازاروی ولی ورته فعل خو حرام دی، **قال المصنف**،

حَتّٰى يَاْتِيَ مُزْدَلِفَةَ فَيَنْزِلَ بِقُرْبِ جَبَلِ قُزَحَ وَيَرْتَفِعَ

او عرفات دی اړ روان وی خو چی د اخی مزدلفی ته نودی واړه وی نږدی وغوره ده چی

عَنْ بَطْنِ الْوَادِي تَوَسُّعَةً لِلْمَارِّيْنَ

چی دقنج په نامه سیاه دیری اوپورته دی واوړی ترلنډ شیلی تاچی فراخی د اسی پرځلګو چی په شیله کی تیریږی،

پوه سه: چی د عرفات پای اود مزدلفی سړی اونا ولده سړی په دی نه پوهیږی چی عرفات
څیری خلاص سو اومزدلفه ته کومه ځای څخه شروع کیږی، لکن د سعودی حکومت یو چې سړ
په کار کړی دی چی غټی لوڅی یې نوشته کړی پرلکړو لو په ځړه ولی دی مثلاً داسی پرنوشته
وی، منتهی العرفه، و مبدء المزدلفه، وهکذا بین المزدلفه ومنی، وبین الحرم ومنی، نو
حاجی د ډغو لوڅو څخه نږدی کړه کوی، **قال المصنف**،

وَيُصَلِّيْ بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِاَذَانٍ وَاحِدٍ وَاِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ

او اداء دی کی په مزدلفه کی د ما بنام اوما خوستن لمونځ په یوه اذان سره اوپه یوه اقامت سره
یعنی د اول لما نځ د پاره **پوه سه**: چی د اجمع تاخیر بولی اود ما بنام په لما نځه کی به د
قضا ئی نیت نه کوی ولی چی په ډغه شپه کی د ما بنام اود ماخستن وخت یو دی، اوکی په ما بین کی
دوو
د غو لمونځو تطوع وکړه، یعنی که څه هم سنت مؤکده د ما بنام وی پر صحیح روایت، اویا په یو بل
کار مشغول سو نو د دوهم لما نځه د پاره دی بل اقامت وکړی، **بحر**، **قال المصنف**،

وَلَمْ تَجُزِ الْمَغْرِبُ فِیْ طَرِيْقِ الْمُزْدَلِفَةِ وَعَلَيْهِ اِعَادَتُهَا مَا لَمْ

يَطْلُعِ الْفَجْرُ

اونه دی روا د ما بنام لمونځ په لار کی د مزدلفی یعنی د ځه تر سید و د مزدلفی
نه نود ما بنام لمونځ چی نه دی روا د ماخستن په طریق اولی نه دی روا
کی څه هم وخت داخلی وی، ولی چی اول د ډغه وخت د ما بنام دی، بحر د، اوپرده به اعاده لازمه
ده چی سپیدی نږدی ځړا چاوولی،

وَلَيْسَ الْمَبِيْتُ بِالْمُزْدَلِفَةِ

اوسنت دی شپه تیروی په مزدلفه کی **فائِدَه** حاجی باید پوه سی چی په ډغه شپه کی شرافت

د زمانی چی د لوی اختر شپه ده دواړو سره جمع دی نو باید ټوله شپه په عبادت تیره کړی کذا فی البحر. قال المصنف.

فَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْفَجْرَ بِغَلَسٍ

نو څرنګه چی سپیدی ر اوچاوده ی، نو امام دی خلګوته دی سحار لمونځ وکړی په تاریکی کی اویا

ثُمَّ يَقِفُ وَالنَّاسُ مَعَهُ

دی وخت دی او خلګ به وروسره وی، درویشی وائی چی دا دیره زهانه د څخه داعنسی موضوع ده چی حاجیانو به ټولو په امام اعظم ټینګی لمونځ وکړی او بیا به امام سره د پاره د دعاء وویدل اما په اوسنی زمانه کی چی حاجیان په لکودی، نه وخت د حاجیانوته امام د لمانځه ځای ورمعلوم وی، اونه د ټولو د سره جماعت کول او وقوف ممکن دی، نو خلګ او حاجیان په موجوده زمانه کی په سوو ځایونه یو ملا پیدا کړی، او هغه اذان وکړی او بیا په سوو ځایونه بلکه یو بل ته نژدی ځایونو کی جماعتونه د سحار د لمانځه کوی بلکه بعض حاجیان یواځی لمونځ وکړی، او وروسته پرحاجی په انفرادی یا اجتماعی توګه دعا ګانی کوی، کتابونه د فقهی شرفی ټوله مبنی پر قدیم اصطلاح دی چی حاجیان په سوو وه حتی چی د درویش په اولو اولو موجود غسی امکانات موجود وه او په اوسنی کلو چی درویش هیڅ ته ولاړی هغه امکانات ټوله د مابینه تللی وه، قال

وَالْمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ مُحَسِّرٍ

او مزدلفه ټوله ځای د دریدو دی مګرنه دښ دوادی محسر، درویش وائی چی ما په اول کی هغه شیله لیدلی وه، چی د جبل قزح څخه چی به سړی ر اکښته سوه ستی وادی محسر وه چی میده ر یګ په کښی وو

پوه سه

چی صاحب البحر وائی چی وادی محسر د فاصل دی د منی او مزدلفی ترمابین ده او په یوه کی د منی او مزدلفی حساب نه ده. او ۴۳۰ ګز ده. وجه التسمیه چی اصحاب الفیل چی پر مکه شریفه حمله د یمن څخه کوله د هغه تر ولادت د علیه الصلوٰة والسلام هغه فیلان هم په دغه وادی محسر کی د مار ولویده او پر مخ تګ یه نشوای کولای چی قرآنی قصه ده،

وَيَقِفُ مُجْتَهِدًا فِي دُعَائِهِ وَيَدْعُو اللَّهَ أَنْ يُتِمَّ مُرَادَهُ

او ودی دریږی یعنی امام هرچا چی کوشش کولی دی وی په دعا کی، او د خدای جل جلاله څخه دی

وَسُؤَالَهُ فِي هَذَا الْمَوْقِفِ كَمَا أَتَمَّهَا لِسَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى

درخواست وکړی چی زما مراد او سوال ته پوره کړه په دی موقف کی د مزدلفی لکه تا چی پوره کړی

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مراد د علیه الصلوٰة والسلام څخه یعنی په دی موقف کی

پوه سه

چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم خدای ته خواست وکی چی زما د امت څوک چی پر موقف د عرفات وتاته خواستونه کوی هغه ټول وربښه کړی کنه هم مظالم د بندګانو وبخښی، خدای جل جلاله د علیه الصلوٰة والسلام دا دعا ومنله مګر نه په حقوقو کی د بندګانو، نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم سبا د دعا په موقف کی د مزدلفی بیا مکرره کړه، په دیر عجز او انکسار سره، تو ارحم الراحمین وعده وربښه وکړه چی دا خواست دی هم قبول دی

ضمیمه

په صحیح حدیث کی ر اغلی دی چی علیه الصلوٰة والسلام په عین حال کی د موقف وخندل چا پوښتنه وکړه چی په دی موقف کی د څرنګا سبب د خندا څخه وو علیه الصلوٰة والسلام په جواب کی وفرمایل چی زما د غه خواست هم خدای پاک ومانه، ابلیس علیه اللعنة چی په شیله کی ناست وو پر سر یه خاوری باد کړی د پیره غمه یخه ما پر هغه وخندل. **فائده** د حقوق العباد بخښه دا پوله کیږی چی په قرآن د اخرت به خدای د مظلوم بنده ته د خپلی خوا عوض ورکوی او ظالم به په بخښنی کما تقرر فی موضعه. قال المصنف

فَإِذَا أَسْفَرَ جِدًّا أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ

نو بیا چی سبا ر نړا سی چی تخمیناً د دوو رکعتو لمانځه ترلر ختو پورې پاته وی کذا فی المحیط

نوراکښته دی سی امام اوخلګ د مخه ټر اختوډلنر، قال المصنف

فَيَأْتِي إِلَى مِنًى وَيَنْزِلُ بِهَا ثُمَّ يَأْتِي جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ

نودی ولاړسی مینۍ ته اوهلته دی ورته واوړي، وروسته دی ورسی حاجی هغه څلی ته چی جمرة

فَيَرْمِيهَا مِنَ الْوَادِي فَيَرْمِيهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ مِثْلِ

العقبه یوولي چی دمکی شریفی دخوا اول څلی دی، اودمنی دخوا اخیر څلی دئ، نوهغه دی وولی دشپلی

حَصَى الْخَذْفِ

دخواڅخه یعنی دکښتی خواڅخه اووی ولی په اوڅو ډبرو په مثل د

دخوا ډبرو دخزف، پوه سه چی خزف ویشتل دی دخرما مندکی

اویادکشنی ډبرې په مابین کی دد وود تسبیح دګوتو چی پرېوه یه کښیږدی پرمابین دګوتی اوپه

هغه بله ګوته یه ولی، اوبعض طالبان چی دخزف ترجمه کشنیا نوتر دخرما په مندکه کوی هغه

درواغ دی، مقصود دمصنف دادی چی په عقبه ډبره دی نه ولی چی داخلاف السنت دی

فَائِدَه: دغه کیفیت دویشتلو چی ډیرو کتابونو فقه شریفی بیان کړی دی چی ډبره دی

پروسط دسبابی کښیږدی اوبیا په ګوته دی ولي، پرهغه کیفیت و ویشتل په اوسنی زمانه

کی حاجیان چی په لکودی امکان نه لری، ولی چی ډیر حاجیان وجمره ته یه رسیدګی نسی کیدلای،

نواوس هر ډول ویشتل چی ممکن وه هغه ډول دی ولي،

فَائِدَه: دشپلی دخواویشته زهاپیاد دی چی حاجیان به لږوه نوپه اندک

اندحام سره یه ځان ورسولای سواوویشتل دشپلی دخواکولای سوای، اوس چی حاجیان

په لکو سول ټولنه دشپلی دخواولی یودبل ترپښولاندی به مړی، لکه چی په تجربه یه ثردی

کلوکی دغه رنګه مرګونه ثابت سوه، دسعودی دحکومت دحاجیانو دساتلو دپاره دمرګه څخه په

رمیوکی دجمراتو عاقلانه موافق الشریعة الغراء اقدام دی، پوه سه: چی په دین

نبوی کی حرج نسته حتی چی، الضرورات تبیح المحظورات، دائر علی الالسنه دی،

هغه تدبیر دادی چی حکومت دسعودی دډبرو څلو سرونه پوښلی دی، اوبیا پرهر څلی برابر

لوړی خواد ویشتلو دځلی غارجوړ کړی دی چی دلاندی شپلی دخواهم دځلی ویشتل کیږی

اودلوړی دخواهم، نوپه دی وړل دحاجیانو ازدحام اویودبل ترپښولاندی کیدل خصوصًا

ښځی اوبوډا ګان کسان، نواوس چی څوک قوی وی هغه یه دلاندی دخواولی او ښځی او

ضعیفان اوبوډا ګان یه دلوړی خواولي، اوسعودی داسی کړی دی چی لکه لاندی چی یوآخور

مانده ځای دی، اوپه مابین کی څلی ولاړی دی، دغه رنګه لوړیه هم آخور غوندی شی جوړ کړی

دی اوپه هغه کی څلی راستلی دی، نولکه کښته حاجیان چی هغه څلی پیه ډبرو ولی، لسوړ

حاجیان هم هغه څلی ولي،

فَائِدَه: بعض سخت دریزه ملایان وائی چی دلوړی ویشتل دځلونه دی روا. ولی چی

آنحضرت صلی الله علیه وسلم دشپلی دخواڅخه جمرات ویشتلی دی، اوبل داچی دفقهی شریفی په

کتابونو کی واړی چی جمرة العقبه دی دغږه دخواڅخه ولي. نودریمی وائی چی دادواړی خبری صحیح دی

لکن چی دمرګ خطرنه وی لکه دعلیه الصلوة والسلام په زمانه کی چی حاجیان ښځی محدود کسان وه او

یادقدیم فقهاوو په زمانو کی چی ازدحام به ښځی کم وو بلکه درویش په اولوکلو کی دجج چی امکانات

دویشتلو پرطریقه مستونه باندی ممکن وه لکن اوس امکانات بدل سوه اوحاجیان په لکهو

سوه اوخطر دمرګ اوترپښولاندی کیده په تجربه ثابته سوه نواوس کرغه رهی دلوړی خواڅخه

روانه بولي ګویاهغه سړي دحاجیانو دژوند دښمن دی، کردی ووائی چی بوډا ګان دی بیاڅوانان

په رهی کی څپل وکیلان وګرځوی اوداغه رنګه ښځینه حاجیان دی هم په رهی کی دجمارو وکیلان وټاکی

جواب: دفقهی شریفی په کتابونو کی واړی چی څوک چی په ولاړی لمونځ کولای سی هغه

ته توکیل دسی دپاره نه دی روا،

دانصاف خبره: اصل رهی خوواجب دی اوکیفیات یه یاسنت یامستحب دی نودا

سنت یامستحب کله دمرګ دبیری په سبب پاته سی: ان شاء الله، حرج به نه وی: وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ

إِلَى التَّهْلُكَةِ، کریمه: اوبله خبره داده چی حکومت دسعودی پرخپل سر داکار نه دی کړی بلکه

دجید وعلماوو څخه دمذاهبو مختلفه ووبه ټی فتوی حاصله کړی وی،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولجميع المؤمنين آمين يا رب العلمين،

وَيُسْتَحَبُّ أَخْذُ الْحَمَارِ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ أَوْ مِنَ الطَّرِيقِ وَيُكْرَهُ

اومستحب دی احتیاط د چې وړه د مزدلفې څخه او یا د لاری څخه ترمنیٰ پورې، اومکروه دی دهغه چې وړه

مِنَ الَّذِي عِنْدَ الْجَمْرَةِ احتیاط چې د څلی سره وی پرته، ولی بحر رائق وائی چې په حدیث کې راغلی دی چې د جمرې

دهغه چا چې حج یې قبول سوی وی هغه د جمرې وړه کیږي، نو دا یاته د جمرې دهغه چا دی چې حج یې نه وی

قبول سوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُكْرَهُ الرَّمْيُ مِنْ أَعْلَى الْعَقَبَةِ لِإِيذَائِهِ النَّاسَ

اومکروه دی د جمرة العقبه د لوړې خوا څخه یعنی د غره د خوا څخه ولې چې هغو د پښتو کی د ځلګو

ازار راځي یعنی هغه د جمرې چې ده لوړې خوا د پښتو کیږي د لاندې د خوا د پښتونکو پر سر وسره

مثلي پوه سه چې بعضې ملایان چې په دغه عبارت د فقهې د کتابو استدلال کاوه

چې د سعودي د لوړې د خوا څخه یو څخه د پښتو مکروه دی باطل سو ولې چې مصنف د دی کراهت دلیل ازار

ځلګو بالله او شک نسته چې د سعودي جوړ کړو په لوړه خوا وو کې هیڅ چا ته ازار نسته

ولې چې د لوړې د خوا د پښتو د جمرې پر کښته وو هیڅ نه مثلي کما یدل علیه التجربة، قَالَ

وَيُلْتَقَطُهَا الْتِقَاطًا وَلَا يَكْسِرُ حَجَرًا جِمَارًا وَيَغْسِلُهَا لِيَتَنَقَّى

او ټولوی دی د جمرې د وینستو په تولید وسره اوښه دی ما تورې ډبرې، یعنی لوی ډبرې د کښنی د جمرې د پاره

طَهَارَتُهَا فَإِنَّهَا يُقَامُ بِهَا الْقُرْبَةُ وَلَوْ رَمَى بِنَجَسَةٍ

اوغه ټولې کړی د جمرې دی پرې مینځی تاچې یقیني سی پاکوالی د هغو چې د غو د ډبرو د ثواب کار کیږي چې

أَجْزَأَهُ وَكُرِهَ د ځلو د پښتو دی اوکې بالفرض په مردار د ډبرو د پښتو وکړه کفایت خو کوی

لکن دا کار مکروه دی،

وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ مَعَ أَوَّلِ حَصَاةٍ يَرْمِيهَا وَكَيْفِيَّةُ الرَّمْيِ

او پرې دی د تلبیه سره د اول ډبرې د جمرة العقبه د ویشتلو یعنی بیا تر آخره پورې د جمرې تلبیه نه وایي، البته که د اول ورځې د جمرې عمره وکړله یې تمتع کې بیا تلبیه وایي، او کیفیت

أَنْ يَأْخُذَ الْحَصَى بِطَرَفِ إِبْهَامِهِ وَسَبَّابَتِهِ فِي الْأَصَحِّ

د ډبرې دا دی چې ډبره د یې په سر د ښې گوتې د یې وسبابه گوتې په سر د نسې او ورودی غوڅوی، په اصح کې

لِأَنَّهُ دروایت، ولې داسې ویشتل اسانه دی او سپکاوی د شیطان د پاره کښې دی، د درویش

وائي چې پردغه اصح روایت باندې ویشتل د ځلو په نسې زمانه کې معمول دی، وجه

د اسانۍ په تجربه ده، او وجه د پراهانت د شیطان یې داده چې گویا حاجي په زبان د حال شیطان ته وائي

چې ته دومره شۍ نه ئې چې نه دی په موټه کې نیولی ډبره وولم، اویادی کښیږدی ډبره پرشاد ښې گوتې

او کومک دی وغواړي په ویشتو کې د سبابې گوتې څخه، درویش وائي چې دا قسم د ویشتل نسبت

واوله ته گران دی پوه سه: چې مقابل د اصح هغه کیفیت دی چې د وړاندې درویش بیان کړی

فَتَذَكَّرْ

ذَلِكَ وَالْمَسْنُونُ الرَّمْيُ بِالْيَدِ الْيُمْنَى وَيَكُونُ بَيْنَ الرَّامِي

اوسنت دی ویشتل په راسته لاس یعنی که عذر نه وو او وی به په مابین د ځای د ویشتونکی او

وَمَوْضِعِ السُّقُوطِ خَمْسَةُ أَذْرُعٍ لویدونکی ډبرې کم از کم پنځه گزه یعنی مبتدل

فاصله سره هم رمی روا دی، او بعض فقهاء وائي که ډبره ترامی وځلی ته نزدی ولویده کافی ده،

او که تر ځلی ورامی ته نژدی ولویدل کافی نه ده، وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَوْ وَقَعَتْ عَلَى رَجُلٍ أَوْ مَحْمِلٍ وَثَبَتَتْ أَعَادَهَا وَإِنْ

او که ډبرې ولویدل ډبره د رمی د رامی پر پښه او یا پر ځین د اوښ او هلته تکیه سوه نود هغې پر ځای دی

سَقَطَتْ عَلَى سَنَنِهَا ذَاهِلًا أَجْزَأَهُ وَكَبَّرَ بِكُلِّ حَصَاةٍ

بلم پره وروغورځوی، اوکه د پښې یا څنګه څخه ومښتل اوروانه سول کافی ده اوتکبیر دی وائی دهری ډبری سره، قال المصنف:

ثُمَّ يَذْبَحُ الْمُفْرِدُ بِالْحَجِّ إِنْ أَحَبَّهُ بیادی یوحیوان ذبح کړی هغه حاجی چې یواځې یې حج حرام ترلی وی کې خوښه وی، **يُوهُ سَهُ**: چې ذغه ذبح پرمتمتع اوقارن لازم اوواجبه ده، اود مفرد دا ده چه خوښه سره اړولری، قال المصنف:

ثُمَّ يَحْلِقُ أَوْ يُقَصِّرُ وَالْحَلْقُ أَفْضَلُ وَيَكْفِي فِيهِ رُبُعُ الرَّأْسِ

اوروسته ترذبح دی سروخرڅې اویادی ویښتان دسرلنډ کړی اوخریل ئې افضل کار دی، لموافقة نعل صلی الله علیه وسلم اوبل داچې علیه الصلوٰة والسلام درې واړه دعاء مغفرت ومحلقینوته کړیده، اوځلوړه واړه ئې ومقصرینوته اوپه خریلو کې ځلوړه دسر کافی ده **مسئله** کهحاجی اقرع وواړیعنی پرسرڅې ویښتان نهوه نوصرف دی چاره پرسر راتیره کې صرف دچری تیروک دده دپاره حلق دی «هـ، دی» قال المصنف:

وَالتَّقْصِيرُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ رُؤُسِ شَعْرِهِ مِقْدَارَ الْأُنْمُلَةِ

اوتقصیر کیفیت دادی چې دسرڅوتلو ویښتانو نوڅخه دی په مقدار دیوه بند دګوتې پرې کړی

وَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ ثُمَّ يَأْتِي مَكَّةَ

اووحاجی تهوروسته ترحلق یاقصرهرشی پرواسولیعنی ګندلی جامې خوشبویۍ لګول سرپټول مګرښځې یعنی

مِنْ يَوْمِهِ ذَالِكَ أَوْمِنَ الْغَدِ أَوْ بَعْدَهُ جماع دمابنې سره اویادی ولاړسی مکې مکرمې ته په ډنډه ورځ چې داختر ورځ ده اویادی صباولاړسی اویا وروسته ترصبا»

فَيَطُوفُ بِهَا طَوَافَ الزِّيَارَةِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ وَحَلَّتْ لَهُ النِّسَاءُ

اوطواف دی وکړی پرمکه شریفه چې طواف زیارت په بولی اوه شوطه اوداطواف فرض دی، اواوس رواسوی وده ته ښځې یعنی کې مباینه ورسره وه وطی یې روادی، **مسئله**: کهحاجی تر عرفات درتلوڅخه طواف قدوم کړی وو، اوپه کښې ئې ووېدی شور ولی وی چې رمل یې بولې اوپاسعی یې مابین دصفا اومروه هم کړی وه، نوپه طواف زیارت کې رمل دی نه کوی، اوپه سعی دصفا اومروه کوی اوکې ډنډه طواف قدوم نه وو کړی، نوپه طواف زیارت کې دی هم رمل په درڅ اولوشوطو کې وکړی اوهم وروسته ترطواف دی سعی دصفا ومروه وکړی، قال

وَأَفْضَلُ هٰذِهِ الْأَيَّامِ أَوَّلُهَا وَإِنْ أَخَّرَهُ عَنْهَا لَزِمَهُ شَاةٌ لِتَأْخِيرِ الْوَاجِبِ

اوښه دډغو ورځو دطواف زیارت دپاره اوله ورځ ده، اوکې تردې سره وه وړځو وځنډاوه پسه پرلازم شوولی چې ده وځنډاوه واجب یعنی فرض چې طواف زیارت وو ترخپل وخت، قال المصنف:

ثُمَّ يَأْتِي مِنًى فَيُقِيمُ بِهَا فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِي

اوپلهطواف زیارت دی بیرته منیٰ تهولاړسی اوپه منیٰ کې دی اوسی بیاچې زوال وکړی لمردوهمې

مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ يَبْدَءُ بِالْجَمْرَةِ الَّتِي

ورځې دایام النحر نودی وولی درڅې څخه اوابتداء دی دهغه څخه کوی چې مسجد خیف تهورنږدی

تَلِي مَسْجِدَ الْخَيْفِ فَيَرْمِيهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ مَاشِيًا يُكَبِّرُ

دی یعنی دمنیٰ دخوا اول ځلی نودی وولی په درو دپرو پیاده اوتکبیر دی وائی دهری ډبری سره

بِكُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَقِفُ عِنْدَهَا دَاعِيًا بِمَا أَحَبَّ حَامِدًا

اوبیادی ودریمی پرتزد دوهمی جمری اودما کوونکی دی وی په هغو دعا سره چی دده خوښه دی اوحمدوینکی به وی

لِلّٰهِ تَعَالٰی وَمُصَلِّیًا عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

دخدای جل جلاله اودرود ویونکی به وی پرآنحضرت صلی الله علیه وسلم یعنی حمداودرود دی وکړی

وَیَرْفَعُ یَدَیْهِ فِی الدُّعَاءِ وَیَسْتَغْفِرُ لِوَالِدَیْهِ وَاَخَوَیْهِ

المُؤْمِنِیْنَ تردعا اووائی کما هوالادب فی الدعاء. اودواړه لاسونه دی پورته ونسی په دعا کی کما هوالمستحب فی الادعیة. اوطلب دبخښنی دی وکړی دهغه اوپلار، دپاره اودمسلمانانو ورونړو دپاره. قَالَ المُصَنِّفُ

ثُمَّ یَرْمِی الثَّانِیَةَ الَّتِی تَلِیْهَا مِثْلَ ذَالِكَ وَیَقِفُ عِنْدَهَا دَاعِیًا

اوبیادی وولی دوهم څلی چی اولته څرمه دی په مثل داول څلی اوهغه څلی ټوله دی هم وډرینړی دعا کوونکی یعنی په مثل داول په تمامومعنا وکی. تنبیه: دی دوه څلوته دی حاجی تردی سنه دیرینړی، ولی چی ازدحام دخلکو پرډی ددی دعاوغیره فرصت نه سی پیدا کولای بلکه کافی مسافت لری دی وړته ودرینړی، تاچی تهوله مذکوره شیان پوره کړی. قَالَ المُصَنِّفُ

ثُمَّ یَرْمِی الْجَمْرَةَ الْعَقَبَةَ رَاكِبًا وَلَا یَقِفُ عِنْدَهَا

اوبیادی وولی جمرة العقبه پرحال کی دسپرتیا اوهلته دی نه درینړی. فَائِدَه په اوس وخت کی رکوب دډاډ هیڅ نه دی مُیَسر نودامرمستحب نه صاپاته دی. قَالَ

فَاِذَا كَانَ الْیَوْمُ الثَّالِثُ مِنْ اَیَّامِ النَّحْرِ رَمَی الْجِمَارَ الثَّلَاثَ

اوبیاچی دریمه ورځ سوه دایام النحرپیادی مړی سره څلی وولی پسله زواله پرهغه دوولی چی دوهمه

بَعْدَ الزَّوَالِ كَذَالِكَ وَضَحِّ یه ویشتلی وه مثلاً بمثل

وَاِذَا اَرَادَ اَنْ یَتَعَجَّلَ نَفَرَ اِلٰی مَكَّةَ قَبْلَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ

اوکه دسړی تلواړه وو نودی اوزی مکی ته دمخه ترلویدو دلمر اوکه چیری ترغروب دلمر په منی

وَاِنْ اَقَامَ اِلَی الْغُرُوْبِ كُرِهَ وَلَیْسَ عَلَیْهِ شَیْءٌ

کی اوبیاورته سته وو نو کی مکروه دی مگرهیڅ شی پرده نسته. پوه سه، چی په وتوکی دمنی څخه صرف داکافی ده چی تر لمرلویده دمخه دمنی دحدودو څخه وباسی که څه هم مکی ته نه وررسیږی. قَالَ المُصَنِّفُ

وَاِنْ طَلَعَ الْفَجْرُ وَهُوَ بِمِنًی فِی الرَّابِعِ لَزِمَهُ الرَّمْیُ وَجَازَ

اوکه سپیدی راچاودی اودی په منی کی وو، نوپرده لازمی سوی رمی دجمارو دخلورمی ورځی، اورمی دی

قَبْلَ الزَّوَالِ وَالْاَفْضَلُ بَعْدَهُ وَكُرِهَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

دغی ورځی رمی دمخه ترزوال اوافضل داده چی ورو سته ترزوال دی په دغه ورځ وولی، او مکروه دی ویشتل دغی ورځی دمخه ترراختو لمر. قَالَ المُصَنِّفُ:

وَكُلُّ رَمْیٍ بَعْدَهُ رَمْیٌ تَرْمِیَهِ مَاشِیًا لِتَدْعُوَ بَعْدَهُ وَاِلَّا

اوهر رمی چی ورو سته یه هم رمی وی لکه داول اودوهم څلی رمی وولی بی پیاده تاچی ته دعا وکړی

رَاكِبًا لِتَذْهَبَ عَقِبَهُ بِلَا دُعَاءٍ ورو سته ترهغه رمی، اوکه چیری جمرة العقبه سپور ئی وله تاچی ته ولاړسی ورو سته ترمی بیله دعاء. پوه سه چی دا سپور اوپیاده ویشتل صرف بیان دافضلیت دی، ورنه اصل مقصود خورمی دی نوځرنګه چی وولی هغه سی روادی، بحر.

فائده: په تاریخ کی د امام ابویوسفؒ ډاغلی دی چی څروخت چی دی ناجوړی وو
ابن الجراح چی ستر عالم د مناسکو ډج وو وائی چی پوښتنی ډډه لوی پیشوا وړه ځلم اودی
مبارک بیهوشه وو، نوچې په هوش کی ډاغلی ماته ئی ووئیله: ما تقول! ته څه ووائې په
رهی کی د جمار و چی حاجیان په ګډی راکبنا بنه دی اوکه ماشیا؟ ما ورته وویل ماشیا دی ګډی. امام
مذکور وو ئیل خطا وئیلی، بیا ما ووئیله چی راکبا دی ګډی امام مرحوم وویل خطا وئی، نو
ما ورته وویل چې ته څوائی فقال کل رهی آه ابن الجراح وائی چی زه چی د امام مرحوم د کوړه
راوګومه د بخو ټهراهی ترغوږ سوه پوښتنه چی وکړه خلکو وویل چی امام ابویوسفؒ
وفات سو فرض الله تعالیٰ عنه ورحمه، ابن الجراح وائې چی ما تعجب وکړی وحرصه ډډغه
امام پر تعلیم په مثل کی ډډغه حالت یعنی د نه کندن، دروېش وائې چی د واقعه او امثال
ډډغی واقعی ټوله نتیجه د عشق او محبت د علم دین سره تعلما و تعلیما،

واقعه دروېش وائی یوسړی لیکوال اوادبی پوه ومانه په پښتو ژبه یو اوږد څخ
لیکلی ووچې خلاصه یه داده چې په دی دیرو تصنیفاتو اوحواشیو و پرډرسی
کتابو څرنګه نه خواری کیږی اوسړه ددی دقرار معلوم چې ستا عمره ۸۰ کاله ته رسیدلی
څرنګه دماغ نه ستړی کیږی، نودروېش وهغه وروړه ته جواباً دا یو خوبیته نوشته کړه اود
خط جواب می ورکړی هغه بیتونه دادی،

د عشق مقام ډیر عالی ؛ وهر مطلب ترڅوک په عشق رسیږی ؛
زما په زړه کی دښو وفی عشق دی ؛ څکه قلم می پر صفحو چلیږی ؛
زما تول عمر په دی کار کی تیر سو ؛ نخ اوګرمی ومانه یو معلومیږی ؛
سړه ددرس اود تدریس تصنیف ؛ برابر اوهمیشه کړه کیږی ؛
داد خدای فضل اومهربانی ده ورړه ؛ چې په دی کار کی می ملال پر زړګی نه تیریږی ؛
خلګ حیران دی ودی کار ته زما ؛ لکن قلم دی چې د عشق پر کاغذه چلیږی ؛
دنیا طلبو ته په غور ګوری ؛ چې په هیڅ ډول په دنیا فانی نه مړیږی ؛
داد دوی عشق کامیابه کړی دی دوی ؛ چې په هیڅ ډول د طلب څخی نه تیریږی ؛

د منهومان لا یشبعان حدیث ؛ همیشه ستاسی ترغوږ و تیریږی ؛
عبید الله لکه پښتنړ همیشه ؛ ددی بنو وفی پر ډیوه کړیږی ؛
داجمله معترضه وه اوس په شرحه د کتاب بیرته شروع کوم ان شاء الله تعالیٰ، قال المصنف

وَكَرِهَ الْمَبِيتَ بِغَيْرِ مِنًى لَيَالِيَ الرَّمْيِ ثُمَّ إِذَا رَحَلَ إِلَى

اومکروه دی شپه تیرول بیله منیٰ په شپو کی د رهی د خلو اوبیا چی حاجی د منیٰ څخه کوچ کوی ومکی ته

مَكَّةَ نَزَلَ بِالْمُحَصَّبِ سَاعَةً ثُمَّ يَدْخُلُ مَكَّةَ

نو بیا ګړی دی تم سی په محصب کی، پرته د محصب د نزول تفصیلی بیان د مخه تیر سو، اوبیادی داخل سی مکی ته اوطواف دی

وَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ بِالرَّمَلِ وَسَعَى إِنْ

قَدَّمَهَا وکړی پر بیته شریفه باندی اوۀ شوطه، بیله اوږو بنو ولو اوبیله سعی د صفا
اومروه کی د ځمنه په طواف قدوم کی رمل اوسعی یه کړی وه، قال المصنف

وَهَذَا طَوَافُ الْوَدَاعِ وَيُسَمَّى أَيْضًا طَوَافَ الصَّدْرِ وَ

اوا طواف وداع بولی یعنی طواف د رخصت د مکی مکرمی څخه اودغه رنګه یه نوم طواف صدر دی

هَذَا وَاجِبٌ إِلَّا عَلَى أَهْلِ مَكَّةَ وَمَنْ أَقَامَ بِهَا

د صدر معنا رجوع ده مکی څخه وخپل وطن ته، اوبعض جاهلان امیان وغیره وائی چی صدر حیګرتد
وائی یعنی حګر دی ومکی مکرمی ته کی پریشادیدی غلطه خبره ده، په بحر رائق کی وائی چې د
صدر معنا رجوع ده اوا طواف واجب دی مګر نه پر اهل مکه، ولی دوی خو د مکی مکرمی څخه
رخصت نه اخلی، اوپرهغه چا هم واجب نه دی چې پسله حج په مکه کی اوسیږی که څوک اصلاً اوقات
وی،،

وَيُصَلِّي بَعْدَهُ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَأْتِي زَمْزَمَ فَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا

او بیا له طواف دی دوه رکعت نفل وکړی یعنی په هر ځای کی چی کوی لوبیادی وړ ہی و زمزم ځانته

وَيَسْتَخْرِجُ الْمَاءَ مِنْهَا بِنَفْسِهِ إِنْ قَدَرَ وَيَسْتَقْبِلُ

اوراوډی کا ړی د زمزم دغه ځخه اوبه په خپله کی قدرت د ړلودی ، درویش وائی چی د اقدرت

الْبَيْتَ وَيَتَضَلَّعُ مِنْهُ وَيَتَنَفَّسُ فِيهِ مِرَارًا وَيَرْفَعُ بَصَرَهُ

پدې معنی د ملګی استاد وایی چی د زمزم څخه حکومت پټ کړی دی اوبه پښتین ژمندی را کا ړی ، او مخامخ قبلی ته دی ودریږی اوځان دی په ربنه د زمزم په

كُلَّ مَرَّةٍ يَنْظُرُ الْبَيْتَ وَيَصُبُّ عَلَى جَسَدِهِ إِنْ تَيَسَّرَ وَإِلَّا

او بو اوبه کړی او څو واړه دی په وخت کی د چبلو ساه وکا ړی او هره پلا چی اوبه یې وچبلی ستر ګی دی پورته کړی لوبیت الله شریف ته

يَمْسَحُ بِهِ وَجْهَهُ وَرَأْسَهُ وَيَنْوِي بِشُرْبِهِ مَا شَاءَ

او اوبه دی توی کړی پر خپل بدن که چیری ورته اسانه وه او که چیری د بدن ټولو ته پرلوړ ، ورنه ګران وه نو دی مخ په پری منځی او

سر دی هم په پری منځی او نیت دی کوی حاجی په چبلو کی د اوبو د زمزم هغه شی دده خوښ وی مثلاً صحت وعافیت

او توفیق د خیر د کارو او نجات د بد د کارو او نور او نور ، درویش وائی چی د اچی حاجی به و مکی شریفی ته

ګوری د انظر څخه نه سی کیدای ولی چی د د اخل د احاطه ده د زمزم څخه بیت الله شریف نه معلومیږی

وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا إِذَا شَرِبَ يَقُولُ

او وو عبد الله بن عباس چی وبی چبلی او به د زمزم د اسی به ډ وسیله یا الله زه د تا څخه

اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا وَاسِعًا وَشِفَاءً لِكُلِّ دَاءٍ

سوال کوم لږ لږ په برکت د اوبو د زمزم د ګټور او فائدې منه علم او د فراخ رزق او د شفا د هر مرض

وَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ

او علیه الصلوة والسلام وئیلی دی چی اوبه د زمزم د هغه شی د پاره دی یعنی کافی دی چی د هغه

شی په نیت چښلی وی ، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيُسْتَحَبُّ بَعْدَ شُرْبِهِ أَنْ يَأْتِيَ بَابَ الْكَعْبَةِ وَيُقَبِّلَ الْعَتَبَةَ

او مستحب ده چی ورته د زمزم د اوبو د چښلو څخه دی ورسی دروازی ته د کعبی مبارکی او چار چوب

ثُمَّ يَأْتِي الْمُلْتَزَمَ وَهُوَ مَا بَيْنَ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ وَالْبَابِ

د هغی د مچ کړی ، او بیادی ورسی مُلتزم شریف ته چی هغه په مابین کی د حجر اسود او د دروازی

فَيَضَعُ صَدْرَهُ وَوَجْهَهُ عَلَيْهِ وَيَتَشَبَّثُ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ

د دیوال نوم ، نو دی ځیګر او مخ پر هغه دیوال کښیږدی او لاسونه دی تینګ کړی په پرده و پوری د

سَاعَةً يَتَضَرَّعُ إِلَى اللهِ تَعَالَى بِالدُّعَاءِ بِمَا أَحَبَّ مِنْ

هغی او عجز دی وکړی و خدای ته په دعاء کی په هغه کار کی چی ډډه خوښه وی ډډه شیانو د دنیا او اخرت

أُمُورِ الدَّارَيْنِ تَنْبِيهٌ : درویش وائی چی دا ټوله کارونه چی مستحب دی هیله

دی چی په دغو کارو کی وښل چاته ازاره نه رسوی او پری وهل

او ډکی نه وی ، او زما ګمان دی چی دغه ټوله کارونه به په وخت کی د ازدحام او ریش ده حاجیانو

بیله ازاره دبل اسانه نه وی ، البته کریو حاجی بیخی په اخره حاجیانو کی مکی مکرمی څخه راوزی

امکان لری چی دغه مذکوره کارونه دی بی ازاره دچا وکړای سی ،

حَاصِلُ ۔ داچی هر کار د مذکوره کارو څخه چی بیله ازاره دچا ممکن وی هغه دی وکړی او

په هر کار کی چی ازاره نورو خلګو وی هغه دی پریږدی ، ولی چی ازاره چاته رسول حرام دی نو مستحب

کار مستحب دی پاڼه باید د حرام کار مرتکب نه شی، قال المصنف:

وَيَقُولُ اللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا بَيْتُكَ الَّذِي جَعَلْتَهُ مُبَارَكًا وَهُدًى

او په دعا کې دی وايي اول وائي يا الله جل جلاله په تحقيق سره دا ستا بيته ده هغه بيته ده چې تا مبارکه

لِلْعٰلَمِيْنَ اَللّٰهُمَّ كَمَا هَدَيْتَنِي لَهُ فَتَقَبَّلْ مِنِّي وَلَا تَجْعَلْهُ

گرځولې ده او هدايت دې گرځولې د عالمانو د پاره يا الله ج په تحقيق لکه تا چې ما ته هدايت وکړی

هٰذَا اٰخِرَ الْعَهْدِ مِنْ بَيْتِكَ وَارْزُقْنِي الْعَوْدَ اِلَيْهِ حَتّٰى

د دې بيتې ستا د را تلګ نوز ما مخه په قبول کړې يعنې ته وله مرايښه ج او دعا کافي، او مه گرځوې اى خدايه

تَرْضٰى عَنِّي بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرّٰاحِمِيْنَ د اوار نه ما اخيرى وخت د ملاقات ستا د بيتې

بلکه زما نصيب کې بيا راتګ ودې بيت الله ته حتى چې ته په راضى کيږې دما مخه، برحمتك يا ارحم الراحمين

وَالْمُلْتَزَمِ مِنَ الْاَمَاكِنِ الَّتِي يُسْتَجَابُ فِيهِ الدُّعَاءُ بِمَكَّةَ الْمُشَرَّفَةِ

او ملتزم د هغوئ يو مخه دی چې په کښې قبليږی دعا په مکه شريفه کې، او هغه حائيونه د قبلدو

وَهِيَ خَمْسَةَ عَشَرَ مَوْضِعًا نَقَلَهَا الْكَمَالُ بْنُ الْهُمَامِ عَنِ

د دعاء ۱۵ مخه لس دی لکه چې نقل کړې کمال بن همام، د رسالې مخنه د حسن بصرى په دی قول سره

الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ بِقَوْلِهِ فِي الطَّوَافِ وَعِنْدَ

د طواف کولو په وخت کښې او دوهم د ملتزم شريف سره چې دغه تفصيل دعاى او کيفيت ئې

الْمُلْتَزَمِ مخنه شير سو.

وَتَحْتَ الْمِيزَابِ وَفِي الْبَيْتِ وَعِنْدَ زَمْزَمَ وَخَلْفَ الْمَقَامِ

ولاندى ترنا وې د رحمت چې په حطيم شريف کې را اېله ده، او د ننه خونه کې د کعبې شريفې، او په نزد د زمزم چې بيان ئې

د مخه تير سو، او په شا کې د مقام ابراهيم عليه السلام، قال المصنف:

وَعَلَى الصَّفَا وَعَلَى الْمَرْوَةِ وَفِي السَّعْيِ وَفِي عَرَفَاتٍ

او په صفا او مروه باندې چې تفصيل ئې مخه تير سو، او په سعى کې د صفا او مروه چې بيا ئې تير سو راوړى، او په عرفات کې چې

تفصيل تير سو، او په منى کې چې بيان ئې تير سو، او په نيز د

وَفِي مِنًى وَعِنْدَ الْجَمَرَاتِ د ويشتلو د خلو، چونکه پوره ويشتل د خلو

۴ خلو ورځې وو، نو ځکه مصنف علامه ده ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵ پرليکلى ده، انتهى بابى ورسيدى قول ابن الهمام:

وَالْجَمَرَاتُ تُرْمٰى فِي اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ يَوْمُ النَّحْرِ ثَلَاثَةٌ بَعْدَهُ كَمَا تَقَدَّمَ

او خلى ويشتل کيږى په خلورو ورځو کې داختر په ورځ او درې نور ورځې لکه څرنګه چې

وَذَكَرْنَا اِسْتِجَابَتَهُ عِنْدَ رُؤْيَةِ الْبَيْتِ الْمُكَرَّمِ

مونږ ذکر کړو، چې دعا په وخت کې د اول ځل ليدلو د بيت الله شريفې هم قبليږى، او بيان په

هم مونږ د مخه تير کړى، د عطاء مخه روايت دى چې عليه الصلوٰة والسلام په وخت کې د ليدلو د

د بيت الله شريفې دا سې دعا کوله: اَعُوْذُ بِرَبِّ الْبَيْتِ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَمِنْ ضِيْقِ الْقَبْرِ

وَعَذَابِ الْقَبْرِ، اولاسونه به ئې هم دوارې پورته کړى وى، او دمهمو دعاوو مخه ده په هرځاى کې ده

اجابت د دخول د جنت بلاحسابه، فتح، رد، قال المصنف:

وَيُسْتَحَبُّ دُخُوْلُ الْبَيْتِ الشَّرِيْفِ الْمُبَارَكِ اِنْ لَمْ يُؤْذِ اَحَدًا

او مستحب دى دخول د بيت الله شريفې ته يعنى د نه خوښ نه د کعبې مبارکې په شرط د دى چې هيڅ ازار

په کښې نه وی، دروازې وائی چې په خوا کې کلو کې چې یوه مړۍ په کعبې شریفې دروازه خلاصه سوه په اړام ډیر کوشش سره داخله ممکنه وه، اوهرچه ټن ځیادی که دروازه هم خلاصه کړی بیا له خوږیږی داخله امکان نه لري، قال المصنف:

وَيَنْبَغِي أَنْ يَقْصُدَ مُصَلَّى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ قِبَلَ

اوبائې چې سړی دې ټیله دخوله دبیت الله قصد وکړی وهغه ځای ته چې علیه الصلوٰة والسلام پر

وَجْهِهِ وَقَدْ جَعَلَ الْبَابَ قِبَلَ ظَهْرِهِ حَتّٰى يَكُوْنَ

هغه ځای لمونځ کړی دی اودغه دلمانځه ځای د علیه الصلوٰة والسلام وطرف ته دمخ دداخل دی چې

بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِدَارِ الَّذِيْ قِبَلَ وَجْهِهِ قُرْبَ ثَلٰثَةِ

دی وګرځوی دروازه دکعبې وطرفته دشاخل حتی چې دسړی په مابین کې اودهغه دیوالله څخه په مابین

أَذْرُعٍ يُصَلِّيْ

کې قریب دریو ګزه پاته سې نوهلته دی نفل وکړي،

فَإِذَا صَلّٰى إِلَى الْجِدَارِ يَضَعُ خَدَّهُ عَلَيْهِ وَيَسْتَغْفِرُ اللهَ وَيَحْمَدُهُ

نوچې لمونځ ئې وهغه ته دیوالې وکې بیادی پرهغه دیوالله خپل یارخوکښیږدی او طلب دی د بخښنې دپاره دخدای څخه وکړی اود خدای حمد دی وکړائې، ولیچې دایولوی نعمت دی دده په عمرکې خدای جل شانه وده ته په نصیب کې، قال المصنف:

ثُمَّ يَأْتِيْ الْأَرْكَانَ فَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ وَيُسَبِّحُ وَيُكَبِّرُ وَيَسْأَلُ

اوبیادی ورسی ونوروديوالوته دکعبې شریفې، نوحمد دخدای جل جلاله دی ووائې اوکلمه طیبه دی ووائې اوتکبیردی ووائې اوسوال دی وکړي۔

اللهُ مَا شَاءَ وَيَلْزَمُ الْأَدَبَ مَا اسْتَطَاعَ بِظَاهِرِهِ وَبَاطِنِهِ

دخدای ﷻ څخه دهغه خدچې ډه خوښه وی، اوتهیک دی سائی ادب دخدای دمیړۍ په ظاهر سره خپل اوپه باطن سره چې خشوع اوخضوع وربښه وائې، قال المصنف:

وَلَيْسَتِ الْبَلَاطَةُ الْخَضْرَاءُ الَّتِيْ بَيْنَ الْعَمُوْدَيْنِ مِنْ مُصَلّٰى

اونه ده هغه شنوبیه ډبره چې په رنګ سنه ده، اوپه مابین کې دوو ستنو ده، دلمانځه ځای دعلیه

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الصلوٰة والسلام یعنی لکه بعض کسان چې ګمان کوی

وَمَا تَقُوْلُهُ الْعَامَّةُ مِنْ أَنَّ الْعُرْوَةَ الْوُثْقٰى هُوَ مَوْضِعُ عَالٍ

اوهغه چې وائی عوام خلګ چې عروة الوثقی چې په قرآن کریم کې یه هم ذکر اعلی دی هغه ده هغلوی

فِيْ جِدَارِ الْكَعْبَةِ بِدْعَةٌ بَاطِلَةٌ لَا أَصْلَ لَهَا

ځای نوم دی کې دکعبې شریفې موجود دی یعنی په شکل دیوی الګی، هغه بدعت باطله دی اوهیڅ اصل هم نه لری

پوه سه: چې مراد دبدعت څخه بدعت دعقیدې دی یعنی دغه عقیده دشریعت څخه

خارجه ده،

وَالْمِسْمَارُ الَّذِيْ فِيْ وَسْطِ الْبَيْتِ يُسَمُّوْنَهُ الْعَامَّةُ

اوهغه میخ چې په مابین کې دکعبې شریفې دی، اوعوام الناس هغه ته دنیا نوم وائی، اودوی

سُرَّةَ الدُّنْيَا يَكْشِفُ أَحَدُهُمْ عَوْرَتَهُ وَسُرَّتَهُ وَيَضَعُهَا

خپل عورت الخ کې اونوهم الخ کې اوپرهغه مسمار باندې ایږدی دا کار دهغه چا دی چې هیڅ عقل نه لری، فضل تردی چې دی دبے علمولری لکه چې ویلی دی کمال یعنی ابن الهمام صاحب فتح القدیر

عَلَيْهِ فِعْلُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهُ فَضْلًا مِنْ عِلْمٍ كَمَا قَالَهُ الْكَمَالُ

وَإِذَا أَرَادَ الْعَوْدَ إِلَى أَهْلِهِ يَنْبَغِي أَنْ يَنْصَرِفَ بَعْدَ طَوَافِهِ

او چې حاجي اراده وکړي د ټلو خپل اهل ته يعنې وطن ته، نو ښايي يعنې مندوب ده چې دې دې پسله

لِلْوَدَاعِ وَهُوَ يَمْشِي إِلَى وَرَائِهِ وَوَجْهُهُ إِلَى الْبَيْتِ

طواف د وداع په داسې حال کې د شا پرخوا بخې او مخ به بېځ د کعبه شريفې ته وي، يا به

بَاكِيًا أَوْ مُتَبَاكِيًا مُتَحَسِّرًا عَلَى فِرَاقِ الْبَيْتِ حَتَّى يَخْرُجَ

واقعي ژاړي او يا دې ژړا کوونکې هيئت پرځان طاري کړي، او اظهار د غم دې کوي پرځلا والي د بيت الله

مِنَ الْمَسْجِدِ وَيَخْرُجُ مِنْ مَكَّةَ مِنْ بَابِ بَنِي شَيْبَةَ

شريفې ترڅنګ چې د مسجد الحرام څخه وزي، او حاجي چې د مکې څخه وزي پر دروازه د بنې شيبه دې وزي د کښتي

مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلَى. **پوه سه:** دروازه بنې شيبه غونډۍ ته ويلې.

پوښتنه: تاويلندې وويل چې بعض جاهلان اميان آه نود مصنف ددې متن سره ستا قول متناقض دې ومعلومه دروازه چې پرې نوشته هم دې شرف طرفته د کعبې

جواب هيڅ تناقض نشته ما چې د جاهلانو حکم کړی وی پر هغوکسانو دې کړی وو چې واقعي د صدر معنا څيګردې او ما ويلې وه په حواله د بحر، چې د صدر معنا دلته جوع ده ولې، د هغې نه دې ويلې دا فعل چې مصنف دلته بيان کړی يعنې وَهُوَ يَمْشِي آه، دا فعل د جاهلانو دې، وينها بون بعيد، البته ملايان د مکې مکرمې د دغسې فعل څخه سخت ښوري

مسئله پوه سه، چې که د حاجي دلته خيال او حاجي شا په زوره کعبې ته ګرځولو کې قدرت وو او چې نه به صبا وطن ته خم، نو طواف الوداع دې په ترتيب مذکور وکړي، لکن کار يې نه سوبا بر

يعنې خو وخت چې پاته سو، نو دې به داسې نه کوي چې ما خو د کعبې شريفې څخه رخصت اخستې دې بايد نه نو لمونځونه په اطاق کې کوم، بلکه حرم شريف ته دې لمونځونه وکړي هروخت چې به يې خيال سو چې به وطن ته خم بيا دې بل طواف وداع پرهغه طريقه چې بيان يې تير سو وکړي ثم

وَالْمَرْأَةُ فِي جَمِيعِ أَفْعَالِ الْحَجِّ كَالرَّجُلِ غَيْرَ أَنَّهَا لَا تَكْشِفُ

او ښځه په ټولو افعالو کې د حج لکه نر داسې ده، يعنې دې چې ښځه به سر نه لخوي نکړي، او دا پرمخ

رَأْسَهَا وَتَسْدِلُ عَلَى وَجْهِهَا شَيْئًا تَحْتَهُ عِيدَانٌ كَالْقُبَّةِ

پوښکړي، او څروي چې لاندې ترې پکړه يعنې پرتندې باندې دنرې لرګو يوشي وي لکه قبه چې منع کړې

هغه عيدان مسه کيده ددې مخ د غطا سره،

تَمْنَعُ مَسَّهُ بِالْغِطَاءِ وَلَا تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِالتَّلْبِيَةِ وَلَا تَرْمُلُ

او نه دې پورته کوي آواز خپل په تلبيه ويلو کې بلکه صرف په ځان ې ورې، او اوږې به نه ښورولې

به طواف کې **فائده:** نوښځې ته اضطباع هم نسته، ولې چې هغه د رمل د پاره عموماً

وَلَا تُهَرْوِلُ فِي السَّعْيِ بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ بَلْ تَمْشِي

او ښځه نه ځغلي نه چې سعي کوي په مابين کې د دوو شنو ميلانو لکه نر، بلکه ښځه به په ارام سره ګرځي

عَلَى هَيْئَتِهَا فِي جَمِيعِ السَّعْيِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ

په ټولو سعيو کې د صفا او مروه **فائده:** ددې مسائلو سبب صرف دوه شيان دي، ستر دي، او

وَلَا تَحْلِقُ وَتُقَصِّرُ وَتَلْبَسُ الْمَخِيطَ

ښځه چې د احرام څخه ځان خلاص کړي سر به نه خرڅوي بلکه قصر د ويښتانو دې وکړي په قدر د يوه بند د ګوتې **فائده:** دښځې سر خرڅيل مثله دي يعنې بد خوندي ده بلکه نرچې يې خرڅوي، اودا به ترغ کړي چې اغوندي، او بحر

راتو کی وائی چې سوزی هم په پښو کولای سی اود سنکلی هم په لاس کولای سی، قال المصنف

وَلَا تُزَاحِمُ الرِّجَالَ فِي اِسْتِلَامِ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ

اوښځی به په مسحه کولو کی د حجر اسود د نړوسره ازدحام نه کوی **فائده**: ښځه بی میړه یا بی محرمه حج نفلی کولای او نړۍ کولای سی، لکن چونکه دا مسئله په حج پوری تخصیص نه لری بلکه ښځه هیڅ سفر بی له محرمه نفلی کولای، نوځکه مصنف ذکر نه کړه، اود ښځی څخه طواف صدر په سبب د حیض ساقط دی قاله الزیلعی شارح الکنز، قال المصنف:

هٰذَا تَمَامُ حَجِّ الْمُفْرِدِ وَهُوَ دُوْنَ التَّمَتُّعِ فِي الْفَضْلِ وَ

دا وو پوره بیان د حج مفرد، او حج افراد کم دی تر تمتع په ثواب کی او قران افضل تر تمتع

اَلْقِرَانُ اَفْضَلُ مِنَ التَّمَتُّعِ

دی، پوه شه: چې دا زمونږ مذهب دی او امام شافعیؒ حج افراد افضل بولي، او امام مالکؒ تمتع افضل بولي والدلائل فی الکتب المبسوطة من الشروح والفتاوی.

تفسیر الوضوء

دیرش به ان شاء الله ستاسو ولاسونه وزسیږي

(۲)

۱۰ جلده نکاح وقدوري

«د خوارحقاني فضل الحق په قلم یادګار شو»

فَصْلٌ اَلْقِرَانُ اَنْ يَجْمَعَ بَيْنَ اِحْرَامِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ

دا فصل دی د قران دا دی چې حاجی جمع وکړي په مابین کی د احرام د حج او

فَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ بَعْدَ صَلٰوةِ رَكْعَتَيِ الْاِحْرَامِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ

عمرې نوم اسی دی ووائی ای الله زه اراده لرم د عمرې او حج پسله دوه رکعته لمانځه د احرام نو

اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ وَالْحَجَّ فَيَسِّرْهُمَا لِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ ثُمَّ يُلَبِّيْ

دواړه راته آسانه کی اوتلې را څخه قبول کړي بیا دی تلبیه ووائی **فائده**: په خوله ویل مستحب دی ورنه صرف نیت قلبی هم کافی دی **فائده**: په عنوان کی د فصل په حج د ځانه کړی په سبب د افضلیت او په نیت کی ئی عمره د ځانه کړه ولی! فقهاء وائی چې په نیت کی دی عمره د ځانه کوی تا چې ترتیب ذکری د ترتیب عملی سره برابر ښکاره، او هغه خبره چې مولانا اعزاز علیؒ د بحر څخه نقل کړی ده چې واو د پاره د ترتیب دی آه، هغه د نورو کتابونو څخه د اصول الفقه مخالفه ده، او د غه رنګه د دې آیت څخه هم مخالفه ده، فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ، کما لا یخفی، هوکی دا سی وئیلی وای چې ترتیب ذکری گاهی پر ترتیب عملی دلالت کوی کما فی قوله تعالیٰ: اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ، الآیة. نو صحیح به وای،

فائده مذکوره صورت ته قران حقیقی وائی او قران حکمی دا دی چې د میقات څخه اول د عمرې نیت وکړي او د ځانه ترې دی چې د عمرې څلور شوطه طواف کوی نیت د حج هم پسې وکړي او بیا دی د عمرې شوطونه او نور کارونه پسې پوره کړي، او بیا د میقات څخه د حج احرام وتړي او د ځانه ترڅلور شوطه ده طواف د حج د عمرې نیت وکړي لکن بحر وائی چې په صورت ثانی کی ګناه ګار ږدی، **فائده**: د مصنف د عنوان الفصل عبارت دوارو ته شامل دی یعنی قوله ان یجمع آه، ولی چې مطلق جمع عامه ده که حقیقی وی او که حکمی وی، که څوک د نیت

عبارت په یواځې د قران حقیقي د پاره دی، قال المصنف رح

فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ بَدَءَ بِطَوَافِ الْعُمْرَةِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ

پس چې داخل شي د مکې شارته اوحرم شریف ورسي شروع دی وکړي په طواف د عمرې اوړه واړه

يَرْمُلُ فِي الثَّلٰثَةِ الْأُوَلِ فَقَطْ ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ

چې اوږې دی ښوروي په اولو دریو شوطونو کې فقط اوبیا ترطواف وروسته دی دوه رکعته

واجب د طواف لمونځ وکړي، قال المصنف رح:

ثُمَّ يَخْرُجُ إِلَى الصَّفَا وَيَقُومُ عَلَيْهِ دَاعِيًا مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا

اوبیا ترطواف وروسته دی ووزي صفا ته اوهلته دی ودریږي تکبیر ویونکی کلمه طیبه ویونکی او

مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَهْبِطُ نَحْوَ

درود ویونکی پرنبي علیه الصلوة والسلام باندې، اوبیادی د صفا څخه کښته سي د مروه وخواته

الْمَرْوَةِ وَيَسْعٰى بَيْنَ الْمِيلَيْنِ فَيُتِمُّ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ وَهٰذِهِ

اوپه مابین کې دمیلین دی چا بلک تیږې، اوپوره دی کړي په دغه دوول اوه شوطه اوداهم افعال

أَفْعَالُ الْعُمْرَةِ وَالْعُمْرَةُ سُنَّةٌ

د عمرې دي - اوعمره په ګرده عمر کې یو

ولې، پوه سه، چې وروسته ترپوره کولو دافعالو دی ځان داحرام نه باسي ولې

واړه سنت ده اوبعض امامان یې واجب

خودی قارن دی،

ثُمَّ يَطُوفُ طَوَافَ الْقُدُومِ لِلْحَجِّ ثُمَّ يُتِمُّ أَفْعَالَ الْحَجِّ

اوورسته دی طواف قدوم وکړي د حج د پاره، اوبیادی پسې پوره کې افعال د حج لکه چې

كَمَا تَقَدَّمَ فَإِذَا رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ وَجَبَ

د عمې تیره سوه نو هر کله چې ئې وو شتې جمرة العقبه پرې ورځ د اختر، نو واجب سوه پرې باندې

عَلَيْهِ ذَبْحُ شَاةٍ أَوْ سُبُعُ بَدَنَةٍ

ذبح د پسه اوبیا اووم حصه د شرکت

چې بدنه کې څلورم پرعرف عام کې اوښ یا اوښۍ ته وائي لکن دلته مراد معنائي لغوي ده یعنې

د اوښ پوه سه

لوی حیوان نو غوا او غوښۍ ته هم شامل سوه، قال المصنف رح:

فَإِذَا لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ قَبْلَ مَجِيءِ يَوْمِ النَّحْرِ مِنْ

اوکه نه ئې پیدا کړه پسه وغیره یعنې قدرت یې نه وو پرذبح د شاة وغیره د مالي سبب، نو دی درې ورځې

أَشْهُرِ الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الْحَجِّ وَلَوْ بِمَكَّةَ

روژې ونسي د نحر له ترڅنګ دلوی اختر دورځې، ولې ده اختر پرې ورځ روژه مکروه ده، اودا

بَعْدَ مَضِيِّ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ وَلَوْ فَرَّقَهَا جَازَ

درې ورځې به د اختر د میاشتو څخه د حج وی

اوه ورځې دی روژه ونسي بعد الفراغ د حج د افعالو څخه کښې په مکه کې نسي یعنې که په

وطن کې نسي هم روادی، لکن پله دی چې ورځې د تشریق تیرې سي ولې چې په هغوکې هم

روژه نیول مکروه ده، اوکه متفرق ونسي هم روادی، قال المصنف رح:

تعليم الاسلام پښتو // فضائل اعمال پښتو
د خانقاه قاسمیه

فَصْلٌ اَلتَّمَتُّعُ هُوَ اَنْ يُحْرِمَ بِالْعُمْرَةِ فَقَطْ مِنَ الْمِيْقَاتِ

دا فصل دی د تمتع، تمتع دا دی چې سړی احرام وتړي په عمره سره یوائې د میقات څخه **پوهه سه:** چې په قید د میقات یه مکی والا وایستله. والا چې هغوته نه قران روادی اونه تمتع او هغه سړی نه دی خارج چې دکور د څخه تر میقات وړاندی احرام وتړي هغه روادی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فَيَقُوْلُ بَعْدَ صَلٰوةِ رَكْعَتَيِ الْاِحْرَامِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ

نو بیادی ووائی پسله اداء کولو څخه د دوو رکعتونو احرام، یا الله زما اراده ده د عمری نیت ته

الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِيْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّيْ ثُمَّ يُلَبِّيْ حَتّٰى يَدْخُلَ

آسانه کړی اوته یې ما څخه قبوله کړی. او بیادی تلبیه ووائې. نو چې داخل سی د مکی شریفې

مَكَّةَ فَيَطُوْفُ لَهَا وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ بِاَوَّلِ طَوَافِهٖ وَ

ته نو دی طواف وکړی د پاره د عمری او پرې دی د تلبیه په اول طواف سره او رمل دی وکړی

يَرْمُلُ فِيْهِ ثُمَّ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ ثُمَّ يَسْعٰى بَيْنَ

په طواف کی یعنی په درې اولو شوطونو کی، او بیادی لمونځ وکړی دوه رکعته د طواف، او بیادی

الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ بَعْدَ الْوُقُوْفِ عَلَى الصَّفَا كَمَا تَقَدَّمَ سَبْعَةَ

سعی وکړی په مابین کی د صفا او مروه پسله دی دریدو څخه پر صفا باندی

اَشْوَاطٍ

لکه د مخه چې تیره سوه او وه شوطه دی پوره کړی،

اللهم اغفر لمؤلفه وکاتبه ولجمیع المؤمنین آمین

ثُمَّ يَحْلِقُ رَأْسَهٗ اَوْ يُقَصِّرُ اِذَا لَمْ يَسُقِ الْهَدْيَ

او سړی وخروی او یا دی قصر وکړی کی هدیه د مکی نه وو وړه یعنی یا اوښ یا غوی یا پسه

دی قید فائده داده چې که چیری هدیه وړه وی هغه ته حلق او قصر نه دی ړوا حتی کی

سر وخرابه د مړ پرلاړ نه دی ولې چې هدیه مانع د تحلل ده شرعاً. **مسئله** پر متمتع خواه مخواه

لازمه نه ده چې حتماً به د احرام باسی په حلق یا قصر سره بلکه د اختیار لری که حلق وغیره کوی

او که دی پر احرام باندی دوام کوی تر احرامه د حج، بحر و در، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَحَلَّ لَهٗ كُلُّ شَيْءٍ مِنَ الْجِمَاعِ وَغَيْرِهٖ وَيَسْتَمِرُّ حَلَالًا اِلٰى اَنْ

او حلال سول ورته هر شی چې په احرام کی ځندی منعه وو که جماع د مایفی سره کوی او نور، لکه

يُهِلَّ بِالْحَجِّ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ وَهُوَ سَابِعُ الشَّهْرِ

ګنډل جامی اغوستل یا خوشبوئی ګډول او نور، ورته کاروونه.

سَاقَ الْهَدْيَ لَا يَتَحَلَّلُ مِنْ عُمْرَتِهٖ

پوهه سه: چې په دوران کی د حلال والی د عمری څخه طواف ونه دی دیر کوی، ولی چې طواف د

نفلی لمانځه افضل دی افاقی سړی لره کما مړ، او نور نفلی عمری دی کوی خصوصاً عمره د نجرانه څخه

چې هغه آنحضرت صلی الله علیه وسلم کړیده، او د تنعیم څخه چې دوسه یه پوره وی هغوی عمری

دی کوی، او هغه ملا چې په تنعیم کی ناست دی او خلګوت والی چې دا پیری عمری کول بدعت دی

دلیل دا والی چې علیه الصلوٰة والسلام د حج په وخت کی یوه عمره کړیده. نو دی ملا ته چې منع

کوونکی دی د معروف فی الشرع څخه چې عمره ده تاسی دا ورته ووایاست چې نبی اکرم صلی الله

علیه وسلم خو پسله هجرته څخه صرف یو حج کړی دی او وه قبل الهجرت د حجود رک یه نه دی

معلوم، نو اهل مکه والمدینه ولی په لس ګونی حجونه کوی باید هغه بدعت وی،

فائده: د هر عمل اصل چې په شرع شریف کی ثابته وی هغه ته بدعت ویل ګمراهی ده،

مثلاً تسبیح متعارف الیومر خو آنحضرت صلی الله علیه وسلم لید لی هم نه دی لکن چونکه اصل لری

نو بدعت نه دی او که بدعت وی نو د سعودی حکومت ولی دا اسباب د بدعت یعنی تسبیح په

خپل وطن کی بیع وشراء ته پریږدی، قال المصنف:

فَإِذَا جَاءَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ مِنَ الْحَرَمِ وَ

نوچی دا تاسو ورځ راسی نو دی متمتع احرام دحج وترې دحرم شریف څخه او دمینی پرخوا دی روان سی کنه

يَخْرُجُ إِلَى مِنًى فَإِذَا رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ لَزِمَهُ

تفصیله پس چی وولی جمره عقبه په ورځ دلوی اختر کی نو پرده واجب دی پسه ذبح کول اویا

ذَبْحُ شَاةٍ أَوْ سُبُعُ بَدَنَةٍ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

اوومه حصه داوښ یادغوایی، اوکه طاقت نه درلودی نو دی درې ورځې روژې ونیسی مخه تر

قَبْلَ مَجِيءِ يَوْمِ النَّحْرِ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعَ كَالْقَارِنِ

ناتلو دوې ورځې داختر اوا وه ورځې چی دحج څخه رجوع کوی لکه دقارن چی حکم په عنقریب تیرشو

فَإِنْ لَمْ يَصُمِ الثَّلَاثَةَ حَتَّى جَاءَ يَوْمُ النَّحْرِ تَعَيَّنَ عَلَيْهِ

اوکه دمخه درې روژې نه ونیولې حتی چی ده اختر ورځ پراځله نو بیا متعین سوه پرده باندی

ذَبْحُ شَاةٍ وَلَا يَجْزِئُهُ صَوْمٌ وَلَا صَدَقَةٌ ذبح دشاة یعنی پسه

اوکا فی نه کړی ده ته روژې که هرڅو وغسی اوهمدارنګه بله صدقه اوخیرات،

خوشخبری

نوټ: دې به ان شاء الله تعالی دنجوید ټول متعلقه کتابونه پیدا کړی
چې ځنډ اندازې سره سم تر لاسه پوری د مرسلین، ادارې

فَصْلٌ الْعُمْرَةُ سُنَّةٌ فِي جَمِيعِ السَّنَةِ

د فصل دی دعمری، عمره سنت ده، اووخت یې په ټوله کال کی دی،

مسئله: چی یوه عمره سړی وکړی یواځی هروخت چی وی سنت یې پرځای سومګر عمره په روژه کی تر ټولو افضله ده، لکن دقران عمره په ځای کی دسنت نه درپرې کذا قال الشامی فی رد المحتار، قال المصنف:

وَتُكْرَهُ يَوْمَ عَرَفَةَ وَيَوْمَ النَّحْرِ وَأَيَّامَ التَّشْرِيقِ

اومکروه دی دعمری احرام ترڅو په ورځ دعرفات اوپه ورځ داختر اوپه ورځو دتشریق چی درې دی، حتی کی په مذکوره ورځو کی احرام دعمری وتاړه دمړلانهږدی کی خه مبرنه پرینږدی

فائده: کی احرام دعمری تردغو ورځو مخکی ترې وو مګر اداء دافعالو یې په دغو ورځو کی وکړه بیا هیڅ کراهت نسته اوبنه ګمړلانهږدی، قال المصنف:

وَكَيْفِيَّتُهَا أَنْ يُحْرِمَ لَهَا مِنْ مَكَّةَ مِنَ الْحِلِّ بِخِلَافِ إِحْرَامِهِ

اوکیفیت دعمری یعنی مکی والوته دادی چی احرام دی دحدود وڅخه دمکی وترې لکن ذمامین

لِلْحَجِّ فَإِنَّهُ مِنَ الْحَرَمِ وَأَمَّا الْآفَاقِيُّ الَّذِي

ملاڅخه بخلاف دهغه چی حاجی متمتع وی احرام دحج دپاره ترې ولی هغه به دحرم شریف څخه

لَمْ يُرِدْ دُخُولَ مَكَّةَ فَيُحْرِمُ إِذَا قَصَدَهَا مِنَ الْمِيقَاتِ

ترې کامړ، اوهرڅه چی اطراف سړی دی چی هنوز مکی ته وی داخل سوی نوی احرام ترې دعمری دپاره کی قصد د دخول دمکی وو دمیقات څخه، حاصل دکلام دادی که دسړی دخول دمکی مکری قصد وو په وخت دې رسید و میقات ته، نو پرهغه سړی واجبه ده چی احرام دعمری به د میقات

څخه لاړ نه وي، حتی که دغه سړی ترخپل کاره د دخول مکی قصد وکړی د دخول د مکی وده ته
پیله احرام ږوادی، عن در، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ يَطُوفُ وَيَسْعَى لَهَا ثُمَّ يَحْلِقُ وَقَدْ حَلَّ مِنْهَا كَمَا بَيَّنَّا

اوبیادی طواف اوسعی وکړی د دیارلسمی د عمری اوبیادی سر وخرېږي اوبه تحقیق دی خلاص سو د عمری

څخه لکه چې مونږ بیه دغه بیان کړی وو په حمد د خدای جل جلاله
بِحَمْدِ اللهِ یعنی په توفیق د خدای جل جلاله. قَالَ الْمُصَنِّفُ

تَنْبِيهٌ وَأَفْضَلُ الْأَيَّامِ يَوْمُ عَرَفَةَ إِذَا وَافَقَ يَوْمَ

آګاهی، اوافضل د ورځو د عرفات ورځ ده چې برابره سی د جمعی د ورځی سره اودغه ډیر افضل

الْجُمُعَةِ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ سَبْعِينَ حَجَّةٍ فِي غَيْرِ جُمُعَةٍ

دی تر اویا حجو چې د عرفات ورځ په په غیر د جمعی وی، د دی خبری روایت کړی دی مصنف د

رَوَاهُ صَاحِبُ مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ بِقَوْلِهِ

معراج الدرایه په دی قول سره خپل د اقول د مصنف د معراج الدرایه دی

وَقَدْ صَحَّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ قَالَ أَفْضَلُ

چې په تحقیق صحیح ثبوت ته رسیدلی دی د اخبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چې ده مبارک وفرمایل چې

الْأَيَّامِ يَوْمُ عَرَفَةَ إِذَا وَافَقَ جُمُعَةً وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ

بهترینه د ورځو د عرفات ورځ ده، چې برابره سی د جمعی د ورځی سره اودغه ډیر افضل دی تر اویا حجه

سَبْعِينَ حَجَّةً ذَكَرَهُ فِي تَجْرِيدِ الصِّحَاحِ بِعَلَامَةِ الْمُوَطَّا

اود حدیث ذکر کړی دی صاحب تجرید الصحاح چې د حدیثو کتاب دی چې د مصنف په د اخیال دی چې په دی

وَكَذَا قَالَهُ الزَّيْلَعِيُّ شَارِحُ الْكَنْزِ چې په دی کتاب کی خالص صحاح

تجرید ودی حدیث ته علامه د موطا یعنی د امام مالک ورکړی ده، اوهغه د زیلعی چې
شارح د کنز دی کړیدی،

تحقیق د احدیث چې مصنف ذکر کړی، مناوی د بعض حفاظو څخه نقل کړی دی چې د احدیث
باطل دی اصل نلری، هو! امام غزالی په احیاء العلوم کی ذکر کړی، د اخبره چې
د بعض سلفو وائی چې برابره سی ورځ د عرفات د ورځی سره د جمعی بخښنه کیږی، تولو د عرفات
خلکونه، او د اهغه شریفه ورځ ده په سر د دنیا کی او د علیه الصلوٰة والسلام حجة الوداع څم په د غسی ورځ
کی وو، او علیه الصلوٰة والسلام پر عرفات ولاړ وو چې د الیت پر نازل سو اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ
دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي، الایه: نو اهل کتابو یعنی یهودیانو حضرت عمرؓ ته وویل چې
د الیت زمونږ په کتاب کی نازل سوی وای مونږ به ټی ورځ د نزول اختر گرځولی وای،
حضرت عمرؓ وهغوته وویل چې زه شاهدی ورکوم په دی سره چې د الیت په ورځ کی د دوه اختر
نازل سوی پر علیه الصلوٰة والسلام باندی چې هم ورځ د عرفات وه او هم ورځ د جمعی وه، او علیه
الصلوٰة والسلام پر عرفات ولاړ وو، انتهی قول الغزالی فی الاحیاء، د رویش وائی چې په افضلیت
د دغه ورځی هیڅ څوک د امت محمدی څخه مخالف نه دی، او په دی کی شک نسته چې د آیت مذکور
هم په دغه ورځ کی او په دغه وخت کی نازل سوی دی، او محاوره ده عمر رضی الله تعالی عنه او د یهودیانو
هم ورسته ده، لکن د حدیث فوق الذکر په صحت کی اختلاف دی عمیق هغه د حفاظو د حدیثو
کاردی یعنی د دوی وکتابونو ته رجوع وکړل سی، زه په دی باره کی څه عاجز یم، او خبره
وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ غوره کوم، او حافظ ابن حجرؒ په شرح کی د بخاری د دی حدیث په باره کی وائی
د حدیث لا اعرفه، ولم راوی صحابی ئی نه دی ذکر سوی او نه ئی هغه څوک ذکر سوی دی چې د احدیث
د راستول وی، د رویش وائی چې مزید تحقیق د دی خبری په شرحه کی د بخاری لابن حجرؒ
مطالعه کړه سی او شامی دی هم په غور سره مطالعه سی،

وَالْمُجَاوَرَةُ بِمَكَّةَ مَكْرُوهَةٌ عِنْدَ اَبِیْ حَنِیْفَةَ رَحِمَهُ

او او سیدل په مکه مکرمه کی مکروه دی په نیزد امام اعظمؒ، ولی چی خوك همیشه توب نسی کولای

اللّٰهُ تَعَالٰی لِعَدَمِ الْقِیَامِ بِحُقُوْقِ الْبَیْتِ وَالْحَرَمِ

په حقوقو یعنی د آداب و د بیت الله شریف او د حرم منیف او نفی کړی دی کراهت د مجاورت مذکوره

وَنَفَی الْکَرَاهَةَ صَاحِبَاهُ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰی دوو شاګردانو د امام اعظمؒ

یعنی امام ابو یوسفؒ او امام محمدؒ، او ځطاوی وائی چی د مجاورت د مدینی منوری هم دغه حکم دی آه، پر احیاء العلوم کی وائی چی په قول د امام اعظمؒ عمل کوی هغه علماءٌ چی د ډیر احتیاط کوی او خدائ ځخه ډیر ډیریږی، تفصیل د دی مسئلی په رد محتار کی مطالعه کړه

مسائل بهشتی زیور

پښتو

معارف القرآن

نکاح او ودی

(۱۰) جلده

(۲)

مکتبة القراءة والتجوید

کانسی روډ شالدره کوئټه بلوچستان

د ځان لپاره قلمی نسخه واخلئ

بَابُ الْجِنَایَات

د باب ثابت دی په بیان کی د جنایاتو، یعنی د حج او عمری او قران او تمتع په بارهٔ کی، د وئیش وائی چی نږدې کړه د دی باب حاجی ته د دیر مهمه خبره ده، تاچی د فساده د حج یا د یو ډم یا دوو د مودو تاوان ځخه خلاص سی چی بیان به ځه په دی باب کی راسی، وَقَالَ الْمُصَنِّفُ

وَهِیَ عَلٰی قِسْمَیْنِ جِنَایَةٌ عَلَی الْاِحْرَامِ وَجِنَایَةٌ عَلَی الْحَرَمِ

یعنی مطلق جنایت یعنی تجاوز د شرعی حد پردوه قسمه دی یو جنایت پر احرام دی او بل جنایت پر حرم او

وَالثَّانِیَةُ لَا تَخْتَصُّ بِالْمُحْرِمِ وَجِنَایَةُ الْمُحْرِمِ عَلٰی اَقْسَامٍ

او دوهم قسم جنایت پر حرم تخصیص په محرم پوری نه لری بلکه حلال سړی ته هم تاوان دی او جنایت د محرم څخه دی، یو قسم یه دادی چی دم واجبوی،

مِنْهَا مَا یُوْجِبُ دَمًا یُوْهِ سه چی دم چی مطلق ذکر سی مراد ځندی پوښه دی، نو پوه سه په تولو ځایو کی مراد دی مګر ښه په دوه ځایه کی، یو دادی چی جماع وکړی د مابنی سره پسله وقوف ځخه د عرفات د ځخه تر حلق ده سره، او دوهم دادی چی طواف زیارت په جنابت سره وکړی او یا په حال د حیض او نفاس یه وکړی، ولی چی واجب په دی دوه ځایه کی اوښ دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمِنْهَا مَا یُوْجِبُ صَدَقَةً وَهِیَ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ وَمِنْهَا

او بعض په صدقه واجبوی چی هغه نیمه کاسه د غنمو او بعض یه کمه تر نصف صاع واجبوی، لکه

مَا یُوْجِبُ دُوْنَ ذٰلِكَ صَدَقَةً لکه چی شپږه مړه کړی یا مساخ یا کیکړه او امثالها، ولی دا صدقه د سړی په اختیار پوری اړه لری هر څه چی وکړ

قال امیر المؤمنین عمر بن الخطاب حین سُئل عن قتل المحرم الجراد « التمرة خیر من جَراد »

وَمِنْهَا مَا یُوجِبُ الْقِیمَةَ وَهِیَ جَزَاءُ الصَّیْدِ وَ یَتَعَدَّدُ

اوبعض هغه دوه چې قیمت دشی واجبوی چې هغه نوجزاء د ښکار ده، اوجزاء د ښکار په تعدد دقاتلانو محرمانو متعدده گرځي، مثلاً که دوه

الْجَزَاءُ بِتَعَدُّدِ الْقَاتِلِینَ الْمُجْرِمِینَ

مستقله جزاءده، دوئ جزاوی په دی سته چې دوه قتله پیدا سوه، اوکه چیری دوه حلال کسان د حرم ښکار وکړی یوه جزاء ده ولی د هغو جزاء خو په بیحرمتی د حرم رده حرم خو یو دی (بحر)

فَالَّتِی یُوجِبُ دَمًا هِیَ مَا لَوْ طَیَّبَ مُحْرِمٌ بَالِغٌ عُضْوًا

نو هغه جنایت چې واجبوی دم یو مثال یې دادی چې خوشبویه کړی محرم بالغ، په قید د بالغ کشتی نابالغ خارج سوه، او چې پرهغه شی دسته، **پُوه سَه**: چې خوشبوئ لګول عامرده که په هیره سره وی اویا په حکم شرعی ناخبره وی اویا په زوره څوک په ولګوی، اوعضو عامرده حتی خولی ته هم شامل ده « عز، بحر »

اَوِ اخْتَضَبَ رَأْسُهُ بِحِنَّاءٍ

اویا سر رنګ کړی په نکروزو

یُوسُنَّتُه

حناء خوم طیب اوخوشبوئ ده لقوله علیه الصلوة والسلام « الحناء طیب » نو پس له ذکر د طیب د حناء ذکر نه خو ضرورت وو

جواب

د حناء په طیب والی کې په احادیثو کې اختلاف دی نو یه څکه حناء ذکر کړه

مسئلہ

که د حناء اوبه نرۍ وې خو په حناء سره یو دم لازمیږی اوکه ګلکی نکروزی یې سر واچولی چې سر یې په پټ کړی نو یا دوه دمه لازمیږی یو د طیب ګلولو سبب اویا د سر ښه ښیدو له کبله لکن د تغطیة الرأس دم هلته لازمیږی چې شبانه روز دا نکروزی دده پر سر پرتی وې، اویا د داچې یا ټوله سر یې نیولی وی اویا ربع د سر، اوکه زمانه تر شبانه ... اویا نکروزی یې تر ربع د راس پرلږ ځای باندی ایښی وی، نو دوهم دم نه دی « بحر » ... یې په حناء سره نګولم داغه حکم دی، اوپه مبسوط چې داسی عبارت

واقع دی « رَاسَهُ وَلِحْیَتَه بِحِنَّاءٍ » هغو اوپه معناده اوده

مسئلہ

د دواء وغیره د پاره ماسواد حناء نخه لکه خطمی یا کنډری پر سر پرته احرام کی وتړپلی چې سر یې په پټ کړی بیا هم بودم د تغطیة الرأس پرلازم دی بالشرطین المذکورین کذا فی البحر وغیره « قال المصنف »

اَوِ ادَّهَنَ بِزَیْتٍ وَنَحْوِهِ

اویا ځان غوړ کړی یعنی یا سر یا مخ او یا بل ځای، په غوړو د زیتون د درختی کوم خوشبویه نه وی، اویا ځان غوړ کړی په مثل د روغن زیتون لکه غوړی د کنجتو یا غوړی د بادامو یا غوړی د کوفری وغیره الګ « والضابط فیه، هرهغه روغن اوتیل چې په عادت کی سر یا مخ یا بل ځای خلګ په غوړولو وی نو دهغو په غوړیدو سره دم لازم دی اوکه په عادت چا سر و مخ وغیره په هغو غوړولو نه غوړیږی لکه د واز ګو غوړی یا د لدغوړی نو په هغو وکد حاجی چا وړی د ډبنو یا لاسو په غوړی کړی دم نه لازمیږی،

مسئلہ

: د دغو تیلو غوړو او تیلو په خوړلو کی دم نه لازمیږی « وهذا حاصل ما فی البحر » قال المصنف

اَوْ لَبِسَ مُخِیطًا

یا واغوندی د رڼ سوی یعنی ګنډلی جامه هره جامه چې وی

فائدہ

مراد د لبس مخیط لبس معتاد دی نو که حاجی پس توګ یا اوزه واچوه یا قمیص په لنګ کړی یا یه صدری په غیر کی نیولی وه په دی شی نه لازمیږی کذا فی البحر قال المصنف

اَوْ سَتَرَ رَأْسَهُ یَوْمًا کَامِلًا اَوْ حَلَقَ رُبُعَ رَأْسِهِ

اویا یه پټ کړی سر چې هر یوده لبس مخیط او ستر الرأس یوه کامله ورځ وی، اویا یه وخروی سر په چا یه وی اوکه په موی پاک وی، حتی کی د زمیری و یښتان په لنسی وګنبه، حاصل دا دی چې مراد د حلق څخه لیری ګول دی د و یښتانو نو د سر یا د زیری وغیره په هر توګه چې وی، ولو که زیره یه اور لګیت وسوه ځې « قال

اَوْ مَحْجَمَهُ اَوْ اَحَدَ الْبَطْنِیهِ اَوْ عَانَتَهُ اَوْ رَقَبَتَهُ

اویا په څای د دوینو کښلو وخرایه اویا یه یوه تخر گوتخ (بغلو) وخرایه، اویا یه زیر ناف وخرایه اویا یه څټ وخرایه «

اَوْقَصَّ اَظْفَارَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ بِمَجْلِسٍ وَاحِدٍ اَوْ يَدًا اَوْ رِجْلًا

اویا یه پری کړه نوکان د دواړو لاسونو او دواړو پښو په یوه مجلس کی، اویا د یوه لاس یا د یوی پښی نوکان ځی پری کړه، نو په دغو صورتونو کی یو دم پرلاز ورکوی، او کی د یوه لاس نوکان په یوه مجلس کی پری کړه او د بل لاس نوکان یه په بل مجلس کی پری کړه دوه دمه پرلاز ورکوی، او کی د یوی پښی نوکان بیا په بل مجلس کی پری کړه درې دمه پرلاز ورکوی او کی د دیلی پښی نوکان هم په ورته ډول پری کړه څلور دمه پرلاز ورکوی ولذا قید المصنف بمجلس واحد، قال المصنف

اَوْ تَرَكَ وَاجِبًا مِمَّا تَقَدَّمَ بَيَانُهُ وَفِي اَخْذِ مَشَارِبِهِ حُكُومَةٌ

اویا پریږدی یو واجب چی بیان یه د مخه تیر سو اویه پریکولو کی د بریتو محکمه کیده د بزیری، ددی حکومت بیان دا دی چی سړی دی فکر وکړی چی دغه وهلی ویښتان د بزیری د ربع څومره حصه جوړه وی حتی که په دغه ویښتان د بریتو په اندازه داتی حصی وه، نو ربع الدم پرلاز ورکوی. قال

وَالَّتِي تُوجِبُ الصَّدَقَةَ بِنِصْفِ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ اَوْ قِيمَتِهِ

اوهغه شیان چی صدقه واجبوی په نیمی کاسه دغنمو یا په قیمت د نیمی کاسی هغه دادی، لکه چی حاجی

هِيَ مَا لَوْ طَيَّبَ اَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ اَوْ لَبِسَ مُخِيطًا اَوْ غَطَّى

خوشبویه کړی کم تر یوه اندامه، اویا ږغ کړی جامه واغوندی، اویا سر پټ کړی کم تر یوی ورځی

رَأْسَهُ اَقَلَّ مِنْ يَوْمٍ اَوْ حَلَقَ اَقَلَّ مِنْ رُبُعِ رَأْسِهِ اَوْ

اویا وخړئی کم تر څلورمی دسر اویا پری کړی یو نوك، اوغه رنګه دهر نوك په پری کولو کی نیمه کاسه

قَصَّ ظُفْرًا وَكَذَا لِكُلِّ ظُفْرٍ نِصْفُ صَاعٍ اِلَّا اَنْ يَبْلُغَ الْمَجْمُوعُ

د، مګر هغه وخت کی مجموع او یو نوله پری کړه نو ودمرته ورسیدی،

دَمًا فَيَنْقُصُ مَا شَاءَ مِنْهُ كَخَمْسَةٍ مُنْفَرِدَةٍ

نو بیادی کوم کړی ددمه څخه لکه چی یوسړی چی پری کړی پنځه نوکان جلا جلا، پوره سه، چی پنځه نوکان چی سره متصل وی خو پرده لانږ وه کمار اوس چی ده پنځه نوکان متفرق پری کړه په اندازه پنځو خو ورسیده، نو کم دم ذبح کی خو ښه کار دی، او که د نو کانو نو په حساب پنځه نیمی کاسی ورکوی چی تر دم کمین دی، هم دده خو ښه ده، قال المصنف

اَوْ طَافَ لِلْقُدُومِ اَوْ لِلصَّدْرِ مُحْدِثًا وَيَجِبُ شَاةٌ لَوْ طَافَ جُنُبًا

او غه رنګ صدقه د نصف صاع واجبه ده کی طواف وکړی د قدوم د پاره یا د صدر د پاره، په بی او ضا اووا جب دی شاة کی طواف په جنابت کی وکړی، قال

اَوْ تَرَكَ شَوْطًا مِنْ طَوَافِ الصَّدْرِ وَكَذَا لِكُلِّ شَوْطٍ مِنْ اَقَلِّهِ

اویا پرین دی یو شوط د طواف صدر یعنی صدقه د نصف صاع پرلاز مه ده اوغه رنګه نصف صاع پرلاز مه ده هر شوط د پاره د اقل وارو څخه یعنی چی دری دی، او کی اکثره پرینولو له بیا دم پرلاز مه دی، قال المصنف

اَوْ حَصَاةٍ مِنْ اِحْدَى الْجِمَارِ وَكَذَا لِكُلِّ حَصَاةٍ مَا لَمْ يَبْلُغْ رَمْيَ يَوْمٍ

او غه رنګه صدقه پرلاز مه ده کی پرینولو او یشتل د یوی د بری په یوه کی د جمارو او غه رنګه صدقه لاز مه وه د هری د بری د پاره ترهغو چی هغه متروک د بری وه رمی ته د یوی ورځی نه وی رسیدلی چی اوه دانی دی امام طحطاوی وائی که چیری د رمی ته د یوی ورځی ورسیدی یا اکثری حصی ته د یوی ورځی نو پرده شاة لاز مه دی، قال المصنف

اِلَّا اَنْ تَبْلُغَ شَاةً فَيَنْقُصُ مَا شَاءَ

مګر هغه وخت که مجموع د هغی چی متفرق وی پرده واجب صدقات وه قیمت د شاة ورسیدلی یعنی که ذبح وکړی خو ښه کار دی او صدقات په اندازه د هغو ورکړی چی تر شاة کمی وی هم کولای سی،

نودی کمولای سی د قیمت څخه د شاة هغه چې دده خوښه وی، قال المصنف

اَوْ حَلَقَ رَأْسَ غَيْرِهِ اَوْ قَصَّ اَظْفَارَهُ

اوده غه رنګه صدقه ده

سر د بل چا ګه هغه بل محرم وی که حلال، اویا محرم د بل چا نوکان او وږی کړي، **پوه سره**

چې محرم که د بل محرم سر وږ خړوی چې د محرم حالق او محلوق دا فعال د حج په ښیله طواف زیارت او د

د جمراتو ثلثه وو ښوله پوره وی یعنی جمره عقبه په ویشتلی وی او ښه د تمتع په ذبح کړی وی، او د

دواړه وقت د احلال راورسیدلی وي، نو نه د حالق او نه د محلوق شی ستنه، طواف که محرم د بل

سړي غوښه وږ خوشبویه کړه او یا په ګلنډلی کالی په واغوستی پرته غه محرم هیڅ شی نسته په اجماع

قال المصنف **وَإِنْ تَطَيَّبَ اَوْ لَبِسَ اَوْ حَلَقَ بِعُذْرٍ تَخَيَّرَ بَيْنَ الذَّبْحِ**

او که چیرې محرم خوشبوئی ولګول او یا یې کالی واغوستل او یا یې سر وخرابه دا ټول د عذر د سببه نو دی

اَوِ التَّصَدُّقِ بِثَلَاثَةِ اَصْوُعٍ عَلَى سِتَّةِ مَسَاكِيْنَ اَوْ

مختار دی که څښه ذبح کوی او که د دری کاسی غنم وشپږ مسکینانو ته ورکوی، او د دری ورځی

صِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ روژی نفلی، **وَالَّتِي تُوْجِبُ اَقَلَّ مِنْ نِصْفِ**

او هغه شی چې واجبوی کم تر نیمی کاسی هغه لکه حاجی چې سره

صَاعٍ فَهِيَ مَا لَوْ قَتَلَ قُمْلَةً کړی شپږه او یا سر کړی مالخ، درویش واړه

او نور **فَائِدَه**، د غه شیان په هره نوع کې که ترتیب یا لاوو یا صدقه د نصف صاع پرلا نه ورسوی، قال

وَالَّتِي تُوْجِبُ الْقِيْمَةَ فَهِيَ مَا لَوْ قَتَلَ صَيْدًا فَيُقَوِّمُهُ عَدْلَانِ

او هغه جنایات چې قیمت واجبوی لکه محرم چې ووژنی د بنکاری شی لکه کوتره، اوښی، د غره پسه وغیره،

فِي مَقْتَلِهِ اَوْ قَرِيْبٍ مِنْهُ فَإِنْ بَلَغَتْ هَدْيًا فَلَهُ الْخِيَارُ

نو هغه یکاره به قیمت ایږدی دوه عادلان کسان په هغه ځای کې د قتل یعنی که هلته کلی او خلګ وه، او یا نژ دی وه

إِنْ شَاءَ اِشْتَرَاهُ وَذَبَحَهُ اَوِ اشْتَرَى طَعَامًا وَتَصَدَّقَ

هغه ځای د قتل کړې چیرې هلته خلګ وه، نو کې قیمت د هدیه اندازې تر رسیدی یعنی پسه به راخرڅ کیږی نو ده ته اختیار دی کې خوښه یې پسه وذبح کړی

بِهِ لِكُلِّ فَقِيْرٍ نِصْفُ صَاعٍ اَوْ صَامَ عَنْ طَعَامِ كُلِّ

په رانسې او ذبح دی کې او په مسکینانو د حرم دی وویشی یعنی وده ته یې خورک ناروا دی، او یا دی رانسې د قیمت په روپو غنم او خیرات دی کړی

مِسْكِيْنٍ يَوْمًا وَلَوْ فَضَلَ اَقَلُّ مِنْ نِصْفِ صَاعٍ تَصَدَّقَ

د هر فقیر ته دی نیمه کاسه وږ کوی او یا دی روژی ونسی یعنی که څوک متفرق روژی ونیسی، د طعام د هر مسکین

بِهِ اَوْ صَامَ يَوْمًا چې نیمه کاسه وه په ځای کې یوه روژه او که زیات وو قیمت ترنیمه کاسه

کم نو دی هغه خیرات کړی او یا دی کوته روژه ونسی، قال المصنف

وَتَجِبُ قِيْمَةُ مَا نَقَصَ وَبِنَتْفِ شَعْرِهِ الَّذِي لَا يَطِيْرُ

او واجب دی قیمت د نقصان، یعنی صید یې تښې کړي چې سره د هغه تښه صید ځان سالی سوای،

بِهِ وَشَعْرِهِ وَقَطْعِ عُضْوٍ لَا يَمْنَعُهُ الْاِمْتِنَاعَ بِهِ

نو دا صید دی یو وار سالم قیمت کړی مثلاً قیمت یې دوه روپې وو، او یا دی تښې قیمت کړي مثلاً قیمت

یې یوه روپې سوه، نو ما بین القیمتین چې یوه روپې واجبه ده، او د غه رنګه قیمت د نقصان دی وږ

کوی په کښلو یعنی شکولو د هغه بنر کو د مرغه چې په هغو بنر کو د پرواز کاوه، لکه د نس بنر کې

یا د شا بنر کې، او د غه رنګه په کښلو د ویښتا نو د وسی مثلاً او یا په پرې کولو د اسی اندام چې صید به

نه منع کاوه دځان ساتنی څخه دښکاری لکه مثلاً غوښه یه وریږی کړی یا لکی، نوپه دغو تولو صورتو کی قیمت د نقصان پرمحرم لازم دی، په هغه معنا چی تیر سوه، یعنی یوواړه ی سالم د دغو عیبو څخه چی ذ محرم څخه وړ سید لی دی قیمت کړی، او بیادی د دغو عیبو سره قیمت کړی، نوپر محرم باندی مابین القیمتین واجب دی، قال المصنف،

وَتَجِبُ الْقِيمَةُ بِقَطْعِ بَعْضِ قَوَائِمِهِ وَنَتْفِ رِيشِهِ

اوواجب دی پوره قیمت د ښکار په پری کولو سره د بعض پښو یعنی لکه وُوسی داسی ښکار وو چی د پښو په څخاسته پی د ښکاری څخه څان خلاص وه او د غه رنګه پوره قیمت لازم دی په

وَكَسْرِ بَيْضِهِ

کښلو سره د تولو بښرکو د مُرغه، **درویش وائی** یا یه هغه بُنرکی مُندی وکابزی چی مرغه پروازنه کوی، لکه دونه، بُنرکی، او د غه رنګه پوره قیمت واجب دی په ماتولو سره د اګی د مُرغه، قال المصنف،

وَلَا يُجَاوِزُ عَنْ شَاةٍ بِقَتْلِ السَّبُعِ وَإِنْ صَالَ لَا شَيْءَ بِقَتْلِهِ

اوتیری نه کیږی تریوه پُسه یعنی کی څخه هم قیمت یه تریو پُسه باندی اوی، په وَرلو سره د درنده خیوانو چی غوښی ئی نه خوړل کیږی، لکه لیوه، پرانګ، فیل، سرکوزی، وغیره او که هغه درنده پرمحرم حمله وکړه اوده مرکی هیڅ شی نه وی نه قتل کی، قال المصنف،

وَلَا يُجْزِءُ الصَّوْمُ بِقَتْلِ الْحَلَالِ صَيْدَ الْحَرَمِ

او کفایت نه کوی د ورځی روژه په وژلو کی د حلال سړی صید د حرم بلکه حتماً به قیمت ورکوی بخلاف المحرم کما مرّ،

وَلَا بِقَطْعِ حَشِيشِ الْحَرَمِ وَشَجَرَةِ النَّابِتِ بِنَفْسِهِ

وَلَيْسَ مِمَّا يَنْبُتُهُ النَّاسُ بَلِ الْمُقِيمُ

اونه کفایت کوی ورځی روژی په قطع د کولو کی د درختی چی سنه سوی وی پخپله یعنی چا نه وی سړ ی کړی، اونه وی د غه درخته د جنسه څخه د هغو درختو چی خلګ د هغو قطعه

سنی کوی بلکه لازم یږی قیمت،

پوه سه: چی د درختی د حرم څرنګه څلور قسمه دی،

د حرم درختی پر څلور قسمه دی

د درو قسمو درختو په قطعه کولو او نفع په اخستلو کی هیڅ جزاء نسته اونه د هغه قطع جنایت دی،

۱ هغه درخته د چی خلګ یه سنه کړی او دا درخته هم د جنسه څخه د هغو درختو وی چی خلګ ئی سنی کوی، لکه دانارو، انګورو، توت وغیرها،

۲ هغه درخته د چی خلګو خوسنه کړی وی مګر دا درخته د جنسه د هغو درختو نه وی چی خلګ ئی سنی کوی لکه د غرو لبض درختی،

۳ هغه درخته د چی سنه پخپله سی یعنی چا نه وی سنه کړی لکن د هغو درختو د جنسو څخه وی چی خلګ یه سنی کوی لکه د غرو انځر یا د غرو انګور یا د غرو نرمبتو وغیره،

۴ هغه قسم درخته د چی په قطع کولو کی جزاء سته یعنی قیمت، هغه هغه درخته د چی سنه سوی پخپله وی یعنی په قدرتی توګه، اونه وی د جنسه څخه د هغو درختو چی خلګ ئی سنی کوی،

فائده: څلورم قسم درخته عامه ده که د سړی په مملوکه محکه کی سنه سوی وی، او یا په غرو او شارو محکو کی سنه سوی وی، فقهاءُ وائی چی که د سړی په محکه کی د کیکرو درخته پخپله سنه سوی وَه، بل سړی قطع کړه پر قاطع باندی دوه قیمته لازم دی یو د جهته د شرع او بل به تاوان و مالک ته د محکی ورکوی،

مسئله: چی قاطع تاوان و مالک ته هم ورکی مګر دی په هغه درخته سره یعنی په لرګی سره ئی نفع نه سی احتسلای مثلاً چی د خونې بناء یروکړی، هذا حاصل ما فی الکفایة شرح الهدایة، قال

وَحُرِّمَ رَعْيُ حَشِيشِ الْحَرَمِ وَقَطْعِهِ إِلَّا الْإِذْخِرَ وَالْكَمْأَةَ

اوحرام دی پوول په لیسو یا په اوښا نود و ښو د حرم او ربیل یه مګر سرګړی او پوځکی چی د هغو قطعه روا ده کما جاء فی الحدیث النبوی، پوه سه چی و اښه هغو ښا تا تونه نه وائی چی یه قدرتی توګه

شنه سوی وی، نوکه سړی پخپله محکه کی شپشتی یا غوسټل وغیره کړلی وه د هغو قطع روا ده کما مر
فی الاښجار آنفا. قال المصنف:

فَصْلٌ وَلَا بَأْسَ بِقَتْلِ غُرَابٍ وَحِدَأَةٍ، وَعَقْرَبٍ،

او نه واښته یعنی شی مه لازمیږی یعنی نه په حرم کی او نه په احرام کی فتح القدیر، په وژلو

وَفَأْرَةٍ، وَحَيَّةٍ، وَكَلْبٍ عَقُورٍ وَبُعُوضٍ وَنَمْلٍ وَبَرْغُوثٍ

سره دکار نګه اوږه وزلوسره د پسوس او لړه او موږک، او مار، او خړوړی سپی او غوا شی او میږی او د کیکی او منګور پیاد سپی د مچ او

وَقُرَادٍ وَسُلْحُفَاتٍ وَمَا لَيْسَ بِصَيْدٍ دکشف چې په فارسی یه سنګریشت

بولی، او بعض اهل لغت یه ترجمه په بابنه کوی چې بومړغه دی، او هغه ړنګه شئی نشته په وژلو کی د هغه شی چې دښکار دقسمه نه وی لکه چغال، لیوه، وغیره، قال المصنف:

فَصْلٌ الْهَدْيُ أَدْنَاهُ شَاةٌ وَهُوَ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَ

دافضل دی په هدیو کی دمکی مکرمی، کمه زنجه د هدیو پسه دی چې یوکال پرتیر سوی وی، او هدیه

الْغَنَمِ وَمَا جَازَ فِي الضَّحَايَا جَازَ فِي الْهَدَايَا

داوښ په جنس سره روا ده بلکه دایه اعلی قسم دی مګر چې پنځو کلونه رسیدلی وی، او د غواګ په جنس کی هم کیدای سی دایه اوسط وی چې دوه کاله عمریه پوره کړی وی، او د پسه په جنس کی هم کیدای سی چې دایه ادنی درجه هدیه ده، او هغه حیوان چې په اختر یا نوکی ورکړای وی هغه حیوان په هدیو کی هم روا دی، یعنی پداعتبار د عمر او عیبونه د ژوړلو کما هو مذکور مفصلاً فی باب الاضحیة فی جمیع کتب الفقه، قال المصنف:

وَالشَّاةُ تَجُوزُ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي طَوَافِ الرُّكْنِ جُنُبًا

اوپسه روا دی په هرهغه ځای کی چې په هغه کی د عرفه کی سوی دی مګر نه کوی دی چیری طواف رکن په جنابت سره وکړی او غه رنګه حکم دی چې طواف رکن د حیض او نفاس په وخت کی وکړی، ولی سبب د تغلیظ د جنایت په دروسره وو کی یودی، قال المصنف:

وَوُطُوءٌ بَعْدَ الْوُقُوفِ قَبْلَ الْحَلْقِ فِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَدَنَةٌ

اوبل وطی دی په عرفات ولی کړه قبل الوقوف وطی وکړی نو په هغه ځای کی د عیب دی ذبح کړی او خورلک دی کافی دی په هرجنایت کی مګر نه چې طواف رکن یعنی طواف زیارت ئی په جنابت سره وکړی، او په وکړی پله وقوف د عرفات لکن د محنه ترسره خړ بلو، ولی چې په دوارو کی پرحاجی اوس لازم دی، ولی چې جنایت یه لوی دی نو جبیره یه هم باید لووی، قال المصنف:

وَخُصَّ هَدْيُ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ بِيَوْمِ النَّحْرِ فَقَطْ وَخُصَّ

اوخاص کړه سوی ده هدیه د تمتع اوقران په ورځ پوری د اختر فقط دا تخصیص دی په زمانه پوری، او

ذَبْحُ كُلِّ هَدْيٍ بِالْحَرَمِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ تَطَوُّعًا وَتَعَيَّبَ

خاص کړه سویده ذبح د هرهدیه په حرم پوری قال ط ولا یشترط منی آه، مګر هغه وخت کې هدیه د تطوع وه او

فِي الطَّرِيقِ فَيُنْحَرُ فِي مَحَلِّهِ وَلَا يَأْكُلُهُ غَنِيٌّ وَفَقِيرٌ

پلار کی عیب څنه سوه یعنی ترحرم نه وه رسیده، نو په هغه ځای کی د عیب دی ذبح کړی او خورلک دی نه خُندی کوی غنی سړی، او فقیر د حرم او غیر حرم سره برابر

الْحَرَمِ وَغَيْرِهِ سَوَاءٌ

دی په خورلک د هغی هدۍ، قال ط لکن فقیر الحرم افضل،

پُوهه سه

چې نوری هدایا وی تخصیص په مکان پوری نه لری، نو تطوع هدیه چې حرم

شته سوی وی، نوکه سړی پخپله محکه کی شپشتی یا غوښتل وغیره کړلی وه د هغو قطع روا ده کما مر
فی الاشجار آنفا، قال المصنف:

فصل ولا بأس بقتل غراب وحدأة وعقرب

او پاتې شته یعنی شی مه لازمیږی یعنی نړ په حرم کی او نه په احرام کی فتح القدیر، په وتر لو

وفارة وحية وكلب عقور وبعوض ونمل وبرغوث

سړه دکاږکه او په وتلو سره د پیسوس او د لپړ او د مور لک او د مار، او د خروړی سپی او غوما شی او د میږی او د
کیکی او د منګور پیاز سپی د مچ او

وقراد وسلحفات وما ليس بصيد

دکشف چې په فارسی یه سنګ پشت
بولی، او بعض اهل لغت یه ترجمه په بابنه کوی چې یو مرغه دی، او هغه ر نګه شی نشته په وتر لو کی د هغه
شی چې دښکار د قسمه نه وی لکه چغال، لیوه، وغیره، قال المصنف:

فصل الهدى أدناه شاة وهو من الإبل والبقر و

د افضل دی په هدیو کی دعلی مکرمې، کمه درجه د هدیو پسه دی چې یو کال پر تیر سوی وی، او هدیه

الغنم وما جاز في الضحايا جاز في الهدايا

د اوښ په جنس شړ روا ده بلکه دا یه اعلی قسم دی مګر چې پنځو کلونه ر سیدلی وی، او د غوا ئ
په جنس کی هر کیدای سی دا یه اوسط وی چې دوه کاله عمر یه پوره کړی وی، او د پسه په جنس کی
هر کیدای سی چې دا یه ادنی درجه د هدیه ده، او هغه حیوان چې په اختر یا نو کی ذ بح اوی هغه حیوان په
هدیو کی هم روا دی، یعنی په اعتبار د عمر او عیبونو د لوولو کما هو مذکور مفصلاً فی باب
الاضحیة فی جمیع کتب الفقه، قال المصنف:

والشاة تجوز في كل شئ إلا في طواف الركن جنبا

او پسه روا دی په هر هغه ځای کی چې په هغه کی د مړ ذکر سوی دی مګر نه کړی چې یری طواف ر کن په جنابت نړه
وکړی او د غه ر نګه حکم دی چې طواف ر کن د حیض او نفاس په وخت کی وکړی، ولی سبب د تغلیظ
د جنایت په دړو سره ووکی یو دی، قال المصنف:

ووطؤه بعد الوقوف قبل الحلق ففي كل واحد منهما بدنة

او بل وطی دی په عرفات ولی کر قبل الوقوف وطی وکړی حج یه فاسد سو قضا یی اوری بل کال او د غه د سره عمر ته پسی پوره کوی، او په
کافی دی په هر جنایت کی مګر نه چې طواف ر کن یعنی طواف زیارت ئی په جنابت سره وکړی، او یا یه جماع
وکړی پله وقوف د عرفات لکن د محنه تر سره خړ بلو، ولی چې په دواړو کی پر ما جی اوښ لازم دی، د ا چې
جنایت یه لوی دی نو جبیره په هم باید لووی، قال المصنف:

وخص هدى المتعة والقران بيوم النحر فقط وخص

او خاص کړه سوی ده هدیه د تمتع او قران په ورځ پوری دا ختر فقط دا تخصیص دی په زمانه پوری، او

ذبح كل هدي بالحرم إلا أن يكون تطوعا وتعيب

خاص کړه سویده ذبح د هر هدیه په حرم پوری قال ط ولا یشترط منی آه، مګر هغه وخت کې هدیه د تطوع وه او

في الطريق فينحر في محله ولا يأكله غني وفقير

پلار کی عیب جنه سوه یعنی تر حرم نه وه ر سیده، نو په هغه ځای کی د عیب د ی ذبح کړی او خوړ لک دی
نه خندی کوی غنی سړی، او فقیر د حرم او د غیر حرم سړه برابر

الحرم وغيره سواء

دی په خوړ لک د هغی هدئ، قال ط لکن فقیر الحرم افضل،

پوه سه

چې نوری هدایا وی تخصیص په مکان پوری نه لری، نو تطوع هدیه چې حرم

نه ور سیده. یا نو تخصیص په یوم النحر پوری نه لری، وهو الصحیح نعم الذبح یوم النحر افضل. بحر

وَتُقَلَّدُ بُدْنَةُ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ فَقَطْ

اوپه غاړه دی کی یوه غاړنگ غوندی شی ور واچوی د اوښ د تطوع او د تمتع او د قران فقط قال ط وهذا سهو فقط آه قال المصنف:

وَيَتَصَدَّقُ بِجِلَالِهِ وَخِطَامِهِ وَلَا يُعْطِي أَجْرَ الْجَزَّارِ مِنْهُ

او خیرات دی کړی خلان د هدایا وو او مهارونه، د هغو اوند ور کړه کیږی مزدوری د قصاب د هدایا وو د غوښو څخه. هو کی علاوه پرمزدوری د خیرات په توګه غوښې ورکړی پرواند لری. قال

وَلَا يَرْكَبُهُ بِلَا ضَرُورَةٍ

اوند دی سپرښ دی هدیه والا پس اوښ د هدی په بیله ضرورته، لکه چی هدایا والا ناجوړ وی یا ضعیفه سپین ښ دی وی، قال فی البحر ولا یحمل علیها ایضا، یعنی بار دی هم نه پرې باندی کوی. اوکه سړی بی ضرورته پرې سپور سی، اویا بار پرې باندی کی هدیه ته لږ تاوان ور سیږی د نقصان ضمان ور کوی. بحر. قال المصنف:

وَلَا يُحْلِبُ لَبَنُهُ إِلَّا بَعْدَ الْمَحَلِّ فَيَتَصَدَّقُ بِهِ وَيُنْصَحُ

اوند لوښل کیږی شیدی د اوښی د هدیه مګر هغه وخت لوښل کیږی چی ځای د ذبح لیږی وی

ضَرْعُهُ إِنْ قَرُبَ الْمَحَلُّ بِالتُّقَاعِ

یعنی بیږیږی کی وینه لوښی غولانځ بی خرابه سی، او هغه شیدی دی هم خیرات کی. او اوږی پاشی پرغولانځ د لنګی وښی کم ځای د ذبح یر نږدی وو په یخوا وبوتا چی شیدی وی سی او د لوښنګ ضرورت دفع سی.

خدایه وبښی مؤلف او هم کاتب: ته قبوله کړی دعا د هر غائب.

وَلَوْ نَذَرَ حَجًّا مَاشِيًا لَزِمَهُ وَلَا يَرْكَبُ حَتَّى يَطُوفَ

اوکه یوچا پرځان نذر ورکړی ج پرپښو باندی، نو د نذر د پوره لازم دی، خو که واقعی احرام په وتاړه نو به پیاده روانیږی، فقها ته وائی چی دکوم اونه به سپرښ دی د طواف رکن ترکولو پورې، اوکه سپور سو نو پس د لازم دی دم د هغه وینی دی ویښ

لِلرُّكْنِ فَإِنْ رَكِبَ أَرَاقَ دَمًا

وَفُضِّلَ الْمَشْيُ عَلَى الرُّكُوبِ لِلْقَادِرِ عَلَيْهِ وَفَضْلُ اللَّهِ

قال المصنف

اوتفضیل ورکړه سوی دی پیاده تګ وحج ته ترسپر تیا وحج ته هغه چا ته چی قادر وی پرپیاده تګ، او

تَعَالَى بِفَضْلِهِ وَمَنَّ عَلَيْنَا بِالْعُودِ عَلَى أَحْسَنِ حَالٍ إِلَيْهِ

خدای تعالی دی توفیق راکړی مونږ ته پخپل فضل او احسان سره په بیا ورته لومړنۍ حال باندی و

بِجَاهِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حج ته مشرف سو یعنی په صحت

اوعافیت او محبت او اخلاص سره، په عزت د سیدنا محمد صلی الله علیه وسلم، او د رویش واقی چی ای الله جل جلالک، نکه چرته پخپل فضل وکرم ما عاصی ته په ۱۴۲۳ کال د عرق، په عمر کی د ۸۵ کالم تحمیلا کی توفیق د عود د حج ته راکړی، اوپه صحت او عافیت او خوشحالی سره دیو ځل بیا خپل کلی حج وکړی، نو اوس بیا په دیر عجز او احترام ته عرض کوم چی په راتلونکو کلونو کی بیا د حج نصیب وکړی سره د بیله زړه. وَمَا ذَالِكَ عَلَيْكَ بِعَزِيزٍ. بِحُرْمَةِ الْحَرَمَيْنِ الشَّرِيفَيْنِ آمين.

دکتاب نوم: جلد دریم پښتو نور الایضاح.

د مصنف نوم: حضرت مولانا محمد عُبَيْدُ الله ایوبی السلیما نخیلی مَدَظِلُّه

د لیکونکی نوم: قاری محمد فضل الحق حقانی: مکتبة القراءة والتجوید.

فصل فی زیارۃ النبی صلی اللہ علیہ وسلم

د افضل دی په بیان کی د زیارۃ د نبی علیه الصلوٰۃ والسلام:

درویش وائی: چی د دی فضل زده کړه او عمل په کول د اهل السنة والجماعة پر طریقه چی په کتابونو کی د احادیثو وو مبارکه وو او په کتابونو کی د تفاسیرو د علماؤ دین، او په کتابونو کی د فقهاؤ و محققینو لازم دی پر مسلمانانو. **نو واوره:** چی په فتاوی شامیه او په طحطاوئ او په فتح القدیر وغیرها کی وائی چی خوك چی زیارت د قبر انور د علیه الصلوٰۃ والسلام کی او سفر کوی خالصاً په نیت د زیارت د قبر انور دی د اسفر کوی، او بعض فقهاؤ وائی چی نیت دی د زیارت د مسجد نبوئ هم ورسره وکړی، لکن وهابیان وائی که خوك سفر وکړی و مدینی منورې ته په نیت د زیارت د قبر انور نبوئ. انفراداً او اشتراکاً فهو مشرك: ابن الهمامؒ صاحب د فتح القدیر وائی چی اولی په ټیزه عبد ضعیف داده چی دی دې په سفر کی د مدینی منورې خاص الخاص نیت د زیارت د قبر انور نبوئ کوی، ولی چی دی قبر ته د نبی علیه الصلوٰۃ والسلام په ورتګ سره: یُجعلُ لَهٗ، وده ته حاصلیږی نعمت د زیارت د مسجد نبوئ نو هغه نیت دی هلته وکړی، ابن الهمامؒ وائی چی په محض نیت کولو د زیارت د قبر مقدس د پاره د تعظیم او اجلال دی د آنحضرت صلی اللہ علیه وسلم، لکن درویش وائی چی دیده مرغه مخالفین د تعظیم د غیر الله شرك ګڼلو، العیاذ بالله عن مثل هذه العقول، وهذا القول، ابن الهمامؒ وائی «وَیُوَافِقُهٗ ظَاهِرًا قَوْلُهٗ صلی اللہ علیه وسلم مَنْ جَاءَنِیْ زَائِرًا لَا تَعْمِلُهٗ حَاجَةٌ الَّا زِیَارَتِیْ کَانَ حَقًّا عَلَیَّ اَنْ اَکُوْنَ لَهٗ شَفِیْعًا یَوْمَ الْقِیَامَةِ» او رحمتی د عارف حقانی المولی المجامیؒ د اسی نقل کړی دی، چی ده به زیارت د قبر انور په علیحده سفر ورته بیله سفره د حج هم ګاڼی کاوه، تا چی د دلته په هغه سفر کی بیله زیارت د قبر انور بل شی نه وی، درویش وائی چی عاشقان د ذات پاك د نبی علیه الصلوٰۃ والسلام هم د غسی کوی چی معشوق ته دده د زیارت د پاره ډیر ډیر مشاق او تکلیفونه برخان وړی د عشق کار جلا دی،

او عاشق صادق الملاحسنؒ تلوانی هغه خلګ نقل کوی چی دی په هغه وخت کی چی د سفر د حج په قافلو کی کیدی د قندهار د پخل وطن د تلوکان څخه حج ته تللی وو او د زیارت د قبر انور به هم کړی وو

چی پسله یوه کاله د سفره د حج څخه د وطن تلوکان ته راوړ سیدی مخلصان او مریدانو یه په ډیر جوش او خروش سره استقبال کړی وو او اهل بیت د ده هم ډیر ده، ولیدلو ته ډیر وه، راوی وائی چی څه وخت چی د خپل سرای ودانی ته راوړ سیدی تا کاه د عشق محمدی صلی اللہ علیه وسلم لمبه او اور یه په زړه کی بل شو نو مخلصانو ته ئی وویل چی که زهٔ محبوب صلی اللہ علیه وسلم زما څخه ګیله وکړه چی ته خو زما قبر ته تبعاً للحج راغلی وی قصداً و بالذات نه وی راغلی نو زه به څه جواب ورکومه،

هغه وو چی دایه وو ویل مخلصانو ته ئی وویل چی زه بیرته حرم عربستان ته پریښو د پاره د زیارت د قبر انور نبوئ مخلصانو چی هر څوا صرار پرو کړی چی بخښنه ورځی ارام وکړه بیا به ولاړ سی، لکن په اورد عشق سوی زړه د حسنؒ داخبره و نه منل هغه وو چی د اهل خانه سره یه په دروازه کی ملاقات وکړی او مخلصانو څخه رخصت واخستی او د مدینة الرسول صلی اللہ علیه وسلم پر خوا روان سو او پسله یو کاله په مقصد کی کامیابه وطن ته راستون سو، فرحمه اللہ تعالیٰ فهذا هو مآل العشاق، حافظ ؒ ؎ نگوئی این سخن کفراست اگر گوئی شوی کافر؛ بروای مرغی نادان چه دانی حال مستان را،

درویش وائی چی په حدیث شریف کی متفق علیه د بخاریؒ او مسلمؒ دی، د اسی راغلی دی، لَا تُشَدُّوا الرِّحَالَ اِلَّا لِثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ مَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَسْجِدِیْ هٰذَا، وَالْمَسْجِدِ الْاَقْصٰی، او مخالفان په دغه حدیث سره انکار کوی چی خوك چی په قصد د زیارت د قبر انور مدینی منورې ته سفر کوی هغه سفر حرام بلکه شرك دی، **جواب:** په دی حدیث شریف کی خو مستثنیٰ منه محذوف ده کما لا یخفی علی من له ادنیٰ المام بعلم النحو، نو موږ د مخالف څخه پوښتنه کوو چی هغه مستثنیٰ منه لفظ د مکان دی، یعنی تاسی سفر هیڅ ځای ته مه کوی مګر دوه دری مسجدونه، نو باید سفر د پاره د تجارت یا سفر د پاره د طلب العلم هم حرام وی: مع ان المخالف لا یقول به،

نو دا معلومه سوه چی معنا د حدیث مذکور هغه ده چی حضرت الامام الغزالیؒ په احیاء العلوم کی بیان کړیدی یعنی لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلٰی مَسْجِدٍ مِنَ الْمَسَاجِدِ اِلَّا لِهٰذِهِ الثَّلَاثَةِ، نو حاصل د حدیث دادی چی تاسی سفر مه کوی په نیت د ثواب د لمانځه وغیره من العبادات مګر دغه دری مسجدونه، ولی په دغو نورو مسجدونو کی ثواب نه د عباداتو مضاعف کیږی او نور مسجدونه سره برابر دی په ثواب کی،،

درویش وائی دغسی معنا دحدیث مذکور علامه شامیؒ اوفقیه ابوجعفر الطحاویؒ اوابن الهمامؒ اونورو چیرو فقهاوؤ اومحدثینوؤهم کړیده، لکن دافسوس ځای دادی چی مخالفین نه د فقه کتاب مني اونه د مجتهدینو خبره مني، اودشار حانوؤ دحدیثو مبارکه ووچی ددوی دړانۍ څخه مخالفه وی هم ځی نه مني، والی الله المشتکی،

فائده: چیر خلک وائی چی علماء دیوبند دسفر څخه ومدینی منوری نه په نسبت د زیارت دقبرانورنبویؐ منکردي، اودعصرحاضرنو وهابیان ددوی په انکارسره استدلال وائی لکن مولوی محمد اعزاز علی الدیوبندیؒ په حاشیه کی دنورالایضاح ص۱۸۶ کی داسی وائی، ومن ههنا ظهر بطلان ما اختلق علی مشائخنا الدیوبندیۃ انهم منعوا زیارۃ قبر علیه الصلوٰۃ والسلام بعد السفر الیه، کیف لاوقد صرحوا قولاً وعملاً انها من افضل التجربات انتهی، قال المصنف:

عَلٰی وَجْهِ الْاِخْتِصَارِ تَبَعًا لِمَا قَالَ فِی الْاِخْتِیَارِ

اوزیارت دنبی علیه الصلوٰۃ والسلام نه ذکر کوم پرطریقه دلته ذکر په متابعت دهغه چی وئیلی دی په اختیار کی، چی کتاب دنومړی درویش وائی چی چونکه بیان دزیارۃ النبی علیه الصلوٰۃ والسلام پروجه دتمام اوکمال بیخی دیر وو حتیٰ چی علماء حضراتو په دی باب کی غټ غټ کتابونه تصنیف کړی دی، نوهغه ټوله بیان دزیارۃ النبی علیه الصلوٰۃ والسلام په دی مختصرکتاب کی ګنجایش نه وو نوځکه یه ووئیله پروجه داختصار «لانهم قالوا: مالا یدرک کله لایترک کله، قال المصنف:

لَمَّا کَانَتْ زِیَارَۃُ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ مِنْ اَفْضَلِ الْقُرَبِ وَاَحْسَنِ الْمُسْتَحَبَّاتِ بَلْ تَقْرُبُ مِنْ دَرَجَۃِ مَا لَزِمَ مِنَ الْوَاجِبَاتِ

چونکه وزیارۃ دنبی علیه الصلوٰۃ والسلام دافضله څخه دثواب کارو اودښو مستحبو کارو څخه بل تقرب یعنی نژدی دی ودرجی ته دهغه کارو چی دواجبو کارو څخه ذی، قریبجم دقریبه ده یعنی دثواب کار،

فَاِنَّہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ حَرَّضَ عَلَیْهَا وَبَالَغَ فِی النَّدْبِ اِلَیْهَا فَقَالَ مَنْ وَجَدَ سَعَۃً وَلَمْ یَزُرْنِی فَقَدْ جَفَانِی، وَقَالَ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ مَنْ زَارَ قَبْرِی وَجَبَتْ لَہٗ شَفَاعَتِی

ولیجی علیه الصلوٰۃ والسلام دیرباعث والی کړی دی پرزیارت خپل او دیره مبالغه یی کړیده په ترغیبولو واستبانو ودی زیارت ته، نوعلیه الصلوٰۃ والسلام ووئیله که چا فراخی دقدرت مالی درلوده اوزما زیارت یه ونه کړی، نوزما سره ئی جفا اوبی وفایی یه وکړه، اووی وئیل علیه الصلوٰۃ والسلام که زیارت وکړی زما دقبر واجب اوثابت دی هغه لره زما شفاعت، درویش وائی چی په دغه حدیث کی د بلیغ دی پرځای لفیونه باندی، والا آنحضرت صلی الله علیه وسلم ووئیله مَنْ زَارَ قَبْرِی، اوداسی نه ووئیل مَنْ زَارَ مَسْجِدِی، قال المصنف:

وَقَالَ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ مَنْ زَارَنِی بَعْدَ مَمَاتِی فَکَاَنَّمَا زَارَنِی فِی حَیَاتِی اِلٰی غَیْرِ ذٰلِکَ مِنَ الْاَحَادِیْثِ

اووئیل علیه الصلوٰۃ والسلام کرخوک نوزیارت وکړی زما پسله مرګه زما داسی دی ګویاده زیارت وکړی زما په وخت کی دژوندو زما، اوما سوادګوحدیثونو نوره هم احادیث نبویه موجودی یعنی په سبب طول دهغواودوضع دکتاب پراختصار نه ټوله نسوه ذکر دیرکسان په زړه کی دا ورګرځی چی په حال کی دحیات دی چا نبی علیه الصلوٰۃ والسلام لیدلی دی هوصحابی بلل کیږی، نوپه مقتضی ددغرحدیث باید زیارت کوونکی دقبرشریف یه هم صحابی وبلل شی ولم یقل به احدٌ **جواب** په علم بدیع د تلخیص والی چی تشبیه دشی په شی سره عموم نه غواړی کما فی قولنا: زَیْدٌ کَالْاَسَدِ، بلکه مشارکت دمشبه اومشبه به غواړی په یووجه کی، دشبهی کما فی المثال المذکور چی اشتراک دزید اواسد صرف اوصرف په شجاعت کی

مراد دی د تشبیه څخه، نو بناءً علی هذا د حدیث مذکور معنا داوه چې په ثواب او اجر کې نه ابر الحیات والزائر بعد المماتِ سره شریکان دي، ولو کان المشبه به اعظم اجراً تامل، قال المصنف:

وَمِمَّا هُوَ الْمُقَرَّرُ عِنْدَ الْمُحَقِّقِينَ إِنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوله ښوونځیو څخه، اوه پرسیزه محققانو فقهاوو، اوه صوفیه کرامو څخه چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم

حَيٌّ يُرْزَقُ بِجَمِيعِ الْمَلَاذِّ وَالْعِبَادَاتِ غَيْرَ أَنَّهُ حُجِبَ

ژوندی دی یعنی په حیات برزخي سره، چې ده ته برزق ورکول کیږي او دی مبارک فایده اخستونکی دی په

عَنْ أَبْصَارِ الْقَاصِرِينَ عَنْ شَرِيفِ الْمَقَامَاتِ

ټولو لدنې شیانو سره او په عباداتو سره لکن دی مبارک محجوب سوی دی یعنی مستور دی د سترګو بلکه د معقولو څخه د هغو کسانو چې هغه کوتاه نظره دي، د لوړو مقاماتو څخه علیه الصلوٰة والسلام سه الشمس تحجب ان مرة الضرر والعسل عسلاً وان لم یجد طعمه فاء المرء، د رولیش وائی چې هغه کسان چې په تحجیر د عقل صرف تړلي دي هغه د اخبرې هیڅ نه مني، قال المصنف:

وَلَمَّا رَأَيْنَا أَكْثَرَ النَّاسِ غَافِلِينَ عَنْ أَدَاءِ حَقِّ زِيَارَتِهِ

مصنف وائي هرکله چې موږ لیدل چې د هرکلي کسان چې غافله تر دې اندازه کوتاه څخه د حق د زیارت النبي ﷺ او غافله وه د هغو

وَمَا يَلِينُ لِلزَّائِرِينَ مِنَ الْكُلِّيَّاتِ وَالْجُزْئِيَّاتِ أَحْبَبْنَا

شیانو څخه چې ښه وي زائرینو د روضه مقدسه اوه قبر انور چې هغه بعض په کلیات دي یعنی شریکي ټول

أَنْ نَذْكُرَ بَعْدَ الْمَنَاسِكِ وَآدَابِهَا نُبْذَةً مِنَ الْآدَابِ تَتْمِيمًا

دلته مابین کې د روضه مطهره او نور د مسجد نبوي څخه خبرې چې جزئي دي یعنی خاص په زیارت یعنی د قبر انور دي نه ذکر کوو بلکه د مسجد او بعض هغه خبرې چې جزئي دي یعنی خاص په

پاتې مناسکو یعنی د حج او د اداء د حج چې یولس څه بیان کړو دا دا بولس څه د زیارة النبوی ﷺ دپاره د پورته کولو د فائدې د کتاب یعنی نور الایضاح، لِفَائِدَةِ الْكِتَابِ،

فَنَقُولُ يَنْبَغِي لِمَنْ قَصَدَ زِيَارَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو موږ وایو چې بنائي هغه چا ته چې قصد وکړي د زیارت ته د نبي علیه الصلوٰة والسلام چې د دې دوائي

أَنْ يُكْثِرَ مِنَ الصَّلَوَاتِ عَلَيْهِ فَإِنَّهُ يَسْمَعُهَا وَتُبَلَّغُ إِلَيْهِ

درود ورته ووایي، ولې چې علیه الصلوٰة والسلام یې اوري یعنی که څوک وایي ط اویا په ذریعه د ملکو د رسول

وَفَضْلُهَا أَشْهَرُ مِنْ أَنْ يُذْكَرَ فَإِذَا عَايَنَ حِيطَانَ

کیږي د لیږلو وړ کما ثبت فی الاحادیث النبویة د «افضلیت د درود د ویلو د پیرښوونې د اوستنې دی د دې څخه چې ذکر شوه کړه سې نو هرکله

الْمَدِينَةِ الْمُنَوَّرَةِ يُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې د ده ولیده د مدینې منورې نو درود دی ووائي پر نبي علیه الصلوٰة والسلام باندې، ط «وائي چې مدینې ته چې منوره وائي په اعتبار د صاحب د هغې چې نبي علیه الصلوٰة والسلام دی» او درود په فضائلو کې بایدد احادیثو کتابونه مطالعه سې، قال المصنف:

ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُمَّ هَذَا حَرَمُ نَبِيِّكَ وَمَهْبِطُ وَحْيِكَ فَامْنُنْ

بیا دی ووائي یا الله ج دا حرم دی د نبي ستا او ځای دی د نازلیدو د وحي پس احسان وکړې پرما باندې په

عَلَيَّ بِالدُّخُولِ فِيهِ وَاجْعَلْهُ وِقَايَةً لِي مِنَ النَّارِ وَأَمَانًا

داخلیدو د دې حرم او وګرځوې داخلیدل د دې حرم ساته مالره او راته څخه یعنی د دوزخ په ورځ د قیامت کې

مِنَ الْعَذَابِ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْفَائِزِينَ بِشَفَاعَةِ الْمُصْطَفٰى

اومامانه وګرځوی د عذاب نجات اووګرځوی ماچی کامیاب شم په شفاعت د مصطفیٰ

يَوْمَ الْمَآبِ به ورځ د رجوع کولو ناته ای خدایه چی ورځ د قیامت ده، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَغْتَسِلُ قَبْلَ الدُّخُولِ اَوْ بَعْدَهٗ قَبْلَ التَّوَجُّهِ اِلَى الزِّيَارَةِ

اوبیادی غسل وکړی د مخه ترد خول د مدینی یا وروسته ترد خول د مخه ترقصد د زیارت نبوی ته کړی

اِنْ اَمْكَنَهٗ وَيَتَطَيَّبُ وَيَلْبَسُ اَحْسَنَ ثِيَابِهٖ تَعْظِيْمًا

غسل کول وخت ته ممکن وی، د دولیش والی چی په زمان حاضر کی چونکه بیاره مدینی منوری په میلومسافت

لِلْقُدُوْمِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَدْخُلُ

فراخ سوی دی، اوافاقی حاجیان په مؤتمرانو کی د معلمانو سیارو وی هیڅ موقع نه دربیری ترهغه وخته

اَلْمَدِيْنَةَ الْمُنَوَّرَةَ مَاشِيًا اِنْ اَمْكَنَهٗ بِلَا ضَرُوْرَةٍ

پوری چی حاجیان و خپلو اوطاقونه چی په داخل کی دی ناری وړی رسوی، نوقبل الدخول وبیاته غسل کول هیڅ امکان نه لری

البته بعد الدخول والاستقرار فی المحل غسل ممکن دی، خکه مصنف: اِنْ اَمْكَنَهٗ وویایه اوداغسل د مخه ترقصد د زیارت نبوی ته کوی، اوخوشبوئی دی ولګوی، اووار غوندی هغه پنه دکالو خپل د پاره د تعظیم د تلو وقت نبوی ته، اوبیادی داخل سی مدینی منوری ته پیاده که چیری ممکن وی بیله ضرورته

یعنی بی ضرورته، د درویشانو والی چی مدینه منوره ډیره فراخه سوی ده نوپیاده تګ وحاجیانو ته ډیر مشکل دی خصوصاً

هغه کسانو ته چی د معلمانو په بسانو کی مدینی منوری ته راځی، وی چی د حاجیانو نو ټولو سامان دبس پرسر

ترلی وی، نوپیاده سامان پلاس نه وړکوی ترڅوچی خپلی عماری ته ورنه رسیږی، نوکه بالفرض محال دی پاتی سی

بیایه نوخپل سامان اوعماره څرنګه پیدا کوی! اوحاجی دی خوشبوئی ولګوی، اوپنه کالی دی واغوندی

د پاره د تعظیم د روضه د تلو د نبی علیه الصلوٰة والسلام ته یعنی قبر انور ته ددوهم، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

بَعْدَ وَضْعِ رِكْبَهٖ وَاطْمِنَانِهٖ عَلٰى حَشَمِهٖ اَوْ اَمْتِعَتِهٖ

بله اینبو والوه سپین میاد شیانو، اوپله دی چی ده ته اطمنان حاصل سی پ خپل اومایه وغیره که

مُتَوَاضِعًا بِالسَّكِيْنَةِ وَالْوَقَارِ مُلَاحِظًا جَلَالَةَ الْمَكَانِ

ورسره وی، اود غه رنګه ده ته اطمنان حاصل سی پرسامان خپل، یعنی چی په یوه اطاق کی د عماری په

کښیږدی، اومتواضع دی وی اوبه آرام اووقار سره یعنی تګ دی شروع کړی وطرفته د روضه مقدسه ﷺ

اوبه خیال اود ماغ کی دده وی عظمت د مکان یعنی د روضی شریفی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

قَائِلًا بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوبه وخت کی د تلو دی داوایی بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ، یعنی زه په ملت د علیه الصلوٰة والسلام یم د

رَبِّ اَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَاَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ

وَاجْعَلْ لِّي مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطَانًا نَّصِيْرًا اَللّٰهُمَّ صَلِّ

عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ الخ وَاغْفِرْ لِي ذُنُوْبِي

وَافْتَحْ لِي اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَفَضْلِكَ

اودغه مذکوره دعا دی هم وکړی۔ اویا دی بخپله مورنی ژبی نوری دعاګانی دعافیت او مغفرت د خپل ځان او مور

اوپلار اواولادو اونورو دوستانو اوقریبانو ته وکړی، قال المصنف

ثُمَّ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ الشَّرِيفَ فَيُصَلِّي تَحِيَّةً عِنْدَ مِنْبَرِهِ

اوبیادی داخل سی ومسجد شریف ته نوی لمونځ وکړی تحیة المسجد په قرب کی د منبر

رَكْعَتَيْنِ د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه رکعته یعنی که په خارج حامه صلته ځای وی

اوکه نه وی بیادی بل ځای وکړی، قال المصنف،

وَيَقِفُ بِحَيْثُ يَكُونُ عُودُ الْمِنْبَرِ الشَّرِيفِ بِحَذَاءِ مَنْكِبِهِ

اووی دریږی په داسی شان چی لرګی د منبر شریف دده پر ښی استه اوږه برابر وی هم دغه ډول موقف

الْأَيْمَنِ لِمَوْقِفِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ علیه الصلوة والسلام وو

وَمَا بَيْنَ قَبْرِهِ وَمِنْبَرِهِ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ

اوهغه محلّه چی واقع ده په مابین کی د قبر علیه الصلوة والسلام او منبر دده روضة یعنی باغ د باغونو څخه

كَمَا أَخْبَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ مِنْبَرِي

د جنت، قال الطحاوی چی دغه محلّه په ورځ د قیامت د جنت ته نقل کیږی او

عَلَى حَوْضِي هلته یو باغ د جنت جوړیږی، اویا معناداده چی ثواب د عبادت په دغه محل

کی په ورځ د قیامت د جنت ته نقل کیږی اوسړی د جنت ته رسوی، لکه چی خبر ورکړی په دغه سره

نبی صلی الله علیه وسلم، اوداپه هم وویلی دی چی زما منبر پر حوض زما به وی یعنی پر حوض کوثر باندی

واهم یا پر حقیقت دی یا پر مجاز فافهم، قال المصنف،

فَتَسْجُدُ شُكْرًا لِلّٰهِ تَعَالَى بِأَدَاءِ رَكْعَتَيْنِ غَيْرِ تَحِيَّةِ الْمَسْجِدِ

نوی لمونځ وکړه دپاره د شکر د خدای پاک دوه رکعته غیر تحیة المسجد څخه د دی دپاره چی تا ته ئی توفیق

درکړی

لِمَا وَفَّقَكَ اللهُ تَعَالَى وَمَنَّ عَلَيْكَ بِالْوُصُولِ إِلَيْهِ

او احسان یه وکړی پرتا باندی په رسید و دمسجد نبوی ته او زیارت ته د علیه الصلوة والسلام

ثُمَّ تَدْعُوا بِمَا شِئْتَ ثُمَّ تَنْهَضُ مُتَوَجِّهًا إِلَى الْقَبْرِ

اوبیا دعا وکړه په هغه شی سره چی ستا خوښه وی، یعنی په خیر او سره د اړینو چارو ځای د اجابت دی دعا، بیا نورو ته سه یعنی په ادب سره

الشَّرِيفِ فَتَقِفُ بِمِقْدَارِ أَرْبَعَةِ أَذْرُعٍ بَعِيدًا عَنِ

اوبیا که د قبر شریف ته نوو دریږه، په قدر د څلورو ګزو لیری د هغه شریف حجری څخه چی ذات انور د علیه

الْمَقْصُورَةِ الشَّرِيفَةِ بِغَايَةِ الْأَدَبِ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ

الصلوة والسلام په کښی موجود دی، په نهایت ادب سره، اوپه داسی حال کی ستا مخ د قبلی شریفی ترویږ

مُحَاذِيًا لِرَأْسِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ وَوَجْهُهُ

قال ما هو السنة فی زیارة الاموات آه، برابر به په د سر مبارک سره د نبی صلی الله علیه وسلم اوده مبارک

الْأَكْرَمِ مُلَاحِظًا نَظَرُهُ السَّعِيدُ إِلَيْكَ وَسَمَاعُهُ كَلَامَكَ

مخ سره وی، اوداپه ستا په لحاظ کی وی یعنی په عقیده کی به دی وی چی علیه الصلوة والسلام په مبارکو

وَرَدَّهُ عَلَيْكَ سَلَامَكَ وَتَامِينُهُ عَلَى دُعَائِكَ

سترګو سره ته ګوری اوزما کلام اوری اوزما د سلام جواب درکوی اوامین وائی زما پر دعا کانو

پوه سه، چی د عمار ویلو غټی پلازی اوبنکلی اوکوټی ته ویل کیږی په عربی ژبه، محرر عفانی،

تنبیه یوه شه چې په وخت کې دې چې ته سلامونه وعلیه الصلوة والسلام ته وایې د پیرۍ چنې اوناري مروجه، ولې چې د سعودۍ پولیس دې فوراً خارجوي بلکه بعض حجاج چې ورته کار وکې نو کوي ئې اونبل داچې ته په مواجه شریفه دعا کوي لاسونه مه پورکوه چې د سعودۍ پولیس دې فوراً مخ د مواجهې څخه وبلي خوات اړه وي، قال المصنف:

وَتَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدِيْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ

اوته به وایه سلام دې وي پر تا باندې اې زما نبي اې رسول ده خدای، سلام دې وي

عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ

پر تا باندې اې د الله نبي، سلام دې وي پر تا اې د الله دوسته، سلام دې وي

يَا نَبِيَّ الرَّحْمَةِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا شَفِيْعَ الْاُمَّةِ اَلسَّلَامُ

پر تا باندې اې رحمت نبي، سلام دې وي پر تا اې د امت شفاعت کوونکې، سلام دې وي

عَلَيْكَ يَا سَيِّدَ الْمُرْسَلِيْنَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ

پر تا باندې اې د رسولانو سردار، سلام دې پر تا باندې اې د نبیانو ختموونکې

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُزَّمِّلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُدَّثِّرُ

یوه سره چې د مزمل او مدثر معنا یوه ده، چې تلتک وغیره پرځان اچولی وي د علیه الصلوة والسلام سره چې جبرئیل امین په صورت بشري کې په وخت کې د راتلو وده د غار حراء څخه مُلاقي سوي وو اودې مبارک په په غیږ پورې ټینګ نیولی وو او بیا ځُدې تللی وو آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې کورته راتلی نو ده به ئې ویل دیدې دتا نیږه څخه، په غیږ کې نیولو او کښې کښلو د سبب نو چې کوم راغلی نو مونږ عرض کړی دې خدیجة الکبرٰی رضی الله عنها په یوه ملاقات کې داسې وو شیله نه تلونې نه تلونې

پرما تلتک واچوه، اوبیا ترڅو چې د علیه السلام نه پرقرار سو نو وحي بې د خدیجة الکبرٰی رضی الله عنها څخه د ټولو ماجرې بیان کړ، اوبیا بله پلا چې جبرئیل علیه السلام ورسره ملاقي سو نو بیا علیه الصلوة والسلام په فوق الذکر حالت کې کورته راغلی، او خدیجة الکبرٰی رضی الله عنها ورته وویل دتر وفني دتر وفني پله هغه جبرئیل علیه السلام کورته پسې راغلی، او دا دوه سورته ئې درب العزت لخوا اوږه او په دې دوو سورتونو کې علیه الصلوة والسلام امر کړو سوې په تبلیغ د کلمه توحید ومشرکانو ته د قوم والتفصیل فی کتب الاحادیث، قال المصنف:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَعَلٰى اُصُوْلِكَ الطَّيِّبِيْنَ وَاَهْلِ بَيْتِكَ

اوسلام دې وي پرتا اوستا پر اصولو چې پاک وي یعنې د شرک او کفر څخه، اصل نو اونبي دوارونه والې مثلاً د اصولو

الطَّاهِرِيْنَ الَّذِيْنَ اَذْهَبَ اللّٰهُ عَنْهُمُ الرِّجْسَ وَطَهَّرَهُمْ

څخه د علیه الصلوة والسلام ابراهیم خلیل الله او اسمٰعیل علیهما السلام وغیرهادی) اوستا پر اهل بیتو دې سلام

تَطْهِيْرًا وي چې ازواج مطهرات او فاطمه رضی الله تعالی عنهم دی هغه اهل بیت چې پاکدې د شرک او کفر او معاصي څخه، هغه چې خدای لیرې کړي دی د دوی څخه نجاست یعنې ګناه چې نجاست باطني دی او دوی په پاک کړي په پاکولو سره په دې اشاره وهغه آیات ترڅو چې په شان کې د اهل بیتو نازل سوی دی، قال المصنف:

جَزَاكَ اللّٰهُ عَنَّا اَفْضَلَ مَا جَزٰى نَبِيًّا عَنْ قَوْمِهٖ وَرَسُوْلًا

خدای جل جلاله دې ثوابونه درکړي وتا ته زمونږ د امتیانو د خوا څخه بهتر د هغه ثوابو چې خدای پاک

عَنْ اُمَّتِهٖ اَشْهَدُ اِنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ قَدْ بَلَّغْتَ الرِّسَالَةَ

هغه ثوابونه ورکوي یو نبي ته د خپل قوم د خوا څخه او یو رسول ته د امتیانو د خوا څخه، زه شاهدي

ادا کوم یعنې د صمیم قلبه څخه چې په تحقیق تا کړي دی حق د رسالت اوتا رسولي دی .....

وَادَّيْتَ الْاَمَانَةَ وَنَصَحْتَ الْاُمَّةَ وَاَوْضَحْتَ الْحُجَّةَ

امانت چې خدای پاک درکړی وو چې امانت تولو امورو شرعیه وو ته شامل دی، اوتا نصیحت
کړی دی وامت ته، اوتا رو بیانه کړی دی دلیل ددین اسلام دحقیت وتولونږیوالوته،

وَجَاهَدْتَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ وَاَقَمْتَ الدِّيْنَ

اوتا جهاد اوغزا کړیده په لارکی دخدای په محکم جهاد سره اوتا اقامت ددین کړی ترهغه وخت پورې

حَتّٰى اَتَاكَ الْيَقِيْنُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ وَسَلَّمَ وَعَلٰى اَشْرَفِ

چې تاته راغلی یقین یعنی وفات، اورحمت دخدای دی وی پرتا باندی اوپرهغه مشرف ځای چې مشرف

مَكَانٍ كَشَرَّفَ بِحُلُوْلِ جِسْمِكَ الْكَرِيْمِ فِيْهِ صَلَاةً وَسَلَامًا

سوی دی، په وجود د جسم مبارک ستا په هغه ځای کی چې حجره دعائشه رضی الله عنها ده، اودا صلاة اوسلام

دَائِمَيْنِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ عَدَدَ مَا كَانَ وَعَدَدَ مَا

دی همیشه وی پرتا باندی د طرفه څخه درب العالمین، په حساب د هغو شیانو چې وو یا به وی په علم کی

يَكُوْنُ بِعِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً لَا اِنْقِضَاءَ لِاَمَدِهَا

دخدای جل شانه دی وی چې تیریده نه لری اوني وپای ته رسیږی،

يَارَسُوْلَ اللّٰهِ نَحْنُ وَفْدُكَ وَزُوَّارُ حَرَمِكَ تَشَرَّفْنَا

ای دخدای رسوله مونږ راغلو وتاته اومونږ زیارت کوونکی ستا دحرم یو مونږ مشرف سولو

بِالْحُلُوْلِ بَيْنَ يَدَيْكَ په راتلو سره ستا په حضور کی،

قَدْ جِئْنَاكَ مِنْ بِلَادٍ شَاسِعَةٍ وَاَمْكِنَةٍ بَعِيْدَةٍ نَقْطَعُ

اومونږ راغلی یو تاته دلیرو بنارونځه اود لیرو ځایونو څخه مونږ پرې کوله یعنی منزل موکاوه په لنډو

السَّهْلَ وَالْوَعْرَ بِقَصْدِ زِيَارَتِكَ لِنَفُوْزَ بِشَفَاعَتِكَ

ځمکه کی اوپه سخته ځمکه کی په قصد د زیارت ستا تاچې مونږ پرې پیدا کړو ستا شفاعت سره یعنی

وَالنَّظَرُ اِلٰى مَا تَرَكَ وَمَعَاهِدِكَ وَالْقِيَامُ بِقَضَاءِ

په ورځ دقیامت، اود دې دپاره راغلی یو چې مونږ وګورو یعنی په مدینه منوره کی ستا دفن ځایونه لکه قبر

بَعْضِ حَقِّكَ وَالْاِسْتِشْفَاعُ بِكَ اِلٰى رَبِّنَا انور مسجد نبوی الی غیر

ذالک وَمَعَاهِدَكَ عطف تفسیر دی، اومونږ ودریږو په پوره کولو کی دیوه څه حق ستا یعنی پرمونږ
باندی، اوطلب دشفاعت دتا څخه وکړو دخدای جل شانه تة یعنی تاوخدای ته شفیع وګرځوو، قَالَ

فَاِنَّ الْخَطَايَا قَدْ قَصَمَتْ ظُهُوْرَنَا وَالْاَوْزَارَ قَدْ اَثْقَلَتْ

قوله فان، تعلیل للاستشفاع: په تحقیق سره خطاوی اوګناهونه ماتی کړی دی زمونږ ملاوی، ښه امثیل، اوبه ګناهونو زمونږ

كَوَاهِلَنَا وَاَنْتَ الشَّافِعُ الْمُشَفَّعُ الْمَوْعُوْدُ بِالشَّفَاعَةِ

کړی دی زمونږ داوږو مابینونه، اوته شافع ئی یعنی شفاعت کوونکی ئی اومقبول الشفاعت ئی، په لوی درجه

الْعُظْمٰى وَالْمَقَامِ الْمَحْمُوْدِ وَالْوَسِيْلَةِ کی دخدای چې ستا وعده ورسره
سوی ده یعنی دخدای ډاډه

په لوی شفاعت سره کما ورد تفصیله فی الاحادیث الشریفة. وَاِلَيْهَا اَشَارَ بِقَوْلِهٖ تَعَالٰى: وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ
فَتَرْضٰى، وفسر بتلک الشفاعة العظمى، اوتاته درکړ سوی دی مقام محمود چې دهغه څخه مقام دشفاعت

يَسْقِيَنَا بِكَأْسِكَ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامَى الشَّفَاعَةَ

سنا حوض کوثر ته اومونږ اوبه کړی سنا به کټوری یا کلاس یا کوزه سره په داسی حال کی چی نه مونږ رسوا

الشَّفَاعَةَ الشَّفَاعَةَ يَا رَسُولَ اللهِ ثَلَاثًا

سوا ونه پښیمانه یوُ پرده نیا ئ ژوند باندی، نه شفاعت طلبوم نه شفاعت طلبوم نه شفاعت طلبوم

دری واړه «پوه سه» چی الشَّفَاعَةَ منصوب دی په فعل محذوف سره یعنی اطلب الشفاعة اطلب الشفاعة اطلب الشفاعة» دا الفاظ دی مکرر کړی «قَالَ الْمُصَنِّفُ»

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ

او دا دعا دی هم وکړی: ای زمونږ ربه مونږ ته و بخښی یعنی ګناهونه زمونږ او بخښه وکی زمونږ هغو ورونو ته

فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا

چی تر مونږ دمخه په ایمان سره مشرف سوی دی اومه پیدا کوی زمونږ په زړه وکی بغض او عداوت او حسد د هغه کسانو سره چی ایمان یه راوړی وی، ای خدایه ته ډیر مهربان یه او ډیر رحم خاوند ئ»

وَتُبَلِّغُهُ سَلَامَ مَنْ أَوْصَاكَ فَتَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكَ

او ورسوله ورسوه سلام د هغه چا چی تا ته ئی وصیت کړی وی یعنی په سلام ویلو سره پر علیه الصلوة

يَا رَسُولَ اللهِ مِنْ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ يَتَشَفَّعُ بِكَ إِلَى

والسلام، نو دا سی ووایه السلام علیك یا رسول الله د طرفه د فلانی چی د فلانی زوی دی، دی تا شفیع

رَبِّكَ فَاشْفَعْ لَهُ وَلِلْمُسْلِمِينَ ثُمَّ تُصَلِّي عَلَيْهِ وَتَدْعُو بِمَا

گرځوی وخدائ ته نوته شفاعت د د. وکړه او د تولو مسلمانانو ورسوله بیا نه هم درود ووایه پر علیه الصلوة

کړی مراد دی، او تا ته ئی وسیله د ګرځیده، چی د هغی تفسیر طه په د غو الفاظو کړی دی» هی منزلة فی الجنة لا تکون الا لله صلی الله علیه وسلم» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ

او خدائ ته په پاره کی د شفاعت داسی وئیلی که چیری دا امتیان هغه وخت چی ظلم وکړی پر خپلو ځانونو

جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ

باندی تا ته راسی، نو اول طلب د بخښنی د خدایه ځخ وکړی او طلب د بخښنی د دوی وکړی رسول چی نه ئی نوبه دوی

لَوَجَدُوا اللهَ غَفُورًا رَحِيمًا

پیدا کړی خدای بخښونکی او مهربانه» پوه سه چی طلب د بخښنی د رسول هو الشفاعة لهم»

فَائِدَه: دا آیت تخصیص په زمانه پوری د حیوة ظاهری د علیه الصلوة والسلام نه لری بلکه د هغه مرګ د ده حکم داغه دی کما یدل علیه کلام المصنف وقد صرح المفسرون والفقهاء والصوفیة ایضا بذلک

وَقَدْ جِئْنَاكَ ظَالِمِينَ لِأَنْفُسِنَا مُسْتَغْفِرِينَ لِذُنُوبِنَا فَاشْفَعْ

او په تحقیق مونږ راغلی یو تا ته په داسی حال کی چی مونږ ظلم کړی دی پر خپلو ځانونو یعنی په سبب د ګناهونو او

لَنَا إِلَى رَبِّكَ وَاسْأَلْهُ أَنْ يُمِيتَنَا عَلَى سُنَّتِكَ

مونږ طلب د ګناهونو د بخښنی د خدای پاک ځخ غواړو، نوته زمونږ شفاعت وکړه وخدائ ته یعنی په باره کی د بخښنی د ګناهونو مونږ، تا چی مطابق دایت سره مونږ ته خدای بخښنه د ګناهونو وکړی» او د خدائ ځخ سوال کوو او تا ته هم سوال وکړو چی مونږ مړه کړی ستا په طریقه، وَقَالَ

وَأَنْ يَحْشُرَنَا فِي زُمْرَتِكَ وَأَنْ يُورِدَنَا حَوْضَكَ وَأَنْ

او د دی سوال وکړه د خدایه ځخه چی مونږ د حشر کی ستا په ډله کی، او مونږ د روڼ یعنی په ورځ د قیامت

شِئْتَ عِنْدَ وَجْهِهِ الْكَرِيمِ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ

والسلام پیدا وکړه هغه دعا چې ستا خوښه وي په نیزد مخ مبارک د علیه الصلوٰة والسلام اوشا خپله دقبلې وخوا ته وي **مسئله** فقهاء وائي چې رسول د سلام واجب دی، ولې داد قسم څخه دا راه دامانت دی ط. **تنبیه** پوه شه چې حاجیان چې حج ته ځي په وخت کې د رخصت په سو وخلګ ورته وائي چې ما سلامونه پر علیه الصلوٰة والسلام وایه، حاجي صاحب وهر چوته وائي ښه دی، په دی خلګو کې د پیرو خلګو نومونه د حاجي صاحب نه وي نړه اود پلار نوم خو په لسوکې د ۹ نفرونه وي نړه، اودی چې مواجهه شریفې ته ورسي د سبب دا زد حام د سلامو د پوره کولو وخت لا نه وي نو وادونه سلامونه د خلګو په دی څرنګه ورسوي اوسره ددی چې د واجب په ترک سره دسرې غاړې بند ین پې.

پوسښتنه ددی ګناه چاره په نوځر رنګ کولای سي چې حاجي صاحب وخلګو ته ووائي چې ستا سلام زه نه سم رسولای د خلګو خو بدیږی اووائي به چې څرنګه بخیل حاجي دی چې زما سلام قدر هم نه سي رسولای. **جواب**: حاجي دی په دغه وخت کې چې خلګ سلامونه پلاس ورکوي دهر یو دقبول سره دی وائي هو ان شاء الله تعالی تاچې وعده ما بین نه رانسي، بیا هلته کې څوک ورپیاد سوه اوفرصت وو د هغه سلام دی په نامه ورورسوي اودنور و په باره کې دی دا سې ووائي: السلام علیک یا رسول الله من جانب کل من اوصانی بالسلام علیک، فحینئذ تفرغ ذمته من معصیة ترک الواجب، دره، قال المصنف:

ثُمَّ تَتَحَوَّلُ قَدْرَ ذِرَاعٍ حَتّٰى تُحَاذِيَ رَأْسَ الصِّدِّيقِ

یا نو ګز یعنی تیوسه په قدر دیوه ګز حتی چې ته برابر سی د سره د صدیق ابوبکر خدای دی راضی سی،

أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ **فَائِدَه** صدیق مبالغه د صادق ده، اوداللقب وو، ته اسلافی ورکړې سوی دی، نوم ورته عبد الله دی د پلار نوم یې عثمان دی. اوپلار یې هم اسلام

راوړی دی، اوپه صحبت د علیه الصلوٰة والسلام مشرفه سوی دی، اووفات د پلار یې د ابوبکر په ورځ سته واقع سوی دی، اوابوبکر نه وښت ته هیڅ وخت سجده نه ده کړې، کذا قال الطحطاوی،

وَتَقُولُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

اوته ووایه سلام دی وي پر تا باندې ای خلیفه یعنی جای ناسته د علیه الصلوٰة والسلام، اوسلام د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَاحِبَ رَسُولِ اللّٰهِ

وي پر تا باندې ای ملګري د علیه الصلوٰة والسلام اود الفت سر یه ددې په غارکې، یعنی په غار د

وَأَنِيسَهُ فِي الْغَارِ وَرَفِيقَهُ فِي الْأَسْفَارِ وَأَمِينَهُ عَنِ

جبل ثور، په موقع کې د هجرت و مدینې منورې ته، او ملګري وي ددې په سفرونو کې

الْأَسْرَارِ اوامینه د علیه السلام وي په پټو خبرو اوکارونو کې،

جَزَاكَ اللّٰهُ عَنَّا أَفْضَلَ مَا جَزٰى إِمَامًا عَنْ أُمَّةِ نَبِيِّهِ

خدای پاک دی ثوابونه وتاته درکړي بنه تر هغو ثوابونو چې خدای ورکړي دی وي په امام یعنی خلیفه

فَلَقَدْ خَلَفْتَهُ بِأَحْسَنِ خَلَفٍ وَسَلَكْتَ طَرِيقَهُ وَمِنْهَاجَهُ

ته د جانبه د امت د نبی خپل، اوپه تحقیق تا خلافت ترسره کړی د علیه الصلوٰة والسلام په بنه توګه

خَيْرَ مَسْلَكٍ **پوه شه**: چې منهاج اوطریق په یوه معنا دی اومسلک مصدر میمي دی

وَقَاتَلْتَ أَهْلَ الرِّدَّةِ وَالْبِدَعِ وَمَهَّدْتَ الْإِسْلَامَ

د خلافت اوتا ننګ وکړي پر لاړ، دده په بنه توګه اوپه بنه سلوک سره

اوتا جنګ وکړي یعنی وډی وزلې هغه کسان چې ورسته ترو فات د علیه السلام مرتد سوی وو اودغه ډنګه دی کړي دی د مبتدعانو سره اوتا د اسلام د دین توضیح وکړه،

وَشَيَّدتَ اَرکانَہ فَکُنتَ خَیرَ اِمَامٍ وَوَصَلتَ الاَرحَامَ

اوتا محکمه کړه ارکان د اسلام، نو ته وې ښه امام یعنی مقتدا دامت مرحومه اوتا وسیله رحمی وکړه

یعنی د پس ماند گانو سره د علیه الصلوٰة والسلام یعنی ازواج مطهرات او فاطمه رضی الله تعالیٰ عنهن

پوه شه: چې په دې عبارت کې ړه دې پر هغو کسانو چې وائي په مابین کې د ابوبکرؓ الصدیق

اوفاطمه ؓ لوی عداوت وو، قال المصنف،

وَلَم تَزَل قَائِمًا بِالحَقِّ نَاصِرًا لِلدِّینِ وَلِاَهلِہٖ حَتّٰی اَتَاکَ

اوهمیشه ته ولاړ وې د حق پر لاړه، او کومک کوونکی وې د دین یعنی د اسلام او د اهل اسلام حق چې

الیَقِینُ سَلِ اللّٰہَ سُبحَانَہٗ لَنَا دَوَامَ حُبِّکَ وَالحَشرَ

راغلی د تیقین یعنی مرګ، نو سوال وکړه د خدائ سبحانه څخه زمونږ د پاره د همیشه محبت ستا او د حشر په

مَعَ حِزبِکَ وَقَبُولِ زِیَارَتِنَا اَلسَّلَامُ عَلَیکَ وَرَحمَةُ

وخت د قیامت سره د ډلې ستا یعنی مسلمانانو او خواست وکړه د قبول د زیارت زمونږ اَلسَّلَامُ عَلَیکُم

اللّٰہِ وَبَرَکَاتُہٗ ورحمة الله وبرکاته،

داالله تعالیٰ سلامتیا او د الله تعالیٰ رحمت او برکت دې وي پرتا

ثُمَّ تَتَحَوَّلُ مِثلَ ذَالِکَ حَتّٰی تُحَاذِیَ رَاسَ اَمِیرِ المُؤمِنِینَ

اوبیا تیریږه په مثل دهغه یعنی یوګز حتی چې ته برابر سې د سره سره د امیر المؤمنین عمر بن الخطاب ؓ

عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنہُ بنِ الخَطَّابِ فَتَقُولُ اَلسَّلَامُ عَلَیکَ

الله دې ده څخه راضي سې ټوبه ورته وایه سلام دې وي پرتا

یَا اَمِیرَ المُؤمِنِینَ، اَلسَّلَامُ عَلَیکَ یَا مُظهِرَ الاِسلَامِ

ای د مؤمنانو امیره، سلام دې وي پرتا ای ښکاره کونکی د اسلام په قول نړۍ کې او

اَلسَّلَامُ عَلَیکَ یَا مُکَسِّرَ الاَصنَامِ جَزَاکَ اللّٰہُ عَنَّا

حضرته په مکه مکرمه کې چې تا اسلام قبول کړی، سلام دې وي پرتا ای د بتانو ماتوونکی، خدائ دې زمونږ څخوا ثوابونه

اَفضَلَ الجَزَاءِ لَقَد نَصَرتَ الاِسلَامَ وَالمُسلِمِینَ

درکړی ښه ثواب، په تحقیق سره تا کومک کړی د دین سره د اسلام او مسلمانانو سره، اوتا فتح

وَفُتِحَت مَعَظَمُ البِلَادِ بَعدَ سَیِّدِ المُرسَلِینَ صلی اللہ علیہ وسلم

کړې دې پیرښارونه د کفارو، وروسته ترسید المرسلین صلی الله علیه وسلم، دروئیس وائي

چې تاریخ د اسلام ګواه دی دې چې دین د اسلام ترشرق اوغرب پورې اوبیا ترجنوب اوشمال پورې

چې خپور سوی دی په برکت د جهاد دائمو د امیر المؤمنین عمر بن الخطاب ؓ تاریخ مطالعه کړه،

وَکَفَلتَ الاَیتَامَ وَوَصَلتَ الاَرحَامَ وَقَوِّیٰ بِکَ الاِسلَامُ

او ضمانت یعنی د نفقې وغیره اختسې وو د یتیمانو اوتا وصل کړه قرابتونه، اوقوت پیدا کړی په تا سره

دین د اسلام، دروئیس وائي چې په صحیح حدیث کې راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام به په

مکه شریفه کې خدائ ته خواست کاوه، په بل صحیح حدیث کې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله

علیه وسلم به سره د مسلمانانو په پټه په سرای کې د زید بن ارقم لمونځ کاوه حتی چې عمر مسلمان

سو نو لمونځ یې په حرم کې د مکې مکرمې علانیه وکړی «در» ط» قال

وَکَفَلتَ لِلمُسلِمِینَ اِمَامًا مَرضِیًّا وَهَادِیًا مَهدِیًّا

اوته وې د مسلمانانو نور پاره امام چې مسلمانان په تا راضي وه اوته لارښود وې د مسلمانانو

جمعت شملهم واعنت فقيرهم وجبرت كسيرهم

اوپرهدایت وی ته، اوتاسو ټولو کړی وه هغه تفرق چې په مسلمانانو کې وو، اوتاسو مالی کومک کړی دی

السلام عليك ورحمت الله وبركاته

دفقیرسره د مسلمانانو اوتاسګنده کړیده دمانوګډیود مسلمانانو سلام دی وی پرتا اورحمت اوبرکت دی وی

ثم ترجع قدر نصف ذراع فتقول السلام عليكما

یابیرته رجوع وکړه دشا وخواته یعنی تاچې ته په مابین کې دابوبکرؓ اوعمرؓ وګرځې، نوته داسې ووایه سلام

يا ضجيعتي رسول الله صلى الله عليه وسلم ورفيقيه

دی وی پرتاسې دواړه باندې ای هغود ووکسانوچې تاسې بیده یاست سره دعلیه الصلوٰة والسلام په

ووزيريه ومشيريه والمعاونين له على القيام

بوه ځای کې یعنې په حجره کې دعائشه رضی الله عنها اودوو وملګرو دده ﷺ اودوو وزیرانو دده ﷺ اودوو مشاورینو

بالدين والقائمين بعده بمصالح المسلمين جزاكما

دده ﷺ اودوو کومکیانو دده ﷺ پرثبات دین، اوهغودووکسانوچې تاسې وروسته ترده ﷺ

الله احسن الجزاء ثابت قدم واست په مصالح کې دمسلمانانو، خدائ دی ثوابونه درکړی تاسې ته هغه ښه ثواب. قال

جئنا كما نتوسل بكما الى رسول الله صلى الله عليه

وسلم مونږ راغلی یوتاسوته چې مونږ واسطه وګرځوو تاسې ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته

ليشفع لنا ويسأل الله ربنا ان يتقبل سعينا ويحيينا

مونږ راغلی یوتاسوته چې مونږ واسطه وګرځوو تاسې ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی دپاره چې

على ملته ويميتنا عليها ويحشرنا في زمرته ثم

دی مبارک زمونږ شفاعت وکړی یعنی دخدای جل سلطان په دربار کې، اودی مبارک دی سوال وکړی درپه غم

يدعوا لنفسه ولوالديه ولمن اوصاه بالدعاء

زمونږ چې خدائ قبولی وګرځوی زمونږ کوشش اودعاوی، اودی سوال دی وکړی چې مونږ ته دی خدائ

جل جلاله نږوندرا کړی پر ملت دعلیه

وللجميع المسلمين والمسلمات الصلوٰة والسلام اومونږ ته دی

مرګ راکړی پرهغه ملت اومونږ دی ژوندی کړی په ورځ دقیامت په ډله کې دعلیه السلام، او

بیادی زیارت کوونکی دعاوکړی دځان دپاره اودموراوپلارډیاره اوهغوکسانوته دی هم

دعاوکړی چې ده ته ئې وصیت د دعا وی، یعنی یا تفصیلاً نومربه نومرکه فرصت وویا اجمالاً یعنی

داسې دی ووایی چې خدایه ته ټولومسلمانانو ښخ کړی ټولوهغوکسانوته چې ماته یې وصیت ددعا کولوکړی

وو، اوټولومسلمانانو نرا وښځوته دعاد مغفرت وکړي. قال المصنف

ثم يقف عند رأس النبي عليه الصلوٰة والسلام

اوبیادی ودریږی پرمحاذات دسرد علیه الصلوٰة والسلام لکه اول واړ یعنی دری ګزه لیرې

كالاول ويقول اللهم انك قلت وقولك الحق

اوداسې دی ووایی چې یا الله په تحقیق ته وئیلی دی یعنی په قرآن مجید کې اوستاقول

حق دی ه

وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ

کړې ږدی یعنی ستا امتیان ظلم وکړی پرخپلو ځانونو، یعنی په سبب دکبایرو گنهونو تاته راسی یعنی یاستا پښتوند

وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ط

کی اوبا ښله وفاته څخه ستا، نو دوی اولاطلب دبخښنی دخدائ څخه وکړی اوطلب دبخښنی وکړی ودوی ته رسول نو دوی به پیدا کړی خدای تعالی بخښونکی اوتوبه قبلوونکی اومهربانه،

وَقَدْ جِئْنَاكَ سَامِعِيْنَ قَوْلَكَ طَائِعِيْنَ اَمْرَكَ مُسْتَشْفِعِيْنَ

اومونږ راغلی یو تاته ای الله، اواوریدلی دی مونږ ستا قول یعنی ایت مذکورې، اومونږ فرمان بردارۍ

بِنَبِيِّكَ اِلَيْكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا يَا رَبَّنَا وَلِاٰبَائِنَا وَاُمَّهَاتِنَا

یوستا دامر، یعنی هغه امر ضمنی چې دمذکورې ایت څخه معلومیږی، اومونږ تاته یا الله ج شفیع گرځوو

وَاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ

ستانبی، یا الله، تاته زمونږ ځینې مونږ وبخښی اوزمونږ گنهونه، اوزمونږ پلرونه اومندی، اوزمونږ وهغه

قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَا اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ط

وروڼو ته بخښش وکړی چې زمونږ دمخه په اسلام مشرف سوی دی، اومه پیدا کوی زمونږ

رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا

په زړونو کی حسد اوعداوت دهغوکسانوسره چې ایمان یې راوړی دی، ای زمونږ رب ته رؤف اورحیم یې

عَذَابَ النَّارِ ای رب زمونږ مونږ ته راکړی په دنیا کی ښه حالت اوپه اخرت کی ښه حالت اومونږ وساتې دعذاب څخه داور، یعنی دجهنم څخه په وړاندې ساتل

درویش وائی چې دحسنه ددنیا اواخرت ترجمه په ښه حالت سره ډیرومونږ روښه ده، ولی

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلٰمٌ عَلَى

اوپاکی ده رب ته ستا، چې لرونکی دډیر عزت دی، دهغه شیانو څخه چې کفار خدای په هغه سره موصوف

الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَيَزِيْدُ مَا

بولی لکه شریک، ولد، زوجه، وغیرها من الکفریات، اونورپاتوی دی زمابثیر هغه دعاوی چې دده خوښې وی، او

شَآءَ وَيُعِيْدُ عُوْبِمَا حَضَرَهٗ وَيُوَفِّقُ لَهٗ بِفَضْلِ اللّٰهِ

دی دی خواستونه کوی په دربارگی دخدائ هغه دعاوی چې ده تر حاضرې وی فی الوقت، اوتوفیق یې ورکړه

سی ده تر په فضل دخدائ،

سُبْحَانَهٗ فَائِدَه

درویش وائی چې په اوسنیو کلونکی دحج دامذکوره اداب دزیارت نبوی اوده دوورځو فیقینو په حجره مبارکه کی اوداپیړ ډیر سلامونه اوپیړ درید ل وقبرانورته اوداډیری دعاگانی په سبب دازدحام هیڅ امکان نلری، اول یې خلگ په دگونو څو اوبیایه شرط دحرم نبوی دونه ډیر درید و اوسلامونه نه پریږدی، نوگډ څوك عوارې چې زما پرطریقه مذکوره مفصلاً دزیارت نبوی اداب پرځای کړی، نوپه اولو ورځو کی چې دعمرې ویزې دحکومت پاکستان، دخواجاری ښی، پاسپورټ دی وکی اوډډو دروميانشتو ویزه دی پرواخلی، نوبه په مکه مکرمه کی هم له ازدحام طوافونه اولوانړه دطوافونو به پرځای کړی، اوهم په مدینه منوره کی اداب دزیارت نبوی اونورزیارتونه پسه ښه بیغمی وکړی، اوخپل زړه به خنگ کړی، اوگډوډۍ اختلال دروغړی شر میاشتی پورې وځندوی په هغه میاشت کی بیادونه ازدحام وی هم په مکه شریفه کی اوهم په مدینه منوره کی، لکن بعض کسان په روژه کی چې عمرې ته ځی دعمر بودنرکاتو په نیت ځی چې عرب په دغه میاشت کی ډیر ډیر نرگاتونه پرمسکینانو وویشی، نودی هم په یوه بهانه اوپه یله بهانه دحرمینو ډیوه

سلسلہ پہ ذریعہ پرے عوعرپوګرځي، کہ څوک هم دې غنی وی اوزکوٰۃ ورته روانه وي، اودی چی عربستان ته
ئی خلګوته وائی چی نه عمری نه ځم، اوداسه وائی چی نه هلته سوال کومه،
بیت ۔ بردباشد باصد چیزاودردل یاضم، ای ۔ بیاطل کافرونظاهرمسلمانی چرسود۔ قال علیه الصلوٰۃ والسلام
انما الاعمال بالنیات وانما لامرئ مانوی ۔ الحدیث ۔

ثُمَّ يَأْتِي اسْتُطْوَانَةَ اَبِي لُبَابَةَ الَّتِي رَبَطَ بِهَا نَفْسَهُ حَتّٰى

اوبیادی وریی وتنبی ته د ابولبابه ؓ چی اوس مشهوره په استطوانة التوبه سره ده، اودغه توری په

تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَهِيَ بَيْنَ الْقَبْرِ وَالْمِنْبَرِ وَيُصَلِّي مَاشَاءَ

سرکی دهغی تنبی نوشته هم دي، چی په دی تنبی پوری ابولبابه خپل ځان ترلی وو په سبب دیوی جرمی چی

نَفْلًا وَيَتُوبُ اِلَى اللّٰهِ وَيَأْتِي بِمَا شَاءَ مِنَ الْاَدْعِيَةِ

ده، څخه صادرسوی وه چی قصه ئی په طول سره دهغه کتابونو کی ذکرده، اوترهغه وخته پورې ده ځان ترلی
وو خوتوبه په قبوله سوه، اوده قسم کړی وو چی ترڅو پورې ما پخپله آنحضرت صلی الله علیه وسلم خلاص
نه کړی خوله به مانه خلاصوی، حتی چی اخیر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دی پرخپلو مبارکو لاسونو
خلاص کړی، اوه اتنبه په مابین کی دقبرنبوی ﷺ اودمنبر واقع ده، نوهلته دی لمونځ وکړی چی ده، خوښه
وی نفل لمونځ اوتوبه دی دتهولو ګناهونو څخه وکړي، **پُوه سَه** چی دغه استطوانی توبه
وخنګ ته توبه کښل تبرکاً دی په امید دی چی لکه دابولبابه ؓ چی هم دلته توبه قبولسوی وه شاید
زما توبه هم خدای جل سلطانه قبوله کړی اودعادی وکړی په هغه دعاګانو سره چی ده خوښه وي، قال

وَيَأْتِي الرَّوْضَةَ فَيُصَلِّي مَاشَاءَ وَيَدْعُو بِمَا اَحَبَّ وَيُكْثِرُ

اودوهمی هغه ځای ته دمسجد نبوی ﷺ چی دروضة الجنة په نامه مشهوردی، هلته دی نفلونه وکړي
چی ده خوښه وي لږ یعنی تعداد معین دررکعتونه نفسته، اودعادی وکړي په هغه شی سره چی ده خوښه وي

مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ وَالثَّنَاءِ وَالْاِسْتِغْفَارِ

اوپیړی دی وائی کلمات دسُبْحَانَ اللّٰهِ، اودلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اودالْحَمْدُ لِلّٰهِ اودَاسْتَغْفِرُ اللّٰهَ،

ثُمَّ يَأْتِي الْمِنْبَرَ فَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى الرُّمَّانَةِ الَّتِي كَانَتْ بِهِ تَبَرُّكًا

اوبیا دی ورته سته ورسی منبرنبوی ﷺ ته اولاس دی کښیږدی پرهغه ځای چی د انار په شکل دی چی په منبر

بِاَثَرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَكَانَ يَدِهِ

نبوی ﷺ کی وو په عصرنبوی کی دپاره د تبرک دی لاس پرکښیږدی، په اثرهغه درسول الله صلی الله علیه وسلم

الشَّرِيفَةِ اِذَا خَطَبَ لِيَنَالَ بَرَكَتَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوتبرک په هغه ځای سره چی ده مبارک لاس پرایښودی چی خطبه پرې وویل، تاچی ده ته ورسیږی

وَيُصَلِّي عَلَيْهِ وَيَسْئَلُ مَاشَاءَ

برکت د آنحضرت صلی الله علیه وسلم اودرود دی ووائی پرعلیه الصلوٰۃ والسلام باندی
اوسوال دی وکړی دخدای هغه شی چی ده خوښه وي، **پُوه سَه**: چی وهابیان دغه تبرک کول
بدعت بلکه شرک په بولي، وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ ۔ دیوه عالم څخه چی روضی مبارکی ته ورځی وو په اختیار
ترخوله چغه او بخار وختلی وه، نوفوراً شُرطی (پولیسو) دهغه دی بوتلی او تخمیناً یوه میاشت یه بندی
کړی وو۔

ثُمَّ يَأْتِي الْاُسْتُطْوَانَةَ الْحَنَّانَةَ وَهِيَ الَّتِي فِيهَا

اوبیادی ورسی هغه تنبی ته چی په نامه دحنانی شهرت لري، اودغه هغه تنبه ده چی په دغه تنبه

بَقِيَّةُ الْجِذْعِ الَّذِي حَنَّ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه لرګی پټ دی چی هغه لرګی څګیروی وکړی وو نبی علیه الصلوٰۃ والسلام ته چی دغه لرګی پرایښودو او
خطبه یه پرمنبر شروع کړه۔

اودی لرگی ځکیږی ټولو حاضرینو واړه یدی حتی چې علیه الصلوٰة والسلام مجبور سود منبره
ځخ ور ته راکښته سواوه لرگی ئې په ځیګر پورې ونیوی. اوهغه لرگی کراړ کراړ ژړا اترولو.
بخاری وائی لکه کشتی چې سړی یښلوی، درویش وائی داحدیث په طول سره داسې روایت کړی
دی دبریدة ځخ هغه وائی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځخه د منبر ترجوړیدو یووچ لرگی
د ځړا او وهوډه ته به دریدی او خطبة ئې وښیله، ورته سته چې منبر ډوی ښځی مزې چې نجار وو
جوړ کړی، او علیه السلام دجمعې په ورځ پرمنبر خطبه شروع کړه، اوه بچوانی لرگی ځخ چلاسو نوی لرگی
داسې بخاری شروع کی، د حدیث تورې دادې، کما تحسن الناقة، نو علیه الصلوٰة والسلام بیرته ورته
ژاغلی اولاس مبارک ئې پرکښیښو اوورته وی وښیله چې که ستا خوښه وی نو به تا په هموډ صحرا
کی ښنه کړم، اوکه دی خوښه وی په جنت کی به تاسته درخته وګرځوم چې ته به د جنت اوبه څښې،
یعنی پخپلو، ډیرو سره، اوته به میوه کوې چې اولیاء الله به ستا د میوی ځخ خوړلو کوی نو علیه السلام
واوریده د لرگی ځخ نعم نعم، هموډ به په جنت کی می درخته وګرځوم بارد لرگی ژړا ساکته سوه، نو هغه
وخت چې د مسجد نبوی ښنبی جوړیدی هغه لرگی په یوه ښنبه کی ډنډه راوسته چې هغی ښنبی ته ښنبه حنانه
وائی، درویش وائی چې دغه حدیث بخاری مختصر راوړی، او د ډی اوطبرانی په طول سره راوړی دی
د عبد الله ابن بریده اوهغه د خپل پلار بریدة ځخ روایت کړی، درویش وائی هو په دغه حدیث کی
موږ ځخ اختصار وکړو، قال المصنف:

وَيَتَبَرَّكُ بِمَا بَقِيَ مِنَ الْآثَارِ النَّبَوِيَّةِ وَالْأَمَاكِنِ الشَّرِيفَةِ

اوتبرک دی کوی د اثر په هغو آثارو سوچې د نبی علیه الصلوٰة والسلام ځخ پاته دی په مدینه منوره کی اوهغه
ډنګ دی تبرک کوی په شریفو ځایونو، قال المصنف:

وَيَجْتَهِدُ فِي إِحْيَاءِ اللَّيَالِي مُدَّةَ إِقَامَتِهِ

اوکوښش دی کوی د شپو یعنی په عبادت سره، درویش وائی که مراد د مصنف د احیاء د شپو په مسجد نبوی کی
غواړی نو په موجوده وخت کی خو څوک نه پرې دي، یعنی شرط (پولیس) چې د شپی په حرم نبوی کی

وی، اوکه مراد عام وی نو بیا نو هیڅ اشکال نشته په مدینه کی د اقامت اواوسیدو دده په مدینه منوره کی

وَاعْتِنَامِ مُشَاهَدَةِ الْحَضْرَةِ النَّبَوِيَّةِ وَزِيَارَتِهِ فِي عُمُومِ الْأَوْقَاتِ

اوراتلونکی غنیمت ګڼلی لیدل د حضرت نبوی اودده زیارت په عامو اوقاتو کی

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الْبَقِيعِ فَيَأْتِيَ الْمَشَاهِدَ وَالْمَزَارَاتِ

اومستحب ده چې ووځی وړی د بقیع وخواته نو ووړی د سی مشاهدو اومزاراتو ته دی دوارې مخاوړ

خُصُوصًا قَبْرَ سَيِّدِ الشُّهَدَاءِ حَمْزَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ

خصوصًا وقبر ته د سید الشهداء حمزه اوبیادی ورسی بلی ادرې ته. الله دی امام حمزه ځخ راضی سی

ثُمَّ يَأْتِي الْبَقِيعَ الْآخَرَ فَيَزُورَ الْعَبَّاسَ وَالْحَسَنَ

اوبیادی ورسی وبلی هډیرې ته چې هغه مشهوره ده په بقیع سره نو هلته دی زیارت وکړی د عباس اوحسن

ابْنَ عَلِيٍّ وَبَقِيَّةَ آلِ الرَّسُولِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ

چې د علی دی زوی دی، اوباقی ال الرسول رضی الله تعالی دی د دوی ځخه راضی سی،

وَيَزُورُ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ

اوزیارت دی وکی د امیر المؤمنین عثمان بن عفان ځ اود عنه ځنګه دی زیارت وکړی د ابراهیم

تَعَالَى عَنْهُ وَإِبْرَاهِيمَ بْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الله تعالی دی دده ځخ راضی سی چې د حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم زوی دی،

وَأَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَمَّتِهِ صَفِيَّةَ

اوداغه رنګه دی زیارت وکړی د نبي علیه الصلوة والسلام اوږدامه ددوه مچې

وَالصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ

صفیه ﷺ نورو دی، اودنورو صحابه وو اوتابعینو الله تعالی دی ددوی ټولو څخه راضي شي»

لَطِيفَهْ سَنِيَّهْ

څرنګه چې د حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه نوم عبد الله دی چې دنامه په سرکې مین دی اود عمرؓ دنامه په سرکې هم مین دی، اود عثمان ؓ دنامه په سرکې هم مین دی، وهکذا د حضرت علی ؓ دنامه په سرکې هم مین دی. اومین په حساب دأبجد ۴۰ دی. اود علیه الصلوة والسلام دنامه په سرکې میم دی چې په حساب د أبجد ۴۰ دی» نومایږه وړځ اعلان وکړی طالبانوته چې ما ولیدله څلور ګروپه (بلپان) چې هریو ۴۰ وولټه وو چې رنړا یې دیره تیزه وه اما تاسو دهغه یو بل بلپ چې ۴۰ وولټه وپرد وی څلور سره وو بلپانو باندی غالبه وو! حتی چې هغه بلپان ټول دیته تاریک معلومیده، نوداخرنګه امکان لري! لکن په سوال کې مانومانویته د علیه الصلوة والسلام اود خلفاء راشدینو اشاره نه وکړی اونه می حساب ته دأبجد بلکه صرف دومره می لیکلی وه: چې ما ولیده څلور بلپه چې هریو ۴۰ وولټه وو، اوپه مابین کې یو بلپ وو چې ۴۰ هغه څلویښت وولټه وو، ومع هذا دغه ۴۰ وولټه والا پرهغه نورو ټولو غالب وو، دی خبرې وتوجیه ته طالبان عاجز پاته شوه بیا نومایږه تشریح دیته وکړه»

ته چې ته راغلې پرعالم باندې ربنا شوه ÷ دا عالم وا پرهم ستا په روی پیدا شوه÷

نا مرئین جانانه زما شفاعت وکړه ÷ حقاف لره پیدا ستا تماشا شوه÷

وَتَزُورُ شُهَدَاءَ أُحُدٍ وَإِنْ تَيَسَّرَ يَوْمُ الْخَمِيسِ فَهُوَ

اوزیارت ته دی ورسی د احد د شهیدانو او که ورته اسانه وه نو ورځ د پنجشنبې چې ورته نږدې اوه

أَحْسَنُ وَيَقُولُ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ

هلته چې ورسی دا سی دی وایی سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ سلام پرتاسی یعنی پرنوشتو او د جام د شهادت تاو

عُقْبَى الدَّارِ وَيَقْرَءُ آيَةَ الْكُرْسِيِّ وَالْإِخْلَاصَ إِحْدَى

شه دی د اخرت تاسی لره، اوبیادی آیت الکرسی وواخلی یعنی یووار اوبیادی قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ یووارس

عَشْرَةَ مَرَّةً وَسُورَةَ يس إِنْ تَيَسَّرَ وَيَهْدِي

واړه، اوسورة یس که ورته آسانه وو، اووړی بخښنې دهغو ټولو ثوابونه وټولو شهدا وو

ثَوَابَ ذَالِكَ لِجَمِيعِ الشُّهَدَاءِ وَمَنْ بِجَوَارِهِمْ مِنَ

ته د احد اوهغه چاته چې په همسایه توب کې دوی وی د مسلمانانو څخه، دارقطنی

الْمُؤْمِنِينَ دارقطنی د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت کړی دی چې که څوک تیرېږی پرهدیرو باندې، اووی یو وار واړه قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ وَوَاتُ اوثواب ئې ومړوته و بخښنې دهغه هدیرې الله تعالی به ده ته دهغه هدیرې د مړو په تعداد اومقدار سوه د ته ثوابونه ورکړی،

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَأْتِيَ مَسْجِدَ قُبَاءَ يَوْمَ السَّبْتِ أَوْ غَيْرَهُ

وَيُصَلِّيَ فِيهِ اومستحب ده چې زائر دی ورسی مسجد قباء ته په وړځ د شنبې او یا بله وړځ اوپه هغه مسجد کې دی څو رکعته لمونځ وکړی» په حدیث شریف کې راغلی

دی چې علیه الصلوٰة والسلام هره دشنبې ورځ مسجد قباء ته ورتلی اوهلته یې نفل کول

فائده: علماء حضرات یې ځکولې وائي چې بهترین دمسجدو وروسته ترمسجد الحرام او مسجد نبوي یې مدینه منوره کې اوترمسجد اقصیٰ دبیت المقدس هم دغه مسجد قباء دی.

وَيَقُوْلُ بَعْدَ دُعَائِهٖ بِمَا اَحَبَّ يَا صَرِيْخَ الْمُسْتَصْرِخِيْنَ

اوودی وائي پښله دعا ځخه هغه ډول چې ده خوښه وي، ای مدد کوونکی دمدد طلبونکو، اوای

يَا غِيَاثَ الْمُسْتَغِيْثِيْنَ وَيَا مُفَرِّجَ عَنِ الْمَكْرُوْبِيْنَ

فریاد رسیدونکی دکومک غوښتونکو، اوای لیرې کوونکی دغمجنو خلګو اوای قبلوونکی

يَا مُجِيْبَ دَعْوَةِ الْمُكْرُوْبِيْنَ يَا مُجِيْبَ دَعْوَةِ

دد عا دغمه یې اخته وواخلګو، اوای قبلوونکی دد عا دمجبورو خلګو ته رحم وکړی

الْمُضْطَرِّيْنَ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاكْشِفْ

پرسید زمونږ محمد صلی الله علیه وسلم ریاندې، اودده پرآل پاندې، اولیرې

كَرْبِيْ وَحُزْنِيْ كَمَا كَشَفْتَ عَنْ رَّسُوْلِكَ حُزْنَهٗ

کرب اوغم لکه چې تا یا الله لیرې کړی د رسول ځخه خپل حزن اوکرب دده په ډې ځای کې

وَكَرْبَهٗ فِيْ هٰذَا الْمَقَامِ يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ يَا كَثِيْرَ الْمَعْرُوْفِ

یعنی په قبا کې، په احادیثو صحیحه وو کې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې ۱۳ کاله

وَالْاِحْسَانِ يَا دَائِمَ النِّعَمِ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ

دنبوت په زمانه کې دمشرکینو دمکې دځواخځه دغه راوتکلیف شپې اوورځې ټیرې کړې اوبیه حکم الهی سره دمدینې منورې په هجرت مامور شو، اودهجرت لاره یې قطع کړه، او ثنیة الوداع ته مهاجرین چې دځخه لا مدینې منورې ته راغلی وه اوانتظار مدینې ټوله په انتظار درانګ دعلیه الصلوٰة والسلام ناست وه ناګاه چې مرکب دعلیه الصلوٰة والسلام راورسیدی دوی دابیت په ډیرجوش اوخروش سره وایه: ؎

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا مِنْ ثَنِيَاتِ الْوَدَاعِ ؛ وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا مَا دَعَا لِلّٰهِ دَاعٍ.

نوپس قدمبوسی دعلیه الصلوٰة والسلام چې ته اول چیرې قرارګاه ونیسي! آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې په قبا کې، په قبا کې بنی النجار آباد وه چې دآنحضرت صلی الله علیه وسلم مور هم دد غه قوم ځخه وه، نوقباته چې راغلی ۱۴ ورځې په قبا کې قیام وکړی اودد غوځلورو په دوران کې مسجد قبا په ډیرساده ډول جوړ کړی، اوعلیه الصلوٰة والسلام دمشرکانو دمکې ځخه بیغمه سو، نومصنف په دغه عبارت کې: كَمَا كَشَفْتَ آهٖ ودغه قصې ته اشاره وکړه، وروسته مصنف زیاته کړه، يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ، يَا كَثِيْرَ الْمَعْرُوْفِ والاحسان بیعطف تفسیردی، يَا دَائِمَ النِّعَمِ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ

اود الله تعالیٰ رحمتونه دی وی زمونږ پرسردار محمد صلی الله علیه وسلم اودده پرآل

وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا دَائِمًا اَبَدًا يَا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ اٰمِيْنَ

اودده پرصحابه کرامودی سلامونه وی همیشه همیشه ای دټول عالمو ربه، زمونږ دادعا قبوله کړه. دروښ وائي چې نورالایضاح سره دمفصلی شرحې پردغه ځای ختم اوزه هم وایم چې یا الله جل جلاله للوعم نوالکت «ما اوزما اولاد اود اولاد اولاد دنیا اواخرت دغمونو ځخه وساتې، اودمفسدانو اوحاسدانو، اودشیطانانو دشر اوفساد ځخه اودفتنې ځخه ځې وساتې اورزق حلال راکړې، دبندګانو دمحتاجې ځخه موږ وساتې

امین امین امین وصلی اللہ علیہ وسلم تسلیما کثیرا وآلہ وصحبہ اجمعین امین یا رب العلمین برحمتک یا ارحم الراحمین»

ربہ تہ ئی قبول کړی

کتاب خلاص سوپہ لوی فضل سبحان
د ایضاح وضاحت وسوپہ بنہ شان

د تصنیف د ابوالفضل علامہ دئ
پہ پښتو ویر دین واضح کړی بنہ روبان

پہ دری جلدہ کی پورہ سوہ مکمل
داسی بنکاری لکہ قند یا قوت مرجان

تقریبًا پنځلس سوہ صفحی دی
بنہ کاغذ، بنہ ئی ټائیټل بنہ ئی بیان

مسائل دین ئی بنہ دی بیان کړی
فائدہ اخلی ترې امیان هم ملایان

زمونږ پر دین مبین وکړی چې هرڅه دی
کد انصاری د وطن کہ د افغان

کہ پر تورہ هیواد د هجرت ژوند کړی
جرمنی، تایلینډ، هالینډ کد ایران

هم پہ تورہ هیواد وکی د اغیارو
مسائل ئی یادوی نوشتان مردان

ربہ تہ ئی د صحت حفاظت وکړہ
چې تا دین نور هم عبادونہ کړی عیان

حقانی چې د حضرت کتاب لیکمہ
ربہ تہ ئی کړی قبول پہ هر زمان

د زوی فضل الحق حقانی لخوا د پښتو کلنډر ۱۴۲۳ - ۲ - ۱۹ نیټہ

څه د لیکلوال (کاتب) په اړه

لیک
مولانا قاری نقیب احمد
برادر خورد حقانی

د دی بنکلی کتاب یعنی پښتو نور الایضاح چې په دری جلدونو کی د فقه حنفی یو مفصل او یو معتمد کتاب دی، څه جوړ سوی او چا لیکلی! نوم ئی څه دی! تعلیم ئی څه دی! او د اسی نور محترمو لوستونکو! د دی کتاب کاتب اولیکونکی مولانا قاری فضل الحق حقانی دئ.

ابتدائی تعلیم

مولانا قاری فضل الحق حقانی اولیات پخپل کور کی پر خپل والد صاحب حضرت مولانا الحاج نثار احمد عریف صاحب باندی وئیلی دی، چې د وخت یو تکړہ او مشہورہ عالم د دی او د علم سره سره د خپل قوم مشر هم بلل کیږي، د ابتدائی تعلیم وروسته ئی د باقاعده طالبی او مسافری په صورت کی د کوټې بناء په مختلفو مدرسو کی زده کړه کړیده، لکه د مولانا عبدالغفور صاحب مدرسه مظهر العلوم شالدره، د مولانا نور محمد صاحب مدرسه دارالعلوم الاسلامیه، او د دی څخه علاوه معقولات او هم د منقولاتو یو لویه برخه ئی د استاذ کل علامة العصر والدهر جامع الکمالات ابوالفضل مولانا محمد عبید الله الایوبی القندهاری السلیما نخیلی سره وئیلی ده،

انتهائی تعلیم

حقانی صاحب د دورې حدیث د پاکستان دیولوی مؤرخ، محدث او تکړہ اوحق کویه عالم حضرت مولانا شیخ القرآن والحدیث حسن جان المدنی مدظله سره کړیده چې د غږوخت یعنی ۱۴۱۴ھ ۱۹۹۴ء کی په مدرسه امداد العلوم الاسلامیه صدر با زار پشاور کی د حدیثو درس ورکاوه، او په ټوله دوره حدیث کی ئی د دوهم نمبر اعزاز هم ترلاسه کړ، او همدارنګه ئی د وفاق المدارس العربیه په امتحان کی سل نمبرونه حاصل کړه، او په همدغه کال کی د علوم اسلامیه وو څخه فارغ سو.

د قرائت او تجوید زده کړه

حقانی صاحب ابتدائی تجوید په کوئټه کی د علم تجوید په معروفه او مشهوره مدرسه، جامعه عربیه مرکزیه تجوید القرآن سر کی روډ کوئټه کی شروع کړې چې د دوه کاله وئیلو وروسته په امتیازی نمبرونو سره کامیاب سو

علمِ قرائت

د علم قراءت دحا صلولو لپاره ئې بیاد پنجاب ایالت د لاهور و بنارښته اړده، د سفر وکړه، لاهور د پاکستان دجوړ یدو وروسته د څوشیانو مرکز وو او هم دا اوس هم مرکز دی نکه علم قراءت، او علم خطاطی، په لاهور کی د علم تجوید او قراءت یو مشهور او مرکزی مدرسه، جامعه مدنیه کی ئې د علم قراءات سبعه د مشهور، او زیر مدرس کتاب الشاطبیه د ګوئیلو لپاره داخله واخسته، چې په دغه وخت کی د علم قرائت یو محقق او مدقق استاذ حضرت مولانا قاری محمد رمضان صاحب مدظله العالی استاد وو، او هم په داغه کال کی د تعطیلاتو په شپو کی د قراءت ثلثه العشرة للعشرة د مشهور کتاب، الدرة المضیئة، څخه هم فارغ سو، چې دا ئې بیا د وخت د مشهور مصنف حضرت مولانا قاری محمد ادریس العاصم صاحب څخه، په مدرسه تجوید القرآن العالیه شیرانوالا ګیټ لاهور کی ووئیل، چې دا سی نود سبعه او عشره دواړه څخه فارغ سو،

محافلو کی ګډون

حقانی صاحب د قرائت په مختلفو محافلو کی هم ګډون کړی دی که هغه پرمسوبائی یا علاقائی سطحه باندی او که د ټول پاکستان پر سطحه باندی وی، او د بلوچستان د نمائنده په شکل ئې خدمت کړی دی، او په بلوچستان کی څرنګه چې د علم قرائت و طرفته رغبت او ښوق نه و و حتی چې دا علم یو متروک العمل ګڼلی وو، اونه هم پرمقامی سطحه باندی د قراو وپه مابین کی ناسته ولاړه وه اونه څه تعلق

د جمعیة القراء بنیاد

نو حضرت حقانی صاحب چې څه وخت دا حال ولیدی، نو ئې یو ورځ د خپلو ملګرو یو اجلاس راوغوښتی او هغوی ئې په دی پوه کړه چې هم دا مونږ اوتاسی به رابطه سا تو او د قرآن مجید د تجوید او قراءت و طرفته به خلګ راپولو او د افن به په مدارسو او مکاتبو او مساجدو کی عامه وود درس او تدریس په شکل، د محفلونو په شکل او د تصنیف او تالیف په شکل، هغه وو چې په ۱۴۱۶ھ ۱۹۹۶ء کی یا قاعده د جمعیت القراء بنیاد کښیښود سو او کډون کوونکو په اتفاق دی په حیث د ناظم اعلی وټاکی، چې الحمدلله دې تنظیم دا سی په خلوص سره خپل خدمات تر اوسه ئې د مقامی بی شماره محفلونو ماسوا دوه واړه سالانه د ټول پاکستان پرسطحه باندی محفلونه کړیدی،

د خطاطی زده کړه

حقانی نکه چې ستاسو په لاسونو کی د دده پلاس لیکل سوی کتابونه ئې د خطاطی سره ئې د ګڼونو الی سره ډیره مینه د لوده، په کوټه کی ئې د خط نستعلیق زده کړه د خطاط راښاغلی محمد رافخر چې د خپل وخت یو نامتو کاتب و و کړیده او بیا د لاهور په سفر کی د خط نسخ تعلیم او اصلاح د رئیس الخطاطین حضرت انورجمین نفیس رقم چې په شاه نفیس سره شهرت لري کړی ده، چې د یونامتو او نړیوال شاعر او خطاط علاوه یو لوی صوفی هم و و چې د ډیر علماء یو پر لاس بیعت ئې، د خطاطی په یوه سیالی کی حقانی په ټول بلوچستان کی دوهم نمبر تر لاسه کړ، او اعزازی ډیپلوما و نړیوال سوی دی،

شاعری

حقانی صاحب ته که الله تعالی روان قلم، تقریر، تحریر، کتابت، خطابت، قرات لری، نو په روان شعر لیکی، خو د بده مرغه څرچې لیکی هغه د ځان سره خیځ کله هم نه ساتی، د دده په وینا چې د شعر او شاعری په میدان کی د ډیرو آسان نر غلولی دی، او نیا ضرورت نه، په هغه فن او علم کی کار کول پکار دی، د کوم علم او فن چې رجال کم او یا محط وی، دده د ډیر شعرونه په مختلفو ورځپاڼو او مجلو کی خپاره سوی دی نکه د کوئټې او پیښور، هیواد ورځپاڼه، او د اسی نورو په اولنی اشعارو کی به ئې د ځان تخلص، منظومیار، نوشته کوی، خو دده په وینا تخلص باید د نامه جزوی نو څرنګه چې د دده په نامه کی د، حق، لفظ سته نکه ځکه د ځان سره، حقانی، یادوی،

تراجم او حواشی

قاری حقانی ډیر کتابونه د مختلفو ژبو څخه په پښتو ژبه پاڅلی دی، په ځانګړو توګه یا د قرآن مجید د تجوید کتابونه نکه، جمال القرآن، فوائد مکیه، مقدمة الجزریه، القول السدید، هدایة المستفید، تسهیل التجوید، خلاصة التجوید، مفتاح التجوید، تحبیر التجوید، معارف التجوید، تیسیر التجوید، او فقه په مسائلو کی، الفقه المیسر (اسانه فقه) د بهشتی زیور مسئلی، په عقائدو کی، تعلیم العقائد، او داسی نور،

لیکلوالی

حقانی نه د شعر و شاعری میدان نه دی پری ایښی همدا رنګه ډیر مضمونونه ئې په ورځپاڼو او مجلو کی د وخت پر مختلفو موضوعاتو کی چاپ سوی دی، د مثال په توګه د قرآن مجید تجوید او هغه لیک دود، رسم الخط د کوئټې په یوی مجلې کی په څو

قسطونو باندی مشتمله چاپ سوی دی،

پښتو کی ترجمه

قاری حقانی صاحب کرخم دقامی لحاظ په قومر بروهی، مینگل، امیزئی دی، چی پوره سلسله ئی خرداسی ده، فضل الحق حقانی ابن الحاج مولانا نثار احمد عریف، قومر بروهی، مینگل، امیزئی، پندوخزئی، دی، چی درئ پیری د مخه د نوښکی، زارو اوعمرشاه، دمضافاتو والک، مخه وافغانستان ته تللی دی، اوهلته د هلمند ولایت په مضافاتو کی اوسیدلی دی، نوخرنگه چی دیوی خوا په پښتو کی د داسی کتابو ضرورت وو نوځکه حقانی صاحب اکثرو لیکنی لوړ یاړی په پښتو کی کړی دی،

درس او تدریس

د خپلوزده کړو واختتام ته درسید و سمدستی د مدرسه عربیه مرکزیه تجوید القرآن سوکی روډ کوټی په بلنه په کال ۱۹۹۵ء ۱۴۱۵ھ کی د مدرس او استاذ په حیث وټاکل سو اودرس اوتدریس اوتصنیف اوتالیف سره سره حقانی صاحب د مختلفو مساجدو مقتدی یا نوبه بلنه په حیث د امام اوخطیب هم خدمت کړی دی، لکه جامع مسجد الله والا جناح روډ کوټه، جامع مسجد ابوبکر الصدیق خروټ روډ (پاکستان چلدرن اکیډمی)، جامع مسجد سراج نیوجان محمد روډ کوټه اوجامع مسجد مدینه سټیلائټ ټاؤن سلاک ۲ سبی روډ کوټه، اوپه هر مسجد کی هم دسهار له خوا قبل الوقت اوهم ماښام دیګر ترماښامه په سوونو طالبانو د علم تجوید اوعلم قراءت زده کړه کړیده، چی الحمد لله هرورځ اوسه پوری دا سلسله جاری ده،

دوره تجوید

قاری صاحب د خلورکاله څخه راپه دی خوا مدرسه سودرخصتی په وخت کی د طالب علمانو لپاره دوره تجوید ایښی دی چی د طالبانو د اصلاح یولوی سبب کیږی اود قرآن مجید د صحیح وتیلو احساسات راپیدا کوی

کلنی جنتری

حقانی په ټول پاکستان اوافغانستان کی ترهری اداری د مخه یوه صحیح، ښایسته اوډیزئ تاریخه مشتمله جنتری جوړوی چی پرنړۍ کونو معلوماتو مشتمل وی، الله تعالیٰ دی دده دا کوشښونه قبول اود نورو خدمت کولو توفیق ورکړی، امین،

مولانا قاری نقیب احمد حقانی
نوی ایډریس یافته امام وخطیب
جامع مسجد الله والا کوټه

د پښتو نور الایضاح دریم (۳) توک د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۱	د ناشر او کاتب عرض	۲
۲	د تفسیر ایوبی اعلان،	۲
۳	باب سجود التلاوة	۲
۴	د درویش اعتذار	۷
۵	مهمه فائده	۱۱
۶	دیوه حاجی واقعه	۱۲
۷	سبحانه ښوونه	۱۶
۸	درویش وائی	۱۷
۹	فصل سجدة الشکر	۲۳
۱۰	ایوب بیشکه	۲۷
۱۱	باب الجمعة	۳۰
۱۲	د جمعی دورځ مناسبت	۳۱
۱۳	د عوامو غلطیا	۳۱
۱۴	په بعض کتابوکی دی تر اذان ثالث	۳۲
۱۵	حکایت	۵۷
۱۶	کرامام د درود ویلو امروکړی	۵۸
۱۷	خیال وفائده	۵۹
۱۸	تتمه	۶۱
۱۹	حکمت	۶۳
۲۰	د بریښو په باره کی تحقیق	۶۶
		۶۷

دپښتونور الايضاح دريم (۳) توک دمضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۲۱	دبيرى په باب تحقيق	۶۸
۲۲	دبيرى تورولو مسائل	۶۹
۲۳	باب العيدين	۷۰
۲۴	شكايت	۷۰
۲۵	مسواك وهسل	۷۵
۲۶	درويش وائى	۸۴
۲۷	فوائد	۸۹
۲۸	تفريع	۸۹
۲۹	حكايت	۹۰
۳۰	درويش وائى	۹۱
۳۱	پوښتنه	۹۳
۳۲	خودحيرانتيا خبره	۹۶
۳۳	باب صلوة الكسوف والخسوف	۹۷
۳۴	اختلاف دعلماوو	۹۹
۳۵	درويش وائى	۱۰۰
۳۶	باب الاستسقاء	۱۰۲
۳۷	واقعه	۱۰۵
۳۸	باب صلوة الخوف	۱۱۰
۳۹	دفائدى خبرى	۱۱۰
۴۰	ښهانه فائده	۱۱۳

دپښتونور الايضاح دريم (۳) توک دمضمونو فهرست

شمار	مضمون	صفحه
۴۱	تاريخى كتنه اوياد كار	۱۱۵
۴۲	باب الجنائز	۱۱۷
۴۳	درويش وائى	۱۱۹
۴۴	واقعه فى تائيد التاخير	۱۲۵
۴۵	تحقيق غسل الميت	۱۲۸
۴۶	ښهانه فائده	۱۳۳
۴۷	تاريخى ياد كار	۱۴۲
۴۸	فصل	۱۴۳
۴۹	ومن خصائص صلاة جنازة النبى ﷺ	۱۴۹
۵۰	فصل السلطان احق بصلوته	۱۵۴
۵۱	مهمه فائده	۱۵۷
۵۲	فصل فى حملها ودفنها	۱۶۷
۵۳	فائده سنيه	۱۷۵
۵۴	فوائد شتى	۱۷۹
۵۵	فائده سنيه	۱۸۱
۵۶	اختلاف ضيافت اوميلمستيا	۱۸۲
۵۷	فصل فى زيارة القبور	۱۸۵
۵۸	درويش وائى	۱۸۷
۵۹	مسئله شرعيه	۱۹۰
۶۰	باب احكام الشهيد	۱۹۲

دپښتو نور الایضاح دریم (۳) توک دمضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۶۱	فائدة سنية	۱۹۸
۶۲	کتاب الصوم	۲۰۰
۶۳	فصل فی صفة الصوم وتقسیمه	۲۰۶
۶۴	فصل فیما یشترط تبییت النیة	۲۱۳
۶۵	فصل فیما یثبت به الهلال	۲۱۸
۶۶	اختلاف د شک روژی	۲۲۰
۶۷	باب مالا یفسد الصوم	۲۳۳
۶۸	باب مایفسد به الصوم ویجب به الکفارة	۲۴۲
۶۹	فصل فی الکفارة ومایسقطها عن الذمة	۲۵۱
۷۰	باب مایفسد الصوم من غیر کفارة	۲۵۶
۱	فصل یجب الامساک بقیة الیوم	۲۶۹
۷۲	فصل فیما یکره للصائم وفیما لا یکره	۲۷۰
۷۳	تاریخی خبره- بنها نه فائده	۲۷۵
۷۴	داوسنی مشکلات توحل	۲۷۵
۷۵	پوه سه، چې پیچکاری پرځوقتمه دی،	۲۷۸
۷۶	فصل فی العوارض	۲۸۰
۷۷	باب مایلزم الوفاء به	۲۹۱
۷	باب الاعتکاف	۲۹۶
۷۹	دامامانو متفکوره داده	۲۹۹
۸۰	کتاب الزکوة	۳۰۸

دپښتو نور الایضاح دریم (۳) توک دمضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۸۱	باب المصرف	۳۲۶
۸۲	مسایل شتی فی باب الزکوة	۳۳۳
۸۳	باب صدقة الفطر	۳۳۷
۸۴	کتاب الحج	۳۴۴
۸۵	دحج دمخه څه کول پکاردی	۳۴۵
۸۶	نوی شرط دحج دسفره دمخه	۳۴۶
۸۷	فصل فی کیفیة ترکیب افعال الحج	۳۷۵
۸۸	جاهل عوام	۳۸۸
۸۹	بنهانه فائده	۳۹۴
۹۰	نوآسانه کاردادی	۳۹۷
۹۱	دوی فائدی	۳۹۸
۹۲	ضمیمه	۴۰۱
۹۳	دانصاف خبره	۴۰۳
۹۴	واقعه	۴۱۰
۹۵	فصل، القران ان یجمع بین	۴۲۱
۹۶	فصل، التمتع هوان یحرم	۴۲۴
۹۷	فصل، العمرة سنة	۴۲۷
۹۸	باب الجنایات	۴۳۱
۹۹	درختی دحرم پرځلور قسمه دی،	۴۳۹
۱۰۰	فصل، ولا بأس بقتل غراب	

دپښتو نورُ الایضاح دَریم (۳) توک دَمضمونو فهرست

شمارہ	مضمون	صفحہ
۱۰۱	فصل، الهدی ادښاه شاة	۴۴۰
۱۰۲	فصل فی زیارة النبی (ص)	۴۴۴
۱۰۳	درویش واپۍ،	۴۴۶
۱۰۴	پوښتنه - جواب	۴۶۰
۱۰۵	ښهانه فائده	۴۶۷
۱۰۶	پوهه سه	۴۶۹
۱۰۷	لطیفه سَنیه	۴۷۲
۱۰۸	ربه ته ئې قبول کړی	۴۷۶
۱۰۹	دکاتب په اړه لیکنه	۴۷۷
۱۱۰	دعلم قرائت نرده کړه	۴۷۸
۱۱۱	دخطاطی نرده کړه، شاعری اونور	۴۷۹
۱۱۲	درس اوتدریس -	۴۸۰
۱۱۳	دنور الایضاح فهرست	۴۸۱
۱۱۴	〃	۴۸۲
۱۱۵	〃	۴۸۳
۱۱۶	〃	۴۸۴
۱۱۷	〃	۴۸۵
۱۱۸	〃	۴۸۶
۱۱۹	دنور دکتابو اعلان	۴۸۷
۱۲۰	دحضرت ایوب اعلان	۴۸۸

حقانی پبلیوترز

ستاسو سَنائِسته رسالی، سَندونه، اشتهارونه
کتابونه، شعری بیکی، اوداسی نور د
کتابت څخه ترچاپ پورې ټول سوی،

کلنی جنتری

مسائل بهشتی زیور

تعلیم الاسلام

معارف القرآن

مکتبة القراءة والتجوید
کاتی روډ کوئٹه
نزد مسجد نور مشالزئی

بسم الله الرحمن الرحيم

محترمو وکوری د حضرت ایوبي صاحب مدظله العالی خط کوم چې حضرت پخپل لاس لیکلی دی
دا د حضرت ایوبي اخلاص دی د مکتبة القراءت والتجوید کوئټې سره کوم چې ئې حقوق د طبع
او د کتابت د مکتبة القراءت ته هدیه کړی دی.

خاتمة شرح نور الایضاح

الحمد لله والصلوة علی من اصطفی "اما بعد کرونکی یې هدا ګنهګار بنده "الایوبي اسلما یخیل
النقشبندی" السنی الحنفی النقشبندی" غفرله الباری"

وائي چې په توفیق د رب العزت جل سلطانه کریم حصه د "شرح نور الایضاح" پورته وویجوده کوچې د سه شنبې
په اول ټاریخ د ربیع الثانی" ۱۴۲۳ هـ ق وه پای ته ورسیده. الحمد لله"

چې مجموع دې جلده ټخینا یو زر او شپږ سوه مخونه رسیږي" اعلان" چونکه اول کوه جلده او حص
جناب قاری فضل الحق صاحب خوشنویس کوټه" په ډیره عرق ریزي" او په صرف د نقود و کثیره د
چاپ کړي" " او دا دریم حصه هم د یه کتابت و کړي په طریقه د اول دوو حصو"
او کړي د انشاء الله تعالی چې وچاپ ته ولاړ شي" لهذا د رونښلکه چې د اول دوو حصو حقوق ټول
د نامبرده ته اهدا کړي وه" د غه رنګه دې د یې حصه حقوق نه وړه سپارم"
هیڅ کتاب فروش یا تجار نشي کولای چې دا کتاب پرې د غه عنوان او یا جوړی تبدیل چاپه کړي"
ورنه د دې د سنجوسه مخالفت" اخلاق او تجارتی" او حکومتی" لهذا احتراز په کار دی
د هر نسخې چې د کم کتاب فروش په کار وي د ده مخ ډې په مرکزاتی قیمت د نشي وما علینا الا البلاغ

ګ شیخ درویش ابوالنشل بن
سیاف السنبلی اوبی
قلعاری سلیمان خیل
اوتمانزی ۸۶۰۳۲

حراکات اللسان کما التبا هر منه ولکلنا هو حاجز الشفاه
دل کرد نیجه از کسی خود سند کردن مشکلست شیشه بن کسته را پیوند کردن مشکلست